تفسیر

معارف القرآن

پہ قندهاری پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع

پښتو ترجمه کوونکی ابو صدیق احمد مولوی نصیر احمد حقانی

تصحیح او سمون: مولوی نصیر احمد حقانی او مولوی امین الله حقانی

مکتبہ حنفیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمه الله
پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)
تصحیح او سمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) او مولوی آمین الله (حقّانی)
دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

جلد شپږم پاره (۱۲) ..... (۱۷) ..... (۱۸)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

مضمون	فهرست تفسیر معارف القرآن	مخ
قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ الخ ۷۵ تا ۷۸		۲
اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ الخ ۷۹ تا ۸۲		۷
معلومات او مسئلې		۸
د مسکین تعریف		۸
د مور او پلار د نیکۍ فائده اولاد په اولاد ته هم رسیږي		۱۰
د پیغمبرانه بلاغت او د ادب د رعایت ساتلو یو مثال		۱۱
حضرت خضر علیه السلام ژوندي دي او که وفات سوي دي؟		۱۲
وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ الخ ۸۳ تا ۸۸		۱۴
د ذوالقرنین اولنی سفر		۱۵
ذوالقرنین څوک وو؟ په کومه زمانه او کوم ملک کي وو او ده ته ذوالقرنین ولي وايي؟		۱۶
ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ، الخ ۸۹ تا ۹۱		۲۳
ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا الخ ۹۲ تا ۹۸		۲۳
معلومات او مسئلې؛ د لغاتو حل		۲۵
یاجوج او ماجوج څوک دي په کوم ځای کي دي؟ سد ذوالقرنین په کوم ځای دي؟		۲۶
د یاجوج او ماجوج متعلق د حدیثو روایتونه		۲۶
د حدیث د روایتونو څخه حاصلي سوي نتیجي		۳۲
سد ذوالقرنین تر دي وخته پوري موجود دي او تر قیامته پوري به وي او که مات سوي دي؟		۳۸
وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ ، الخ ۹۹ تا ۱۰۱		۴۰
اَفَحَسِبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ، الخ ۱۰۲ تا ۱۰۸		۴۱
معلومات او مسئلې		۴۳
قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ ، الخ ۱۰۹ تا ۱۱۰		۴۵
د ریاء کاري بدي نیتجي او پر دي د حدیث د عذاب سختي وعدي		۴۷
د سورة کهف ځیني فضیلتونه او خواص		۴۸
سورة مریم		۴۹
كۤهٰيٰعۤصۤ ، الخ ۱ تا ۱۵		۴۹
په دعا کي د خپلي حاجت مندی اظهار کول مستحب دي		۵۳
د پیغمبرانو په مال کي وراثت نه چلیږي		۵۳
وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ ، الخ ۱۶ تا ۲۱		۵۴
معلومات او مسئلې		۵۵
فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ ، الخ ۲۲ تا ۲۶		۵۶
د مرګ د آرزو کولو حکم		۵۸

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

....

قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكَ اِنَّكَ لَنْ تَسْتَطِيْعَ مَعِيَ صَبْرًا ۝ قَالَ اِنْ

وي ويل ما تا ته نه وه ويلي چي ته نه سي كولى زما سره صبر ، وي ويل چي

سَاَلْتُكَ عَنْ شَيْءٍۭ بَعْدَهَا فَلَا تُصٰحِبْنِيْ ۚ قَدْ بَلَغْتَ مِنْ

كه ستا څخه ماپوښتنه وكړه دڅه شي ددې څخه وروسته نو ته بيا ما دځان سره مه ساته پس ختم به سي تا ته

لَّدُنِّيْ عُذْرًا ۝٧٦ فَانْطَلَقَا ٝ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَيَآ اَهْلَ قَرْيَةِ ۣاسْتَطْعَمَآ

زما دطرف څخه عذر ، بيا دواړه روان سول ، تر دې چي هركله اورسيدل ديو كلي خلقو ته چي ددغو

اَهْلَهَا فَاَبَوْا اَنْ يُّضَيِّفُوْهُمَا فَوَجَدَا فِيْهَا جِدَارًا يُّرِيْدُ اَنْ

خلقو څخه يې خوراك وغوښتى پس هغوى ونه منله چي دوى ميلمانه وساتي بيايې پيداكى هلته يو ديوال چي

يَّنْقَضَّ فَاَقَامَهٗ ۭ قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا ۝٧٧ قَالَ

لويدلى نو هغه يې سيده كى ، وويل (موسى عليه السلام) كه تا غوښتلي نو اخيستى به دې واى مزدوري ، وي ويل

هٰذَا فِرَاقُ بَيْنِيْ وَبَيْنِكَ ۚ سَاُنَبِّئُكَ بِتَاْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ

اوس جدايي ده ، زما اوستا په مينځ كي اوس به وښيم تا ته راز دهغو خبرو په كومو چي ستا صبر

عَّلَيْهِ صَبْرًا ۝٧٨

ونه كړل سي.

لنډتفسير: دې بزرگ وفرمايل چي آيا ماتاته نه وه ويلي چي ستابه زما سره صبر ونه كړل سي موسى (عليه السلام) وفرمايل (چي خير دا وار بيا معافي وكړه ليكن) كه ددې وار څخه وروسته ماستاڅخه ديو خبرى متعلق پوښتنه وكړه نو ته بيا مادځان سره مه ساته . بيشكه ته به زمادطرف څخه (انتها د) عذرته رسيدلى يې (په دې وار حضرت موسى عليه السلام دهيرى عذرپيش نه كى ددې څخه معلوميږي چي داسوال دوى قصداً دخپل پيغمبرانه حيثيت مطابق كړى وو) بيادواړه (مخكي) روان سول تردې چي ديوكلي خلقوته راغلل نو ددغه كلي دخلقو څخه يې خوراك وغوښتى (چي مونږ ميلمانه يو) نو دوى د دوى دميلمنو كولو څخه انكار وكى په دې كي دوى هلته يو ديوال وليدى كوم چي لويدى نو دې بزرگ هغه (دلاس په اشاره سره

په طور دخرق عادت) سیده کی موسٰی (علیه السلام) وفرمایل چی که تاغوښتلای نوپردی (کار) به دی مزدوری اخستی وای (چی دا وخت به زمونږ کارهم په سوی وای او د دوی دبدخویی اصلاح به هم سوی وای) دی بزرګ وویل اوس زما اوستا دجدا کیدو وخت دی (لکه چی تاپه خپله داشرط اینبی وو) اوس زه ددی شیانو حقیقت تاته ښیم چی ستا څخه صبر ونه سو (لکه چی په راتلونکو آیتونوکی ددی بیان راروان دی)

معلومات اومسئلي: اَهْلَ قَرْيَةٍ. دا کلی پرکوم چی حضرت موسٰی اوحضرت خضر علیهما السلام راغلل او ددی خلقو د دوی دمیلمستوب څخه انکاروکی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په روایت کی انطاکیه او دابن سیرین رحمه الله په روایت کی ایکه وو او دحضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه نقل دی چی دغه دأندلس یوکلی وو. (مظهری) والله تعالی اعلم

اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ يَعْمَلُوْنَ فِي الْبَحْرِ

کومه چی کښتی وه پس دغه دیو څو غریبانو وه چی محنت یی کوی په دریاب کی

فَاَرَدْتُّ اَنْ اَعِيْبَهَا وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ

پس ما وغوښتله چی دا عیبناکه کړم او په دوی پسی یو بادشاه وو چی ونیسی کښتی

غَصْبًا ﴿۷۹﴾ وَاَمَّا الْغُلٰمُ فَكَانَ اَبَوٰهُ مُؤْمِنَيْنِ فَخَشِيْنَآ اَنْ يُّرْهِقَهُمَا

په زور سره ، او کوم چی دغه هلك وو ، پس دده مور او پلار ایماندار وو ، مونږ سره بیره پیدا سوه چی دوی به

طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ﴿۸۰﴾ فَاَرَدْنَآ اَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّ

عاجزه کړی په زور اوکفر کولو ، بیا مونږ وغوښته چی دوی ته بدله ورکړی د دوی رب ښه دده څخه په پاکی کی

اَقْرَبَ رُحْمًا ﴿۸۱﴾ وَاَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلٰمَيْنِ يَتِيْمَيْنِ فِي الْمَدِيْنَةِ

او ډیر نژدی شفقت ته ، او هغه کوم چی دیوال وو پس د دوو هلکانو وو یتیمانو په دی ښارکی

وَكَانَ تَحْتَهٗ كَنْزٌ لَّهُمَا وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا ۚ فَاَرَادَ رَبُّكَ اَنْ

او ددی لاندی د دوی مال ښخ وو او د دوی پلار و نیك ، وغوښته ستا رب چی دوی

يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنْزَهُمَا ۖ رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ ۚ وَمَا

اورسیږي خپلی ځوانی ته او راوباسی خپل مال ښخ په مهربانی سره ستا درب ، او ما دا

فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ ذٰلِكَ تَاْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا ﴿۸۲﴾

نه دي كړي په خپل حكم سره دا دي حقيقت دهغو شيانو په كومو چې تاصبر نه سواى كولى

تفسير: اوهغه كومه چې كښتي وه نو ديوڅو غريبو خلقو وه (چې ددي په ذريعه به يې) په درياب كې محنت مزدوري كوله (اوپه دي يې گذاره روانه وه) وروسته ماوغوښتل چې داعيبناكه كړم او (وجه ددي دا وه چې) په دي خلقو پسي يو (ظالم) بادشاه ووچې هره يوه (ښه) كښتي به يې په زورنيوله (كه ماپه ظاهره كښتي بي عيبه كړى نه واى نودا كښتي به يې هم ورڅخه اخستي واى او ددي غريبانو دمزدورى آسره به ختمه سوى واى په دي وجه په ماتولوكى يې دامصلحت وو) اوپاته سو هغه هلك پس دده مور او پلار ايماندار وه (اوكه دي لوى سوى واى نوكافر ظالم به واى او دمور اوپلارده سره ډيرمحبت وو) نو زمونږ سره بيره پيداسوه چې دي په دوى دواړو دسركښي اوكفر اثروا نه چوى (يعنى دزوى په محبت كې دوى هم په بي دينى كي دده سره نه سى) پس مونږته دامنظوره سوه چې (دده خبره ختمه سى بيا) دده په بدله كي د دوى پروردگار دوى ته داسي اولاد وركى (خواه هلك وى اوكه انجلى) كوم چې په پاكيزگى (يعنى دين) كي دده څخه ښه وى او (دمور او پلارسره) په محبت كولوكى دده څخه زيات وى اوپاته سوديوال پس هغه ددوو يتيمانو هلكانو وو كوم چې په دي ښاركى دي او ددي ديوال لاندى د دوى څه مال ښخ وو (كوم چې دوى ته دپلار څخه په ميراث كى رسيدلى دى) او د دوى پلار (كوم چې مړ سوي دى هغه) يو نيك سړى وو (دده دنيكى په بركت سره د ده د اولاد مال الله ﷻ محفوظ ساتل وغوښتل كه دا ديوال اوس راغورځيدلى واى نوخلقوبه دا مال لوټ كړى واى اوغالبًاچې كوم سړى ددى يتيمانو سرپرست وو هغه ته به ددى خزانى علم وو خو دلته به موجودنه وو چې انتظام يې كړى واى) په دي وجه ستارب پخپله مهربانى سره وغوښتل چې دغه دواړه دخپلى ځوانى عمرته اورسيږى اوخپله ښخه خزانه را وباسى او (دا ټول كارونه ما دالله ﷻ په حكم سره كړي دي. په دي كى) هيڅ كارماپه خپله رايى سره نه دي كړي. دا دي حقيقت دهغوخبرو په كومو چې ستاڅخه صبر ونه سو (او ما درته دوعدى مطابق وښووى نوحضرت موسىٰ عليه السلام دحضرت خضر عليه السلام څخه رخصت سو)

معلومات اومسئلي : اَمَّا السَّفِيْنَةُ فَكَانَتْ لِمَسٰكِيْنَ : داكښتي چې دكومو مسكينانو وه د دوى متعلق دكعب احبار څخه نقل دي چې دالس ورونه وه چې پنځه په كي شل گوډ او معذور وه. پنځو به محنت اومزدورى كوله او دټولو دخوراك اوڅيښاك انتظام به يې كوى او مزدورى د دوى دا وه چې په درياب كى به يې يوه كښتي چلوله او كرايه به يې په حاصلوله.

دمسكين تعريف : دمسكين تعريف ځينو خلقو داكړي دي چې دچاسره هيڅ نه وى مگر ددى آيت څخه معلومه سوه چې دمسكين صحيح تعريف دا دي چې دچاسره دومره مال نه وى چې دده د اصلى او

ضروري حاجتونو څخه زيات په قدر دنصاب سي چي ددي څخه کوم مال وي نو هغه هم دمسکين په تعريف کي دا خل دي ځکه چي کومو خلقوته يي په دي آيت کي مساکين ويلي دي دهغوی سره کم از کم يوه کښتي خو وه چي قيمت يي دنصاب څخه کم نه وو مگر چونکي دغه په اصلي او ضروري حاجتونو کي مشغوله وه په دي وجه يي دوی ته مساکين وويل (مظهري)

مَلِكٌ يَّاْخُذُ كُلَّ سَفِيْنَةٍ غَصْبًا: بغوی په روايت دحضرت ابن عباس ؓ نقل کړي دي چي دا کښتي چي کوم طرف ته تله هلته يوظالم بادشاه وو چي پردغه ځای تيريدونکي کښتي به يي په زور نيولي . حضرت خضر ؑ ددي مصلحت په وجه دکښتي څخه يوه تخته ويستله چي دغه ظالم بادشاه دا کښتي ماته ووينې نو پاته به يي کړي او دا مسکينان به ددي مصيبت څخه خلاص سي . دروم دانا رح څه ښه فرمايي

گر خضر در بحر کشتي را شکست   صد درستي در شکست خضر هست

که حضرت خضر ؑ په درياب کي کښتي ماته کړه (نو څه وسوه) سل رغيدل دحضرت خضر ؑ په يو ماتولو کي دي .

وَاَمَّا الْغُلٰمُ : دا هلك کوم چي حضرت خضر ؑ قتل کي دده په حقيقت کي يي دا بيان وفرمايي چي ددي هلك په طبيعت کي کفر او دمور او پلار خلاف سرکښي وو دده مور او پلار نيکان او صالحان وه . حضرت خضر ؑ وفرمايل چي زمونږ سره بيره وه چي دا هلك لوی سي نو دا نيکان مور او پلار به آزار کي او تکليف به ورته ورسوي او په کفر کي به اخته سي . دمور او پلار ايمان هم په خطره کي لويږي .

فَاَرَدْنَا اَنْ يُّبْدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّاَقْرَبَ رُحْمًا: يعني په دي وجه مونږ اراده وکړه چي الله ﷻ دي صالح مور او پلار ته ددي هلك په بدله کي دده څخه ښه اولاد ورکي کوم چي په عملونو او اخلاقو کي پاکيزه هم وي او دمور او پلار حقونه هم پوره کي .

په دي واقعه کي په ، خَشِيْنَا او اَرَدْنَا: کي دجمع متکلم صيغه استعمال سوي ده . ددي يوه وجه دا کيدای سي چي دا خشيت او اراده حضرت خضر ؑ دخپل ځان او الله ﷻ طرف ته منسوب کړي وي نو بيا داَرَدْنَا معنی به دا وي چي مونږ الله ﷻ ته سوال وکي ځکه چي دهلك په بدله کي دده څخه دښه اولاد ورکولو معامله خالص دالله ﷻ کار دي په دي کي خضر ؑ يابل انسان نه سي شريکيدای .

اودلته دا شبهه کول صحيح نه دي چي که دالله ﷻ په علم کي داخبره وه چي داهلك به کافروی اومور او پلار به هم گمراه کوی نو بيا خودا واقعه دالهي علم مطابق هم دغسي واقع کيدل ضروري وه ځکه چي دالهي علم خلاف خوهيڅ شي نه سي کيدای .

جواب دا دي چي په الهي علم کي ددي تعليق او شرط سره وو چي دي بالغ سي نوکافر به وي او دنورو مسلمانانو دپاره به هم خطره جوړه سي . بيا چونکي هغه دبلوغ دعمر څخه مخکي قتل سو . نوکومه واقعه چي پيښه سوه دغه ددي الهي علم منافي نه ده (مظهري)

ابن ابی شیبه ابن المنذر ابن ابی حاتم په روایت دعطیه نقل کړي دی چی دقتل سوی هلك مور او پلار ته الله ﷻ دده په بدله کی یوه لور ورکړه چی دهغې دنس څخه یو نبی پیدا سو او د ابن عباس ؓ په یو روایت کی دی چی ددی دنس څخه دوه نبیان پیدا سول . په څینو روایتونو کی دی چی ددی دنس څخه دپیدا سوی نبی په ذریعه الله ﷻ یو لوی امت ته هدایت وفرمایی .

(وَكَانَ تَحْتَهُ كَنْزٌ لَّهُمَا) داخزانه کومه چی دیتیمانو بچو دپاره تردیوال لاندی ښخه وه . ددی متعلق حضرت ابودردآء ؓ دنبی کریم ﷺ څخه دا روایت کړي دی چی دغه دسرو او سپینو زرو ذخیره وه (روایت یی کړي دی ترمذی او حاکم او صحیح کړی یی دی (ازمظهری)

ابن عباس ؓ فرمایی چی هغه دسرو زرو یوه تخته وه چی دنصیحت دالاندی کلمی پرلیکل سوی وی . دا روایت حضرت عثمان بن عفان ؓ مرفوعًادنبی کریم ﷺ څخه هم نقل کړي دی (قرطبی)

(۱) بسم الله الرحمٰن الرحيم

(۲) تعجب دی پرهغه سړی چی په تقدیر باندی ایمان لری نو چی بیاغمجن ولی وی ؟

(۳) تعجب دی پرهغه سړی کوم چی په دي ایمان لری چی درزق ذمه وار الله ﷻ دی بیا دضرورت څخه په زیات مشقت او په فضول قسم کوشش کی ولی لګیا دی ؟

(۴) تعجب دی په هغه سړی کوم چی په مرګ ایمان لری بیا خوشحاله څنګه اوسیږی ؟

(۵) تعجب دی په هغه سړی کوم چی دآخرت په حساب ایمان لری بیاغفلت څنګه کوی ؟

(۶) تعجب دی په هغه سړی کوم چی په دنیا او ددی په انقلاباتو باندی پوه وی او بیا څنګه په دی باندی مطمئن کیږی ؟

(۷) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ .

(دمور اوپلار دنیکي فائده اولاد په اولاد ته هم رسیږی)

وَكَانَ اَبُوْهُمَا صَالِحًا: په دی کی اشاره ده چی دیتیمانو بچیانو دپاره دښخی خزانی دحفاظت اسباب دحضرت خضرؑ په ذریعه څکه سوی وو چی ددی یتیمانو بچیانو پلار یوصالح سړی وو او د الله ﷻ په نزد مقبول وو. په دی وجه الله ﷻ دده دمراد پوره کولو او دده اولاد ته دفائدی رسولو دا انتظام وفرمایی . محمدبن منکدر (رح) فرمایی چی الله ﷻ دیو بنده دنیکی او صلاحیت په وجه سره دده اولاد او د اولاد اولاد او دده دخاندان او دشاوخوا کورونو حفاظت فرمایی (مظهری)

په قرطبی کی دی چی حضرت شبلی رحمه الله به فرمایل چی زه ددی ښار او پوره علاقی دپاره امان یم . هرکله چی دی وفات سونو د دوی ددفن کولوسره . ددیلم کفارپردجله راپوری وتل اوبغدادیی قبضه کی دغه وخت دخلقو په ژبه دا وه چی پرمونږ غبرګ مصیبت دی یعنی دشبلی وفات او ددیلم قبضه (قرطبی صـ ۲۹ جـ ۱۱)

په تفسیرِ مظهری کی دی چی په دی آیت کی دی طرف ته هم اشاره ده چی خلقو ته هم دعالمانو او نیکانو صالحانو د اولاد رعایت او پر دوی شفقت کول په کار دی ترڅو چی دوی بالکل په کفر او فسق او جرمونو کی اخته نه سی.

اَنْ يَّبْلُغَآ اَشُدَّهُمَا: لفظ د (اَشُدُّ) دَ(شِدَّةٌ) جمعه ده مراد ورڅخه قوت دی. اوهغه غم په کوم کی چی انسان په خپل پوره قوت او ښه او بد په تمیز پوهیدو قادرسی. د امام ابوحنیفه (رح) په نزد دا پنځه ویښت کاله عمردی او دځینو حضراتو په نزد څلویښت کاله دی. څکه چی په قرآن کریم کی دی ،حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً (مظهری)

(دپیغمبرانه بلاغت او د ادب درعایت ساتلو یومثال)

په دی مثال دپوهیدو دپاره اول په دی خبره ځان پوهول ضروری دی چی په دنیا کی ځه بد یاښه کار دالله ﷻ دمشیت اوارادی څخه بغیرنه سی کیدای. خیر او شر ټول دهغه مخلوق او دهغه د ارادی او مشیت تابع دی کومو کارونو ته چی شر یابد ویل یاګڼل کیږی هغه دخاصو افرادو یاخاصو حالاتوپه اعتبار سره دضرر او شر او بدو ګڼلو مستحق وی. مګر دمجموعه عالم او دعالم دمزاج دپاره ټول ضروری او دتخلیق الهی په اعتبار سره ټول خیر او ټول پرحکومت مبنی وی.

کوئی برانهین قدرت کی کار خانی مین

دقدرت په کار خانه کی هیڅ شی بد نسته.

لنډه دا ده چی کوم آفت یاحادثه په دنیاکی پیښیږی دالله ﷻ دمشیت او ارادی څخه بغیرنه وی. په دی لحاظ سره دهرخیر او شرنسبت هم دحق تعالی طرف ته کیدای سی. مګرحقیقت دا دی چی دالله ﷻ دتخلیق په اعتبار سره هیڅ شر شر نه وی په دی وجه د ادب تقاضا دا ده چی دشر نسبت دحق تعالی طرف ته ونه سی دحضرت ابراهیم ﷺ کلمی کومی چی په قرآن کریم کی ذکر دی ،وَالَّذِيْ يُطْعِمُنِيْ وَيَسْقِيْنِ ! وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ : ددی تعلیم او سبق ورکوی چی دخوړلو اوڅیښلو نسبت دالله ﷻ طرف ته فرمایی او بیا دبیماری په وخت کی دشفا ورکولو نسبت هم دهغه طرف ته کوی اوپه درمیان کی یی دبیماریدو نسبت ځان ته وکی ویی فرمایل ، وَاِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ : یعنی کله چی زه ناجوړه کیږم نوالله ﷻ ماته شفا را کوی داسی یی ونه ویل چی هرکله هغه ما ناجوړه کی نو شفا هم را کوی.

اوس دحضرت خضر ﷺ پرکلام فکر وکی دوی چی کله دکښتی ماتولو اراده وکړه نو دغه خو چونکی په ظاهره یوعیب او بدی وه ددی د ارادی نسبت یی خپل طرف ته وکی ویی فرمایل اَرَدْتُّ بیا دهلك دقتلولو او دده په بدله کی دښه اولاد ورکولو ذکریی وکی نو په دی کی قتل خو بدی وه اوپه بدله کی ښه اولاد ورکول یوه ښیګڼه وه نو دکار دمشترك کیدو په وجه سره یی دلته صیغه دجمع متکلم وفرمایله اَرَدْنَا یعنی مونږ اراده وکړه چی په دی کی څومره ظاهری شر وی دهغه ځان طرف ته اوکوم چی خیروی دهغه

الله ﷻ ته نسبت وسی . په دریمه واقعه کی دیوال درول او دیتیمانو مال محفوظ کول سراسر خیر او خیردی ددی تولو نسبت یی دحق تعالی طرف ته وکی وییی فرمایل ، فَاَرَادَ رَبُّكَ: یعنی ستارب اراده وکړه

﴿حضرت خضر ؑ ژوندی دی اوکه وفات سوی دی؟﴾

په قرآن کریم چی کومه واقعه دحضرت خضر ؑ ذکرده ددی هیڅ تعلق ددی معاملی سره نسته چی حضرت خضر ؑ ددی واقعی څخه وروسته وفات سو یاکه ژوندی پاته سو په دی وجه په قرآن کریم او حدیث کی ددی متعلق څه واضحه خبره ذکرنه ده . دځینو روایتونو او آثارو څخه دده تر اوسه پوری ژوندی پاته کیدل معلومیږی . او ځینی روایتونه ددې څخه خلاف دی په دی معامله کی دهمیشه دپاره دعلماؤ رایی مختلفی دی کوم حضرات چی د دوی دژوند قائله دی د دوی استدلال یوخو ددی روایت څخه دی کوم چی حاکم په مستدرك کی دحضرت انس ﷺ څخه نقل کړي دی . چی کله نبی کریم ﷺ وفات سو نو یو سپینږیری سړی راننوتی او خلق یی په مینځ کی لیری او جدا کوله دننه را ورسیدی او په ژړا سو بیایی صحابه کرامو رضی الله عنهم ته مخ کی او دا کلمی یی وویلی .

اِنَّ فِی اللهِ عَزَآءً مِّنْ كُلِّ مُصِيبَةٍ وَّعِوَضًا مِّنْ كُلِّ هَالِكٍ فَاِلَى اللهِ فَاَنِيْبُوْا وَاِلَيْهِ فَارْغَبُوْا وَنَظَرُهُ اِلَيْكُم فِي الْبَلَاءِ فَانْظُرُوْا فَاِنَّمَا الْمُصَابُ مَنْ لَّمْ يُجْبَرْ .

دالله ﷻ په دربارکی صبردی دهرمصیبت څخه او بدله ده دهرفوت کیدونکی شی څخه او هغه قائمقام دی دهره لاکیدونکی په دی وجه دهغه طرف ته رجوع کوی اودهغه طرف ته رغبت کوی اودی خبری ته وګوری چی هغه تاپه مصیبت کی په اخته کولوازمایی اصل مصیبت زپلی هغه دی دچادمصیبت چی تلافی ونه سی .

دا کلمی یی وویلی او رخصت سو نو حضرت ابوبکر ﷺ او حضرت علی مرتضٰی ﷺ وفرمایل چی دا حضرت خضر ؑ وو دا روایت جزری ؒ په حصن حصین کی هم نقل کړی دی دکوم چی دا شرط دی چی یوازی دصحیح سند روایتونه په کی لیکی .

او دصحیح مسلم په حدیث کی دی چی دجال به دمدینی طیبی خواته نژدی را ورسیږی نو دمدینی منوری څخه به یو سړی دده مقابلی ته را ووزی کوم چی به په دغه زمانه کی په تولو انسانانوکی ښه وی یادښه خلقو څخه به وی . ابو اسحاق فرمایی چی دا سړی به حضرت خضر ؑ وی (قرطبی)

او ابن ابی الدنیا په کتاب الهواتف کی په سند سره نقل کړي دی چی حضرت علی ﷺ دحضرت خضر ؑ سره ملاقات وکی نو حضرت خضر ؑ ورته یوه دعا وښودله چی څوك دا دهر لمانځه څخه وروسته وایی نودده دپاره لوی ثواب او مغفرت او رحمت دی . دعا دا ده .

يَا مَنْ لَّايَشْغَلُهُ سَمْعٌ عَنْ سَمْعٍ وَّيَا مَنْ لاَّ تُغَلِّطُهُ الْمَسَآئِلُ وَيَا مَنْ لاَّ يَبْرَمُ مِنْ اِلْحَاحِ الْمُلِحِّيْنَ اَذِقْنِيْ بَرْدَ عَفْوِكَ وَحَلَاوَةَ مَغْفِرَتِكَ . (قرطبی)

ای هغه ذاته! کوم چې دیوی خبری او ریدل دبلې خبری د اوریدو څخه مانع نه ده او ای هغه ذاته! کوم ته چې په یو وخت کیدونکو (لکونو کرورونو) سوالونوکی څه غلطی نه راځی او ای هغه ذاته چې په دعا کی په ډیر فریاد او زاری اوجّهٔ کیدو سره نه خفه کیږی ماته دخپلې عفوی او کرم خوند وڅکوه او دخپل مغفرت خواږه می نصیب کی .

او بیا هم په دغه کتاب کی بعینه دا واقعه او دا دعا او دحضرت خضر ﷺ سره دملاقات واقعه دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه هم نقل سوي ده (قرطبی)

دغه ډول په اولیاؤ دامت کی بی شمیره واقعات دحضرت خضر ﷺ نقل دی .

او کوم حضرات چې دحضرت خضر ﷺ ژوندنه منی د دوی لوی استدلال په دی حدیث سره دی کوم چې په صحیح مسلم کی په روایت دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نقل دی دی فرمایی چې یوه شپه نبی کریم ﷺ مونږ ته دماخستن لمونځ په خپل آخری ژوند کی راکی دسلام گرځولو څخه وروسته ده ﷺ ودریدی او داکلمات یی ارشاد وفرمایل .

اَرَءَيْتَكُم لَيْلَتَكُم هٰذِهٖ فَاِنَّ عَلٰى رَاْسِ مِائَةِ سَنَةٍ مِّنْهَا لَا يَبْقٰى مِمَّنْ هُوَ عَلٰى ظَهْرِ الْاَرْضِ اَحَدٌ .

آیا تاسی داننی شپه وینی ددی شپی څخه په سل کاله تیریدو به یو سری د دوی څخه ژوندی پاته نه سی کوم چې نن پرمځکه سربیره دی .

حضرت ابن عمر ﷺ دا روایت نقل کوی او فرمایی چې ددی روایت په باره کی خلق مختلفی خبری کوی مگر دنبی کریم ﷺ مراد دا وو چې پرسل کاله باندی به دا قرن ختم سی .

دا روایت په مسلم کی دحضرت جابربن عبدالله ﷺ څخه هم تقریباً په دی الفاظو سره نقل دی . لیکن علامه قرطبی رحمه الله ددی روایت دنقل کولو څخه وروسته فرمایی چې په دی کی دهغو خلقو دپاره هیڅ دلیل نسته کوم چې دحضرت خضر ﷺ ژوندته باطل وایی ځکه چې په دی روایت کی که څه هم دټولو انسانانو دپاره دعموم الفاظ دی اوعموم یی هم موکد راوړی دی مگر بیاهم په دی کی نص نسته چې دا عموم دی دحضرت آدم ﷺ ټول اولاد لره شامل وی ځکه چې دحضرت آدم ﷺ په اولاد کی خوحضرت عیسٰی ﷺ هم دی چې نه وفات سوي دی او نه قتل سوي دی په دی وجه ظاهره دا ده چې دحدیث په الفاظو عَلَى الْاَرْضِ کی الف لام دعهد دی اومراد دمځکی څخه مځکه دعرب ده . ټوله مځکه په کومه کی چې مځکه دیاجوج ماجوج اومشرقی ملکونه اوجزیری دکومو نومونه چې عربونه وه اوریدلی په دی کی شامل نه دی دا دعلامه قرطبی تحقیق دی .

دغه شان ځینو حضراتو ژوند دخضر ﷺ دختم نبوت دمسئلی سره منافی گڼلی دی . ددی ځواب هم ظاهردی چې لکه څنگه دحضرت عیسٰی ژوند دختم نبوت سره منافی نه دی دغه ډول دحضرت خضر ﷺ ژوند هم داسی کیدای سی .

ځینو حضراتو دحضرت خضر ﷺ پر ژوند دا شبهه کړي ده چي که دوی دنبی کریم ﷺ په مبارکه زمانه کې ژوندي وای نو پر ده لازمه وه چي دحضور ﷺ په خدمت کې حاضرسوی وای او د دوی په تابعداری کې داسلام په خدمت کې مشغول سوی وای ځکه چي په حدیث کې ارشاددی ، لَوْ كَانَ مُوْسٰى حَيًّا لَمَا وَسِعَهُ اِلاَّ اتِّبَاعِي : یعنی که موسٰی ﷺ نن ژوندی وای نوده ته به هم بغیر زما دتابعداری څخه بله چاره نه وای ځکه چي زماپه راتلو سره دین موسوی منسوخ سوي دی، لیکن داخه لیری نه ده چي دحضرت خضر ﷺ ژوند او دده نبوت دعامو انبیاؤ دشریعت څخه مختلف وی ده ته چونکي تکوینی خدمتونه دالله ﷻ دطرف څخه سپارل سوي دی او دی دمخلوق څخه جداپه خپل کار مامور دی پاته سوه تابعداری دشریعت محمدی ﷺ نو په دی کی څه بُعد نسته چي دنبی کریم ﷺ دنبوت څخه وروسته دوی خپل عمل دشریعت محمدی ﷺ په طرز شروع کړی وی (والله تعالى اعلم)

ابوحیان په تفسیرِ بحرِ محیط کی دډیرو بزرگانو واقعات دحضرت خضر ﷺ سره دملاقات هم نقل کړي دی مګر ددی سره یی دا هم فرمایلی دی چي.

وَالْجُمْهُوْرُ عَلٰى اَنَّهُ مَاتَ (بحرِ محیط صـ ۱۴۷ ج ۶)

جمهور علماء پردی دی چي خضر ﷺ وفات سوي دی.

په تفسیرِ مظهری کی حضرت قاضی ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمایی چي دتولو اشکالاتو حل په دی کی دی کوم چي حضرت سید احمد سرهندی مجدد الف ثانی رحمه الله په خپله مکاشفه کی فرمایی هغه دا چي ماپه خپله دحضرت خضر ﷺ څخه په دی معامله کی په عالم کشف کی پوښتنه وکړه نو هغوی راته وفرمایل چي زه اوحضرت الیاس ﷺ دواړه ژوندی نه یو لیکن الله ﷻ مونږته دا قدرت راکړي دی چي مونږ د ژوندو انسانانو په شکل باندی متشکل کیږو او دخلقو امداد په مختلفو صورتونو کی کوو والله سبحانه وتعالى اعلم.

دا خبره ما اول لیکلی ده چي دحضرت خضر ﷺ دمرګ او ژوند سره زمونږ څه عقیده یاعملی مسئله متعلق نه ده په دی وجه په قرآن کریم اوسنت کی ددی متعلق څه توضیح نسته . په دی وجه په دی کی دزیات بحث او مباحثی څه حاجت نسته . او نه پر یو جانب یقین لرل زمونږ دپاره ضروری دی مګر چونکه دا مسئله په عوامو کی چلیدلی ده . په دی وجه دا ذکر سوی تفصیلات نقل سول .

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنْ ذِي الْقَرْنَيْنِ ۭ قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا ۝۸۳

اوپوښتنه کوی تا څخه د ذوالقرنین ووایه اوس زه وایم تاسی ته دده څه حالات.

اِنَّا مَكَّنَّا لَهٗ فِي الْاَرْضِ وَاٰتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا ۝۸۴ فَاَتْبَعَ

مونږ ده لره ځای ورکړی وو په ملك کی او ورکړی وو مونږ ده لره دهر شی څخه سامان ، پس وروپسی

سَبَبًا ﴿٨٥﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِىْ

سو په يو سامان ، تردې چې كله اورسيدې دلمر لويدو خاى ته بيا يې پيداكې چې دى دوبيږى

عَيْنٍ حَمِئَةٍ وَّوَجَدَ عِنْدَهَا قَوْمًا ۬ؕ قُلْنَا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِمَّآ

دختو په يوه نالى كې او بيا يې پيدا كړه دهغه سره خلق وويل مونږ يا ذوالقرنين يا خو ته خلقو ته

اَنْ تُعَذِّبَ وَاِمَّآ اَنْ تَتَّخِذَ فِيْهِمْ حُسْنًا ﴿٨٦﴾ قَالَ اَمَّا مَنْ ظَلَمَ

تكليف وركړه ، او يا وكړه د دوى سره ښيګړه ، ده وويل څوك چې وى ظالمان

فَسَوْفَ نُعَذِّبُهٗ ثُمَّ يُرَدُّ اِلٰى رَبِّهٖ فَيُعَذِّبُهٗ عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨٧﴾ وَاَمَّا

پس مونږ به دوى ته سزا وركړو بيا به واپس سى خپل رب ته پس هغه به ورته عذاب وركړى ناكارعذاب او

مَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهٗ جَزَآءَ ۨ الْحُسْنٰى ۚ وَسَنَقُوْلُ لَهٗ

څوك چې ايمان راوړى او وكړى نيك عمل پس دده بدله ښيګړه ده او مونږ به حكم وكړو

مِنْ اَمْرِنَا يُسْرًا ﴿٨٨﴾

ده ته په خپل كاركې داسانى.

تفسير : (د ذوالقرنين اولني سفر)

او دا خلق ستا څخه دذو القرنين دحال پوښتنه كوى (ددى پوښتنى وجه يې داليكلى ده چې دده تاريخ قريب قريب ورك وو او په دى وجه ددى قصى چې كوم كارونه په قرآن كريم ذكرنه دى چې هغه داصل قصى څخه زيات وه ددى كارونو متعلق ترننه پورى په تاريخ والاوو كې سخت اختلاف دى . په دى وجه دمكى قريشو دمدينى ديهودوپه مشوره دده دقصى دپوښتنى انتخاب كړى وو. په دى وجه ددى قصى تفصيلات كوم چې په قرآن كريم كې ذكر دى دغه دنبى كريم ﷺ دنبوت واضح دليل دى) ته ووايه چې زه به ددى ذكراوس ستاسى په مخكى بيان كوم (مخكى دالله ﷻ دطرف څخه ددى قصى شروع وسوه چې ذو القرنين يو داسى جليل القدر بادشاه تير سوي دى چې) مونږ ده ته پرمخ دمځكى حكومت وركړى وو او مونږ ده ته هرقسم سامان (پوره) وركړى وو (چې په دى سره دى خپلى شاهى منصوبى پوره كړى) چنانچه هغه (په اراده دفتحو دمغرب ملك ته) پريوه لاره روان سو (اوسفريې شروع كې) تردى پورى چې

کله (په مخه روان وو فتحې یې کولې) دلمر پریوتلو موقع (یعنې په مغرب کې دآبادیو انتهایي سر) ته ورسیدې نولمر ده ته په تورو اوبو کې پریوتونکې ښکاره سو (مراد ددې څخه غالبًا سمندر دی چې ددې اوبه په اکثرو ځایونوکې توری په نظر راځي اولمرکه څه هم حقیقةً په سمندر کې نه لویږي مګر دسمندر څخه مخ ته نظر نه ځي نو په سمندر کې) پریوتونکې معلومیږي اوپر دې موقع ده یو قوم ولیدی (چې د دوی پرکافر کیدو راتلونکې آیت . اَمَّا مَنْ ظَلَمَ . دلالت کوي) مونږ (په صورت دالهام یادهغه زمانې دپیغمبرپه واسطه سره) دا وویل چې ای ذو القرنینه ! (ددې قوم په باره کې تاته دوه اختیاره دي) خواه که (دوی ته د اول څخه دقتل وغیره په ذریعه) که وغوارې سزا ورکړې اوکه وغوارې د دوی په باره کې دنرمې معامله اختیار کې (یعنې دوی ته دایمان دعوت ورکه بیاکه یې ونه مني نو قتل یې که بغیر دتبلیغ او دعوت ورکولو څخه یې اول دقتل کولو اختیار شاید ځکه ورکړی وو چې دوی ته به ددې څخه مخکې په یو ذریعه سره دایمان دعوت رسیدلی وي لیکن دبل صورت یعنې اول دعوت بیادقتل ښه والی یې په اشاره بیان کې چې دا دوهم صورت یې په نیکې کولو سره تعبیرکې) ذوالقرنین عرض وکې چې (زه دوهم صورت اختیاروم اول دوی ته دایمان دعوت ورکوم) لیکن (دایمان ددعوت څخه وروسته) چې کوم ظالمان (یعنې کافران) پاته سي پس دوی ته به مونږخلق (دقتل وغیره) سزا ورکو (اودا سزا خو به په دنیاکې وي) بیابه دوی (دمرګ څخه وروسته) خپل حقیقي مالك ته ورسول سي بیابه هغه دوی ته (ددوږخ سخته سزا ورکي او کوم سړی (چې دایمان ددعوت څخه وروسته) ایمان راوړي اونیك عمل وکې نو ده دپاره به (په آخرت کې هم) په بدله کې ښیګنه وي چې ورته وربه کړل سي او مونږ به هم (په دنیاکې) په خپل سلوك کولو کې ده ته آسانه (اونرمه) خبره وایو (یعنې پر دوی به څه عملي سختي خو څه کوي زباني اوقولي سختي به هم نه سي پر کولې)

معلومات اومسئلې: يَسْـَٔلُوْنَكَ : یعنې دغه خلق ستا څخه پوښتنه کوي داخلق پوښتنه کوونکې څوك دي؟ درِوایتونو څخه دا معلومیږي چې دغه دمکې قریش وه کومو ته چې یهودو دنبي کریم ﷺ دنبوت دحقوالي دامتحان اخستو دپاره درې سوالونه ښوولي وه . دروح متعلق داصحاب کهف متعلق او د ذوالقرنین په باره کې په دې کې د دوو ځواب تیرسو داصحاب کهف قصه اوس په دې سورة کې تیره سوه او دروح بیان دتیر سورة په آخرکې تیر سوي دی دا دریم سوال دی چې ذوالقرنین څوك وو او ده ته څه حالات وړپیښ سول ؟ (بحرمحیط)

(ذوالقرنین څوک وو؟ په کومه زمانه اوکوم ملک کې وو او ده ته ذوالقرنین ولې وایي ؟)

د ذوالقرنین نوم ذوالقرنین ولې دی؟ ددې په وجه کې بې شمیره قولونه اوسخت اختلافات دي ځینې وایي چې دده دوی څنې وې په دې وجه ورته ذوالقرنین وایي . ځینې وایي چې دمشرق او مغرب پرملکونو حکمران سو په دې وجه یې ذوالقرنین نوم سو. چادا هم ویلي دي چې دده په سرکې څه داسې

نښانې وې لکه چې ښکرونه وي . په ځينو روايتونو کې دي چې دده دسر په دواړو طرفونو باندې دزخم نښانې وې په دې وجه ورته ذوالقرنين ويل کيږي . والله تعالى اعلم . مګر دومره خبره متعينه ده چې قرآن کريم په خپله دده نوم ذوالقرنين نه دې اينبې بلکه دا نوم يهودو ونبو وې . په دوی کې په دې نوم سره دې مشهور وو . د ذوالقرنين دواقعې چې څومره برخه قرآن کريم ښولې ده هغه يوازې دومره ده چې .

هغه يو صالح عادل بادشاه وو چې مشرق مغرب ته ورسيدې او ددې ملکونه يې فتح کړل او په دوی کې يې په عدل او انصاف سره حکمراني وکړه دالله ﷻ دطرف څخه ده ته هرقسم سامان دخپلو مقصدونو دپوره کولو دپاره ورکړل سوی وو . دوی په فتوحاتو کولو سره درې طرفونوته سفر وکی ترمغربِ اقصٰی پورې او تر مشرقِ اقصٰی پورې بياشمالي طرف ته ترکوهستاني سلسلې پورې دلته دوی د دوو غرونو دمينځ په دره کې يو عظيم الشانه داوسپنې ديوال و دروی او دغه دره يې بنده کړه په کوم سره چې دياجوجو ماجوجو دحملو او لوټ مار څخه دغه علاقه محفوظه سوه .

يهودو چې کوم سوال دنبي کريم ﷺ دحقانيت او دنبوت دامتحان کولو دپاره پيش کړی وو هغوی په دې جواب سره مطمئن سول دوی زياته دا پوښتنه ونه کړل چې دده نوم ذوالقرنين ولې وو دی په کوم ملك او کومه زمانه کې وو ددې څخه معلوميږي چې دا پوښتنه په خپله يهودو هم غيرِ ضروري اوفضول ګڼل او دا خو ظاهره ده چې قرآن کريم دتاريخ او قصو يوازې دومره برخه ذکر کوي په کومه پورې چې ددين او دنيا څه فائده متعلق وي ياپه کومه پورې چې دڅه ضروري خبرې پوهه موقوفه وي . په دې وجه نه قرآن کريم دا شيان ونبودل او نه په څه صحيح حديث کې ددې تفصيلات بيان سول او نه دقرآن کريم په يو آيت پوهيدل په دې شيانو پورې موقوف دي . په دې وجه تيرو بزرګانو اصحابو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله هم دې ته څه خاص توجه ورنه کړه .

اوس معامله يوازې دتاريخي روايتونو ياموجوده تورات او انجيل پاته سوه او دا هم ظاهره ده چې موجوده تورات او انجيل هم پرله پسې تحريفاتو ديو آسماني کتاب په حيثيت کې نه دې پرې اينبې د دوی مقام هم اوس د زيات څخه زيات ديو تاريخ کيدی سی او دتيرې زماني تاريخي روايتونه زيات تر داسرائيلي قصو څخه ډك دي چې نه يې څه سند سته او نه دغه دڅه زماني دپوهانو اوحکماؤ په نزد داعتماد قابل ليدل سوي دي . تفسير ليکونکو حضراتو هم چې په دې باره کې څه ليکلي دي هغه ټول ددې تاريخي روايتونو مجموعه ده په دې وجه په دې کې يې شميره اختلافات دي . ديو رپ خلقو په دې زمانه کې تاريخ ته ډير اهميت ورکړي دي او په دې باندې په تحقيق او تفتيش کې يې بيشکه د ډير محنت اوکاوش څخه کار واخستی . دآثارِ قديمه په کيندلو او دهغه څخه دکتبو وغيره په جمعه کولو ددې په ذريعه دپخوانيو واقعاتو حقيقت ته په رسيدو کې يې هغه کارونه وکړل کوم چې ددې څخه په تيرّه زمانه کې يې مثل نسته . ليکن دآثارِ قديمه او ددې دکتبو څخه ديوې واقعې په تائيد کې خو مدد

حاصليدی سی مګر په خپله ددی څخه څه واقعه پوره نه سی ويلای . ددی دپاره خو تاريخی روايتونه بنياد جوړ سوی دی او په دی معاملو کی دتيری زمانی دتاريخی روايتونو حال اوس معلوم سوي دی چی ديوی قصی څخه زيات حيثيت نه لری دتفسير پخوانيو او نوو عالمانو هم په خپلو کتابونو کی دا روايتونه په يو تاريخی حيثيت سره نقل کړي دی چی پر صحت يی څه قرآنی مقصد موقوف نه دی . دلته هم په دي حيثيت سره په قدر دضرورت ليکل کيږي . ددی واقعی پوره تفتيش او تحقيق مولانا حفيظ الرّحمان صاحب رحمه الله په خپل کتاب قصص القرآن کی ليکلی دی تاريخی ذوق لرونکی حضرات دغه ليدلی سی .

په څينو روايتونو کی دی چی په ټوله دنيا سلطنت اوحکومت کوونکی څلور باچهان تير سوي دی . دوه مومنان او دوه کافران . په مومنانو بادشاهانو کی حضرت سليمان عليه السلام او ذوالقرنين دی اوکافران نمرود او بُختِ نصر دی .

د ذوالقرنين په معامله کی دا عجيبه اتفاق دی چی په دی نوم سره په دنياکی ډير سړی مشهور سوي دی او دا هم عجيبه خبره ده چی دهری زمانی د ذوالقرنين سره لقب دسکندر هم شامل دی .

دحضرت مسيح عليه السلام څخه تقريباً دری سوه کاله مخکی يو بادشاه دسکندر په نوم سره معروف او مشهور دی کوم چی دسکندر يونانی مقدونی رومی وغيره په القابو سره يادېږی چی ارسطويی وزير وو او دکوم چی د دارا سره جنګ وسو او هغه يی قتل کی او ملك يی ور فتح کی . دسکندر په نوم سره مشهوريدونکی آخری سړی دا وو . دده قصی په دنياکی زياتی مشهوری دی . څينی خلق ده ته هم په قرآن کريم کی ذکر سوی ذوالقرنين وايی . دا سراسر غلطه ده . ځکه چی دا سړی آتش پرست مشرك وو. قرآن کريم چی دکوم ذوالقرنين ذکر کړي دی دهغه په نبی کيدو کی خو دعلماؤ اختلاف دی مګر پر مومن او صالح والی باندی يی دټولو اتفاق دی او په خپله دقرآن کريم نصوص پردی باندی شاهد دی .

حافظ ابن کثيرپه (البدايه والنهايه) کی په حواله دابن عساکر دده پوره نسب نامه ليکلی ده کومه چی په پورته تلو سره دحضرت ابراهيم خليل الله سره يو ځای کيږی او فرمايی چی دا هغه سکندر دی کوم چی ديونانی مصری مقدونی په نومونو سره معروف دی کوم چی په خپل نوم ښار داسکندريی آبادکی او دروم تاريخ دده دزمانی څخه چليږی او دی دسکندر ذوالقرنين څخه يوه اوږده زمانه وروسته سوي دی کوم چی د دوه زره کلونو څخه زياته ښوول کيږي . ده دارا قتل کی او دفارس بادشاهان يی مغلوب کړل د دوی ملك يی فتح کی مګر داسړی مشرك وو. دی په قرآن کريم کی ذکر سوی ذوالقرنين ګڼل سراسر غلطی ده . د ابن کثير خپل عبارت دا دی .

(واما ذو القرنين الثانی فهو اسکندر بن فيلبس بن مصريح بن برس بن مبطون بن رومی بن نعطی بن يونان بن يافث بن يونه بن شرخون بن رومه بن شرخط بن توفيل بن رومی بن الاصر بن يقز بن العيص بن

اسحاق بن ابراهیم الخلیل ﷺ کذا نسبه الحافظ ابن عساکر فی تاریخه المقدونی الیونانی المصری بانی الاسکندریة الذی یؤرخ بایامه الروم وکان متاخراً عَنِ الاول بدهر طویل وکان هذا قبل المسیح بنحو من ثلثمائة سنةٍ وکان ارطاطالیس الفیلسوف وزیره وهو الذی قتل دارا واذل ملوك الفرس واوطا ارضهم وانما نبهنا علیه ولان کثیرا من الناس یعتقد انهما واحد وان المذکور فی القرآن هو الذی کان ارطاطالیس وزیره فیقع بسبب ذلك خطاء کبیر وفساد عریض طویل فان الاول کان عبداً مومنًا صالحًا وملکًا عادلاً وکان وزیره الخضر وقد کان نبیا علی ما قررناه قبل هٰذا واما الثانی فکان مشرکًا کان وزیره فیلسوفًا وقد کان بین زمانیهما ازید من الفی سنةٍ فاین هذا من هذا لایستویان ولا یشتبهان الا علی غبیٍّ لایعرف حقائق الامر) (البدایة والنهایة ص۱۰۲ ج۲)

دحدیث اوتاریخ دامام ابن کثیر په دی تحقیق سره خو یوه دا مغالطه لیری سوه چی هغه اسکندر کوم چی دحضرت مسیح ﷺ څخه دری سوه کاله مخکی تیر سوي دی او دکوم چی ددارا او دفارس دبادشاهانو سره جنګ وسو او داسکندریی جوړونکی دی دا هغه ذوالقرنین نه دی دکوم چی په قرآن کریم ذکر راغلی دی . دا مغالطه ځینو تفسیر لیکونکو مشرانو ته هم سوي ده ابوحیان په بحرِ محیط کی او علامه آلوسی په روح المعانی کی هم ده ته ذوالقرنین کوم چی په قرآن کریم کی ذکر دی ویلی دی .

دوهمه خبره د وَقَدْ كَانَ نَبِيًّا دجملی څخه دا معلومیږی چی دابن کثیر په نزد دده نبی کیدل راجح دی . که څه هم دجمهورو په نزد راجح هغه قول دی کوم چی په خپله ابن کثیر په روایت دابی الطفیل دحضرت علی کرم الله وجهه څخه نقل کړي دی چی نه دی نبی وو او نه ملائکه بلکی یو نیك صالح مسلمان وو. په دی وجه ځینو عالمانو دا توجیه کړي ده چی د: وَقَدْ كَانَ نَبِيًّا: ضمیر ذوالقرنین ته نه دی حضرت خضر ﷺ ته راجع دی وَهُوَ الْاَقْرَبُ .

اوس مسئله دا پاته سوه چی بیاهغه ذوالقرنین دکوم ذکرچی په قرآن کریم کی دی کوم یو دی او په کومه زمانه کی وو؟ ددې متعلق هم دعالمانو اقوال ډیر مختلف دی دابن کثیر په نزد دده زمانه داسکندریونانی مقدونی څخه دوه زره کاله مخکی دحضرت ابراهیم ﷺ زمانه ده او دده وزیر حضرت خضر ﷺ وو. ابن کثیر په (البدایه والنهایه) کی دسلفِ صالحینو څخه دا روایت هم نقل کړي دی چی ذوالقرنین پیاده دحج دپاره ولاړی کله چی حضرت ابراهیم ﷺ دده دراتلو څخه خبرسو نو دمکی څخه دباندی راووتی او استقبال یی ورته وکی اوحضرت خلیل ﷺ ده ته دعاهم وکړه اوځه وصیتونه یی هم ورته وکړل او نصیحتونه هم (البدایه والنهایه ص ۱۰۸ ج۲)

اوپه تفسیرِ ابن کثیر کی یی په حواله دازرقی نقل کړي دی چی ده دحضرت ابراهیم ﷺ سره طواف وکی او بیا یی قربانی وکړه .

اوابو ریحان البیرونی په خپل کتاب (الاثار الباقیه عن القرون الخالیه) کی ویلی دی چی هغه ذوالقرنین

دکوم ذکر چی په قرآن کریم کی دی ابوبکر بن سمی بن عمر بن افریقیس حمیری دی کوم چی دمځکې
مشرق اومغرب فتح کړل اوتُبّع حمیری یمنی په خپلو اشعارو کی په ده فخر کړي دی چی زمانیکې
ذوالقرنین مسلمان وو دهغه اشعار دا دی.

قد کان ذوالقرنین جدی مسلمًا ملکًا علا فی الارض غیر مبعد

په تحقیق ذوالقرنین زما نیکه وواومسلمان بادشاه وو چی مځکه یی فتح کړه او زما څخه ډیر لیری نه ؤ

بلغ المشارق والمغارب یبتغی اسباب ملــك مـن کـریم سید

مشرق اومغرب ته ورسیدی اودحکومت کولو اسباب ورته دسخی اوکریم مالك رب العٰلمین څخه حاصل ؤ
دا روایت په بحرِ محیط کی ابوحیان نقل کړي دی. ابن کثیر هم په البدایه اونهایه کی ددی دذکر کولو
څخه وروسته وایی چی دا ذوالقرنین دتبابعهٔ یمن څخه دټولو څخه اولنی تبع دی او دا هغه سړی دی کوم
چی دبیر سبع په باره کی دحضرت ابراهیم ؑ په حق کی فیصله ورکړی وه. (البدایه ص ۱۰۵ ج۲)
په دی ټولو روایتونوکی دده دشخصیت او نوم اونسب په باره کی داختلاف باوجود دده زمانه یی
دحضرت ابراهیم ؑ زمانه ښوولی ده.
او مولانا حفیظ الرحمٰن صاحب په خپل کتاب قصص القرآن کی چی دکوم ذوالقرنین متعلق په ډیر
تفصیل سره بحث کړي دی ددی خلاصه دا ده چی په قرآن کریم کی ذکر سوی ذوالقرنین دفارس هغه
بادشاه دی کوم ته چی یهودیان خورس یونانیان سائرس فارس گورش اوعرب کیخسرو وایی دکوم
زمانه چی دحضرت ابراهیم ؑ څخه ډیره وروسته دبنی اسرائیلو په انبیاؤ علیهم السلام کی ددانیال
ؑ زمانه ښوول کیږی کومه چی دسکندر مقدونی قاتل ددارا زمانی ته نژدی ده. مگر مولانا مذکور هم
دابن کثیر وغیره په شان ددی څخه په سختی سره انکار کړي دی چی ذوالقرنین هغه سکندرِ مقدونی
دکوم چی ارسطو وزیر وو نه سی کیدی دغه مشرك آتش پرست وو او دی مومن صالح وو.
دمولانا موصوف دتحقیق خلاصـه دا ده چی دقرآن کریم په سورة بنی اسرائیل کی چی کوم دوه واره دبنی
اسرائیلو په شر اوفساد کی د اخته کیدو او دواړه واره دسزا ذکر په تفصیل سره راغلی دی. په دی کی
دبنی اسرائیلو د اول فساد پرموقع چی قرآن کریم کوم فرمایی چی بَعَثْنَاعَلَیْکم عِبَادًا لَّنَآ اُولِیْ بَاسٍ
شَدِیْدٍ فَجَاسُوْا خِلٰلَ الدِّیَارِ یعنی ستاسی دفساد په سزا کی به مونږ پرتاسی خپل داسی بندګان مسلط
کړو چی لوی قوت او شوکت والابه وی دوی به ستاسی کورونو ته دننه سی په دی کی دا قوت او شوکت
والا خلق بخت نصر او دده مددګاران دی کومو چی په بیت المقدس کی څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) اوپه
ځینو روایتونو کی اویا زره (۷۰۰۰۰) بنی اسرائیل قتل کړل او دیولک څخه زیات بنی اسرائیل یې
قید کړل او دیـسو او بزو په شان یی وشړل او با بل ته یی بوتلل او ددی څخه وروسته چی کوم قرآن کریم
فرمایی. ثُمَّ رَدَدْنَالکم الکَرَّةَ عَلَیْهِمْ یعنی مونږ بیا واپس کړه ستاسی غلبه پردوی باندی دا واقعه ددی

کیخسرو خورس بادشاه په لاسو ښکاره سوه ، دی مومن صالح وو ده دبخت نصر مقابله وکړه او دده قیدیان بنی اسرائیل یی دده دلاسونو څخه آزاد کړل او دوباره یی په فلسطین کی آباد کړل . بیت المقدس کوم یی چی وران کړی وو دوباره یی آباد کی . دبیت المقدس خزانی اومهم سامان کوم چی بخت نصر ددی ځای څخه وړی وو دغه ټول یی دبنی اسرائیلو په قبضه کی ورکړل په دی وجه دا سړی دبنی اسرائیلو (یهودو) نجات ورکوونکی ثابت سو .
داخبره قیاس ته نژدی ده چی دمدینی یهودو چی کوم دنبوت دامتحان دپاره دمکی دقریشو په واسطه سره سوالونه متعین کړل . په دی کی د ذوالقرنین سوال ته دا خصوصیت هم حاصل وو چی یهودو به دی خپل نجات ورکوونکی منی دده به یی تعظیم او تکریم کوی .
مولانا حفیظ الرّحمٰن صاحب په خپل دی تحقیق دموجوده تورات په حواله سره دبنی اسرائیلو دانبیاؤ په پیشګویو سره بیاپه تاریخی روایتونو سره پردی کافی شواهد پیش کړي دی کوم صاحب چی په زیات تحقیق پسی وی هغه یی مطالعه کولای سی زما مقصد ددی ټولو روایتونو دنقل کولو څخه یوازی دومره وو چی د ذوالقرنین دشخصیت او دده د زمانی په باره کی دامت دعالمانو او داامامانو دتاریخ اوتفسیر اقوال مخ ته راسی په دی کی راجح کوم قول دی . دا زمامقصد جزء نه دی څکه چی دکوم و کارونو نه قرآنِ کریم دعوه کړي ده او نه حدیثو بیان کړي دی دهغو دمعین او واضح کولو ذمه واری هم په مونږ نسته . او په دوی کی چی هریو قول راجح او صحیح مقرر سی دقرآن مقصد په هر حال کی حاصل دی . والله سبحانه وتعالی اعلم . مخ ته دآیتونو تفسیر وګوری .
قُلْ سَاَتْلُوْا عَلَيْكم مِنْهُ ذِكْرًا . په دی کی دا خبره دنظرقابله ده چی قرآن کریم دلته د ذِكْرَهُ لند لفظ پرینښووی او د . مِنْهُ ذِكْرًا دوی کلمی یی ولی اختیار کړی . چی فکر په وسی نو په دی دوو کلموکی اشاره دی طرف ته سوي ده چی قرآن کریم د ذوالقرنین دپوره قصی او دده دتاریخ ذکر کولو وعده نه ده کړی بلکی دده د ذکر دیوی حصی بیانول یی فرمایلی دی چی پردی باندی حرف دمِنْ او د . ذِكْرًا تنوین په قاعدو دعربیت سره شاهد دی . لوړ چی کوم تاریخی بحث د ذوالقرنین دنوم او نسب او زمانی وغیره لیکل سوي دی قرآن کریم دا غیر ضروری وګڼی دمځکی څخه یی ددی دپرینښودو اظهار فرمایلی دی .
وَآتَيْنٰهُ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ سَبَبًا : لفظ دسبب په عربی لغت کی هرهغه شی ته ویل کیږی په کوم سره چی په مقصد حاصلولوکی مدد اخستل کیږی چی آلات اومادی وسائل په کښی هم شامل دی اوعلم پوهه اوتجربه هم . (بحرِ محیط)
اودَ . مِنْ كُلِّ شَيْءٍ څخه مرادهغه ټول کارونه دی کوموته چی دحکومت په نظام چلولوکی یوباچااو حکمران ته پیښیږي مراددادی چی الله ﷻ حضرت ذوالقرنین ته دخپل عدل اودامنِ عام دقائمولواودملکونو فتحه کولو دپاره چی دکوم کوم سامان ضرورت په هغه زمانه کی وو هغه ټول ده ته ورکړل سوی و .

فَاتَّبَعَ سَبَبًا: مراد دا دی چی سامان خو هر قسم او ددنیا هرځای ته درسیدو ده ته ورکړل سوی وو دوی دتولو څخه اول دمغرب جانب ته دسفر دسامان څخه کار واخستی . حَتّٰى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ : مراد دا دی چی دمغرب جانب ته هغه حدته ورسیدی دکوم څخه چی مخ ته څه آبادی نه وه .

فِيْ عَيْنٍ حَمِئَةٍ دلفظ د حَمِئَةٌ لغوی معنٰی توری ختی یا لوشی دی . مراد ددی څخه هغه اوبه دی ترکومو لاندی چی توری ختی وی چی په دی سره داوبو رنګ هم تور ښکاره کیږی او دلمر په داسی چینه کی د دوبیدونکی لیدو مطلب دا دی چی لیدونکی ته داسی ښکاریده چی لمر په دی چینه کی ډوبیږی ځکه چی مخ ته څه آبادی یاڅه وچه مخ ته نه وه لکه چی ته په یو داسی میدان کی دلمر لویدو په وخت کی یی کوم ځای چی ترلیری پوری مغرب ته څه غر درخته آبادی نه وی نو لیدونکی ته داسی ښکاری چی لمرپه مځکه کی دننه ننوزی .

وَوَجَدَعِنْدَهَاقَوْمًا . یعنی ددی توری چینی په طرف کی ذوالقرنین یو قوم پیداکی دآیت دراتلونکی برخی څخه معلومیږی چی دا قوم کافروو . په دی وجه په راتلونکی آیت کی الله ﷻ ذوالقرنین ته اختیار ورکی چی که غواړی نو دوی ټولو ته اول د دوی دکفر سزا ورکړه اوکه غواړی نو د دوی سره داحسان معامله وکړه چی اول ددعوت تبلیغ او نصیحت په ذریعه دوی.په اسلام او ایمان قبلولو سره آماده کړه بیا منونکو ته د دوی جزا او نه منونکو ته سزا ورکړه . ددی په ځواب کی ذوالقرنین دوهم صورت اختیار کی چی اول به دوی په وعظ نصیحت سره نیکی لاری ته د را وستلو کوشش وکړم بیاچی کوم پرکفر قائم پاته سی دوی ته به سزا ورکړم او کوم چی ایمان راوړی اونیك عمل وکی نو ده ته به ښه بدله ورکړ.

قُلْنَايٰذَا الْقَرْنَيْنِ . ددی څخه معلومیږی چی ذوالقرنین ته الله ﷻ په خپله خطاب وکی او داارشاد یی ورته وفرمایی که ذوالقرنین نبی مقرر سی نو بیا خو په دی کی هیڅ اشکال نسته چی په ذریعه د وحی ده ته وویل سوه . او که دده نبوت ونه منل سی نو بیا ددی . قُلْنَايٰذَا الْقَرْنَيْنِ دخطاب صورت دا کیدای سی چی دیو پیغمبر په واسطه سره دا خطاب ذوالقرنین ته سوي دی لکه چی په روایتونو کی دحضرت خضر ؑ دده سره کیدل ذکر دی او دا هم ممکنه ده چی دا وحی دنبوت او رسالت نه وی هسی لغوی وحی وی لګه چی دحضرت موسٰی ؑ دمور دپاره چی په قرآن کی د . وَاَوْحَيْنَا الفاظ راغلی دی . حال دا دی چی دهغه دنبی یارسول کیدو هیڅ احتمال نسته . مګر ابوحیان په بحرِ محیط کی فرمایی چی ذوالقرنین ته چی کوم حکم دلته ورکړل سوي دی دغه ددی قوم دقتل او سزا حکم دی په داسی ډول څه حکم بغیر دنبوت دوحی څخه نه سی ورکول کیدی . دا کار نه په کشف او الهام سره کیدی سی نه بغیر دنبوت دوحی څخه په یوه بله ذریعه . په دی وجه ددی څخه ماسوا بل هیڅ احتمال صحیح نه دی چی یاخو ذوالقرنین په خپله نبی ومنل سی یابیا یو نبی دده په زمانه کی موجود وو او دهغه په ذریعه به ده ته خطاب کیدی . والله تعالی اعلم .

ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۸۹﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ مَطْلِعَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَطْلُعُ عَلٰى قَوْمٍ لَّمْ نَجْعَلْ لَّهُمْ مِّنْ

بیا وړپسی سو په یو سامان پسی، تردې چې کله ورسیدې دلمر ختو خای ته بیایې ولیدې دی چې راخیژي په یو قوم

دُوْنِهَا سِتْرًا ﴿۹۰﴾ كَذٰلِكَ ۗ وَقَدْ اَحَطْنَا بِمَا لَدَيْهِ خُبْرًا ﴿۹۱﴾

چې نه ده جوړه کړې مونږ دوی لره دلمر څخه څه پرده، هم دغسې ده او زمونږ په قبضه کې راغلې دی دده دهر څه خبر

لنډتفسیر: بیا (چې مغربي ملکونه یې فتحه کړل او دمشرقي ملکونو دفتح کولو په اراده سره مشرق طرف ته) پر یوه لاره روان سو تر دې چې دلمر ختو خای ته (یعنې دمشرق انتهایي آبادیو ته) ورسیدی نو لمر یې پر یو داسې قوم ختونکی ولیدې دکومو دپاره چې مونږ دلمر څخه دیخوا څه پرده نه وه کړې (یعنې دلته یو داسې قوم آباد وو کوم چې دغرمو څخه دځان کولو دپاره دخیمې وغیره جوړولو سره عادت نه وو بلکې چې شاید جامې به یې هم نه اغوستې دحیوانانو په شان په ساده میدان کې اوسیدل) دا قصه هم دغه ډول ده او د ذوالقرنین سره چې څه (سامان وغیره) وو مونږ ته دهغه پوره خبر دی (په دې کې دنبوت د امتحان دپاره د ذوالقرنین متعلق سوال کوونکو ته په دې باندې خبرداری دی چې دا مونږ چې څه ښیو دا ددغه علم او خبر پربنیاد دی دعامو تاریخي قصو په شان نه دی . ددې دپاره چې دنبوت محمدي حقوالی واضح سي)

معلومات اومسئلې: ذوالقرنین چې دمشرق طرف ته کوم قوم آباد بیا ولیدی د دوی دا حال خو قرآن کریم ذکر فرمایلی دی چې دوی دغرمو څخه دمحفوظ کیدو دپاره څه اسباب کور خیمه جامې وغیره نه ذریعه کولې لیکن د دوی دمذهب او عملونو هیڅ ذکر یې ونه کې او نه دا چې ذوالقرنین ددې خلقو سره څه عمل وکې او ظاهره دا ده چې دا خلق هم کافران وه او ذوالقرنین د دوی سره هم هغه معامله وکړه کومه چې دمغربي قوم سره لوړه ذکر سوې ده . مګر ددې دبیان کولو یې دلته څکه ضرورت ونه ګڼې چې پر تیره واقعه یې قیاس وکې نو په دې پوهیدې سی. (لکه چې داسې په بحرمحیط کې د ابن عطیه څخه دی)

ثُمَّ اَتْبَعَ سَبَبًا ﴿۹۲﴾ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ بَيْنَ السَّدَّيْنِ وَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمَا قَوْمًا ۙ لَّا يَكَادُوْنَ

بیا وړپسی سو په یو سامان پسې تردې چې کله ورسیدې د دوو غرونو مینځ ته بیایې ولیدل دهغه څخه دیخوا ته

يَفْقَهُوْنَ قَوْلًا ﴿۹۳﴾ قَالُوْا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ اِنَّ يَاْجُوْجَ وَمَاْجُوْجَ

داسې خلق چې نه ووچې پوه سی په یوه خبره ، وې ویل ای ذوالقرنینه ! دا یاجوج او ماجوج

مُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰٓى اَنْ

فساد کوی په ملك کی پس که ته وایې نو مونږ به مقرر کړو تا لره خراج په دې شرط چې ته جوړ

تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا ﴿٩٤﴾ قَالَ مَا مَكَّنِّي فِيهِ رَبِّي خَيْرٌ فَأَعِينُونِي

کې زمونږ او د دوی په مینځ کې یو دیوال ، وې ویل کوم چې قدرت را کړی دی ما ته زمارب هغه غوره دی پس

بِقُوَّةٍ أَجْعَلْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ رَدْمًا ﴿٩٥﴾ آتُونِي زُبَرَ الْحَدِيدِ حَتَّى

مددوکی زما په محنت کی جوړ به کرم ستاسی او د دوی په مینځ کی یو دیوال غټ راوړی ماته تختی دا وسپنی

إِذَا سَاوَى بَيْنَ الصَّدَفَيْنِ قَالَ انْفُخُوا حَتَّى إِذَا جَعَلَهُ نَارًا

تردی چی کله پوره سو د دواړو غرونو دسرونو پوری وې ویل پوه کړی ، تردی چی هرکله یی کی دغه اور ،

قَالَ آتُونِي أُفْرِغْ عَلَيْهِ قِطْرًا ﴿٩٦﴾ فَمَا اسْطَاعُوا أَنْ يَظْهَرُوهُ وَمَا

وی ویل راوړی ما ته چی واړوم په دی ویلی سوی اوسپنه بیا به ونه ختل سی په دی باندی او نه به

اسْتَطَاعُوا لَهُ نَقْبًا ﴿٩٧﴾ قَالَ هَذَا رَحْمَةٌ مِنْ رَبِّي فَإِذَا جَاءَ

وکړل سی په دی کی سوری ، وې ویل چی دا مهربای ده زما درب بیا چی کله راسی

وَعْدُ رَبِّي جَعَلَهُ دَكَّاءَ وَكَانَ وَعْدُ رَبِّي حَقًّا ﴿٩٨﴾

وعده زما درب وبه غورځوی دا پر نړولو ، او ده وعده زما درب رښتینی

لنډتفسیر: بیا (مشرق او مغرب یی فتح کړل) په یوه بله لار روان سول (په قرآن کریم ددی طرف نوم نه دی اخستل سوی مگر زیاته آبادی دشمال طرف ته ده په دی وجه تفسیر لیکونکو دا سفر دشمالی ملکونو سفر وگڼی تاریخی شهادتونه هم ددی تائید کوی) تر دی چی کله داسی قوم ته کوم چی د دوو غرونو په مینځ کی وو ورسیدی نو ددی غرونو څخه یی دی طرف ته یو قوم ولیدی کوم چی (د ژبی او لغت څخه ناخبره دوحشیانه ژوند په وجه سره) په څه خبره باندی پوهیدو ته نژدی هم نه رسیدل (ددی الفاظو څخه دا معلومیږی چی یوازی دژبی څخه ناخبره نه وو څکه چی څه پوهه او عقل په کی وی نو دغیر اهل ژبو په خبرو هم څه په اشارو او کنایو سره پوهیدی سی بلکه وحشیانه ژوند دپوهی او عقل څخه هم لیری ساتلی وه مگر بیاهم شایدچی دیو ترجمان په واسطه سره) دوی عرض وکی ای ذوالقرنینه ! دیاجوج ماجوج قوم (کوم چی ددی کندوالو څخه اخواته اوسی زمونږ) په دی مځکه (کله کله راسی) لوی فسادکوی (یعنی قتلونه اولوټ مار کوی او په مونږکی د دوی دمقابلی طاقت نسته) پس آیامونږ خلق

تاته څنده وکړو او څه رقم جمع کړو په دې شرط چې ته زمونږ او د دوی په مینځ کې څه بند واچوی (چې دوی بیادې طرف ته نه سی راتلی) ذوالقرنین جواب ورکی چې په کوم مال کې زمارب ماته (دتصرف کولو) اختیار راکړې دی هغه ډیر څه دی (په دې وجه دچندې جمع کولو اومال راکولو ضرورت نسته البته) دلاسو اوپښو په طاقت (یعنی محنت اومزدوری) سره زما مدد وکی نو زه به ستاسی او د دوی په مینځ کې ښه مضبوط دیوال جوړ کړم (ښه نو) تاسی خلګ ماته داوسپنی څادرونه را وړی (قیمت به یې مونږ ورکو ظاهره دا ده چې ددی اوسپنی د دیوال جوړولو دپاره به یې نور هم دضرورت شیان راغوښتی وی ، مګر دلته په دې وحشی ملك کې دټولو څخه زیات کمیاب شی داوسپنی څادرونه وه په دې وجه ددی پر ذکر کولو یې بس والی وکی چې ټول سامان جمع سو نو د دواړو غرونو په مینځ کې داوسپنی ددیوال جوړولو کار شروع سو) تردې چې هر کله (ددیوال ردی یې پریوبل سربیره کښیښنودی) ددی (دواړو غرونو) دسرونو مینځ (خلا) ته (دغرونوپه) برابر سو نو حکم یې وکی چې پوکی ورکی (پوکی ورکول شروع سول) تردې چې کله یې (په پوکو ورکولو سره) دغه دیوال (داوسپنی) له سرو سکروټو کې نو حکم یې وکی چې اوس ماته ویلی کړی اوسپنه راوړی (چې دمخکی څخه به یې تیاره کړی وه) چې په دی یې واچوم (نو دغه ویلی سوی اوسپنه راوړل سوه او سربیره یې پر ورواړوله چې د دیوال په ټولو درزونو کې دننه ولاړه سی او ټول دیوال یوه تخته سی ددی اوږدوالی او پلنوالی خدای ته معلوم دی) نو (ددی دلوړوالی اوپنډوالی په وجه) نه یاجوج اوماجوج په دې راختلی سوای او نه یې په دې کې (د ډیرسختوالی په سبب څه) سوری کولی سوای ذوالقرنین (هرکله چې دا دیوال جوړ ولیدی چې ددی تیارول څه آسان کارنه وو نو په طور دشکر یې) وویل چې دا زما د رب یو رحمت دی (پرما هم چې زماپه لاسو دا کار وسو او ددی قوم دپاره هم کوم چې یاجوج اوماجوج آزارول) بیا څه وخت چې درب وعده راسی (یعنی ددی دفنا کیدو وخت راسی) نو دا به وغورځوی (دمخکی سره به) برابر یې کړی او زما د رب وعده حقه ده (اوخپل پروخت به خامخا واقع کیږی)

(معلومات اومسئلي : دلغاتو حل)

بَیْنَ السَّدَّیْنِ لفظ دَسَدّ ، په عربی ژبه کی هرهغه شی ته ویل کیږی کوم چې دڅه شی دپاره بندیز جوړ سی که دیوال وی اوکه غر، قدرتی وی اوکه مصنوعی . دلته دسدین څخه دوه غرونه مراد دی کوم چې دیاجوج او ماجوج په لاره کی بندیز وو لیکن ددی دواړو غرونو په مینځ کی کنډو وو پرهغه به دوی را وختل او حمله به یې کوله کوم چې ذوالقرنین بند کی .

زُبَرَ الْحَدِیْدِ ، زبر د زبره جمعه ده چې معنٰی یې تختی یاڅادر دی مراد ورڅخه د اوسپنی ټوټی دی کوم چې ددی کنډو دبندولو په دیوال کی دخښتو او ډبرو پرځای استعمالول وو.

الصَّدَفَیْنِ ، د دوو غرونو دوه طرفونه کوم چې یو بل ته مخامخ وی .

قطراً، دقطر معنی داکثرو تفسیر لیکونکو په نزد ویلی سوی سرپ دی ځینو ویلی سوی اوسپنه یاژړو ته هم قطر ویلی دی . (قرطبی)

دکآء، یعنی ذری سوی دمځکی سره هوار سوی .

﴿ یاجوج او ماجوج څوک دی په کوم ځای کې دی؟ سد ذوالقرنین په کوم ځای دی؟ ﴾

ددی متعلق په اسرائیلی روایتونو اوتاریخی قصوکی ډیری بی سر اوپښو عجیبه اونا آشنا خبری مشهوری دی کوم چی ځینو تفسیر لیکونکو حضراتو هم په تاریخی حیثیت سره نقل کړی دی مګر دغه په خپله د دوی په نزد هم داعتماد قابلی نه دی . قرآن کریم د دوی حال په لنډه توګه اجمالاً بیان کی اونبی کریم ﷺ هم په قدر دضرورت دتفصیلاتو څخه امت خبردار کی ، دایمان راوړلو اوعقیدی لرلو شی یوازی دومره دی کوم چی په قرآن کریم اوصحیح احادیثوکی راغلی دی . ددی څخه ماسوا تاریخی اوجغرافیایی حالات کوم چی تفسیرلیکونکومحدثینواومؤرخینو ذکرکړي دی هغه صحیح هم کیدی سی اوغلط هم. په دی کی چی کوم اقوال دتاریخ والاوو مختلف دی دغه پرقرینو قیاسونو او اندازو مبنی دی د دوی دغلط یاصحیح هیڅ اثرپه قرآنی ارشاداتونه لویږی. زه دلته اول هغه احادیث نقل کوم کوم چی په دی معامله کی دمحدثینو په نزد صحیح یاقابل اعتماد دی ددی څخه وروسته په قدر دضرورت تاریخی روایتونه هم لیکل کیږي .

﴿ دیاجوج اوماجوج متعلق دحدیثو روایتونه ﴾

دقرآن اوحدیث دوضاحتونو څخه دومره خبره خوبیشکه ثابته ده چی یاجوج اوماجوج دانسانانوقومونه دی دعامو انسانانو په شان دحضرت نوح ﷺ د اولاد څخه دی ځکه چی په قرآن کریم صریح نص دی ، وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُ هُمُ الْبَاقِيْن ، یعنی دحضرت نوح ﷺ دطوفان څخه وروسته چی څومره انسانان په مځکه پاته دی او اوسیږی دغه ټول دحضرت نوح ﷺ د اولاد څخه دی . تاریخی روایتونه په دی متفق دی چی دغه دیافث د اولاد څخه دی دیو ضعیف حدیث څخه هم ددی تائید کیږي . د دوی دباقی حالاتو متعلق دټولوڅخه زیات تفصیلی اوصحیح حدیث دحضرت نواس بن سمعان ﷺ دی کوم چی صحیح مسلم او ټولو مستندو کتابونو دحدیثونقل کړی دی اومحدثینو دا صحیح ګڼلی دی . په دی کی دخروج دجال نزول عیسٰی ﷺ بیاخروج دیاجوج او ماجوج وغیره په پوره تفصیل سره ذکر دی ددی پوره حدیث ترجمه دا ده حضرت نواس ابن سمعان ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ یوه ورځ دسهار په وخت کی ددجال ذکر وفرمایی او په دی ذکرکی یی ځینی خبری دده متعلق داسی وفرمایلی چی دکومو څخه دده سپکوالی او ذلیل والی معلومیدی (مثلاً دا چی دی په یوه سترګه ړوند دی) اوځینی خبری یی دده متعلق داسی وفرمایلی چی دهغه څخه معلومیده چی دده فتنه سخته اوعظیمه ده (مثلاً جنت او دوزخ به ورسره وی اونور خوارق عادت) د دوی ﷺ دبیان څخه په مونږ (داسی ډیره راغله چی) ګوا کی دجال دخرماؤ په دی باغ کی

دی (یعنی نژدی موجود دی) کله چی مونږ مابنام دحضور ﷺ په خدمت کی حاضر سو نو دوی ﷺ زمونږ دزړه په اثراتو باندی پوه سو او پوښتنه یی وکړه چی تاسی څنګه ګڼله؟ مونږ عرض وکی چی تاسی ددجال ذکر کوی او ځینی خبری مو دده متعلق داسی وفرمایلی په کومو سره چی دده معامله سپکه او آسانه معلومیده او ځینی خبری مو داسی وفرمایلی دکومو څخه چی معلومیده چی دده به لوی قوت وی دده فتنه ډیره عظیمه ده مونږ ته خو داسی محسوسه سوه چی زمونږ په خوا کی دخرماوو په دی بڼ کی موجود دی . نبی کریم ﷺ وفرمایل ستاسی په باره کی چی دکومو فتنو څخه زمابیره ده په دوی کی ددجال په نسبت نوری فتنی زیاتی دبیری قابلی دی (یعنی ددجال فتنه دومره عظیمه نه ده څومره چی تاسی ګڼلی ده) که زماپه موجودګی کی هغه را ووتی نو زه به یی مقابله په خپله وکړم (تاسی ته دده دفکر کولو ضرورت نسته) او که دی زما څخه وروسته راغی نو هرسړی به دخپل وس مطابق دده دمغلوب کولو کوشش کوی الله ﷻ زماپه غیرِ موجودګی کی دهر مسلمان ناصر او مدد ګار دی (دده نښانه دا ده) چی دغه یو نوجوان سختو پیچلو وریښتو والادی دده یوه سترګه بوټه راوتلی ده او په بله سترګه ړوند دی (لکه چی په نورو روایتونو کی دی) او که زه (دده دقبیح صورت) دچاسره تشبیه ورکولی سم نو هغه عبدالعزّی بن قطن دی (دا دجاهلیت د زمانی دبنو خزاعه قبیلی یو بد شکله سړی وو) که په تاسی کی یو مسلمان ددجال سره مخامخ سی نو ده ته په کار دی چی د سورة کهف اولنی آیتونه ووایی (په دی سره به ددجال دفتنی څخه محفوظ سی) دجال به دشام او عراق په مینځ کی راوزی او هر طرف ته به فساد خپور کی . ای دالله ﷻ بندګانو! دده په مقابله کی ثابت قدم او سیږی .

مونږ عرض وکی چی یارسول الله ﷺ هغه به پرمځکه څومره موده وی ؟ دوی وفرمایل چی څلوېښت ورځی به وی لیکن اوله ورځ به یی دیوکال برابر وی دوهمه ورځ به یی دیوی میاشتی برابر وی او دریمه ورځ به یی دهفتی برابر وی او باقی ورځی به یی دعامو ورځو برابر وی ، مونږ عرض وکی یارسول الله! ﷺ کومه ورځ چی دکال برابر وی آیا مونږ به یوازی په دی کی دورځی پنځه لمونځونه کوو؟ دوی ﷺ وفرمایل نه ! بلکی دوخت اندازه به کوی دپوره کال لمونځونه به ادا کول وی بیامونږ عرض وکی یارسول الله ﷺ! دی به په مځکه څومره په تیزی سره سفر کوی؟ ویی فرمایل دهغه وریځی په شان به تیزروان وی په کومی پسی چی موافقه هوا لګیدلی وی نو دجال به پرقوم باندی راسی دوی ته به دخپلی باطلی عقیدی دعوت ورکی هغوی به په ده ایمان راوړی نو دی به وریځو ته حکم ورکی نو هغه به ووریږی او مځکی ته به حکم ور کی نو هغه به سرسبزه او شادابه سی (او د دوی حیوانان به په کبنی وڅریږی او ماښام چی کله بیرته راسی نو د دوی کوهانونه (شاګانی) به دمخکی څخه زیات لوړ وی او غولانځی به یی دشیدو څخه ډکی وی او تشی به یی پړسیدلی وی (یعنی ښه به ماړه وی) بیابه دجال پر یو بل قوم باندی راسی او دوی ته به هم دخپل کفر او ګمراهی دعوت ورکی لیکن هغه به دده خبر رد کی نو دی به ورڅخه مایوسه سی او ولاړ

به سې ورځخه نو دغه مسلمانان به په قحط سالۍ کې اخته سي او د دوی سره به هيڅ مال او دولت پاته
نه سي اوپرغيرِ آباده مځکه به دی راسي نو دی به ورته خطاب وکې چې خپلې خزانې دباندې را وباسه نو
دمځکې خزانې به په ده پسې داسې ورپسې سي لکه دشاتو مچې چې په خپل سردارپسې وی بیابه
دجال يو سړی را وبلي چې ښه دځوانی پهجوش کې به وی او دی به يې په توره ووهی دوې ټوټې به یې
کې او دواړی ټوټې به يې په دومره فاصله باندې وغورځوی څومره چې دغشي ويشتونکی اونښانې په
مينځ کې فاصله وی اوبیابه دی هغه را وبلي نو هغه به ژوندی سي ددجال طرف ته به دده پردې کار خدا
کوونکي روښانه مخ راسي په دې مینځ کې به الله ﷻ حضرت عیسٰی ﷺ نازل کې نو هغه به دوه رنګدارو
ځادرونه اغوستې وی . دجامع دمشرق جانب پرسپینه مناره به داسې راکښته سي چې خپل دوارو
لاسونه به يې د دوو ملائکو پر وزرو باندې ایښي وی کله چې خپل سرمبارك کښته کې نو د اوبو قطرې
به ورځخه داسې وځاځي لکه چاچه اوس غسل کړی وی او کله چې سر پورته کې نو هم به ورځخه دغه
وخت د اوبو ځاڅکی دملغلرو په شان صفا را وځاځي . کوم کافر ته چې دده دساه اخستو هوارسیږی هغه
به پرهغه ځای مری او د دوی دساه هوابه دومره ليرې رسیږی ترڅومره پورې چې د دوی نظر رسيږي .
حضرت عیسٰی ﷺ به ددجال تلاش کوی تردې چې پرباب اللُد باندې به يې لاندې کې (دا کلی اوس هم
دبیت المقدس په خواکې په دې نوم باندې موجود دی) هلته به دی قتل کې بیابه حضرت عیسٰی ﷺ
خلق ته تشریف را وړی او (په طور دشفقت به) د دوی په مخونو لاس راکش کې او په جنت کې به ورته
داعلې درجو خوشخبری ورکې .
حضرت عیسٰی ﷺ به لا په دې حالت کې وی چې دالله ﷻ دطرف څخه به ورته حکم وسي چې زه پرخپلو
بندګانو کې داسې خلق راباسم چې دمقابلې يې په هیچاکې طاقت نسته ته مسلمانان جمع کړه اوکوه
طورته يې بوزه (هم دارنګه حضرت عیسٰی ﷺ به داسې وکې) اوالله ﷻ به ياجوج اوماجوج را وباسي نو
دوی به د ډیر تیز تلو په سبب دهر لوړ ځای څخه راښوييدونکی ښکاره کیږي . د دوی اولنی خلق چې پر
بحیره طبریه باندې راسي نو ددې ټولې اوبه به وچښي او داسې به يې کړی چې کله په دوی پسې نور خلق
پردې درياب باندې راسي نو درياب به وچ ووینی او وبه وايي چې دلته به هم کله اوبه وی ؟
حضرت عیسٰی ﷺ او دده ملګری به په کوه طورکې پناه واخلي او نور مسلمانان به په خپلو قلعه ګانو او
محفوظو ځایونو کې پناه واخلي او دخوراك او چيښاك سامان به ورسره وی مګر هغه به کم سي نو ډیر
غوايي سر به د دوو سوه ديناره څخه غوره وګڼل سي . حضرت عیسٰی ﷺ اونور مسلمانان به دخپل
تکليف دفع کیدو دپاره دالله ﷻ څخه دعا وغواړی (الله ﷻ به د دوی دعاقبوله کړی) او پرهغوی به په
وبايي صورت کې یوه بیماری را ولیږی اوياجوج اوماجوج به په لږ وخت کې ټول مړه سی . بیاحضرت
عیسٰی ﷺ او دده ملګری به دکوه طور څخه راکښته سی نوو به وینی چې په مځکه کې یوه لویشت ځای

هم د دوی دلاشونو څخه خالی نسته (اودلاشونو د ورستیدو په وجه به) سخت بدبوی خپوروی (داحالت چی ووینی نو) دوباره به حضرت عیسیٰ ﷺ او دده ملګری الله ﷻ ته سوال وکی (چی دا مصیبت لیری سی الله ﷻ به یی قبول کی) او ډیر غټ غټ مارغان به راولیږی چی څټونه به یی د اوښانو دڅټونو په شان وی (دوی به دغه لاشونه پورته کی او کوم ځای ته چی دالله ﷻ رضاوی وبه یی غورځوی . په ځینو روایتونو کی دی چی دریاب ته به یی واچوی بیابه الله ﷻ باران وکی یو ښار او ځنګل به داسی نه وی چی باران به پر ونه سی ټوله مځکه به ومینځل سی او دچښی په شان به صفا سی . بیابه الله ﷻ مځکی ته حکم وکی چی دخپلی خیټی څخه میوی اوګلونه راوباسه او (دنوی سره) خپل برکتونه ظاهرکړه (نو داسی به وسی او دومره برکت به ظاهرسی چی یوانار به دیو جماعت دخوراك دپاره کفایت وکی او خلق به دانار دپوست څخه سایوان (چتری) جوړ وی پرځان به یی سایه کوی او په شیدوکی به دومره برکت وی چی دیوی اوښی شیدی به دیو لوی جماعت دپاره کافی وی او دیوی غوایی به دیوی قبیلی دټولو خلقو دپاره کافی سی او دیوی بزی شیدی به دټولی برادری دپاره کافی سی (دا غیرمعمولی برکتونه او دامن اوامان زمانه به ترځلوېښتو کالو پوری دپاته کیدو څخه وروسته کله چی دقیامت وخت راسی نو) دغه وخت به الله ﷻ یوه خوشګواره هوا را والوزوی چی ددی په وجه به الله ﷻ دټولو مسلمانانو په تخرګونو کی یوه خاصه ناروغی ښکاره کی او ټول به وفات سی او یوازی شریران اوکافران به باقی پاته سی کوم چی به په مځکه ډاګ په ډاګه حرام کاری دحیوانانو په شان کوی قیامت به پرداسی خلقو قائم سی .

او دحضرت عبدالرحمٰن بن یزید په روایت کی دیاجوج ماجوج قصه زیاته په تفصیل راغلی ده هغه دا چی پربحیره طبریه دتیریدو څخه وروسته به یاجوج ماجوج دبیت المقدس په غرونوکی یوغر جبل الخمر ته وخیژی اووبه وایی چی مونږ دمځکی ټول خلق قتل کړل اوس مونږ آسمان والاهم ختموو نو دوی به خپل غشی دآسمان طرف ته غورځاوی اوهغه غشی به دالله ﷻ په حکم سره په وینو ککړ دوی ته بیرته راځی (چی دوی بی عقله داسی وګڼی خوشحاله سی چی موږ دآسمان خلق هم ختم کړل)

او ددجال په قصه کی دحضرت ابوسعید خدری ؓ په روایت کی دااضافه هم دا چی دجال به دمدینی منوری څخه لیری اوسیږی او دمدینی پرلارو به هم دده راتلل ممکن نه وی نودی به دمدینی منوری په خواکی یوی ښیره ناکی مځکی ته راسی دغه وخت به یو سړی دجال ته راسی او دغه سړی به دغه وخت دښه خلګو څخه وی او ده ته به ووایی چی زه په یقین سره وایم چی ته هغه دجال یی دکوم چی مونږته نبی کریم ﷺ خبر را کړی وو (چی دا واوری نو) دجال به ووایی خلقو! ماته دا ووایاست که زه داسړی قتل کړم اوبیایی ژوندی کړم نو زما په خدایی کی به شك کوی ؟ دوی به ځواب ورکی چی نه ! نو دغه سړی به قتل کی اوبیابه یی ژوندی کی نو دغه سړی به دجال ته ووایی چی اوس می ستا په دجال والی باندی دمځکی څخه زیات یقین وسو دجال به دوباره دده دقتلولو اراده وکی لیکن پرده به قادرنه سی . (صحیح مسلم)

په صحيح بخاري اومسلم كې دحضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ فرمايي چې دقيامت په ورځ به الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته وفرمايي چې ته په خپل اولادكې جهنميان پورته كړه دى به عرض وكې چې اى ربه! هغه كوم خلگ دي؟ نو حكم به ورته وسي چې په هرو زروكې يوكم زر دوږخيان دي يوازي يوجنتى دى. صحابه وبيريدل اوپوښتنه يې وكړه چې يارسول الله ﷺ په مونږ كې هغه يو جنتي به څوك وى؟ نو دوى ﷺ وفرمايل چې غم مه كوى چې دا يو كم زر دوږخيان به په تاسي كې يو او په ياجوج او ماجوج كې د زرو په نسبت سره وى او په مستدرك حاكم كې دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دي چې الله ﷻ ټول انسانان لس برخې كړي دي په دوى كې نه برخې ياجوج اوماجوج دي او يوه برخه دټولې دنيا انسانان دي. (روح المعاني)

ابن كثير رحمه الله په البدايه والنهايه كې ددې روايتونو دذكر كولو څخه وروسته ليكلي دي چې ددې څخه معلومه سوه چې دياجوج اوماجوج شمير دټولې انساني آبادۍ څخه بې حده زيات دى.

په مسنداحمد او ابوداود كې په صحيح سند سره د ابوهريره ﷺ څخه روايت دى چې نبى كريم ﷺ فرمايي چې حضرت عيسٰى ﷺ به دنازليدو څخه وروسته څلويښت كاله پر مځكه وى دمسلم په يو روايت كې يې اووه كاله ښوولي دي حافظ په فتح البارى كې دا ماول يامرجوح مقرر كړي دي څلويښت كاله موده يې صحيح گرځولې ده او داحاديثو دتصريح مطابق دا ټوله زمانه به دامن او امان او بركتونو دظهور وى بغض عداوت به په درميان كې بالكل پاته نه سى هيڅكله به هم د دوو تنو په مينځ كې جنگ يادښمنى نه وى (مسلم او احمد)

بخاري دحضرت ابوسعيدخدري ﷺ څخه روايت كړي دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دي. چې دبيت الله شريفې حج اوعمره به دياجوج اوماجوج دخروج څخه وروسته هم جاري وى. (مظهرى)

بخاري او مسلم دحضرت زينب بنت حجش ام المومنين ﷺ څخه روايت كړي دى چې نبى كريم ﷺ (يوه ورځ) دخوب څخه په داسې حالت كې بيداره سو چې مخ مبارك يې سور كيدى او پر ژبه مباركه يې داجملې وى.

لَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَيْلٌ لِّلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَاجُوْجَ وَمَاجُوْجَ مِثْلَ هٰذِهٖ وَحَلَّقَ تِسْعِيْنَ.

دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نسته خرابي ده عربو لره دهغه شر څخه كوم چې نژدې راغلى دى نن ورځ دياجوج او ماجوج په ديوال كې دومره سورى راغلى دى او دوى دلس اتيايعنى غټه گوته او دشهادت گوته يوځاى كړې اوحلقه يې ورڅخه جوړه كړه.

اُمّ المؤمنين فرمايي چې په دې ارشاد مونږ عرض وكې چې يارسول الله! آيامونږ په داسې حال كې هلاكيدى سو كله چې په مونږكې صالحان موجود وى؟ دوى وفرمايل چې هو! كيدى سي كله چې دشر زياتوالى پيدا سى (ددې په شان په صحيحينوكې د ابى هريره ﷺ څخه دى او په البدايه والنهايه كې دابن

كثير څخه داسې نقل دي)
او دياجوج او ماجوج په ديوال کې په قدر دحلقې سورې کيدل په خپله حقيقي معنی کې هم کيدی سی او په مجازي طور سره دديوال دکمزوری کيدو په معنی کې هم کيدی سی . (ابن کثير ابوحيان)
مسنداحمد ترمذي ابن ماجه دحضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت نقل کړي دي چې نبي کريم ﷺ فرمايي چې ياجوج وماجوج هره ورځ سد ذوالقرنين راکيني تردې چې ددې اوسپنې دديوال آخري برخه دومره نژدې سي چې دبل طرف څخه رڼا په نظر راسي مګر دا ووايي ولاړ سي چې نوره به صبا وکينو او پورې به وزو. مګر الله ﷻ يې بيا مضبوط کې او په بله ورځ بيا دنوی سره کيندل شروع کې . دا دکيندلو او محنت سلسله او بيا دالله ﷻ دطرف څخه دجوړولو به ترهغه وخته پورې چليږي ترکومه وخته پورې چې دياجوج او ماجوج دبند ساتلو اراده ده اوکله چې الله ﷻ د دوی دخلاصولو اراده وفرمايي نو په دغه ورځ چې کله محنت وکې او آخر حد ته ورسيږي نو په دغه ورځ به ووايي چې که الله ﷻ وغوښتله نوموږ به صبا پردې ورواوړو (دالله ﷻ پرنوم اورضا باندې په سپارلو سره به يې په دغه ورځ توفيق وسي) نوپر بله ورځ به دديوال باقي حصه پرخپل حالت پيداکې اومات به يې کړي اوپرې راوابه وړي .
ترمذي دا روايت په سند دابي عوانه ﷺ عن قتاده ﷺ عن ابي رافع ﷺ عن ابي هريره ﷺ نقل کولو څخه وروسته فرمايي (غَرِيْبٌ لاَ نَعْرِفُهُ اِلاَّمِنْ هٰذَا الْوَجْهِ) ابن کثيرپه خپل تفسيرکې دا روايت نقل کوی او فرمايي

اِسْنَادُهُ جَيِّدٌ قَوِيٌّ وَلٰكِنْ مَتْنُهُ فِيْ رَفْعِهِ نَكَارَةٌ ، اسناد ددې جيد او قوي دی ليکن دحضرت ابوهريره ﷺ څخه ددې دمرفوع کولو يا ددې نبي کريم ﷺ ته په نسبت کولو کې يو نکارت او اجنبيت معلوميږي .
او ابن کثير په (البدايه والنهايه) کې ددې حديث متعلق فرمايي چې که دا خبره صحيح ومنل سي چې دا حديث مرفوع نه دی بلکې دکعب احبار روايت دی نو بيا خو خبره صفا سوه چې دا څه قابل اعتماد شی نه دی او که دا روايت د راوی دوهم څخه محفوظ وګڼل سي او دنبي کريم ﷺ ارشاد يې وګڼي نو بيا به ددې مطلب دا وي چې دياجوج او ماجوج ديوال کيندلو دا کار به هغه وخت شروع کيږي کله چې د دوی دخروج وخت نژدې سي او قرآني ارشاد چې په دې ديوال کې سورې نه سی کيدی دا دهغه وخت حال دی کله چې ذوالقرنين دا جوړ کړی وو. په دې وجه څه تعارض پاته نه سو دا رنګه دا هم ويل کيږي چې دسورې څخه مراد په ديوال کې داسې چاودې کول دي چې پورې راپورې وي او په دې روايت کې ددې توضيح موجود دی چې دا سورې پورې راپورې نه کيږي . (البدايه ص ۱۱۲ ج۲)
حافظ ابن حجر په فتح الباري کې دا حديث دعبد بن حميد او ابن حبان په حواله سره هم نقل کړي دي او وايي چې ددې ټولو روايت دحضرت قتاده ﷺ څخه دی او په دې کې دځينو دسند سړی دصحيح بخاري دسند سړي دي او دحديث په مرفوع ګڼلو باندې يې هم څه شبه نه ده کړې او په حواله دابن عربي يې بيان

كړي دي چې په دي حديث كې دقدرت الهي درې نښاني دي يعني معجزې دي . اول دا چې الله ﷻ د دوى ذهنونه دي طرف ته متوجه نه كړل چې دديوال دكيندلو كار شپه او ورځ مسلسل جاري وساتي . كه نو د دومره لوى قوم دپاره څه مشكله ده چې شپه او ورځ جدا جدا ډيوټياني مقررې كي . دوهم د دوى ذهنونه يې دي طرف څخه وګرځول چې پرديوال سربيره دراختلو كوشش وكي او ددې دپاره دآلاتو څخه مدد واخلي حال دا دى چې دوهب بن منبه د روايت څخه دا هم معلوميږي چې دا خلګ دزراعت اوصناعت خاوندان دي هرقسم آلات ساتي د دوى په مځكه كې درختي هم هرقسم دي څه مشكل كارنه ووچې سربيره دراختلو ذريعې اووسيلې يې پيداكړې واى دريم دا چې په ټوله موده كې د دوى په ژرونوكې داخبره را نه غله چې ان شآء الله ووايي يوازې هغه وخت به دا كلمه د دوى پر ژبه جاري سي كله چې د دوى دوتلو مقرر وخت راسي .

ابن عربي فرمايي چې ددې حديث څخه دا هم معلوميږي چې په ياجوج اوماجوج كې څه داسي خلق هم سته كوم چې دالله ﷻ وجود مشيت اواراده مني او داهم ممكنه ده چې بغير دڅه عقيدې د دوى پر ژبه الله ﷻ دا كلمه جاري كې او ددې په بركت سره د دوى كار وسي . (اشراط الساعة للسيد محمد ص ۱۵۴)

مګر ظاهره دا ده چې دوى ته هم دانبياء عليهم السلام دعوت رسيدلى دى ورنه دقرآن دنص مطابق دوى ته دجهنم دعوت نه دى په كار . وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلاً ، معلومه سوه چې د ايمان دعوت دوى ته هم رسيدلى دى مګر دا خلق په كفر باندې ټينګ پاته سول . په دوى كې به څه داسي خلق هم وي چې دخداى دوجود او دده د ارادې او مشيت قائل به وي كه څه هم يوازې دومره عقيده دايمان دپاره كافي نه ده تر څو چې په رسالت او آخرت باندې ايمان نه وي په هرحال دانشاء الله كلمه ويل سره دكفر څخه هم بعيده نه ده .

﴿ دحديث درواياتونو څخه حاصلي سوى نتيجي ﴾

په دې ذكر سوو احاديثو كې چې دياجوج او ماجوج متعلق كومي خبرې دنبي كريم ﷺ دبيان څخه ثابتي سوى هغه دا دي .

۱. ياجوج اوماجوج دعامو انسانانو په شان دحضرت نوح ﷺ په اولاد كې دي جمهور محدثين اومؤرخين يې دیافث ابن نوح ﷺ اولاد ګڼي او دا هم ظاهره ده چې دیافث ابن نوح ﷺ اولاد دحضرت نوح ﷺ دزماني څخه د ذوالقرنين تر زماني پورې ترلیرې ليرې پورې په مختلفو قبيلو او قومونو او مختلفو آباديو كې خپور سوى وو . ياجوج ماجوج چې دكومو قومونو نوم دى دا ضروري نه ده چې ټول دې دسد ذوالقرنين څخه اخواته بند سوى وي د دوى څه قبيلې او قومونه دې ديخواته هم وي البته په دوى كې چې كوم قتل اولوټ مار كوونكي وحشيان خلق وه هغوى دې دسد ذوالقرنين په ذريعه بند كړل سوى وي . مؤرخين په عام طور سره دوى ترك مغول ، يامنګوليان ليكي . مګر په دوى كې دياجوج او

ماجوج نوم يوازي دهغه وحشي غيرِ متمدن خونخوارو ظالمو خلقو دي كوم چي دتمدن څخه آشنانه سول . د دوي دبرادري مغول او ترك يا منگوليان كوم چي متمدن سول هغوي ددي نوم څخه خارج دي .
۲. دياجوح ماجوج شمير دټولي دنيا دانسانانو دشمير څخه ډير زيات ، كم ازكم ديو اولس په نسبت سره دي . (حديث ۲)
۳. دياجوج ماجوج كوم قومونه اوقبيلي چي دسد ذوالقرنين په ذريعه دي طرف ته دراتلوڅخه بندسوي دي دوي به قيامت ته بالكل ترنژدي پوري هم دغسي بندوي د دوي دراتلو مقدر وخت دمهدي ﷺ دظهور بيادراوتلو ددجال څخه وروسته به هغه وي كله چي حضرت عيسىٰ ﷺ نازل سي اودجال قتل كي (حديث ۱)
۴. دياجوج ماجوج دراوتلو په وخت كي به سد ذوالقرنين ونړيږي او دمځكي سره به برابر سي (قرآن) دغه وخت به دياجوج ماجوج بي پناه قومونه په يو وخت دغرونو دسرونو څخه راكښته كيدونكي دتيز رفتاري په سبب داسي معلوميږي چي گويا دوي ښوئيږي راځي او دابي شميره وحشي انسانان به په عامه انساني آبادي اوټوله مځكه راخواره سي او د دوي دقتل اولوټ مار مقابله به هيڅوك ونه كي . دالله ﷺ رسول حضرت عيسىٰ ﷺ به هم دخداي په حكم خپل ملگري مسلمانان دځان سره كي په كوه طوركي به پناه واخلي اودعامي دنياپه آباديو كي كوم ځاي چي څه قلعه گاني يامحفوظ مقامات دي دوي به ځانونه په هغه كي بندكي چي محفوظ سي دخوراك اوڅښاك دسامان ختميدوڅخه وروسته به دژوند ضرورتونه انتهايي گران سي پاته انساني آبادي به دا وحشي قومونه ختم كي او دريابونه به وڅښي . (حديث)
۵. دحضرت عيسىٰ ﷺ او د دوي دملگرو په دعاسره به دا دملخانو په شان بي شميره قومونه په يو وخت هلاك سي د دوي په لاشونو به ټوله مځكه ډكه سي او ددي دبدبويي په وجه به په مځكه اوسيدل گران سي . (حديث ۱)
۶. بيادحضرت عيسىٰ ﷺ او د دوي دملگرو په دعا سره به د دوي لاشونه په اوبو لاهو ياغائب كړل سي او دعالمگير باران په ذريعه به مځكه ومينځي اوپاكه صفابه سي . (حديث ۱)
۷. ددي څخه وروسته به تقريبًا څلويښت كاله دامن او امان دور دوره وي مځكه به خپل بركتونه را وباسي څوك مفلس او محتاج به پاته نه سي يو څوك به بل څوك نه آزاروي سكون اطمينان آرام او راحت به عام وي (حديث ۳)
۸. ددي امن او امان په زمانه كي به دبيت الله حج او عمره جاري وي (حديث ٤)
دحضرت عيسىٰ ﷺ وفات او په روضهٔ اقدس كي دفن كيدل دحديثوپه روايتونو سره ثابت دي . ددي به هم دا صورت وي چي دي به دحج ياعمري دپاره دحجاز سفر وكي (لكه چي روايت يي كړي دي مسلم دابي هريره ﷺ څخه التصريح بما تواتر في نزول المسيح للكشميري ددي څخه وروسته به په مدينه طيبه كي وفات سي او په روضهٔ اقدس كي به دفن سي .

۹. نبی کریم ﷺ ته په آخره زمانه کی په ذریعه دوحی په خوب کی وښوول سوه چی په سد ذوالقرنین کی
یو سوری سوي دی کومه چی دوی ﷺ دعربو دپاره دشر او فتنی نښانه وګرځوله . په دی دیوال کی سوری
کیدل ځینی محدثینو په خپل حقیقت باندی محمول کړي دی اوځینو ددی مطلب په طور داستعاری او
مجاز دا مقرر کړي دی چی اوس داسد ذوالقرنین کمزوری سوي دی دیاجوج اوماجوج دراوتلو وخت
نژدی سوی او ددی نښانی به دعرب قوم دتنزل او انحطاط په رنګ کی ظاهری سی . والله اعلم.
۱۰. دحضرت عیسیٰ ﷺ دنزول څخه وروسته به د دوی قیام په مځکه څلویښت کاله وی (حدیث ۳) د
دوی څخه مخکی دحضرت مهدی ﷺ زمانه به هم څلویښت کاله وی چی په دی کی به څه برخه ددواړو
شریکه وی . سید شریف بر زنجی په خپل کتاب (اشراط الساعة) ص ۱۴۵ کی لیکلی دی چی دحضرت
عیسیٰ ﷺ قیام به ددجال دقتل او امن او امان څخه وروسته څلویښت کاله وی او ټول قیام به یی پنځه
څلویښت کاله او په صفحه ۱۱۲ کی دی چی حضرت مهدی ﷺ به دحضرت عیسیٰ ﷺ څخه څه دپاسه
دیرش کاله مخکی ظاهرېږی او دده ټوله زمانه به څلویښت کاله وی . دغه دول پنځه یا اووه کاله به دواړو
حضرات یوځای وی او ددی دواړو زمانو به دا خصوصیت وی چی پر پوره مځکه به دعدل او انصاف
حکومت وی مځکه به خپل برکتونه او خزانی راوزیږوی څوك به فقیر او محتاج نه وی دخلقوپه مینځ کی
به بغض او دښمنی قطعًا پاته نه سی البته دحضرت مهدی ﷺ په آخری زمانه کی به ددجالِ اکبر عظیمه
فتنه ماسوا دمکی اومدینی او بیت المقدس اوکوه طور څخه پرنور ټول عالم خپره سی او دا فتنه به
ددنیا دټولو فتنو څخه ډیره عظیمه وی . ددجال قیام اوفساد به یوازی څلویښت ورځی وی مګرپه دی
څلویښتو ورځوکی به اوله ورځ دیوکال دوهمه دیوی میاشت او دریمه دیوی هفتی هومره وی . باقی
ورځی به دعامو ورځوپه شان وی چی صورت به یی دا وی چی په حقیقت کی به دغه ورځی دومره اوږدی
سی ځکه چی په آخره زمانه کی به تقریبًا ټول واقعات خرقِ عادات اومعجزی وی او داهم ممکنه ده چی
شپه او ورځ به دخپل معمول مطابق وی مګر ددجال لوی ساحروالی په حدیث سره ثابت دی ، کیدی سی
چی دده دسحرپه اثرسره دعام مخلوق په نظرونو کی ددی شپی ورځی تغیر او انقلاب ظاهرنه وی دوی
بی یوه ورځ وینی اوګنی . په حدیث کی چی په دی ورځ کی دعامو ورځومطابق په اندازه سره دلګولو
اولمونځ کولو حکم راغلی دی ددی څخه هم ددی خبری تائید کیږی چی دحقیقت په اعتبارسره خوبه شپه
ورځ بدلیږی مګر دخلقوپه احساس کی به دابدلیدل نه وی په دی وجه ددی یوکال په ورځ کی بی ددری
سوه شپیته ۳۶۰ ورځو لمونځونو ادا کولو حکم وکی کنه نوکه په حقیقت کی ورځ یوه وی نو دشرعی
قاعدوپه وجه سره په دی کی به یوازی دیوی ورځی پنځه لمونځونه فرض وای لنډه دا ده چی ددجال ټوله
زمانه دغه ډول څلویښت ورځی به وی .
ددی څخه وروسته به حضرت عیسیٰ ﷺ نازل سی دجال به قتل کی او دا فتنه به ختمه کی مګرپه دی

پسی متصل به یاجوج ماجوج راوزي چي په ټوله دنیاکی به فساد اوقتلونه اولوټ مار وکی مګر د دوی زمانه به هم یو څو ورځي وی بیابه دحضرت عیسیٰ ﷺ په دعاسره ټول په یو وخت هلاك سی مطلب دا چي دحضرت امام مهدی ﷺ دزمانی په آخرکی او دحضرت عیسیٰ ﷺ دزمانی په شروع کی به دوی فتنی ددجال او دیاجوج ماجوج وی چي دټولي مځکي خلق به لاندی باندی کی ددی څو ورځو څخه مځکي او وروسته به په ټوله دنیاکی دعدل اوانصاف او امن سکون برکتونو اومیوو دور دوره وی . دحضرت عیسیٰ ﷺ په زمانه کی به داسلام څخه ماسوا هیڅ کلمه او مذهب په مځکه پاته نه سی. مځکه به خپلی خزانی او دفینی راوغورځوی یو فقیر اومحتاج به پاته نه سی درندګان اوزهری حیوانان به هم چاته څه تکلیف نه رسوی.

دیاجوج ماجوج اوسد ذوالقرنین متعلق دا معلومات خو هغه دی کوم چي قرآن کریم او احادیثو دنبی کریم ﷺ امت ته ښوولی دی. په دی عقیده لرل ضروری دی او مخالفت یی ناجائزدی. باقی پاته سو ددی جغرافیایی بحث چي سد ذوالقرنین کوم ځای واقع دی او قوم دیاجوج ماجوج کوم یو دی او دا وخت کوم کوم ځای اوسیږی که څه هم پردی نه څه اسلامی عقیده موقوفه ده او نه دقرآن په څه آیت باندی پوهیدل پردی موقوف دی لیکن دمخالفینو دچتیاتو دجواب او دزیاتی پوهی دپاره دامت عالمانو پردی باندی بحث فرمایلی دی ددی څه برخه نقل کیږي.

قرطبی په خپل تفسیرکی په حواله دسدی نقل کړي دی چي دیاجوج ماجوج په دوو ویشتو قبیلوکی یو ویشت قبیلی سد ذوالقرنین بندکړل د دوی یوه قبیله دسد ذوالقرنین څخه دی طرف ته پاته سوي ده دغه ترک دی ددی څخه وروسته قرطبی فرمایی چي نبی کریم ﷺ دترکو متعلق چي کومی خبری فرمایلی دی هغه دیاجوج ماجوج سره سمون خوری او په آخره زمانه کی دمسلمانانو د دوی سره جنګ کیدل دصحیح مسلم په حدیث کی دی بیا فرمایی چي په دغه زمانه کی دترك قوم یو لوی تعداد دمسلمانانو دمقابلی دپاره را وتلی دی چي صحیح شمیر یی الله ﷻ ته معلوم دی هغه مسلمانان د دوی دشر څخه بچ کولی سی داسی معلومیږی چي دا یاجوج ماجوج دی یاکم ازکم د دوی مقدمه ده . (قرطبی ص ۵۸ ج ۱۱) دقرطبی زمانه شپږمه صدی هجری ده چي دتاتار فتنه په کښی ظاهره سوه او اسلامی خلافت یی تباه او برباد کی د دوی عظیمه فتنه په تاریخ اسلام کی مشهوره او دتاتاریانو دمغول ترك څخه کیدل معلوم دی) مګر قرطبی دا دیاجوج ماجوج مشابه او د دوی مقدمه مقرره کړي ده د دوی فتنه ده دیاجوج ماجوج خروج نه دی ښوولی کوم چي دقیامت دعلاماتو څخه دی ځکه چي دصحیح مسلم په ذکرسوی حدیث کی ددی توضیح دی چي دغه خروج به دحضرت عیسیٰ ﷺ دنزول څخه وروسته دده په زمانه کی وی.

په دی وجه علامه آلوسی رحمه الله په خپل تفسیر روح المعانی کی پرهغو خلقوسخت ردکړي دی کوموچي تاتاریان یاجوج ماجوج ګڼلی دی اوفرمایی چي داسی خیال کول ښکاره ګمراهی ده او دحدیث دنصوصو

څخه مخالفت دی البته دوی دا هم فرمایي چي بیشکه دا فتنه دیاجوج ماجوج دفتنی سره مشابه ضرور ده (روح ص ۴۴ ج ۱۶) ددی څخه ثابته سوه چي په دی زمانه کی چي کومو ځینو مؤرخینو موجوده روس یاچین یا دواړه یاجوج ګڼلی دی که ددی څخه د دوی مراد هغه وی کوم چي قرطبی اوآلوسی فرمایی چي د دوی فتنه دیاجوج ماجوج دفتنی سره مشابه ده نو دا ویل بڼه یی به یی څه غلط نه وی مګر دا دیاجوج ماجوج هغه خروج ګڼل دکوم خبرچي په قرآن کریم اوحدیث کی دقیامت دعلاماتوپه طور ورکړل سوی دی او وخت یی دحضرت عیسیٰ ؑ دنزول څخه وروسته ښوولی دی دا قطعًا غلط اوګمراهی او دحدیث دنصوصو څخه انکار دی.

مشهور مؤرخ ابن خلدون دخپل تاریخ په مقدمه کی داقلیم سادس (شپږم اقلیم) په بحث کی دیاجوج ماجوج اوسد ذوالقرنین او ددی دمحل اومقام متعلق جغرافیایی تحقیق داسی فرمایی.

د اووم اقلیم په نهمه برخه کی مغرب طرف ته دتُرکو هغه قبائل آباد دی کومو ته چي قنجاق اوچرکس وایی او مشرق طرف ته دیاجوج ماجوج آبادی دی او ددی دواړو په مینځ کی کوه قاف حد فاصل دی چي ذکریی په تیرو کرښوکی سوي دی چي دغه دبحرِ محیط څخه شروع کیږی کوم چي دڅلورم اقلیم په مشرق کی واقع دی او ددی سره شمال طرف ته داقلیم تر اخره پوری تللی دی او بیا دبحرِ محیط څخه جدا سوي دی او دشمال مغرب څخه تیریږی دپنځم اقلیم نهمی برخی ته داخلیږی ددی ځای څخه دغه بیاخپل اولنی طرف ته اوړی تر دی چي د اووم اقلیم نهمی برخی ته دا خلیږی او دلته چي ورسیږی دجنوب څخه شمال مغرب طرف ته ځی او ددی سلسلی دغرونو په مینځ کی سد سکندری واقع دی او د اووم اقلیم دنهمی برخی په مینځ کی دغه سد سکندری دی دکوم چي مونږ اوس ذکر کړي دی او دکوم اطلاع چي قرآن کریم هم ورکړي ده.

اوعبدالله بن خردازبه دخپل جغرافیی په کتاب کی دواثق بالله خلیفه عباسی هغه خوب نقل کړي دی په کوم کی چي ده دالیدلی وه چي سدخلاص سوي دی نودی په بیره راپورته سواودحال معلومولو دپاره یی سلام ترجمان روان کی دی بیرته راغی ددغه سد حالات اوصفتونه یی بیان کړل (مقدمه ابن خلدون ص ۷۹) دواثق بالله عباسی خلیفه دسد ذوالقرنین دتحقیق کولو دپاره دیو جماعت لیږل او د دوی تحقیق کول او راتلل ابن کثیر ؒ هم په (البدایه والنهایه) کی ذکر کړي دی او دا چي دا دیوال د اوسپنی دی په دی کی لوی لوی دروازی هم دی چي قلفان ورته پراته دی او دا په شمال مشرق کی واقع دی او تفسیرِ کبیر اوطبری ددی واقعی دلیکلو څخه وروسته دا هم لیکلی دی چي کوم سړی ددی دیوال معائنه وکی او واپس راتلل وغواړی نولار ښودونکی دی په داسی ډاګو خشکو میدانونو باندی را ولی کوم چي دسمرقند په خوا اوشا کی دی. (تفسیرِ کبیر ج ۵ ص ۵۱۳)

حضرت استاذ حجة الاسلام سیدی حضرت مولانا انور شاه کشمیری ؒ په خپل کتاب عقیدة الاسلام

في حياة عيسىٰ ﷺ كې دياجوج ماجوج اوسد ذوالقرنين حال كه څه هم په ضمني طور سره بيان كړې دی مګرڅه چې يې بيان كړې دې هغه دتحقيق او روايت په اعلى معيار باندې دې دوی فرمايي چې دفسادي او وحشي انسانانو دلوټ مار څخه دحفاظت دپاره پرمخكه پر ډيرو ځايونو باندې ديوالونه جوړ سوي دي كوم چې مختلفو بادشاهانو په مختلفو زمانوكې جوړ كړې دي په دوی كې دټولو څخه زيات لوی اومشهور ديوال دچين دی چې اوږدوالي يې ابوحيان اندلسي (دايران ددربارِ شاهي مؤرخ) دولس سوه ميله ښوولی دی او دا چې دده جوړونكي فغفور بادشاه دچين دی او دده دجوړيدو تاريخ دحضرت آدم ﷺ دراكښته كيدو څخه درې زره څلور سوه شپيته ۳۴۶۰ كاله وروسته ښيي او دا چې دی ديوال ته دچين مغل خلق اَتْكُرْوَهْ او دترك خلق بُوْرقُورقه وايي اوفرمايي چې دغه ډول نور هم ډير ديوالونه سدونه پرمختلفو ځايونو باندې ليدل كيږي.

زمونږ خواجه تاس مولانا حفظ الرحمان سهواري ﷺ په خپل كتاب قصص القرآن كې دحضرت شيخ ددې بيان تاريخي توضيح په ډير تفصيل اوتحقيق سره ليكلې دی خلاصه يې دا ده.

دياجوج ماجوج دلوټ مار اوشرفساد دائره دومره وسيع وه چې يو طرف ته دكاكيشا لاندې اوسيدونكي د دوی دظلم او زياتي ښبانه وه نو بل طرف ته دتبت اوچين اوسيدونكي هم هر وخت د دوی په زد كې وه. ددې ياجوج ماجوج دشر او فساد څخه دمحفوظ كيدو دپاره په مختلفو زمانوكې په مختلفو ځايونو كې ډير ديوالونه جوړسول په دې كې دټولو څخه لوی اومشهور ديوال دچين دی چې ذكريې لوړ راغلی دی.

دوهم سدّ (ديوال) په وسط ايشياكې دبخارا او ترمذ په خواكې واقع دی. او ددې محل وقوع نوم دربندی دی. د اسدّ دمشهور بادشاه مغل تيمورلنګ په زمانه كې موجود وو. او دروم دبادشاه خاص همنشين سيلابرجر جرمني هم ددې ذكر په خپل كتاب كې كړې دی او دأندلس دبادشاه كستيل قاصد كلافچو هم په خپله سفرنامه كې ددې ذكركړې دی په سنه ۱۴۰۳عيسوی كې دخپل باچاسفيرجوړسوكله چې دتيمور په خدمت كې حاضر سو نو ددې ځای څخه تير سوی دی. دې ليكي چې دباب الحديد سد دموصل په هغه لاره دی كومه چې دسمرقند او هندوستان په مينځ كې ده. (تفسير جواهر القرآن للطنطاوي ج۹ ص ۱۹۸)

دريم سد په روسي علاقه داغستان كې دی دا هم د دربند او دباب الابواب په نوم سره مشهور دی ياقوت حموی په معجم البلدان كې ادريسي په جغرافيه كې اوبستاني په دائرة المعارف كې ددې حالات ډيرپه تفصيل سره ليكلي دي چې خلاصه يې دا ده.

په داغستان كې دربند يو روسي ښار دی دا ښار دبحرِ خزر (كاسپين) په مغربي غاړه واقع دی ددې عرض البلد ۴۳.۳ شمالاً اوطول البلد ۴۸.۱۵ شرقًا دی او دې ته دربندانو شيروان هم وايي او دباب الابواب په نوم سره ډير مشهور دی.

ځلورم سد ددی باب الابواب ځخه مغرب طرف ته دکاکیشا په ډیرو لوړو حصوکی دی کوم ځای چی د
دوو غرونو په مینځ کی یوه دره د دره داریال په نوم سره مشهوره ده . دلته دا ځلورم سد کوم ته چی
دقفقاز یاجبل قوقا یادکوه قاف سد وایی بستانی ددی متعلق لیکلی دی .
او ددی (یعنی دسد باب الابواب) په خوا کی یو بل سد دی کوم چی مغربی طرف ته اوږدسوی تللی دی
غالبًا دا دفارس خلقو دشمالی بربرو ځخه دحفاظت په خاطر به جوړکړی وی ځکه چی ددی دجوړونکی
صحیح حال معلوم نه سو ځینو ددی نسبت سکندر ته کړي دی اوځینو کسریٰ نوشیروان ته اوياقوت
وایی چی دایی سرپ ویلی کړي دی او دهغه ځخه یی جوړ کړي دی (دائرة المعارف جلد ۷ ص ۶۵۱ معجم
البلدان ج ۸ ص ۹)
چونکه دا ټول دیوالونه شمال ته دی او تقریبًا دیو ضرورت دپاره جوړ سوي دی . په دی کی سد
ذوالقرنین کوم یو دی ددی په متعین کولوکی اشکالات پیښ سوي دی او ددی آخری دوو سدونو په
معامله کی لوی اختلاط پیښ سو ځکه چی د دواړو مقامونو نوم هم دربند دی او دواړه ځایه سدهم
موجود دی په دی ذکر سوو ځلورو سدونو کی دیوال دچین کوم چی دټولو ځخه لوی او دټولو ځخه زیات
پخوانی دی . ددی متعلق خو دسد ذوالقرنین کیدو هیڅوک قائل نه دی او دی پرځای دشمال په مشرق
اقصیٰ کی دی او دقرآن کریم د اشاری ځخه دده په شمال کی کیدل ظاهر دی .
اوس معامله دباقی دری دیوالونو پاته سوه کوم چی په شمال کی دی په دی کی په عام طور سره مؤرخین
مسعودی اصطخری حموی وغیره هغه دیوال ته سد ذوالقرنین وایی کوم چی په داغستان یاکاکیشا
علاقه باب الابواب دربند کی په بحرخزر باندی واقع دی . دبخارا اوترمذ دربند او ددی دیوال ته چی کوم
مؤرخین سدذوالقرنین وایی دغه غالبادلفظ د دربند داشتراك په وجه, دوی ته اختلاط راغلی دی اوس
تقریبًا ددی محلِ وقوع متعین سوچی دکاکیشا علاقه چی په داغستان کی ده ددی دربند په باب
الابواب کی یاددی ځخه هم لوړ دجبل قفقاز یاکوه قاف په بلندی باند دی او په دی دواړو ځایونو دسد
کیدل دمؤرخینو په نزد ثابت دی .
په دی دواړوکی حضرت استاذ مولانا سید محمد انور شاه په عقیدة الاسلام کی دکوه قاف قفقاز سد
لره ترجیح ورکړي ده.چی داسدّ د ذوالقرنین جوړ سوي دی . (عقیدة الاسلام ص ۲۹۷)

(سد ذوالقرنین تردی وخته پوری موجوددی اوتر قیامته پوری به وی اوکه مات سوي دی ؟)

نن صبادتاریخ اوجغرافیی ماهران دیورپ خلق په دی وخت کی په دی شمالی دیوالونوکی دیوا
موجودوالی هم نه منی اونه دا منی چی اوس هم دیاجوج ماجوج لاره بنده ده . پردی بنا ځینو مسلمانانو
مؤرخینو هم دا ویل او لیکل شروع کړي دی چی یاجوج ماجوج دکومو را وتل چی په قرآن کریم اوحدیث
کی ذکر دی هغه سوي دی . ځینو په شپږمه صدی هجری کی دطوفان په شان راپورته سوی قوم تاتار

ددې مصداق ګڼلې دی . ځينو په دې زمانه کې په دنيا غالبو راتلونکو قومونو روس چين او يورپ والاوو ته ياجوج ماجوج ويلي دي او دا معامله يې ختمه کړې ده . مګرلکه څنګه چې لوړ په حواله دروح المعاني نقل سوي دي چې دا سراسر غلطه ده . دصحيح احاديثو دانکار څخه بغير څوك دا نه سي ويلی لکه څنګه چې خروج دياجوج ماجوج قرآن کريم په طور دعلامت دقيامت بيان کړي دي او دکومومتعلق چې په صحيح مسلم کې په حديث دنواس بن سمعان ﷺ وغيره کې ددې وضاحت دی چې دا واقعه به ددجال دراوتلو او دنزول دحضرت عيسیٰ ﷺ او دقتل ددجال څخه وروسته پيښيږی دغه واقعه سوي ده څکه چې لا تر اوسه پوری ددجال دراوتلو او دحضرت عيسیٰ ﷺ دنزول واقعه نه ده پيښه سوې .
البته دا خبره هم دقرآن او سنت دڅه صريح نص څخه خلاف نه ده چې سد د ذوالقرنين دا وخت مات سوی وی او دياجوج ماجوج ځينې قومونه دې طرف ته راغلي وی . په دې شرط چې دا خبره ومنل سي چې د دوی آخري اولويه حمله چې دپوره انساني آبادی دپاره به تباه کوونکې ثابته سي هغه لا تراوسه نه ده سوې بلکې دقيامت ددغو لويو نښانو څخه وروسته به وی دکومو ذکرچې لوړ راغلی دی يعنی دجال را وتل او دحضرت عيسیٰ ﷺ نازليدل وغيره.
دحضرت استاذ حجة الاسلام علامه کشميری ﷫ تحقيق په دې باره کې دا دی ، چې ديورپ دخلقو دا وينا خو هيڅ وزن نه لري چې مونږ ټوله دنيا چاڼره کړه اومونږ ته ددې ديوال پته ونه لګيده څکه چې اول خو ددې خلقو دا وضاحتونه موجوددی چې دسياحت او تحقيق انتهايي معراج ته درسيدو باوجود نن هم ډير ځنګلونه او دريابونه اوجزيرې داسې باقي پاته دي کومو ته چې لا زمونږ علم نه دی رسيدلی دوهم دا هم څه بعيد احتمال نه دی چې اوس دغه ديوال دموجودوالي باوجود دغرونو درانړيدو او ديو بل سره ديوځای کيدو په سبب ديوغره صورت اختيار کړی وی . ليکن هيڅ قطعي نص هم ددې منافي نسته چې دقيامت څخه مخکې داسدمات سي يادېو دروازې پراوړده لاره باندی دياجوج ماجوج څه قومونه دې طرف ته راسي .
په دې سد د ذوالقرنين ترقيامته پورې برباقي پاته کيدو لوی دليل خو دقرآن کريم دالفظ دی چې فَاِذَا جَآءَ وَعْدُ رَبِّیْ جَعَلَهٗ دَكَّآءَ يعني د ذوالقرنين دا قول چې کله زما درب وعده راسي (يعني دياجوج ماجوج دخروج وخت راسي) نوالله ﷻ به دا داوسپنې ديوال ټوټه ټوټه کې او دمځکې سره به برابرسي په دې آيت کې د وَعْدُ رَبِّیْ مطلب دې حضراتو قيامت ګڼلی دی حال دا دی چې الفاظ دقرآن په دې باره کې قطعي نه دي . څکه چې د وَعْدُ رَبِّیْ واضح مطلب خو دا دی چې دياجوج ماجوج دلارې بندولوکوم انتظام چې ذوالقرنين کړي دی داڅه ضروری نه وو چې هميشه دې دغه ډول وی کله چې الله ﷻ وغواړي چې د دوی لاره خلاصه کړي نوداديوال به ونړيږي اوبه لويږي . ددې پاره ضروری نه ده چې دغه دې بالکل قيامت ته متصل وی چنانچه ټولو تفسيرليکونکو حضراتو دوَعْدُ رَبِّیْ په مطلب کې دواړه احتمالونه ذکر کړي دي

په تفسیر بحر محیط کی دی وَالْوَعْدُ يَحْتَمِلُ اَنْ يُرَادَ بِهٖ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ وَاَنْ يُرَادَ بِهٖ وَقْتُ خُرُوْجِ يَاجُوْجَ وَمَاجُوْجَ
ددی تحقیق دا هم کیدی سی چی دیوال نړیدلی وی اولاره اوس آزاده سوی وی او دیاجوج ماجوج دحملو
ابتداء سوی وی برابره خبره ده که ددی ابتداء دشپږمی صدی هجری څخه دتاتار په فتنه سره مقررسی یا
دیورپ روس اوچین په غلبی سره مګر داظاهره ده چی ددی متمدن قومونو خروج اوفساد کوم چی په
آئینی اوقانونی رنګ کی کیږی دافساد نه سی ګڼل کیدی دکوم پته چی قرآن کریم اوحدیث ورکوی چی
خالص دقتل اولوټ مار او داسی خونریزی سره به وی چی توله انسانی آبادی به تباه اوبربادکی بلکی
ددی مطلب به بیا دا وی چی ددغه مفسدو یاجوج ماجوج څه قومونه دی طرف ته راغلل اومتمدن جوړ
سول داسلامی ملکونو دپاره بی شکه دغه عظیم فساد اوعظیمه فتنه ثابته سوه . مګر لا تراوسه د دوی
هغه وحشی قومونه کوم چی دقتل اوخونریزی څخه ماسوا هیڅ نه پیژنی هغوی په تقدیری طورسره دی
طرف ته نه دی راغلی اولوی مشیر د دوی داسی دی چی د دوی خروج به قیامت ته بالکل نژدی وی .
دوهم استدلال دترمذی اومسند احمد په دی حدیث سره کول کیږی په کوم کی چی ذکردی چی یاجوج
ماجوج دغه دیوال روزانه کینی . مګر اول خودا حدیث ابن کثیر معلول مقرر کړي دی دوهم په دی کی هم
ددی څه توضیح نسته چی په کومه ورځ یاجوج ماجوج دانشاء الله ویلو په برکت سره پردی راپوری وزی
دغه به قیامت ته متصل وی او ددی هم په دی حدیث کی څه دلیل نسته چی تول یاجوج ماجوج ددی
دیوال شاته بند سوي دی که د دوی څه جماعتونه یاقومونه یوځای پریوه لیری لاره باندی راسی لکه چی
نن صبا دطاقتورو بحری جهازونو په ذریعه داسی کیدل څه لری خبره نه ده اوځینو مؤرخینو لیکلی هم
دی چی یاجوج ماجوج ته په اوږد دریابی سفر کولو سره دی طرف ته دراتلو لار پیدا سوي ده نوپه دی
حدیث سره ددی هم نفی نه کیږي .
لنډه دا چی په قرآن اوحدیث کی څه داسی واضح او قطعی دلیل نسته چی دهغه څخه دا ثابته سی چی
سد ذوالقرنین به ترقیامته پوری باقی وی یا د دوی ابتدائی او معمولی حملی دقیامت څخه مخکی دی
طرف ته پرانساناتو نسی کیدی البته هغه انتهایی خوفناکه او تباه کوونکی حمله کومه چی به پوره
انسانی دنیا بربادہ کړی دهغی وخت به بالکل قیامت ته متصل وی چی ذکر یی بار بار راغلی دی لنډه دا
چی دقرآن او حدیث دنصوصو پربناء باندی نه دا قطعی فیصله کول کیږی چی سدّ دیاجوج او ماجوج
مات سوی دی اولار آزاده سوي ده او نه داسی ویل کیږی چی دقرآن اوحدیث پربناء باندی تر قیامته
پوری ددی قائم پاته کیدل ضروری دی احتمال د دواړو سته . والله تعالی اعلم بتحقیقة الحال

وَتَرَكْنَا بَعْضَهُمْ يَوْمَئِذٍ يَّمُوْجُ فِيْ بَعْضٍ وَّنُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَجَمَعْنٰهُمْ

اوپاته به کړو مونږ خلق په دغه ورځ ورننوتونکی ځینی دځینو په مابین کی اوپو کی به اوسی په شپیلی کی بیا

جَمۡعًا ﴿٩٩﴾ وَّعَرَضۡنَا جَهَنَّمَ يَوۡمَئِذٍ لِّلۡكٰفِرِيۡنَ عَرۡضَا ﴿١٠٠﴾ الَّذِيۡنَ

به جمع کړو مونږ دی ټوله ، او وبه ښیو مونږ دوږخ په دغه ورځ کافرانو ته مخامخ ، دکومو چی

كَانَتۡ اَعۡيُنُهُمۡ فِىۡ غِطَآءٍ عَنۡ ذِكۡرِىۡ وَكَانُوۡا لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ سَمۡعًا ﴿١٠١﴾

په سترګو باندی پردی وی دیا دو زماڅخه او نه یی اوریدل.

تفسير: اومونږبه په دغه ورځ (یعنی کله چی ددی دیوال دنړیدو وعده سوی ورځ راسی اویاجوج ماجوج راووزی نوپه دغه ورځ به مونږ د دوی داحالت کړو چی په یوبل کی به ګډوډ سی (څکه چی دوی به ډیرزیات وی او په یو وخت به راووزی او دیو بل څخه به دمخکی کیدو فکر کوی) او (دا به قیامت ته په نژدی زمانه کی وی بیابه څه موده وروسته دقیامت اسباب شروع سی یو وار به اولنی شپیلی ووهل سی چی په هغه به ټول عالم فناسی بیابه) شپیلی (دوباره) پوکول سی (چی ټول به په ژوندی سی) بیابه مونږ ټوله یو یو (په میدان دحشرکی) جمع کو او دوږخ به پردغه ورځ کافرانوته مخامخ پیش کړو دکومو پرسترګو چی (په دنیاکی) دیادو څخه (یعنی دحق دین لیدلو څخه) پردی پرتی وی او (لکه څنګه چی دوی حق نه لیدی دغه ډول دا) دوی اوریدی هم نه (یعنی دحق معلومولو ذریعی دلیدو او اوریدو ټولی لاری یی بندی کړی وی.

معلومات اومسئلي: بعضهم یومئذ یَمُوجُ فِی بَعۡضٍ دبَعۡضَهُمۡ په ضمیرکی ظاهره دا ده چی دیاجوج ماجوج طرف ته راجع دی او د دوی چی کوم حال په دی کی بیان سوی دی چی په یوبل به ورخیژی ظاهره دا ده چی دا دهغه وخت حال دی کله چی د دوی لاره آزاده سی او دوی مخکی ته دغرونو دسرونو څخه په تلواری سره راکښته کیږی مفسرینو په کښی نور احتمالات هم لیکلی دی.

وَجَمَعۡنٰهُمۡ ضمیریی دعام مخلوق پیریانو انسانانو طرف ته راجع دی مراد دا دی چی په میدان دحشرکی به ټول مکلف مخلوق پیریان اوانسانان جمعه کړل سی.

اَفَحَسِبَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اَنۡ يَّتَّخِذُوۡا عِبَادِىۡ مِنۡ

ایا اوس ګنی کافران خلق چی نیسی زما بندګان

دُوۡنِىۡۤ اَوۡلِيَآءَ ؕ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا جَهَنَّمَ لِلۡكٰفِرِيۡنَ نُزُلًا ﴿١٠٢﴾ قُلۡ هَلۡ

ماسوا زما څخه مددګاران مونږ تیار کړی دی دوږخ دپاره دکافرانو میلمستیا . ته ووایه چی

نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ﴿١٠٣﴾ الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي

آیا وښیم تاسی ته چی کوم خلق دعملونو په اعتبار سره په تاوان کی دی ، هغه خلق چی ضائع سو کوشش

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ﴿١٠٤﴾ أُولٰٓئِكَ

د دوی په ژوند ددنیا کی او دوی ګڼی چی دوی ښه عمل کوی ، دغه دی

الَّذِينَ كَفَرُوا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ

کوم چی منکر سول دنښانو درب خپل څخه او د هغه دلیدلو څخه وروسته برباد سول د دوی عملوڅخه وروسته

لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ﴿١٠٥﴾ ذٰلِكَ جَزَآؤُهُمْ جَهَنَّمُ بِمَا كَفَرُوا

وبه نه دروو مونږ د دوی دپاره په ورځ دقیامت تول ، دا بدله ده د دوی دوږخ په سبب ددې چی منکر سول

وَاتَّخَذُوٓا اٰيٰتِي وَرُسُلِي هُزُوًا ﴿١٠٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او وې نیوی زما خبری او زما رسولان په مسخرو سره ، کوم خلق چی ایمان راوړی او نیک کارونه یی وکړل

كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿١٠٧﴾ خٰلِدِينَ فِيهَا لَا يَبْغُونَ

د دوی دپاره دی دیخو سایو باغونه میلمستیا ، اوسیږي به په دغو کی چی نه به غواړي

عَنْهَا حِوَلًا ﴿١٠٨﴾

ددغو څخه ځای بدلول .

لنډتفسیر: ایا بیا هم کافران خیال کوی چی (ماپریږدی او) زمابندګانو (یعنی کوم چی زمامملوك او محکوم دی په اختیار یا اضطرار سره دوی) خپل کارساز (یعنی معبودان او حاجت روا) مقرر کوی (کوم چی ښکاره شرك اوکفردی) مونږ دکافرانو دمیلمستیادپاره دوږخ تیارکړي دی (میلمستیایی ورته په طور دسپکوالی اوحقارت وریله) اوکه چیری (دوی په خپلو هغو عملونو نازیږی کوم چی دوی نیك اوښه ګڼی او دهغوی په سبب سره دوی خپل ځانونه دعذاب څخه آزاد اومحفوظ ګڼی) ته (دوی ته) ووایه چی آیا مونږ تاسی ته داسی خلك وښیو کوم چی دعملونوپه اعتبارسره بالکل په تاوان کی دی داهغه خلق دی دکومو چی په دنیاکی کړی محنت (کوم چی نیك کارونه یی کړی وه) ټول عبث سول او دغه (په وجه

دناپوهی) په دې خیال کې دي چې دوی ښه کارونه کړي دي (مخکې دذغو خلقو مصداق په داسې عنوان سره ښيي په کوم سره چې د دوی دمحنت ضائع کیدو وجه هم معلومیږی اوبیا ددی عملونو دحبطه کیدو توضیح هم په طور دتفریع فرمایي معنی) دا هغه خلک دي کوموچې دخپل رب دآیتونو او ده سره دیوځای کیدو څخه (یعنی دقیامت څخه) انکار کړي دي وروسته (په دې وجه) د دوی ټول (نیك) عملونه عبث سول نودقیامت په ورځ به مونږ د دوی (دنیکو عملونو) دپاره يوه ذره وزن هم قائم نه کړو (بلکه) د دوی سزابه هغه وی (کومه چې لوړه ذکرسوه) یعنی دوږخ ځکه چې دوی کفرکړی دی (مخکې د دوی په مقابله کې دمومنانو حال بیانوی چې) بیشکه کوم خلق چې ایمان راوړی اوهغوی نیك کار وکی د دوی دمیلمستیا دپاره به دفردوس (یعنی جنت) باغونه وی چې دوی به په کښې همیشه اوسیږی (نه به ورڅخه د دوی خوك ایستونکی وی) او نه به دوی ددغه ځای څخه یو بل ځای ته تلل وغواړی .

معلومات اومسئلې: اَفَحَسِبَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْآ اَنْ یَّتَّخِذُوْا عِبَادِیْ مِنْ دُوْنِیْٓ اَوْلِیَآءَ ۚ په تفسیر بحرِمحیط کې دي چې دلته په عبارت کې حذف دی یعنی فَیَجِدُیْهُمْ نَفْعًا وَیَنْتَفِعُوْنَ بِذٰلِكَ الْاِتِّخَاذِ اومطلب دا دی چې آیا دا کفر کوونکی کومو چې زما پرځای زما بندګان خپل معبودان اوکار سازان جوړ کړي دی دوی داسې ګڼی چې د دوی معبودان اوکار سازان جوړول به دوی ته څه نفع ورکی او دوی به ورڅخه څه فائده واخلی او دا استفهام انکاری دی . مطلب یې دا دی چې داسې ګڼل غلط اوجهالت دی .

د. عِبَادِیْ ۚ څخه مراد دلته ملائکې اوهغه انبیاء دي دکوموچې په دنیاکې خلقوپرستش کړي دی او دالله ﷻ سره یې شریك مقرر کړي دی لکه حضرت عزیر ؑ اوحضرت مسیح ؑ دملائکو عبادت کوونکی ځینی عرب وه اوحضرت عزیر ؑ یهودیانو اوحضرت مسیح ؑ نصاراؤ دخدای سره شریك جوړ کړي دی په دی وجه د اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا څخه په دی آیت کې دکفارو دا فرقې مراد دی اوکومو ځینو تفسیر لیکونکو چې د: عِبَادِیْ څخه مراد شیطانان اخستی دی نو د. اَلَّذِیْنَ كَفَرُوْا څخه به هغه کفار مراد وی کوم چې دپیریانو او شیطانانو پرستش کوی ځینو دلته لفظ د عِبَادِیْ دمخلوق اومملوك په معنٰی کی اخستی دی اوعام یې مقرر کړي دی چې په دی کی ټول باطل معبودان بت اور اوستوری هم دا خل سول په لنډ تفسیرکی دمحکوم اومملوك دالفاظو څخه دی طرف ته اشاره ده په بحرِ محیط وغیره کی یې اولنی تفسیر راجح مقرر کړي دی والله تعالی اعلم

اَوْلِیَآءَ ۚ دولی جمع ده دالفظ په عربی ژبه کی په ډیرو معانیو سره استعمالیږی دلته ددی څخه مرادکار سازه حاجت روا دی کوم چې دمعبود برحق خاص صفت دی . مقصود ددی څخه دوی معبود مقررول دی .

اَلْاَخْسَرِیْنَ اَعْمَالًا ۚ دلته اولنی دوه آیتونه دخپل عام مفهوم په اعتبار سره هرهغه فرد یا جماعت لره شامل دی کوم چې څه عملونه نیك ګڼی او په دی کی جد وجهد اومحنت کوی مګر د الله ﷻ په نزد د دوی محنت برباد اوعمل ضائع وی قرطبی فرمایی چې داصورت حال په دوو شیانو سره پیدا کیږی یو په فساد

دعقیدی اوبل په ریاکاری سره . یعنی دکوم سړی عقیده اوایمان چې صحیح نه وی که دی هرڅومره ښه عمل وکی اوهرڅومره محنت چې وکی دغه په آخرت کې بې کاره اوضائع دی .
دغه شان کوم عمل چې مخلوق دخان ښوولو دپاره په ریاکاری سره کوی دغه هم دعمل دثواب څخه محرومه وی ددی عام مفهوم په اعتبار سره ځینو اصحابو ﷺ ددی مصداق خوارج ځینو مفسرینو معتزله اوروافض وغیره ګمراه فرقی مقرری کړي دی . مګر په راتلونکی آیت کې دامتعین سوي ده چې دلته مراد هغه کفار دی کوم چې د الله ﷻ دآیتونو او دقیامت اوآخرت څخه منکر دی .
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَآئِهٖ ' په دی وجه قرطبی ابوحیان مظهری وغیره ترجیح دی ته ورکړي ده چې اصل مراد دلته هغه کفاردی کوم چې دالله ﷻ قیامت اوحساب کتاب څخه منکروی . مګر صورتاً هغه خلګ هم ددی عام مفهوم څخه بې تعقله کیدی نه سی دکومو عملونه چې د دوی فاسدو عقیدو برباد کړی وی او د دوی محنت عبث سوی وی . دځینو صحابه کرامو ﷺ حضرت علی‌ؓ اوحضرت سعد‌ؓ څخه چې کوم داسی اقوال نقل دی دهغوی هم دا مطلب دی . (قرطبی)
فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا ' یعنی د دوی عملونه کوم چې په ظاهره لوی په نظرسره راځی مګرپه تله د حساب کې به ددوی هیڅ وزن نه وی ځکه چې دغه عملونه دکفراوشرك په وجه سره بې کاره اوبې وزنه به وی په صحیح بخاری اومسلم کې په روایت دابوهریره‌ؓ نقل دی چې نبی کریم ﷺ فرمایی چې دقیامت په ورځ ، یوغټ کټ اوچاغ سړی راسی کوم چې به د الله ﷻ په نزد دیوی غوماشی دوزر برابرهم وزندار نه وی اوبیا فرمایی چې که تاسی ددی تصدیق کول غواړی نو دقرآن دا آیت ووایاست: فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ الخ
اوحضرت ابوسعید خدری ؓ فرمایی چې (دقیامت په ورځ به) داسی داسی عملونه راوړل سی چې دجوثی (جسم اوبدن) په اعتبار سره به دتهامه دغرونو برابر وی . مګر په میزان دعدل کې به ددغو هیڅ وزن نه وی . (قرطبی)
جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ دفردوس معنٰی شنه باغونه دی په دی کی اختلاف دی چې دا عربی لفظ دی اوکه عجمی کومو خلقوچې ورته عجمی ویلی دی په دوی کی هم بیا (فارسی دي که رومی دی که سریانی) مختلف قولونه دی .
دصحیح بخاری اومسلم په حدیث کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې کله تاسی دالله ﷻ څخه جنت غواړی نوجنت الفردوس غواړی ځکه چې دغه دجنت دټولو څخه اعلی اوافضله درجه ده . تردی لوړ عرش رحمن دی او ددی څخه دجنت ټول نهرونه راوزی . قرطبی
لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا: مقصد داښوول دی چې دجنت دامقام د دوی دپاره لا زوال دائمی نعمت دی ځکه چې حق ﷻ داحکم جاری فرمایلی دی چې کوم سړی جنت ته داخل سی دی به دهغه څخه هیڅکله ونه ایستل سی مګردلته یوه خطره دچاچې په زړه کی داتیریدی سوه چې دانسان فطری عادت دا دی چې پریوځای

پاته کیدو سره ستړی کیږی ددغه ځای څخه نورو ځایونوته دتلویی خواهش کیږی نوکه دجنت څخه دباندی دتلو اجازت ونه سی نودا خوبه قید وی ددی خواب یی په دی آیت کی ورکی چی جنت پرنورو ځایونو باندی قیاس کول جهالت دی کوم سړی چی جنت ته ولاړی بیاچی ده څه په دنیاکی لیدلی دی اواستعمال کړي دی دجنت دنعمتونو او دلکشو فضاګانو په مخکی به ورته هغه ټول شیان لغوه معلوم سی او ددی ځای څخه به یی هیڅکله هم دوتلو خیال په زړه کی رانه سی .

قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّىْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ

ته ووایه که دریاب ساهی (رنګ) سی دپاره دلیکلو دکلمو زما درب بیشکه دریاب به

قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّىْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ قُلْ اِنَّمَآ اَنَا

خلاص سی مخکې دپوره کیدو دکلمو درب زما څخه که څه هم بل هم راوړو مونږ دغه شان دده مدد ته ، ته

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَىَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ

ووایه زه هم یوسړی یم لکه ستاسی حکم کیږي ماته چی معبود ستاسی معبود یو دی ، نو بیا چی دچا امید وی

رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖٓ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾

دلیدلو درب خپل سره نو کوی دې څه کار نیك اوشریك دی نه جوړ وی دخپل رب په عبادت کی هیڅوك

لنډتفسیر: ته خلقوته ووایه چی که زمادرب دخبرو (یعنی هغه کلمی اوعبارتونه کوم چی دالله ﷻ په صفتونو اوکمالونو دلالت کوی او په دی سره دالله ﷻ دکمالونو اوصفتونو څوك بیانول غواړی نو دداسی کلمو) دلیکلو دپاره (د) سمندر (اوبه) سیاهی (رنګ) سی (اوپه دی سره لیکل شروع کی) نو زما درب دخبرو ختمیدو څخه مخکی به سمندر ختم سی (او ټولی خبری به ونه لیکل سی) که څه هم ددی سمندر په شان یو بل سمندر (ددی) دمدد دپاره مونږ راولو (نوبیابه هم دغه خبری ختمی نه سی او دوهم سمندربه هم ختم سی معلومه سوه چی دالله ﷻ کلمی غیرِمتناهی دی دده څخه ماسوا چی کوم شیان کافرانو دالله ﷻ شریك منلی دی په دغو کی یو هم داسی نسته ، په دی وجه خدای اورب والی دده دذات سره مخصوص دی په دی وجه دی خلقوته) ته (دا هم) ووایه چی زه خوستاسی ټولو په شان بشر یم (نه دخدایی دعویدار یم نه دملائکه والی البته) ماته (دالله ﷻ دطرف څخه) وحی راځی (او) ستاسی معبود برحق یو معبود دی نوکوم سړی چی دخپل رب سره دیوځای کیدو آرزو لری (اودهغه محبوب جوړیدل غواړی) نو (مادی رسول ومنی زما دشریعت موافق) نیك کار دی کوی او دخپل رب په عبادت کی دی

څوك نه شریکوی .

معلومات اومسئلي: دسورت کهف په آخری آیت کی دوَلَایُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا : دشان نزول چی کوم روایتونه
په حدیثو کی ذکر دی دهغه څخه معلومیږی چی په دی کی دشرك څخه مراد شرك خفی یعنی ریاء ده
امام حاکم په مستدرك کی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ څخه روایت نقل کړي دی او دی ته یی صحیح
په شرط دشیخینو فرمایلی دی روایت دا دی چی په مسلمانانو کی یو سړی دالله ﷻ په لاره کی جهاد کوی
ددی سره دده داخواهش هم ووچی په خلقو کی دده بهادری اوغازیانه کار وپیژندلی سی دده په باره کی
داآیت نازل سو (ددی څخه معلومه سوه چی په جهاد کی په داسی نیت کولو سره دجهاد ثواب نه حاصلیږی
او ابن ابی حاتم اوابن ابی الدنیا په کتاب الاخلاص کی دطاوس څخه نقل کړي دی چی یو سړی نبی کریم
ﷺ ته عرض وکی چی زه کله دیونیك کار دپاره یادعبادت دپاره ودریږم اوزما مقصد په دی سره دالله ﷻ
رضاوی مگر ددی سره په زړه کی دا خواهش هم راځی چی خلق زماعمل ووینی دوی ﷺ چی دا واوریدل
نو خاموش سو تردی چی دا ذکرسوی آیت نازل سو .

اوابونعیم اوتاریخ دابن عساکرکی په روایت دابن عباس ﷺ لیکلی دی چی جندب بن زهیر ﷺ صحابی
چی به کله لمونځ کوی یا روژه نیوله یاصدقه ورکوله نوبیابه یی دی ته کتل چی خلق پردی عملونو باندی
دده تعریف او صفت کوی نوپه دی سره به دی خوشحالیدی او خپل عمل به یی نور زیاتوی پر دی باندی
دا آیت نازل سو .

ددی تولوروایتونو خلاصه داده چی په دی آیت کی چی دکوم شرك څخه منعه سوي ده هغه دریاکاری شرك
خفی دی اوداچی عمل که څه هم دالله ﷻ دپاره وی مگرددی سره څه نفسانی غرض شهرت اومرتبه پیدا
کول هم شامل وی نو داهم یو قسم شرك خفی دی کوم چی دانسان عمل ضائع بلکه ضرر رسونکی جوړوی
مگرځینی صحیح احادیث په ظاهره ددی څخه خلاف معلومیږي ، مثلاً ترمذی دحضرت ابوهریره ﷺ
څخه روایت کړي دی چی دوی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی چی ځینی وخت زه په خپل کورکی دننه پرخپل
جای نماز باندی په لمانځه کی مشغول یم ناڅاپه یو سړی راسی نوماته دابنه معلومه سی چی ده زه په دی
حال کی ولیدم (نوآیا دابه ریاکاری وی) نبی کریم ﷺ وفرمایل ابوهریره ﷺ خدای دی پرتا رحمت وکی
تاته دا وخت دوه اجره درکول کیږی یو دپټ عمل چی تا دمخکی څخه شروع کړی وو دوهم دښکاره عمل
کوم چی ددی سړی تر راتلو وروسته وسو . (دا ریاء نه ده)

اوپه صحیح مسلم کی دحضرت ابوذر غفاری ﷺ څخه روایت دی چی دنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وسوه
چی دداسی سړی په باره کی وفرمایئ چی څوك نیك عمل کوی بیایی خلق واوری اومدح اوتعریف یی
کوی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل تِلۡكَ عَاجِلُ بُشۡرَى الۡمُؤۡمِنِ یعنی دا خو دمومن دپاره نقده خوشخبری ده (چی
دده عمل دالله ﷻ په نزد قبول سو هغه دخپلو بندگانو په ژبو سره دده تعریف وکی)

په تفسیرِ مظهری کی په دی دواړه قسمه روایتونو کی چی په ظاهره اختلاف راځی نو ددی تطبیق داسی فرمایی چی اولنی روایتونه دکوموپه باره کی چی آیت نازل سوي دی . په دی صورت کی دی کله چی انسان په خپل عمل دالله ﷻ درضاکولوسره دمخلوق رضاحاصلول یادخپل شهرت اومرتبی نیت هم شریک کی تردی چی دخلقو په تعریف کولو خپل دغه عمل نور هم زیات کی دا بیشکه ریاء او شرك خفی دی .
او وروسته روایتونه دمسلم او ترمذی ددی صورت سره متعلق دی کله چی ده عمل خالص دالله ﷻ دپاره کړی وی په خلقوکی ددی دشهرت یادده دمدح اوصفت طرف ته څه نظرنه وی . بیا الله ﷻ په خپل فضل سره دی مشهوره کی او دخلگو په ژبو دده تعریف جاری کی نو ددی درياء سره هیڅ تعلق نسته دا دمومن دپاره نغده خوشخبری (دعمل دقبلیدو) وه .

(درياء كاري بدی نیتجي اوپر دی دحدیث دعذاب سختي وعدی)

حضرت محمود بن لبید ؓ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی زه ستاسی په باره کی چی پرکوم شی دتولو څخه زیات بیریږم هغه شركِ اصغر دی اصحابو ؓ عرض وکی یارسول الله ﷺ ! شرك اصغر څه شی دی ؟ دوی ﷺ وفرمایل چی ریاء . (رواه احمد فی مسنده)
او بیهقی په شعب الایمان کی دا حدیث نقل کړي دی او دا زیاتوب یی هم نقل کړي دی چی دقیامت په ورځ کله الله ﷻ بندگانو ته دعملونو جزا ورکوی نو ریاکارو خلقو ته به وفرمایی چی تاسی دخپل عمل دجزا اخستو دپاره په هغو خلقو پسی ولاړسی کومو ته چی دښوولو دپاره تاسی دا عمل کړی وو بیا وگوری چی دهغوی سره ستاسی دپاره څه جزا سته او که نه .
او دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ فرمایی زه دشریکانو دشرك کولو څخه غنی اولوړ یم کوم سړی چی یونیك عمل کوی بیاپه دی کی زماسره بل څوك شریکوی نو زه دده دغه ټول عمل دده دغه شریك ته پاته کوم او په یو روایت کی دی چی زه ددغه عمل څخه بری یم دغه خالص دهغه سړی دپاره پاته کوم کوم چی یی په کښی زماسره شریك کړی وو . (رواه مسلم)
او دحضرت عبدالله ابن عمر ؓ څخه روایت دی چی ده دنبی کریم ﷺ څخه واوریدل چی کوم سړی خپل نیك عمل په خلقو کی دشهرت دپاره کوی نو الله ﷻ هم دده سره داسی معامله کوی چی په خلقو کی دی سپك او ذلیل سی . (رواه احمد والبیهقی فی شعب الایمان ازمظهری)
په تفسیرِ قرطبی کی دی چی دحضرت حسن بصری رحمه الله څخه د اخلاص او ریاء په باره کی سوال وسو نو دوی وفرمایل چی داخلاص تقاضا دا ده چی ستاسی خپل نیك عملونه پټ پاته کیدل خوښ وی او دبدو عملونو پټ پاته کیدل موخوښ نه وی بیاکه الله ﷻ ستاسی عملونه پر خلگو باندی ظاهر کړی نو تاسی دا ووایاست چی یاالله ! داټول ستا فضل او احسان دی زما دعملِ اوکوشش اثرنه دی اوحکیم ترمذی دصدیق اکبر ؓ څخه روایت کړي دی چی نبی کریم ﷺ یو وار دشرك ذکر وفرمایی چی: هُوَ فِيكُم

أَخْفٰى مِنْ دَبِيْبِ النَّمْلِ : يعنې شرك په تاسې كې په داسې پټ انداز كې راځي لكه دميږي رفتار چې آواز په كې نه وي اوفرمايي چې زه تاسې ته يو داسې كار ښيم چې كله تاسې هغه كار وكړئ نو دشرك اكبر اوشرك اصغر (يعنې رياء) نه تولو څخه به محفوظ سئ تاسې درې واره روزانه دا دعاكوئ .

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ وَاَنَا اَعْلَمُ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا اَعْلَمُ .

(دسورة كهف ځيني فضيلتونه اوخواص)

دحضرت ابو درداء ﷺ څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې كوم سړى دسورة كهف اولنې لس آيتونه يادكړل ، دى به ددجال دفتنې څخه محفوظ وي . (رواه احمد وابوداود والنسائی)

او امام احمد اومسلم اونسايي دحضرت ابودرداء ﷺ په دې روايت كې دا الفاظ نقل كړي دي چې كوم سړى دسورة كهف آخرې لس آيتونه يادكړي وي هغه به ددجال دفتنې څخه محفوظ وي .

او دحضرت انس ﷺ څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې كوم سړى دسورة كهف اولنې اوآخرې آيتونه ووايل نودده دپاره به يونور سي دده دقدمونو څخه ترسره پورې اوچاچې داسورة ټول ووايه دده دپاره به دمځكې څخه ترآسمانه پورې نور وي . (اخرجه ابن السنی واحمد فی مسنده)

او دحضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دى چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي كوم سړي چې دجمعې په ورځ ټول سورة كهف ووايي نو د دوهمې جمعې پورې به دده دپاره نور سي ، (رواه الحاكم وصححه والبيهقی فی الدعوات) (مظهری)

او حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ ته يوه سړي ووېل چې زه په زړه كې اراده كوم چې دشپې په آخركې بيدارسم اولمونځ وكړم مګر خوب راباندې غالب سي . دوى ورته وفرمايل چې كله ته دبيده كيدو دپاره بسترې ته وخيژې نو دسورة كهف آخرې آيتونه د قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا څخه ترآخرسورة پورې ووايې نو څه وخت چې دبيداريدو نيت وكړې نو الله ﷻ به تا هغه وخت رابيداره كې . (رواه الثعلبی)

او په مسند دارمي كې دي چې زربن حبيش ﷺ حضرت عبده ته ووېل چې كوم سړى دسورة كهف دا آخرې آيتونه ووايي اوبيده سي نو څه وخت چې دبيداريدو نيت وكړي هغه وخت به بيدارسي عبده وايي چې مونږ دير واره ددې تجربه وكړه بالكل هم دغسې وسوه .

يو مهم نصيحت : ابن عربي رحمه الله فرمايي چې زمونږ شيخ طوطوشي رحمه الله به فرمايل چې ستاسې دعزيز عمر وختونه دې دخپلو خلګوسره په مقابلو او د دوستانو سره په ناسته ولاړه كې تير نه سي وګورئ الله ﷻ خپل بيان په دې آيت ختم فرمايلي دى فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا يعنې كوم سړى چې دخپل رب سره ديوځاى كيدو آرزو لري . ده ته په كار دي چې نيك عمل كوي او دالله ﷻ سره په عبادت كې څوك برخه لرونكې نه جوړوي . (قرطبی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ ، نن په تاريخ داتمې دذيقعدې سنه ۱۳۹۰ ھ په ورځ دزيارت (پنج

شنبې) په وخت دضحٰی (څاښت) دسورة کهف دا تفسير مکمل سو او دالله ﷻ فضل او انعام دی چی دا وخت دقرآن کريم دمخکنی نيمايی څخه زيات پوره سو او دعمر شپږ او يايم ۷۲ کال روان دی او دطبعی کمزوری سره د دوه کالو څخه مختلفو مرضونو هم راګير کړي دی او دفکرونو ډيروالی هم غير معمولی دی څه عجيبه نه ده چی الله ﷻ په خپل فضل سره دباقی قرآن کريم هم تکميل وکی . وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ.

سورة کهف ختم سو

﴿ سورة مريم ﴾

سُوْرَةُ مَرْيَمَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ ثَمَانٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

سورة مريم په مکه کی نازل سو او په دې کی اته نوی (۹۸) اتونه دی او شپږ رکوع ګانی (۶)

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی اندازی مهربانه نهايت رحم والا دی .

كٓهٰيٰعٓصٓ ۝١ ذِكْرُ رَحْمَتِ رَبِّكَ عَبْدَهٗ زَكَرِيَّا ۝٢ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗ

دا ذکر دی ستا درب درحمت په خپل بنده زکريا باندی کله چی اواز وکی ده خپل رب ته

نِدَآءً خَفِيًّا ۝٣ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ

کرار اواز ، ده ووېل ای زما ربه ! سست سول زما هډوکی او شعله سو زما سر

شَيْبًا وَّلَمْ اَكُنْۢ بِدُعَآئِكَ رَبِّ شَقِيًّا ۝٤ وَاِنِّيْ خِفْتُ الْمَوَالِيَ

د زړوالی څخه او ستا څخه په سوال کولو ای زما ربه ! چيری نه يم محروم سوی ، او زه بيريږم دعزيزولی څخه

مِنْ وَّرَآءِيْ وَكَانَتِ امْرَاَتِيْ عَاقِرًا فَهَبْ لِيْ مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۝٥

دخپل ځان څخه وروسته او ښځه زما شنډه ده نو را کړی ته ما ته دخپل طرف څخه کارجوړونکی

يَّرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ اٰلِ يَعْقُوْبَ ۖ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا ۝٦ يٰزَكَرِيَّآ

کوم چی زما په ځای کښينی او ديعقوب د اولاد ، او وکړه ده لره ای زما ربه ! زړه پوری ، ای زکريا

اِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلٰمِ ِۨاسْمُهٗ يَحْيٰى ۙ لَمْ نَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ قَبْلُ سَمِيًّا ۝٧

مونږ تا ته خو شخبری درکوو ديو هلک ، چی نوم يی دی يحيیٰ نه دی کړی مونږ مخکې په دی نوم باندی هيڅوک

قَالَ رَبِّ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ وَكَانَتِ امْرَأَتِي عَاقِرًا وَقَدْ بَلَغْتُ

وې ویل ای ربه ! د کومه به سی ما ته هلك او زما ښځه شنډه ده او زه داسې بوډا سوی

مِنَ الْكِبَرِ عِتِيًّا ۝٨ قَالَ كَذَٰلِكَ قَالَ رَبُّكَ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَقَدْ

یم چې انتها ته رسیدلی یم ، وې ویل هم دغسې به وي ، فرمایي ستا رب چې دا ما ته آسانه ده او تا لره

خَلَقْتُكَ مِن قَبْلُ وَلَمْ تَكُ شَيْئًا ۝٩ قَالَ رَبِّ اجْعَل لِّي آيَةً

پیدا کړی ما مخکې او نه وې ته هیڅ شی ، وې ویل ای ربه مقرر کړه ما لره څه نښانه

قَالَ آيَتُكَ أَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلَاثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ۝١٠ فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِ

وې ویل ستا نښانه دا ده چې خبرې به و نه کړې د خلقو سره درې ورځې حال دا دی چې روغ به یې پس راووتی

مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَىٰ إِلَيْهِمْ أَن سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا ۝١١ يَا يَحْيَىٰ

خپلو خلقو ته د حجرې څخه نو په اشاره یې وویل دوی ته چې تسبیح وایاست سهار او ماښام ، ای یحییٰ

خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ وَآتَيْنَاهُ الْحُكْمَ صَبِيًّا ۝١٢ وَحَنَانًا مِّن لَّدُنَّا

واخله کتاب په زور سره او ورکې مونږ ده ته حکم کول په کوچنیوالی کې ، او شوق مو ورکی د

وَزَكَاةً وَكَانَ تَقِيًّا ۝١٣ وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ وَلَمْ يَكُن جَبَّارًا عَصِيًّا ۝١٤

د خپل طرف څخه او پاکي او وو دی پرهیزګاره ، او نیکي کوونکی د خپل مور او پلار سره او نه وو سرکشه خودسره

وَسَلَامٌ عَلَيْهِ يَوْمَ وُلِدَ وَيَوْمَ يَمُوتُ وَيَوْمَ يُبْعَثُ حَيًّا ۝١٥

او سلام دی په ده په کومه ورځ چې پیدا سو او په کومه ورځ چې مړ سی او په کومه ورځ چې پورته سی ژوندی سوی

لنډ تفسیر : كهيعص (ددې معنې خو الله ﷻ ته معلومه ده) دا (کومه مخکې قصه چې راځي) تذکره ده ستا

د پروردګار د مهربانۍ فرمایلو پر خپل (مقبول) بنده (حضرت) زکریا (علیه السلام) پر حال ، باندې کله چې دوی خپل

پروردګار ته په پټه باندې آواز وکی (چې په دې کې دا) عرض یې وکی چې ای زما پروردګاره ! زما هډوکي

(په وجه دبوډاوالي) كمزوري سوې دي او (زما) دسر په وريښتو سپينوالي خپور سوې دی (يعني ټول وريښته مي سپين سوې دي او ددي حالت مقتضا دا ده چي په زه په دي حالت كي د اولاد درخواست ونه كړم ، مګر چونكي ستا قدرت او رحمت لوى كامل دی) او (زه ددي قدرت او رحمت دظهور سره عادت سوی يم چنانچي ددی څخه مخكي هيڅكله هم) ستا څخه (د) پوښتي په غوښتوكي ای زما ربه ! ناكامه سوی نه يم (په دي بنا دليري څخه ليري مقصود طلب كول هم څه باك نه لري) او (ددي طلب كولو خاص ضروري سوی دا كار دی چي) زه دخپل ځان (دمرګ) څخه وروسته (دخپلو) قريبانو (دطرف) څخه (دا) بيره لرم (چي زما دمرضي مطابق به دشريعت او دين خدمت په ځاى رانه وړي ددي كاردپاره داولاد طلب ضروري سوې دی چي په ده كی خاص خاص صفتونه پيداكړل سي په كوموسره چي ورڅخه ددين دخدمت توقع كيدی سی) او (چونكه زما دبوډا كيدو سره) زمابنځه (هم) شنډه ده (دكومی چي سره درواغ والي اولادنه دی سوی په دی وجه عادتي اسباب داولاد كيدوهم نسته) پس (په دی صورت كي) ته ماته خاص دخپل طرف څخه (يعني بي دواسطي دعادتي اسبابو څخه) يوداسی وارث (يعني زوی) راكي چي هغه (زماپه خاصو علمونوكي) زما وارث جوړسي او (زما دنيكه) يعقوب (ﷺ) دخاندان (په ميراثي علمونوكي دهغوی) وارث جوړسي (يعني تير او وروستني ټول علمونه هغه ته حاصل وی) او (په وجه دباعمله كيدودی ای زما ربه ! (خپل) بنه (اومقبول) بنده جوړكړی (يعني چي عالم هم وی اوعمل كوونكی هم . دالله ﷻ ارشاد ورته په واسطه دملائكو وسو چي) ای زكريا (ﷺ) مونږ تاته ديو زوی خوشخبري دركوچي نوم به يي يحيٰى وی چي ددی څخه به مخكي (په خاصو صفتونو كي) مونږ څوك دده هم صفت نه وی جوړكړی (يعني دكوم علم اوعمل چي ته دعا كوی هغه به دی دی زوی ته خامخا وركوو او پردی سربيره به ورته څه نورخاص صفتونه هم وركړو. مثلاً دالله ﷻ دبيري څخه په خاص درجه سره دزړه نرميدل وغيره چونكي ددعاپه دی قبليدوكی څه خاص كيفيت يي دبچي كيدو نه وو ښوولی په دی وجه ددي دپوښتني دپاره) زكريا (ﷺ) عرض وكی چي ای زماربه ! زما اولادبه څنګه وسی حال دا دی چي زما بي بي شنډه ده او (دي خواته) زه دزوړوالي انتهايي درجي ته رسيدلی يم (پس معلومه نه ده چي مونږبه خوانان سو يابه ماته نكاح كول وی اويابه په موجوده حالت كي اولاد وسی) ارشاد ورته وسوچي حالت (موجوده) به هم دغه ډول وی (اوبيابه دی وسی ای زكريا ﷺ) ستادرب ويناده چي دا (كار) ماته ډير آسان دی او (داڅه كوی ددی څخه لوی كارمي كړي دی مثلاً) ما ته پيدا كړي يي حال دا دی چي (دپيدائش څخه مخكي) ته هيڅ هم نه وی (دغه شان دعادتي اسبابو څخه هم څه شی نه وو ، هركله چي دورك موجودكول آسان دی نو ديو موجود څخه بل موجود كول څه مشكل دی؟ دا ټول ارشاد داميد قوی كولو دپاره وو نه چي دشك ليري كولو دپاره ځكه چي دزكريا ﷺ هيڅ شك نه وو كله چي د) زكريا (ﷺ) قوی اميد پيداسو نودوی) عرض وكی چي ای زماربه (په وعده خومی اطمينان وسو اوس ددی وعدي نژدی

کیدل دحمل کیدوهم) څه نښانه زمادپاره مقرره کړی (چې زیات شکر وکړم او په خپله هم وقوع په
ظاهری احساساتو سره وی) ارشاد ورته وسو چې ستا (هغه) نښانه دا ده چې ته به دری شپی (او دری
ورځې) دخلګو سره خبری (اتری) نه سی کولی حال دا دی چې روغ جوړ به یی (څه بیماری وغیره به
درباندې نه وی او په دې وجه سره به دې داالله ﷻ پرذکر باندې قدرت وی نوداالله ﷻ په اذن سره دزکریا
ﷺ بی بی حامله سوه او داالله ﷻ دخبر مطابق دزکریا ﷺ ژبه وتړل سوه) پس دحجری څخه خپل قوم ته
راغی او دوی ته یی په اشاره وویل (ځکه چې په ژبه خویی خبری نه سوی کولی) چې تاسی خلک سهار
اوماښام دخدای پاکی بیانوی (دا تسبیح او امر په تسبیح سره خو یادمعمول مطابق وو همیشه به یی
تذکیراً په ژبه سره کوی نن یی په اشاره سره وویل یایی ددی نوی نوی نعمت په شکریه کی په خپله هم
تسبیح زیاته وفرمایله اونوروته یی هم په دې طور سره أمر وفرمایی. مطلب دا چې بیا یحیٰی ﷺ پیدا سو
او دپوهی عمرته ورسیدی نو ده ته حکم وسوچې) ای یحیٰی (ﷺ) کتاب (یعنی تورات چې دغه وخت دغه
دشریعت کتاب وو او انجیل وروسته نازل سو) مضبوط ونیسه (یعنی په خاص کوشش سره عمل په کوه)
او مونږ ده ته (دده) په کوچنیوالی کی (ددین) پوهه اوخاص دخپل طرف څخه دزړه دنرمیدو (صفت)
اوپاکیزګی (داخلاقو) ورکړی وه (په حکم کی علم طرف ته او په حنان او په زکوٰة کی داخلاقو طرف ته
اشاره وسوه) او (مخکی دظاهری اعمالو طرف ته اشاره فرمایی چې) هغه ډیر پرهیزګار او دخپل مور
اوپلار خدمت ګذار وو (په دې کی دحقوق الله اوحقوق العباد دواړو طرف ته اشاره وسوه) اوهغه (دخلګو
سره) سرکښی کوونکی (یاداالله ﷻ نافرمانی کوونکی) نه وو او (داالله ﷻ داسی لوی مرتبی والا
اوعزتمندوو چې دده په حق کی داالله ﷻ دطرف څخه دا ارشاد کیږی چې) ده ته دی (داالله ﷻ) سلام
ورسیږی په کومه ورځ چې دی پیداسو او په کومه ورځ چې دی وفات کیږی او په کومه ورځ چې (په
قیامت کی) ژوندی پورته کیږي .

معلومات اومسئلي: دسورة کهف څخه وروسته یی سورة مریم شایدچې په دې مناسبت سره ایښي دی لکه
څنګه چې سورة کهف پرډیرو عجیبه واقعاتو باندې مشتمل وو دغه ډول سورة مریم هم پردغسی نا آشنا
واقعاتو باندې مشتمل دی . (روح المعانی)

كٓهيٰعٓصٓ. دحروف مقطعه اومتشابهاتو څخه دی چې علم یی الله ﷻ ته دی بندګانو ته ددی تفتیش هم نه
نه دی نِدَآءً خَفِيًّا ددی څخه معلومه سوه چې دعا کرار او په پټه کول ښه دی . دحضرت سعدبن ابی وقاص
ﷺ څخه روایت دئ چې نبی کریم ﷺ فرمایی ، اِنَّ خَيْرَ الذِّكْرِ الْخَفِيُّ وَخَيْرَ الرِّزْقِ مَايَكْفِي یعنی ښه ذکر په
پټه ذکر دی اوښه رزق هغه دی کوم چې کافي سی . (دضرورت څخه نه کم وی او نه زیات) (قرطبی)

اِنِّي وَهَنَ الْعَظْمُ مِنِّيْ وَاشْتَعَلَ الرَّاْسُ شَيْبًا ° دهډوکو دکمزوری ذکریی وفرمایی ځکه چې هم دا دبدن
ستنی دی ، کله چې هډوکی کمزوری سی نو دا دټول بدن کمزوری ده . داشتعال لفظی معنیٰ دلمبه کیدو

د ه دلته يې دسر دوربښتو داوردلمبي سره تشبيه ورکړه په ټول سر باندي دسپينوالي خپرېدل مقصود دي

(په دعا کي دخپلي حاجت مندی اظهار کول مستحب دی)

دلته ددعا څخه اول حضرت زکريا ﷺ خپل ضعف اوکمزوري ذکر کړه ، ددي يوه وجه خو دغه ده دکوم طرف ته چي په لنډ تفسيرکی اشاره سوي ده چي ددي حالاتو مقتضا دا وه چي د اولاد خواهش ونه کړم يوه دوهمه وجه امام قرطبي په تفسيرکی دابيان کړي ده چي ددعا غوښتلو په وخت کی دخپل ضعف اوبدحالی اوحاجتمندی ذکر کول ددعا دقبليدو دپاره ډير نژدی دی . په دی وجه علماء فرمايي چي انسان ته په کار دی چي ددعاء کولو څخه مخکی دالله ﷻ دنعمتونو او دخپلی حاجتمندی ذکروکی .

مَوَالِيَ دمولی جمعه ده په عربی ژبه کی دالفظ دډيرو معانيو دپاره استعماليږی په دی کی يوه معنی د اکا زامن اوخپل عصبه هم راځی دلته دغه مراد دی .

(دپيغمبرانو په مال کي وراثت نه چليږی)

يَرِثُنِيْ وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوْب ، په اتفاق دجمهورو عالمانو دلته دوراثت څخه مالي وراثت مراد نه دی ځکه چي اول خو دحضرت زکريا ﷺ سره څه لوی دولت کيدل ثابت نه دی چي دهغه ورسره فکر وی چي وارث به يې څوك وی او يو دپيغمبر دشان څخه هم داسی فکر کول لیری دی . ددی څخه علاوه په صحيح حديث کی (چي دصحابه کرامو ﷺ اجماع پرثابته ده) داسی راغلی دی چي .

اِنَّ الْعُلَمَاءَ وَرَثَةُ الْاَنْبِيَآءِ وَاِنَّ الْاَنْبِيَاءَ لَمْ يُوَرِّثُوا دِيْنَارًا وَّلَا دِرْهَمًا اِنَّمَا وَرَّثُوا الْعِلْمَ فَمَنْ اَخَذَهُ اَخَذَ بِحَظٍّ وَافِرٍ (رواه احمد وابوداود وابن ماجه والترمذی)

بيشکه عالمان دپيغمبرانو وارثان دی ځکه چي انبياء عليهم السلام دينار او درهم په وراثت کی نه دی پريښي بلکی د دوی وراثت علم دی چاچي علم حاصل کی ده لوی دولت حاصل کی .

دا حديث دشيعه کافی کلينی وغيره په کتابونوکی هم موجود دی او په صحيح بخاری کی دحضرت عائشي صديقي ﷺ څخه روايت دی چي نبی کريم ﷺ فرمايلي دی .

لَا نُوْرَثُ وَمَا تَرَكْنَا صَدَقَةٌ . زمونږ دپيغمبرانو مالي ميراث هيچاته نه سی ورکول کيدی مونږ چي کوم مال پريږدو هغه ټول صدقه وی .

او په خپله په دی آيت کی د يَرِثُنِيْ څخه وروسته د: وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوْب اضافه ددی دليل دی چي وراثت مالي مرادنه دی . ځکه چي دکوم هلك دپيدائش دعا کول کيږی دهغه دآلِ يعقوب دپاره مالي وارث جوړيدل په ظاهر حال ممکن نه دی ځکه چي دآلِ يعقوب وارثان به د دوی قريبی عصبات وی او دا هغه موالی دی دکومو ذکر چي په دی آيت کی وسو هغه بيشکه په قرابت اوعصوبت کی ترحضرت يحيٰی ﷺ اقرب دی . داقربو په موجودگی کی عصبهٔ بعيد ته وراثت ورکول کيدل داصول وراثت څخه خلاف دی .

په روح المعانی کی دشيعه دکتابونو څخه دا هم نقل کړل سوي دی .

روى الكليني في الكافي عن البختري عن ابي عبدالله قال ان سليمان ورث داود وان محمد
سليمان سليمان ﷺ د داود ﷺ وارث سو او حضرت محمد ﷺ د حضرت سليمان ﷺ وارث سو
دا ظاهره ده چې نبي كريم ﷺ ته د حضرت سليمان ﷺ د مالي وراثت رسيدو هيڅ احتمال او امكان
نه مراد ددې څخه د نبوت د علمونو وراثت دی ددې څخه معلومه سوه چې په ورث سليمان د
وراثت مالي مراد نه دی

لم نجعل له من قبل سميا . د لفظ د . سمي معنى همنام هم راځي او مثل او مشابه هم دلته که
مراد سي نو مطلب واضح دی چې دده څخه مخکې يحيى نوم ديو سړي هم نه وو دا د نوم يوازې
امتياز هم په ځينو خاصو صفتونو کې دده يوازې والي طرف ته اشاره کوي په دې وجه بې
خاصو صفتونو سره ذکر کړه او که دويمه معنى ورڅخه مراد واخستل سي نو مطلب به داسي چې
خاص صفتونه او حالات دده داسي دی چې په تيرو انبياؤ کې په چاکې هم نه وه په
صفتونو کې دی بې مثله وو مثلاً دده حصوروالي وغيره. په دې وجه ددې څخه دا نه لازميږي چې
يحيى ﷺ د تيرو ټولو انبياؤ څخه مطلقاً افضل دی ځکه چې په دوی کې د حضرت خليل الله او حضرت
كليم الله دده څخه ښه كيدل منل سوي دي او معلوم دي . (مظهري)
عتيا د عتو څخه مشتق دی چې معنى يې تاثر نه قبلول دی مراد ددې څخه دهډوکو وچيدل دي
ددې معنى تندرست ده دا لفظ يې ځکه زيات کې چې پر حضرت زكريا ﷺ باندې د داسي حالت راتلل
د چا سره خبرې نه سي کولی د څه بيماري په وجه سره نه وو او په دې وجه د الله ﷻ په ذکر او عبادت کې
دوی ژبه په دې درو واړو ورځو کې بالكل آزاده وه بلکې دا حالت په طور د معجزې او د علامې
پرده را وستل سوي وو.
حنانا ددې لفظ لغوي معنى د زړه نرمي ده او رحمت او شفقت دی کوم چې حضرت يحيى ﷺ ته
امتيازي طور سره ورکړل سوي وو.

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مَرْيَمَ ۘ اِذِ انْتَبَذَتْ مِنْ اَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ﴿١٦﴾ فَاتَّخَذَتْ

او ذکر کړه په کتاب کې مريم ، كله چې جلا سوه د خپلو خلقو څخه مشرقي مكان ته   بيا يې ونيو

مِنْ دُوْنِهِمْ حِجَابًا ۚ فَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهَا رُوْحَنَا فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا

پناه د دوی څخه   يو پرده   بيا ولېږله موږ دوی ته   خپله ملائكه   بيا جوړه سوه دی ته سړی

سَوِيًّا ﴿١٧﴾ قَالَتْ اِنِّيْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا ﴿١٨﴾ قَالَ

پوره ، وې ويل   پناه غوارم   په رحمن سره   ستا څخه که يې ته بيريدونکی ، وې ويل

أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ ۖ لِأَهَبَ لَكِ غُلَامًا زَكِيًّا ﴿١٩﴾ قَالَتْ أَنَّىٰ يَكُونُ لِي غُلَامٌ

خو زه رالیږل سوی یم ستا درب ، چې درکړم تا ته یو هلك پاك ، وې ویل دکوم ځای به وسی زما هلك

وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ﴿٢٠﴾ قَالَ كَذَٰلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ

او مسه کړی نه یمه زه یو سړی او نه زه چیری بد کاره یمه ، وې ویل هم دغسی ده ، فرمایی ستا رب چې

عَلَيَّ هَيِّنٌ ۖ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً لِّلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا ۚ وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ﴿٢١﴾

داما ته آسانه ده، اوګرځوو مونږ دا دخلقو دپاره نښانه او مهرباني دخپل طرف څخه ،او دی دا کار مقرر سوی .

تفسیر: او (ای محمد ﷺ) په دی کتاب (یعنی دقرآن په دی خاص حصه یعنی سورة) کی د (حضرت) مریم (ﷺ) قصه هم ذکرکړه (چې دغه دحضرت زکریا ﷺ ددی ذکرسوی قصی سره خاص مناسبت لری او دغه هغه وخت وسوه) کله چې هغه دخپل کوروالاوو څخه جدا (سوه) په یو داسی مکان کی کوم چې دمشرق طرف ته وو (دغسل دپاره) ولاړه بیا دی د (کورد) خلقو څخه (په مینځ کی) پرده واچوله (چې د دوی څخه په پناه غسل وکړی) پس (په دغه حالت کی) مونږ خپله ملائکه (جبرائیل ﷺ) ورولیږل اوهغه (ملائکه) ددی په وړاندی (په لاسو پښو صورت اوشکل کی) یو پوره سړی جوړ سو ښکاره سو (چونکه حضرت مریم ﷺ دی انسان وګڼی په دی وجه وبیریده) وې ویل چې زه خوستا څخه په خپل خدای پناه غواړم که ته (څه) دخدای څخه بیریږی (نو ددی ځای څخه به لیری سی) فرشتی وویل چې (زه بشر نه یم چې ته زماڅخه بیریږی بلکه) زه خو ستادرب رالیږل سوی (ملائکه) یم (په دی وجه راغلی یم) چې تاته یو پاکیزه هلك درکړم (یعنی چې ستا خُلی یاګریوان ته پوکی وکړم چې دهغه په اثر سره ستاحمل سی او هلك دی وسی) هغه (په تعجب سره) وویل (نه چې په انکار سره) چې زماهلك به څنګه وسی حال دا دی چې (ددی عادتی شرط خو دسړی سره یو ځای کیدل دی او هغه بالکل نسته څکه چې) ماته هیڅ بشرلاس هم نه دی راوړی (یعنی نه می نکاح سوي ده) او نه زه بدکاره یم ملائکی وویل چې (بس بغیر دیو بشر دلاس دروړلو څخه) هم دغسی (هلك) به وسی (او زه دخپل طرف څخه نه وایم بلکه) ستارب ارشاد فرمایلی دی چې دا خبره (چې بغیر دعادتی اسبابو څخه بچی پیدا کړم) ماته آسانه ده او (دا هم فرمایی چې مونږ بغیر دعادتی اسبابو څخه) په دی خاص طور سره څکه دی پیدا کوو چې مونږ دا بچی دخلکو دپاره یوه نښانه (دقدرت) جوړه کړو او (دارنګه دده په ذریعه خلقو ته دهدایت کولو دپاره) دی باعث درحمت جوړ کړو او دا (بی پلاره بچی پیدا کیدل) یوه مقرر سوی خبره ده (چې خامخا به کیږی)

معلومات اومسئلې: اِنْتَبَذَتْ ،دَنَبْذٌ څخه مشتق دی معنی یی لیری غورځول دی دَاِنْتِبَاذْ معنی دمجمع څخه

لیری تلل سول . مَكَانًا شَرْقِيًّا یعنی دکور دننه مشرقی طرف ته یوکنج ته ولاړه . ددی کُنج ته تلل دځه غرض دپاره وه په دی کی احتمالات او اقوال مختلف دی . ځینی وایی چی دغسل کولو دپاره دی کُنج ته تللی وه ځینی وایی چی دعادت مطابق په عبادت کی دمشغولیدو دپاره دمحراب مشرقی طرف ته یی یوکُنج اختیار کړی وو قرطبی دا دوهم احتمال ښه ګڼلی دی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل دی چی نصاراؤ چی کوم مشرقی طرف خپله قبله جوړه کړې ده او ددی طرف تعظیم کوی ددغه وجه هم دا ده .

فَاَرْسَلْنَا اِلَيْهَا رُوْحَنَا . دروح څخه مراد دجمهورو په نزد حضرت جبرائیل ﷺ دی اوځینی وایی چی په خپله حضرت عیسیٰ ﷺ مراد دی الله ﷻ ددی دګیدی څخه دپیدا کیدونکی بشر شکل دی ته مخامخ کی مګر اولنی قول راجح دی د وروسته کلمو څخه ددی تائید کیږي .

فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا . دملائکی په خپل اصلی شکل او صورت کی لیدل د انسان دپاره آسان نه دی هیبت په راځی لکه نبی کریم ﷺ ته چی په غارِ حراء کی او وروسته پیښه سوه . ددی مصلحت په وجه جبرائیل ﷺ حضرت مریم علیها السلام ته په شکل دانسان ظاهر سو کله چی حضرت مریم علیها السلام یوانسان په خپله خواکی ولیدی چی دپردی څخه دننه راغی نوبیره ورسره پیدا سوه چی د ده اراده بده معلومیږی په دی وجه یی وفرمایل .

اِنِّیْٓ اَعُوْذُ بِالرَّحْمٰنِ مِنْكَ : زه دالله رحمٰن پناه غواړم ستا څخه په ځینو روایتونو کی دی چی کله جبرائیل امین دا کلمه واوریده نو دالله ﷻ دنوم دتعظیم دپاره لږ پرشا سو .

اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا . دا کلمه داسی ده لکه چی څوك دیو ظالم څخه مجبوره سی فریاد کوی چی که ته مومن یی نو پرما ظلم مه کوه په کار ده چی ستا ایمان ددی ظلم څخه منع کونکی سی . مطلب دا سو چی ستا دپاره مناسب دی چی دالله ﷻ څخه وبیریږی دغلط کار څخه ځان وساتی . لنډه دا چی اِنْ كُنْتَ تَقِيًّا دپناه غوښتو دپاره شرط نه دی بلکی دپناه غوښتلو دمؤثر کولو شرط دی دپاره دترغیب اوځینی مفسرین فرمایی چی دا کلمه په طور دمبالغی راوړل سوي ده چی که ته متقی هم یی خوبیا هم ستا څخه دالله ﷻ پناه غواړم اوکه ددی څخه خلاف یی نو بیا خومعامله ښکاره ده . (مظهری) .

لِاَهَبَ لَكِ . په دی کی دبچی ورکول جبرائیل ﷺ خپل ځان ته ځکه منسوب کړي چی دی الله ﷻ ددی کاردپاره لیږلی وو چی ددی په ګریوان کی پوکی وکړه . دغه پوکی به دبچی ورکولو ذریعه جوړه سی که څه هم دا بچی ورکول په اصل کی دالله ﷻ کار دی .

فَحَمَلَتْهُ فَانْتَبَذَتْ بِهٖ مَكَانًا قَصِيًّا ﴿۲۲﴾ فَاَجَآءَهَا

نو حمل سو ددی په ده سره بیا یو طرف ته سوه په ده سره یو لیری مکان ته ، بیا راغی دی لره

الْمَخَاضُ إِلَىٰ جِذْعِ النَّخْلَةِ قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَٰذَا

درد دبچي پيدا کيدو ديوي خرما د درختي په بيخ کې، وې ويل ښځه به ښه واى که مړه واى زه ددې ښځه مخکې

وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ﴿٢٣﴾ فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلَّا تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ

او سوى واى زه هيره سوى، نو اواز وکى دى ته دلاندې ددې ښځه چي ته غمجنه کيږې مه پيدا کړه

رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ﴿٢٤﴾ وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ

ستا رب لاندې ستا ښځه يوه چينه، او وښوروه خان ته دخرما د درختي بيخ را وبه لويږي تاته

رُطَبًا جَنِيًّا ﴿٢٥﴾ فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا ۖ فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ

پخې سوى خرما وى، نو خوره او چيښه اوسترګې يخې کړه، بيا که ووينې

الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَٰنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ﴿٢٦﴾

تا يو سړى، نو ووايه چي ما منلې ده درحمن دپاره روژه نو خبرى نه کوم نن دهيڅ سړى سره.

تفسير: بيا (ددى خبرو ښځه وروسته جبرائيل ﷺ ددى په ګريوان کې پو کې وکى چي په دى سره) ددى هلك په نس سو بيا (کله چي پرخپل وخت باندى حضرت مريم عليها السلام ته دبچي دپيدا کيدو نښانى معلومې سوى نو) ددى حمل سره (دخپل کور ښځه) يو ليرى ځاى ته (ځنګل ياغره ته) جدا ولاړه بيا (کله چي دردشروع سو نو) دبچي کيدو د درد په وجه سره دخرما درختي ته راغله (چي ددى په کومك او طاقت ولاړه سي او کښيني اوس حالت دا وو چي نه څوك ملګرى سته او نه څه اسباب دراحت او ضرورت سته او د دردونو ښځه بې آرامه او دبچي دبدنامى خيال آخر وبيريده) وې ويل کاش زه ددى (حالت) ښځه مخکې مړه واى او داسي ورکه سوى واى چي دچا ياده هم نه واى پس (دغه وخت دخداى ﷻ په حکم سره حضرت) جبرائيل (ﷺ را ورسيدى او ددى داحترام په وجه مخامخ رانغى بلکې په کوم مقام کې چي حضرت مريم عليها السلام وه ددغه ښځه لاندى په يو پناه ځاى کې راغى او هغه) دى ته (ددغه) لاندى ځاى ښځه آواز وکى (چي دا حضرت مريم عليها السلام وپيژندى چي دا هم دهغه ملائکې آواز دى کومه چي اول ښکاره سوى وه) چي ته (دبې سراوساماني ښځه يابدنامى ښځه) مه غمژنه کيږه (ځکه چي دبې سر اوساماني خودا انتظام سوى دى چي) ستا رب تر تا (په) لاندى (ځاى) کې يو نهر پيدا کړي دى (چي په ليدو او اوبو چښلو سره دى طبيعت ښه کوى دارنګه دروح المعاني د روايت مطابق دا دغه وخت تړې

سوی هم وه او دطبی مسئلی مطابق دگرمو شیانو استعمال دبچی کیدو څخه مخکی یا وروسته بچی کیدل هم آسانوی او طبیعت هم ښه کوی او په اوبوکی چی گرموالی هم وی لکه داکثرو چینو په اوبو کی چی وی نو زیاتی موافقی وی دمزاج سره دارنگه خرماوی چی غذا په کښی هم ډیره ده وینه زیاتوی قوی کوونکی دگردی ملا اوبندونو ده نو په دی وجه دځلوینبتی دښځی دپاره دټولو خوراکونو او دوایانو څخه ښه ده او دگرموالی په وجه چی په دی کی کوم دضرر احتمال دی نو اول خو دا ده چی په لنده کی حرارت کم وی دوهم په اوبو سره ددی اصلاح کیږی دریم خو ضرر هلته ښکاره کیږی چی په اندامونو کی کمزوری وی کنه نوهیڅ شی هم دڅه ناڅه ضرر څخه خالی نه وی . دارنگه دخرقِ عادت (کرامت) ښکاره کیدل د الله ﷻ په نزد دمقبولیت دعلامی په وجه سره سبب دروحانی خوشحالی وی) او ددی خرما ددرختی ښاخونه (ونیسه) خپل طرف ته یی وښوروه ددی څخه به تاته تر اوتازه خرماوی راولویږی (چی په دی سره به تاته دمیوی په خوړلو جسمانی لذت او په طور دخرق عادت دمیوی په راتلوکی روحانی لذت جمع سی) بیا (دامیوه) وخوره او (دغه اوبه) چیښه او سترگی یخی کړه (یعنی دبچی په لیدو او په خوړلو چښلو او د الله په نزد دقبولیت په ښانو خوشحاله سه) بیا (کله چی دبدنامی داحتمال موقع راسی یعنی څوک په دی قصه باندی خبرسی نو دهغه انتظام سوي دی چی) که ته په انسانانوکی څوک هم (تاته راتلونکی او اعتراض کوونکی) ووینی نو (ته څه مه وایه بلکی په اشاره ده ته) ووایه چی ما دالله ﷻ دپاره (دداسی) روژی نذر منلی دی (چی خبری په کی بندی دی) پس (په دی وجه) زه نن (ټوله ورځ) دهیچاسره خبری نه کوم (اودخدای ﷻ په ذکر او دعاکی مشغولیدل خوبله خبره ده پس ته دغومره جواب ورکړه بی فکره سه الله ﷻ به دانوی پیداسوی خوش بخت بچی په خپله گویا کړی چی په دی معجزه ښکاره کیدوبه ستا دپاکدامنی اوپاکوالی دلیل وسی مطلب دا چی دهریوغم علاج وسو بی فکره اوسه)

معلومات اومسئلي: (دمرگ دآرزو کولو حکم)

دا دمرگ آرزو که ددنیا دغم په وجه وه نو دحال دغلبی په وجه به ددی عذر وکړل سی چی په دی کی انسان په هره وجه مکلف نه وی اوکه ددین دغمه وه چی خلگ به می بدنامه کړی اوشاید چی زه به په صبر نه سم نو دبی صبری په گناه کی به واخلم سم په مرگ سره به ددی گناه څخه محفوظه سم نو داسی آرزوکول منعه نه دی اوکه داشك وی چی حضرت مریم علیهاالسلام ته چی کوم وویل سوه چی ته ووایه چی ماندذر منلی دی پس دی خو نذر نه وو منلی نو جواب دا دی چی ددی څخه دا حکم هم معلوم سو چی ته نذر ومنه او ښکاره یی کړه .

(دخاموشي روژه په اسلامي شريعت كي منسوخ سوي ده)

داسلام څخه مخکی داهم په عبادت کی داخله وه چی دخبرو روژه ونیسی دسحر څخه ترشپی پوری به دچاسره خبری نه کوی اسلام دامنسوخه کړه او دایی لازمه کړه چی صرف دبدو خبرو ښکنځلو دروغو

اوغيبت وغيره څخه دې پرهيز كول كېږي عامې خبرې پريښوول په اسلام كې څه عبادت نه دې پاته سوى په دې وجه ددې نذرمنل هم جائزنه دي لكه چې روايت كړې دى ابوداود مرفوع لَاَ يُتْمَ بَعْدَ الْاِحْتِلَامِ وَلَاَ صُمَاتَ يَوْمٍ اِلَى اللَّيْلِ اوحسن ويلي دى ده سيوطي اوعزيزي (يعني كوچنى ته دبالغيدو څخه وروسته دپلار په مرگ سره يتيم نه سي ويل كيدى په ده ديتيم احكام نه جارى كېږي او دسهار څخه ترماښامه پورې خاموش پاته كيدل (په اسلام كې) څه عبادت نه دي او دبچي كيدو په دردكي داوبو اوخرماؤ استعمال په طبي لحاظ سره هم مفيد دى دخوړلو اوچښلو حكم په ظاهره داباحت دپاره معلومېږي . وَاللّٰهُ تعالىٰ اَعْلَمُ

﴿ بغير دسړي څخه يوازې دښځې بچې پيدا كيدل دعقل خلاف نه دى ﴾

اوحمل اوبچې پيدا كيدل بې دواسطې دسړي څخه معجزه ده او په معجزو يعني خوارقوكي كه هرڅومره ليرې والي وي باك نسته بلكې دصفت دمعجزې زيات ظهوردى . ليكن په دى كې په دى وجه زيات ليرې والي هم نسته چې دطب دكتابونو دوضاحت مطابق چې دښځې په منى كې دقوت منعقده سره قوت عاقده هم سته په دى وجه په مرض رَجَاكي دناپوره اندامونوڅه صورت هم جوړېږي لكه چې په قانون(دطبو په كتاب) كې يې ددې توضيح كړې دى نوكه داقوت عاقده نورهم زيات سي نوڅه ليرې خبره نه ده . (بيان القرآن)

په دې آيت كې الله ﷻ حضرت مريم عليها السلام ته دخرما درختى دښورولو حكم وكى حال دا دى چې دهغه په قدرت كې دا هم وه چې بغير دښورولو څخه خرماوې ددې زولې ته رالويدلې واى مگر حكمت دا دى چې په دى كې درزق دحاصلولو دپاره دكوشش كولو سبق وركول كېږي او دا ښوول هم دى چې درزق په حاصلولو كې كوشش او محنت كول دتوكل څخه خلاف نه دى . (روح المعاني)

سَرِيًّا ۰ دلفظ دسَرِيٌّ : لغوي معنىٰ كوچنى نهر دى . په دى موقع الله ﷻ يوكوچنى نهرپه خپل قدرت سره بې دڅه واسطې څخه جارى كې ياپې دحضرت جبرائيل ﷺ په ذريعه سره چينه جارى كړه دواړه روايتونه سته دلته دا خبره دلحاظ قابله ده چې دحضرت مريم عليها السلام دتسلي داسبابو د ذكر كولو په وخت كې خو يې اول د اوبو ذكر وفرمايى بيا دخوراك دشي دخرما او كله چې داستعمال ذكر راغى نو ترتيب يې بدل كې اول يې دخوړلو حكم وفرمايى بيا دچښلو كُلِيْ وَاشْرَبِيْ وجه غالبًا دا ده چې دانسان فطري عادت دى چې د اوبو اهتمام دخوراك څخه وړاندې كوي . خاص بيا داسې خوراك چې دهغه څخه وروسته تړې كيدل يقيني وي دهغه دخوړلو څخه مخكې اوبه تيار وي مگر د استعمال ترتيب دا وي چې خوراك اول خوري اوبيا وروسته اوبه چيښي . (روح المعاني)

فَاَتَتْ بِهٖ قَوْمَهَا تَحْمِلُهٗ ۭ قَالُوْا يٰمَرْيَمُ لَقَدْ

بيا يې راوړى دى خپلو خلقو ته په غېږكي ، هغوي وويل اى مريمې ! دا خو

جِئۡتِ شَيۡـًٔا فَرِيًّا ﴿۲۷﴾ يٰۤاُخۡتَ هٰرُوۡنَ مَا كَانَ اَبُوۡكِ امۡرَاَ سَوۡءٍ وَّمَا كَانَتۡ

تا يو لوى طوفان وكى ، اى خور دهارون ! نه وو پلار ستا بد سړى او نه وه

اُمُّكِ بَغِيًّا ﴿۲۸﴾ فَاَشَارَتۡ اِلَيۡهِ ؕ قَالُوۡا كَيۡفَ نُكَلِّمُ مَنۡ كَانَ فِى الۡمَهۡدِ

ستا مور بدكاره ، بيا يى په لاس اشاره وكړه هلك ته هغوى وويل څنګه به خبرى وكى هغه چاسره چى وى

صَبِيًّا ﴿۲۹﴾ قَالَ اِنِّىۡ عَبۡدُ اللّٰهِ ؕ اٰتٰٮنِىَ الۡـكِتٰبَ وَجَعَلَنِىۡ نَبِيًّا ۙ﴿۳۰﴾

په غيږ كى بچى ، ده وويل زه دالله بنده يم ما ته هغه كتاب را كړى دى او زه يى نبى جوړ كړى يم

وَّجَعَلَنِىۡ مُبٰرَكًا اَيۡنَ مَا كُنۡتُ وَاَوۡصٰنِىۡ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ

او جوړ كړى يم زه بركت والا كوم خاى چى زه يم ، او تاكيد يى كړى دى ما ته دلمونځ او دزكوة

مَا دُمۡتُ حَيًّا ﴿۳۱﴾ وَّبَرًّاۢ بِوَالِدَتِىۡ وَلَمۡ يَجۡعَلۡنِىۡ جَبَّارًا شَقِيًّا ﴿۳۲﴾ وَالسَّلٰمُ

ترڅو چى زه ژوندى يم ، او سلوك كوونكى دخپلى مور سره ، او نه يى يم جوړ كړى زه سركشه اوبدبخته ، او

عَلَىَّ يَوۡمَ وُلِدْتُّ وَيَوۡمَ اَمُوۡتُ وَيَوۡمَ اُبۡعَثُ حَيًّا ﴿۳۳﴾

سلام دى په ما په كومه ورځ چى پيدا سوم او په كومه ورځ چى مرم او په كومه ورځ چى بيا ژوندى پورته كيږم .

لنډتفسير: (غرض دمريم عليها السلام په دى خبرو تسلى وسوه اوحضرت عيسىٰ عليه السلام پيدا سو) بياهغه دى په غيږ كى را واخستى (دهغه ځاى څخه دكلى طرف ته راغله او) خپل قوم ته يى را وړى خلقو (چى وليدل چى ددى خو دسره واده نه دى سوى نو دا بچى دكومه دى بدګمانه سول) وي ويل اى مريم ! تا خولوى دغضب كار وكى (يعنى نعوذبالله بد كارى دى وكړه او بد كارى چى هرڅوك وكى بنه نه ده ليكن ستاڅخه داسى كار كيدل زياته دغضب خبره ده ځكه چى) اى دهارون خورا (ستاسى په خاندان كى كله هم داسى چا نه دى كړى چنانچى) ستاپلار څه ناكاره سړى نه وو (چى ګوندى دهغه څخه دااثر په تا كى راغى) او نه ستا مور بدكاره وه (چى دهغى څخه دا اثر په تاكى راغلى وى بياهارون چى ستا درشتى ورور دى چى نوم يى دهغه هارون نبى په نوم باندى ايښودل سوي دى هغه ځومره بنه سړى دى غرض دچاچى خاندان پاك صفا وى دهغوى څخه دا حركت كيدل ځومره دغضب خبره ده) پس مريم

(عليهاالسلام دا تول تقرير واوريدى هيڅ ځواب يې ور نه کې بلکې) دېچې طرف ته يې اشاره وکړه (چې ده ته ووايه څه چې ويل غواړې دى به جواب درکې) دغه خلک (په سول چې دا زمونږ سره مسخرې کوې) داسې ګويا سول چې مونږ دداسې سړي سره څنګه خبرې وکو چې دلادغېږې بچې دى (څکه چې خبرې دهغه سړي سره کيدى کوم چې هغه هم خبرې کولې سی پس کله چې دى بچې دى اوپرخبرو قادرنه دى نودده سره به څه خبرې وکړو په دى کې) هغه بچې (په خپله) خبرې وکړې چې زه دالله (خاص) بنده يم (نه الله يم لکه چې جاهلان نصارامې ګڼي او نه غيرِ مقبول يم لکه چې يهودبه مې ګڼي او دبنده توب اوبيا دخاص کيدومې دانښانې دى چې) هغه ماته کتاب (يعني انجيل) راکې (يعني که څه هم چې آئنده به يې راکوى مګرپه وجه ديقيني کيدو داسې دى لکه چې اوس يې راکړى وى) اوهغه زه نبي جوړکړم (يعني جوړبه مې کې) او زه يې برکت والاجوړ کړم (يعني زما څخه به خلقو ته ددين نفع ورسيږى) زه چې کوم ځاى هم يم (زماڅخه به برکت رسيږى دغه نفع ددين دتبليغ ده برابره خبره ده که څوك يې قبلوى اوکه يې نه قبلوى دوى خو نفع ورسوله) اوهغه ماته دلمانځه اوزکوة حکم راکړي دى ترڅوپورې چې زه (په دنياکې) ژوندى يم (اوظاهره ده چې آسمان ته دتللو څخه وروسته مکلف نه دى پاته سوى او دا دليل دى دبنده والى لکه چې نور دليلونه دى دخصوصيت) اوزه يې دخپلې مور خدمتګار جوړ کړى يم (اوچونکې دى بې پلاره پيدا سوي دى په دى وجه يې دمور تخصيص وکې) اوهغه زه سرکښه بد بخته نه يم جوړ کړې (چې دخالق دحقونو داداکولو څخه يادمور دحقونو داداکولو څخه سرکښي وکړم يادحقونو اوعملونوپه پرېښوولوسره بدبختي واخلم) اوپرماباندى (دالله ﷻ دطرف څخه) سلام دى په کومه ورځ چې پيداسوم او په کومه ورځ چې به مرم (چې هغه قيامت ته نژدى زمانه ده وروسته ترراکښته کيدو دآسمان څخه مځکې ته) او په کومه ورځ چې (په قيامت کې) ژوندى پورته کړل سم (اودالله ﷻ سلام دليل دى دخاص بنده والى)

معلومات اومسئلې: فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ . ددى الفاظو څخه ظاهره دا ده چې کله حضرت مريم عليها السلام په غيبي خو شخبرو باندى مطمئنه سوه چې الله ﷻ به مادبدنامي او رسوايي څخه وساتي نو په خپله يې خپل نوى پيدا سوى بچې راواخستى کورته راروانه سوه . بيا دا چې دبچې دپيداکيدو څخه څو ورځې وروسته کورته راغله دابن عساکر روايت دابن عباس ؓ څخه دا دى چې دولادت څخه څلوېښت ورځې وروسته کله چې دڅلوېښتي څخه پاکه سوه نوخپل کورته واپس راغله . (روح المعاني)

شَيْئًافَرِيًّا ، لفظ د: فَرِيٌّ په عربي ژبه کې دپرېکولو اوڅيرولو په معنٰى کې راځي ، دکوم کار ياشي په ظاهريدو کې چې غيرِ معمولي سختوالى وى هغه ته فَرِيٌّ وايي ابوحيان فرمايي چې هرعظيم کارته فرى وايي برابره خبره ده که دښه والى په اعتبارسره عظيم وى اوکه دبدوالى په اعتبارسره. دلته دلوى بدوالى په معنٰى کې استعمال سوي دى او ددى لفظ اکثر استعمال دداسې شيانو دپاره معروف دى کوم چې

دخپل ناکاروالی اوبدوالی په اعتبار سره غیرمعمولی اولوی گڼل کیږي .

يٰاُخْتَ هٰرُوْنَ ، حضرت هارون ؑ کوم چی دحضرت موسیٰ ؑ ورور اوملگری وودحضرت مریم علیهاالسلام دزمانی څخه په سوونو کلونه مخکی تیر سوي دی . دلته حضرت مریم علیهاالسلام ته دحضرت هارون ؑ خور ویل ظاهره ده چی دخپلی ظاهری معنٰی په اعتبار سره نه سی کیدی په دی وجه کله چی حضرت مغیره بن شعبه ؓ نبی کریم ﷺ دنجران خلقو ته ولیږی نو هغوی ورڅخه سوال وکی چی ستاسی په قرآن کی حضرت مریم علیهاالسلام ته دحضرت هارون ؑ خور ویل سوي ده حال دا دی چی حضرت هارون ؑ دهغی څخه په ډیرو قرنونو مخکی تیر سوي دی . حضرت مغیره ؓ ته ددی خواب معلوم نه وو . کله چی واپس راغی نونبی کریم ﷺ ته یی ددی ذکروکی حضور ﷺ ورته وفرمایل چی تاورته داسی ولی نه ویل چی دایماندارو عادت دا دی چی دتبرك دپاره دپیغمبرانو علیهم السلام په نومونو باندی خپل نومونه ږدی او دهغوی طرف ته یی نسبت کوی . (رواه احمد ومسلم والترمذی والنسائی) ددی حدیث په مطلب کی دوه احتماله دی یو دا چی دحضرت مریم علیهاالسلام نسبت دحضرت هارون ؑ طرف ته څکه وسوچی دادهغوی په نسل اواولاد کی ده که څه هم زمانه هر څومره لیری ده لکه چی دعربو عادت دی چی دتمیم دقبیلی سړی ته اخا تمیم (یعنی دتمیم ورور) او دعرب سړی ته اخا عرب (یعنی دعرب ورور) وایی دویم احتمال دا هم دی چی دلته دهارون څخه مراد هارون نبی دحضرت موسیٰ ؑ ملگری مراد نه دی بلکه دحضرت مریم علیهاالسلام دخپل ورور نوم هارون وو کوم چی دتبرك دپاره دحضرت هارون ؑ نبی په نوم باندی ایښوول سوی وو . دغه ډول حضرت مریم علیهاالسلام ته دهارون خور ویل دخپلی حقیقی معنٰی په اعتبار سره صحیح سو .

مَا كَانَ اَبُوْكِ امْرَاَ سَوْءٍ ، دقرآن په دی الفاظو سره دی طرف ته اشاره ده چی کوم سړی داولیاء الله اوصالحانو داولاد څخه وی هغه که څه بدکار وکی نو دغه دعامو خلقو دگناه څخه زیات لویه گناه وی څکه چی په دی سره دده دمشرانو رسوایی اوبدنامی کیږي . په دی وجه دصالحانو اولاد ته دنیکو عملونو او تقویٰ زیات فکر کول په کار دی .

اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ ، په یو روایت کی دی چی کله دخاندان خلقوحضرت مریم علیهاالسلام ملامتول شروع کړل او حضرت عیسیٰ ؑ تی رودی نوکله چی هغه دخلقودا ملامتول واوریدل نوتی رودل یی پریښوول اوتکیه یی وروهله دوی ته متوجه سواوشهادت په گوته یی په اشاره کولوسره دا الفاظ وفرمایل . اِنِّیْ عَبْدُ اللّٰهِ یعنی زه دالله ﷻ بنده یم . په دی اولنی لفظ سره حضرت عیسیٰ ؑ داغلطی فهمی لیری کړه چی که زماپیدائش په معجزانه اندازسره سوي دی مگرزه خدای نه دخدای بنده یم هسی نه چی خلق زماپه پرستش کی اخته سی .

اٰتٰنِیَ الْكِتٰبَ وَجَعَلَنِیْ نَبِيًّا ، په دی الفاظوکی حضرت عیسیٰ ؑ دخپل تی رودلو په زمانه کی دالله ﷻ

د طرف څخه دنبوت او کتاب ورکول کيدو خبر ورکي . حال دا دی چي يو پيغمبر ته دخلويښتو کالو څخه مخکي نبوت او کتاب نه دی ورکول سوی . په دی وجه مطلب ددی دا دی چي الله ﷻ دا مقرر کړي ده چي ماته به په خپل وخت نبوت او کتاب را کړی او دا بالکل داسی ده لکه چي نبي کريم ﷺ فرمايي چي ماته نبوت هغه وخت راکړل سوی وو کله چي حضرت آدم عليه السلام لا پيدا سوی نه وو دهغه خمير تياريدی . ددی مطلب ظاهره ده چي ددی څخه ماسوا بل نه دی چي دنبوت ورکولو وعده دمحمد ﷺ دپاره قطعي او يقيني وه دلته يی هم دغه يقين دنبوت د ورکړی په لفظ دماضی سره تعبير کړي دی . دنبوت دورکړی په اظهار سره يی دهغو خلقو بدګماني ليری کړه چي زما په مور دبدګماني او بدکاری الزام لګول سراسر غلط دی ځکه چي زما نبي والی او ماته درسالت راکول کيدل ددی دليل دی چي زما په پيدائش کی دځه ګناه دخل نه سی کيدی .

اَوْصٰنِىْ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ◦ دکوم شی حکم چي کله زيات په تاکيد سره وسی نودوصيت په لفظ سره ورڅخه تعبير کيږي . حضرت عيسیٰ عليه السلام فرمايي چي الله ﷻ ماته دلمونځ او زکوٰة وصيت فرمايي ددی مطلب دا دی چي په ډير تاکيد سره يی ددی دواړو شيانو ماته حکم را کړي دی .

لمونځ او زکوٰة داسی عبادتونه دی چي دحضرت آدم عليه السلام څخه واخله ترخاتم الانبياء ﷺ پوری دهر نبي او رسول په شريعت کی فرض پاته سوي دی البته په مختلفو شريعتونو کی ددی تفصيلات او جزئيات مختلف پاته سوي دی . دحضرت عيسیٰ عليه السلام په شريعت کی هم لمونځ او زکوٰة فرض وو. پاته سوه دا معامله چي حضرت عيسیٰ عليه السلام خو هيڅکله هم مالدارنه وو نه يی کور جوړ کړي دی نه يی ځه جمع کړي دی بياده ته دزکوٰة حکم ورکول پرڅه بنا باندی دی ؟ نو ددی واضح مقصد دا دی چي د دوی په شريعت کی قانون دا جوړ سوی وو چي دکوم سړی سره مال وی پرهغه زکوٰة فرض دی . حضرت عيسیٰ عليه السلام هم ددی مخاطب دی چي کله مال په قدر دنصاب جمع سی نو زکوٰة دی ادا کړی بياکه په ټول عمرکی هم مال هيڅکله جمع نه سی نو دا دهغه منافی نه ده . (روح المعانی)

مَادُمْتُ حَيًّا يعنی دلمونځ اوزکوٰة حکم زما دپاره دائمی دی تر څو چي ژوندی يم ظاهره ده چي ددی څخه مرادهغه ژوند دی کوم چي په دی دنياکی په مځکه باندی دی ځکه چي عملونه په دی دنياکی کيدی سی او ددی ځای سره متعلق دی آسمان ته دپورته کيدو څخه وروسته دزماني تر نزول پوری درخصت زمانه ده

بَرًّا بِوَالِدَتِىْ ◦ دلته صرف دمور ذکردی دوالدينو نه دی په دی کی يی اشاره وکړه چي زما وجود په معجزانه طوربغيردپلار څخه سوي دی او په کوچنيوالی کی دا معجزانه خبری دده دپاره کافی شهادت اودليل دی

ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ ۚ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِىْ فِيْهِ يَمْتَرُوْنَ ﴿۳۴﴾ مَا كَانَ لِلّٰهِ اَنْ

دا دی عيسیٰ عليه السلام زوی دمريمی (ع) رښتونی خبره ده په کومه کی چي خلق جګړه کوی ، الله ﷻ داسی نه دی چي

يَتَّخِذَ مِنْ وَّلَدٍ سُبْحٰنَهٗ اِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ

ونیسی ځه اولاد هغه پاك ذات دی ، هرکله چی مقرر کړی دیو کار کول نو وایی هغه ته چی وسه

فَيَكُوْنُ ﴿٣٥﴾ وَاِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ﴿٣٦﴾

پس هغه وسی ، او وې ویل بیشکه الله دی رب زما او رب ستاسی نو دهغه بندګی کوئ ، دا ده لار برابره

فَاخْتَلَفَ الْاَحْزَابُ مِنْ بَيْنِهِمْ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ مَّشْهَدِ

بیا جلا جلا لار اختیار کړه فرقو په دوی کی ، پس خرابی ده منکرانو ته د حاضریدو

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿٣٧﴾ اَسْمِعْ بِهِمْ وَاَبْصِرْ يَوْمَ يَاْتُوْنَنَا لٰكِنِ الظّٰلِمُوْنَ

د ورځی لوی څخه ، څه ښه به اوری او وینی به ، په کومه ورځ چی راسی مونږ ته لیکن ظالمان

الْيَوْمَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٣٨﴾ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قُضِيَ

نن ورځی په ګمراهی ښکاره کی دی ، او وبیره وه دوی دهغه ورځی دافسوس څخه کله چی فیصله سی

الْاَمْرُ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٣٩﴾ اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ

کار او دوی په غفلت کی دی او دوی ایمان نه راوړی ، مونږ وارثان یُو

الْاَرْضَ وَمَنْ عَلَيْهَا وَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ﴿٤٠﴾ ع

دمځکی اوخوك چی په مځکه کي دی او دوی به مونږ ته بیرته راجع سی.

لنډتفسير: دا دی عیسٰی (ﷺ) زوی دمریم علیها السلام (دکومی خبری اوحالات چی ذکر سول چی په دی سره معلومیږی چی دی دهغه مقبول بنده دی نه داسی لکه چی عیسایانو دبندګانو دفهرست څخه خارج کړي دی او خدایی ته یی رسولی دی او نه داسی لکه چی یهودیانو دمقبولیت څخه خارج کړي دی اوقسم قسم تهمتونه یی پرلګولی دی) زه (بالکل) رښتینی خبری وایم چی په دی کی دا (افراط اوتفریط کوونکی) خلق جنګ کوی (چنانچی دیهودو اونصاراؤ اقوال لوړ معلوم سول اوچونکه دیهودوقول ظاهرًا هم موجب دنقص دنبوت وو کوم چی بداهتًا باطل دی په دی وجه یی ددی درد وطرف ته پردی

موقع توجه ونه فرمايله په خلاف دقول دنصاراؤ څخه چې ظاهراً ثابتوونکې دزياتوالي دکمال وو چې دنبوت سره يې دخداى زوى كيدل ثابتول دى ، په دې وجه مخ ته ددې ردفرمايي چې ددې خلاصه دا ده چې په دې كې دالله ﷻ دنقص ثابتول دتوحيد څخه دانكار په وجه لازميږى حال دا دى چې﴾ دالله ﷻ شان داسې نه دى چې هغه ﴿يو څوك﴾ اولاد جوړ كړي هغه ﴿بالكل﴾ پاك دى ﴿څكه چې دهغه شان دا دى چې﴾ هغه كله يو كار كول وغواړي نو بس دومره ورته وفرمايي چې وسه پس هغه وسي ﴿او دداسې كمال په واسطه داولاد كيدل عقلاً نقص دى﴾ او ﴿ته دتوحيد ثابتولو دپاره خلقو ته ووايه چې مشركان يې هم واوري چې﴾ بيشكه الله ﷻ زماهم رب دى او ستاسې هم رب دى پس ﴿صرف﴾ دهغه عبادت كوى ﴿او﴾ دا ﴿خالصه دخداى دعبادت كولو يعني دتوحيد اختيارولو ددين﴾ نيكه لار ده نو ﴿په توحيد سره ددې دعقلي او نقلي دليلونو دقائميدو څخه وروسته بياهم﴾ مختلفو ډلو ﴿په دې باره كې﴾ ديو بل سره اختلاف جوړ كړي دى ﴿يعني دتوحيد څخه يې انكار وكې او قسم قسم مذهبونه يې ايجاد كړل﴾ پس ددې كافرانو دپاره ديوى لوى ﴿درنې﴾ ورځې دراتلو څخه لويه خرابي ﴿كيدونكې﴾ ده ﴿مراد ددې څخه دقيامت ورځ ده چې دا ورځ زر كاله اوږده او دهيبتناكه كيدو په وجه به ډيره عظيمه وى﴾ په كومه ورځ چې دا خلق ﴿دحساب او جزاء دپاره﴾ زمونږ خواته راسي ﴿په دغه ورځ به﴾ څنگه اوريدونكې اوليدونكې سې ﴿څكه چې دقيامت په ورځ به حقيقتونه دنظر په مخكې سي اوټولې غلطي به رفع سي﴾ ليكن داظالمان نن ﴿په دنياكې﴾ څنگه په ښكاره غلطي كې ﴿اخته﴾ دى او ته داخلق دافسوس كولو دورځې څخه وبيروه كله چې ﴿دجنت او دوږخ﴾ آخرى فيصله وكړل سي ﴿چې ددې ذكرپه حديث كې دى چې جنت او دوږخ والاوو ته به مرگ وښوول سي ذبح به كړل سي او دواړو جنتيانو او دوږخيانو ته به هميشه هميشه په دې حال كې دژوندي پاته كيدو حكم واورول سي ﴿رواه الشيخان والترمذي﴾ او دغه وخت بې حده افسوس كول ظاهره خبره ده او دغه خلق ﴿نن په دنياكې﴾ په غفلت كې ﴿پراته﴾ دى او دغه خلق ايمان نه راوړي ﴿ليكن آخر يوه ورځ به مړه سي﴾ او دټولې مځكې او پرمځكه د اوسيدونكو وارث ﴿يعني آخرى مالك﴾ مونږ به يو او دوى ټول به مونږ ته واپس كړل سي ﴿بيابه دخپل كفر او شرك سزا وڅكي﴾

معلومات اومسئلې: ذٰلِكَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ: دحضرت عيسى ﷺ متعلق ديهودواونصاراؤپه بې هوده خيالاتو كې دافراط اوتفريط داحال ووچې نصاراؤخوپه تعظيم كې دومره زياتوب وكې چې دده څخه يې دخداى ﷻ زوى جوړ كې اويهودو يې دومره توهين وكې چې دى يې ديوسف نجار ناجائز اولاد وگڼې معاذ الله الله تعالى ددې دواړو غلط كارو غلطي وښوده دده صحيح حيثيت يې په دې آيتونو كې وښووى . ﴿قرطبي﴾

قَوْلَ الْحَقِّ : په فتح دلام سره ددې واضح تركيب نحوى دا دى چې اَقُوْلُ قَوْلَ الْحَقِّ . ددې اصل دى او په خينو قرآنتونو كې . قَوْلُ الْحَقِّ په ضمّې دلام هم دى نو په دې صورت كې به مراد داسې چې حضرت عيسى ﷺ په خپله قول حق دى لكه چې ده ته دكلمة الله لقب هم وركړل سوي دى څكه چې دده پيدايش

بی له واسطی دظاهري سبب څخه دالله ﷻ په قول سره سوي دی . (قرطبی)
يَوْمَ الْحَسْرَةِ . دی ورځی ته يوم الحسرة .ځکه ويل سوي ده چی د دوږخيانو دا حسرت کول خو ظاهره ده
چی که دوی مؤمنان صالحان وای نو جنت به ورلره ورکړل سوی وای اوس د دوږخ په عذاب کی اخته دی
يو خاص قسم حسرت به جنتيانو ته هم وی لکه چی طبرانی او ابو يعلی په روايت دحضرت معاذ ﷺ دا
حديث روايت کړي دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی دجنتيانو به بل په هيڅ شی پسی حسرت نه وی
بغير دهغو وختونو دلمحاتو څخه کوم چی بغير دالله ﷻ د ذکرڅخه تير سوي دی او بغوی په روايت دابو
هريره ﷺ نقل کوی چی نبی کريم ﷺ فرمايی چی هر مرکيدونکی به د افسوس او پښيمانتيا سره مخ سی
صحابه کرامو ﷺ پوښتنه وکړه چی دا افسوس او پښيمانتيا به پرڅه وی ؟ نونبی کريم ﷺ وفرمايل چی
دنيك عمل کوونکی افسوس به پر دی خبره وی چی نور زيات نيك عملونه می ولی نه کول چی نوری
زياتی درجی راته په جنّت کی حاصلی وای او بد کاره سړی به پر دی افسوس کوی چی دی دخپلی
بدکاری څخه رامنع کيدی ولی نه . (مظهری)

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِبْرٰهِيمَ ۚ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَّبِيًّا ﴿٤١﴾ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يٰٓأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ

او ذکر وکړه په کتاب کی دابراهيم ﷺ بيشکه هغه وو رښتونی نبی ، هر کله چی وويل ده خپل پلارته ای زما

مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْـًٔا ﴿٤٢﴾ يٰٓأَبَتِ إِنِّي قَدْ

پلاره ! ولی عبادت کوی دهغه شی چی نه اوری او نه وينی او نه په کار را تلی سی ستا هيڅ ، ای زما پلاره ! ماته

جَآءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِيٓ أَهْدِكَ صِرٰطًا سَوِيًّا ﴿٤٣﴾

راغلی دی خبر ديو شی کوم چی تاته نه دی راغلی پس زما په لاره څه چی وښيم تاته لا سيده .

يٰٓأَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطٰنَ ۖ إِنَّ الشَّيْطٰنَ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ عَصِيًّا ﴿٤٤﴾

ای زما پلاره ! عبادت مه کوه دشيطان ، بيشکه شيطان دی درحمن نافرمانه ،

يٰٓأَبَتِ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ فَتَكُونَ

ای زما پلاره ! زه بيريږم چی ونه رسيږي تاته يو عذاب ، درحمن څخه بيا به ته سی

لِلشَّيْطٰنِ وَلِيًّا ﴿٤٥﴾ قَالَ أَرَاغِبٌ أَنتَ عَنْ ءَالِهَتِي يٰٓإِبْرٰهِيمُ ۖ لَئِن

دشيطان ملګری ، هغه وويل آيا ته واپس سوی يی زما دمعبودانو څخه ای ابراهيمه ﷺ ! که ته

لَمْ تَنْتَهِ لَاَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِيْ مَلِيًّا ﴿۴۶﴾ قَالَ سَلٰمٌ عَلَيْكَ سَاَسْتَغْفِرُ

واپس نه سوی نو تا به سنگسار کړم او لیری سه زما دخوا څخه یوه موده ، وې ویل سلامتیا دی وی ستا ، زه

لَكَ رَبِّيْ اِنَّهٗ كَانَ بِيْ حَفِيًّا ﴿۴۷﴾ وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُوْنَ مِنْ

به بخښنه وغواړم ستا دپاره دخپل رب څخه بیشکه هغه دی په ما مهربان او پرېږدم تاسو او هغوی چی ته یی عبادت کوی

دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ عَسٰۤى اَلَّاۤ اَكُوْنَ بِدُعَآءِ رَبِّيْ شَقِيًّا ﴿۴۸﴾

دالله څخه ماسوا او بندگی کوم دخپل رب امید دی چی نه به سم زه په بندگی دخپل رب کولو سره محرومه ،

فَلَمَّا اعْتَزَلَهُمْ وَمَا يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ

بیا چی هر کله جلا سو دهغو څخه او دهغه څخه چی دوی یی عبادت کوی ماسوا دالله ﷻ څخه وبخښی مونږ ده

وَيَعْقُوْبَ وَكُلًّا جَعَلْنَا نَبِيًّا ﴿۴۹﴾ وَوَهَبْنَا لَهُمْ مِّنْ رَّحْمَتِنَا

ته اسحق ؑ او یعقوب ؑ او کړل مونږ دواړه نبیان ، او ورکی مونږ دوی ته دخپل رحمت څخه

وَجَعَلْنَا لَهُمْ لِسَانَ صِدْقٍ عَلِيًّا ﴿۵۰﴾

او کړه مونږ د دوی دپاره رښتیا وینا لوړه .

تفسیر: او (ای محمد ﷺ) ته په دی کتاب (یعنی قرآن) کی (خلقو ته دحضرت) ابراهیم (ؑ قصه) ذکر کړه (چی دوی دتوحید او رسالت مسئله زیاته واضحه سی) هغه (په هر قول او فعل کی) لوی رښتینی (وو او) پیغمبر وو (او هغه قصه دکومی چی ذکر کول دلته مقصود دی هغه وخت سوی وه) کله چی دوی خپل پلار ته (کوم چی مشرك وو) وویل چی ای زما پلاره ! ته دداسی شی ولی عبادت کوی کوم چی نه څه اوری او نه څه وینی او نه ستا په څه کار درتلی سی (مراد ورڅخه بتان دی حال دا دی چی خوك څه وینی اوری او په کار هم راځی مګرچی واجب الوجود نه وی بیا هم لائق دعبادت نه دی نوچی بیا ددی صفتونو څخه خالی وی هغه خو په درجه اولی به دعبادت لائق نه وی) ای زما پلاره ! ماته داسی علم رارسیدلی دی کوم چی تاته نه دی راغلی (مراد ددی څخه وحی ده چی په دی کی دغلطی احتمال دسره نه سی کیدی پس زه چی څه وایم قطعًا حق دی کله چی خبره داسی ده) نو ته زما پرخبره باندی څه زه به تاته نیکه لاره وښیم (او هغه توحید دی) ای زما پلاره ! ته دشیطان عبادت مه کوه (یعنی شیطان او دده عبادت خو ته هم بدګنی

او په بت پرستی کی شیطان پرستی لازمه ده چی هغه په خلقو دا کار کوی او دچا داسی اطاعت کول چی دحق تعالی په مقابله کی هم دهغه تعلیم حق گنی دا عبادت دی پس په بت پرستی کی شیطان پرستی سوه او) بیشکه شیطان دَ (حضرت) رحمان نافرمانی کوونکی دی (نو دی بیاکله د اطاعت لائق کیدی سی) ای زما پلاره زه بیریږم (او دغه بیره زما یقینی ده) چی پر تا د رحمان دطرف څخه څه عذاب رانه سی (برابره خبره ده که په دنیاکی وي یا په آخرت کی) بیابه ته (په عذاب کی) دشیطان ملگری سی (یعنی کله چی په اطاعت کی دده ملگری کیږی نو په نفس عذاب کی به هم دده سره یی که څه هم په دنیاکی دشیطان عذاب نسته او دشیطان دا ملگرتیا او په عذاب کی شرکت څوك خپل خیرغوښتونکی نه خوښوی)

(دحضرت ابراهیم ﷺ دا تول نصیحت چی یی واوریدی نو) پلار جواب ورکی چی آیاته زما دمعبودانو څخه گرځیدلی یی ای ابراهیمه ! (اوپه دی وجه سره ماهم منعه کوی یاد ساته) که ته (دی بتانوته دبد ویلو څخه او زما د دوی دعبادت څخه دمنع کولو څخه) منع نه سوی نو زه به خامخا تاپه ډبرو باندی سنگسار کړم (پس ته ددی څخه منع سه) او دهمیشه همیشه دپاره زما (سره دداسی وینا) څخه په منع سه ابراهیم (ﷺ) وویل (ښه ده) زما سلام واخله (اوس تاته څه ویل اواورول بی فائدی دی) اوس زه ستا دپاره دخپل رب څخه دبخښنی (داسی) درخواست کوم (چی تاته هدایت وکی چی مغفرت پرمرتب کیږی) بیشکه هغه پرماډیر مهربانه دی (په دی وجه به هغه ته عرض وکړم چی قبلول یانه قبلول یی دواړه په مختلف اعتبار سره رحمت اومهربانی ده) او (ته اوستا دمذهب خلق چی کله زماحقه خبره هم نه منی نو په تاسی کی پاته کیدل هم فضول دی په دی وجه) زه ستاسی څخه او دکوموچی تاسی دخدای څخه ماسوا عبادت کوی دهغوی څخه (بدناهم) لیری کیږم (لکه چی په زړه سره درڅخه دمخکی څخه لیری وم یعنی دلته اوسیږم هم نه) او (په اطمینان سره جداکیږم) دخپل رب به عبادت کوم (ځکه چی دلته اوسیږم نو تاسی به په دی کی زماسره مزاحمت کوی) امید (یعنی یقین) دی چی دخپل رب په عبادت کولو سره به زه محرومه نه سم (لکه بت پرست) چی دخپلو باطلو معبودانو عبادت کوی اومحرومه کیږی (غرض ددی خبرو څخه داسو چی پس د دوی څخه داسی جداسو چی دشام ملك ته ولاړی هجرت یی وکی) نوکله چی ددی خلکو څخه او دکوموچی دغو خلقو دخدای څخه ماسوا عبادت کوی دهغوی څخه (داسی) جدا سو نو مونږ ده ته اسحق (زوی) او یعقوب (لمسی) ورکړل (کوم چی دملگرتیا دپاره دده دبت پرستی وروړولی څخه په ډیرو درجو ښه وه) اومونږ (په دی دواړوکی) هریو نبی جوړکی او دی ټولوته مونږ (قسم قسم کوم الات ورکړل) دخپل رحمت حصه مو ورکړه (اوپه راتلونکو نسلونوکی) مونږ د دوی نوم نیك اولوړ کی (چی ټول یی په تعظیم اوصفت سره ذکرکوی او داسحق ﷺ څخه مخکی اسماعیل ﷺ ورته هم په دی صفتونو سره ورکړل سوی وو)

معلومات اومسئلې: (دصدیق تعریف)

صِدِّيقًا نَّبِيًّا ، لفظ دصدیق په کسری دصاد سره دقرآن یو اصطلاحی لفظ دی ددی په معنیٰ او په تعریف کی دعلماؤ اقوال مختلف دی . ځینی فرمایی چی کوم سړی په ټول عمرکی هیڅکله دروا‌غ نه وی ویلی هغه صدیق دی ځینی فرمایی چی کوم سړی په عقیده اوقول فعل کی صادق وی یعنی کوم اعتقادچی یی په زړه کی وی خاص هغه یی په ژبه وی او دده هرعمل اوهرحرکت اوسکون ددی عقیدی اوقول تابع وی . په روح المعانی اومظهری وغیره کی یی دا آخری معنیٰ اختیارکړې ده اوبیا دصدیقت درجی په تفاوت سره دی اصل صدیق خو نبی او رسول کیدی سی او دهر نبی او رسول دپاره صدیق کیدل لازمی وصف دی مګرددی عکس نه دی چی کوم صدیق وی هغه دی خامخا نبی وی بلکی غیر نبی هم کوم چی دخپل نبی او رسول په تابعداری کی دصدق دا مقام حاصل کړی هغه ته هم صدیق ویل کیږی حضرت مریم علیها السلام ته په خپل قرآن کریم د ، اُمُّهُ صِدِّيقَةٌ خطاب ورکړې دی او حال دا دی چی دجمهور امت په نزد دغه پیغمبره نه ده او هیڅ یوه ښځه نبی کیدی نه سی .

(خپلو مشرانو ته دنصیحت طریقه او دهغه آداب)

يَآ أَبَتِ ، دعربی لغت په اعتبار سره دا لفظ دپلار دتعظیم او دمحبت خطاب دی حضرت خلیل الله ﷺ ته چی الله ﷻ کوم مقام دجامعیت د اوصافو اوکمالاتو ورکړی وو دهغه دا تقریرکوم چی دخپل پلارپه وړاندی کوی دمزاج د اعتدال او درعایت داضدادو یو بی مثله تقریر دی چی یو طرف ته پلار په شرک کفر اوښکاره ګمراهی کی نه صرف اخته بلکی دهغه دعوت ورکوونکی وینی دکوم دورانولو دپاره چی حضرت خلیل الله ﷺ پیدا سوی وو. بل طرف ته دپلار ادب او عظمت اومحبت دی دی دواړو ضدینو حضرت خلیل الله ﷺ څنګه جمع کړل . اول خود : يَآ أَبَتِ لفظ کوم چی دپلار دمهربانی اومحبت داعی دی دهری جملی په شروع کی یی ددی لفظ اضافه وکړه . په دی سره یی خطاب وکی . بیاپه یوه جمله کی دپلار طرف ته څه لفظ داسی منسوب نه دی چی دده توهین یادل آزاری په کیږی چی ده ته ګمراه یاکافر وایی بلکی په پیغمبرانه حکمت سره یی صرف دده دبتانو بی وسی او بی پوهی ظاهره کړه چی دی په خپله دخپلی غلطی طریقی طرف ته توجه وکی . په دوهمه جمله کی یی دخپل دی نعمت اظهار وفرمایی کوم چی الله ﷻ ده ته دنبوت علمونه ورکړی وه په دریمه اوڅلورمه جمله کی یی دهغه بد انجام څخه بیرولوکوم چی ددی شرك اوکفر په نتیجه کی راتلونکی وو په دی باندی هم پلار پرځای دڅه غور اوفکر یاداچی دده په فرزندانه ګذارش باندی یی څه نرمی اختیارکړی وای په پوره زور اوسختی سره یی خطاب وکی حضرت خلیل الله ﷺ خو خطاب د: يَآ أَبَتِ په خوږ لفظ سره کړی وو چی ددی ځواب په يَا بُنَيَّ لفظ سره په کار وو مګر آزر دده نوم واخستی او په يَآ إِبْرَاهِيمُ سره یی خطاب وکی او ده ته یی دسنګسار کولو اوقتلولو بیره او دکور څخه دوتلو حکم ورکی ددی ځواب دحضرت خلیل الله ﷺ دطرف څخه څه

ورکول کیږي هغه داوریدو اویادولو قابل فرمایی.

سَلٰمٌ عَلَيْكَ . دلته لفظ دسلام د دوو معانیو دپاره کیدی سی اول دا چی سلام دقطع تعلق وی یعنی دې سره چی څوك تعلقات ختموی نو شریفانه اومهذبه طریقه یی دا ده چی دخبری دجواب ورکولو پرځای لفظ دسلام ووایی او جدا سی ور څخه لکه چی قرآن کریم دخپلو مقبولو اوصالحانو بندګانو په صفت کی بیان فرمایی وَاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا : یعنی کله چی جاهلان خلګ د دوی سره جاهلانه خبری کوی نو دوی ورته دجواب ورکولو په ځای لفظ دسلام وایی چی مطلب یی دا دی چی سره دمخالفته زړ تاته هیڅ تکلف او ضرر نه رسوم او دوهم مطلب یی دا دی چی دلته سلام دعرفی سلام په معنی کی وی نو په دی کی فقهی اشکال دا دی چی کافر ته مخکی سلام کول دحدیث په وجه سره منع دی . په صحیح بخاری او مسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی لَاتَبْدَءُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى بِالسَّلَامِ (یعنی یهودو اونصاراؤ ته په سلام سره ابتداء مه کوی) مګرددی په مقابله کی دحدیث په څینی روایتونو کی یو داسی مجمع ته ابتدائی سلام کول په خپله دنبی کریم ﷺ څخه ثابت دی په کوم چی کفار اومشرکان او مسلمانان ټول جمع وه لکه چی په صحیح بخاری اومسلم کی دحضرت اسامه ﷺ په روایت سره ثابت دی.

په دی وجه دامت فقهاؤ ددی په جواز اوعدم جوازکی اختلاف کړي دی دڅینی اصحابو او تابعینو او مجتهدینو امامانو دقول او عمل څخه ددی جواز ثابتیږی دځینو څخه عدم جواز چی تفصیل یی قرطبی په احکام القرآن کی تردی آیت لاندی بیان کړي دی او امام نخعی دا فیصله فرمایلی ده چی که تاسی نه دیو یهودی یانصرانی کافر سره دلیدو څه دینی یادنیوی ضرورت پیښ سی نو ده ته په ابتدائی سلام کولوکی څه باك نسته او بی ضرورته دسلام دابتداء کولو څخه ځان ساتل په کار دی . په دی کی د ذکرسوو دواړو حدیثونو تطبیق کیدی سی . والله اعلم (قرطبی)

سَاَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّيْ . دلته هم دا اشکال دی چی دیوکافر دپاره استغفارکول شرعًاممنوع اوناجائز دی حضور نبی کریم ﷺ خپل اکا ابوطالب ته فرمایلی وه چی وَاللهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ مَالَمْ اُنْهَ عَنْهُ (یعنی په خدای قسم دی چی زه به ستادپاره ترهغه پوری داستغفار دعا کوم تر څو پوری چی دالله ﷻ دطرف څخه زه منع نه سم) په دی باندی داآیت نازل سو مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ (یعنی نبی اوایماندارو ته جائز نه دی چی دمشرکانو دپاره استغفارکوی ددی آیت په نازلیدو باندی دوی ﷺ دخپل اکا دپاره استغفار کول پریښوول)

داشکال ځواب دا دی چی دحضرت ابراهیم ﷺ دپلار سره وعده کول چی زه به ستا دپاره دمغفرت دعاکوم دا واقعه دممانعت څخه مخکی ده ددی څخه وروسته دی منع سو په سورة ممتحنه کی په خپله حق تعالی دا واقعه په طور داستثناء ذکر کړي ده اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ .

او ددې خبره زياته واضحه په سورة توبه کې د ذکر سوې آيت مَاكَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ آمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا څخه وروسته فرمايي وَمَاكَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلاَّ عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ : ددې څخه معلومه سوه چې دا استغفار او دده وعده دپلار پرکفر دټينګ پاته کيدو او دخداى ددښمن ثابتيدو څخه مخکې وه کله چې دا حقيقت واضح سو نو دوى هم دبيزاره کيدو اعلان وکې .

وَاَعْتَزِلُكُمْ وَمَاتَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَاَدْعُوْا رَبِّيْ · يو طرف ته خو حضرت خليل الله ﷺ دپلار د ادب او محبت په رعايت کې دا انتها وکړه دکومې ذکرچې لوړ راغلى دى بل طرف ته يې دا هم ونه کړه چې دحق په اظهار او پردى باندى مضبوط کيدو ته څه ادنى غوندى ګوذار هم ولګيږي . پلار چې دکور څخه دوتلو حکم ورکړى وو دا يې په دى جمله کې په خوښى سره منظور کې او ددى سره يې دا هم وښووله چې زه ستاسې دبتانو څخه بيزاره يم صرف خپل رب بلم .

فَلَمَّااعْتَزَلَهُمْ وَمَايَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَهَبْنَالَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ · ددى جملې څخه په مخکې جمله کې د حضرت ابراهيم ﷺ دا قول راغلى دى چې زه اميدکوم چې زه دخپل پروردګار څخه په دعا کولو کې ناکام او نامراد کيږم نه . ظاهره ده چې دکور او خاندان دجدايى څخه وروسته ديوازى والى دوحشت وغيره داثراتو څخه دمحفوظ کيدو دعا مراد وه په ذکرسوى جمله کې ددى دعا قبوليت داسى بيان سوي دى چې کله حضرت ابراهيم ﷺ دالله ﷻ دپاره خپل کور خاندان او د دوى معبودان پريښوول نوالله ﷻ دهغه بدله داسى وفرمايله چې دوى ته يې زوى حضرت اسحٰق ﷺ ورکې او ورسره يې دده اوږد عمر کيدل اوصاحب د اولاد کيدل هم په لفظ ديعقوب زياتولو سره ذکر کې او د زوى ورکول ددى دليل دى چې ددى څخه مخکې يې نکاح سوى وه نو ددى مطلب دا سو چې دپلار ترخاندان ښه يو مستقل جدا خاندان يې ورکې کوم چې پر انبياؤ او صالحانو باندى مشتمل وو .

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ مُوْسٰٓى اِنَّهٗ كَانَ مُخْلَصًا وَّكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۱﴾ وَنَادَيْنٰهُ مِنْ جَانِبِ

اوذکروکړه په کتاکې دموسى بيشکه هغه وو خاص کړل سوى او وو رسول نبى او اواز وکې مونږ ده ته

الطُّوْرِ الْاَيْمَنِ وَقَرَّبْنٰهُ نَجِيًّا ﴿۵۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ

په راسته طرف دکوه طوراونژدى راوغوښتل مونږدى درازويلودپاره اووبخښى مونږده ته په خپلى مهربانى

هٰرُوْنَ نَبِيًّا ﴿۵۳﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ

سره ورور دده هارون نبى ، او ذکر وکړه په کتاب کې داسماعيل ﷺ بيشکه وو رښتونى دوعدى

وَكَانَ رَسُولًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ وَكَانَ يَأْمُرُ أَهْلَهُ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ وَكَانَ

او وو رسول نبي ، او حكم كوونكى وو ، خپل كور والاؤ ته دلمونځ او زكوٰة ، او وو

عِنْدَ رَبِّهِ مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ إِدْرِيسَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا

دخپل رب په نزد غوره سوى ، او ذكر وكړه په كتاب كى د ادريس ﷺ هغه وو رښتونى

نَّبِيًّا ﴿۵۶﴾ وَّرَفَعْنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ﴿۵۷﴾ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

نبي ، او پورته كى مونږ هغه پر لوړ مكان ته ، دا هغه خلق دى په كومو چى انعام كړى دى الله ﷻ

مِّنَ النَّبِيّٖنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ اٰدَمَ وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ وَّمِنْ

دپيغمبرانو څخه دادم ﷺ په اولاد كى او دهغو څخه چى سپاره كړل مونږ دنوح ﷺ سره

ذُرِّيَّةِ إِبْرٰهِيمَ وَإِسْرَآءِيلَ وَمِمَّنْ هَدَيْنَا وَاجْتَبَيْنَا إِذَا تُتْلٰى

اوداولاد دابراهيم ﷺ اواسرا فيل څخه اودهغو څخه چى مونږ ورته هدايت وكى او غوره مو كړل هركله

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا ﴿۵۸﴾ السجدة

چى ويل كيږي دوى ته ايتونه درحمن پريوزي پر سجده باندى ژړيدونكى .

لنډتفسير: او په دى كتاب (يعني قرآن كريم) كى دموسىٰ (ﷺ) هم ذكر وكړه (يعني خلقو ته يى واوروه كه نه وي نو په كتاب كى ذكر كوونكى خو په حقيقت كى الله ﷻ دى) هغه بيشكه دالله ﷻ خاص سوى (بنده) وو اوهغه رسول هم وو نبي هم وو او مونږ هغه ته دكوه طور په راسته اړخ كى آواز وركى او مونږ هغه د راز دخبرو كولو دپاره مقرب جوړ كى او مونږ هغه ته په خپل رحمت (او عنايت) سره دهغه ورور هارون (ﷺ) نبي جوړ كړى وركى (يعني دهغه د درخواست مطابق مونږ ده ته نبوت وركى چى دده مدد وكى) او په دى كتاب كى داسماعيل (ﷺ) هم ذكرو كړه بيشكه هغه دوعدى (لوى) رښتنى وو اوهغه رسول هم وو نبي هم وو او خپلو تعلقدارانو ته به يى دلمونځ او زكوٰة (خصوصًا او دنورو احكامو هم عمومًا) حكم كوى او دى دخپل پروردگار په نزد خوښ سوى وو او په دى كتاب كى دادريس (ﷺ) هم ذكر وكړه بيشكه هغه لوى رښتنى نبي وو او مونږ دى (په كمالاتو كى) لوړى مرتبى ته ورسوى دا (حضرات دكوموچى دسورة

دشروع ښخه تردې پورې ذکر وسو د زکریا ﷺ ښخه تر ادریس ﷺ پورې دا) هغه خلق دي پرکوموچې الله ﷻ (خاص) انعام فرمایلی دی (چنانچي دنبوت ښخه لوی به بل کوم یو نعمت وی) دنورو پیغمبرانو (علیهم السلام) ښخه چې دا وصف په دې ټولو ذکر سوو کې مشترك دی دا ټول) دآدم (ﷺ) دنسل ښخه او (ځینې په دوی کې) دهغو خلقو دنسل ښخه (وه) کوم چې مونږ دنوح (ﷺ) سره (په کښتۍ کې) سپاره کړی وه (چنانچي بغیر د ادریس ﷺ ښخه چې هغه دنوح ﷺ دنیکونو ښخه وو په باقی ټولو کې دا وصف سته) او (ځینی په دوی کې) د ابراهیم (ﷺ) اویعقوب (ﷺ) دنسل ښخه (وه چنانچي زکریا یحیٰی عیسٰی اوموسٰی علیهم السلام د دواړو د اولاد ښخه وو او اسحٰق اسماعیل او یعقوب علیهم السلام صرف دحضرت ابراهیم ﷺ د اولاد ښخه وو) او (دا ټول حضرات) دهغو خلقو ښخه (وه) کومو ته چې مونږ هدایت وفرمایی او مقبول مو جوړ کړل (او باوجود ددې مقبولیت او خاصوالي ددې ټولو ذکر سوو حضراتو دبندګی دا حال وو چې) کله به د دوی په مخکی د (حضرت) رحمٰن آیتونه ویل کیدل نو (د ډیری عاجزی انکسار او انقیاد داظهار دپاره) به سجده کوونکی او ژړیدونکی (په مخکه) پریوتل.

معلومات اومسئلي: كَانَ مُخْلَصًا· مُخْلَص په فتح دلام سره هغه سړی دی کوم چې دالله ﷻ دپاره یی ځان خالص کړی وی، یعنی دچاچی دغیرالله طرف ته التفات نه وی اوخپل نفس اوټول خواهشات یی دالله ﷻ د رضادپاره مخصوص کړی وی دا دول په خصوصی طور سره دانبیاؤ علیهم السلام وی، لکه چې په قرآن کی بل ځای ارشاد دی اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ· یعنی مونږ دوی مخصوص کړي دی په یو خاص کار یعنی دآخرت دکور دیادیدو دپاره په امت کی چې کاملین حضرات دپیغمبرانو علیهم السلام پرنقش قدم باندې وی دوی ته هم ددې مقام یوه درجه ورکول کیږی د دوی نښانه دا وی چې دوی په قدرتي طور سره دګناهونو ښخه محفوظ کیږی دالله ﷻ حفاظت د دوی سره وي.

مِنْ جَانِبِ الطُّوْرِ· دا مشهور غر په شام کی دمصر او مَدْیَن په مینځ کی واقع دی، نن هم په دی نوم سره مشهور دی حق تعالی ده ته هم په ډیرو شیانو کی یو خصوصیت او امتیاز ورکړي دی.

الْاَيْمَنِ· دکوه طور دا رسته جانب یی دحضرت موسٰی ﷺ په اعتبار سره ښوولی دی ځکه چې دی دمدین ښخه تللی وو کله چې طور ته ورسیدی نو کوه طور دده راسته ته وو. نَجِيًّا، پټه مشوره او خصوصی کلام ته مناجات او دچا سره چې یی کوی هغه ته نجی وایی.

وَوَهَبْنَا لَهٗ مِنْ رَّحْمَتِنَآ اَخَاهُ هٰرُوْنَ· دهبی لفظی معنٰی بخشش دی حضرت موسٰی ﷺ دعا کړی وه چې دده دامداد دپاره حضرت هارون ﷺ نبی جوړ سی دا دعا قبوله سوه دا یی په لفظ دَ وَهَبْنَا سره تعبیرکړی دی، یعنی مونږ بخشش ور کی حضرت موسٰی ﷺ ته دحضرت هارون ﷺ په دی وجه حضرت هارون ﷺ ته هبة الله هم ویل کیږي، (مظهری)

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ· ظاهره ده چې ددې ښخه مراد حضرت اسمٰعیل ﷺ بن حضرت ابراهیم ﷺ

دی مگر دده ذکر یی دده دپلار او ورور حضرت ابراهیم او حضرت اسحٰق ﷺ د ذکرسره ونه فرمایی بلکی دحضرت موسٰی ﷺ ذکر یی په مینځ کی دراوړو څخه وروسته دده ذکر وفرمایی شاید ددی څخه مقصود د دوی د ذکر خاص اهتمام کول وی چی دضمنی ذکر کولو پرځای یی ورلره مستقلاً ذکر وکړی او دلته چی دڅومره پیغمبرانو علیهم السلام ذکر سوی دی په دی کی یی د دوی دبعثت د زمانی ترتیب نه دی ایښی ځکه چی حضرت ادریس ﷺ دکوم ذکر چی دټولو څخه وروسته راځی ، دی دزمانی په لحاظ سره دټولو څخه اول دی .

كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ " دوعدی پوره کول یو داسی ښه خوی دی چی هر شریف سړی دا ضروری گڼی او ددی خلاف کول یو رذیل حرکت گڼی په حدیث کی یی وعده خلافی ته دنفاق نښه ویلی ده . په دی وجه دالله ﷻ یو نبی او رسول هم داسی نسته کوم چی دوعدی رښتینی نه وی مگر دکلام په دی سلسله کی دخاصو خاصو انبیاؤ علیهم السلام د ذکر سره څه خاص وصف هم ذکر کړي دی ددی دا مطلب نه دی چی دا وصف په نورو کی نسته بلکی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی په ده کی دا خاص صفت یو امتیازی حیثیت لري لکه اوس چی دحضرت موسٰی ﷺ د ذکرسره دده مخلص والی ذکر سوی دی حال دا دی چی دا صفت هم په ټولو انبیاؤ علیهم السلام کی عام دی مگر حضرت موسٰی ﷺ ته په دی کی یو خاص امتیاز حاصل وو په دی وجه یی دده د ذکر سره ددی ذکر وفرمایی .

دحضرت اسمٰعیل ﷺ دوعدی دربنتینوالی امتیاز په دی بنا باندی دی چی ده دکوم شی وعده دالله ﷻ یا دیو بنده سره وکړه هغه یی په ډیره مضبوطتیا او اهتمام سره پوره کړه . دوی ﷺ دالله ﷻ سره وعده کړی وه چی خپل ځان به دذبح کولو دپاره پیش کوی او صبر به په کوی په دی کی پوره وختی . دیو سړی سره یی په یو ځای کی دلیدو وعده کړی وه هغه پر وخت باندی رانغی دهغه په انتظار کی دری ورځی او په څینی روایتونو کی یو کال دهغه په انتظار کی وو . (مظهری)

او زمونږ نبی کریم ﷺ څخه هم په ترمذی کی په روایت دعبدالله ابن ابی الخمساء داسی واقعه دوعدی کولو او دری ورځی په هغه ځای دانتظار کولو نقل ده . (قرطبی)

(دوعدی پوری کولو اهمیت او ددی درجه)

وعده پوره کول دانبیاؤ اوصالحانو خاص وصف او دټولو شریفو انسانانو عادت دی ددی خلاف کول دفاسقانو او فاجرانو او رذیلانو خلقو خصلت دی په حدیث کی دنبی کریم ﷺ ارشاد دی اَلعِدَةُ دَيْنٌ وعده یو قرض دی یعنی لکه څنگه چی دقرض ادا کول پر انسان لازم دی دغه ډول وعده پوره کول هم لازم دی . په یو بل حدیث کی دا الفاظ دی وَاَیُ الْمُؤمِنِ وَاجِبٌ یعنی وعده دمومن واجب ده .

فقهاء حضرات په اتفاق سره فرمایی چی دوعدی قرض والی او دوعدی دپوره کولو واجبوالی په دی معنی کی دی چی بغیر دشرعی عذر څخه ددی نه پوره کول گناه ده لیکن دغه داسی قرض نه دی چی په

عدالت سره ددی چاره جویی وسی او په زبردستی وصول سی کوم چی دفقهاؤ په اصطلاح کی داسی تعبیرکیږی چی دیانتًا واجب دی قضاءً واجب نه دی . (قرطبی وغیره)

(د اصلاح کوونکي فرض دی چي د اصلاح کار دخپل اهل او عیال څخه شروع کیږی)

كَانَ يَأْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ " دحضرت اسمٰعیل ﷺ په خصوصی صفتونو کی یو دا هم بیان فرمایي چی ده به خپل اهل او عیال ته دلمونځ او زکوٰة حکم کوی دلته دا سوال پیدا کیږی چی دا کار خو دهر مومن مسلمان په ذمه واجب دی چی خپل اهل او عیال ته دنیکو کارونو هدایت کوی په قرآن کریم کی عامو مسلمانانو ته خطاب دی . قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا ، یعنی وساتی خپل ځانونه او خپل اهل اوعیال د اور څخه بیا په دی کی دحضرت اسمٰعیل ﷺ خصوصیت څه دی خبره دا ده چی دا حکم که څه هم چی عام دی او ټول مسلمانان په دی مکلف دی لیکن حضرت اسمٰعیل ﷺ به ددی په اهتمام او انتظام کی امتیازی کوشش فرمایی لکه چی نبی کریم ﷺ ته هم دا په خصوصیت سره هدایت ورکول سوی وو چی وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ " یعنی دخپل خاندان قریبی رشته داران د الله ﷻ دعذاب څخه وبیروه دوی ﷺ ددی حکم په منلو کی خپل خاندان والا راجمع کړل او خصوصی خطاب یی ورته وفرمایی .

دوهمه خبره دا دغور قابله ده چی انبیاء علیهم السلام ټول دپوره قوم دهدایت دپاره مبعوث سوی وی او دوی ټولو ته دحق پیغام رسوی او دالله ﷻ دحکم پابندی کوی نو د اهل او عیال په خصوصیت کی څه حکمت دی ؟ خبره دا ده چی دپیغمبرانه دعوت خاص اصول دی په دی کی دا اهمه خبره ده چی کوم هدایت دخدای عام مخلوق ته ورکوی هغه اول دخپل کور څخه شروع کی خپل کور والاوو ته ددی منل او زده کول نسبتًا آسان هم وی او نګرانی یی هم هر وخت کیدی سی او کله چی په دوی کی یو خاص رنګ اختیار کی او په کی پوخ سی نو په دی سره یو دینی ماحول پیداسی . ددعوت په عام کولو او دنورو په اصلاح کولو کی ورڅخه لوی قوت پیداسی دخلقو داصلاح دپاره دټولو څخه زیات اثرکوونکی شی یوصحیح دینی ماحول په وجود کی را وستل دی . تجربه شاهده ده چی هره نیکی یابدی دتعلیم او دزده کړی او افهام او تفهیم څخه زیات دماحول په ذریعه سره خپریږی او زیاتیږي .

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِدْرِيْسَ " حضرت ادریس ﷺ دحضرت نوح ﷺ څخه زر کاله مخکی دحضرت نوح ﷺ په نیکونو کی تیر سوی دی (روح المعانی بحواله مستدرك حاکم) او دوی ﷺ دحضرت آدم ﷺ څخه وروسته اولنی نبی او رسول دی په کوم چی الله ﷻ دیرش صحیفی نازلی کړی (لکه چی په حدیث دابی ذر زمخشری کی دی اوحضرت ادریس ﷺ دټولو څخه اولنی انسان دی کوم ته چی علم نجوم اوحساب په طور دمعجزی ورکړل سو (بحرِ محیط) او دټولو څخه اولنی انسان دی چاچی په قلم سره لیکل اوکپړی ګنډل ایجادکړل ، دده څخه مخکی به خلقو په عام طور سره دحیوانانو څرمنی دکالو پرځای استعمالولی او دټولو څخه مخکی دناپ اوتول طریقی هم دوی ایجاد کړی او داسلحی ایجاد هم د دوی څخه شروع

سو دوی اسلحه تیاره کړه او دهنو قابیل سره یې جهاد وکړی (بحرِ محیط مظهری روح)

وَرَفَعۡنٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا: یعنی مونږ حضرت ادریس ﷺ لوړ مقام ته پورته کړ معنٰی دا ده چې دوی ﷺ یې دنبوت رسالت او قرب الهی خاص مقام ته پورته کړ معنٰی دا ده چې ده ﷺ ته دنبوت رسالت اوقرب الهی خاص مقام ورکړل سو او په ځینو روایتونو کې چې د دوی آسمان ته پورته کول نقل دی ددی متعلق ابن کثیر رحمه الله فرمایی.

هٰذَا مِنۡ اَخۡبَارِ كَعۡبِ الۡاَحۡبَارِ الۡاِسۡرَآءِيۡلِيَّاتِ وَفِيۡ بَعۡضِهٖ نَكَارَةٌ.

دا دکعب احبار داسرائیلی روایتو څخه دی او په دی کې په ځینو کې نکارت او اجنبیت دی.

او دقرآن کریم ذکر سوی الفاظ په هرحال کې په دی معامله کې صریح نه دی چې دلته دمرتبې پورته والی مراد دی اوکه ژوندی آسمان ته پورته کول مراد دی په دی وجه دده آسمان ته پورته کول قطعی نه دی او دقرآن تفسیر په دی موقوف نه دی. (بیان القرآن)

فائده: (دبیان القرآن څخه د رسول او نبي په تعریف کي فرق او دیو بل سره یي نسبت)

درسول او نبی په تعریف کې ډیر قولونه دی په مختلفو آیتونو دغور کولو څخه وروسته چې کومه خبره د احقر په نزد ثابته سوې ده هغه دا ده چې ددی دواړو په مفهوم کې نسبت دعموم او خصوص من وجه دی ، رسول هغه دی کوم چې مخاطبو ته نوی شریعت ونبیی برابره خبره ده که دغه شریعت په خپله ددی رسول په اعتبار سره هم نوی وی لکه تورات وغیره یاصرف دده دامت په اعتبار سره نوی وی لکه دحضرت اسماعیل ﷺ شریعت دغه په اصل کې دحضرت ابراهیم ﷺ پخوانی شریعت وو ، لیکن دجرهم قوم کوم ته چې دی ﷺ مبعوث سو دوی ته ددی شریعت علم اول نه وو ، دحضرت اسماعیل ﷺ په ذریعه ورته وسو ، ددی معنی په اعتبار سره درسول دپاره نبی والی ضروری نه دی ، لکه ملائکې ، چې دوی رسولان دی ، مګر نبیان نه دی یالکه چې دحضرت عیسٰی ﷺ لیږل سوو قاصدانو ته دقرآن په آیت ، اِذۡ جَآءَهَا الۡمُرۡسَلُوۡنَ ، کې رسولان ویل سوي دی ، حال دا دی چې دغه انبیاء نه وه.

او نبی هغه دی کوم چې صاحب وحی وی برا بره خبره ده که دنوی شریعت تبلیغ کوی یا دپخوانی شریعت لکه دبنی اسرآئیلو زیات تره انبیاؤ علیهم السلام به دشریعت موسوی تبلیغ کوی ، ددی څخه معلومه سوه چې په یو اعتبار سره لفظ د رسول دنبی څخه عام او په بل اعتبار سره لفظ دنبی د رسول څخه عام دی په کوم ځای کې چې دا دواړه لفظونه پر یو ځای استعمال سوي دی لکه په ذکر سوو آیتونو کې رَسُوۡلًا نَّبِيًّا را غلی دی هلته خو هیڅ اشکال نسته ځکه چې خاص او عام دواړه یو ځای کیدی سی څه تضاد نسته لیکن کوم ځای چې دا دواړه لفظونه دیو بل سره متقابل راسی لکه وَمَآ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ وَّلَا نَبِيٍّ ، کې خو دلته په قرینه دمقام سره لفظ دنبی خاص دهغه سړی په معنٰی کې اخستل کیږی کوم چې دتیر شریعت تبلیغ کوی.

أُولٰئِكَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيِّيْنَ مِنْ ذُرِّيَّةِ آدَمَ ، ددی ځخه مراد صرف حضرت ادريس ﷺ دی .

وَمِمَّنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوْحٍ ، ددی ځخه مراد صرف حضرت ابراهيم ﷺ دی .

وَمِنْ ذُرِّيَّةِ اِبْرٰهِيْمَ . ددی ځخه مراد حضرت اسمٰعيل او حضرت اسحٰق او حضرت يعقوب عليهم السلام دی

. وَاِسْرَآءِيْلَ ، ددی ځخه مراد حضرت موسٰی هارون زکريا اويحيٰی عليهم السلام دی .

اِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ آيٰتُ الرَّحْمٰنِ خَرُّوْا سُجَّدًا وَّبُكِيًّا، په تيروآيتونو کی دځومشرانو انبياؤعليهم السلام ذکرپه خاص طورسره سوي دی چی په دی کی د دوی لوی شان بيان سوي دی چونکی دانبياؤ عليهم السلام په عظمت کی دعواموځخه دزياتی کولوبيره وه لکه يهودوچی حضرت عزير ﷺ اونصاراؤحضرت عيسٰی ﷺ خدای جوړکړي دی په دی وجه ددی تولوځخه وروسته يی ددوی دټولود الله ﷻ په مخکی سجده کوونکی او د بيری ترهی ځخه دك والی په دی آيت کی ذکرکی چی دافراط اوتفريط په مينځ کی پاته سی (بيان القرآن)

(دقرآن دتلاوت په وخت کي ژړل يعني آبديده کيدل سنت انبياء دی)

ددی ځخه معلومه سوه چی دقرآن دآيتونو دتلاوت په وخت کی ژړل يعنی دژړا دول پيدا کول ستايل سوی او دانبياؤ عليهم السلام وصف دی . دنبی کريم ﷺ ځخه داصحابو ﷺ اوتابعينو(رح) او د اولياء الله ځخه ډير داسی واقعات نقل دی .

قرطبی فرمايي چی عالمانو دا خبره مستحب مقرر کړي ده چی په قرآن کريم کی دسجدی کوم آيت چی تلاوت کړل سی دهغه په سجده کی دی دهغه په مناسبت سره دعا کول کيږی ، مثلاً په سورة سجده کی دی دا دعا کوی . اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ السَّاجِدِيْنَ بِوَجْهِكَ الْمُسَبِّحِيْنَ بِحَمْدِكَ وَاَعُوْذُبِكَ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْتَكْبِرِيْنَ مَنْ اَمْرِكَ ، اودسُبْحَانَ الَّذِيْ ، په سجده کی دې دا دعاکوی ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ الْبَاكِيْنَ اِلَيْكَ الْخٰشِعِيْنَ لَكَ ، او ددی ذکر سوی آيت خَرُّوْا سُجَّدًا ، په سجده کی دی دا دعا کوی ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنْ عِبَادِكَ الْمُنْعَمِ عَلَيْهِمُ الْمَهْدِيِّيْنَ السَّاجِدِيْنَ لَكَ الْبَاكِيْنَ عِنْدَ تِلَاوَةِ آيٰتِكَ . (قرطبی)

فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا ﴿۵۹﴾

بيا د دوی په ځای راغلل نا اهله چی ضائع يی کی لمونځ او وريسی سول په خواهشاتو پس مخکې به ووينی

اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

گمراهی ، مګر چاچی توبه وکړه او ايمان يی راووړی او نيک عمل يی وکی نو دغه خلق به داخل سی جنت ته

وَلَا يُظْلَمُوْنَ شَيْـًٔا ﴿۶۰﴾ جَنّٰتِ عَدْنِ ﹰالَّتِيْ وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهٗ

او د دوی حق به ضائع نه سی هيڅ ، په باغونو داوسيدو کی دکومو چی وعده کړی ده رحمن خپلو باندګانو سره

بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا ﴿٦١﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا إِلَّا سَلٰمًا ۖ

په غيبه ، بيشکه دهغه وعدې ته رسيدلې دى ، نه به اورى هلته فضول خبرې ما سوا دسلام څخه

وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا ﴿٦٢﴾ تِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي نُورِثُ مِنْ

او د دوى دپاره دى د دوى رزق هلته سهار او ماښام ، دا هغه جنت دى کوم چې به يې په ميراث کې

عِبَادِنَا مَنْ كَانَ تَقِيًّا ﴿٦٣﴾

ورکې مونږ په خپلو بندګانو کې هغو ته چې وى پرهيز ګار .

لنډتفسير: بيا د دوى (ذکرسوو) څخه وروسته (ځينې) داسې نااهله پيدا سول کومو چې لمونځ برباد کې (برابره خبره ده که اعتقاداً چې انکار يې وکې ياعملاً چې په ادا کولو کې ياضرورى حقونو اوآدابو کې يې کوتاهي وکړه) او (په نفساني ناجائزو) خواهشونو پسې سول (کوم چې دضرورى اطاعت څخه غافله کوونکي وو) پس داخلګ به ډير ژر (په آخرت کې) خرابي ووينې (برابره خبره ده که هميشه وى اوکه غيرِ هميشه) البته مګر کوموچې (دکفر او نافرمانۍ څخه) توبه وکړه (اومطلب دکفرڅخه دتوبه کولو دا دى چې) ايمان يې راوړى او (دنافرمانۍ څخه توبه کول دا دى چې) نيک کارونه يې وکړل پس دا خلق به (بغير دخرابۍ ليدو) جنت ته ځي او (دجزا ورکول کيدوپه وخت کې به) د دوى ذره نقصان ونه کړل سي (يعني دنيک عمل جزا به ورته ورکړل سي يعني) دهميشه پاته کيدوپه باغونوکې (به وى) دکوموچې رحمٰن دخپلو بندګانوسره غائبانه وعده فرمايلې ده (او) دى وعده سوى شي ته به دا خلګ ضرور ورسيږي ، په دى (جنت) کې به دغه خلګ څه فضول خبره وانه ورى (ځکه چې هلته به فضول خبره دسره نه وى) بغير (دملائکو او ديوبل) دسلام (کولو) څخه (اوظاهره ده چې په سلام سره ډيره خوشحالي او راحت رسيږي نو دغه فضول نه دى) او دوى ته به سهار ماښام خوراک ورسيږي (يعني دا خوبه په معين طورسره وى او هسې هم که بل وخت وغواړى ورکول کيږي به) دا جنت (دکوم چې ذکروسو) داسې دى چې مونږ به په خپلوبندګانو کې ددې مالکان داسې خلق جوړ کو کوم چې دخداى څخه بيريدونکي وى (کوم چې مبنٰى د ايمان او نيک عمل ده) .

﴿ معلومات اومسئلي ﴾

خَلْفٌ : دالفظ په سکون دلام دبَدْ قائمقام دناکاره اولاد دپاره ، او په فتح دلام سره دنيک قائمقام او ښه اولاد دپاره استعماليږي . (مظهرى)

دمجاهد رحمه الله قول دى چې دا واقعه به قيامت ته نژدې د امت دصالحانو دختميدو څخه وروسته وى چې لمانځه ته به التفات پاته نه سى اوفسق اوفجور به ښکاره په ښکاره شروع سى .

(لمونځ بې وخته يابغير دجماعت څخه كول دلمونځ ضائع كول او عظيمه ګناه ده)

اَضَاعُوا الصَّلٰوةَ : دلمونځ دضائع كولوڅخه دجمهورو تفسير ليكونكو عبدالله ابن مسعود ﷺ نخعي قاسم مجاهد ابراهيم عمربن عبدالعزيز وغيره په نزد لمونځ دده دوخت څخه وروسته كول دي اوځيني حضرات فرمايي چې دلمونځ په ادابو اوشرطونوكې په څه كې كوتاهي كول (چې په دې كې وخت هم دا خل دي) دلمانځه ضائع كول دي اوځيني حضرات فرمايي چې لمونځ بې جماعته په كور كې كول دلمانځه ضائع كول دي (قرطبي بحرمحيط)

حضرت فاروق اعظم ﷺ دحكومت خپلوټولو كاركوونكو ته داهدايت نامې ليكلې ليږلې وې.

اِنَّ اَهَمَّ اَمْرِكُمْ عِنْدِي الصَّلٰوةُ فَمَنْ ضَيَّعَهَافَهُوَلِمَاسِوَاهَااَضْيَعُ (موطاء مالك رحمه الله) زماپه نزد ستاسې په ټولو كارونو كې دټولو څخه زيات اهم لمونځ دې نو كوم سړې چې لمونځ ضائع كوي دغه سړې به نور ټول ددين احكام هم زيات ضائع كوي.

حضرت حذيفه ﷺ يو سړې وليدې چې دلمانځه په آدابو او د اركانو په برابرولو كې يې كوتاهي كوله نو ده ور څخه پوښتنه وكړه چې ته دكوم وخت څخه دا لمونځ كوې ، هغه وويل چې دڅلويښتو كالو څخه ، حضرت حذيفه ﷺ ورته وفرمايل چې تا يو لمونځ هم نه دې كړې اوكه ته داسې لمونځونه كوې او مړ سې نو ياد ساته چې دمحمد ﷺ دفطرت څخه خلاف به مړ سې.

په ترمذي كې دحضرت ابومسعود انصاري څخه روايت دې چې نبي كريم ﷺ فرمايي چې دهغه سړې لمونځ نه كيږي كوم چې په لمانځه كې اقامت نه كوي مراد دا دي چې څوك په ركوع اوسجده او دركوع څخه په پورته كيدو او د دوه سجدو په مينځ كې دسيده كښينستو اهتمام نه كوي دده لمونځ نه كيږي.

لنډه دا چې كوم سړې په او دس اوپاكۍ كې كوتاهي وكړه يايې دلمانځه په ركوع سجده يا د دواړوپه مينځ كې په دريدو اوكښينستو كې يې تلوار وكې ده لمونځ ضائع كې.

حضرت حسن رحمه الله دلمانځه ضائع كولو او شهواتو دتابعدارۍ په باره كې فرمايي چه جماتونه يې خوشې كړل او په صنعت تجارت خواهشاتو اولذتونو كې مشغول سول.

امام قرطبي ددې روايتونو نقل كولو څخه وروسته فرمايي چې نن په اهل علمو او اصلاح كوونكوكې داسې خلګ ليدل كيږي كوم چې دلمانځه د آدابو څخه غافله محض نقل اوحركت كوي. دا دشپږمې صدۍ هجري حال وو چې په دې كې داسې خلګ خال خال ليدل كيداى سول. نن دا صورت حال په عامو لمونځ كوونكو كې دې. اِلَّامَاشَآءَ اللهُ نَعُوْذُبِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَاَعْمَالِنَا.

وَاتَّبَعُوا الشَّهَوٰتِ : دشهوات څخه مراد ددنيا هغه خوندونه دي كوم چې انسان د الله ﷻ دياداو اولمانځه څخه غافله كوي حضرت علي ﷺ فرمايي چې دشاندارو كورونو آبادول او په داسې شاندارو سپرليو باندې سپريدل چې خلګ يې تماشې كوي او داسې جامې چې دعامو خلګو څخه په كښې دده شان اعلى

ښکاري په دې ذکرسوو شهواتوکې دا خل دي . (قرطبي)
فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا: لفظ دغيّ په عربي ژبه کې درشاد مقابل دی هرخیر اونیکی ته رشاد وایی او هری بدی اوشرته غی وایی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه نقل دی چی غی په جهنم کی دیوغارنوم دی چی دټول جهنم څخه په کی زیات قسم قسم عذابونه جمع دی ابن عباس ﷺ فرمایی چی غی دجهنم دیوغارنوم دی چی دهغه څخه جهنم هم پناه غواړي . داالله ﷻ دهغه زناکار دپاره تیارکړي دی کوم چی پرخپلی زنا کاری باندی اصرارکوونکی اوعادی وی اودهغه شرابی دپاره کوم چی دشرابوعادی وی اودهغه سودخوردپاره کوم چی دسودخوری څخه نه منع کیږی اودهغوخلکودپاره کوم چی دموراوپلارنافرمانی کوی او ددرواغو دشاهدی کوونکودپاره اودهغه ښځی دپاره کومه چی دبل بچی دخپل خاوندبچی جوړکی (قرطبي)
لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا: دلغو څخه مراد باطل کلام فضول خبری ښکنځل او آزار رسونکی خبری دی چی جنتیان به ددی څخه پاك صفا وی څه داسی کلمه به د دوی په غوږونو کی پری نه وزی کومه چی دوی ته رنج او تکلیف رسوی .
اِلَّا سَلٰمًا : استثناء منقطع ده مراد دا دی چی هلته دچا څه خبره په غوږونوکی راځی هغه به دده په سلامتی او خوشحالی کی زیاتوالی کوی . اصطلاحی سلام په دی کی هم دا خل دی کوم چی جنتیان به یی یوبل ته کوی او ملائکی دخدای به یی دوی ته کوی . (قرطبي)
وَلَهُمْ رِزْقُهُمْ فِيْهَا بُكْرَةً وَّعَشِيًّا: په جنت کي به دا نظام شمسی ختل پریوتل یاشپه او ورځ خو به نه وی یوقسم رڼابه هر وخت وی . مگر دشپی او ورځی سهار اومانبام فرقونه به په څه خاص انداز سره وی چی په هغوسره به جنتیانوته د دوی رزق سهار مانبام رسیږی داخو ظاهره ده چی جنتیانوته څه وخت دڅه شی خواهش وسی نو هم په هغه وخت به پوره کول کیږی وَلَهُمْ مَّا يَشْتَهُوْنَ ، عام اعلان دی بیا دسهار او مانبام دتخصیص وجه د انسانی عادت اوفطرت پربناء باندی ده چی دوی سهار اومانبام دخوراك اوڅیښاك سره عادت دی ، عرب وایی کوم سړی ته چی دسهار اومانبام خوراك پوره رسیږی دغه سړی آرام او عیش والا دی .
حضرت انس بن مالك رحمه الله دا آیت تلاوت کی او وي فرمایل چی ددی څخه معلومیږی چی دمومنانو خوراك په ورځ کی دوه واره دی سهار او مانبام .
او ځینی حضرات فرمایی چی دلته دسهار مانبام لفظ یی ووایه مراد یی عموم دی لکه دشپی او ورځی لفظ هم یادمشرق اومغرب لفظ دعموم دپاره ویل کیږی څه خاص وخت یاځای ورڅخه مرادنه وی ، نومطلب دا سو چی د دوی رزق به د دوی دخواهش مطابق هر وخت موجود وی . والله تعالی اعلم (قرطبي)

وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ ۚ لَهُ مَا بَيْنَ أَيْدِينَا وَمَا خَلْفَنَا وَمَا بَيْنَ ذَٰلِكَ ۚ وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا ﴿٦٤﴾ رَبُّ

او مونږ نه نازلیږو مګر ستا درب په حکم سره ، دهغه دی څه چې زمونږ په مخکې دی او څه چې زمونږ څخه وروسته دی او څه چې ددې په مینځ کی دی او ستا رب نه دی هیرونکی رب .

السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهِ ۚ هَلْ

داسمانونو او دمځکی او څه چې د دوی په مینځ کی دی ، نو دهغه بندګی کوئ او قائم وسیږئ په بندګی دهغه،

تَعْلَمُ لَهُ سَمِيًّا ﴿٦٥﴾ وَيَقُولُ الْإِنسَانُ أَإِذَا مَا مِتُّ لَسَوْفَ أُخْرَجُ

ایا پیژنئ ته هغه سره په نوم شریك ؟ او وایی انسان ایا کله چې زه مړ سم نو بیا به را ووزم

حَيًّا ﴿٦٦﴾ أَوَلَا يَذْكُرُ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن قَبْلُ وَلَمْ يَكُ شَيْئًا ﴿٦٧﴾

ژوندی ، ایا نه یا د وی انسان چې پیدا کی مونږ دی اول او دی هیڅ شی نه وو

فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا ﴿٦٨﴾

نو قسم دی ستا په رب چې مونږ به راجمع کړو دوی او شیطانان ، بیا به یی حاضر کړو مونږ شاوخوا دجهنم څخه

ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴿٦٩﴾

په ځنګونو پراته ، بیا به جلا کړو مونږ دهری فرقی څخه کومو چې درحمن سره سرکشی کوله

ثُمَّ لَنَحْنُ أَعْلَمُ بِالَّذِينَ هُمْ أَوْلَىٰ بِهَا صِلِيًّا ﴿٧٠﴾ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا

بیا مونږ ته ښه معلوم دی هغه چې دیر قابل دی دی ته دداخلیدو ، او نسته په تاسی کی

وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا

هیڅوك چې وبه نه رسیږي دی ته سوی ده دا وعده ستا په رب باندی لازم مقرر ، بیا به محفوظ کړو مونږ هغه چې

وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا ﴿٧٢﴾

بیریږي او پریږدو به ګناهګاران په دی کی نسکور پراته .

لنډتفسیر : شان نزول : (په صحیح بخاري کې حدیث دی چې نبي کریم ﷺ حضرت جبرائیل علیه السلام ته دا آرزو ظاهره کړه چې لږ زیات راځه پردې باندې دا آیت نازل سو) او (مونږ ستا د درخواست د جبرائیل علیه السلام د طرف څخه جواب ورکوو واوره هغه دا دی چې) مونږ (یعنی ملائکې) بغیر ستا درب دحکم څخه وقتاً فوقتاً نه سو راتلای دهغه (په ملکیت کې) دی زمونږ په مخکې تول شیان (مکان وي اوکه زمان مکاني وي اوکه زماني وي) او (دغه شان) زمونږ مخکې تول شیان اوځه شیان چې د دوی په مینځ کې دی (دمخکې مکان کوم چې مخامخ وي اودشاکوم چې دشاطرف ته وي او د دوی په مینځ کې کوم چې داسې دی په کې او وراندې زمانه کومه چې تیره سوې ده او وروسته کومه چې راروانه ده او د دوی په مینځ کې کومه چې زمانه حالي ده) اوستا رب هیرونکی نه دی (مطلب دا دی چې دا ټول کارونه ورته دمخکې څخه معلوم دی مطلب دا چې مونږ تکویناً اوتشریعاً دحکم مسخر یو په خپله رایی سره دیوځای څخه بل ځای نه یاکله چې مونږ غواړو یوځای تلی راتلی نه سو لیکن کله چې زمونږ لیږل مصلحت وي ، نوحق تعالی مونږ لیږي دا احتمال نسته چې شاید دځه مصلحت په وخت کې یې هیرسي) هغه رب دی دآسمانونو اودمخکې اودهغوټولو شیانوکوم چې د دوی په مینځ کې دی پس (هرکله چې داسې حاکم اومالك دی نو ای مخاطبه) ته دهغه عبادت (او اطاعت) کوه (یو وار نیم نه بلکې) دهغه په عبادت باندې قائم اوسیږه (اوکه دهغه عبادت نه کوې نودبل چا عبادت به کوې) نو آیاته څوك دهغه هم صفته پیژنې؟ (یعنې هیڅوك دهغه په صفت کې شریك نسته نولایق دعبادت هم څوك نسته پس دهغه عبادت کول ضروري سو) او انسان (دآخرت څخه منکر) دا وایي چې زه کله مړ سمه نو آیا بیا به ژوندی دقبرڅخه راوایستل سم (الله ﷻ جواب ورکوي چې) آیا (دا) انسان په دې خبره باندې نه پوهیږي چې مونږ دی ددې څخه مخکې (دعدم څخه وجودته) راوړی دی او دی (هغه وخت) هیڅ هم نه وو (کله چې دداسې حالت څخه ژوند ته را وستل آسان دی نو دوباره ژوند ورکول خو په درجه اولی آسان دی) پس قسم دی ستاپه رب چې مونږ به دوی (په قیامت کې ژوندي کړو او په موقف) دحشرکې به یې جمع کړو او (د دوی سره) شیطانان هم (کوم چې په دنیاکې به د دوی سره اوسیدل اوغلطي به یې ورته ښوولې لکه چې په بل آیت کې دی : قَالَ قَرِيْنُهٗ رَبَّنَا مَآ اَطْغَيْتُهٗ) بیابه دوی (ټوله) د دوزخ چارچاپیره په دې حالت کې حاضر کړوچې (دهیبت څخه به) پرزنګنو پراته وي بیاد (دې کفارود) هرې ډلې څخه به (لکه یهود نصارا اومجوس اوبت پرست) هغه خلګ جداکړو کوم چې په دوی کې زیات د الله ﷻ څخه سرکښي کوونکي وه (چې دوی دنورو څخه اول دوزخ ته داخل کړو) بیا (داسې نه ده چې د دوی په جدا کولوکې مونږ ته دځه تحقیقاتو کولو ضرورت راځي څکه چې) مونږ (په خپله) داسې خلګ ښه پیژنوکوم چې دوزخ ته دتلو زیات (یعنې اول) مستحق دي (پس په خپل علم سره به داسې خلګ جداکړو اول دوی بیابه نور کفار دوزخ ته داخل کړو او دا ترتیب صرف په اولیت کې دی او په نه وروسته والي کې خو ټول برابر دی او دجهنم وجود داسې یقیني دی چې

دا به ټولو مومنانو اوكافرانو ته وښوول سي كفاروته په طور ددخول اوعذاب ابدي دپاره اومومنانوته په طور دپوري وتو پرپل صراط او دزيادت دشكر اوخوشحالي دپاره چي دا ووينی او جنت ته ورسيږي نو زيات شكر به وكاږي او خوشحاله به سي، او «ځينو ګناهګارانو لره به دلږ سزا دپاره كوم چي په حقيقت كي پاكوالي دی ددی عامو ليدو خبر وركول سي چي» په تاسي كي هيڅوك هم نسته چي په دی باندي به تيرنه سي «ځوك په ننوتو سره اوځوك په تيريدو سره» دا «دوعدي موافق» ستادرب په اعتبارسره «په طورد» لازم «مؤكد» ده چي «خامخابه» پوره سي بيا «پردي جهنم باندي په تيريدو سره داسي مه ګڼئ چي په دی كي مومن اوكافر برابردي بلكي» مونږبه هغو خلګوته نجات وركو كوم چي دخدای څخه بيريدل «ايمان يې راوړی وو برابره خبره ده كه داول سرڅخه نجات پيداكي لكه مومنان كاملان اوبرابره خبره ده كه وروسته ديوڅه تكليف تيرولو څخه لكه ناقص مومنان» اوظالمان «يعني كافران» به په دی كي «دهميشه دپاره» په داسي حالت كي پاته كړوچي «د ډير رنج اوغم څخه به» پرځنګنونو پريوزي

(معلومات اومسئلي)

وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ : دلفظ دَاِصْطِبَارْ معنٰی په مشقت اوتكليف باندي ثابت قدم پاته كيدل دي په دی كي اشاره ده چي په عبادت باندي هميشوالي اوثابت قدم پاته كيدل غواړي نو عبادت ګذار لره ددی دپاره تياريدل په كار دي .

هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا : دلفظ دسَمِي مشهوره معنٰی هم نام ده او داعجيبه اتفاق دي چي مشركانو اوبت پرستو كه څه هم په عبادت كي دالله ﷻ سره ډير انسانان ملائكي ډبري او بتان شريك كړي وه او دي ټولوته به يې اله يعني معبود ويل مګر هيڅچا لفظ د الله دباطل معبود دپاره هيڅكله نه دی ايښی دا تكويني اوتقديري كار وو چي په دنياكي د الله په نوم سره هيڅ بت اوباطل معبودنه دی مسمٰی سوی . په دی وجه ددي معنٰی په اعتبار سره هم دآيت مضمون واضح دي چي په دنياكي د الله ﷻ څوك همنام نسته .

اوداكثروتفسيرليكونكو مجاهد ابن جبير قتاده او ابن عباس ؓ څخه دلته ددی لفظ معنٰی مثل اوشبيه منقول ده ، نو ددی مطلب واضح دي چي په صفتونو دكمال كي د الله ﷻ په شان او برابر يانظير نسته .

لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيٰطِيْنَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ : دلته د وَالشَّيٰطِيْنَ واو په معنٰی دمَعَ دی . او مراد دا دي چي هر كافر به دده دشيطان سره په يوه سلسله كي تړلی پورته سي په دی صورت كي به دا صرف دكافرانو دحشربيان وي اوكه مراد عام واخستل سي چي مومن اوكافر ټول په كي دا خل سي نودشيطانانو سره به ددی ټولو دحشر مطلب دا وي چي هركافر خو به دخپل شيطان سره بند سوی حاضريږي او مومنان به هم په دی موقف دحشركي جدا نه وي په دی لحاظ سره به دټولو سره دشيطانانو اجتماع وسی . «قرطبی»

حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا : دحشردابتداء په وخت كي به مومنان اوكافران نيك بخت اوبدبخت ټول دجهنم څخه چا پيره جمع سي اوپه ټولوبه هيبت راسي ټول به پرګونډو پراته وي بيابه مومنان اونيك بختان دجهنم څخه

پورې باسل سی اوجنت ته به داخل سی چې دجهنم ددی منظرليدو څخه وروسته دوی ته مکمله او دائمي خوشحالي او ددين پرمخالفينو باندې بدبختي دائمي اوپر دی د الله ﷻ زيات شکر ورته نصيب سی .

ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيْعَةٍ : لفظ دشيعه په اصل لغت کې څه خاص سړي يادخاصي عقيدې تابعدارانو ته ويل کيږي . په دې وجه دالفظ په معنٰی دفرقی هم استعماليږي اومراد دآيت دا دی چې دکفارو دمختلفو فرقو څخه کوم چې زيات سرکښه وي هغوی به په دې ټولوکې ممتازکې اومخکې به سی ، ځينې تفسير ليکونکي فرمايي چې جهنم ته به په ترتيب سره داخل سی چې دچاجرم دټولو څخه زيات وي هغه به دټولو څخه اول ددې څخه وروسته به ددويمې او دريمې درجې مجرمان جهنم ته دا خل کړل سی . (مظهري)

وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا : يعنې يوانسان مومن ياکافربه داسې نه وي دکومو ورود چې پرجهنم نه وي دورود څخه مراد دخول نه دی بلکه تيريدل دي لکه چې دابن مسعود ﷺ په يو روايت کې لفظ دمرور هم راغلی دی او که دخول مراد واخستل سی نو دمومنانو متقيانو دخول به داسې وي چې جهنم به د دوی دپاره بَرْدًا او سَلَامًا جوړسی چې دوی ته به هيڅ تکليف محسوس نه سی لکه چې دحضرت اَبُو سُمَيَّه په روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې يو نيک سړی يافاجر سړی به پاته نه سی کوم چې به په اول کې جهنم ته دا خل نه سی مگر دغه وخت به دمومنانو متقيانو دپاره دوږخ بَرْدًا اوسلام جوړ سی لکه چې دحضرت ابراهيم ﷺ دپاره دنمرود اور بَرْدًا اوسلام جوړ سوی وو ددې څخه وروسته به مومنانو لره نجات ورکې اوجنت ته به بوتلل سی دا معنٰی دآيت په راتلونکې جمله کې ده : ثُمَّ نُنَجِّی الَّذِيْنَ آمَنُوْا دا مضمون دحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم منقول دی او په قرآن کريم کې چې کوم لفظ د: وُرُوْدْ راغلی دی که ددې معنٰی دخول واخستل سی نو دخول به په طور دعبور مراد وي په دې وجه هيڅ تضاد نسته .

وَاِذَا تُتْلٰی عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَیُّ الْفَرِيْقَيْنِ خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ

او کله چې اورول کيږي دوی ته زمونږ ايتونه ښکاره وايي کوم خلق چې منکردي ايماندارو ته په دواړو فرقوکې

نَدِيًّا ﴿۷۳﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَحْسَنُ اَثَاثًا وَّرِءْيًا ﴿۷۴﴾

دچامکان غوره دی او دچاښه دی مجلس ، اوڅومره هلاک کړي دي مونږ مخکې د دوی څخه جماعتونه چې هغوی د دوی څخه ښه وو په سامان کې او نمائش کې .

قُلْ مَنْ كَانَ فِی الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا حَتّٰی اِذَا رَاَوْا

ته ووايه څوک چې پاته سو په گمراهي کې پس مهلت ورکوي ده ته رحمن اوږد تردې چې کله ووينی هغه چې

مَا يُوعَدُونَ إِمَّا الْعَذَابَ وَإِمَّا السَّاعَةَ فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ

وعده یې ورسره سوې ده یا عذاب او یا قیامت ، نو ژر به پوه سي چې دچاناکاره دي ځای

شَرٌّ مَّكَانًا وَّأَضْعَفُ جُنْدًا ﴿٧٥﴾ وَيَزِيدُ اللَّهُ الَّذِينَ اهْتَدَوْا هُدًى

او دچا کمزوري دي لښکر ، او زیاتوي الله ﷻ دهدایت موندونکو هدایت

وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا ﴿٧٦﴾

او پاتې پاته کیدونکې نیکي غوره دي په نزد درب ستا دجهته دبدلې او غوره دي دواپسي دځای په نسبت

تفسیر: اوکله چې ددې منکرانو خلګو په مخکې زمونږ (هغه) ښکاره ښکاره آیتونه ویل کیږي (په کومو کې چې دمومنان پرحقه باندې کیدل او دکفارو په باطله باندې کیدل ذکر وي) نو دا کافران خلګ مسلمانانو ته وایي چې (دا وواياست په مونږ) دواړو فرقوکې (یعني په مونږ او په تاسوکې په دنیاکې) ځای دچا زیات ښه دی اومحفل دچا غوره دی (یعني ظاهره ده چې کورني اومجلسي ساز اوسامان او په اهل او په مددګارانو کې مونږ زیات یو دا خو مقدمه ده محسوسه او دوهمه مقدمه عرفي ده چې انعام او احسان او ورکړه دنعمت دهغه سړي دپاره وي کوم چې دورکوونکي په نزد محبوب اوغوره وي ددې دواړو مقدمو څخه ثابته سوه چې مونږ دالله ﷻ محبوب اومقبول یو اوتاسي مغضوب اومخذول یاست ، مخکې الله ﷻ یو جواب الزامي او یو تحقیقي ورکوي اول ځواب خو دا دی چې دا خلګ داسي خبره کوي) او (دانه ګوري چې) مونږ د دوی څخه مخکې ډیرې داسي ډلې (په هیبت ناکو سزاګانو سره چې په یقین سره عذاب وو) هلاکې کړي دي کومې چې په سامان اونمائش کې د دوی څخه هم (ډیرې زیاتې) ښې وې (ددې څخه معلومه سوه چې دوهمه مقدمه غلطه ده بلکې په یوحکمت اومصلحت سره ددنیا نعمت مبغوض او مردود ته هم ورکول کیږي مخکې دوهم جواب دی چې ای پیغمبر ﷺ) ته وفرمایه چې کوم خلګ په ګمراهي کې دي (یعني تاسي) الله ﷻ دوی ته مهلت ورکوي اوږد (یعني په دې دنیوي نعمت کې داحکمت دی چې مهلت ورکوي حجت په پوره کوي لکه چې په بل آیت کې دي اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَايَتَذَكَّرُ فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ الخ او دامهلت یو څو ورځې دي) تردې چې دکوم شي د دوی سره وعده سوي ده کله چې هغه ووینې برابره خبره ده که عذاب (په دنیاکې) یا که قیامت (په بل عالم کې) پس (دغه وخت) دوی ته به معلومه سي چې بدځای دچادی او مددګاران دچاکمزوري دي (یعني په دنیاکې چې کوم خپل اهل اومجلس خپل مددګار ګڼي اوفخر په کوي هلته به معلومه سي چې په دوی کې څومره زوردی څکه چې هلته به دهیچا دسره څه زور نه وي دا یې اضعف فرمایلي وه) او (دمسلمانانو دا حال دی چې) الله ﷻ

هدایت والاووته (په دنیاکی خو) هدایت زیاتوی (یعنی اصل سرمایه دا ده چی که دده سره مال او دولت نه وی هیڅ ضرر نسته) او (په آخرت کی به ظاهره سی چی) کوم نیك کارونه همیشه باقی پاته کیدونکی دی هغه ستا درب په نزد په ثواب کی هم غوره دی او په انجام کی هم غوره دی (پس دوی ته به په ثواب کی لوی لوی نعمتونه ورکول سی چی کورونه اوباغونه هرڅه به په کښی وی او انجام ددی عملونو همیشوالی او دوام والی دی ددی نعمتونو څخه وروسته به په هر ډول او هر قسم سره دمسلمانانو آخری حالت ښه وی او اعتبار هم آخر لره دی)

(معلومات اومسئلي)

خَيْرٌ مَّقَامًا وَّاَحْسَنُ نَدِيًّا: دلته کفارو دمسلمانانو دغلطولو دپاره دوه شیان پیش کړل اول ددنیا مال دولت اوسازوسامان ، دوهم خادمان اوخپله ډله او جماعت چی دا په ظاهره کفاروته په نسبت دمسلمانانو زیات حاصل وه اوهم دا دوه شیان دی چی دانسانانو دپاره دنشی کارکوی او ددی فخر اوغرور ښه ښه هوښیاران او ذهین خلک پرغلطو لارو باندی روانوی او دتیر دور دلویو سرمایه دارو حکومت اوسلطنت والاوو دعبرت خیز تاریخ څخه غافله کړی خپل موجوده حال ذاتی کمال ددائمی راحت ذریعه گڼی بغیر دهغو خلگو څخه کوم چی دقرآن کریم دتعلیم مطابق ددنیا مال او دولت عزت اومرتبه خپل ذاتی کمال یادائمی ملگری نه گڼی په دی د الله ﷻ شکر په ژبه سره هم ادا کړی او دده دورکړی نعمت په خر څولو کی هم دده د احکامو پابندی کوی او ددی دفنا کیدو یاکمیدو دخطری څخه هم هیڅ وخت غافله نه وی نو دغه انسان ددی شر څخه محفوظ وی لکه انبیاء علیهم السلام چی دی حضرت سلیمان اوحضرت داود علیهما السلام او په اصحابو کرامو ﷺ کی ډیر غنیان صحابه ﷺ او دغه ډول په امت کی په لکونو اولیاء صالحان کوموته چی الله ﷻ ددنیا مال دولت هم ښه ورکړی وو او ددین دولت اوخپله بیره یی هم بی انتهایی ورکړی وه .

دکفارو دا مغالطه قرآن کریم داسی لیری کړله چی ددنیا څو ورځی نعمت او دولت نه د الله ﷻ په نزد دمقبول کیدو نښانه کیدی سی او نه په دنیاکی دغه دځه ذاتی کمال نښانه گڼل کیږی ، ځکه چی ډیرو بی عقله جاهلانو ته په دنیاکی داشیان دعاقلانو اوهوښیارانو څخه زیات ورکول کیږي . تیر تاریخ وگوری نو دا حقیقت به ښکاره سی چی داسی بلکی د دوی څخه هم زیات څومره د دولتونو اوشوکتونو امبارونه پر مخکه باندی لیدل سوي دی .

پاته سول نوکران اوخادمان دوستان اوعزیزان په ډیره شمیر سره کیدل نو ددی حقیقت هم اول خوپه دنیاکی ښکاره کیږی چی دضرورت په وخت کی هیڅ په کار نه ورځی اوبیاکه په دنیاکی هم برابر په خدمت کی پاته سی خو دا هم دڅوورځو دپاره دی ددی څخه وروسته دمحشر په میدان کی به دده څوك ملگری وی ؟

وَالْبٰقِيٰتُ الصّٰلِحٰتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَّخَيْرٌ مَّرَدًّا : دباقيات صالحات په تفسيركى ډير اقوال دي چي تفسير يې په سورة كهف كې تير سوي دى او مختار قول دا دي چي ددې څخه مراد هغه ټول طاعت اونيك كارونه دي دكومو فائدې چي باقي پاته كيدونكې وي . د: مَرَدًّا لفظ په معنٰى دَمَرجَعْ دي مراد ورڅخه انجام اوعاقبت دى . مراد دآيت واضح دى چي نيك عملونه اصل دولت دى چي ثواب يې ډير او انجام يې دائمي راحت دى .

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي كَفَرَ بِاٰيٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَّوَلَدًا ﴿۷۷﴾ أَطَّلَعَ الْغَيْبَ

ايا تاوليدى هغه سړى چي منكر سو زمونږ دايتونو څخه او وې ويل چي خامخا به را كول سي ماته مال اولاد، ايا

أَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا ﴿۷۸﴾ كَلَّا سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ

دي خبر دى په غيبو يايې كړى دى درحمن سره وعده ، داسى نه ده مونږ به وليكو څه چي دى وايي او زياته به

لَهُ مِنَ الْعَذَابِ مَدًّا ﴿۷۹﴾ وَّنَرِثُهُ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿۸۰﴾ وَاتَّخَذُوا

كړو ده ته دعذاب څخه موده ، او مونږ به واخلو دده په مرګ باندى څه چي دى وايي او را به سي مونږ ته يوازى

مِنْ دُونِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا ﴿۸۱﴾ كَلَّا سَيَكْفُرُونَ

اونيولي دي خلقو نورماسوا دالله ﷻ څخه معبودان چي سي د دوى دپاره مدد ، هرګز داسى نه ده ، دوى به منكر

بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿۸۲﴾

سي په بندګى د دوى ، او سي به د دوى مخالف .

لنډتفسير: (اى محمد ﷺ) آياتا (حالت) دهغه سړى وليدى كوم چي زمونږ دآيتونو سره (دكوموچي دا حق دي چي ايمان پر راوړى چي دا آيتونه دبعث (دوباره ژوندى كيدلو) په كى هم دى) كفر كوى او (په مسخروسره) وايي چي ماته به (په آخرت كى) مال او اولاد راكول كيږى (مطلب دا دى چي دده حالت هم دتعجب قابل دى مخ ته ددى رد دى چي) آيا دا سړى په غيبو خبر سوي دى ياده دالله ﷻ سره څه وعده (ددى خبرى) كړي ده (يعنى ددى دعوى علم ورته بى دواسطى داسبابو څخه سوي دى چي علم غيب دى يابه واسطه داسبابو سوي دى بيا چونكى دغه دعوىٰ عقلى حكم خو دى نه بلكى نقلى امر دى ، په دى وجه صرف دليل نقلى چي اخبار خداوندى دى ددى دليل كيدى سى ، نو دواړه طريقى معدومى دى اوله خو عقلاً هم نامكنه ده او دوهمه ګرسره واقع سوى نه ده) هيڅكله نه ده (محضى غلطه وايي او) مونږ

دده ویل سوی هم لیکو (اوپر وخت به دا سزا ورکو چی) دده دپاره به عذاب زیاتیږی او دده دویل سور شیانوبه مونږ مالکان پاته سو (یعنی دوی به ددنیا څخه مړه سی او پرمالونو او اولاد باندی به د دوی څه اختیار پاته نه سی مونږ به دټولو مالکان سو او په قیامت کی به ورلره مونږ ورنه کړو بلکی) دوی به مونږ ته (دمال او اولاد څخه) تن تنها راسی او دی خلګو خدای پری اینبی دی اونور یی معبودان جوړکړي دی چی د دوی دپاره دغه (دالله په نزد) باعث دعزت وی (لکه چی په دی آیت کی یی قصه ده : يَقُوْلُوْنَ هٰؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ: پس داسی) به هیڅکله ونه سی بلکه دغه خو به (په قیامت کی په خپله) د دوی دعبادت څخه انکار وکی (لکه دسورة یونس په دریمه رکوع کی چی تیر سوي دی : قَالَ شُرَكَآؤُهُمْ مَّا كُنْتُمْ اِيَّانَا تَعْبُدُوْنَ) او (برعکس) د دوی به مخالف سی (په وینا سره هم لکه چی تیرسول او په حال سره هم چی پرځای دعزت به سبب د ذلت سی ، په دی معبودانوکی به بتان هم وی پس د دوی خبری کول لکه چی دَيَكْفُرُوْنَ مقتضاده په مثل دخبرو کولو په ښکاره اندامونو سره څه بعیده اوعجیبه نه ده).

(معلومات اومسئلي)

لَاُوْتَيَنَّ مَالاً وَّوَلَدًا: په بخاري اومسلم کی دحضرت خباب بن الارت ﷺ څخه روایت دی ، چی دده څه قرض په عاص بن وائل باندی وو ، دی یی دغوښتلو دپاره ولاړی ، هغه ورته وویل چی زه خوستا قرض ترهغه پوری نه درکوم ، تر څو پوری چی ته دمحمد (ﷺ) سره دکفر او انکار معامله ونه کی ، ده ځواب ورکی چی زه دا کارنه سم کولای ، ترڅو چی ته مړ نه سی ، اوبیا ژوندی نه سی ، عاص بن وائل وویل چی ښه دا زه به مړ سم او بیا به ژوندی سم ؟ که داسی وی ، نو بس ستا قرض به هم هغه وخت درکړم کله چی دوباره ژوندی سم ځکه چی هغه وخت به هم زما سره مال او اولاد وی . (قرطبی)

قرآن کریم ددی احمق په جواب کی فرمایی چی ده ته دا څنګه معلومه سوه چی د دوباره ژوندی کیدو په وخت کی به هم دده سره مال او اولاد وی اَطَّلَعَ الْغَيْبَ آیاده دغیب خبری معلومی کړی ، اَمِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا یایی دالله رحمٰن سره ده دمال او اولاد دپاره څه عهد اووعده کړي ده او دا خو ظاهره ده چی داسی څه خبره خوسته نه ، بیاده دا خیال څنګه پوخ کی ؟

وَنَرِثُهٗ مَايَقُوْلُ: یعنی دکوم مال او اولاد چی دی ذکر کوی په آخرت کی درسید و معامله خو ډیره لیری ده په دنیاکی هم څه چی ده ته ورکول سوي دی دا به پاتی کوی او ددی وارثان به آخر مونږ سو یعنی دا مال او اولاد به دده څخه واخستل سی او آخر به الله ﷻ ته بیرته راځی .

وَيَاْتِيْنَا فَرْدًا: دقیامت په ورځ به دی تن تنها زمونږ په دربارکی حاضرسی ،نه به ورسره څه اولادوی اونه مال

وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا: یعنی دا په خپله تراش کړی بتان او باطل معبودان دکومو عبادت چی په دی وجه کوی چی دا به د دوی مددګاران وی په محشرکی خو به ددی برعکس هغه د دوی دښمنان سی الله ﷻ به دوی ته ژبه اوخبری ورکی او دوی به ووایی چی یاالله دوی ته عذاب او سزا ورکړی ، چی دوی نه

پرېښولی او زمونږ څخه يې معبودان جوړ كړل .

أَلَمْ تَرَ أَنَّا أَرْسَلْنَا الشَّيَاطِينَ عَلَى الْكَافِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ

تا نه ليدل چې مونږ پرېښي دي شيطانان په منكرانو باندې چې راپاروي يې دوی په راپارولو سره، نو ته تلوار مه كوه

عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ

په دوی باندې مونږ پوره كوو د دوی شمير په كومه ورځ چې مونږ راجمع كړو پرهېزګاران رحمن ته ميلمانه بلل سوی

إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَا يَمْلِكُونَ الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ

او وشړی ګناهګاران دوږخ ته تږی ، اختيار به نه لري خلق د سفارش مګر چاچې اخستی ده

الرَّحْمَٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾

درحمن څخه وعده .

تفسير: (ته چې د دوی پر ګمراهی باندې غم كوی نو) آيا تا ته معلومه نه ده چې مونږ شيطانان پر كافرانو باندې (دپاره دآزمائش) ورپرېښي دي چې هغوی دوی (پر كفر او ګمراهی) ښه راپاروی (اولمسوی بياچې په خپل اختيار سره دخپل بدخواه په لمسَ كي راسي دهغه ولې غم كوی) وروسته (بياچې شيطانان ابتلاءً په دوی مسلط سول اومستحق ته په تلواری په سزا وركولو كې اوازميښت نه سي پاته كيدای نو) ته د دوی دپاره (دعذاب په درخواست كې) تلوار مه كوه مونږ د دوی خبری (پر كوموچې به سزاوی) په خپله شميرو (او دغه سزا به په هغه ورځ واقع كيږی) په كومه ورځ چې مونږ متقيان درحمٰن (دارالنعيم) طرف ته ميلمانه جوړ كړی جمع كړو او مجرمان دوږخ طرف ته تږی وشړو (اوځوك به د دوی سفارش كوونكی هم نه وی ، څكه چې هلته) به دچا دسفارش اختيار نه وی مګر چاچې درحمٰن څخه اجازه اخستی وی (هغه انبياء عليهم السلام اوصالحان دی اواجازت خاص دی دمومنانو سره پس كفار محل دشفاعت نه سول)

(معلومات او مسئلي)

تَؤُزُّهُمْ أَزًّا : په عربي لغت كي لفظ د هَزٌّ ، أَزٌّ ، فَزٌّ ، حَضٌّ ، ټول په يوه معنٰی كي دي يعني ديوكار دپاره راپارول اوتيارول ، دسپك اوسخت كمی اوزياتوب په لحاظ سره د دوی په مينځ كي فرق سته ، دلفظ د أَزٌّ معنٰی په پوره قوت اوتدبير او تحريك سره ديو سړي ديوكار دپاره تيارول بلكې مجبوره كول دي معنٰی دآيت دا ده چې دغه شيطانان دوی بدو عملونو ته راپاروی اوښه والې يې د دوی پرزړونو مسلط كوی او خرابی يې دنظر لاندې نه راولي .

اِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا: مطلب دادی چی ته د دوی دعذاب په باره کی تلوارمه کوه دغه خو دیر ژرکیدونکی دی خکه چی په دنیاکی داستوګنی دپاره کومی دشمیر ورځی چی مونږ ورکړي دی هغه ژرپوره کیدونکی دی او ددی څخه وروسته عذاب اوعذاب دی نَعُدُّ لَهُمْ یعنی مونږ دوی دپاره شمیرکوو ددی مطلب دادی چی د دوی هیڅ شی آزادنه دی د دوی دعمرشپی ورځی شمیرل کیږی د دوی ساه اخستل د دوی دنقل اوحرکت یویو قدم اوددوی لذتونه د دوی دژوند یوه یوه لحظه مونږ شمیرو ددی شمیر پوره کیدوسره به پر دوی عذاب راسی.

مامون رشید یو وار سورة مریم ووایه کله چی دی آیت ته راورسیدی نو دمجلس حاضرینو کوم چی علماء اوفقهاء وه په دوی کی د ابن سماك طرف اشاره وکړه چی ددی متعلق څه ووایه دوی عرض وکی چی کله زمونږ ساه اخستل شمیرل کیږی اوپه دی زیاتی نه سی کیدی نو دابه څومره ژرختم سی ، دا څینو شاعرانو داسی ویلی دی.

حَيَاتُكَ اَنْفَاسٌ تُعَدُّ فَكُلَّمَا مَضٰى نَفَسٌ مِّنْكَ انْتَقَصْتَ بِهٖ جُزْءًا

یعنی ستا دژوند ساګانی دشمیر دی کله چی یو وارساه اخلی نو ستا دژوند یو جزء کمیږي.

ویل کیږی چی انسان په شپه ورځ کی څلیر ویشت زره ۲۴۰۰۰ واره ساه اخلی (قرطبی) اوځینی حضرات فرمایی.

وَكَيْفَ يَفْرَحُ بِالدُّنْيَا وَلَذَّتِهَا فَتًى يُعَدُّ عَلَيْهِ اللَّفْظُ وَالنَّفَسُ

یعنی په دنیا او ددی په لذتونو هغه سړی څنګه خوشحالیدی اوبی فکره کیدی سی دچا چی لفظونه اوساګانی شمیرل کیږي. (روح)

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا : لفظ دوفد داسی راتلونکو ته ویل کیږی کوم چی دلوی بادشاه یاامیر خواه ته داعزاز او اکرام سره ځی ، په ځینو روایتونو دحدیث کی دی چی دا خلګ به پرسپرلیو سپاره رسیږی او سپرلی به دهرسړی هغه وی کومه چی ده په دنیا کی دخپل ځان دپاره خوښوله ، اوښ ، آسْ یانوری سپرلی ، ځینی حضرات فرمایی چی د دوی نیك عملونه به د دوی دپاره د دوی دخوښی سپرلی جوړی سی ، دحدیث دا روایتونه روح المعانی اوقرطبی نقل کړي دی.

اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا د: وِرْد لفظی معنٰی اوبو ته دتلونکی ده او دا خوظاهره ده چی دتندی په وخت کی انسان یاحیوان اوبو ته ځی په دی وجه دَوِرْدًا ترجمه تږی وسوه.

مَنِ اتَّخَذَ عِنْدَ الرَّحْمٰنِ عَهْدًا : حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دعهد څخه مرادشهادت دَلَآ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ دی ، ځینی فرمایی چی دعهد څخه مراد حفظ کتاب الله دی ، لنډه دا چی دشفاعت کولو حق هر چاته نه ورکول کیږی ، بغیر دهغو خلګو څخه کوم چی دایمان پر وعده مضبوط پاته سی. (روح)

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا

او خلق وايي چې رحمن لرى اولاد ، بيشكه تاسي نښتي ياست په درونډ

إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ

شى كى ، نژدى ده چې اسمان ځيرى سى په دى خبره او توتى توتى سى مځكه او را ولويږي غرونه

هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمٰنِ أَنْ يَتَّخِذَ

په نړيدو سره ، په دى چې بولى رحمن لره اولاد ، او نه ښايي رحمن لره چې ونيسي

وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾

اولاد ، څوك نسته په اسمان او مځكه كى مگر راځى رحمن لره بنده جوړ سوى

لَقَدْ أَحْصٰىهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

ده په شمير كى دي او شميرلى يى دي د دوى شمير ، او هر يو به راځى ده مخ ته په ورځ دقيامت

فَرْدًا ﴿٩٥﴾ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ

يكى يوازى ، بيشكه څوك چې ايمان راوړى اونيك عملونه كوى ، ور به كړى دوى لره

الرَّحْمٰنُ وُدًّا ﴿٩٦﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ الْمُتَّقِينَ

رحمن محبت ، پس مونږ اسان كى دا قرآن په ژبه ستا ددې دپاره چې خوشخبرى واورى په

وَتُنْذِرَ بِهِ قَوْمًا لُدًّا ﴿٩٧﴾ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِنْ قَرْنٍ هَلْ

دى سره بيريدونكو ته او وبيروى په دى سره قوم جگړوالو ، او دير هلاك كړى دى مونږ د دوى څخه مخكې
جماعتونه ايا

تُحِسُّ مِنْهُمْ مِنْ أَحَدٍ أَوْ تَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا ﴿٩٨﴾

ته اوس پوهيږې په كښهارى په دوى كى دچا او يايى ته څه پس پس اورى.

لنډتفسیر: او دا (کافران) خلک وایي چي (نعوذبالله) الله ﷻ اولاد هم نیولی دی (هم دارنګه نصارا په کثرت سره او یهود په قلت سره او دعربو مشرکان په دی فاسده عقیده کی اخته وه الله ﷻ فرمایي چي) تاسي دا (خبره چي وکړه) داسي سخت حرکت مو وکي چي ددی په سبب څه لیری نه ده چي آسمان څیری سی او دمځکی ټوټي والوزي او غرونه مات سي او راولویږي په دی خبره چي داخلک دخدای ﷻ طرف ته د اولاد نسبت کوی حال دا دی چي دخدای ﷻ شان نه دی چي هغه اولاد اختیار کړي (ځکه چي) څومره څه چي په آسمانونو کی او په مځکه کی دی ټول دخدای ﷻ په مخکی به غلامان حاضریږي (او) هغه ټول (دخپل قدرت) په ګیر کی را وستلی دی او (په خپل علم سره) ټول یی په شمیرکی دی (دا حالت خو د دوی في الحال دی) او دقیامت په ورځ به دوی ټول هغه ته یکی یوازی حاضرسی (چي هرسړی به دخدای محتاج اومحکوم وی ، وروسته که دخدای اولاد وای نو دخدای په شان په وجوب دوجود اولازمانو دوجوب سره موصوف په کار دی او دخدای دا صفتونه دی کوم چي ذکرسول ، عموم دقدرت ، عموم دعلم او دغیرِ خدا دا صفتونه دی ، محتاجي تابعداری کوم چي ضددی دوجوب بیا دضدینو اجتماع څنګه کیدی سی)

بیشکه کوم خلک چي ایمان راوړی اونیك عملونه وکی الله ﷻ به (دوی ته علاوه دآخرت دذکرسوو نعمتونو څخه په دنیاکی دا نعمت ورکړی چي) د دوی دپاره (دخلګو په زړونوکی به) محبت پیدا کړی پس (ته دوی ته دا خوشخبری ورکړه ځکه چي) مونږ دا قرآن ستا په ژبه (عربي) کی ځکه آسان کړي دی چي ته په دی سره پرهیزګارانو ته خوشخبری واوروی او (دارنګه) په دی سره جګړالو خلګو ته بیره ورکړی او (ددی بیری په شیانو کی یوه کوم بختي ددنیا دا هم ده چي) مونږ د دوی څخه مخکی ډیری ډلی (په عذاب اوقهر سره) هلاکی کړي دی (پس) آیاته په دوی کی یوڅوك ويني یاپه دوی کی دچاڅه کښهار اوری (داکنایه ده دبی نام اونشان کیدو څخه پس کفار ددی کوم بختي ددنیاهم مستحق دی که څه هم په یو مصلحت سره به دیو کافر دپاره ددی وقوع نه وی مګر دفکر کولو قابل خو دی)

(معلومات اومسئلي)

وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا : ددی آیتونو څخه معلومه سوه چي په مځکه او غرونو او د دوی په ټولو شیانو کی یو خاص قسم عقل او شعور موجود دی که څه هم هغه ددی درجی نه دی چي دالله ﷻ احکام پر مرتب سی ، لکه دانسان دعقل او شعور په شان بلکی دا هغه عقل او شعور دی دکوم په وجه سره چي ددنیا هرشی دالله ﷻ دنوم تسبیح کوی لکه چي دقرآن کریم ارشاد دی وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ یعنی یو شی هم په دنیا کی داسی نسته ، کوم چي دالله ﷻ دحمد سره تسبیح نه کوی ، ددی شیانو دا شعور او ادراك دی چي ذکر یی په دی آیتونوکی راغلی دی ، چي د الله ﷻ سره دچاپه شریکولو خاصکر دالله ﷻ دپاره په اولاد مقررولو سره مځکه اوغرونه وغیره سخته بیره کوی .

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمایي چې دپیریانو او انسانانو څخه علاوه نور ټول مخلوقات دخدای ﷻ سره په شریك جوړولو باندې ډیر بیریږي ، او دا بیره محسوسوي چې دوی به ریزه ریزه سي . (روح)

وَعَدُّهُمْ عَدًّا: یعنی الله ﷻ دټولو انسانانو ذات او د دوی عملونه په پوره علم سره پیژني د دوی ساګاني د دوی قدمونه د دوی ګولي اوغرپونه دالله ﷻ په نزد شمیرل سوي دي ، نه کمیدی سي او نه زیاتیدی سي .

سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا: یعني په ایمان اوعمل صالح باندې دقائم پاته کیدونکو دپاره الله ﷻ جوړه کړي دوستي اومحبت ، چې ایمان اوعمل صالح کله مکمل سي او دبیروني عوارضو څخه خالي سي ، نو خاصه یې دا ده چې دمومنانو صالحانو په مینځ کې الفت او محبت جوړسي ، یو نیك صالح سړی دبل نیك صالح سړي سره الفت اومینه ساتي اودنوروټولوخلګو اومخلوقاتوپه زړونوکې هم الله ﷻ د دوی محبت پیداکړي

بخاري مسلم ترمذي وغیره دحضرت ابوهریره ﷺ څخه دا روایت نقل کړي دي چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي چې الله ﷻ کله یوبنده خوښ کړي نو جبرائیل امین ﷺ ته ووایي چې زه دفلانی سړي سره محبت کوم ته هم دهغه سره محبت وکړه جبرائیل امین په ټولو آسمانونوکې ددې منادي وکړي اوټولو آسمانونو والا دده سره محبت شروع کړي ، بیا دا محبت مځکی ته نازل سي (نو مځکی والا هم دخدای ددې دوست سره محبت شروع کړي) اوفرمایي چې دقرآن کریم دا آیت پردې باندې شاهد دی ، یعني اِنَّ الَّذِیْنَ آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا (روح)

اوهرم بن حیان فرمایي چې کوم سړی په خپل پوره زړه سره دالله ﷻ طرف ته متوجه سي نوالله ﷻ دټولو ایماندارو زړونه دده طرف ته متوجه کړي . (قرطبي)

حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ چې کله خپله بی بی حضرت هاجره ﷺ اوشیر خوار کوچني حضرت اسمٰعیل ﷺ دمکی دوچو غرونو په مینځ کې په ریګستان کې دخدای ﷻ په حکم پریښوول اوشام ته یې دبیرته تلو اراده وفرمایله نو د دوی دپاره یې هم دعاغوښتې وه فَاجْعَلْ اَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِیْ اِلَیْهِمْ یعني یا الله، زما ددې بی اسرې اهل اوعیال دپاره دخینو خلقو زړونه د دوی طرف ته مائل کړه ، ددې دعا نتیجه ده چې په زرګونو کلونه تیر سول خو دمکی او دمکی دخلګو محبت دټولې دنیاپه زړونوکې اچول سوي دي ، او ددنیا دهر کونج څخه په لویو لویو محنتونو اومشقتونو سره او دټول عمر دګټلی دولت په خرڅ کولو سره خلګ دلته ځانونه را رسوي او ددنیا دهرکونج شیان دمکی په بازارونوکې پیداکیږي .

اوتَسْمَعُ لَهُمْ رِكْزًا: رکز هغه پټ آواز دی چې څوك په پوه نه سي ، لکه دمږ کیدونکی دژبی دریدوڅخه وروسته چې کوم آواز وي ، مطلب دآیت دا دی چې دا ټول حکومت اوسلطنت والا اوحشمت اوشوکت والا اوقوت اوطاقت والاچې کله د الله ﷻ په عذاب کې ونیول سوه اوفنا کړل سوه ، نو داسې سوه چې د دوی څه پټ آواز اوحرکت هم نه سي اوریدل کیدی .

(سورة طه)

سُوْرَةُ طٰهٰ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَخَمْسٌ وَثَلٰثُوْنَ اٰيَةً وَثَمَانُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة طٰهٰ په مکه کی نازل سو او په دی کی یوسل پنځه دیرش (۱۳۵) ایتونه دی او اته رکوع گانی.

شروع کوم په نوم د الله ﷻ سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی.

ددی سورة بل نوم سورةِ کلیم هم دی (لکه چی سخاوی ذکر کړي دی) وجه یی دا ده چی په دی کی دحضرت کلیم الله موسیٰ ﷺ واقعه په تفصیل سره ذکر ده.

په مسند دارمی کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی الله ﷻ دآسمان او مځکی دپیدا کولو څخه هم دوه زره کاله مخکی سورةِ طٰهٰ اوسورةِ یٰسن وویل (یعنی ملائکو ته یی واورول) نو ملائکو وویل چی ډیر خوش نصیب او مبارك دی، هغه امت په کوم چی به دا سورتونه نازل سی او مبارکی دی هغه سینی کومی چی د اياد کړی اومبارکی دی هغه ژبی کومی چی دا وایی.

دا هغه مبارك سورة دی کوم چی دنبی کریم ﷺ دقتل په اراده راوتلی عمربن خطاب ﷺ پر ایمان قبلولو او دحضرت نبی کریم ﷺ پرقدمونو پرلویدو باندی مجبوره کی، چی واقعه یی دسیرت په کتابونو کی معروفه او مشهوره ده.

د ابن اسحاق روایت داسی دی چی عمر بن خطاب ﷺ یوه ورځ توره را واخسته او دنبی کریم ﷺ دقتل په اراده دکوره ووتی په لاره کی نُعیم بن عبدالله ورسره یوځای سو، پوښتنه یی ورڅخه وکړه چی چیری دی اراده ده عمربن خطاب ﷺ وویل چی زه دهغه گمراه سړی دکار تمامولو دپاره ځم کوم چی په قریشو کی تفرقه اچولی ده، دقریشو دین اومذهب ته یی بدوویل بی عقلان یی ورڅخه جوړکړل اوبتانو ته یی بد وویل نُعَیم وویل چی عمره! ستانفس ته په دوکه کی اچولی یی آیاته داگنی چی ته به محمد ﷺ قتل کړی او دهغه قبیله بنو عبدمناف به تا ژوندی پریږ دی چی ته به پرمځکه وگرځی، که په تاکی عقل وی نو دخپلی خور او دهغی دخاوند خبر واخله، چی هغوی مسلمانان او دمحمد (ﷺ) ددین تابع سوي دی، پرحضرت عمر ﷺ باندی دی خبری اثر وکی او ددی ځای څخه دخپلی خور دکور طرف ته ستون سو، دهغوی په کورکی حضرت خباب بن ارت صحابی ﷺ دی دواړوته یی دقرآن کریم سورة طٰهٰ ویل کوم چی په یوه صحیفه کی لیکل سوی وو.

دا خلک چی کله پوه سول چی عمربن خطاب ﷺ راغی نوحضرت خباب ﷺ دکور په یو کونج یایوه کمره کی پټ سو اوخور یی دا صحیفه ترخپل پرونی لاندی پټه کړه مگرحضرت عمر ﷺ غوږونو ته دحضرت خباب ﷺ دتلاوت آواز رسیدلی وو، په دی وجه پوښتنه یی وکړه چی دا تاسی څه ویل چی ما واوریدل، دوی (خو اول خبره پټوله) وویل چی هیڅ نسته مگر حضرت عمر ﷺ خبره ښکاره کړه چی زه خبر سوی یم

چې تاسې دواړه دمحمد ﷺ سوې یاست اومسلمانان سوې یې دا یې وویل او پرخپل اخښې سعید بن زید باندې یې حمله وکړه فاطمې خور یې چې دا ولیدل نو دخاوند دمحفوظ کولو دپاره ورپاڅیده عمر ؓ دا هم په وهلو زخمې کړه .

هرکله چې خبره دې ته ورسیده نو خور او اخښې ورته په جمع وویل چې واوره ! مونږ بیشکه چې مسلمانان سوې یو او په الله ﷻ او دهغه په رسول ﷺ موایمان راوړې دی اوس چې ته څه کولای سې هغه وکړه ، دخور د زخم څخه یې وینې روانې وې دا حالت چې یې ولیدې نو عمر ؓ ستومانه سو اوخور ته یې وویل چې هغه صحیفه ماته وښایه کومه چې تاسې ویله چې زه یې هم ووینم چې دمحمد ﷺ تعلیم څه دی ؟ حضرت عمر ؓ تعلیم یافته سړې وو په دې وجه یې صحیفه دکتلو دپاره وغوښتله ، خور یې وویل زه بیرېږم چې که تاته یې درکړم ته به یې ضائع کړې یابه یې بې ادبې وکړې عمربن خطاب په خپلو بتانو قسم واخیستې چې تاسې بیرېږې مه زه به یې وګورم اوبیابه یې تاسې ته بیرته درکړم فاطمې ؓ چې داواوریدل نو څه امید یې پیدا سو چې شاید دې مسلمان سې ، نو دغه وخت یې وویل چې وروره خبره دا ده چې ته ناپاك یې او دې صحیفې ته دپاك سړې څخه علاوه بل څوك لاس نه سې وروړې ، که ته یې کتل غواړې نو غسل وکړه ، حضرت عمر ؓ غسل وکې بیایې هغه صحیفه ورلره ورکړه په کومه کې چې سورة طٰهٰ لیکل سوې وو ، ددې دشروع برخه چې یې وویله نو حضرت عمر ؓ وویل چې دا کلام خو ډیر ښه دی اوډیر محترم دی ، خبّاب بن ارت ؓ پټ ناست وو ،دا هرڅه یې اوریدل دحضرت عمر ؓ دا الفاظ چې یې واوریدل نو را مخامخ سو او وې ویل چې ای عمره ! زمادالله ﷻ درحمت څخه دا امیددې چې الله ﷻ دخپل رسول ددعا دپاره ستا انتخاب کړې دی ، څکه چې پرون ما دنبې کریم ﷺ څخه دا دعا اوریدلې ده چې کوله یې . اَللّٰهُمَّ اَيِّدِ الْاِسْلَامَ بِاَبِى الْحَكَمِ بْنِ هَشَامٍ اَوْبِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ یاالله! داسلام تائید وکې اوقوې یې کړې دابو الحکم بن هشام (یعنې ابو جهل) په ذریعه یادعمر بن خطاب په ذریعه. مطلب دا وو ، چې که په دې دواړوکې یو مسلمان سې ، نو دمسلمانانو په کمزورې دله کې به روح واچول سې ، بیاخباب ؓ وویل چې ای عمره ! ته داموقع غنیمت وګڼه ، عمر ؓ خباب ؓ ته وویل چې مانبې کریم ﷺ ته بوزه (قرطبې) مخ ته دده دحضور ﷺ په خدمت کې حاضریدل اواسلام قبلول مشهوره اومعروفه واقعه ده

طٰهٰ ﴿١﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰٓى ﴿٢﴾ اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ

په دې وجه مونږ په تا قرآن نه دی نازل کړې چې ته په محنت کې ولوېږې ، مګر نصیحت دهغه چادپاره

يَّخْشٰى ﴿٣﴾ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ﴿٤﴾ اَلرَّحْمٰنُ

چې بیرېږي ، نازل کړل سوې دی ، دهغه ذات چې پیدا یې کړل مځکه او اسمانونه لوړ ، هغه ډیرمهربان

عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ۝۵ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

په عرش قائم سو دهغه دی څه چی دی په اسمانونو او مځکه کی

وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ الثَّرٰى ۝۶ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ

او ددې دواړو په مینځ کی اولاندی دلندی مځکی څخه ، او که ته خبری کوی په چغه ، نو هغه خبر دی د پټی

السِّرَّ وَاَخْفٰى ۝۷ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ۝۸

خبری او زیاتی پټی څخه، الله دی چی دهغه څخه ماسوا دبل چابندگی نسته دهغه دی تول نومونه خاص (ښکلی)

لنډتفسیر: طٰهٰ (ددی معنی خو الله ﷻ ته معلومه ده) مونږ پرتا قرآن (مجید) ددی دپاره نازل نه کی چی ته په تکلیف کی راسی بلکی دداسی سړی دنصیحت دپاره (نازل کی) کوم چی (دالله ﷻ څخه) بیریږی دا دهغه (ذات) دطرف څخه نازل سوي دی کوم چی مځکه اوپورته آسمانونه پیدا کړل (او) هغه لوی رحمت والا په عرش (چی مشابه دی دتخت دحکومت سره داسی) قائم (اوجلوه فرما) دی (کوم چی دده دشان سره لایق وی او هغه داسی دی چی) دهغه په ملکیت کی دی څه شیان چی په آسمانونوکی او څه شیان چی په مځکه کی دی اوڅه شیان چی ددی دواړو په مینځ کی دی (یعنی دآسمان څخه لاندی او دمځکی څخه سربیره) اوڅه شیان چی دمځکی لاندی دی (یعنی دمځکی دننه چی کومه لنده ختته ده چی ثړی ورته وایی ، څه شی چی دهغه څخه لاندی دی مراد دا دی چی کوم شیان چی دمځکی په بیخ کی دی دا خو دالله ﷻ قدرت او سلطنت وو) او (دعلم یی داشان دی چی) که ته (ای مخاطبه) په چیغه خبره کوی ، نو (دهغه په اوریدوکی څه شبهه ده؟) هغه خو (داسی دی چی) په پټه ویل سوی خبره او (بلکی) ددی څخه هم زیاته پټه خبره (یعنی کومه چی لا په زړه کی ده) پیژنی (دغه) الله داسی دی چی دهغه څخه ماسوا هیڅ معبود (مستحق دعبادت) نسته دهغه (ډیر) ښه ښه نومونه دی (کوم چی پرصفتونو اوکوم الونو دلالت کوی پس قرآن کریم دداسی ذات جامع الصفات دطرف څخه نازل سوي دی او په یقین سره حق دی)

(معلومات اومسئلي)

طٰهٰ ددی لفظ په تفسیرکی دتفسیر دعالمانو اقوال ډیر دی دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه ددی معنی یارجل او دابن عمر رضی الله عنه څخه یاحبیبی منقول ده دحدیث دځینو روایتونو څخه معلومیږی چی طٰهٰ او یٰسٓ دنبی کریم ﷺ مبارک نومونه دی اوبی غباره خبره هغه ده کومه چی حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه اوجمهور علماء فرمایی چی لکه څنګه چی دقرآن کریم د ډیرو سورتونو په ابتداء کی راغلی حروف مقطعه مثلاً الٓمٓ وغیره متشابهات دی یعنی درازونو څخه دی پرکوم چی دالله ﷻ څخه ماسوا هیڅوک نه پوهیږی ،

دغسې لفظ دطٰهٰ هم په دې کې دا خل دی.

مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ لِتَشْقٰى : دشِقَاءَ څخه مشتق دی چې معنٰی یې سترې والی اومشقت اوتکلیف دی ، دنزول قرآن په ابتداء کې به نبی کریم ﷺ اوصحاب کرام ﷺ ټوله شپه دعبادت دپاره ولاړوه اوپه لمونځ اوتهجد او دقرآن تلاوت کې به مشغول وه تردې چې دنبی کریم ﷺ پرقدمونو مبارکو باندې پړسوب راغی اوټوله ورځ به په دې فکرکې وو ، چې څنګه به کفارو ته هدایت وسې دوی به دقرآن دعوت قبول کې په دې آیت کې نبی کریم ﷺ ته ددې دواړه قسمه تکلیف څخه دمحفوظ کیدو دپاره ارشادفرمایی چې مونږ په تاقرآن کریم په دې وجه نه دی نازل کړی چې ته په مشقت اوتکلیف کې ولویږي ټوله شپه دبیدار اوسیدو او دقرآن کریم په تلاوت کې دمشغولیدوضرورت نسته ، چنانچې ددې آیت دنزول څخه وروسته دنبی کریم ﷺ عادت داجوړ سوچې دشپې په اوله برخه کې به یې آرام فرمایې اودشپې په آخره کې به پورته کیدې تهجدبه یې اداکوې.

دغه شان په دې آیت کې یې دې طرف ته هم اشاره وفرمایله چې ستا فرض صرف تبلیغ اودعوت دی کله چې ته داکاروکې نو بیادافکرستا پرذمه نه دی چې چاایمان راوړی اوچادعوت قبول نه کې (تلخیص ازقرطبی)

اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ يَّخْشٰى : ابن کثیر (رحمه الله) فرمایې چې دقرآن دابتدایی نزول په دوران کې به ټوله شپه په تهجد اوتلاوت کې په مشغولیدو باندې خینې کفارو په مسلمانانو پسې داخبرې شروع کړې چې په دې خلکو قرآن څه نازل سو یومصیبت پرنازل سو نه دشپې آرام او نه دورځې آرام ، په دې آیت کې حق تعالی اشاره وفرمایله چې دا جاهلان بدنصیبه دحقیقت څخه ناخبره څه پوهیږي ، چې قرآن او ددې په ذریعه د الله ﷻ ورکړل سوې علم سرا سر خیر اوخوش بختې ده دا مصیبت ګڼونکې بې خبره او احمقان دی.

دصحیحینو په حدیث کې په روایت دحضرت معاویة ﷺ راغلې دی چې نبی کریم ﷺ فرمایې مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ : یعنی الله ﷻ چې دکوم سړې دخیر اراده وفرمایې ده ته ددین علم اوپوهه ورکړې.

دلته امام ابن کثیر یوصحیح حدیث بل هم نقل کړې دی کوم چې دعلماؤ دپاره لویه خوشخبرې ده ، دا حدیث طبرانی دحضرت ثعلبه بن الحکم ﷺ څخه روایت کړې دی ، ابن کثیر (رحمه الله) فرمایې چې اسناد ددې جید دې حدیث دا دی.

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اللّٰهُ تعالى لِلْعُلَمَاءِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِذَا قَعَدَ عَلٰى كُرْسِيِّهٖ لِقَضَاءِ عِبَادِهٖ اِنِّىْ لَمْ اَجْعَلْ علمى وَحِكْمَتِىْ فِيْكُمْ اِلَّا وَاَنَا اُرِيْدُ اَنْ اَغْفِرَ لَكُمْ عَلٰى مَا كَانَ مِنْكُمْ وَلَا اُبَالِىْ .

نبی کریم ﷺ فرمایې چې دقیامت په ورځ چې کله الله ﷻ دبندګانو دعملونو دفیصلې کولو دپاره پرخپله کرسۍ تشریف فرما سې نوعلماؤته به وفرمایې چې ماخپل علم اوحکمت ستاسې په سینوکې یوازې ددې دپاره ایښې وو چې زه ستاسې مغفرت کول غواړم سره دهغو خطاګانو کومې چې ستاسې څخه

سوی دی او زما هیڅ پروا نسته . ابن کثیر ص۱۴۱ ج ۳

مګر دا ظاهره ده چی دلته دعلماؤ څخه مراد هغه علمآء دی په کوموکی دقرآن دعلم نښانه دخدای ﷻ بیره موجوده وی په دی آیت کی لفظ د لِمَنْ یَّخْشٰی ددی طرف ته اشاره کوی په کوموکی چی دا نښانه نه وی ، هغه ددی مستحق نه دی . والله اعلم .

عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی ، داستوآء علی العرش متعلق صحیح بی غباره خبره هغه ده کومه چی دجمهورو سلفو صالحینو څخه نقل ده چی ددی حقیقت او کیفیت چاته معلوم نه دی دمتشابهاتو څخه دی ، عقیده دومره ساتل په کار دی چی استواء علی العرش حق ده ددی کیفیت به دالله ﷻ دشان مطابق اومناسب وی چی ادراک یی په دنیا کی هیچاته نه سی کیدی .

وَمَاتَحْتَ الثَّرٰی : ثرٰی نمناکی لمدی ختی ته ویل کیږی کومه چی دمځکی دکیندلو په وخت کی راوزی ، دمخلوقاتو علم خو صرف تر ثرٰی پوری ختمیږی ، مخته تردی ثرٰی لاندی څه دی ، ددی علم دالله ﷻ څخه ماسوا دهیچا سره نسته ددی نوی تحقیق اوریسرچ اونوو نوو آلو او دسائنس دانتهایی ترقی باوجود د اوس څخه څوکاله مخکی دمځکی برمه کولو او دیو طرف څخه بل طرف ته دوتلو کوششونه ډیره موده جاری وه ، ددی ټولو تحقیقاتو اوبی کچه محنتونو نیتجه په اخباراتوکی ټولوته ونښوول سوه ، چی صرف ترشپږو میلونو ژوروالی پوری دی ، نوو آلاتو کاروکی مخته د ډبری یو داسی غلاف ثابت سوکوم ځای چی دساتنس دکیندلو ټول نوی سامانونه اوټول سائنسی فکرونه عاجزه سول دا صرف ترشپږو میلو پوری انسان علم حاصل کړی دی حال دا دی چی دمځکی قطر په زرګونو میله دی په دی وجه ددی اقرار څخه ماسوا بله چاره نسته ، چی دتحت الثرٰی علم دحق تعالی مخصوص صفت دی .

یَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰی : دسر څخه مراد هغه شی دی کوم چی انسان په خپل زړه کی پټ کړی وی ، په چا یی نه ظاهر وی او داخفٰی څخه مرادهغه خبره ده چی لا په زړه کی هم نه وی راغلی اوآئنده یو وخت په زړه کی راتلونکی وی ، الله ﷻ ددی ټولوشیانو څخه واقف او خبردار دی چی دا وخت دانسان په زړه کی څه دی اوصبا به څه وی ؟ دصبا معامله داسی ده چی په خپله دی سړی ته هم نن ددی خبر نسته ، چی صبا به ده په زړه کی څه خبره راځی؟ (قرطبی)

وَهَلْ اَتٰىكَ حَدِیْثُ مُوْسٰی ۹ اِذْ رَاٰ نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْۤا اِنِّیْۤ

او ایا راغلی ده تاته خبره دموسی ﷺ ، کله چی هغه ولیدی یو اورپس وي ویل اهل خپل ته صبر وکی ما

اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّیْۤ اٰتِیْكُمْ مِّنْهَا بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَی النَّارِ هُدًی ۱۰

ما لیدلی دی یو اور شاید چی راورم تاسی ته ددې څخه سکروټه یا بیا پیدا کوم د اور په خواکی دلاری پته

فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى ﴿١١﴾ اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۚ اِنَّكَ

بیا چی ورسیدی هغه ته اواز راغی ای موسیٰ! زه یم ستا رب ، پس وباسه خپل خپلی ، ته یی

بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٢﴾ وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى ﴿١٣﴾

پاك میدان دطوی کی ، او ماته غوره کړی یی پس ته واوره څه چی حکم دی .

اِنَّنِيْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِيْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِيْ ﴿١٤﴾

بیشکه زه الله یم نسته لایق دعبادت ما سوا زما څخه پس زمابندگی کوه او لمونځ قائم کړه زما دیادو دپاره

اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ اَكَادُ اُخْفِيْهَا لِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعٰى ﴿١٥﴾

بیشکه قیامت راتلونکی دی زه پټ ساتم هغه چی بدله ورسیږي هر سړی ته دهغه څه چی ده کړی دی ،

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ لَّا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَتَرْدٰى ﴿١٦﴾

نوتادی منع کړی ددې څخه هغه څوك چی یقین نه کوی په دی اوتابعداری کوی دخپلو خواهشاتو نوته به تباه سی

تفسیر: او (ای محمد ﷺ) آیاتاته دموسیٰ (علیه السلام) دقصی) خبر رسیدلی دی (یعنی هغه د اوریدو قابل دی چی په هغه کی دتوحید اونبوت متعلق علوم دی چی تبلیغ یی نفع ورکوونکی دی هغه قصه دا ده چی) کله هغوی (دمدین څخه په راتلوکی یوه شپه چی یخ په کی هم وو اولاره ورڅخه هم ورکه سوی وه پرکوه طور باندی) یو اور ولیدی (چی په واقع کی هغه نور وو مگر شکل یی د اور په شان وو) پس خپل کور والاؤ ته یی (چی صرف بی بی وه یاخادم وغیره هم) وفرمایل چی تاسو (دلته) اوسیږئ (یعنی په ماپسی مه راځئ ځکه چی دا خو احتمال نه وو چی بغیر د دوی څخه به هغوی مخکی سفر وکی) مایو اور لیدلی دی (زه هلته ځم) شاید زه دهغه څخه تاسی ته یوه لمبه (په لرگی وغیره لگولی) راوړم (چی دیخ علاج وسی) یا (هلته) د اور په خواکی دلاری درك (ښودونکی یوسړی هم) ماته پیداسی پس دی چی کله دی (اور) ته ورسیدی نو (ده ته د الله ﷻ دطرف څخه) آواز وسو چی ای موسیٰ! زه ستارب یم پس ته خپلی څپلی وباسه (ځکه چی) ته په یوپاك میدان یعنی طویٰ کی (دا ددغه میدان نوم دی) اوماته (دنبی جوړولو دپاره منجمله دنورو خلگو څخه) منتخب فرمایلی یی پس (دا وخت) چی څه وحی کیدای سی دا (په غورسره) واوره (هغه دا ده چی) زه الله یم! زما څخه ماسوا څوك معبود (دعبادت لایق) نسته ، نو ته زما عبادت کوه او زما دیادو دپاره لمونځ کوه (دوهمه خبره دا واوره چی) بیشکه قیامت راتلونکی دی

زه دا (دټول مخلوق څخه) پټ ساتم (اوقیامت به څکه راځي) چې هرسړی ته دده دعمل بدله ورکړل سي پس (کله چې قیامت راتلل یقیني دی نو) تادي دقیامت (دپاره دتیاریدو) څخه داسي سړی منع نه کړي کوم چې په ده ایمان نه لري اوپه خپلو (نفساني) خواهشونو چلیږي (یعنی ته دداسي سړي په اثر سره دقیامت دپاره دتیاري کولو څخه بې فکره نه سې) هسې نه چې ته (ددې بې فکرۍ په وجه) تباه نه سې.

(معلومات اومسئلې)

هَلْ اَتٰكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى : په تیرو آیتونو کې دقرآن کریم دعظمت او ددې په ضمن کې درسول دتعظیم بیان سوی وو. ددې څخه وروسته دحضرت موسٰی ﷺ قصه یې په دې مناسبت سره ذکر کړه چې درسالت او دعوت دمنصب په ادا کولو کې کوم مشکلات اوتکلیفونه مخ ته راځي اوتیرو پیغمبرانو علیهم السلام دغه برداشت کړي دي ، دغه دنبي کریم ﷺ په علم کې راسي چې دوی ددې دپاره دمخکې څخه تیار او مستعد سي اوثابت قدم پاته سي لکه چې په یو آیت کې ارشاد دی ، وَكُلًّا نَّقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْبَاۗءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهٖ فُؤَادَكَ : یعنی درسولانو دا ټولې قصې مونږ تاته ځکه بیانوو چې ستازړه مضبوط سي او دنبوت دمنصب دبار پورته کولو دپاره تیار سي.

اودحضرت موسٰی ﷺ قصه چې کومه دلته ذکر ده ددې ابتداء داسې وسوه چې کله دی مَدْيَن ته ورسیدی نو دحضرت شعیب ﷺ په کورکې پردې وعده مقیم سو چې اته یا لس کاله به دده خدمت کوي او دوی دتفسیر بحرِ محیط وغیره دروایت مطابق اَبْعَدُ الْاَجَلَيْنَ یعنی لس کاله پوره کړل ، نو دحضرت شعیب ﷺ څخه یې رخصت وغوښتې چې زه اوس دخپلې مور اوخورسره دیوځای کیدو دپاره مصرته ځم او دکومې خطرې په وجه چې مامصر پرې ایښی وو چې دفرعون سپایان دده په ګرفتارولو اوقتلولو پسې وه . د ډیرې زمانې تیریدو څخه وروسته اوس هغه بیره هم باقي نه وه پاته حضرت شعیب ﷺ دی سره دخپلې بي بي یعنی دده دلور اوڅه مال اوسامان سره رخصت کړل پر لارې دشام دبادشاهانو څخه خطره وه په دې وجه یې عامه لار پریښووله پرنا آشنا لاره روان سوه موسم دیخ وو اوبي بي یې دبچې کیدو نژدې حامله وه چې سهار ماښام یې دبچې کیدو احتمال وو. نا اشنا لاره وه او په ځنګل کې ورځه لاره ورکه سوه ، دکوه طور مغرب او راسته طرف ته راغلل ، دشپې تیاره او دواورو یخ وو په دې حال کې یې دبي بي بچې کیدل شروع سو ، حضرت موسٰی ﷺ یې دګرمولو دپاره اور بلوی په دغه زمانه کې به د اورلګیت پرځای دچقماق او ډبرې څخه اوربلول کیدی دا یې استعمال کړل مګر اور ورڅخه بل نه سو ، په دې حیرانې اوپریشانۍ کې یې پرکوه طور باندې اور ولیدی کوم چې په حقیقت کې نور وو ، نو کوروالاوو ته یې وویل چې مااور لیدلی دی هلته ځم چې ستاسې دپاره اور راوړم او ممکنه ده چې د اور سره څوك لارښوونکی پیدا سي ، نو لار به هم معلومه کړم په کوروالاوو کې یې بي بي محترمه خو متعینه ده ، دځینو روایتونو څخه معلومیږي چې څوك خادم به هم ورسره وو ، هغه هم په دې خطاب کې داخل

دي ، په ځينو روايتونوکي دي چي دسفرځه ملګري هم ورسره وه خو دلاري ورکيدو په وجه ورځخه جدا سوي وه . (بحرِ محيط)

فَلَمَّآ اَتٰهَا: يعني کوم اور چي يې دليري ځخه ليدلي وو کله چي دي ته را ورسيدي په مسند احمد وغيره کي دوهب بن منبه روايت دی چي حضرت موسٰی ﷺ ددی اورطرف ته ولاړی او ورنژدی سو ، نو يو حيرانوونکی منظر يې وليدی چي يو لوی اور دی چي پرشنی درختی سربيره شغلي وهی ، مګر حيرانتيا دا ده چي ددی درختی يوښاخ ياپانه سوزی نه بلکی دی اور د درختی تازه والی اورونق نورهم زيات کړي دی دی حيرانوونکی منظرته يې يو ساعت کتل په دی انتظارکی وو چي شايد د اورڅه بڅری مځکی ته را ارتاژ سی ، نو دی به يې را پورته کړی کله چي تر ډيره وخته داسی ونه سوه نوحضرت موسٰی ﷺ څه وابنه وغيره راټول کړه اور ته يې نژدی کړه چي دوی ورځخه اور واخلي نو دده کار به وسی ، مګر چي ده وابنه ورنژدی کړه نو اور ورځخه ليری سو اوپه ځينو روايتونو کی دی چي اور په ده پسی رامخ ته سو نو دی ور ځخه وبيريدی او په شاشو ورځخه ، په هرحال داور حاصلولو مطلب يې پوره نه سو، دی په دی عجيبه اونا آشنا اور حيران وو چي يو غيبي آواز راغی (روح) دا واقعه حضرت موسٰی ﷺ ته دغره په لمنه کی پيښه سوه کومه چي ددی غره راسته طرف ته وه اونوم يې طوٰی وو.

نُوْدِيَ يٰمُوْسٰى اِنِّيْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ: په بحرِ محيط او روح المعاني وغيره کی دی چي حضرت موسٰی ﷺ دا آواز داسی واوريدی چي دهر طرف ځخه يو ډول راتلی ، هيڅ طرف يې متعين نه وو او آوريدل يې هم په يو عجيبه انداز سره وسوه چي صرف په غوږونو نه بلکی دبدن په ټولو اندامونو سره يې واوريدل کوم چي ديوی معجزی حيثيت لری د آواز مطلب دا وو، چي کوم شي ته اور ګڼی دا اورنه دی د الله ﷻ يوه تجلي ده او په دی کی يې وفرمايل چي زه ستا رب يم دحضرت موسٰی ﷺ ددی آواز متعلق دا يقين ځنګه وسو چي دا دحق تعالی آواز دی ددی اصل جواب خو دا دی چي حق تعالی دده زړه په دی مطمئن کی چي دی يقين وکی چي دا دحق تعالی آواز دی دوهم ددی اور حيرانوونکی حالات چي د درختی دسوزولو پرځای نوره تازګی او ښائست زياتوی او آواز هم دعامو خلګو دآواز په شان نه دی چي ديو طرف ځخه راسی بلکی دهر طرف ځخه دا آواز يو شان اوريدل کيدی بل صرف په غوږونو نه بلکی په لاسونو پښو اونورو اندامونوکوم چي داوريدو دپاره نه دی جوړ ټول يې په اوريدو کی شريک وو په دی سره هم پوه سو چي د الله ﷻ دطرف ځخه دا آواز دی.

(حضرت موسي ﷺ دحق تعالي لفظي کلام بي دځه واسطي ځخه واوريدی)

په روح المعاني کی په حواله دمسند احمد دوهب ځخه روايت دی چي حضرت موسٰی ﷺ ته چي کله آواز په لفظ ديا موسٰی سره وسو نو ده لبيك ووېل جواب يې ورکی او عرض يې وکی چي زه آواز اورم مګر دآواز کوونکی ځای معلوم نه دی تاسی کوم ځای ياست؟ ځواب راغی چي زه پرتا سربيره مخامخ شاته

اوستا سره یم ، بیایي عرض وکی چي زه دا خبری په خپله ستاسی اورم که ستاسی دراليږلی ملائکی؟ نو
جواب راغی چي زه په خپله ستاسره خبری کوم، په دی باندی دروح المعاني صاحب فرمايي چي ددی
څخه معلومه سوه چي حضرت موسٰی ﷺ داکلام لفظی بی دواسطی دملائکی څخه په خپله اوريدلی دی
لکه چي په اهل سنّت والجماعت کی دیوجماعت مسلك دا دی چي لفظی کلام هم دقديم والی باوجود
اوريدل کيږي ، په دی چي کومه شُبهه دحدوث کول کيږي دهغه جواب د دوی دطرف څخه دا دی چي
لفظی کلام هغه وخت حادث وی چي په مادی ژبه سره ادا کول کيږي چي ددی دپاره جسم طرف اوجهت
شرط دی دارنگه داوريدو دپاره صرف غوږونه مخصوص دی ، حضرت موسٰی ﷺ چي څنگه واوريدل
چي نه دآواز څه جهت اوطرف وو او نه د اوريدو دپاره صرف غوږونه مخصوص وه دټولو اندامونو
اوريدو ظاهره ده چي دا صورت داحتمال دحدوث څخه پاك دی . والله اعلم .

(په مقام دادب کي څپلي ايستل د ادب مقتضاء ده)

فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ : دڅپلي ايستلو حکم یاخوځکه ورکړل سوچي مقام د ادب دی اوڅپلي ايستل پښني لڅول
مقتضاء د ادب ده ، اوياځکه چي څپلي دمرداری دڅرمن څخه جوړ وو ، لکه چي په ځينو روايتونو کی
دی ، دحضرت علی ﷺ حسن بصری رحمه الله او ابن جريج رحمه الله څخه اوله وجه نقل ده او دڅپلي ايستلو
مصلحت یي دا ښوولی دی ، چي د دوی قدمونه ددی مبارکی مځکی دخاوری سره ولگيږي ، ددی
برکتونه حاصل کړی اوځينی فرمايي چي داحکم دخشوع اوتواضع صورت جوړولو دپاره وسو لکه چي
دسلف صالحينو دبيت الله دطواف په وخت کي دا سی کول .
په يوبل حديث کی دی چي نبی کريم ﷺ بشير بن خصاصيه دقبرونو په مينځ کی دڅپلي سره روان وليدی
نو وي فرمايل اِذَا كُنْتَ فِي مِثْلِ هٰذَا الْمَكَانِ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ : يعنی کله چي ته په داسی مقام باندی تيريږي
(دکوم چي احترام په کار دی) نوڅپلي څپلي وباسه .
څپلي چي پاکي وی نو ددی سره په لمونځ جائز کيدو دټولو فقهاؤ اتفاق دی او دنبی کريم ﷺ او دصحابه
کرامو ﷺ څخه دپاکی څپلي سره لمونځ کول په صحيح روايتونو سره ثابت هم دی ، مگر عام عادت
اوسنت دا معلوميږي چي لمونځ ته به يي څپلي ايستلی ځکه چي په دی کی تواضع ده . (قرطبی)
اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى حق تعالی دمځکی خاصو خاصو حصوته په خپل حکمت سره خاص امتياز او
شرف بخښلی دی لکه بيت الله مسجد اقصٰی مسجد نبوی دغه ډول وادی طوٰی هم په دی مقدسو
مقاماتو کی ده کوم چي دکوه طور په لمن کی ده . (قرطبی)

(دقرآن اوريدو آداب)

فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوْحٰى : دحضرت وهب بن منبه رحمه الله څخه نقل دی چي دقرآن اوريدو په آدابو کی دا ده چي
انسان خپل ټول اعضاء دفضولو حرکتونو څخه منع کی چي يو اندام هم په څه بل شغل کی مشغول نه وی

او نظر کښنته ساتی او دکلام د اوریدو طرف ته توجه کوی او کوم سړی چی په دی ادب سره څه کلام اوری نو الله ﷻ ده ته په دی دپوهیدو توفیق هم ورکوی. (قرطبی)

اِنَّنِیْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِیْ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِیْ: په دی کلام کی حضرت موسیٰ ﷺ ته ددین دټولو اصولو تعلیم ورکړل سو یعنی توحید رسالت اخرت په فَاسْتَمِعْ لِمَا یُوْحٰی کی درسالت طرف ته اشاره ده او د: فَاعْبُدْنِیْ معنٰی دا ده چی صرف زما عبادت کوی زما څخه ماسوا دبل چاعبادت مه کوی دا مضمون د توحید سو مخکی په اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ کی داخرت بیان دی د: فَاعْبُدْنِیْ په حکم کی که څه هم دلمونځ حکم هم دا خل دی لیکن دا یی جدا څکه بیان کی چی لمونځ په ټولو عبادتونوکی افضل او اعلی هم دی او دحدیث دوضاحت مطابق ددین ستن او دایمان نور دی اولمونځ پریښوول دکافرانو نښانه ده.

د: اَقِمِ الصَّلٰوةَ لِذِكْرِیْ مطلب دا دی چی دلمونځ روح دالله ذکر دی اولمونځ د اول څخه تر اخره پوری ذکر او ذکر دی، په ژبه هم په زړه هم او په نورو اندامونو سره هم په دی وجه په لمانځه کی دالله ﷻ د ذکرڅخه غفلت نه دی په کار او ددی په مطلب کی دا هم دا خل دی چی که پرچاباندی خوب غالب سو یاپه څه کارکی مشغول سوهیر یی سول او دلمانځه وخت ووتی نوکله چی دخوب څخه بیدار سی یایی یادسی نو دغه وخت دی لمونځ قضا وکی لکه چی دحدیث په څینو روایتونوکی راغلی دی.

اَکَادُ اُخْفِیْهَا: یعنی دقیامت معامله زه دټول مخلوق څخه پټه ساتل غواړم تردی چی دانبیاؤ علیهم السلام اوملائکو څخه هم د اَکَادُ څخه دی طرف ته اشاره ده چی که خلګو ته دقیامت او اخرت فکر راوراندی کول او ایمان اونیك عمل ته یی راپارول مقصود نه وای نو دومره خبره به می هم نه ظاهروله چی قیامت راتلونکی دی لکه چی لوړ په ایت کی راغلی دی اِنَّ السَّاعَةَ اٰتِیَةٌ مقصود ددی څخه په پټولو دقیامت کی مبالغه کول دی.

لِتُجْزٰی كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا تَسْعٰی: چی جزاء ورکړل سی هر یو نفس ته دده دعمل ددی جملی تعلق که دلفظ د: اٰتِیَةٌ سره دی نو معنٰی یی ظاهره ده چی دقیامت دراتلوحکمت اومصلحت دا دی چی دنیا خو دار الجزاء نه ده دلته دنیك او بد عمل جزا هیچاته نه ورکول کیږی، اوکه چیری په دنیاکی هم څه جزاء ورکول کیږی، نو هغه دعمل پوره جزاء نه وی یوه نمونه غوندی یی وی په دی وجه ضروری ده چی څه داسی وخت راسی چی په هغه کی دنیك او بد عمل جزاء او سزا پوره ورکړل سی.

اوکه دجملی تعلق دَ اَکَادُ اُخْفِیْهَا سره مقررسی نو دا هم ممکنه ده او معنٰی به داسی سی چی دقیامت او مرګ دوخت او تاریخ په پټ ساتلوکی دا حکمت دی چی خلګ په خپل خپل عمل اوکوشش کی لګیاوی خپل مرګ او قیامت لیری ونه ګڼی اوغافله ورڅخه نه سی (روح)

فَلَا یَصُدَّنَّكَ عَنْهَا: په دی کی حضرت موسیٰ ﷺ ته خطاب کوی او خبر وی یی چی هسی نه چی ته دکافرانو اوبی ایمانو په وینا سره دقیامت په معامله کی غفلت شروع کړی او دا ستا دهلاکت سبب جوړسی

ظاهره ده چي ديو نبي او رسول څخه چي معصومان دي دا غفلت نه سي کيدی ددی باوجود ورته داسې خطاب کول په اصل کي دده امت او عام مخلوق ته اورول وو، چي هرکله دالله ﷺ پيغمبرانو ته هم داسې تاکيد کيدای سي، نو مونږ ته ددې څومره اهتمام کول په کار دی.

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يٰمُوسٰى ﴿١٧﴾ قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا

او دا څه دي ستا په راسته لاس کي ای موسٰی! وې ويل دا زما همساده، (لکړه) په دې تکيه کوم

وَأَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا مَآرِبُ أُخْرٰى ﴿١٨﴾ قَالَ أَلْقِهَا

او پاڼې په څنډم خپلو بزوته او په دې مانور کارونه هم دي، وې فرمايل وغورځوه

يٰمُوسٰى ﴿١٩﴾ فَأَلْقٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿٢٠﴾ قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ

دا ای موسٰی! نو ده وغورځوله بيا دغه وخت هغه مار سو منډې وهونکی وې ويل ونيسه دا او مه بيرېږه

سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا الْأُولٰى ﴿٢١﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ إِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ

مونږ به يې اوس واپس کړو اول حال ته او پيوست کړه خپل لاس دخپل تخرسره چي راووزي

بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ آيَةً أُخْرٰى ﴿٢٢﴾ لِنُرِيَكَ مِنْ آيَاتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾

سپين بې عيبه دا نښانه ده بله، چي وښيو تاته دخپلو نښانو څخه لويه

اِذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغٰى ﴿٢٤﴾

ولاړ سه فرعون ته چي ده ډيره سرکشي وکړه.

لنډتفسير: او (حق تعالی حضرت موسٰی ﷺ ته دا هم وفرمايل چي) دا ستا په راسته لاس کي څه شی دی ای موسٰی! ده وويل چي دا زما همساده زه (کله) دې ته تکيه لګوم او (کله) په دې سره خپلو بزوته (ددرختو) پاڼې راڅنډم او په دې کي زما نور کارونه هم دي (مثلاً پر اوږه يې کښيږدم سامان پروزړدم ياموذي حيوانان په دفع کوم وغيره وغيره) ارشاد ورته وسوچي دا (همسامځکې ته) وغورځوه ای موسٰی! ورروسته ده هغه (په مځکه) وغورځوله نوېکدم هغه (دخدای په قدرت سره) يو منډه وهونکی مار جوړ سو (حضرت موسٰی ﷺ ورڅخه وبيريدی) ارشاد ورته وسوچي دا ونيسه اومه بيريږه مونږ به اوس (دنيولوسره) دا په خپل اولني حالت باندي کړو (يعني دا به بياهمسا جوړه سي او تاته به هيڅ نقصان ونه رسيږي يوه معجزه خودا سوه) او (دوهمه معجزه درلره درکول کيږي چي) ته خپل (رسته) لاس په خپل

(چپه) تخرکی دننه کړه (بیایی را وباسه) دا به بغیر دځه عیب څخه (بغیر دځه مرض برګی وغیره څخه نهایتی) سپین راووزی دا دوهمه نښانه (زمونږ دقدرت اوستا دنبوت) سوه (او دا حکم دهمسا دغورځولو اولاس په تخرکی دورکولو په دی وجه دی) چی مونږ تاته خپلی (دقدرت) دلویو نښانوڅخه ځینی نښانی وښیو (نو اوس دا نښانی واخله) ته فرعون ته ولاړسه هغه ډیر دحد څخه وتلی دی (چی دخدایی دعوه کوی ته ده ته دتوحید تبلیغ وکړه اوکه په نبوت کی شك کوی نو دا معجزی ورته وښیه)

(معلومات اومسئلي)

وَمَا تِلْكَ بِيَمِيْنِكَ يٰمُوْسٰى : درب العلمین دبارګاه څخه دحضرت موسٰی ﷺ څخه دا پوښتنه کول چی ستا په لاس کی څه شی دی په حضرت موسٰی ﷺ باندی دلطف اوکرم اوخاصی مهربانی شروع ده چی دحیرانونکو مناظرو په لیدو او دکلام ربانی په اوریدو سره چی کوم هیبت او بیره پرده راغلی وه هغه لیری سی دا دیو دوستانه انداز خطاب دی چی ستاپه لاس کی څه شی دی؟ ددی څخه علاوه په دی سوال کی یو حکمت دا هم دی چی مخ ته دا همسا کومه چی دده په لاس کی وه ددی څخه یو مار او اژدها جوړول مقصود وه په دی وجه اول یی دی خبرکی چی وګوره ستاپه لاس کی څه شی دی؟ کله چی دوی وکتل نو هغه دلرګی همساوه بیا یی دهغه څخه دمار جوړولو معجزه ظاهره کړه ، کنه نو حضرت موسٰی ﷺ ته دا احتمال کیدی سو ، چی ما دشپی په تیاره کی شاید دهمسا پر ځای مار رانیولی وی .

قَالَ هِيَ عَصَايَ ، دحضرت موسٰی ﷺ څخه سوال صرف دومره سوی وو چی په لاس کی دی څه شی دی ، ددی دومره جواب کافی وو چی همساده مګر دلته حضرت موسٰی ﷺ دری خبری داصل سوال دجواب څخه زیاتی عرض کړی اول دا چی دا همسا زماده دوهم دا چی زه په دی سره ډیر کارونه کوم یوه دا چی دی ته تکیه کوم دوهم دا چی په دی خپلو بزوته د درختو پانی راڅنډم دریم داچی په دی سره نورهم زما ډیرکارونه سرته رسیږی په دی اوږد اوتفصیلی جواب کی دعشق اومحبت او ددی سره د ادب درعایت کمال ظاهرېږی دعشق او محبت تقاضاده چی کله محبوب مهربانه اومتوجه سی نوخبره اوږدولای سی چی دزیات څخه زیاته فائده ورڅخه واخستل سی ، مګر ددی سره سره د ادب مقتضا دا هم ده چی ډیر بی تکلفه نه سی او خبره زیاته اوږده نه کی ، په دی دوهمه مقتضا باندی دعمل کولو دپاره یی په اخیرکی اختصار وکی چی ، وَلِيَ فِيْهَا مَاٰرِبُ اُخْرٰى یعنی زه ددی څخه نور هم ډیر کارونه اخلم او ددی کارونو تفصیل یی بیان نه کی . (روح ومظهری)

په تفسیر قرطبی کی یی ددی څخه دا مسئله را ایستلی ده چی په ضرورت او مصلحت سره دا هم جائز دی چی کومه خبره په سوال کی نه وی پوښتل سوی هغه هم په جواب کی بیان سی .

مسئله : ددی ایت څخه معلومه سوه چی په لاس کی همساساتل د انبیاؤ سنت دی ، دنبی کریم ﷺ هم دا سنت وو او په دی کی بی شمیره دینی او دنیوی فائدی دی . (قرطبی)

فَاِذَاهِيَ حَيَّةٌ تَسۡعٰى : دحضرت موسٰی ﷺ په لاس کی چی کومه همساوه دالله ﷻ په حکم یی هغه وغورځوله نو هغه مار جوړ سوو ددی مار په باره کی دقرآن په آیتونو کی یو ځای خو داراغلی دی كَاَنَّهَا جَآنٌّ ، جان په عربی لغت کی کوچنی اونری مارته ویل کیږی اوبل ځای راغلی دی فَاِذَاهِيَ ثُعۡبَانٌ معنٰی اژدها اوغټ لوی سار دی او په دی ایت کی چی لفظ د: حَيَّةٌ راغلی دی دا عام هر لوی اوکوچنی مارته ویل کیږی تطبیق ددی آیتونو داسی کیدای سی ، چی دا مار په شروع کی نری اوکوچنی وی بیا غټ اولوی سی یا دا چی مار خو غټ او اژدها وو ، مگرده ته جان اوکوچنی مار په دی مناسبت سره وویل سو چی دا عظیم الشانه اژدها دتیز رفتاری په اعتبار سره دکوچنی مارپه شان وو ، یعنی دعام عادت څخه خلاف لوید اژدها تیزه نه سی تلای ، مگر دا به ډیره په تیزی سره تله ، او په ایت کی لفظ د كَاَنَّهَا چی کوم دتشبیه په معنٰی کی دی په دی سره دی طرف ته هم اشاره کیدای سی ، چی دَ جَآنٌّ سره یی ددی تشبیه دیوخاص وصف تیز وتلو په وجه ورکړي ده . (مظهری)

وَاضۡمُمۡ يَدَكَ اِلٰى جَنَاحِكَ :جناح په اصل کی دحیوانانو وزرونوته ویل کیږی دلته په خپلوتخرګونوکی دلاس دننه کولوحکم سوي دی ، چی دا دوهمه معجزه حضرت موسٰی ﷺ ته ورکړل سی ، چی کله دتخر څخه لاس را وباسی نودلمر په شان به بریښی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دتَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ دا تفسیر نقل دی . (مظهری)

اِذۡهَبۡ اِلٰى فِرۡعَوۡنَ : خپل رسول ته یی په دوو عظیم الشانه معجزو سره دمسلح کولو څخه وروسته حکم وکی چی فرعون سرکښ ته دایمان ددعوت ورکولو دپاره ولاړ سه .

قَالَ رَبِّ اشۡرَحۡ لِىۡ صَدۡرِىۡ ﴿۲۵﴾ وَيَسِّرۡ لِىۡۤ اَمۡرِىۡ ﴿۲۶﴾ وَاحۡلُلۡ عُقۡدَةً مِّنۡ لِّسَانِىۡ ﴿۲۷﴾ يَفۡقَهُوۡا قَوۡلِىۡ ﴿۲۸﴾

وې ویل ای ربه ! خلاصه کړی زماسینه ، اواسان کړی زماکار ، اوخلاصه کړی غوټه زمادژبی څخه چی پوه سی زما

وَاجۡعَلۡ لِّىۡ وَزِيۡرًا مِّنۡ اَهۡلِىۡ ﴿۲۹﴾ هٰرُوۡنَ اَخِى ﴿۳۰﴾ اشۡدُدۡ بِهٖۤ اَزۡرِىۡ ﴿۳۱﴾

په خبره ، اوراکړی ماته یو زماپه کارکی مددکونکی زمادکور ، هارون زما ورور ، مضبوطه کړی په دی سره زماملا

وَاَشۡرِكۡهُ فِىۡۤ اَمۡرِىۡ ﴿۳۲﴾ كَىۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيۡرًا ﴿۳۳﴾ وَّنَذۡكُرَكَ كَثِيۡرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّكَ

اوشریك کړی دی زما په کار کی ، چی ستا پاکی بیان کړو مونږ ډیره ، اویاد کړو مونږ تا ډیر ، بیشکه

كُنۡتَ بِنَا بَصِيۡرًا ﴿۳۵﴾ قَالَ قَدۡ اُوۡتِيۡتَ سُؤۡلَكَ يٰمُوۡسٰى ﴿۳۶﴾

ته مونږ ښه وینی ، وې وفرمایل درکړل سو تا ته ستا سوال ای موسٰی ﷺ !

تفسیر: (کله چې حضرت موسیٰ ﷺ ته معلومه سوه چې زه یې پیغمبر کړم اوفرعون ته مې لیږي نو دغه وخت یې ددې عظیم منصب دمشکلاتو داساني دپاره درخواست وکې او) عرض یې وکې چې ای زما ربه زماحوصله (نوره زیاته) فراخه کړې (چې په تبلیغ کې راباندې تنګوالي یازماپه درواغ کولو اومخالفت کولو راباندې سختي نه راځي) او زما (دا) کار (دتبلیغ) آسان کړې (چې دتبلیغ اسباب راته جمع اومنع کوونکي دتبلیغ را څخه لیرې سي) او زما دژبې څخه غوټه (دتتوالي) لیرې کړې چې خلګ زماپه خبره پوه سي او زما دپاره زما په خاندان کې یو معاون مقرر کړې یعنې هارون (ﷺ) چې زما ورورډی ده په ذریعه سره زما قوت مستحکم کړې او دی زما (زما ددې تبیلغ) په کارکې شریك کړې (یعنې دی هم نبي جوړ کړې اوپه تبلیغ یې ماموره کړې چې مونږ دواړه تبلیغ کوو او زما زړه ته قوت ورسیږي) چې مونږ دواړه (یوځای دتبلیغ او دعوت په وخت کې) ستا ډیره پاکي (دشرك او نقائصو څخه) بیان کړو اوستا (دکمال دصفتونو) ښه ډیر ذکروکو (ځکه چې تبلیغ کوونکي دوه تنه وي نو دهر یو بیان دبل په تائید سره ډیر او زیات وي) بیشکه ته مونږ (او زمونږ حال) ښه وینې (په دې حالت سره زمونږ احتیاج ددې کار چې دیو بل مدد ګار سو تاته ښه معلوم دی) ارشاد وسوچې ستاسی (هریو) درخواست (کوم چې په رَبِّ اشۡرَحۡ لِیۡ الخ کې ذکر دی) منظور سو ای موسیٰ ﷺ.

(معلومات اومسئلې)

حضرت موسیٰ ﷺ ته چې کله دکلام الٰهي خاص شرف حاصل سو او درسالت او نبوت منصب ورلره ورکړل سو نو پرخپل ذات اوخپل طاقت باندې یې تکیه کول پرینبوول په خپله دحق تعالی طرف ته متوجه سو چې ددې عظیم منصب ذمه واري دهغه په مدد سره پوره کیدی سي اوپر دوی چې کوم مصیبتونه اوسختی را تلل لازمي دي دهغو دبر داشت کولو حوصله هم دحق تعالی دطرف څخه عطا کیدی سي. په دې وجه یې په دې وخت کې پنځه دعاګاني وغوښتي.

اوله دعا: اِشۡرَحۡ لِیۡ صَدۡرِیۡ یعنې زماسینه خلاصه کړې په دې کې داسې فراخي وفرمایې چې دنبوت دعلمونو تینګوونکي سي اوخلګوته دایمان ددعوت په رسولوکې چې دهغوی دطرف څخه څه سختي سختي اوري ، ددې برداشت کول هم په دې کې شامل دي.

دوهمه دعا: وَیَسِّرۡلِیۡ اَمۡرِیۡ (یعنې زماکار ماته آسانه کړې) دا پوهه اوعقل هم دنبوت ثمره وه چې دڅه کار مشکل کول یااسانول هم دظاهري تدبیرونوتابع نه دي ، داهم دالله ﷻ دطرف څخه عطیه وي هغه که غواړي نودچادپاره دمشکل څخه مشکل کار اسانوي اوکله چې غواړي نوداسان څخه اسان کار مشکل سي په دې وجه په حدیث شریف کې مسلمانانوته ددې دعاتلقین سوي دی چې دخپلوکارونودپاره دالله ﷻ څخه داسې دعاغواړي اَللّٰهُمَّ الۡطُفۡ بِنَافِیۡ تَیۡسِیۡرِکُلِّ عَسِیۡرٍفَاِنَّ تَیۡسِیۡرَکُلِّ عَسِیۡرٍعَلَیۡكَ یَسِیۡرٌ (یعنې یاالله په مونږ مهرباني وکې دهر مشکل کار داسانولو دپاره ، ځکه چې دهر مشکل کار آسانول ستاپه قبضه کې دي)

دریمه دعا: وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِیْ : یعنی خلاصه کړی زما دژبی غوټه چی خلګ زما په خبره پوه
سی . د ژبی ددی بندیدو واقعه داسی ده چی حضرت موسیٰ ﷺ دخپل تی رودلو په زمانه کی خودخپلی
مورسره وو او دفرعون د دربار څخه به دوی ته دشیدو ورکولو وظیفه ورکول کیده ، چی دتی څخه
پریکړل سو نو فرعون او دده ښځه اسیی دی خپل زوی جوړکړی وو ، په دی وجه یی دمور څخه را وستی
او په خپله یی ورته پرورش شروع کی ، په دی دوران کی یوه ورځ حضرت موسیٰ ﷺ دفرعون ږیره ونیوله
اوپرمخ یی یوه څپیړه ورکړه او په ځینو روایتونوکی دی چی په لاس کی یی یوه لښته وه لوبی یی په
کولی هغه یی دفرعون پرسر ووهله فرعون ته غصه ورغله او دده دقتل اراده یی وکړه ، ښځی اسیی ورته
وویل چی بادشاه ته د کوچنی په خبرو پسی ځی چی عقل یی نه وی که ته غواړی نو تجربه وکړه چی دی
خو په ښه او بد باندی نه پوهیږی اوفرعون ته یی دتجربی کولو دپاره په یو پلیټ کی د اور سکروټی او
په بل کی ملغلری را وړی او حضرت موسیٰ ﷺ ته یی په مخکی کښیښوولی خیال یی دا وو چی دا بچی
دی او دبچو دعادت مطابق به د اور سکروټی ښائستهووینی دی ته به لاس کړی دملغلرو ښائست دبچو
په نظرکی داسی نه وی چی توجه ورته وکړی په دی سره به دفرعون تجربه وسی چی ده دا څه وکړل دا یی
دکوچنیوالی په ناپوهی سره وکړل مگر دلته خو دا څه عام کوچنی نه وو دخدای ﷻ نبی جوړیدونکی وو
دکوم چی فطرت دپیدائش څخه غیر معمولی وی حضرت موسیٰ ﷺ داور پرځای ملغلروته لاس کړی
مگر جبرائیل امین دده لاس داورپه پلیټ کی ورواچوی او ده داور سکروټه رالوړه کړه په خله یی کړه چی
په دی سره یی ژبه وسوزله او دفرعون یقین راغی چی دحضرت موسیٰ ﷺ داکار په شرارت سره نه وو
دکوچنیوالی په ناپوهی سره وو ددی واقعی څخه دحضرت موسیٰ ﷺ په ژبه کی یو قسم تکلیف پیداسو
دی ته قران عقده ویلی ده چی ددی دخلاصیدو دعا حضرت موسیٰ ﷺ وغوښتله . (مظهری قرطبی)
مخکنی دواړی دعاګانی خو عامی وی په ټولو کارونوکی دالله ﷻ څخه دمدد حاصلولو دپاره په دریمه
دعاکی دخپلی یوی مخصوصی کمزوری دلیری کولو درخواست وو ، چی درسالت او دعوت دپاره دژبی
فصاحت هم یو ضروری شی دی ، مخکی په یو ایت کی یی دا ښوولی ده چی دحضرت موسیٰ ﷺ دا
ټولی دعاګانی قبولی سوی ، ددی څخه دا ظاهره ده چی دژبی تتوالی یی هم لیری سو ، مگر په خپله
حضرت موسیٰ ﷺ چی دحضرت هارون ﷺ دځان سره په رسالت کی دشریکولو کومه دعاکړی وه په هغه
کی یی دا هم فرمایلی وه ، چی هُوَ اَفْصَحُ مِنِّیْ لِسَانًا یعنی حضرت هارون ﷺ دژبی په نسبت سره زما
څخه زیات فصیح دی ددی څخه معلومیږی چی لږ تتوالی په کښی پاته وو، دارنګه فرعون چی
پرحضرت موسیٰ ﷺ کوم عیب ورپوری کی په هغه کی یی دا هم وویل چی ، وَلَایَکَادُ یُبِیْنُ یعنی دی
خو خپله خبره هم صفانه سی بیانولای ، ځینی حضراتو ددی جواب دا ورکړي دی چی حضرت موسیٰ ﷺ
په خپله دعاکی دومره خبره غوښتلی وه چی د ژبی بندوالی دومره خلاص سی چی خلګ زما په خبره پوه

سي دومره تتوالي ورڅخه ليري سو ، څه معمولي اثر بياهم که باقي پاته وو نو دغه ددي دعا دقبوليت منافي نه دي .

څلورمه دعا ، وَاجْعَلْ لِّيْ وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ : يعني جوړکړې زمايو وزير زما دخاندان څخه تيري درې دعاګاني دخپل ذات اونفس سره متعلق وې داڅلورمه دعا درسالت دکارونو سرته درسولو داسبابو جمع کولو متعلق وه اوپه دې اسبابوکې حضرت موسىٰ ﷺ دټولو څخه اول او اهم دا مقرر کړه چې دده څوك نائب او وزير واي چې دده مدد وسي ، د وزيرؒ معنى په لغت کې دبار پورته کوونکى ده ، دحکومت وزير چونکه دخپل امير اوبادشاه بار په ذمه واري سره پورته کوي په دې وجه ده ته وزير ويل کيږي ، په دې سره دحضرت موسىٰ ﷺ دعقل کمالو الى معلوم سوچې دڅه کار ياتحريك چلولو دپاره دټولو څخه اول شي دانسان مددګاران او اعوان دي چې دغه دمنشاء مطابق ورکړل سي نو مخ ته ټول کارونه آسان سي اوچه دغه غلط وي نو ټول اسباب او سامان هم بې کاره سي ، نن صباپه حکومتونو او سلطنتونو کې چې څومره خرابي ليدل کيږي چې غور پر وسي نو ددې ټولو اصلي سبب درياست د امير داعوانو او انصارو او وزير او اميرانو خرابي اوبې عملي يابد عملي ياعدم صلاحيت دی .

په دې وجه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې الله ﷻ کله يو سړي ته څه حکومت اوامارت وسپاري او دا غواړي چې دی ښه کار وکي اوحکومت په ښه طريقه وچلوي نو ده ته نيك وزير ورکی کوم چې دده مدد کوي که دی يو ضروري کار هيرکي نو وزير يې ورته يادوي او دکوم کار چې دی اراده وکي و زير يې په هغه کې مدد کوي (رواه النسائي عن قاسم بن محمد)

په دې دعاکې حضرت موسىٰ ﷺ چې کوم وزير طلب کی دهغه سره يې دا قيد مِنْ اَهْلِيْ ، هم ولګوی چې دا وزير زما دخاندان اوخپلوانو څخه وي ، ځکه چې دخپل خاندان دسړي طبعيت اخلاق اوعادتونه معلوم او ديو بل سره يې الفت اومناسبت وي ، ځکه چې په دې سره په کار کې مدد حاصليږي ، په دې شرط چې دی يې ددې کار په صلاحيت کې دنورو څخه زيات فائق موندلی اواخستی وي ، محض داقرباء پروري په وجه يې نه وي اخستی ، په دې زمانه کې چونکه په عام طور سره ديانت او اخلاص ورك سوي دي او داصل کار فکر غائب دي په دې وجه ديو امير دپاره دده خپل خپلوان وزيران او نائبان جوړول بد ګڼل کيږي ، اوکوم ځای چې په ديانتداري باندې تکيه وي نو يو صالح او نيك خپل قريب ته څه وعده سپارل څه عيب نه دی بلکې دمهماتو دسرته رسولو دپاره زيات ښه دي ، دنبي کريم ﷺ څخه وروسته خلفاءِ راشدين په عام طور سره هغه حضرات سول کومو چې دنبوت دکور سره درشته دارو تعلقات هم درلودل .

حضرت موسىٰ ﷺ په خپله دعاکې اول خو عامه خبره وفرمايله چې زما دخاندان او اهل څخه وي بيايې متعين کی وي فرمايل چې زما ورور هارون دي کوم چې يې زه وزير جوړول غواړم چې زه دده څخه

درسالت په کارونو کی قوت حاصل کړم .
حضرت هارون ﷺ دحضرت موسٰی ﷺ څخه دری یاڅلور کاله مشر وو او دری کاله یی ورڅخه مخکی وفات سو څه وخت چی حضرت موسٰی ﷺ دا دعا غوښتله دی په مصر کی وو ، الله ﷻ دحضرت موسٰی ﷺ په دعا باندی دی هم نبی جوړکی نو دملائکی په ذریعه ده ته هم په مصرکی ددی اطلاع ورکړل سوه . هرکله چی حضرت موسٰی ﷺ مصر ته دفرعون دتبلیغ دپاره روان سو نو ده ته دا هدایت وسو چی دی دمصر څخه دباندی دده استقبال وکی اوهم داسی وسوه . (قرطبی)
وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ اَمْرِيْ : حضرت موسٰی ﷺ حضرت هارون ﷺ خپل وزیر جوړول وغوښتل نو دا اختیار په خپله ده ته حاصل وو ، تبرکایی دالله دطرف څخه دکولو دعاوکړه مگر ددی سره هغه دا وغوښتل چی دی په نبوت او رسالت کی دخان سره شریك وگرځوی ، دا اختیار یو نبی او رسول ته پخپله نه وی ، په دی وجه یی ددی جلا دعا وکړه چی دی زما سره درسالت په کار کی شریك کړی په اخر کی یی وفرمایل .

(صالحان ملگری په ذکر اوعبادت کی هم مدد گاروی)

کَیْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا وَّنَذْكُرَكَ كَثِيْرًا : یعنی دحضرت هارون ﷺ وزیر او په نبوت کی دشریك جوړولو فائده به دا وی چی مونږ به ستا ډیر تسبیح اوذکر کوو ، دلته دا سوال کیدای سی چی تسبیح او ذکر خو داسی شی دی چی هر انسان یی یوازی هم څومره چی غواړی کولای سی ، په دی کی دملگری دعمل څه دخل دی ؟ لیکن په غور کولوسره معلومیږی چی په ذکر اوتسبیح کی هم دساز گار ماحول او دخدایی ملگرو لوی دخل وی دیوملگری چی خدایی خلگ نه وی ، هغه دومره عبادت نه سی کولای څومره چی هغه څوك کولای سی دیوملگری چی ذکر اوشکر کوونکی الله والا خلگ وی ، ددی څخه معلومه سوه چی کوم سړی دالله ﷻ په ذکر کی مشغولیدل غواړی نو دی ته سازگار ماحول تلاش کول په کار دی .
دعاگانی دلته ختمی سوی په اخرکی دالله ﷻ دطرف څخه ددی ټولو دعاگانو دقبلیدو خوشخبری ورکړل سوه ، قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى یعنی ستا غوښتل سوی ټول شیان تاته درکړل سوه .

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰٓى ۝٣٧ اِذْ اَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اُمِّكَ مَا يُوْحٰٓى ۝٣٨ اَنِ

اواحسان وکی مونږ په تاباندی یو وار بل ، کله چی حکم ولیږی مونږ ستا مور ته کوم چی مخکی ویل کیږی

اقْذِفِيْهِ فِي التَّابُوْتِ فَاقْذِفِيْهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ

چی وغورځوه دی په صندوق کی بیا دغه وغورځوه په دریاب کی بیا به دریاب دی وغورځوی غاړی ته

يَاْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّيْ وَعَدُوٌّ لَّهٗ ۭ وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ ڬ وَلِتُصْنَعَ

پورته به کړی دی یودښمن زما اودده ، او وغورځوی ما په تاباندی محبت دخپل طرف څخه اوچی پرورش پیدا کی

عَلٰى عَيْنِيْ ﴿٣٩﴾ إِذْ تَمْشِيْٓ أُخْتُكَ فَتَقُوْلُ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلٰى مَنْ

ته زما په مخکې ، کله چې تله ستا خور او وې ویل چې ایا وښیم تاسې ته هغه څوك

يَّكْفُلُهٗ ۗ فَرَجَعْنٰكَ إِلٰٓى أُمِّكَ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ ۚ وَقَتَلْتَ

چې دده پرورش وکړي؟ بیا ورسولی مونږ ته ستا مور ته چې یخې سې ددې سترګې او غم نه کوي، او تا مړکې

نَفْسًا فَنَجَّيْنٰكَ مِنَ الْغَمِّ وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِيْنَ فِيْٓ

یو سړی بیا محفوظ کړی مونږ ته ، ددې غم څخه او په فتنو کې واچولی مونږ ته یو څو واری بیا پاته سوی ته څو

أَهْلِ مَدْيَنَ ۚ ثُمَّ جِئْتَ عَلٰى قَدَرٍ يّٰمُوْسٰى ﴿٤٠﴾ وَاصْطَنَعْتُكَ

کلونه په مدین والاوو کې ، بیا راغلی ته په تقدیر سره ای موسیٰ ، او جوړ کې ما ته

لِنَفْسِيْ ﴿٤١﴾ إِذْهَبْ أَنْتَ وَأَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ﴿٤٢﴾

خاص دخان دپاره ، ولاړسه ته او ستا ورور زما دنښانو سره او سستی مه کوی زما په ذکر کی

إِذْهَبَآ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾ فَقُوْلَا لَهٗ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهٗ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشٰى ﴿٤٤﴾

ولاړ سی دواړه فرعون ته هغه ډیر سرکشه سوی دی، پس ووایی هغه ته خبر نرمه شاید هغه فکر وکړي یا و بیریږي

لنډتفسیر: مونږ څو بل وار نور هم (ددې څخه بې درخواسته) پرتا احسان کړي دی کله چې مونږ ستا مور ته هغه خبره په الهام سره وښوولی کومه چې (په وجه ددې چې ډیره مهتم بالشان وه) په الهام سره دښوولو (قابله) وه (هغه) داچې موسیٰ (علیه السلام) دجلادیانو دلاسونو څخه دبچ کولو دپاره) په یو صندوق کې کښیږده بیادې (سره دصندوق) دریاب ته (دکوم یو ښاخ چې دفرعون محل ته هم تللی وو) وغورځوه بیا دریاب به دی (سره دصندوقه) غاړې ته راولی چې (اخر) دی به یو داسې سړی ونیسی کوم چې (دکفر کولو په وجه) زما هم دښمن دی او دده هم دښمن دی (برابره خبره ده که فی الحال په وجه ددې چې تول بچې یې قتلول اوکه اننده به دده په خاص طور سره دښمن وی) او (کله چې صندوق ونیول سو او ته ورڅخه را وایستل سوی نو) ما ستا (پرمخ) سربیره دخپل طرف څخه یو اثر دمحبت وغورځوی (ددې دپاره چې څوك تا وینی اومینه درسره کوی) او ددې دپاره چې ته زماپه (خاصه) نګرانی کی پرورش پیدا کی (دا دهغه وخت قصه ده) کله چې ستا خور (ستاپه تلاش کی دفرعون کورته) راتله راغله بیا (چې ته یی ولیدی خان یی نا

اشناکی) وي ویل (کله چی تا دیوی دایی شیدی هم نه چنبلی) ایازه تاسی ته داسی څوك ونه ښیم کوم چی
ده ته (په ښه ډول) پرورش ورکی (نو دغه خلگ چونکه ددی په تلاش کی وه دا خبره یی منظوره کړه)
اوستا خور راغله ستا مور یی را وستله) بیا (په دی تدبیرسره) مونږ ته خپلی مور ته بیا ورسولی ددی
دپاره چی دهغه سترگی یخی سی اوغم نه کوی (لکه چی ترلږ وخت پوری ستاپه جدایی غمجنه وه) او
(چی لوی سوی نو یو بل احسان مو درباندی وکی چی) تا (په غلطی سره) یو سړی (قبطی مړ کړی (چی
قصه یی په سورة قصص کی ده اوچی مړ دی کی نو وبیریدی دعذاب څخه هم او دانتقام دبیری څخه هم)
بیا مونږ تاته ددی څخه نجات درکی (دعذاب دبیری څخه خو داسی چی داستغفار توفیق مو درکی
اوقبول مو کی او دبیری د انتقام څخه داسی چی دمصر څخه مومدین ته ورسولی) او (مدین ته تر رسیدو
پوری) مونږ ته په سختو سختو محنتونو کی واچولی (اوبیا مو درلره ددی څخه خلاصون درکی چی
ذکریی په سورة قصص کی دی چی خلاصون ورکول هم احسان دی او په پخپله ازمائش هم په وجه ددی
چی دغه سبب دی دحاصلیدو دښو اخلاقو او دښه خاصیتونو دا مستقل احسان دی)
بیا (مدین ته ورسیدی او) په مدین والاؤ کی څوکاله پاته سوی بیاپه یوخاص وخت باندی (کوم چی
زماپه علم کی ستا دنبوت او زماسره دخبرو مقدر وو) ته (دلته) راغلی ای موسٰی (ﷺ) او (دلته په راتلو
ماته دخپل ځان د (نبی کولو) دپاره منتخب کړی (پس اوس) ته اوستا ورور دواړه زما نښانی (یعنی
معجزی چی په اصل کی دوی معجزی دی یوه همسا بل سپین لاس او په هره یوه کی داعجاز وجی بی
شمیره دی) واخلی (دکومی موقعی دپاره چی درته حکم کیږی) ولاړسی او زماپه یادولوکی (برابره خبره
ده که په خلوت کی وی او برابره خبره ده که دتبلیغ په وخت کی) سُستی مه کوی (اوس ورته دتللو موقع
ښوول کیږی چی) دواړه فرعون ته ولاړسی هغه ډیر سرکښه سوي دی بیا (چی هغه ته ورسی په نرمی
ورسره خبری کوی شاید هغه (په رغبت سره) نصیحت قبول کی یا (دالله ﷻ دعذاب څخه) وبیریږی (اوپه
دی سره یی ومنی)

(معلومات اومسئلي)

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً اُخْرٰى : په حضرت موسٰی ﷺ چی کوم انعامات اوعنایات دحق دا وخت مبذول سوي
دی چی دهمکلامی شرف ورته حاصل سو، نبوت او رسالت ورته عطاکړل سو، خاصی معجزی ورته
ورکړل سوی ، ددی سره دلته حق تعالی خپل هغه نعمتونه هم دوی ته یاد وی کوم چی دپیدائش دشروع
څخه تردی وخته پوری دژوند په هر دورکی په دوی مبذول سوي دی او دمسلسل از مائشونو او دخان
دخطرو په مینځ کی قدرتِ حق په څنگه حیرانوونکو طریقو سره د دوی حفاظت وفرمایی دا نعمتونه چی
ذکر یی مخته راځی د زمانی دواقع کیدو په اعتبار سره اول دی ، دلته چی یی ددی څخه داُخرٰی په لفظ
سره تعبیر کړي دی ، ددی دامعنٰی نه ده چی دا نعمتونه ددی څخه وروسته دی ، بلکی لفظ داخرٰی کله

دبل په معنیٰ سره هم راځي ، چي په دې کي دمخکي وروسته څه مطلب نه وي ، دلته هم دا لفظ په دې معنیٰ کي دی (روح) دحضرت موسیٰ ﷺ داپوره قصه دحديث په حواله سره په پوره تفصيل مخته راځي .

اِذْ اَوْحَيْنَا اِلٰى اُمِّكَ مَايُوْحٰى : يعني هرکله چي وحي وليږله مونږ ستا مورته ديوى داسې معاملي چي صرف په وحي سره معلوميدی سوه ، هغه دا چي دفرعون سپايان کوم چي په اسرائيلي هلکانو قتل کولو باندې ماموره وو ، دهغوی څخه دساتلو دپاره د دوی مورته دوحي الهي په ذريعه وښوول سوه چي دی په يو صندوق کي بندکړه او درياب ته يې وغورځوه او دهلاکيدو بيره يې مه کوه مونږ به دی په حفاظت سره ساتو اوبيابه يې تاته بيرته را ورسوو ، ظاهره ده چي دا خبرې دعقل اوقياس نه دي دالله ﷻ وعده او د دوی دناقابل قياس حفاظت انتظام صرف دهغه څخه په ښوونه باندې چاته معلوميدی سي هسې نه سي .

(ايا وحي غير دنبي اورسول ته هم راتلې سي؟)

صحيح خبره دا ده چي دلفظ دوحي لغوي معنیٰ داسې پټ کلام دی کوم چي صرف مخاطب ته معلوم وي بل په خبر نه وي ، ددې لغوي معنیٰ په اعتبار سره وحي دچا دپاره مخصوص نه ده ، نبي او رسول اوعام مخلوق بلکي تر حيوانانو پوري په دې کي شامليدای سي .

په اَوْحٰى رَبُّكَ اِلَى النَّحْلِ کي دشاتو مچيو ته په ذريعه دوحي دتلقين اوتعليم کولو ذکر ددې معنیٰ په اعتبار سره دی او په دې ايت اَوْحَيْنَا اِلٰى اُمِّكَ کي هم ددې لغوي معنیٰ په اعتبار سره دی ، په دې سره ددې نبي والي يارسول والي نه لازميږي لکه چي حضرت مريم عليها السلام ته دالله ﷻ ارشاد ورسيدی ، سره ددې چي په اتفاق دجمهور امت سره هغه نبي يا رسوله نه وه . دغه ډول لغوي وحي عمومًا دالهام په طورسره وي چي الله ﷻ دچاپه زړه کي يومضمون وغورځوي اوهغه په مطمئن کړي چي دا دالله ﷻ طرف څخه دي ، لکه چي په عام طور سره اولياء الله ته دا قسم الهامات سوي دي بلکي ابوحيان اوځينو نورو عالمانو ويلي دي چي داقسم وحي ځيني وخت ديوملائکي په ذريعه هم کيدای سی لکه دحضرت مريم عليها السلام په واقعه کي چي ددې توضيح دی چي جبرآئيل امين په انساني شکل راغی اودی ته يې تلقين وفرمايې مګرددې تعلق صرف دهغه سرې دذات سره وي چاته چي دوحي الهام کيږي دخلګو داصلاح اوتبليغ اودعوت سره ددې هيڅ تعلق نه وي په خلاف دنبوت دوحي څخه چي دهغه منشاء دخلګو داصلاح دپاره څوك راپورته کول او دتبليغ اودعوت دپاره يې ماموره کول وي ، په ده لازمه وي چي په خپله وحي په خپله هم ايمان راوړي او نور هم دخپل نبوت په منلو او دخپلې وحي په منلو پابند کوي اوڅوك چي يې نه مني هغه کافر وګڼي .

دا فرق دی په دې وحي دالهام يعني لغوي کي او وحي دنبوت يعني اصطلاحي وحي کي ، وحي لغوي دهميشه څخه جاري ده اوهميشه به وي او نبوت او وحي دنبوت په حضرت خاتم الانبياء ﷺ باندې ختمه

سوي ده ، ځینو بزرګانوپه کلام کی دا د وحی تشریعی اوغیرتشریعی په عنوان سره تعبیر کړي ده ، کومه چی دنبوت مدعی قادیانی دشیخ محی الدین ابن عربی رحمه الله دځینی عبارتونو په حواله سره دخپلی دعوی دنبوت جواز جوړ کړي دی او دلیل یی پرنیولی دی کوم چی په خپله دابن عربی رحمه الله په وضاحتونو سره باطل دی ددی مسئلی مکمل بحث او توضیح زما په کتاب (ختم نبوت) کی په تفصیل سره ذکر دی .

(دحضرت موسی علیه السلام دمور نوم)

په روح المعانی کی دی چی ددی مشهور نوم (یوحانذ) دی او په اتقان کی ددی نوم لحیانه بنت یصمدبن لاوی لیکلی دی ، اوځینی خلکو ددی نوم (بارخا) ځینو (بازخت) ښوولی دی ، ځینی تعویذ اوکوډ والا ددی دنوم عجیبه ځانګړتیاوی بیانوی ، صاحب د روح المعانی فرمایی چی موږ ته ددی هیڅ بنیاد معلوم نه سو او غالبه دا ده چی خرافات دی .

فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ : دلته لفظ د یَمّ په معنی د دریاب ځکه دلته په ظاهره دنیل د ریاب مراد دی ، په آیت کی یو حکم خو دحضرت موسیٰ علیه السلام مور بی بی ته ورکړل سو چی دا کوچنی (حضرت موسیٰ علیه السلام) په صندوق کی بند کړه ، دریاب ته یی وغورځوه دوهم حکم په صیغه دأمَرْ د دریاب په نوم دی چی هغه به دا تابوت غاړی ته وغورځوی .

فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ بِالسَّاحِلِ : دریاب چونکی په ظاهره بی حسه اوبی شعوره دی ده ته دحکم ورکولو مطلب به ظاهره په خیال کی نه راځی په دی وجه ځینی حضراتو داګڼلی ده چی که څه هم دلته صیغه دامر په معنی دحکم استعمال سوي ده مګر مراد ددی ځکه حکم نه دی بلکی خبر ورکول دی چی دریاب به دی غاړی ته وغورځوی ، مګر دتحقیق کوونکو عالمانو په نزد دا امر په خپل ظاهر سره امر اوحکم دی او دریاب یی مخاطب دی ، ځکه چی د دوی په نزد ددنیا هیڅ مخلوق تر درختی ډبری پوری بی عقله اوبی شعوره نه دی بلکی په ټولو کی عقل او ادراک موجود دی او دا عقل او ادراک دی دکوم په سبب چی دا ټول شیان دقران په توضیح سره په تسبیح کی مشغول دی ، البته دا فرق ضروردی چی د انسان اوپیری اوملائکی څخه علاوه په یو مخلوق کی عقل او شعور دومره مکمل نسته چی دحلالو اوحرامو احکام پرعائد سی اومکلف یی جوړکی مولانا روم رحمه الله څه ښه فرمایی .

خاك وباد واب واتش بنده اند بامن وتو مرده با حق زنده اند

خاوری هوا اوبه او اور مخلوق دی ما او تاته مړه دی خو دحق تعالی په نزد ژوندی دی

يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ : یعنی دا تابوت او په دی کی بند بچی به داسی سړی د دریاب دغاړی څخه پورته کړي چی زما هم دښمن دی او دحضرت موسیٰ علیه السلام هم ، مراد ددی څخه فرعون دی ، دفرعون دالله جل جلاله سره دښمنی خو دکفر په وجه ظاهره ده ، مګردحضرت موسیٰ علیه السلام دښمن ویل ورته ځکه محل دغور

دی چی دا وخت خو فرعون دحضرت موسٰی ﷺ دښمن نه وو، بلکې دده په پرورش خو یې ډیرمال خرڅ کړی بیا ده ته دحضرت موسٰی ﷺ دښمن ویل دانجام کارپه اعتبار سره دی چی په اخرکې دفرعون دښمن کیدل دالله ﷻ په علم کې وو اوکه داسې وویل سي نو هم څه بعیده نه ده ، چې ترکوم حده پورې چې دفرعون د ذات تعلق دی هغه خو فی نفسه دغه وخت هم دښمن وو ، ده خو دحضرت موسٰی ﷺ تربیت صرف دخپلې بی بی آسیې په خاطر کوی او په دې کې هم چې کله دده شك راغی نو هغه وخت یې دده دقتل حکم ورکی کوم چې دحضرت آسیې ﷺ په هو ښیارتیا سره ختم سو. (روح مظهری)

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ : دلته لفظ دمحبت مصدر په معنٰی دمحبوبیت دی اومطلب دا دی چی الله ﷻ فرمایی چی مونږ په مهربانی اوعنایت سره ستاپه وجودکې دمحبوبیت یوشان اینبی وو چی چابه درته کتل ستا سره به یې محبت کوی دحضرت ابن عباس ﷺ او عکرمه ﷺ څخه دا تفسیر نقل دی . (مظهری)

وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيْ : دلفظ دصنعت څخه دلته مراد عمده تربیت دی ، لکه په عربوکې دَصَنَعْتُ فَرَسِیْ محاوره په دی معنٰی کې معروف ده چی مادخپل آس ښه تربیت وکی او دعَلٰى عَيْنِي څخه مراد عَلٰى حفظِیْ دی یعنی الله ﷻ اراده فرمایلې وه چی دحضرت موسٰی ﷺ ښه تربیت سیده په سیده دحق تعالی په نګرانی کې وی په دی وجه دمصر دټولوڅخه دلوی هستی یعنی دفرعون په لاسو یې دده په کورکې دا کار دده څخه داسې واخستې چې هغه دده څخه بې خبره ووچی زه په خپلو لاسونو دخپل دښمن پرورش کوم . (مظهری)

الْأَمْتِنِیْ اخْتِكَ: دحضرت موسٰی ﷺ دخورپه دې تابوت پسې تلل اوددې څخه وروسته نوره قصه چې اجمالی یې په دی ایت کې ذکر راغلی دی دکوم په اخرکې چی فرمایی وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا یعنی مونږ بار بار ستا ازمائش وکی (داسې حضرت عباس ﷺ وایی) یامونږته باربار په ازمائشونوکې مبتلاکړی (داسې ضحاك وایی) ددې پوره تفصیل دسنن نسایی په یو اوږد حدیث کې په روایت دابن عباس ﷺ راغلی دی هغه دادی

(دحضرت موسٰی ﷺ مفصله قصه)

دحدیث الفتون په نوم سره یو اوږد حدیث په سنن نسائی کتاب التفسیر کې په روایت دابن عباس ﷺ نقل کړي دی او ابن کثیر په خپل تفسیر کې هم دا دپوره نقل کولوڅخه وروسته فرمایی چی ابن عباس ﷺ دا روایت مرفوع یعنی دنبی کریم ﷺ بیان مقرر کړي دی او ابن کثیر هم دحدیث دمرفوع والی دتوثیق دپاره فرمایلی دی ، وَصَدَّقَ ذٰلِكَ عِنْدِیْ یعنی ددی حدیث مرفوع والی زمایه نزد درست دی بیاددی دپاره یو دلیل هم بیان فرمایی لیکن ددی څخه وروسته یې داهم نقل فرمایلی دی چی ابن جریر اوابن ابی حاتم هم په خپلو تفسیرونوکې دا روایت نقل کړي دی مګر هغه موقوف یعنی دابن عباس ﷺ خپل کلام دی ، دمرفوع حدیث جملې په دی کې ځای پرځای راغلی دی ، داسې معلومیږی چی ابن عباس ﷺ دا روایت

دكعب احبار څخه راخستى دى لكه چې په ډيرو مواقعو باندي داسې سوي ده ، مګر دابن كثير به شان
ناقد دحديثو اودنسائي په شان امام دحديثو دامرفوع مَنى اوچاچې مرفوع نه دى منلى هغوى هم ددې
دمضمون څخه څه انكارنه كوى اواكثره حصه ددى خوپه خپله دقران كريم په ايتونوكى راغلى ده
دى وجه دپوره حديث ترجمه ليكل كيږى چې په دى كى دحضرت موسىٰ ﷺ دتفصيلى قصى په ضمن كې
ډيرعلمى اوعملى فوائدهم دى
حَدِيثُ الفُتُون په سند دامام نسايي قاسم بن ابى ايوب فرمايى چې ماته سعيدبن جبير ﷺ خبر راكى چې
ما دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه دهغه آيت دتفسير پوښتنه وكړه كوم چې دحضرت موسىٰ ﷺ په
باره كى راغلى دى ، يعنى وَفَتَنّٰكَ فُتُوْنًا ما پوښتنه وكړه چې په دى كى دفتون څخه څه مراد دى ، ابن
عباس ﷺ وفرمايل چې ددى واقعه ډيره اوږده ده سهار وختى راسه نوبه يې بښيم درته كله چې زه بله ورځ
وختى دابن عباس ﷺ په خدمت كى حاضرسوم چې پرون يې كومه وعده كړى وه هغه پوره كړه حضرت ابن
عباس ﷺ وفرمايل چې واوره (يوه ورځ) فرعون او ده په درباريانوكى ددى خبرى ذكر راغى چې الله ﷻ
دحضرت ابراهيم ﷺ سره وعده فرمايلى ده چې ده په اولادكى به انبياء او بادشاهان پيداكوى خبر
دمجلس خلكو وويل چې هو! بنى اسرائيل خو ددى په انتظاركى دى اوهيڅ شك په كى نه كوى چې په
دوى كى به يونبى او رسول پيداكيږى اومخكى ددى خلكو خيال وو چې دغه نبى حضرت يوسف بن
يعقوب ﷺ دى كله چې هغه وفات سو نو وي ويل چې دحضرت ابراهيم ﷺ سره چې كومه وعده سوې ده
دى دهغه مصداق نه دى (يو بل نبى او رسول به پيداكيږى چې دغه وعده به پوره كوى) فرعون چې دا
واوريدل نو (ده سره فكر سوچې كه په بنى اسرائيلو كى كوم چې ده غلامان جوړ كړي دي څوك نبى
اورسول پيداسو نو دوى به زماڅخه ازادكى) په دى وجه دمجلس دحاضرينو څخه يې پوښتنه وكړه چې
ددى افت څخه دمحفوظ كيدوڅه لاره ده ، دى خلكو مشورى كولى او اخر دټولو رايى پردى باندي متفقه
سوه چې (په بنى اسرائيلوكى كوم هلك پيداسى هغه دى ذبح كيږى ددى دپاره (داسې سپايان مقرر سوه
چې په لاسونوكى يې چړى وى دغه به دبنى اسرائيلو يويو كورته تلل اوكتل به يې چې كوم ځاى كې
هلك به يې ليدى هغه به يې ذبح كوى .
څه زمانه داسلسله جارى وه بيا دوى پوه سول چې زمونږ ټول خدمتونه او دمحنت مشقت كارونه خو بنى
اسرائيل كوى كه دقتل داسلسله جارى پاته سوى نو د دوى بوډاګان خو به په خپل مرګ مړه سى اوبچى
به يې ذبح سى نوائنده به په بنى اسرائيلوكى يوسړى پاته نه سى چې زمونږ خدمتونه وكى نتيجه به دا وى
چې ټول محنت او مشقت به بيامونږ په خپله كوو ، په دى وجه اوس دا رايه مقرره سوه چې په يوكال كى
پيدا كيدونكى هلكان دى پريښوول سى او په بل كال كى پيداكيدونكى دى قتل كړل سى ، دغه شان به
بنى اسرائيلو كى به څه ځوانان هم پاته سى چې دخپلو بوډاګانو ځاى به ونيسى او د دوى شمير به هم

دومره زيات نه وي چې دفرعون حکومت ته به ورځخه خطره پيداسي ، دا خبره ټولو خوښه کړه او دا قانون نافذ سو (او دحق تعالىٰ دحکمت او دقدرت ظهور داسي وشوچي) دحضرت موسىٰ ﷺ دمور يو بچي په هغه کال کي په ګيډه سو، کوم چي دبچيانودژوندېوپرېښيدوکال ووپه دي کي حضرت هارون ﷺ پيداسو، دفرعوني قانون په روسره دده دپاره هيڅ خطره نه وه مخته چي کوم دبچيو دقتل کولويوکال ووپه هغه کي حضرت موسىٰ ﷺ دمور په ګيډه سو نو دده مور ډيره غمجنه وه چي اوس که دابچي پيدا سي نوقتل به کړل سي ابن عباس ﷺ چي قصه دي ځاى ته ورسوله نووي فرمايل چي اى ابن جبيرا دفُتُون يعني ازمائش دا اولنى موقع ده چي موسىٰ ﷺ لا دنيا ته نه وو راغلى چي دقتل منصوبه يې تياره وه.

دغه وخت الله ﷻ دده مورته په ذريعه دوحي اوالهام داتسلي ورکړه چي لَاتَخَافِيْ وَلَاتَحْزَنِيْ اِنَّارَادُّوْهُ اِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ يعني ته څه بيره اوغم مه کوه (مونږ به دده حفاظت کوو اوځه ورځي دجدا کيدو څخه وروسته به) مونږ دي تاته واپس کړو بيابه دي مونږ په خپلو رسولانوکي داخل کړو. کله چي حضرت موسىٰ ﷺ پيداسو نو دده مورته حق تعالىٰ حکم ورکړى چي دي په يو صندوق کي بندکړه او درياى نيل ته يې واچوه ، دحضرت موسىٰ ﷺ مور داحکم ومنى کله چي دي تابوت درياب ته حواله کي نو شيطان يې په زړه کي دا وسوسه واچوله چي دا تاځه وکړل که بچي ستا په مخکي ذبح سوى هم واى نوپه خپلو لاسو خو به دي کفن اودفن کړي واى څه تسلي خو به دي سوى واى اوس خو به يې د درياب حيوانان وخوري ، (دحضرت موسىٰ ﷺ مورپه دي غم او خفګان کي وه چي) د درياب څپو صندوق يوداسي وچي ته وغوځوى کوم ځاى چي به دفرعون مينځي خدمتګارى لمبيدى هغوى چي تابوت وليدى نو پورته يې کي او د خلاصولو اراده يې وکړه نو په دوى کي چا وويل چي که په دي کي څه مال وي اومونږ يې خلاص کړو نو دفرعون ښځه به وايي چي تاسي به ورځخه څه اخستي وي مونږ که هرڅه وايو خو ددي يقين به نه راځي په دي وجه دټولو رايه دا سوه چي هم دغسي به دا صندوق بند دفرعون ښځي ته پيش کړي.

دفرعون ښځي چي صندوق خلاص کي نوپه دي کي يې يو داسي هلك وليدى چي په ليدو سره يې ددي په زړه کي دومره محبت پيدا سو چي ددي څخه مخکي يې ديو بچي سره هم داسي محبت نه وو پيدا سوى (کوم چي په حقيقت کي د الله ﷻ ددي ارشاد ظهور وو وَاَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّيْ بل طرف ته دحضرت موسىٰ ﷺ مور دشيطان په وسوسه سره داالله ﷻ وعده هيره کړه اوحالت يې داسو فَاَصْبَحَ فُؤَادُ اُمِّ مُوْسٰى فَارِغًا يعني دحضرت موسىٰ دمور زړه دهري خوشحالي اوهرخيال څخه خالي سو (صرف دحضرت موسىٰ ﷺ فکر په غالب سو) اخواته کله چي دهلکانوپه قتل کولوباندي مامورہ پوليس ته دفرعون په کورکي دهلك راتلو خبرورسيدى نوهغوى چړي راواخستي اودفرعون ښځي ته راغلل چي داهلك مونږته راکړه چي ذبح يې کړو.

ابن عباس ﷺ چي دي ځاى ته ورسيدى نو بيايي ابن جبيرﷺ ته وويل چي اى ابن جبيره! دازمائش (يعني

فتون) دوهمه واقعه دا ده.
دفرعون ښځی دی سپایانوته جواب ورکی چی اوس صبر وکی ، صرف په یو هلك دبنی اسرائیلو قوت نه
سی زیاتیدی ، زه فرعون ته ورځم او ددی بچی روح بخشی په کوم ، که فرعون دی وبخښی نو ښه ده گنی
بیا به یی تاسی ته حواله کړم دا یی وویل او فرعون ته ولاړه اووي ویل چی دابچی زما اوستا دسترگو
تور دی فرعون ورته وویل چی بی شکه ستا دسترگو تور به وی خو زما ورته هیڅ ضرورت نشته.
ددی څخه وروسته ابن عباس ﷺ وفرمایل چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی قسم دی په هغه ذات دچاپه نوم
چی قسم اخستل کیږی که فرعون دغه وخت دښځی په شان دخان دپاره هم حضرت موسٰی ﷺ دسترگو
تور ویلی وای نوالله ﷻ به ده ته هم هدایت کړی وای لکه چی دده ښځی ته یی دایمان هدایت وفرمایی
(په هرحال دښځی په وینا فرعون دغه هلك دقتل څخه ازادکی) اوس دفرعون ښځی ده ته دتی ورکولو
دپاره دخوا اوشا ښځی را وغوښتلی هری یوی ښځی دا غوښته چی ده ته دشیدو ورکولو خدمت زه وکړم.
. مگر حضرت موسٰی ﷺ دهیچا پرسینه خُله نه کښیښووله (وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ) اوس دفرعون
دښځی سره دا فکر سو چی دچاتی نه اخلی نو ژوندی به څنگه پاته سي؟ په دی وجه خپلو مینځونه یی
ورکی چی دی بازارته یوسی اوهلته یی وگرزوی شاید چی دیوی ښځی تی قبول کی اووایی خلی.
دی خواته دحضرت موسٰی ﷺ موربی ارامه سوه خپلی لورته یی وویل چی دباندی ولاړه سه اوتلاش
وکړه چی دصندوق اوبچی سره څه وسوه ژوندی دی اوکه د دریاب حیوانانو خوړلی دی ؟ تر دغه وخت
پوری دی ته دالله ﷻ هغه وعده یاده نه وه پاته سوی کومه چی دحمل په حالت کی ددی سره دحضرت
موسٰی ﷺ دحفاظت او واپسی سوی وه ، دحضرت موسٰی ﷺ خور دباندی راغله نو (دخدای دقدرت
دامعجزه یی ولیده چی) دفرعون مینځو دغه بچی را اخستی دی او دشیدو ورکوونکو ښځوپه تلاش کی
دی ،هرکله چی دی داحال ولیدی چی دابچی دچاتی نه اخلی او دا مینځی پریشانه دی نودوی ته یی
وویل چی ایازه تاسی ته دیوداسی کورپته درنه کړم کوم ځای چی زما امیددی چی دی به یی تی هم
واخلی او هغه به دی په خیر خواهی سره وپالی چی دایی واوریدل نو مینځو دا په دی شك کی ونیوله چی
دا ښځه شاید ددی بچی مور یایو خاصه خپله وی چی داسی په یقین سره دا وایی چی هغه کور والا ددی
بچی خیرخواه اوهمدرد دی (دغه وخت یی داخور هم پریشانه سوه)
ابن عباس ﷺ چی دی ځای ته ورسیدی بیایی ابن جبیر ﷺ ته وویل دا دریمه واقعه دفتون یعنی ازمائش
وه ، دغه وخت دحضرت موسٰي ﷺ خور خبره جوړه کړه او وي ویل چی زما مراد ددی کوروالاؤ دهمدرد
اوخیر خواه کیدو څخه دا وو چی فرعونی دربار ته د دوی رسایی وسی نو په دی سره به دوی ته دنفع
رسیدو امید وی په دی وجه به دغه ددی بچی په محبت اوهمدردی کی کسر پاته نه کړی چی دا یی
واوریدل نو مینځو دا پریښوده دا بیرته کورته راغله او دحضرت موسٰی ﷺ مورته یی دا واقعه بیان کړه

هغه ددي سره هغه ځاي ته ولاړ کُمم ځاي چي دامينځي جمع وي دمينځو په وينا دي بچي په غيږ کي واخستي ، حضرت موسٰی ﷺ فوراً ددي په تي شروع وکړه شيدي يي وچيښلي چي ښه يي ځان موړکي نو دا خوشخبري دفرعون ښځي ته ورسيده چي دبچي دپاره شيدي وزګوونکي پيدا سوه ، دفرعون ښځي دحضرت موسٰی ﷺ مور را وغوښته هغه چي راغله نو دحالاتو څخه ورته درك ولګيدي چي دفرعون دښځي ماته اوس حاجت او ضرورت دي نو لږ دخود داري څخه يي کار واخستي دفرعون ښځي ورته وويل چي ته دلته اوسه دي بچي ته شيدي ورکوه څکه چي زما ددي بچي سره دومره محبت دي چي دي زه دځان څخه پناه نه سم ساتلاي ، دحضرت موسٰی ﷺ مور وويل چي زه خپل کور نه سم پريښوولاي څکه چي زماپه غيږکي په خپله يو بچي دي هغه ته تي ورکوم نو هغه به څنګه پريږدم البته که ته دي ته جوړه يي چي بچي ماته حواله کوي نو زه به يي خپل کور دځان سره ساتم شيدي به ورکوم او دا درسره وعده کوم چي ددي بچي په خبرګيري اوحفاظت کي به يوه ذره کوتاهي نه کوم ، دحضرت موسٰی ﷺ مور ته دغه وخت هغه وعده هم ورياده سوه په کومه کي چي يي فرمايلي وه چي ديو څو ورځو دجدايي څخه وروسته به دي مونږ تاته بيرته درکړو په دي وجه دا نوره هم په خپله خبره ټينګه ودريده دفرعون ښځي دمجبوري څخه ددي خبره ومنله او دي په دغه ورځ حضرت موسٰی ﷺ راواخستي اوخپل کورته راغله اوالله ﷻ دده پالنه په يوي خاص طريقي سره وفرمايله ،

هرکله چي حضرت موسٰی ﷺ لږ څه قوي سو نو دفرعون ښځي دده مور ته وويل چي دابچي اوس ماته راوله اوماته يي وښيه (چي زه دده ليدوته ډيره ليواله يم) او دفرعون ښځي خپلو ټولو درباريانوته حکم ورکړي چي دا بچي نن زما کورته را روان دي ، په تاسي کي دي هيڅوك داسي پاته نه سي چي دده عزت ونه کړي او ده ته څه تحفه پيش نه کي او زه به په خپله ګورم چي تاسي خلګ په دي معامله کي څه کوي؟ ددي دا اثر وسو چي څه وخت حضرت موسٰی ﷺ دخپلي مور سره دکوره را ووتي نو ددغه وخت څخه په ده دتحفو او ډاليو باران شروع سو تردي چي دفرعون ښځي ته راورسيدي نوهغي ورته دخپل طرف څخه هم خاصي تحفي اوډالي جداپيش کړي ، دفرعون ښځي چي دي وليدي نو بې حده خوشحاله سوه او دا ټولي تحفي يي دحضرت موسٰی ﷺ مور ته ورکړي ددي څخه وروسته دفرعون ښځي وويل چي اوس زه دي فرعون ته بيايم چي هغه تحفي او انعامونه ورلره ورکړي کله چي دي يي فرعون ته ورسوي نوفرعون دي په خپله غيږکي واخستي ، حضرت موسٰی ﷺ دفرعون ږيره ونيوله اومخکي ته يي راکښته کړه دغه د دربار خلګو فرعون ته وويل چي تاوليدل چي الله ﷻ چي کومه وعده دحضرت ابراهيم ﷺ سره کړي وه چي په بني اسرائيلوکي به يو نبي پيداسي چي ستا دمال او ملك وارث به وي په تابه غالب راځي اوستا سره به مقابله وکي اوتابه را وپرزوي دا وعده څنګه پوره کيږي ؟

فرعون پوه سو او دغه وخت يي دهلکانو دقتلولو سپايان را وغوښتل چي دي ذبح کي .

ابن عباس ﷺ چي دي ځاى ته ورسيدى بيايى ابن جبير ﷺ ته وويل چي دا څلورمه واقعه دفتون يعنې د
ازمائش ده چي بيايى مرگ پر سر سربيره چورلکونه وهي .
دفرعون ښځي چي دا وليدل نو وي ويل چي دا بچي خو تا ماته راکړي دى ، نو اوس داځه کېږي فرعون
وويل چي تاونه ليدل چي دا هلك په عمل سره گويا دا دعوىٰ کوى چي دى ماپرمخکه راوغورزى او په ما
غالب راسى دفرعون ښځي وويل چي ته يوه خبره زما او په خپل مينځ کي دفيصلى دپاره ومنه چي په دى
سره به حقه خبره ظاهره سى (چي بچي دا کار دکوچنيوالي په ناپوهي سره کړي دى اويايى قصداً په پوهه
سره کړي دى) ته دوى سکروتي د اور او دوى ملغلري را وغواړه او دواړه دده په مخکي کښېږده که دى
ملغلروته لاس کي اوسکروتي يې پرېښوولې نو ته پوه سه چي دده دکار په عقل اوپوهه سره وو اوکه دى
دملغلرو پرځاى سکروتو ته لاس کي نو يقين وکړه چي داکار يې په بې عقلي سره کړي دى ، ځکه چي هر
ښيار انسان اور ته نه لاس کوى (فرعون دا ازمائش ومنى) دوى سکروتي او دوى ملغلري يې دحضرت
موسىٰ ﷺ په مخکي کښېښوولې نو حضرت موسىٰ ﷺ سکروتي لوري کي (په ځينو نورو روايتونو کي
دى چي حضرت موسىٰ ﷺ ملغلرو ته لاس کوى چي جبرائيل امين دده لاس سکروتو ته واړوى) فرعون
چي دا وليدى نو فوراً يې سکروتي دده دلاس څخه وغورځوله چي لاس يې ونه سوزى (اوس دفرعون
دښځي خبره جوړه سوه) هغه فرعون ته وويل چي تا دواقعي حقيقت وليدى ، دغه ډول الله ﷻ بيا مرگ
دحضرت موسىٰ ﷺ څخه واړوى ، ځکه چي دخداى قدرت دده څخه مخکي کار اخستل وو .
(حضرت موسىٰ ﷺ دغه ډول دفرعون په شاهانه اعزاز اواکرام اوشاهانه خرڅ باندى دخپلى مورپه
نگرانى کي پرورش وکى تردى چي ځوان سو) دده دا شاهي اعزاز او اکرام چي وليدى نو دفرعون دخلگو
په بني اسرائيلو باندى دهغه زور ظلم او ذليله کولو همت پاته نه سوکوم چي دمخکي څخه دفرعونيانو
دلاسه په بني اسرائيلو کيدى ، يوه ورځ حضرت موسىٰ ﷺ دښار په يو طرف کي روان وو نو وي ليدل
چي دوه سري ديو بل سره په جنگ دى چي يو فرعوني دى اوبل اسرائيلي دى ، اسرائيلي چي حضرت
موسىٰ ﷺ وليدى نو دامداد دپاره يې ورته اواز وکى ، حضرت موسىٰ ﷺ ته دفرعوني سري په دى زړه
ورتيا غصه ورغله چي ده ته دا معلومه ده چي دفرعون په دربارکي دحضرت موسىٰ ﷺ څومره اعزاز او
اکرام دى اوسره ددى دى زماپه مخکي داسرائيلي سره جگړه کوى او دى په دى هم پوه دى چي حضرت
موسىٰ ﷺ داسرائيليانو حفاظت کوى ، دى خلگو ته خو صرف دا معلومه وه چي دده تعلق د اسرائيليانو
سره صرف درضاعت او شيدو په وجه سره دى حضرت موسىٰ ﷺ ته ممکنه ده چي الله ﷻ دده دمور يا په
بله ذريعه سره دا ښوولي وى چي دى هم ددى تي ورکوونکي ښځي دگيډى څخه پيدا سوى دى او
اسرائيلي دى .
غرض دا چي حضرت موسىٰ ﷺ دغصي څخه دى فرعوني ته يو سوك ورکى هغه په دى سره مړ سو مگر

اتفاقی خبره وه چی هلته دحضرت موسیٰ ﷺ او ددی دوه جنګ کوونکو سرو څخه علاوه بل څوك موجود نه وو فرعونی خو مړ سو او اسرائیلی خپل سړی وو دده څخه یی بیره نه وه چی مخبری به وکی.
هرکله چی دا فرعونی دحضرت موسیٰ ﷺ دلاسه مړسو نوحضرت موسیٰ ﷺ وویل هٰذَامِنْ عَمَلِ الشَّیْطٰنِ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِیْنٌ یعنی دا کار دشیطان دطرفه سوی دی هغه ښکاره دښمن ګمراه کوونکی دی (بیایی دالله ﷻ په دربار کی عرض وکی) رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ فَاغْفِرْ لِیْ فَغَفَرَلَهٗ اِنَّهٗ هُوَالْغَفُوْرُالرَّحِیْمُ . یعنی ای زما پروردګاره ! ماپرخپل ځان ظلم وکی (چی دا فرعونی زماڅخه په خطایی قتل سو) ما معاف کړه الله ﷻ معاف کی ، ځکه چی هغه ډیر معاف کوونکی او ډیر رحمت کوونکی دی .
حضرت موسیٰ ﷺ ددی واقعی څخه وروسته په بیره ترهه کی به داخبر معلوموی (چی په دی قتل باندی دفرعونیانو څه ردعمل وسو او دفرعون دربارته دامعامله ورسیده اوکه نه) معلومه سوه چی معامله فرعون ته په دی عنوان سره ورسیده چی یو اسرائیلی دفرعون یو سړی قتل کړی دی ، نو په دی وجه داسرائیلو څخه ددی بدله دی واخستل سی او په دی معامله کی دی د دوی سره څه نرمی نه کول کیږی فرعون جواب ورکی چی قاتل یی معلوم کړی سره دشهادت څخه یی پیش کی ځکه چی بادشاه که څه هم ستاسی دی مګر دده دپاره په هیڅ شان مناسب نه ده چی بغیر دشهادت اوثبوت څخه څوك قصاص سی . تاسی یی قاتل تلاش کی اوثبوت تیارکی زه به خامخا ستاسی بدل دقصاص په صورت کی د دوی څخه واخلم ، دفرعون خلګو چی دا واوریدل نو په کوڅو بازارونوکی یی ګرځیدل شروع کړل چی یوځای دقتل کوونکی درك ولګیږی مګر هیڅ درك یی نه ولګیدی .
ناڅاپه داسی واقعه پیښه سوه چی په بله ورځ حضرت موسیٰ ﷺ دکوره ووتی نوهم هغه اسرائیلی یی ولیدی چی دبل فرعونی سړی سره په جنګ دی اوبیا دغه اسرائیلی حضرت موسیٰ ﷺ ته دمدد دپاره اواز وکی مګر حضرت موسیٰ ﷺ په پرونی واقعه باندی ستومانه وو او دغه وخت یی دا اسرائیلی بیاپه جنګ ولیدی نوخفه سو (چی قصور دده دی ، دی جګړالو سړی دی اوجنګونه کوی) مګر ددی باوجود حضرت موسیٰ ﷺ اراده وکړه چی دغه فرعونی پرده دحملی کولو څخه منعه کړی ، لیکن اسرائیلی ته یی هم په طور دخبردار کولو وویل چی تاپرون هم جګړه کړی وه نن بیا جګړه کوی ته ظالم یی ، اِسرائیلی چی حضرت موسیٰ ﷺ ولیدی چی دی خو دپرون په شان غصه دی نو دحضرت موسیٰ ﷺ په دی خبرو یی داشك پیدا سو چی نن ماقتلوی نو فوراً یی وویل چی ای موسیٰ ﷺ ایاته غواړی چی ما قتل کړی لکه چی پرون تا یو سړی قتل کړی وو ؟
ددی خبرو کیدو څخه وروسته دوی دواړه دیوبل څخه جلا سول مګر فرعونی سړی دفرعونیانو هغه خلګ خبر کړل کوم چی دقاتل په تلاش کی وو ، دا خبر یی ورسوی چی په خپله اسرائیلی حضرت موسیٰ ﷺ ته وویل چی تا پرون یو سړی قتل کړی دی ، داخبر دفرعون دربارته فوراً ورسول سو ، فرعون خپل

سپاهیان دحضرت موسیٰ ﷺ دقتل کولو دپاره ولیږل و داسپاهیان په دی پوه وه چی دی زمونږ څخه نه
سی خلاصیدی ، بنه په ارام سره دښار پرلوی سړك باندی دحضرت موسیٰ ﷺ په تلاش کی ووتل بل
طرف ته دحضرت موسیٰ ﷺ په تابعدارانو کی یو سړی ته دا درك ولګیدی چی دفرعون سپاهیان
دحضرت موسیٰ ﷺ دقتل کولو په تلاش کی وتلی دی ، دی پریوه لنډه لاره رامخ ته سو اوحضرت موسیٰ
ﷺ یی خبرکی .

دی ځای ته چی ورسیدی بیا ابن عباس ؓ حضرت ابن جبیر ؓ ته وویل چی داپنځمه واقعه دفتون یعنی
دازمائش ده چی مرګ یی پرسر راغلی وو مګر الله ﷻ ددی څخه دنجات اسباب پیدا کړل .

حضرت موسیٰ ﷺ چی دا خبر واوریدی نو فوراً دښار څخه ووتی او دمدین طرف ته روان سو، دی ترننه
پوری په شاهی نازاونعمت کی پالل سوی وو هیڅکله یی دمحنت او مشقت نوم هم نه وو اوریدلی .
دمصر څخه ووتی ، مګر لار ورته معلومه نه وه خو پر الله ﷻ یی تکیه وه عَسٰى رَبِّیْٓ اَنْ یَّهْدِیَنِیْ سَوَآءَ
السَّبِیْلِ یعنی امید دی چی زما رب ماته لار وښیی ، هرکله چی مدین ښارته نژدی سو نو دښار څخه
دباندی یی پریوځاه دخلګو ګڼه ګونه ولیده چی خپل حیوانان یی ورڅخه اوبه کول او دوی ښځی یی
ولیدی چی خپلی بزی منعه کوی جلا ولاړی دی ، حضرت موسیٰ ﷺ ددی ښځو څخه پوښتنه وکړه چی
تاسی جلا ولی ولاړی یاست ؟ هغوی جواب ورکی چی زمونږ څخه دا نه سی کیدی چی ددی خلګو په ګڼه
ګونه کی ورسو اوځان ته ورڅخه وار واخلو په دی وجه مونږ په دی انتظار کی یو چی کله دوی ټول
ولاړسی او د دوی څخه څه اوبه پاته سی نو مونږ به خپل حیوانان په اوبه کړو .

حضرت موسیٰ ﷺ ته د دوی شرافت معلوم سو نو په خپله یی د دوی دپاره دځاه څخه اوبه را ایستل
شروع کړل الله ﷻ طاقت اوقوت ورکړی وو ، ډیر ژر یی د دوی بزی اوبه کړی ، دی ښځو خپلی بزی کورته
بوتلی او حضرت موسیٰ ﷺ دیوی درختی سایی ته ولاړی او د الله څخه یی دعا وغوښته رَبِّ اِنِّیْ لِمَآ
اَنْزَلْتَ اِلَیَّ مِنْ خَیْرٍ فَقِیْرٌ یعنی ای زما پروردګاره ! زه محتاج یم هغه نعمت ته کوم چی ته ماته راولیږی
(مطلب یی دا وو چی دخوراك او د اوسیدو انتظام وسی) دی جینکیو چی کله دنورو ورځو څخه نن خپل
حیوانان وختی کور ته اوبه کړی را وستل نو پلار ورڅخه په تعجب سره پوښتنه وکړه چی نن څوڅه نوی
خبره ده نو جینکیو دحضرت موسیٰ ﷺ د اوبو را ایستلو اوپسونو اوبه کولو قصه ورته وکړه ، پلار په
دوی کی یوی ته حکم وکی چی کوم سړی دااحسان کړي دی هغه دلته را وله هغه ورپسی ولاړه او راپی
وستی ، پلار یی دحضرت موسیٰ ﷺ څخه دده دحالاتو پوښتنه وکړه اووي فرمایل لَا تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ
الْقَوْمِ الظّٰلِمِیْنَ یعنی اوس ته بیره دزړه څخه وباسه ته دظالمانو څخه خلاص سوی نه مونږ دفرعون په
حکومت کی یُو او نه دهغه پرمونږ باندی څه حکم چلیږي .

اوس په دی دوارو جینکیو کی یوی خپل پلار ته وویل يٰاَبَتِ اسْتَاْجِرْهُ اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ۔
یعني پلاره! دی خپل نوکر کړه ځکه چی دنوکری دپاره ښه سړی هغه دی چی قوی هم وی او امانت دار هم
وی ، پلار چی دخپلی لور څخه داخبره واوریده نوغیرت ورغی چی زمادی لور ته داځنګه معلومه سوه
چی دی قوی هم دی او امانت دارهم دی ، په دی وجه ددی څخه یی پوښتنه وکړه چی تاته دقوت انداز
دڅه څخه وسوه او امانتداری یی درته څنګه معلومه سوه انجلۍ عرض وکی چی دده دطاقت اندازه خو
راته دده دڅاه څخه د اوبو په را ایستوکی وسوه چی دټولو حیوانانو دخاوندانو څخه ده خپل کارمخکی
وکی بل هیڅوك دده سره برابر نه سول او دامانتداری حال یی راته داسی معلوم سوچی کله زه دده
دراوستو دپاره ولاړم او په اول نظرده ته معلومه سوه چی زه یوه ښځه یم نو فوراً یی سرکښته کی او
ترهغه پوری یی سرکښته وو تر څو پوری چی ماورته ستا پیغام نه وو رسولی او ددی څخه وروسته ده
ماته وویل چی ته په ماپسی وروسته وروسته راځه اوماته لار دښا څخه راښییه او داخبره صرف هغه سړی
کولی سی کوم چی امانتداروی ، پلار دلور په دی هوښیارتیا باندی ډیر خوشحاله سو او ددی تصدیق
یی وکی او دده په خپله هم دهغه په قوت اوصداقت اوامانت باندی یقین وسو ، دغه وخت دانجونو پلار
(کوم چی دالله ﷺ رسول حضرت شعیب ﷺ وو) حضرت موسیٰ ﷺ ته وویل چی تاته دامنظوره ده چی زه
په دی دوارو جینکیو کی دیوی نکاح ستاسره وکړم چی شرط به یی دا وی چی ته به اته کاله زما سره
مزدوری کوی اوکه تا لس کاله پوره کړل نو ستا اختیار به وی ښه به وی مګر مونږ دا پابندی پرتا نه ږدو
چی پرتا زیات مشقت رانه سی حضرت موسیٰ ﷺ دا منظوره کړه چی ددیٔ په وجه سره پرحضرت موسیٰ
ﷺ باندی صرف اته کاله خدمت په طور دمعاهدی لازم سو. باقی دوه کاله وعده اختیاری پاته سوه ، الله
ﷺ په خپل پیغمبر حضرت موسیٰ ﷺ دغه وعده هم پوره کړه او پوره لس کاله یی تیر کړل .
سعیدبن جبیر ﷺ فرمایی چی یو وار یو نصرانی عالم زما سره یوځای سو هغه پوښتنه وکړه چی تاته
معلومه ده چی حضرت موسیٰ ﷺ په دوارو میعادونوکی کوم یومیعاد پوره کی؟ ماورته وویل چی ماته
معلومه نه ده ځکه چی تردغه وخته پوری دحضرت ابن عباس ﷺ دغه روایت ماته نه وو معلوم ، ددی
څخه وروسته زه دحضرت ابن عباس ﷺ سره یوځای سوم دهغه څخه می پوښتنه وکړه ، هغه وفرمایل چی
اته کاله میعاد پوره کول خو پرحضرت موسیٰ ﷺ باندی واجب وو ، په دی کی دڅه کمی کولو احتمال
خوګرسره سته نه ، او په دی هم پوهیدل په کار دی چی الله ﷺ ته دخپل رسول اختیاری وعده هم پوره
کول منظور وو ، په دی وجه دلسو کالو میعاد یی پوره کی ددی څخه وروسته زه دهغه نصرانی عالم سره
یو ځای سوم او هغه ته می دا خبر ورکی نو هغه وویل چی تا دکوم سړی څخه ددی پوښتنه کړی ده ، ایا
هغه ستاڅخه زیات علم والادی ؟ ما وویل چی بیشکه هغه ډیر لوی عالم او زمونږ دټولو څخه ښه دی .
(لس (۱۰) کاله دخدمت دمیعاد پوره کولو څخه وروسته کله چی) حضرت موسیٰ ﷺ دخپلی بی بی

محترمی سره دحضرت شعیب ﷺ دوطن مدین څخه رخصت سو په لاره کی سخت یخ تیاره شپه لار نا
معلومه دبی کسی اوبی وسی په حالت کی یی ناڅاپه پرکوه طوراور ولیدی ، بیاهلته دتلوار
دحیرانوونکو مناظرو دلیدو څخه وروسته دعصا اوید بیضاء معجزی او ددی سره دنبوت او رسالت
دمنصب ورکولو څخه وروسته (چی قصه یی لږ مخکی تیره سوي ده) دحضرت موسیٰ ﷺ سره دا فکر سو
چی زه دفرعونی دربار یو مفرور ملزم ګڼل سوی یم ، ماته دقبطی دقصاص اخستو حکم دهلته څخه
سوي دی ، اوس هغه ته درسالت ددعوت ورکولو دپاره دتلو حکم سوي دی ، دارنګه یی په خپله ژبه کی
دتتوالی عذرهم مخ ته رالی نو دالله ﷻ په دربارکی یی عرض پیش کی ، حق تعالی د دوی دفرمائش
مطابق د دوی ورور حضرت هارون ﷺ په رسالت کی شریك کی او وحی یی ورته ولیږله او داحکم یی
ورته ورکی چی دحضرت موسیٰ ﷺ استقبال ته دی دښارڅخه دباندی راووزی ، ددی مطابق حضرت
موسیٰ ﷺ هلته ورسیدی او دحضرت هارون ﷺ سره یی ملاقات وسو دواړه ورونه (دحکم مطابق)
فرعون ته دحق ددعوت ورکولو دپاره دهغه دربارته ورسیدل ، تر ډیر وخته پوری دوی ته په دربارکی
دحاضری اجازت ورنه کړل سو ، دوی پر دروازه ولاړ وو بیا د ډیرو پردو څخه تیر سول دحاضری اجازت
ورته ورکړل سو او دواړو فرعون ته وویل اِنَّا رَسُوْلاَ رَبِّكَ یعنی مونږ دواړه ستا درب دطرف څخه قاصدان
او پیغمبران یو ، فرعون پوښتنه وکړه فَمَنْ رَّبُّكُمَا ستاسی رب څوك دی؟ حضرت موسیٰ او حضرت هارون
ﷺ ورته هغه خبره وکړه کومه چی قرآن کریم په خپله ذکر کړي ده ، رَبُّنَا الَّذِی اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ
هَدٰی په دی باندی فرعون پوښتنه وکړه چی تاسی دواړه څه غواړی ؟ او ددی سره یی دقبطی دقتل واقعه
ذکرکړه اوحضرت موسیٰ ﷺ یی مجرم وګڼی (اوپه خپل کورکی یی دده دپرورش کولو پرده احسان
واچوی) حضرت موسیٰ ﷺ د دواړوخبرو جواب هغه ورکی کوم چی په قرآن کریم کی ذکر دی (یعنی
دمقتول په معامله کی خو یی دخپلی غلطی اوخطا اقرار وکی دناپوهی عذر یی وکی او دکور دپرورش
داحسان ثابتولو جواب یی دا ورکی چی تاټول بنی اسرائیل غلامان جوړ کړي دی اوقسم قسم ظلمونه
پرکوی دهغه په نتیجه کی دقدرت کارونو زه ستا کورته ورسولم اوڅه چی الله ﷻ ته منظوره وه هغه
وسوه په دی کی ستاڅه احسان نسته بیاموسیٰ ﷺ دفرعون څخه پوښتنه وکړه چی آیاته په دی راضی یی
چی په الله ﷻ ایمان راوړی اوبنی اسرائیل دغلامی څخه ازاد کړی فرعون ددی څخه انکار وکی او وي
ویل چی که ستا سره درب درسول والی څه نښانه وی نو وی ښیه ، حضرت موسیٰ ﷺ خپله همسا مخکی
ته وغورځوله نو یوه عظیم الشانه اژدها ورڅخه جوړه سوه خُله یی وازه کړه او دفرعون طرف ته یی ورتوپ
کړ فرعون وبیریدی او دتخت لاندی پټ سو او دحضرت موسیٰ ﷺ څخه یی پناه وغوښته چی دا منع
کړه حضرت موسیٰ ﷺ دغه ونیوی بیایی په ګریبان کی لاس دننه کی اوچی دباندی یی کړی نو برېښیدی
، دا دوهمه معجزه یی هم فرعون ته وښووله اوبیایی دوباره په ګریبان کی دننه کی نو چی را دباندی کی

نو پر خپل اصلي حالت باندې سو.

فرعون وبيريدی او دخپلو درباريانو سره يې مشوره وكړه (چې تاسي وينئ چې داڅه وسوه اومونږته څه كول په كار دي)؟ درباريانو په متفقه طور سره وويل چې (هيڅ دفكر خبره نسته) دا دواړه جادوګران دي دخپل جادوپه ذريعه تاسي ستاسي دملك څخه ايستل غواړي اوستاسي ښه دين اومذهب (كوم چې د دوی په نظركې دفرعون پرستش كول وو) دا خرابول غواړي ته د دوی هيڅ خبره مه منه (اوهيڅ فكرمه كوه) څكه چې ستاپه ملك كې لوی لوی جادوګران دي ته هغوی راوغواړه هغوی به په خپل جادو پر دوی غالب راسي.

فرعون دخپل حكومت ټولو ښارونو ته حكم ولېږی چې څومره ماهر جادوګران دي هغه دي ټول دربارته حاضرسي ، دټول ملك جادوګران جمع سول نو دوی دفرعون څخه پوښتنه وكړه چې دكوم جادوګر سره ته زمونږ مقابله كوی هغه څه عمل كوی؟ هغه وويل چې هغه دخپلې همسا څخه مار جوړ وی ، جادوګرانو په ډيره بې فكری سره وويل چې دا خوهيڅ شی نه دی ، دهمساګانو اورسيو څخه دمارانو جوړولو دجادو كوم كمال چې مونږته حاصل دی دهغه هيڅوك مقابله نه سی كولی مگر دامقرر كړه چې كه مونږ پرده غالب سو نوڅه به راته راكول كيږی ؟

فرعون وويل چې كه تاسي غالب سواست نو زماد خاندان پرغړو او زماپه خاصو مقربانو كې به شامل سی او تاسي ته به هغه هر څه دركړل سی كوم چې تاسي غواړی.

اوس جادوګرو دمقابلې وخت اوځای دحضرت موسیٰ ﷺ سره فيصله كې، دخپل اختر ورځ دڅاښت وخت مقررسوابن جبير رحمه الله فرمايي چې ابن عباس رضي الله عنه ماته وفرمايل چې ددوی يَوْمُ الزِّيْنَةِ (يعنی داختر ورځ) په كومه كې چې الله ﷻ حضرت موسیٰ ﷺ ته پرجادوګروفتح وركړه دغه عاشوره (يعنی دمحرم لسم تاريخ) وو هركله چې ټول خلګ په يوغټ ميدان كې دمقابلې ليدو دپاره جمعه سول نو دفرعون خلګو يوبل ته وويل لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ اِنْ كَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ : يعنی مونږ ته خامخادلته پاته كيدل په كار دي چې كه دا ساحران يعنی موسیٰ اوهارون ﷺ غالب سی نوچې مونږهم په دوی ايمان راوړو، د دوی داخبرې په دې حضراتو پوری په ټوقو اومسخرو سره وی (ددوی يقين وو چې دوی زمونږ پر جادوګرانو نه سی غالب كيدی)

دمقابلې ميدان په هرقسم سره تيارسو نوجادوګرو حضرت موسیٰ ﷺ ته وويل چې اول ته څه وغورځوه (يعنی خپل سحر وښيه) اوكه اول مونږ شروع وكړو سحر وښيو؟ حضرت موسیٰ ﷺ دوی ته وويل چې تاسي اول شروع وكې خپل سحرښكاره كې دی خلګوخپلې همساګانې اوڅه رسی مځكې ته وغورځولې او دايې وويل ، بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ اِنَّا لَنَحْنُ الْغٰلِبُوْنَ يعنی دفرعون په طفيل به مونږ غالب راسو (دغه همساګانې او رسی سترګو ته ماران ښكاريدل روان سول) چې دا يې وليدل نو پرحضرت موسیٰ ﷺ باندې بيره راغله (فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى)

دا بیره طبعي هم کیدی سی چې په مقتضا دبشریت ده انبیاء علیهم السلام هم ددی څخه مستثنیٰ نه دی او دا هم کیدای سی چې بیره ددی خبری وی چې اوس به داسلام په دعوت کی دکوم دپاره چې زه راغلی یم خنډ پیداسی ، الله ﷻ حضرت موسیٰ ﷺ ته په ذریعه دوحی حکم وکی چې خپله همسا وغورځوه ، حضرت موسیٰ ﷺ خپله همسا وغورځوله نو هغه یوه لویه اژدها جوړه سوه چې خله یی وازه وه دغو اژدها هغه ټول ماران تیرکړل کوم چې جادوګرانو دهمساګانو او رسیو څخه جوړ کړی وه .

فرعوني جادوګران دجادو په فن کی ماهره وه چې دا حال یی ولیدی نو دهغوی یقین وسو چې دحضرت موسیٰ ﷺ دهمسا دا اژدها په جادونه ده بلکی د الله ﷻ دطرف څخه ده . په دی وجه جادوګرو هغه وخت اعلان وکی چې مونږ په الله ﷻ او دحضرت موسیٰ ﷺ په راوړی دین ایمان راوړو او مونږ دخپلو تیرو عقیدو او خیالاتو څخه توبه باسو ، دغه ډول الله ﷻ دفرعون او دده دملګرو ملا ماته کړه او دوی چې کوم جال خپور کړی وو هغه ټول باطل سو ﴿فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صٰغِرِيْنَ﴾ (فرعون او دده ملګری مغلوب سول او په ذلت او رسوایی سره ددی میدان څخه ولاړل)

څه وخت چې دامقابله کیده نو دفرعون ښځه آسیه رض خیری اوزری جامی واغوستی دالله ﷻ څخه یی دحضرت موسی ﷺ دمدد دعا غوښتله اوفرعونیانو داخیال کوی چې دا دفرعون په وجه بدحاله ده او دده دپاره دعا غواړی ، حال دا وو چې دهغی غم اوفکر ټول دحضرت موسیٰ ﷺ سره وو (او دهغه دغالب کیدو دعایی غوښتله ، ددی څخه وروسته چې حضرت موسیٰ ﷺ به کله معجزه ښوولـه او دالله ﷻ دطرف څخه به پر ده حجت تمامیدی نو دغه وخت به یی وعده کوله چې اوس به زه بنی اسرائیل ستاسره ولیږم مګر کله چې به دحضرت موسیٰ ﷺ په دعاسره ددغه عذاب خطره لیری سوه نو ده به خپله وعده ماته کړه) او دابه یی ویل چې ایا ستارب یوه بله نښانه ښوولای سی ، دا سلسله چلیده اخرالله ﷻ دفرعون پرقوم دطوفان ملخانو اوکالوکی دشپږو او په لوښوکی دچنګښو اووینو وغیره عذابونه مسلط کړل کوم چې قران کریم دَ ایٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ په عنوان سره بیان کړي دی اودفرعون حال دا وو چې کله به په دی عذابونوکی یوعذاب راغی او دی به ورڅخه عاجزه سو نوحضرت موسیٰ ﷺ ته به یی فریادکوی چې په یوشان داعذاب لیری کړه نو مونږ وعده کووچې بنی اسرائیل به ازادکو ، بیاچې به عذاب ولاړی نو وعده به یی ماته کړه ، تردی چې الله ﷻ حضرت موسیٰ ﷺ ته داحکم ورکی چې خپل قوم بنی اسرائیل دخان سره کړه دمصر څخه ووزی ، حضرت موسیٰ ﷺ دا ټول دخان سره کړل دشپی په وخت کی دښار څخه ووتل فرعون چې سهار ولیدل چې ټول خلګ تللی دی نوخپل فوج یی دهرطرف څخه راجمع کی او په دوی پسی یی ورپریښووی ، بلی خواته الله ﷻ هغه دریاب ته کوم چې دحضرت موسیٰ ﷺ اوبنی اسرائیلو په لاره کی وو داحکم وکی چې کله حضرت موسیٰ ﷺ تاته همسا در وړی نو په تاکی دولس لاری جوړیدل په کار دی په کوموسره چې دبنی اسرائیلو دولس فرقی جلاجلا پوری وزی او کله چې دوی

تیرسی نو په دوی پسی پر تعاقب کوونکو باندی دی د دریاب دولس (۱۲) سره حصی بیا یوځای سی.
حضرت موسیٰ ﷺ چی دریاب ته نژدی ورسیدی نو دایی یادنه وه چی دلکری په وهلوبه په دریاب کی لاری جوړی سی اوقوم ورته فریاد وکی چی ، اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ یعنی مونږ خو به ونیول سو (ځکه چی دشاڅخه یی فرعونی فوجونه را روان ولیدل اومخ ته یی دریاب وو) دغه وخت حضرت موسیٰ ﷺ ته دالله ﷻ دا وعده یاده سوه چی دریاب په لکړه وهلو سره به په دی کی لاری پیداسی اوفوراً یی دریاب په لکړه ووهی دا داسی وخت وو چی دبنی اسرائیلو دوروستنیو خلکو سره دفرعونی فوج مخکنی برخه تقریبًا چی یوځای سوی وه دحضرت موسیٰ ﷺ په معجزی سره په دریاب کی دالله ﷻ دوعدی مطابق دولس (۱۲) لاری جوړی سوی اوحضرت موسیٰ ﷺ اوټول بنی اسرائیل پردی لارو تیرسول فرعونی فوجونه چی په دوی پسی وه ، دوی چی په دریاب کی لاری ولیدی نوخپل پیاده اوسپاره یی پر دغو لارو وروغورځول نو د دریاب دا مختلفی ټکری دالله ﷻ په حکم یوځای سوی ، کله چی حضرت موسیٰ ﷺ اوبنی اسرائیل پر بله غاړه باندی ودریدل نو دده ملګرو وویل ، زمونږ خطره ده چی فرعون د دوی سره نه وی غرق سوی او ده ځان ساتلی وی نو حضرت موسیٰ ﷺ دعا وکړه چی دفرعون هلاکت مونږ ته ښکاره کړی قدرت حق دفرعون مړ لاش د دریاب څخه دباندی راوغورځوی او ټولو دده هلاکت په سترګو سره ولیدی.
ددی څخه وروسته بنی اسرائیل دحضرت موسیٰ ﷺ سره مخکی ولاړل نو په لاره کی دوی پر یو داسی قوم راغلل چی په خپلولاسونو دجوړوکړو بتانوعبادت یی کوی نودی بنی اسرائیلوحضرت موسیٰ ﷺ ته وویل (یٰمُوْسَی اجْعَلْ لَّنَاۤ اِلٰهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِهَةٌ قَالَ اِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُوْنَ اِنَّ هٰۤؤُلَاۤءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيْهِ) یعنی ای موسیٰ! زمونږ دپاره هم یو داسی معبود جوړکړه لکه چی دوی دیرمعبودان جوړکړي دی ، حضرت موسیٰ ﷺ وفرمایل چی تاسی عجیبه قوم یاست چی دداسی جهالت خبری کوی داخلګ چی دکومو بتانوپه عبادت کی مشغول دی د دوی عبادت بربادیدونکی دی (حضرت موسیٰ ﷺ وفرمایل) چی تاسی دخپل رب دومره معجزی او پرځانونو باندی دومره انعامونه ولیدل اوبیاهم ستاسی دا جاهلانه خیالات بدل نه سول ، دایی وویل او حضرت موسیٰ ﷺ سره دخپلو ملګرو ددی ځای څخه مخکی ولاړی اوپه یو مقام باندی یی دوی دیره کړل او دوی ته یی وویل چی تاسی دلته اوسی زه دخپل رب خواته ځم ، دیرش ورځی وروسته به راسم او زما څخه وروسته به حضرت هارون ﷺ زما نائب او خلیفه وی تاسی په هرکار کی دده حکم منی.
حضرت موسیٰ ﷺ د دوی څخه رخصت سو کوه طورته یی تشریف یووړی او (په ارشاد ربانی سره یی) دیرش ورځی اوشپی مسلسل روژه ونیوله چی ددی څخه وروسته دکلام ربانی څخه مستفید سی ، مګر دیرش ورځی اوشپی چی په پرله پسی روژه سره یوقسم بوی دروژه دار دخلی څخه ځی ، دغه وخت ورسره دا فکر سو چی ددی بوی سره خو دالله ﷻ سره هم کلامی مناسب نه ده نو مسواك یی وکی اوخله

یی صفا کړه هرکله چی دالله ﷻ په دربارکی حاضرسو نو دالله ﷻ دطرف څخه ورته ارشاد وسو چی ناروژه ولی ماته کړه اوالله ﷻ ته معلومه وه چی حضرت موسیٰ ؑ خوځه خوړلی چنبلی نه دی ، مګر دخلی صفا کول یی دپیغمبرانه امتیاز په بناء سره په روژه ماتولو سره تعبیر کړه ، حضرت موسیٰ ؑ په دی حقیقت پوه سو او عرض یی وکی چی ای زما پروردګاره! زما خو دا خیال سو چی ستا سره دخبرو کولو دپاره دخلی څخه بوی لیری کړم اوصفایی کړم ، حکم ورته وسو چی ای موسیٰ! تاته معلومه نه ده چی د روژه دار دخولی بوی ماته دمشکو دخوشبویی څخه زیات محبوب دی ، اوس ته واپس سه اولس ورځی نوری روژی ونیسه بیا ماته راسه حضرت موسیٰ ؑ دحکم تعمیل وکی.

اخواته هرکله چی دحضرت موسیٰ ؑ قوم بنی اسرائیلو دا ولیدل چی دیرش (۳۰) ورځی مقرره موده تیره سوه اوحضرت موسیٰ ؑ را واپس نه سو نو پر هغوی دا خبره ګرانه سوه ، بل خوا دحضرت موسیٰ ؑ دتلو څخه وروسته حضرت هارون ؑ قوم ته یوه خطبه ورکړه چی دفرعون دقوم ډیر شیان کوم چی ورځخه تاسی عاریةً غوښتلی وو یاهغوی ستاسی سره امانت ایښی وو هغه ټول تاسی دځان سره راوړی دی که څه هم ستاسی هم ډیر شیان دفرعونیانو سره عاریةً او امانت پاته دی اوتاسی خلق دا ګڼی چی دهغوی دا شیان زمونږ دشیانو په بدله کی مونږ ایښی دی ، مګر زه دا حلال نه ګڼم چی دهغوی دعاریت او امانت سامان تاسی په خپل استعمال کی راولی اومونږ دا واپس کولی هم نه سو نو په دی وجه یو غار یی په وکیندی اوټولو ته یی حکم وکی چی دغه شیان خواه که زیورات وی اوکه نور داستعمال شیان ټول دی غار ته واچوی (دغه خلکو دده حکم ومنی) حضرت هارون ؑ پر دغه ټول سامان اور بل کی او ور سوزل او وي فرمایل دا اوس نه زمونږ سو او نه دهغوی.

د دوی سره یو سړی سامری دیو داسی قوم فرد وو چی دغوا پرستش یی کول دی دبنی اسرائیلو څخه نه وو مګرکله چی حضرت موسیٰ ؑ او بنی اسرائیل دمصرڅخه ووتل نو دی هم ورسره سو ، ده نه داعجیبه اتفاق پیښ سو چی ده دحضرت جبرائیل ؑ یو اثر ولیدی یعنی کوم ځای چی به هغه قدم اینښووی پرهغه ځای به ژوند اوښیرازی پیدا کیده ، ده دهغه ځای څخه یو موټی خاوره دځان سره را واخسته او راتلی چی دحضرت هارون ؑ سره یی ملاقات وسو، حضرت هارون ؑ خیال وکی چی دده په دی موټ کی به دفرعونیانو څه کالی وغیره وی ، ده ته یی وویل چی ته هم دنورو په شان دا دی غار ته واچوه ده وویل چی دا خو دهغه رسول (جبرائیل ؑ) دپښو خاوره ده کوم چی تاسی د دریاب څخه را پوری ایستلی یاست او زه دا په هیڅ شان نه غورځوم بغیر ددی چی ته دا دعا وکی چی زه یی دڅه مقصد دپاره غورځوم هغه مقصد پوره سی حضرت هارون ؑ ددعا وعده وکړه هغه سامری هغه یو موټ خاوره دغه غارته واچول او دوعدی مطابق حضرت هارون ؑ دعا وکړه چی یاالله څه چی سامری غواړی هغه پوره کړی چی هغوی دعاوکړه نو سامری وویل چی زه خو دا غواړم چی داسره سپین ، اوسپنه ، سرب

اوخه چې دې غارته غورځول سوي دې ددې څخه يوسخوندرګی جوړسي ، حضرت هارون ﷺ دعا کړې وه اوهغه قبوله سوې وه څه چې دغه غارته غورځول سوې وه دهغه ټولو څخه يوسخوندرګی جوړ سوچې روح په کښې نه وو مګر دغواپه شان اواز به ورڅخه راوتی حضرت ابن عباس ﷺ چې داروايت نقل کوی نوفرمايي چې په خدای قسم دی دغه څه ژوندی اواز نه وو بلکې هوا به ورته دشا څخه ننوته په خله به ورڅخه وتله او دهغه څخه به دا اواز پيدا کيدی .

دا عجيبه او نااشنا قصه يې چې وليده نو بني اسرائيل په څو فرقوکې تقسيم سول يوې فرقې دسامرې څخه پوښتنه وکړه چې دا څه دي؟ هغه وويل دا ستاسی خدای دی ليکن موسیٰ (ﷺ) لارهيره کړي ده ، په بل طرف تللی دی ، يوې فرقې داوويل چې مونږ دسامرې داخبره ترهغه پورې نه سودروغ کولی ترڅوپورې چې حضرت موسیٰ ﷺ دحال حقيقت ښکاره نه کړی که په واقع کې دا زمونږ خدای وی نومونږبه يې په مخالفت کولو ګناهګار سو اوکه دا خدای نه وی نومونږ به دحضرت موسیٰ ﷺ خبره ومنو او تابعداری به يې کوو .

يوې بلې فرقې وويل چې دا ټوله شيطانی دوکه ده دا زمونږ رب نه سی کيدای ، نه مونږ په ده ايمان راوړی سو اونه يې مونږ تصديق کولی سو ديوې بلې فرقې زړه ته دسامرې خبره پريوته او دسامرې تصديق يې وکی هغه يې خپل خدای ومنی .

حضرت هارون ﷺ چې دا عظيم فساد وليدی نو وي فرمايل ، يٰقَوْمِ اِنَّمَا فُتِنْتُمْ بِهٖ وَاِنَّ رَبَّكُمُ الرَّحْمٰنُ فَاتَّبِعُوْنِيْ وَاَطِيْعُوْٓا اَمْرِيْ : يعنی ای زماقومه! تاسی په فتنه کې لويدلی ياست ، بيشکه ستاسی رب اوخدای خو رحمن دی ، تاسی زما تابعداری وکی او زماخبره ومنی ، دوی ورته وويل چې داراته ووايه چې حضرت موسیٰ ﷺ څه سوچې زمونږ سره يې ددېرشو ورځو وعده کړې وه اووعده خلافی يې وکړه تردې چې اوس دغه دې دی څلويښت ورځې پوره کيدونکې دی په دوی کې څينو بې وقوفو وويل چې دحضرت موسیٰ ﷺ څخه خپل رب هير سوي دی دهغه په تلاش کې به ګرځي .

دی خواته هرکله چې دڅلويښتو ورځو دپوره کولوڅخه وروسته حضرت موسیٰ ﷺ ته شرف دهم کلامی نصيب سو نوالله ﷻ ورته ددې فتنې خبر ورکی په کومه کې چې دده قوم مبتلا سوی وو فَرَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا حضرت موسیٰ ﷺ دهغه ځای څخه په ډيره غصه اوافسوس کې بيرته راغی اوچې راغی نو هغه خبرې يې وکړې کوم چې په قران کريم کې تاسی ويلې دی ، وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ يعنی حضرت موسیٰ ﷺ په غصه کې دخپل ورور دسر ويښته ونيول اوځان ته يې راکش کې اوتختې دتورات کومې چې يې دکوه طور څخه دځان سره راوړی وې دلاس څخه کښيښنووې ، بيا دغصې کميدو څخه وروسته چې د ورور عذر ورته صحيح معلوم سو قبول يې کی او دهغه دپاره يې دالله ﷻ څخه بخښنه وغوښته ، بيا سامرې ته ورغلی اوهغه ته يې وويل چې تا دا حرکت ولې وکی؟ هغه

جواب ورکی قَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ : يعني ما د رسول (جبرائيل) د پښو دنښانو خاوری پورته کړی وی اوزه په دی پوه سوی وم چی دا په څه شي کی واچول سی په هغه کی به دژوند نښانی پيداسی مگرما ستاسي څخه دا خبره پټه کړه فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ : يعني ما هغه موټ دخاورو دکالبو وغيره په کوټه کی واچوی زما نفس ماته دا کار ښه ښکاره کړی وو: قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَنْ تَقُوْلَ لَامِسَاسَ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهُ وَانْظُرْ إِلٰى إِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا لَّنُحَرِّقَنَّهُ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهُ فِي الْيَمِّ نَسْفًا : يعني حضرت موسٰی ﷺ سامری ته وويل چی څه ! اوس ستا سزا دا ده چی ته به ټول ژوند دا وايي چی ماته لاس مه راوړی (کنه نو هغه به هم په عذاب کی گرفتارسی) اوستا دپاره يو ميعاد مقرر دی چی د هغه څخه به خلاف نه کيږی چی په ژوندکی خوبه دا عذاب څکی او وگوره خپل هغه معبود ته دکوم چی تاپرستش کړي دی ، مونږ به دی په اور کی وسوزوو بيابه يی ايره درياب ته وغورځوو که دی خدای وای نو مونږ به ورسره دا کارنه سو کولی . دغه وخت دبني اسرائيلو يقين وسو چی مونږ په فتنه کی اخته سوی وو او ټول هغه ډلی ته وشرميدل دکومو رايه چی دحضرت هارون ﷺ درايی مطابق وه ، يعني چی دا زمونږ خدای نه سی کيدای ، بني اسرائيل چی په دی خپله عظيمه گناه پوه سول نو حضرت موسٰی ﷺ ته يی وويل چی خپل رب ته سوال وکړه چی زمونږ توبه قبوله کړی چی زمونږ دگناه کفاره سی .

حضرت موسٰی ﷺ ددی کار دپاره په بني اسرائيلوکی داسی اويا صالحان منتخب کړل کوم چی په ټول قوم کی په نيکی او اصلاح کی ممتاز وه اوکوم چی دده په علم کی دسخوندرگی دعبادت څخه هم محفوظ پاته سوی وو ، په دی انتخاب کی يی ددير لټون څخه کار واخستی ، دا اويا کسان صالحان دبني اسرائيلو يی دځان سره کړل ، کوه طور ته يی تشريف يوړی چی الله ﷻ ته د دوی دتوبی قبلولو په باره کی عرض وکی حضرت موسٰی ﷺ چی کوه طورته ورسيدی نو پر مخکه يوه زلزله راغله چی حضرت موسٰی ﷺ ددی وفد په مخکی دير شرمنده سو او دقوم په مخکی هم په دی وجه عرض يی وکی چی رَبِّ لَوْشِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَإِيَّايَ اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاءُ مِنَّا : يعني ای زماپروردگاره اکه تا د دوی هلاکول غوښتل نو په دی وفد کی دراتلو څخه مخکی به دی هلاك کړی وای اوزه به دی هم د دوی سره هلاك کړی وم ، آياته مونږ ټول په دی هلاکوی چی په مونږ کی څينو بی وقوفو گناه کړي ده .

او اصل وجه ددی زلزی دا وه چی په دی وفدکی دحضرت موسٰی ﷺ دتفتيش اولټون با وجود هم څه خلګ دهغو څخه شامل سوی وه کومو چی دسخوندرگی عبادت کړی وو او د دوی په زړونوکی دسخوندرگی عظمت ناست وو .

دحضرت موسٰی ﷺ ددی دعا اوفرياد په جواب کی ارشاد وسو ، وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكَاةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيَاتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ! اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهُ

مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيْلِ : یعني الله ﷻ فرمایي چي زمارحمت خو تولوته شامل دی او زه به ډیره زر ولیکم (پروانه د) خپل رحمت دهغو خلګو دپاره کوم چي تقوٰی اختیار کړي اوزکوٰة ادا کوي او کوم چي زمونږ په ایتونو ایمان لري او کوم چي تابعداري کوي دهغه رسول امي چي ذکر یي په تورات او انجیل کي لیکلی پیدا کیږي .

چي دا بي واوریدل نو حضرت موسٰی ﷺ عرض وکی چي ای زما پروردګاره! ما تاته دخپل قوم دتوبي په باره کي عرض کړی وو تاپه جواب کي درحمت ورکولو زمادقوم څخه علاوه دبل قوم متعلق ارشاد وفرمایي نوبیاتازماپیدائش ولي وروسته نه کي چي زه دی هم ددغه نبي امي په امت مرحومه کي پیداکړی وای په دی باندی دالله ﷻ دطرف څخه دبني اسرائیلو دتوبي قبلیدو یوه طریقه ارشاد سوه چي د دوی دتوبي دقبلیدو صورت دا دی چي په دوی کي هر سړی دی دخپلو متعلقینوڅخه پلار یازوی دهر چاسره چي دی یوځای کیږي هغه دی په توره قتل کړي په هغه ځای کي کوم ځای چي یي ددی سخوندرګی عبادت کړي دی .

دغه وخت دحضرت موسٰی ﷺ هغه ملګري دکوموحال چي حضرت موسٰی ﷺ ته معلوم نه وو او دوی یي بي قصوره صالح ګڼل او دځان سره یي ملګري کړي وه مګر په حقیقت کي د دوی په زړه کي دسخوندرګي دعبادت جذبه تر اوسه پوري وه ، هغوی هم په خپل زړه کي ستومانه اوتوبه ګارسول او دوی په دغه سخت حکم عمل وکی کوم چي د دوی دتوبي دقبلیدو دپاره نافذ سوی وو (یعني دخپلو خپلوانو قتل) اوکله چي دوی دا عمل وکی نوالله ﷻ دقاتل اومقتول دواړو خطا معاف کړه ددی څخه وروسته حضرت موسٰی ﷺ دتورات تختی کومي چي یي په غصه کي دلاسه ایښي وی پورته کړي اوخپل قوم یي روان کی ، د ارض مقدسه (شام) طرف ته روان سو هلته یو داسي ښارته ورسیدل چي په هغه کي دجبّارین قبضه وه دکومو شکل او صورت اوقد اوقامت چي ډیر هیبتناك وو د دوی دظلم دزیاتوب اودقوت اوشوکت عجیبه او نااشنا قصي دوی ته وویل سوی (حضرت موسٰی ﷺ دی ښار ته دا خلیدل غوښتل مګر پر بني اسرائیلو ددغو خلګو دحالاتو په اوریدو رعب غالب سوی وو او) وي ویل چي ای موسٰی ﷺ ! په دی ښارکي خو جبار ین لوی ظالمان خلګ دی دکومو دمقابلي چي په مونږکي طاقت نسته اومونږ خو دی ښارته ترهغه وخته پوري نه سو دا خلیدی تر کومي چي دغه جبارین هلته موجود وی البته هغوی دی ددغه ځای څخه ووزي نو بیابه ورته مونږ دا خل سو .

قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ : ددی روایت په روایانوکي کوم چي یزید بن هارون ﷺ دی ، دهغه څخه پوښتنه وسوه چي آیا ابن عباس ﷺ ددی ایت قرآئت داسي کړي دی ؟ یزید بني هارون ﷺ وویل چي هوا دابن عباس ﷺ قرات داسي دی رَجُلَانِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ څخه مراد دجبارینو دقوم دوه سړی دی کوم چي ددغه ښارڅخه راغلل اوپه حضرت موسٰی ﷺ یي ایمان را وړی وو دوی چي پر بني اسرائیلو باندی

دخپل قوم رعب غالب وليدی ، وي ويل چي دخپل قوم دحالاتو څخه بنه خبريو ، تاسی دهغوی دوېرل
دول جسامت او د دوی دزيات شمير څخه بيريږي ، حقيقت دا دی چي په هغوی کی (قوت د) زړه بالکل
نسته او نه په کښی دمقابلی کولو همت سته تاسی لږ دښار تر دروازی پوری ولاړسی نو وبه وينی چی
(دوی به وسله وغورځوی) اوتاسی به پرغالب سی .

اوخينو خلکو دَ رَجُلانِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ تفسير داسی کړي دی چي دا دوه سړی دحضرت موسٰی ﷤ دقوم
بني اسرائيل وو قَالُوا يَامُوسَىٰ إِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا أَبَدًا مَّا دَامُوا فِيهَا فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ
يعنی بنی اسرائيلو ددی دواړو سړو دنصيحت او ريدو څخه وروسته هم حضرت موسٰی ﷤ ته دجاهلانو
جواب په احمقانه طور سره داسی ورکی چي ای موسٰیا مونږ خو دغه ښارته ترهغه وخته پوری نه ځو
ترڅوچی دغه جبارين په کښی موجود وی که ته د دوی سره مقابله کول غواړی نوته اوستا رب ولاړسی
دهغوی سره جنګ وکی مونږ به دلته ناست يو .

حضرت موسٰی ﷤ پرخپل قوم بنی اسرائيلو باندی دحق تعالی دبی شميره انعاماتو سره په هرقدم د دوی
سرکښی اوبی هودګی ليدله مګر تردی وخته پوری يی دصبر اوتحمل څخه کار اخستی هيڅکله يی دوی
ته ښيری نه وی کړی . دا وخت د دوی په دی بی هوده جواب باندی ډير زړه ماتی اوغمجن سو او دوی ته
يی ښيری وکړی ، د دوی په حق کی يی دفاسقانو الفاظ استعمال کړل ، حق تعالی دحضرت موسٰی ﷤
دعا قبوله کړه ، او دوی ته الله ﷻ هم دفاسقانو نوم ورکی او ددغه مقدسی مځکی څخه يی دوی
څلويښت کاله محرومه کړل او په دغه ډاګ ميدان کی يی دوی داسی قيد کړل چي دسهار څخه ترماښامه
پوری به روان وه چي ارام به يی نه کوی (مګر چونکی دالله ﷻ رسول حضرت موسٰی ﷤ هم د دوی سره
وو د دوی په برکت او طفيل سره پر دی فاسق قوم باندی هم ددی سزا په دوران کی دالله ﷻ ډير نعمتونه
او ريدل چي په دی ميدان تيه کی به يوځای تلل وريځ به پر وه ، د دوی دخوراك دپاره مَنْ اوسَلْوٰی
نازليدل د دوی کالی به په معجزانه طور سره نه خيرنيدل او نه به څيريدل او دوی ته يی يوه ځلور ګنجه
ډبره ورکړی وه اوحضرت موسٰی ﷤ ته يی حکم کړی وو چي کله دوی ته داوبو ضرورت کيږی ډبره به
همساوهه نو دولس چينی به جاری کيدی د ډبری دهر دطرف څخه به دری دری چينی روانيدی او دبنی
اسرائيلو دولسو قبيلو دغه چينی تقسيم کړی وی چي ديو بل سره يی جګړه نه وی او کله چي به دی
خلکو ديوځای څخه سفر وکی بل ځای ته به ولاړل نو دغه ډبره به يی هلته موجوده پيدا کړه . (قرطبی)

حضرت ابن عباس ﷛ دا حديث مرفوع کړي دی او دنبی کريم ﷺ ارشاد يی ګڼلی دی او زماپه نزد صحيح
ده ځکه چي حضرت معاويه ﷛ دحضرت ابن عباس ﷛ څخه ددی حديث روايت کول واوريدل نو ددی
خبری څخه يی انکار وکی او غلطه يی کړه کومه چي په دی حديث کی راغلی ده چي حضرت موسٰی ﷤
چی کوم قبطی قتل کړی وو او دفرعون قوم ته دده پته نه لګيده نو دده مخبری هغه بل فرعونی سړی

وکړه دکوم سره چې په دوهمه ورځ ددغه اسرائیلي جنګ وو ، وجه دا وه چې دې فرعوني ته خو دپروني واقعي دقتل علم نه وو ، هغه دده مخبري څنګه کولی سوه ؟ ددې خبر خو صرف دغه جنګ کوونکي اسرائیلي ته معلوم وو .

هرکله چې حضرت معاویه ﷛ دده دحدیث ددې واقعې څخه انکاروکی نوحضرت ابن عباس ﷛ غصه سو او دحضرت معاویه ﷛ لاس یې ونیوی حضرت سعدبن مالك زهري ﷛ ته یې را وستی او هغه ته یې وویل چې ای ابو اسحاق! ایا تاته یاددې چې کله مونږ ته نبي کریم ﷺ دحضرت موسٰی ﷺ دقتل سوی په باره کې حدیث بیانوی ددې راز ظاهرونکی اوفرعون ته مخبري کوونکی اسرائیلي وو اوکه فرعوني؟ سعدبن مالك ﷛ وفرمایل چې فرعوني وو ، څکه چې هغه دااسرائیلي څخه دااوریدلي وه چې دقتل پروني واقعه دحضرت موسٰی ﷺ دلاس څخه سوې وه ، هغه ددې شهادت فرعون ته کړی وو ، امام نسایي دا پوره اوږد حدیث په خپل کتاب سنن کبرٰی په کتاب التفسیرکې نقل کړي دی .

او دا پوره حدیث ابن جریر طبري په خپل تفسیرکې او ابن ابي حاتم په خپل تفسیرکې ددې یزید بن هارون په سند سره نقل کړي دی وایي چې دا حدیث مرفوع نه دی بلکې دحضرت ابن عباس ﷛ خپل کلام دی کوم چې دوی دکعب احبار دهغو اسرائیلي روایتونو څخه راخستی دی دکومو نقل کول اوبیانول چې جائز ګرځولي سوي دی ، البته ځای پرځای په دې کې دمرفوع حدیث جملې هم شاملې دی .

امام ابن کثیر ﷫ په خپل تفسیرکې ددې پوره حدیث او په دې ددې ذکر سوی تحقیق او تصدیق لیکلو څخه وروسته لیکي چې زمونږ شیخ ابو الحجاج المزي هم دابن جریر او ابن ابي حاتم په شان دا روایت موقوف او دابن عباس ﷛ کلام ګرځوي ، انتهٰی (ابن کثیر از ص۱۴۸ تا ۱۵۳ ج ۳)

(دحضرت موسي ﷺ دقصې ذکرسوي څخه حاصلي سوي نتیجې عبرتونه اوضروري فائدې)

قرآن کریم دحضرت موسٰی ﷺ دقصې دومره اهتمام فرمایلی دی چې په اکثرو سورتونو کې ددې څه ناڅه ذکر خامخا راځي ، وجه یې دا ده چې په دې قصه کې په زرګونو عبرتونه حکمتونه او دحق سبحانه وتعالٰی دکامل قدرت عجیبه نښانې اومظاهردي چې دانسان ایمان په پخیږی اوپه دې کې عملي او اخلاقي هدایتونه هم بې شمیره دي ، چونکې دلته دا قصه په پوره تفصیل سره راغلې ده نو مناسب معلومه سوه چې ددې لاندې راغلي عبرتونه نصیحتونه او هدایتونه هم څه قدر ولیکل سي .

(دفرعون احمقانه تدبیر او په دې دقدرت دحق حیرانوونکي عکس العمل)

فرعون ته چې معلومه سوه چې په بني اسرائیلوکې به یو هلك پیدا کیږي کوم چې به دفرعون دسلطنت دزوال سبب جوړیږي نو دااسرائیلي هلکانودقتل عام حکم یې ورکی ، بیایې دخپل ملکي اوذاتي مصلحت پر بنا یوکال دهلکانو ژوندي پاته کولو اوبل کال دقتلولو فیصله نافذه کړه دالله ﷻ دا قدرت وو چې حضرت موسٰی ﷺ یې په هغه کال کې پیدا کړې وای کوم کال چې دبچیانو دژوندي پرېښودو

وو، مګر قدرت ته منظوره سوه چي ددې احمق دا ظالمانه تدبير په پوره ډول سره پرده سرچپه سي او دده ښخه بنه بې عقله جوړسي، په دې وجه حضرت موسیٰ ﷺ يې په هغه کال کي پيدا کې کوم چي دهلکانو دقتلولو کال وو او په خپل حکمت بالغه سره يې داسې صورت پيدا کې چي حضرت موسیٰ ﷺ په خپله ددې جبار ظالم په کورکي پر وروش پيدا کې، فرعون او دده ښځې په شوق او رغبت سره حضرت موسیٰ ﷺ په خپل کور کي وپالي په ټول ښارکي اسرآئيلي هلکان دحضرت موسیٰ ﷺ په شك کي قتليدل او حضرت موسیٰ ﷺ په خپله دفرعون په کور کي په ارام اسائش او عزت او اکرام سره دده په خرځ پالل کيدې.

در به بند ودشمن اندر خانه بود حيلۀ فرعون زين افسانه بود

ددښمن دراتلو دبيرې څخه يې دروازه بندوله چي دښمن دننه رانه سي او معلومه ورته نه وه چي دکوم دښمن دبندولو دپاره دروازه بنديږي هغه په کورکي دننه دې، دفرعون دا تدبير هم په دې ډول سره وو

(دحضرت موسيٰ ﷺ پر مور معجزانه انعام او دفرعوني تدبير يو بل انتقام)

حضرت موسیٰ ﷺ که دعامو بچيانو په شان ديوې دايې تې اخستې وې نو دده پرورش به بيا هم دخپل دښمن فرعون په کورکي په ارام سره سوې واى، مګر دحضرت موسیٰ ﷺ مور به دده په جدايي باندې پريشانه وه او حضرت موسیٰ ﷺ ته به هم ديوې کافرې ښځې شيدې ورکول کيدې الله ﷻ خپل پيغمبر دکافرې ښځې دشيدو څخه هم وساتي او دده مور يې هم دجدايي دپريشانۍ څخه خلاصه کړه او دپريشانۍ څخه يې هم خلاصون په دې ډول سره چي دفرعون کوروالا يې احسان منده سوه، پردې دوالير او تحفو باران وسو او خپل محبوب بچي ته په شيدو ورکولو دفرعوني دربار څخه ورته معاوضه د ورکول کيده او دعامو نوکرانو په شان دفرعون په کور کي اوسيده هم نه، (فتبارك الله احسن الخالقين)

(دصنعت کارو او سوداګرو دپاره يوه خوشخبري)

په يوحديث کي دنبي کريم ﷺ ارشاد دی چي کوم صنعت کار (يعني کاريګر) په خپل صنعت او حرفت کي دثواب نيك نيت لري دهغه مثال به دحضرت موسیٰ ﷺ دمور په شان وي چي تې خپل بچي ته ورکوي او معاوضه يې دبل څخه اخلي (ابن کثير) مطلب دا دی چي يو معمار مسجد مدرسه يابل داسې دعوامو دفائدې په اراده داباد کار کوي که دده نيت صرف دخپلې مزدورۍ او پيسو ګټلو وي، نو ده ته به صرف دغه ورکول کيږي او که دده نيت دا هم وي چي دا ابادي به په نيکو کارونو کي استعماليږي او خلګو ته به ورڅخه ددين نفع رسيږي، په دې وجه پرنورو ابادیو دې ته ترجيح ورکوي نو ده ته به دحضرت موسیٰ ﷺ دمور په شان مزدوري هم ورکول کيږي او خپله ديني فائده به يې هم وي.

(دالله ﷻ خاصو بندګانو ته دمحبوبيت يو شان ورکول کيږي چي خوک يې ويني محبت ورسره کوي)

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي: کې يې دې طرف ته اشاره فرمايلې ده چي حق تعالى خپلو مخصوصو بندګانو ته دمحبوبيت يو خاص شان ورکوي چي څوك يې ويني خپل وي که پر دې دوست دښمن ټول

ورسره محبت کوی ، د انبیاء علیهم السلام خو ډیر لوی مقام دی په ډیرو اولیاؤ کي هم دمحبوبیت مشاهده کیږي.

(دفرعوني کافر سړی قتل کوم چي دحضرت موسي ؑ دلاسه سوی وو دا په څه بناخطامقررسوه؟)

حضرت موسیٰ ؑ دیو اسرائیلی مسلمان سره یوکافر فرعونی په جنګ باندی ولیدی نو فرعونی یی په یو سوك ووهی چی په دی سره هغه مړ سو دی ته حضرت موسیٰ ؑ په خپله هم عمل دشیطان وویل او دالله ﷻ څخه یی ددی خطا معافی وغوښته اوهغه یی معاف هم کی ، مګر دلته یوفقهی سوال داپیدا کیږی چی دا فرعونی سړی یوکافر حربی وو چی دحضرت موسیٰ ؑ ورسره څه معاهده دصلحی هم نه وه دی داهل ذمه کافرانو په فهرست کی داخلیږی دکوموچی دجان اومال اوعزت حفاظت پرمسلمانانو باندی فرض وی دا خو حربی کافر وو دکوم حکم چی په اسلامی شریعت کی دا دی چی دی مباح الدم دی دده قتل څه ګناه نه ده بیا دلته دی ته دشیطان عمل اوخطا پرڅه بنا باندی ویل مقرر سوه ؟

دتفسیر په عامو کتابونو کی هیچادی خبری ته پام نه دی کړی احقرچی کله دحکیم الامت حضرت تهانوی ؒ په حکم سره د احکام القران په تصنیف کی مشغول وو او په دی کی دا واقعه ترتحریر لاندی راغله نو حضرت ددی سوال جواب دا ورکړی وو چی که څه هم ددی فرعونی سړی سره سیده په سیده څه وعده دصلحی یاذمه نه وه مګر چونکی دغه وخت نه دحضرت موسیٰ ؑ حکومت وو نه ددی فرعونی بلکی دواړه دفرعون دحکومت ښاروال وه او دیو بل دطرف څخه مطمئن وه دا یو قسم عملی وعده وه ، دفرعونی په قتل کی ددی عملی وعدی خلاف ورزی وسوه په دی وجه یی دا خطا مقرره کړه ، او دا خطاچونکه قصداً نه بلکی اتفاقًا وسوه په دی وجه دحضرت موسیٰ ؑ دنبوت دعصمت سره منافی نه ده سیدی حکیم الامت ؒ پردی بناپه مشترکه هندوستان کی هرکله چی مسلمانان اوهندوان دواړه دانګریزی حکومت لاندی اوسیدل دیو مسلمان دپاره یی دا جائز نه ګڼله چی دی دی دیو هندو پرمال اوځان باندی ظلم وکی.

(دضعیفانو امداد اوخدمتِ خلق ددین او دنیا دپاره نفع مند او دفائدی کاردی)

حضرت موسیٰ ؑ دمدین دښارڅخه دباندی پرڅاه باندی دوی ښځی ولیدی چی دخپلی کمزوری پربنا باندی یی خپلوبزوته اوبه نه سوی ورکولی داښځی بالکل نااشنااوحضرت موسیٰ ؑ یومسافروو ،مګر دضعیفانو خدمت اوامدادمقتضاء دشرافت اودالله ﷻ په نزدښه عمل وو ، په دی وجه دهغوی دپاره یی محنت وکی اود دوی بیزی یی اوبه کړی، ددی اجر اوثواب خودالله ﷻ سره ډیرلوی دی په دنیاکی هم الله ﷻ ددوی دا عمل دمسافرانه بی کسی اوبی سراوسامانی داسی علاج جوړکی چی دده دراتلونکی ژوندده دشان مطابق دجوړولوذریعه جوړه سوه چی دحضرت شعیب ؑ دخدمت اودده دزوم کیدوشرف ورته حاصل سو دځوانیدو څخه وروسته چی کوم کار دده مور باید کړی وای الله ؑ په مسافری کی دخپل یو نبی په لاسو وکی.

(د دوو پيغمبرانو په مينځ کې دمزدور اوباداړ معامله او په دې کې حکمتونه اوعجيبه فائدې)

حضرت موسٰی ﷺ دحضرت شعيب ﷺ په کورکی ميلمه سو دفرعونی سپاهيانو دبيری څخه مطمئن سو نو حضرت شعيب ﷺ دلور په مشوره دی دځان سره دمزدور ساتلو خيال ظاهرکی په دی کی دالله ﷻ لوی حکمتونه او دمخلوق دپاره اهم هدايتونه دی .

اول دا چی حضرت شعيب ﷺ دالله ﷻ نبی او رسول وو ديو مسافر بی وطنه دومره امداد دده څخه ډيری لیری خبره نه وه چی دی يی څه زمانه دځان سره بی دڅه معاوضی دخدمت څخه ميلمه ساتلی وای ، مګر غالبًا په پيغمبرانه پوهه سره يی دحضرت موسٰی ﷺ لويه حوصله معلومه کړی وه چی دی به تر ډيره وخته پوری ميلمستيا قبوله نه کړی اوکه چيری بل ځای ته ولاړسی نو ده ته به تکليف وی په دی وجه يی دبی تکلفه معاملی صورت اختيارکی چی په دی کی دنورو خلکو دپاره هم دا هدايت دی چی دچا کورته تلل او خپل بار پر هغه اچول دشرافت څخه خلاف دی .

دوهم په دی کی داحکمت هم وو چی الله ﷻ حضرت موسٰی ﷺ په نبوت او رسالت باندی فائز کول غوښتل دهغه دپاره که څه هم مجاهده اوعمل نه شرط دی او نه دڅه عمل او مجاهدی په ذريعه حاصليدی سی دغه خو خالص دالله ﷻ دطرف څخه انعام اوبخشش وی مګرعادت دالله ﷻ دا دی چی هغه خپل پيغمبران هم دمجاهدو اومشقتونو د دور څخه تير وی کوم چی دانسانی اخلاقو دتکميل ذريعه او دنورو داصلاح لوی سبب جوړيږي ، دحضرت موسٰی ﷺ ژوند تردی وخته پوری په شاهانه اعزاز اواکرام کی تير سوی وو ، مخکی ده ته دخدای دمخلوق دپاره هادی او رهبر او د دوی مصلح جوړيدل وو ، دحضرت شعيب ﷺ سره ددی مزدوری اومحنت په وعده کی د دوی داخلاقی تربيت راز هم پټ وو عارف شيرازی رحمه الله دا داسی ويلی دی .

شبان وادئ ايمن ګهی رسد بمراد   که چند سال بجان خدمت شعيب ﷺ کند

دوادی ايمن شپونکی به هلته مراد ته ورسيږی چی خوکاله په محنت سره دحضرت شعيب ﷺ خدمت وکی .

دريم کوم خدمت چی دده څخه واخستل سو هغه دبزو څرول وو دا عجيبه خبره ده چی داکار داکثرو انبياؤ عليهم السلام څخه اخستل سوي دی شايدپه دی کی دارازهم وی چی بزه يوداسی حيوان دی کوم چی درمی څخه مخکی او وروسته دتيښتی عادی وی چی بار بار ورته څروونکی غصه کيږی . ددی غصی په نتيجه کی که دی ددغه تښتيدونکی بزی څخه هم دغسی ځان ناخبره کړی نو دا به دلاس څخه ووزی او دشرمنښ خوراك به سی اوكه دخپلی رضا دچليدو دپاره يی وهی نوکمزوری دومره ده چی په معمولی وهلو يی پښه ماتيږی په دی وجه شپونکی د ډير صبر اوتحمل څخه كار اخلی ، دخدای ﷻ دعام مخلوق هم دانبياء عليهم السلام سره داسی حال وی چی انبياء عليهم السلام نه ځان ورڅخه بيغمه کولی سی اونه يی په زياتی سختی کولو سره پرلار کولی سی صبر اوتحمل ورلره خپل عادت جوړول وی .

(چاته دوعدې او ملازمت سپارلو دپاره ښه دستور العمل)

په دې قصه کې دحضرت شعیب ﷺ لور چې خپل پلار ته دامشوره ورکړه چې دی نوکر کړه او ددې مشورې دلیل یې دا بیان کې چې ښه نوکرهغه سړی کیدی سی کوم چې قوي هم وي امین هم ، دقوي څخه مراد ددغه کار قوت او صلاحیت والا کیدل دي کوم کارچې ده ته سپارل وي او دامین څخه مراد دا دي چې دده دتیر ژوند حالات دده پرامانت او دیانت باندې شاهد وي نن صبا دسرکاري ملازمتونو اوسرکاري او غیرِ سرکاري وعدو دپاره دانتخاب کوم اصول چې اینښوول کیږي اوپه درخواست ورکوونکي کې چې کوم صفتونه کتل کیږي که غور وسی نوټول په دې دوو لفظونوکې جمع دي بلکه ددې په تفصیلي شرطونوکې هم په عام طور سره دا جامعیت نه وي ، ځکه چې امانت او دیانت خوګرسره هیچیرې زیرِغورنه راځي صرف دعلمي قابلیت دګریاني معیاروي اونن صباچې یوځاي په سرکاري اوغیر سرکاري نظام کې څه خرابی موندل کیږي هغه ډیر ددې اصولو ددیانت دنظر انداز کولو په نتیجه کې وي ، قابل اوعاقل سړي چې دامانت او دیانت څخه خالي وي نو هغه بیادغل کاري او رشوت خوري هم داسې داسې لارې راباسي چې دهیڅ قانون په ګرفت کې نه راځي ، داشې نن ددنیا ډیرې سرکاري او غیرِ سرکاري اداري بې کاره بلکې مضرې جوړې کړي دي په اسلامي نظام کې یې ځکه دې ته لوی اهمیت ورکړي دی چې ددې برکتونه دنیا تر ډیرو صدیو پورې لیدلی دی .

(دساحرانو او پیغمبرانو په معاملوکې ښکاره فرق)

فرعون چې کوم جادوګران جمع کړي وه او دټول ملك خطره یې دوی ته مخکې کړه ، دکار کولو یې ورته وویل دهغه تقاضا دا وه چې دوی دا خپل کار وګڼي او دزړه داخلاصه داکار وکي مګر هلته وسوه دا چې ددې خدمت شروع کولو څخه مخکې سودا بازي شروع سوه چې موږ ته به څه راکول کیږي ؟

ددې په مقابله کې دټولو انبیاء علیهم السلام عام اعلان دا وي چې ، وَلَآاَسْئَلُكُم عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ یعني زه ستاسې څخه دخپل خدمت معاوضه نه غواړم او دانبیاء علیهم السلام په تبلیغ او دعوت مؤثر کیدوکې ددې استغناء لوی دخل دی دکله څخه چې ددیني عالمانو مفتیانو خطبه ورکوونکو اوواعظانو دخدمت انتظام د اسلامي بیت المال څخه پاته نه سو دوی ته پرخپل تعلیم وعظ او امامت دتنخواه اخستو مجبوري وریپښه سوه دغه که څه هم دمتاخرینو عالمانو په نزد په درجه دمجبورې جائز مقرر سوي ده ، مګر په دې کې هیڅ شك نسته چې ددې معاوضې اخیستو اثر پرتبلیغ او دعوت اواصلاح دخلګو باندې ډیر بد وسو کوم چې د دوی دکوششونو اثر ډیرکم کی .

(دفرعوني جادوګرو دجادو حقیقت)

دې خلګو په ظاهره دخپلو همساګانو او رسیو څخه ماران جوړ کړي ښوول ایا دا واقعي ماران جوړ سوي وه؟ ددې متعلق دقرآن دالفاظو يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى څخه دا معلومیږي چې دغه په حقیقت

کی ماران نه وه جوړ سوی بلکی دا یو قسم مسمریزم وو کوم چی دحاضرینو پرخیالاتو باندی تصرف وکړ
یو قسم نظر بندی یی وکړه چی حاضرینو ته هغه تلونکی ماران ښکاره سول .
ددی څخه دا نه لازمیږی چی په یو جادو سره دیو شی حقیقت نه سی بدلیدی خو دومره معلومیږی چی
ددی جادو ګرو جادو دحقیقت دبدلولو په درجه کی نه وو.

(قبائیلي تقسیم دمعاشرتي معاملو تر حده پوری مذموم عمل نه دی)

اسلام وطنی ، لسانی قبائیلی ، نسبی تقسیمونه دقومیت پربنیاد جوړولو باندی سخت بد ویلی دی او
ددی فرقونو دختمولو دپاره یی په هر قدم او هرکارکی کوشش کړي دی بلکی داسلامی سیاست سنګر
بنیاد داسلام دینی قومیت دی چی په دی کی عربی عجمی حبشی فارسی هندی سندهی ټول دیوقوم
افراد دی نبی کریم ﷺ په مدینه منوره کی داسلامی حکومت دبنیاد ایښوولو دپاره دټولو څخه اولنی کار
دمهاجرینو او انصارو په منیځ کی دیووالی او ورورلی قائمولو څخه شروع کړی وو او دحجة الوداع په
خطبه کی یی تر قیامته پوری دا دستور العمل ورکی چی دعلاقی نسب ژبی فرقونه ټول بتان دی کوم چی
اسلام مات کړي دی لیکن په معاشرتی معاملاتوکی تر یو حده پوری ددی فرقونو رعایت یی ژغملی دی
څکه چی دخوړلو چښلو او اوسیدلو طریقی دمختلفو قبیلو اومختلفو وطنونو جلا جلا دی دهغوی
خلاف کول سخت تکلیف دی .

حضرت موسٰی ﷺ چی کوم بنی اسرائیل دمصر څخه دځان سره بیولی وه د دوی دولس قبیلی وی ، الله
ﷻ ددی قبیلوفرق په معاشرتی معاملوکی جائز وساتی ، اوپه دریاب کی هم چی کومی لاری یی په طور
دمعجزی جوړی کړی نو دولس لاری یی جلاجلا دهری قبیلی دپاره پیدا کړی ، دغه ډول په وادی تیه کی
چی دکومی دبری څخه په طور دمعجزی د اوبو چینی جاری کیدی هغه به هم دولس وی چی قبیلی دیو بل
سره مزاحمت ونه کړی هره قبیله خپلی مقرری اوبه حاصلی کړی . والله اعلم

(دجماعتي انتظام دپاره خلیفه اونائب جوړول)

حضرت موسٰی ﷺ چی کله دیوی میاشتی دپاره دخپل قوم څخه جلا کیدی په کوه طور کی دعبادت
دپاره تلی نوحضرت هارون ﷺ یی خپل خلیفه اونائب جوړکی او ټولو ته یی هدایت وکی چی زما څخه
وروسته به ټول دده خبره منئ چی دیو بل سره اختلاف اوجګړه ونه کړی ، ددی څخه معلومه سوه چی یو
خاندان یا جماعت مشرکه چی یوځای په سفرځی نو دانبیاء علیهم السلام سنت دا دی چی یو څوک خپل
خلیفه او قائمقام جوړ کړی کوم چی د دوی نظم اوضبط ساتی .

(دمسلمانانو په جماعت کي د ګډوډ کیدو څخه دمحفوظ کیدو دپاره دلویو څخه لویه بدی هم په وقتي طور برداشت کول کیږی)

په بنی اسرائیلوکی دحضرت موسٰی ﷺ دغیرِ حاضری په وخت کی چی کومه دسخوندرګی دعبادت فتنه
پیدا سوه او دوی دری فرقی سول نوحضرت هارون ﷺ ټولوته دحق دعوت خوورکی مګرپه دوی کی
دیوی فرقی څخه په کلی طور سره دبیزاری اوجدا کیدو اعلان یی دحضرت موسٰی ﷺ تر راتلو پوری

ونه کی په دی باندی چی کله حضرت موسیٰ ﷺ ناراضه سو نو دوی دا عذر پیش کی چی که ماسختی کړی وای نو بنی اسرائیل به توټی توټی سوی وای اوجدا جدا سوی به وای، إِنِّي خَشِيتُ أَنْ تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِي یعنی ماپه دی وجه دیوی فرقی څخه دجدا کیدو اوبیزاری په سختی سره اظهار ونه کی چی هسی نه ته چی بیرته راسی نو پر ما دا الزام ونه لګوی چی تاپه بنی اسرائیلو کی تفرقه پیدا کړه او زما دهدایت پابندی دی ونه کړی.

حضرت موسیٰ ﷺ هم دده عذر غلط ونه ګرځوی بلکه صحیح یی تسلیم کی دهغه دپاره یی دعا اواستغفار وکی، ددی څخه دا هدایت را وزی چی په مسلمانانو کی دتفرقی څخه دمحفوظ کیدو دپاره په وقتی طور که په یو بده معامله کی نرمی وسی نو صحیح ده. والله سبحانه وتعالی اعلم

دحضرت موسیٰ ﷺ دقصی چی کوم ایتونه لوړ لیکل سوي دی د دوی په اخرکی حضرت موسیٰ اوهارون علیهما السلام ته یی فرعون ته دهدایت دپاره دلیږلو حکم دیوخاص هدایت سره ورکړي دی یعنی فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَيِّنًا لَعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ په دی کی.

(دپیغمبرانه دعوت یو مهم اصول)

دا بیان سوي دی چی فریق مخالف که هرڅومره سرکښ او دغلطیو څخه دغلطو عقیدو اوخیالاتو لرونکی وی، داصلاح اوهدایت دفرضو په پوره کوونکو باندی لازم دی چی د دوی سره هم په همدردانه اوخیر خواهانه انداز سره خبره نرمه کوی ددی دا نتیجه کیدی سی چی مخالف پرڅه غور اوفکر کولو مجبوره سی او دده په زړه کی دخدای بیره پیداسی.

فرعون چی دخدایی دعویدارجبار اوظالم دی کوم چی دخپل ذات دحفاظت دپاره دزرګونو بنی اسرائیلو دبچیانو دقتل مجرم دی دهغه طرف ته هم چی الله ﷻ خپل خاص پیغمبران لیږی نو ددی هدایت نامی سره یی لیږی چی دهغه سره خبره په نرمی کوی چی ده ته دغور اوفکر موقع ورکړل سی او دا په دی باندی دی چی دالله ﷻ په علم کی وه چی فرعون دخپلی سرکښی اوګمراهی څخه وروسته کیدونکی نه دی مګرخپل پیغمبران ددی اصولو پابندکول وو دکوموپه ذریعه چی دخدای مخلوق ته دسوچ اوفکر موقع ورکړل سی دخدای دبیری طرف ته راسی فرعون ته هدایت کیږی اوکه نه مګر اصول هغه په کار دی کوم چی دهدایت اواصلاح ذریعه جوړه سی.

نن صباچی کوم ډیر دعلم خاوندان په خپلو اختلافاتوکی دیوبل خلاف بدی ردی ویل اوپر یوبل الزامونه لګول ددین خدمت ګنی هغوی ته پردی ډیر غور کول په کار دی.

قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَنْ يَفْرُطَ عَلَيْنَا أَوْ أَنْ يَطْغَىٰ ﴿٤٥﴾ قَالَ

دوی وویل ای ربه زمونږ بیرېږو مونږ چی زیاتی به وکړی پرمونږ اویا به غصه سی، وی فرمایل

لَا تَخَافَآ اِنَّنِیْ مَعَكُمَآ اَسْمَعُ وَاَرٰی ۴۶ فَاْتِیٰهُ فَقُوْلَآ اِنَّا رَسُوْلَا رَبِّكَ

مه بیریږي زه ستاسی سره یم اورم اووینم ، پس ولاړ سی ده ته او ووایاست مونږ دواړه رالیږلی

فَاَرْسِلْ مَعَنَا بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ۙ۬ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ ؕ قَدْ جِئْنٰكَ بِاٰیَةٍ

سوی یُو ستا درب دطرف څخه پس ولیږه مونږ سره بنی اسرائیل ، او مه عذابوه دوی ، مونږ راغلی یُو تا ته

مِّنْ رَّبِّكَ ؕ وَالسَّلٰمُ عَلٰی مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰی ۴۷ اِنَّا قَدْ اُوْحِیَ اِلَیْنَآ

دنښانو سره درب دطرف څخه ، او سلامتیادی وی په هغه چی ومنی هدایت ، مونږ ته حکم رسیدلی دی

اَنَّ الْعَذَابَ عَلٰی مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰی ۴۸ قَالَ فَمَنْ رَّبُّكُمَا یٰمُوْسٰی ۴۹

چی عذاب په چا دی کوم چی درواغجن کړی او مخ واړوی ، وې ویل بیا څوك دی ستاسی رب ای موسی

قَالَ رَبُّنَا الَّذِیْٓ اَعْطٰی كُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی ۵۰

وې ویل رب زمونږ هغه دی چاچی ورکی هر شی ته دهغه صورت بیا لار وښووله.

لنډتفسیر: (هرکله چی دا حکم دواړو صاحبانوته ورسیدی نو دواړو) عرض وکی چی ای زمونږ پروردګاره! (مونږ دتبلیغ دپاره حاضریو لیکن) زمونږ بیره ده چی (هسی نه) هغه په مونږ (دتبلیغ څخه مخکی) زیاتوب ونه کی (چی تبلیغ پاته سی) یاداچی (عینی دتبلیغ پروخت په خپل کفرکی) زیات شرارت شروع نه کړی (چی په خپلو چتیاتو ویلوکی په خپله هم تبلیغ وانه وری او نور هم اوریدوته پری نه ږدی چی تبلیغ به دنه تبلیغ سره برابرسی) ارشاد وسوچی (ددی خبری څخه مطلق) بیره مه کوی (ځکه چی) زه ستاسی دواړو سره یم هر څه اورم او وینم (زه به ستاسی حفاظت کوم اوپه هغه به رعب واچوم چی تاسی به پوره تبلیغ وکی لکه چی په بل ایت کی دی ، نَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا) وروسته ستاسی (بی خوف اوخطري هغه ته ولاړسی او (هغه ته) ووایاست چی مونږ دواړه ستا دپروردګار رالیږل سوی یو (چی مونږ یی نبیان جوړ کړی رالیږلی یو) وروسته (ته زمونږ خبره ومنه دعقیدی په اصلاح کی هم چی دتوحید تصدیق وکړه او داخلاقوپه اصلاح کی هم چی دظلم وغیره څخه منع سه او) بنی اسرائیل (په کوموچی ته ناحقه ظلم کوی دخپل ظلم څخه ازاد کړه) زمونږ سره یی راپریږده (چی کوم ځای غواړی اوځنګه غواړی اوسیږی) او دوی ته تکلیف مه رسوه (او) مونږ (چی دنبوت دعوی کوو نوداخالی دخُلی خبره نه ده بلکی مونږ) تاته ستا درب دطرف څخه (دخپل نبوت) نښانه (یعنی معجزه هم) راوړي ده او (دتصدیق اوحق قبلولو فائده به

په دې قاعده کلیه سره معلومه سي چې) د داسي سړي دپاره (دعذاب الهي څخه) سلامتي ده کوم چې پر (سیده) لاره ځي (او د دروا غجن کولو اوحق ردولو په باره کې) مونږ ته داحکم راغلی دی چې (دالله ﷻ) عذاب (دقهر) به پرهغه سړي وي کوم چې (حق) درواغ کړي او (ددې څخه) مخ واړوي (مطلب دا دی چې ولاړسي او دا ټول مضمون هغه ته بیان کې نو دواړه حضرات ولاړل دا هرڅه یې ورته وویل) هغه وویل چې بیا (دا خو ووایاست چې) ستاسي د دواړو رب څوك دی؟ (کوم چې تاسي وایاست چې مونږ یې رالیږلي یو) ای موسیٰ ﷺ (په جواب کې) موسیٰ (ﷺ) وویل چې زمونږ (د دواړو بلکې دټولو) رب هغه دی چاچې هرشی ته دهغه مناسب شکل اوصورت ورکی بیا (په دوی کې چې کوم دروح لرونکی شیان وه هغوته یې دهغوی دنفعې اومصلحت طرف ته) لار وښوولِه (هم دارنګه هر یو حیوان خپل مناسب خوراك جوړه اوځای وغیره لټوي پس هغه زمونږ رب دی)

(معلومات اومسئلي)

(حضرت موسیٰ ﷺ بیریدی ولي ؟)

اِنَّنَا نَخَافُ : حضرت موسیٰ اوهارون علیهم السلام دلته دالله ﷻ په مخکی د دوه قسمه بیری اظهار وکی یود ، اَنْ یَّفْرُطَ په لفظ سره چې ددې اصلي معنٰی دحد څخه تجاوزکول دي ، نو مطلب دا سو چې شاید فرعون زمونږ دخبری اوریدو څخه مخکی پر مونږ حمله وکی دوهمه بیره یې دَ اَنْ یَّطْغٰی په لفظ سره بیان کړه چې مطلب یې دا دی چې ممکنه ده هغه ددې څخه هم زیاته سرکښی وکړي چې ستا په شان کی څه نامناسبه بکواس وکړي .

دلته یوسوال دا پیداکیږي چې دکلام په اول کی کله چې حضرت موسیٰ ﷺ ته درسالت اونبوت منصب ورکړل سو او دوی دحضرت هارون ﷺ دځان سره دشریکولو درخواست وکی او دا درخواست قبول سو نو دغه وخت الله ﷻ ده ته دا ښوولې وه چې ، سَنَشُدُّعَضُدَكَ بِاَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ اِلَيْكُمَا دارنګه دا یې هم اطمینان ورکړی ووچې تاپه درخواست کی دکومو شیانو طلب کړي دی هغه مونږ ټول تاته درکړل (قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰی) په دې مطلوبه شیانوکی شرح صدرهم وو چې مطلب یې دا وو چې دمخالف څخه به څه زړه تنګیدل او خوف اوبیره نه پیداکیږي .

دالله ﷻ ددې وعدو څخه وروسته بیا دابیره او ددې اظهار دا څنګه دی ؟ ددې یو جواب خو دا دی چې اوله وعده چې مونږ به تاته غلبه درکړو او دغه خلك به تاته څه ونه وایی ، دا یوه مبهمه وعده ده چې مراد دغلبې څخه دحجت او دلیل غلبه هم کیدای سی اومادي غلبه هم دارنګه داخیال هم کیدای سی چې پر هغوی به غلبه هلته وي چې هغوی د دوی دلیلونه واوري معجزې هم ووینی ، مګر خطره دا ده چې هغوی دکلام تر اوریدو مخکی پر دوی حمله وکی او دشرح صدر دپاره دا لازمه نه ده چې طبعي بیره به هم نه وي .

دوهمه خبره دا ده چې دبيرې دشيانو څخه طبعي بيره دټولو انبياؤ عليهم السلام سنت ده ، کوم چې په وعدوباندې دپوره ايمان اويقين باوجود هم وي ، په خپله حضرت موسٰی ﷺ دخپلې همسا څخه چې يې مار جوړ سو نو دي ورڅخه وبيريدی نوالله ﷻ ورته وفرمايل لَا تَخَفْ مه بيريږه اونورپه ټولو موقعو باندې به هم داسې کيده چې طبعي اوبشري بيره به ورته راتله نو بيابه الله ﷻ دخوشخبرې په ذريعه مطمئن کړه ددې واقعې په آيت کې دې ، فَخَرَجَ مِنْهَاخَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ او: فَاَصْبَحَ فِی الْمَدِيْنَةِ خَآئِفًا ، فَاَوْجَسَ فِي نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى : دا آيتونه په دې مضمون باندې شاهد دي حضرت خاتم الانبياء اوسيد الانبياء ﷺ ددې بشرې بيرې په وجه سره دمدينې منورې طرف ته اوځينې صحابه کرامو ﷺ اول حبشې ته بيا مدينې منورې ته هجرت وفرمايي، داحزاب په جنګ کې يې ددې بيرې څخه دمحفوظ کيدو دپاره خندق وکيندی ، حال دا دې چې دالله ﷻ دطرف څخه دنصرت اوغلبې وعده بار بار راغلې وه ، مګر حقيقت دا دې چې دالله ﷻ په وعدو باندې يقين خو دوی ټولوته پوره حاصل وو، مګر طبعي بيره کومه چې په مقتضا دبشريت انبياء عليهم السلام ته هم وي هغه ددې منافي نه ده .

اِنَّنِيْ مَعَكُمَا اَسْمَعُ وَاَرٰی : الله ﷻ فرمايي چې زه ستاسې دواړو سره يم اورم اووينم دمعيت څخه مراد نصرت او امداد دې چې دپوره حقيقت اوکيفيت ادراك يې انسان نه سې کولای .

(حضرت موسٰی ﷺ فرعون ته دايمان ددعوت سره دخپل قوم دمعاشي مصيبت څخه دازادولودعوت هم ورکي)

ددې څخه معلومه سوه چې انبياء عليهم السلام څنګه چې دخدای مخلوق ته دايمان دهدايت ورکولو منصب لرې دغه ډول خپل امت ددنيوی اومعاشی مصيبتونوڅخه دازادولو کار هم د دوی په منصب کې شامل دی ، په دې وجه په قرآن کريم کې دحضرت موسٰی ﷺ فرعون ته په دعوت ورکولو کې دواړه شيان شامل دي اول په الله ﷻ باندې ايمان دوهم دبنی اسرائيلو ازادی خصوصًا په ذکر سوی آيت کې خو يې صرف ددې دوهم جزء پر ذکر باندې بس والی فرمايلی دی .

(الله ﷻ هرشي پيداکي اوبيايې دهريوه دوجودمناسب هغه ته هدايت وکي چې په هغه سره هغه په دغه کارکي اخته سو)

تفصيل ددې دا دی چې يو هدايت کوم چې دانبياء عليهم السلام وظيفه اومنصبی فرض دی ، دغه خو خاص هدايت دی چې مخاطب يې اهل عقل انسانان اوپيريان دي يوبل قسم تکويني هدايت هم دی کوم چې په مخلوقات کې هرشي ته عام اوشامل دی ، اور اوبه خاوري اوهوا او ددې څخه مرکب کيدونکی هر شی ته حق تعالی يوخاص قسم ادراك اوشعور ورکړي دی کوم چې که څه هم دانسان اوپيری برابر نه دی ، په دې وجه دحلالو اوحرامو حکمونه په دې شيانونه عائدکيږي ، مګر د ادراك اوشعور څخه خالی نه دی ددې ادراك اوشعور په ذريعه حق تعالی هرشی ته ددې هدايت کړي دی چې ته دڅه کار دپاره پيدا سوی يې تاته څه کول په کار دی ؟ ددې تکويني حکم اوهدايت تابع مځکه او اسمان او ددې ټول مخلوقات په خپل خپل کار اوخپله خپله ډيوټی لګيدلی دی ، لمر سپوږمی خپل کار کوی ، او نوری

سیاری او ثوابت په خپل خپل کارکی داسی لګیدلی دی چی دیومنټ یایوسکینډ فرق هم نه په کښی راځی هوا اوبه اور اوخاوری دخپل خپل پیدائش دمنشاء په کارکی لګیدلی دی ، دوی دالله ﷻ دحکم څخه بغیر دیووریښته هومره فرق نه کوی البته هرکله چی دالله ﷻ حکم وسی نوکله اور ګلزار جوړسی لکه دحضرت ابراهیم ﷺ دپاره چی اور ګلزار جوړ سوی وو اوکله اوبه د اور کار هم ورکړی لکه دحضرت نوح ﷺ دقوم ، اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا : دپاره بچی چی کله پیداسی اودغه وخت ده ته خبره نسوول دچاپه وس کی نه وی، داورته چاوښوول چی دمور دسینی څخه خپل خوراك حاصل کړه، ده ته دسینی رودلو هنر چاوښووی؟ چی ورته دلوړی تندی یخ ګرمی تکلیف سی نو ژړا دده ددی تولو ضرورتونو پوره کولو دپاره کافی وی مګر دا ژړا ده ته چا وښووله؟ دا هغه خدایی هدایتونه دی کوم چی هر مخلوق ته دهغه دحیثیت اوضرورت مطابق دغیبو څخه بغیر دڅه تعلیم څخه ورکول کیږي .

لنډه داچی دحق تعالی دطرف څخه یوعام هدایت تکوینی دهرمخلوق دپاره دی چی هریومخلوق په تکوینی طور سره ددی پابندی او ددی خلاف کول دده دقدرت څخه بهردی ، دوهم خاص هدایت دعقل والاوو انسانانو اوپیریانو دپاره دی ، دا هدایت تکوینی اوجبری نه دی بلکی اختیاری وی او ددی اختیارپه نتیجه کی پردی ثواب یاعذاب مرتب کیږی : اَلَّذِیْ اَعْطٰی کُلَّ شَیْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰی : کی د اول قسم هدایت ذکر دی ، حضرت موسٰی ﷺ فرعون ته دټولو څخه مخکی درب العٰلمین هغه کاروښووی کوم چی پرټول مخلوق حاوی دی بل هیڅوك نسته چی هغه ووایی چی دا کار ما یا بل یو انسان کړي دی فرعون ددی څه جواب ورنه کړل سو ، اوس یی په اخوا دیخوا خبرو باندی وخت تیروی او یو سوال یی دحضرت موسٰی ﷺ څخه وکی چی ددی حقیقی جواب عوام واوری نو په حضرتِ موسٰی ﷺ به بدګمانه سی ، هغه دا چی دتیر دور دټولو امتونو اوددنیادقومونوکوموچی دبتانو عبادت کړي دی ستاپه نزد څه حکم دی او هغوی څنګه دی؟ دهغو انجام څه سو؟ مقصدیی دا وو چی ددی په جواب کی به حضرت موسٰی ﷺ ووایی چی دغه ټول ګمراه اودوږخیان دی نو ماته به ددی خبری کولو موقع پیداسی چی وګوری دی خو ټوله دنیایی عقله ګمراه او دوږخیان ګڼی اوخلګ چی داواوری نو دده څخه به بدګمانه سی اوزما مقصد به پوره سی ، مګر دخدای پیغمبر حضرت موسٰی ﷺ ددی داسی حکیمانه جواب ورکی چی په دی سره دده دغه منصوبه غلطه سوه .

قَالَ فَمَا بَالُ الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰی ۝۵۱ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ فِیْ كِتٰبٍ ۚ لَا یَضِلُّ رَبِّیْ

وې ویل پس څه حقیقت دی دهغو تیرو قومونو ، وې ویل دهغه خبر زما رب ته دی په کتاب کی لیکی سوی ، نه

وَلَا یَنْسَی ۝۵۲ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِیْهَا

خطاکیږي زمارب اونه یی هیره سته،هغه دی چاچی جوړه کړه ستاسی دپاره مځکه زانګو اوروانی یی کړی تاسی

سُبُلًا وَّاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ؕ فَاَخْرَجْنَا بِهٖۤ اَزْوَاجًا مِّنْ نَّبَاتٍ

دپاره په دی کی لاری او نازلی کړی یی دی داسمان څخه اوبه بیارا ویستلی مونږ په دی سره قسم قسم سبزیانی .

شَتّٰى ﴿۵۳﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى النُّهٰى ﴿۵۴﴾

خوری څروی حیوانان خپل خامخا په دی کی نښانی دی دعقل لرونکو دپاره

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴿۵۵﴾

ددې مځکی څخه مونږ تاسی پیدا کړاست او دی ته به بیا تاسی واپس کړو او دی څخه به تاسی را وباسو دویم ځل

وَلَقَدْ اَرَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰى ﴿۵۶﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا

او مونږ فرعون ته وښوولی خپلی ټولی نښانی بیا هغه دروغجنی کړی او ویی نه منله ، وی ویل چی آیا ته راغلی یی

مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿۵۷﴾ فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ

چی مونږ وباسی دخپل ملک څخه دخپل جادو په زور سره ای موسی ! پس مونږ به هم راوړو ستا په مقابله کی یو داسی

بَيْنَنَا وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَاۤ اَنْتَ مَكَانًا سُوًى ﴿۵۸﴾

جادو پس مقرر کړه زمونږ او خپل مینځ کی یوه وعده نه به مونږ خلاف کوو دهغه او نه ته په یو میدان صفاکی

قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿۵۹﴾

وې ویل وعده ستاسی ده دجشن او دا چی جمع سی خلق په څاښت کی

تفسیر : فرعون (پردی شبهه وکړه چی : اِنَّ الْعَذَابَ عَلٰى مَنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى او) وې ویل چی بنه نو دمخکنی خلګو څه حال سو ؟ (کوموچی انبیاء علیهم السلام دروغ جن کړي دی په دوی څه قسم عذاب نازل سو ؟) موسٰی (عليه السلام) وفرمایل (چی مادا دعویٰ نه ده کړی چی دغه وعده سوی عذاب په دنیاکی راتلل ضروری دی بلکی کله خو په دنیاکی هم راځی او په اخرت کی خو به خامخاوی هم دارنګه) ددغو خلګو (دبدو عملونو) علم زما دپروردګار سره په کتاب (دعملونو) کی (محفوظ) دی (که څه هم هغه ته دکتاب څه حاجت نسته مګر دځینو حکمتونو په بناسره یی داسی کړي دی ، غرض دا دی چی الله ﷻ ته د دوی عملونه معلوم دی او) زمارب (داسی پوهیدونکی دی چی) نه غلطی کوی او نه ورڅخه هیریږی (پس

دعوی دعملونو صحیح صحیح علم هغه ته معلوم دی ، مگر دعذاب دپاره یی وخت مقررکړی دی ، هرکله چی هغه وخت راسی دغه عذاب به په دوی جاری سی پس په دنیا کی په نه عذابولو سره دا نه لازمیږی چی کفر او درواغ کول سبب دعذاب نه دی ، تېردی ځای پوری دحضرت موسٰی ﷺ تقریر وسو مخ نه الله ﷻ دخپل ربوبیت دشان څه تفصیل بیانوی چی ذکریی اجمالا دحضرت موسٰی ﷺ په دی کلام کی وو ، چنانچی ارشاد دی چی) هغه (رب) داسی دی کوم چی تاسی لره مځکه (په مثل د) فرش جوړه کړه (چی ارام پرکوی) او په دی (مځکه) کی یی ستاسی (دتللو) دپاره لاری جوړی کړی او داسمان څخه یی اوبه واورولی بیا مونږ په دی (اوبو) سره مختلف قسم شنه بوټی پیدا کړل (اوتاسی ته مواجازت درکی چی) خوری یی په خپله (هم) او په خپلو حیوانانو (هم) څروی په دی ټولو (ذکر سوو) شیانوکی دهوښیارانو دپاره (دالله ﷻ پرقدرت باندی ددلیل نیولو) نښانی دی (اولکه څنگه چی شنه بوټی دمځکی څخه راباسی دغه شان) مونږ تاسی ددی مځکی څخه (په اول کی) پیدا کړاست (لکه چی حضرت ادم ﷺ دخاورو څخه پیدا سو پس دده په واسطه سره دټولو ماده بعیده خاوره سوه) او په دی کی به مونږ تاسی (وروسته ترمرگ) بوزو (همدارنگه هریو مړده په هرحالت کی چی وی لیکن اخرکه هرڅومره موده وروسته وی خو دخاوروسره به خامخا یوځای کیږی) او (دقیامت په ورځ به) دوباره ددی خاورو څخه مونږتاسی راباسو (لکه څنگه چی اول وار مونږ تاسی ددی څخه پیدا کړی واست).

او مونږده (فرعون) ته خپلی (هغه) ټولی نښانی وښوولی (کومی چی حضرت موسٰی ﷺ ته ورکړل سوی وی) پس هغه درواغ کړی او انکار یی وکی (او) وي ویل چی ای موسٰی! (ﷺ) ته مونږ ته (ددی دعوی سره) څکه راغلی چی مونږ زمونږ دملك څخه (په زور دخپل جادو سره وباسی (اوپه خپله عوام وغولوی خپل تابعداریی کړی اومشریی سی) پس اوس مونږ هم ستاپه مقابله کی داسی جادو راوړو ، ته زمونږ او په خپل مینځ کی یوه وعده مقرره کړه چی نه به یی مونږخلاف کوو او نه به یی ته خلاف کوی په یو هوار میدان کی (چی ټول خلک یی وويني) موسٰی (ﷺ) وفرمایل ستاسی د (مقابلی د) وعدی وخت هغه ورځ ده په کومه کی چی (ستاسی) میله وی او (په کومه کی) چی خلک دڅاښت په وخت کی جمعه کیږی (اودا ظاهره خبره ده چی دمیلی موقع اکثره په هواره مځکه کی وی په دی سره به دَ مَكَانٍ سُوًى شرط هم پوره سی)

(معلومات اومسئلي)

قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسَى : فرعون دتیرو امتونو دانجام سوال کړی وو ، که ددی په جواب کی حضرت موسٰی ﷺ د دوی دگمراه او جهنمی کیدو په صاف طورسره اظهار کړی وای نو فرعون ته به ددی طعن موقع پیدا سوی وای چی دی خو یوازی مونږ نه توله دنیا گمراه اوجهنمیان گڼی اوعوام به په دی سره په شك کی پریوتلی وای حضرت موسٰی ﷺ داسی حکیمانه جواب ورکی چی خبره

هم پوره وسوه او فرعون ته دعوامو غولولو موقع هم په لاس ورنغله ، ده وفرمايل چي ددي علم زما دربـ
سره دي چي دهغوی انجام به څه وي زما رب نه غلطي کوي او نه يې هيره سته ، دغلطي څخه مراد دا دي
چي کوي يو څه او وسي بل څه او دهيريدو مطلب خو ظاهر دي .

اَزْوَاجًامِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ازواج : په معنٰی داقسامو او انواعو دي اوشتّٰی دشتيت جمع ده چي معنٰی دړ
مختلف مراد دا دي چي دشنو بوټو دومره بې شميره قسمونه يې پيدا کړي دي چي ددي قسمونو احاطه
هم انسان نه سي کولای بيا په هر يو بوټي ربنو پاڼو کي ګلونو ، ميوو د درختو په پوستکو کي الله ﷻ
داسي خاصيتونه ايښي دي ، چي دعلم طب او ډاکټري ماهران حيران دي او په زرګونو کاله دی
دتحقيقاتو سلسله جاري ساتلو باوجود دا هيڅوك نه سي ويلي چي ددي متعلق چي څه وليکل سو
داحرف اخر دي ، او دا ټول بوټي او د دوی مختلف قسمونه دانسانانو او د دوی دساتونکو حيوانانو
او ځنګلي حيوانانو خوراك يادارُو دي ، د دوی دلرګيو څخه انسانان دکورونو جوړولو کار اخلي او
دکورونو داستعمال په زرګونو قسمه سامانونه ورڅخه جوړ وي (فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ) په دي وجه
ددي په اخر کي فرمايي : اِنَّ فِي ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى : يعني په دي کي ډيري نښاني دحق تعالٰی دکامل
قدرت دي دعقل لرونکو دپاره نُهٰی دَ نُهْيَةٌ جمع ده نُهْيَةٌ عقل ته ځکه ويل کيږي چي دا انسان دبدو
او مضرو کارونو څخه منع کوي .

(دهر يو انسان په خمير کي دنطفي سره دهغه ځای خاوره هم شامله وي کوم ځای چي دی دفن کيږي)

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ : دمِنْهَا ضمير دمځکي طرف ته راجع دي ، او معنٰی دا ده چي مونږ تاسي دمځکي دخاوري
څخه پيدا کړاست مخاطب ددي ټول انسانان دي حال دا دي چي دعامو انسانانو پيدائش دخاوري څخه نه
بلکي دنطفي څخه سوي دي ، بغير دحضرت آدم ﷺ څخه چي دی سيده په سيده دخاوري څخه پيدا سو
نو دا خطاب ياخو په دي بناسره کيدی سي چي دانسان اصل او دټولو پلار حضرت ادم ﷺ دی ددهٔ په
واسطه سره دټولو دپيدا کيدو نسبت خاورو ته کول څه بعيده نه ده ځيني حضرات فرمايي چي هره نطفه
دخاورو پيداوار وي په دي وجه دنطفي څخه پيدا کيدل په حقيقت کي دخاورو څخه پيدا کيدل دي ،
امام قرطبي ؒ فرمايي چي دالفاظو دقران څخه داظاهره ده چي دهر انسان پيدائش دخاوري څخه دی
او ځيني حضرات فرمايي چي دهر انسان په پيدائش کي الله ﷻ په خپل قدرت کامله سره خاوري شاملوي
، په دي وجه دهر انسان پيدائش يې سيده په سيده خاوروته منسوب کی ، امام قرطبي فرمايي چي
دقرآن دالفاظو څخه دا ظاهره ده چي دهر انسان پيدائش دخاوري څخه دي او دحضرت ابوهريره ؓ بر
حديث په دي باندي شاهد دی چي په دي کي دنبي کريم ﷺ دا ارشاد نقل سوي دي چي پر هر پيدا
کيدونکي انسان باندي دمور په رحم کي دهغه ځای دخاوري څخه څه حصه اچول کيږي کوم ځای چي ددهٔ
دفن کيدل دالله ﷻ په علم کي مقدروي دا حديث ابونعيم ؒ دابن سيرين ؒ په تذکره کي روايت

کړي دی فرمايي : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ مِنْ حَدِيْثِ عَوْنٍ لَمْ نَكْتُبْهُ اِلَّامِنْ حَدِيْثِ عَاصِمِ بْنِ لَبِيْلٍ وَهُوَاَحَدُ الثِّقَاتِ الْاَعْلَامِ مِنْ اَهْلِ بَصْرَةَ : او ددی مضمون روايت دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷛ څخه هم منقول دی اوعطاء خراسانی فرمايي چی کله په رحم کی نطفه قرار پيداکی نو کومه ملائکه چی دده په پيدا کولو ماموره ده هغه ولاړه سی دهغه ځای خاوره راوړی کوم ځای چی دده دفن کيدل مقرر وی او داخاوره دهغه نطفی سره شامله کړی په دی وجه پيدائش دنطفی اوخاوری دواړو څخه کيږی اوپه دی ايت سره يی دليل وکی مِنْهَاخَلَقْنٰكُم وَفِيْهَانُعِيْدُكُم.

په تفسيرِ مظهری کی دحضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه روايت نقل دی چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دی چی دهر پيدا کيدونکی بچی په ناف کی يو جزء دخاوری غورځول کيږی اوکله چی مړ سی نوپه هغه ځای کی دفن کيږی دکوم ځای خاوره چی دده په خمير کی شامله سوی وی اوفرمايي چی زه ابوبکر﷛ اوعمر﷛ ديوی خاوری څخه پيداسوی يو اوپه هغه کی به دفن کيږو دا روايت خطيب نقل کړي دی ، فرمايي چی دا حديث غريب دی او ابن جوزی دا په موضوعاتوکی شمير کړي دی ، مګر شيخ محدث ميرز امحمد حارثی بدخشی فرمايي چی ددی حديث ډير شواهد دحضرت ابن عمر﷛ ابن عباس﷛ ابوسعيد﷛ اوابوهريره ﷛ څخه نقل دی په کوموسره چی دی روايت ته تقويت رسيږي ، په دی وجه دا حديث دحسن (لغيره) څخه کم نه دی . (مظهری)

مَكَانًا سُوًى : فرعون دحضرت موسىٰ ﷺ اوجادوګرو دمقابلی دپاره دا تجويز په خپله خوښه کی چی پر داسی مقام په کارده چی دفرعونيانو حضرت موسىٰ ﷺ اوبنی اسرائيلو دپاره دمسافت په اعتبار سره برابر وی چی په يو فريق د زيات تللو مشقت رانه سی ، حضرت موسىٰ ﷺ دا خبره قبوله کړه او دورځی او وخت تعين يی داسی وکی ، مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى : يعنی دا مقابله په يوم الزينة کی په کار ده مراد ورڅخه داختر يادېو ميلی وغيره داجتماع ورځ ده ، په دی کی اختلاف دی چی دغه کومه ورځ ده ، ځينی وايي چی دغه دفرعونيانو ديو اختر ورځ وه چی په دی کی به دوی ښائسته کپړی اغوستی دښار څخه دباندی به وتل ، ځينی وايي چی دغه دنوروز ورځ وه ، ځينی وايي چی يوم السبت يعنی دهفتی ورځ وه ، دکومی چی به دی خلقو تعظيم کوی ، ځينی وايي چی دغه عاشوره يعنی دمحرم لسم تاريخ وو.

فائده : حضرت موسىٰ ﷺ دورځی او وخت په تعين کی دلوی حکمت څخه کار واخيستی چی ورځ يی د دوی د اختر منتخب کړه چی پر دی دتولو لويو کوچنيو دهری طبقی دخلګو جمعه کيدل دمخکی څخه متعين وه چی ددی لازمی نتيجه دا وه چی دا اجتماع به ډيره لويه او دټول ښار خلګ به په کښی وی ، وخت يی دڅاښت مقرر کی کوم چی دلمر دلويدو څخه وروسته وی چی په دی کی يو مصلحت خو دا دی چی تول خلګ به دخپلو ضرورتونو څخه فارغ سوی وی او دی ميدان ته به يی راتلل اسان وی ، دوهم

مصلحت په کښې دا هم دی چې دا وخت درنا او دظهور په اعتبار سره په تولو ورځ کې ښه دی ، په دا سې وخت کې په دلجمعۍ اوسکون سره مهم کار کول کیږي او دداسې وخت داجتماع څخه چې کله خلک خپاره سي نو خبره لیرې لیرې ته رسیږي ، نو چونکه په دې ورځ چې کله الله ﷻ حضرت موسیٰ علیه السلام ته پرفرعوني ساحرانو باندې غلبه ورکړه نو په دغه یوه ورځ کې په ټول ښار بلکې ترلیرې لیرې پورې ددې شهرت وسو.

(دجادو حقیقت ددې اقسام اوشرعي حکمونه)

دا مضمون په پوره تفصیل سره دسورة بقره دهاروت ماروت په قصه کې بیان سوي دی هلته یې وګورئ

فَتَوَلّٰى فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوْا

نو وګرځیدی فرعون جمع یې کړل خپل ټول تدبیرونه بیا راغی ، وویل دوی ته موسیٰ کم بختی ده تاسی لره درواغ

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ ۚ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾

مه جوړوی په الله باندې نو ورک به کړي تاسې په عذاب باندې او نامراده سو چا چې درواغ جوړ کړل ،

فَتَنَازَعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوْٓا اِنْ هٰذٰنِ

بیا په جګړه سول په خپل کار کې په خپل مینځ کې او پټه یې مشوره وکړه ، وې ویل چې مقرر دا دواړه

لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيْقَتِكُمُ

جادوګران دي غواړي چې وباسي تاسي ، ستاسي دملك څخه خپل جادو په زور سره او لیرې کړي ستاسې

الْمُثْلٰى ﴿٦٣﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ مَنِ

دا خاص چال چلن ، پس جمع کړئ خپل تدبیرونه بیا راسي په قطار باندې او ګټه وکړه نن هغه څوك چې غالب سو

اسْتَعْلٰى ﴿٦٤﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ

وې ویل ای موسیٰ! یا ته وغورځوه او یا مونږ یو اول

مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ

غورځونکي ، وې ویل چې نا تاسي وغورځوی ، بیا دغه وخت دهغوی رسۍ او همساګانې دده په خیال کې

إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾

راغلی د دوی په جادو سره چی منډی وهی ، بیا یی پیدا کړه په خپل زړه کی بیره موسی ؑ

قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا

مونږ وویل ته مه بیریږه ته به خامخا راسی غالب ، او وغورځوه څه چی ستا په راسته کی دی چی تیر کی

صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾ فَأُلْقِيَ

څه چی دوی جوړ کړل ، د دوی جوړ سوی خو فریب دی د جادوګرو ،او فلاح نه سی پیدا کولی ساحران کوم خای

السَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ هَارُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾ قَالَ آمَنتُمْ

چی وی ، بیا پریوتل جادوګر په سجده وې ویل مونږ یقین وکړو په رب د هارون ؑ او موسی ؑ وویل فرعون

لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۖ

تاسی دی ومنی مخکې ددې څخه چی حکم وکړم تاسی ته، دغه ستاسی مشر دی چی ښوولی یی دی تاسی ته جادو

فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِي

اوس به زه پریکړم ستاسی لاسونه ، او د بل طرف څخه پښی ، او په دار به کړم تاسی ،

جُذُوعِ النَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَا أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾ قَالُوا لَن

په تنو د خرماوو پوره پوه به سی چی په مونږ کی د چا عذاب سخت دی او دیر پاته کیدونکی دی ، هغوی وویل

نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا ۖ فَاقْضِ مَا أَنتَ

مونږ تا زیات نه ګڼو ، د هغه شی څخه چی راغی مونږ ته صفا دلیل او د هغه څخه څوک چی مونږ پیدا کی ، پس ته

قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا ﴿٧٢﴾ إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

وکړه څه چی ته کولی سی ، ته خو دا کولی سی د دې دنیا په ژوندکی،مونږ یقین وکی په خپل رب چی وبخښی مونږ

خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ۗ وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿۷۳﴾ اِنَّهٗ

زمونږ گناه او څه چې تا په زور وکې په مونږ دا جادو او الله ﷻ ښه دی او همیشه باقی پاته کیدونکی بیشکه

مَنْ يَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ۗ لَا يَمُوْتُ فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿۷۴﴾

څوک چې راغی خپل رب ته د گناه سره پس دده دپاره دوږخ دی نه به مرکیږي په دی کی نه به ژوندی وي .

وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ الدَّرَجٰتُ

او څوک چې راغی هغه ته د ایمان سره او نیك عمل یې وکی نو ددغو خلقو دپاره دی درجې

الْعُلٰى ﴿۷۵﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۗ

لوړی ، باغونه دی د اوسیدو چې بهیږي به لاندی دهغه نهرونه همیشه به وي په دغو کی

وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿۷۶﴾

او دا بدله دهغه چا ده چې ځان یې پاك کړی وي .

تفسیر: غرض (چې دا یې واوریدل) فرعون (د دربارڅخه خپل ځای ته) بیرته راغی بیا یې دخپل مکر (یعني جادو) سامان جمع کول شروع کړل بیا (دټولو سره هغه میدان ته دکوم ځای چې وعده سوی وه) راغی (دغه وخت) موسیٰ (علیه السلام) دغو (جادوگرو خلگوته وویل چې ای کم بختو را اخیستو! په الله ﷻ دروغ مه جوړ وی (چې دهغه دوجود یا توحید څخه انکار وکی یادهغه ظاهرو کړو معجزوته سحر وواياست) یو وخت به خدای ﷻ تاسی په یوقسم سزا سره بالکل نیست اونابود کړی اوڅوك چې دروغ جوړوی هغه (اخر) ناکامه کیږی پس جادوگرو (دا خبره واوریده ددی دواړو حضراتو په باره کی) دیو بل سره په خپله رایه کی اختلاف شروع کی اوپټی خبری یې شروع کړی (اخرټول متفق سول) وې ویل چې بیشکه دا دواړه جادوگران دی د دوی مطلب دا دی چې (د) خپل جادو (په زور سره) تاسی ستاسی دمځکی څخه وباسی اوستاسی ښکلی (مذهبی) طریقه خرابه کړی نو اوس تاسی په جمعه دخپل تدبیر انتظام وکړی اوصفونه برابرکړی (مقابلی ته) راسی اونن هغه کامیاب دی کوم چې غالب سو (بیا) دوی (موسیٰ علیه السلام ته) وویل چې ای موسیٰ (علیه السلام یاخوبه) ته (خپله همسا) مخکی غورځوی اوکه اول مونږ غورځونکی سو (ډیر په بی پرواهی سره یې) وفرمایل نه تاسی یې مخکی وغورځوی! (نو هغوی خپلی رسی اوهمساگانی وغورځولی او نظر بندی یې وکړه) پس یکدم د دوی رسی اوهمساگانی د دوی په نظر

بندي سره دموسیٰ (ﷺ) په خیال کی داسی معلومی سوی لکه (دمارانو په شان) چی روان وی منډی وهی پس موسیٰ (ﷺ) په زړه کی لږڅه وبیریدی (چی کله په لیدوکی دا رسی اوهمساګانی هم ماران معلومیږی او زما همسا هم د ډیروښخه یو ماران جوړه سی نو لیدونکی خو به دواړه شیان یو دول ګڼی نو په حق اوباطل کی به فرق ښکه وکی او دا بیره طبعی وه که نه وی ، نو دحضرت موسیٰ ﷺ یقین وو چی هرکله الله ﷻ دا حکم کړی دی نو ددی دټولو لوړو اوژورو به یی هم انتظام کړی وی او دخپل رالیږل سوی پیغمبر به پوره مدد کوی او دا بیره طبعی کومه چی دوسوسی په درجه کی وه دکمال دشان منافی نه ده مطلب دا چی کله چی ورلره دا بیره راغله نو دغه وخت) مونږ وویل ته بیریږه مه ته به غالب یی او صورت یی دا دی چی) ستاپه راسته لاس کی چی (همسا) ده دغه وغورځوه دی خلګوچی څه (تماشه جوړه کړي ده دا (همسا) به ټول هرڅه تیر کړی دا څه چی جوړ سوی دی دجادوګرانو تماشه ده اوجادوګر هرځای چی ځی (دمعجزی په مقابله کی هیڅکله) نه سی کامیاب کیدی (دموسیٰ ﷺ تسلی وسوه چی اوس به فرق ښه معلوم سی نودوی همسا وغورځوله اوهغه واقعی چی ټول تیر کړل) پس جادوګران (چی دا دسحر ښخه لوړ کار یی ولیدی نو پوه سول چی دا بیشکه معجزه ده اوفوراً ټول) پرسجده پر یوتل (او په لوړ اواز سره یی) وویل چی مونږ خو ایمان راوړو دهارون اوموسیٰ (علیهما السلام) په رب باندی فرعون (چی دا واقعه ولیده نو جادوګران یی وبیرول) وی ویل چی بغیر ددی ښخه چی زه تاسی ته اجازت وکړم (یعنی زما دخوښی خلاف) تاسی په موسیٰ (ﷺ) ایمان راوړی واقعی (معلومیږی چی) دغه (په سحر کی) ستاسی هم مشر (اواستاذ) دی چی ده تاسی ته سحر ښوولی دی (او شاګردانو او استاذ سازش کړی وو اوجنګ زرګری یی وکی چی تاسی ته ریاست حاصل سی) پس (اوس به حقیقت معلوم سی) زه ستا دټولو لاسونه اوپښی پریکوم دیوطرف لاس او دیو طرف پښه اوتاسی ټول دخرماوو په درختو پوری ځړوم (چی ټول یی ووینی اوعبرت حاصل کړی) او دا به هم تاسی معلومه سی چی په مونږ دواړوکی (یعنی په ما او په رب دموسیٰ ﷺ کی) دچا عذاب زیات سخت او ډیر وخت پاته کیدونکی دی دی خلګو صفا جواب ورکی چی مونږ تاهیڅکله نه خوښوو په مقابله دهغو دلیلونو کی کوم چی مونږ ته را کول سوی دی او په مقابله دهغه ذات کی چاچی مونږ پیدا کړی یو ته چی څه کول غواړی (ښه په خلاص مټ یی) وکړه ، ته به بغیر ددی ښخه چی ددنیاپه دی ژوند کی څه وکړی اوته نور کولی هم څه سی بس مونږ خوپه خپل پروردګار ایمان راوړو چی زمونږ (تیر) ګناهونه (کفر وغیره) معاف کړی اوتا چی کومه (مقابله د) جادوپه مونږ په زور وکړه دا هم معاف کړی او الله ﷻ (په اعتبار دذات اوصفتونو هم ترتا) په ډیرو درجو ښه دی او (په اعتبار دثواب اوعذاب هم) زیات باقی پاته کیدونکی دی (اوتاته نه ښه والی نصیب دی او نه بقاء نو ستا به څه انعام وی چی تایی زمونږ سره وعده کړی وه اوڅه به دی عذاب وی چی اوس ورښخه مونږ بیروی اوالله ﷻ دچا چی ثواب اوعذاب باقی پاته کیدونکی دی دهغه قانون

دا دی چی) کوم سړی (دبغاوت) مجرم سی (یعنی کافرسی) خپل رب ته حاضر سی پس دده دپاره دوزخ (مقرر) دی په دی کی به نه مری او نه به ژوندی وی (نه مړه کیدل خوظاهر او نه ژوندی کیدل دا چی دژوند آرام به ورته نه وی) اوکوم سړی چی ده ته مومن حاضر سی چی نیك کار یی هم کړی وی پس دا سی خلکو دپاره لویی لوړی درجی دی یعنی دهمیشه اوسیدو باغونه چی لاندی به ورڅخه نهرونه بهیږی اوهغوی به په دی کی همیشه همیشه اوسیږی اوکوم سړی چی (دکفر اوګناه څخه) پاك سو دهغه دا انعام دی (پس ددی قانون موافق مونږ کفر پرېښووی اوایمان مو اختیار کی) .

(معلومات اومسئلې)

فَجَمَعَ كَيْدَهٗ : فرعون خپل مکر یعنی دحضرت موسیٰ ؑ دمقابلی په تدبیرکی یی ساحران او د دوی الات جمع کړل دحضرت ابن عباس ؓ څخه ددی ساحرانو شمیر دوه اویا ۷۲ نقل دی اونوراقوال د دوی په شمیر کی ډیر مختلف دی ، دڅلورو سوو څخه واخله ترنهو لکو پوری د دوی شمیر ښوول سوي دی او دوی ټولو دخپل یو سردار شمعون ترحکم لاندی کار کوی او ویل کیږی چی د دوی سردار یو ړوند سړی وو . (قرطبی) والله تعالی اعلم

(دحضرت موسي ؑ جادوګرو ته پیغمبرانه خطاب)

دجادو مقابله په معجزو سره دکولو څخه مخکی حضرت موسیٰ ؑ جادوګرو ته همدردانه نصیحت امیزی څو کلمی وویلی او دوی یی دالله ﷻ دعذاب څخه وبیرول هغه الفاظ دا وه ، وَيْلَكُم لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللهِ كَذِبًا فَيُسْحِتَكُم بِعَذَابٍ وَقَدْ خَابَ مَنِ افْتَرَى : یعنی ستاسی هلاکت مخ ته راغلی دی په الله ﷻ پوری درواغ او بهتان مه جوړ وی چی دهغه سره په خدایی کی فرعون یابل څوك شریك دی که تاسی داسی وکړی نوهغه به تاسی په عذاب کی واچوی او ستاسی بیخ او بنیاد به وباسی او کوم سړی چی په الله ﷻ پوری دروا غ تړی هغه اخر ناکامه اومحرومه وی .

ظاهره خبره ده چی دفرعون دشیطانی طاقت اوقوت اوحشمت په تکیه کوم خلګ چی دمقابلی دپاره میدان ته راغلی وه ، ددی واعظانه کلمو پر دوی څه اثر کیدل ډیره لیری خبره وه ، مګر دانبیاء علیهم السلام او د دوی دتابعدارانو سره دحق یو پټ طاقت اوشوکت وی د دوی ساده الفاظ هم دسختو څخه پرسختو زړونو دغشی اونشتر کارکوی ، دحضرت موسیٰ ؑ داجملی چی یی واوریدی نو دساحرانو په صفونوکی یو زلزله راغله او په خپل مینځ کی مختلف سول چی دا کلمی خوڅوك جادوګر نه سی ویلی دا خو دالله ﷻ دطرف څخه معلومیږی په دی وجه ځینو وویل چی دده مقابله کول مناسب نه دی اوځینی پرخپله خبره ټینګ پاته سول د : فَتَنَازَعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ : دا مطلب دی بیا ددی اختلاف دلیری کولو دپاره یی پټی مشوری شروع کړی (وَأَسَرُّوا النَّجْوَى) مګر اخر په جمع رایه دمقابلی کولو سره اووي ویل ، إِنْ هَٰذَانِ لَسَاحِرَانِ يُرِيدَانِ أَنْ يُخْرِجَاكُم مِنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ الْمُثْلَى : یعنی دا دواړه

جادوگران دی او دا غواړی چی دخپل جادو په ذریعه تاسی یعنی فرعون او الِ فرعون ستاسی دمخکی دمصر څخه وباسی. مطلب دا دی چی دجادو په ذریعه ستاسی په ملك خپله قبضه کول غواړی او دا چی ستاسی طریقه کومه چی دټولو څخه افضله اوښه ده داختمه کړی مُثْلٰی د: اَمْثَلُ صیغهٔ مؤنث ده چی معنٰی یی افضل او زیاته ښه ده ، مطلب دا وو چی ستاسی مذهب اوطریقه چی فرعون خپل خدای اوصاحب اختیار او اقتدارمنی دا دټولو څخه ښه اوبهتره طریقه ده دا خلک دا ختموی اوخپل دین او مذهب خپرول غواړی او دلفظ دطریقی یوه معنٰی دا هم راځی چی دقوم سردارانو اونمائنده خلکو ته ددی قوم طریقه ویل کیږی دحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت علی مرتضٰی ﷺ څخه دلته دطریقی دا تفسیر نقل دی چی دا خلک غواړی چی ستاسی دقوم سرداران اوباعزته خلک ختم کړی په دی وجه تاسی خلکوته په کار دی چی دمقابلی دپاره خپل پوره تدبیر او طاقت خرڅ کړی اوټول جادوگر صفت بسته په یو وار د دوی مقابله وکړی ، فَاَجْمِعُوا كَيْدَكُمْ ثُمَّ ائْتُوا صَفًّا : صف تړل په مقابل درعب غورځولو دپاره خاص اثر کوی ، په دی وجه جادوگرو خپله صف بندی دمقابلی دپاره وکړه.

جادوگرو دخپلی بی فکری اوبی پرواهی دښکاره کولو دپاره اول حضرت موسٰی ﷺ ته وویل چی مخکی والی ته کوی اوکه مونږ یی وکو؟ یعنی اول ته خپل عمل شروع کوی اوکه مونږ؟ حضرت موسٰی ﷺ په جواب کی وفرمایل بَلْ اَلْقُوا یعنی اول یی تاسی وغورځوی او دخپل جادو کرشمه وښیاست دحضرت موسٰی ﷺ په دی جواب کی ډیر حکمتونه وه اول یی دجملی کولو اجازت ورکی نو ددی شریفانه جواب دا وو چی د دوی دطرف څخه د دوی دزیاتی حوصلی سره دوی ته دمخکی کیدو اجازت ورکړل سی ، دوهم دا چی دجادوگرو دا ویل دخپل اطمینان او بی فکری اظهار وو ، حضرت موسٰی ﷺ دوی ته دمخکی کیدو موقع ورکړه او دخپلی بی فکری او اطمینان ثبوت یی ورکی ، دریم دا چی دحضرت موسٰی ﷺ په مخکی د دوی دجادو ټولی کرشمی راسی ددی څخه وروسته به دخپلو معجزو اظهاروکی نو په یو وخت به دحق غلبه په واضح طور وسی ، جادوگرو دحضرت موسٰی ﷺ په دی ارشاد باندی خپل عمل شروع کی او خپلی همساگانی او رسی چی په لوی شمیرکی وی په یو وخت یی مخکی ته وغورځولی او دغه ټولی په ظاهره ماران جوړ سول اومنډی وهونکی ښکاریدل.

يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى : ددی څخه معلومیږی چی دفرعونی جادوگرو جادو یو قسم نظر بندی وه کوم چی دمسمریزم په ذریعه هم کیدای سی چی کتونکو ته دغه همساگانی او رسی ماران منډی وهونکی ښکاریدل او په حقیقت کی هغه ماران نه وه او اکثره جادو ددی قسمه څخه وی.

فَاَوْجَسَ فِىْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى : یعنی په حضرت موسٰی ﷺ ددی صورت حال په لیدو سره بیره راغله چی ده په خپل زړه کی پټه ساتله او نوروته یی ښکاره نه کړه ، دا بیره که څه هم په حضرت موسٰی ﷺ باندی دخپل ځان دپاره راغله خو دبشریت په مقتضٰی سره داسی کیدل دنبوت څخه خلاف نه دی لیکن ظاهره دا

ده چي دا بيره دخپل ځان نه وه ، بلکی ددی وه چی ددی خلکو دګني په مخکی يی دساحرانو غلبه محسوسه کړه نو کوم مقصد چی دنبوت ددعوت وو هغه به پوره نه سی ، په دی وجه دالله ﷻ دطرفه ځنې ددی په جواب کی چی کوم ارشاد وسو په هغه کی يی دا اطمينان ورکی چی جادوګر به غالب نه سی او هم تاته به فتح او غلبه حاصله سی په مخکی ايت کی لَاتَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى يی وفرمايل او داخطره يی ليری کړه .

وَاَلْقِ مَافِىْ يَمِيْنِكَ: حضرت موسٰی ؑ ته په ذريعه دوحی خطاب وسوچی ستاپه لاس کی چی کوم شی دی دا وغورځوه مراد ددی ځخه دحضرت موسٰی ؑ همساوه مګر دلته يی دهمسا ذکرونه فرمايی اشاره ددی خبری طرف ته وه چی د دوی دجادو هيڅ حقيقت نسته ددی پرواه مه کوه اوځه چی ستاپه لاس کی دی وغورځوه هغه به د دوی دا ټول ماران تير کړی ، چنانچی هم داسی وسوه ، حضرت موسٰی ؑ خپله همسا وغورځوله دهغه ځخه يوه اژدها جوړه سوه او دجادو دغه ټول ماران يی تير کړل .

(دفرعوني جادوګرو مسلمانيدل اوپر سجده باندی پريوتل)

دحضرت موسٰی ؑ همسا چی اژدها ورځخه جوړه سوه او دجادوګرو خيالی ماران يی تير کړل نوچونکه دا خلک خو دجادو ماهران وه نو د دوی يقين وسو چی دا کار دجادو په ذريعه نه سی کيدی بلکی بيشکه معجزه ده کومه چی خالصه دالله ﷻ په قدرت سره ظاهريږی په دی وجه پر سجده پريوتل او اعلان يی وکی چی مونږ دموسٰی اوهارون عليهم السلام په رب باندی ايمان راوړو په ځينو روايتونو دحديث کی دی چی دی جادوګرو دسجدی ځخه ترهغه وخته پوری سرپورته نه کی تر څو پوری چی دوی ته دجنت او دوزخ نظاری قدرت ونه ښوولی ، (رواه عبدبن حميد وابن ابی حاتم وابن المنذر عن عکرمه ؓ . (روح)

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ : دفرعون رسوايی الله ﷻ ددی عظيم الشانه ګنی په مخکی وکړه نوحيران سو اول خو يی ساحرانوته دا وويل چی بغير زما داجازت ځخه تاسی څنګه په ده ايمان راوړی؟ ګويا خلګو ته دا ښوول مقصد وه چی زما داجازت ځخه بغير ددی جادوګرو هيڅ قول اوفعل معتبرنه دی ، مګر ظاهره ده چی دداسی ښکاره معجزی ځخه وروسته دچا داجازت ضرورت ديو هوښيار انسان په نزد باندی هيڅ حيثيت نه لری ، په دی وجه يی په جادوګرو ددی سازش الزام ولګوی چی اوس معلومه سوه چی تاسی ټول دموسٰی ؑ شاګردان ياست ، دی جادوګر تاسی ته جادو ښوولی دی اوتاسی سازش وکی دده په مخکی موخپله ماته ومنله .

فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ : اوس يی جادوګران دسختی سزاء ځخه وبيرول چی ستاسی لاسونه اوپښی به پريکړل سی دا صورت خو يی ياپه دی وجه خوښ کی چی په فرعونی قانون کی به دسزا دا طريقه رواج وه ياځکه چی په دی صورت کی دانسان دعبرت يوه نمونه جوړه سی .

وَلَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِىْ جُذُوْعِ النَّخْلِ: يعنی لاس او پښی به درځخه پريکړم بيا به تاسی دخرماؤ پر درختو باندی

په دار سې چې تاسې به ترهغه پورې زوړند یاست چې دلوړې اوتندې څخه مړه سې .
قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا: جادوګرو دفرعون داسخته بیره او دسختی سزا اعلان واوریدی نو په خپل ایمان یې دلوی پوخ والی ثبوت ورکی وي ویل چې مونږ تاته یا ستا څه خبری ته پردغو واضحو معجزو ترجیح نه سو درکولی کوم چې دحضرت موسیٰ ؑ په ذریعه مونږ ته راغلی دی ، حضرت عکرمه رحمه الله فرمایی چې جادوګران چې کله پرسجده پریوتل نو الله ﷻ دوی ته دجنت هغه لوړ مقامات اونعمتونه وښوول کوم چې دوی ته رسیدونکی وه نو په دی وجه دی جادوګرو وویل چې ددی واضحو نښانو په موجود ګی کی مونږ ستاخبره نه سومنلی (قرطبی) دارنګه دکائناتو دخالق داسمانونو درب په پرېښولو تا رب نه سو منلی .
فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ : اوس چې ستا زړه څه غواړی زمونږ سره وکړه اوڅه سزاچې غواړی وي تاکه إِنَّمَا تَقْضِي هَٰذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا: یعنی که تامونږته سزا راکړه نوهغه سزابه صرف ددنیادیوڅو ورځو ترژوند پوری محدوده وی دمرګ څخه وروسته خوستاقبضه پرمونږ نه سی پاته کیدی ، په خلاف دالله ﷻ څخه چې مونږ دهغه په قبضه کی دمرګ څخه مخکی هم یو او دمرګ څخه وروسته هم ، نو دهغه سزا فکر دهرڅه څخه مقدم دی .
وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ: جادوګرو اوس پرفرعون دا الزام ولګوی چې مونږ پرجادو کولو تامجبوره کړی وه کنی مونږ به دا عبث کار ولی کوی اوس مونږ ایمان راوړی او دالله ﷻ څخه ددی جادو دګناه هم معافی غواړو دلته دا سوال کیدی سی چې دا جادوګران خو په خپل اختیار سره دمقابلی دپاره راغلی وه ، او ددی مقابلی سودابازی یې هم دفرعون سره کړی وه چې که مونږ غالب سو نوچی څه به راکول کیږي ، بیا د دوی پرفرعون دا الزام لګول چې تامونږ په جادو کولو مجبوره کړی وو دا به څه رنګه صحیح وی ؟ ددی وجه خو داکیدی سی چې دا دجادوګران خو په شروع کی دشاهی انعام او اکرام په حرص کی دمقابلی دپاره وه ، وروسته دوی ته څه احساس وسو چې مونږ دمعجزې مقابله نه سوکولی دغه وخت فرعون دوی مجبوره کړل دوهمه وجه دا هم بیان سوي ده چې فرعون په خپل ملك کی دجادوګری تعلیم جبری جوړ کړی وو ، په دی وجه هر سړی په جادو زده کولو مجبوره وو . (روح)

(دفرعون دښځي آسيي نيک انجام)

په تفسیرقرطبی کی دی چې دحق اوباطل ددی جنګ په وخت کی دفرعون ښځی برابر ځان خبروی چې انجام څه سو؟ هرکله چې دی ته وویل سوه چې حضرت موسیٰ اوهارون علیهما السلام غالب سول نو فوراً دی اعلان وکی چې ما هم په رب دموسیٰ اوهارون علیهما السلام ایمان راوړی ، فرعون ته چې دخپل کور خبر ورسیدی نوحکم یې وکی چې یوه لویه ډبره پورته کی اوپر دی سربیره یې وغورځوی آسیې چې کله دا ولیدل نو داسمان طرف ته یې وکتل اوالله ﷻ ته یې فریاد وکی الله ﷻ د ډبری ددی

پرسر درالویدو څخه مخکې ددې روح قبض کې بیا دبره ددې پر بې روحه جسم باندې را ولویده .

(په فرعوني جادوګروکي عجیبه انقلاب)

انّهٗ مَنْ یَّاْتِ رَبَّهٗ مُجْرِمًاتر ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا مَنْ تَزَكّٰى : دا کلمې اوحقیقتونه چې تعلق یې دخالصو اسلامي عقیدو اوعالم اخرت سره دې دهغو جادوګرو په ژبه ادا کیږي کوم چې اوس اوس مسلمانان سوي دي او داسلامي عقیدو او عملونو څه تعلیم ورته نه دی سوی دا ټول دحضرت موسٰی علیه السلام دمحبت برکت او د دوی داخلاص اثر وو چې الله ﷻ دوی ته ددین ټول حقیقتونه په یوه آن کې داسې ښکاره کړل چې ددغو په مقابله کې یې نه دخپل ځان پروا کوله او نه یې دلوی څخه دلوی سزا او تکلیف څه فکر پاته سو ګویا دایمان سره سره دوی ته دولایت هغه مقام حاصل سو کوم چې نوروته دټول عمر په مجاهدو او ریاضتونو هم حاصلیدل مشکل دی . فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِیْنَ .

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه اوعبید بن عمیر رحمه الله فرمایي چې دقدرت حق ﷻ دا معجزه وګوره چې دا خلک دورځې په اول کې کفار اوجادوګران وه او دورځې په اخر کې اولیاء اوشهداء سول . (ابن کثیر)

وَلَقَدْ اَوْحَیْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى ۙ اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِیْ فَاضْرِبْ لَهُمْ طَرِیْقًا فِی الْبَحْرِ یَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ دَرَكًا

او مونږ حکم ولیږی موسی ته چې وباسه زمابندګان دشپې بیا ووهه د دوی دپاره په دریاب کې لاره وچه ، مه بیره کوه دنیولو څخه ،

وَّلَا تَخْشٰى ﴿۷۷﴾ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِیَهُمْ مِّنَ الْیَمِّ

او مه بیریږه د ډوبیدو څخه ، نو بیا ورپسې سو په دوی پسې فرعون دخپلو لښکرو سره ، بیا پټ کړل دوی اوبو

مَا غَشِیَهُمْ ﴿۷۸﴾ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ وَمَا هَدٰى ﴿۷۹﴾ یٰبَنِیْٓ

لکه چې پټ یې کړل ، او ګمراه کې فرعون خپل قوم اوپوه یې نه کړل ، ای اولاده

اِسْرَآءِیْلَ قَدْ اَنْجَیْنٰكُمْ مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ

داسرائیل ! خلاص کړاست مونږ تاسې ستاسې ددښمن څخه ، او وعده وکړه مونږ تاسې سره ، په راسته

الْاَیْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَیْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿۸۰﴾ كُلُوْا مِنْ طَیِّبٰتِ

طرف دغره ، او نازل کړل مونږ په تاسې من او سلوٰی ، خوری پاك شیان

مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا فِیْهِ فَیَحِلَّ عَلَیْكُمْ غَضَبِیْ ۚ وَمَنْ

کوم چې درکړي دي مونږ تاسې ته او زیاتوب په کې مه کوی پس نازله به سی په تاسې زما غصه او په

يَّحْلِلْ عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ﴿٨١﴾ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ لِّمَنْ تَابَ

چا چې نازله سوه زما غصه پس هغه تباه سو او زما لوی بخشش دی په هغه چې

وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدٰى ﴿٨٢﴾

توبه وکړی او يقين وکړی او نيک کار وکړی بيا په لار پاته سی.

تفسير: او (کله چې فرعون په دی هم ايمان رانه وړی اوتريوی زمانی پوری مختلفی معاملی اوواقعات کيدل دغه وخت) مونږ موسٰی (ﷺ) ته وحی وليږله چې زما (دی) بندگان (يعنی بنی اسرائيل دمصرڅخه) شپه په شپه (دباندی) بوزه (اوليری ولاړسی چې دفرعون دظلم اوسختيو څخه دوی خلاص سی) بيا (په لاره کی چې درياب درته راسی نو) د دوی دپاره په درياب کی (همسا ووهه) وچه لاره جوړه کړه (يعنی همسا ووهه چې لار په کښی جوړه سی) نه به ستاسی سره دچاد تعاقب بيره وی (څکه چې څوک په تاسی پسی تعاقب کوی هغوی به کامياب نه سی که څه هم تعاقب وکړی) اونه دبل قسم (مثلا دغرقيدو وغيره) بيره وی (بلکه په امن اوپه اطمينان سره به پوری وزی ، نوحضرت موسٰی ﷺ دحکم موافق دوی په شپه دمصرڅخه وايستل اوسهار په مصرکی خبر مشهور سو) نو فرعون سره دخپلو لښکروپه دوی پسی روان سو (اوبنی اسرائيل دالله ﷻ دوعدی موافق په درياب پوری وتل اولا ددرياب لاری په خپل حالت وی لکه چې په بل ايت کی دی وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا اِنَّهُمْ جُنْدٌ مُّغْرَقُوْنَ فرعونيانو دتلواری څخه څه مخکی او وروسته ونه کتل په دغو لارو ورروان سول کله چې ټول درياب ته دننه سول) نو (دغه وخت دخلورو طرفونو څخه د) درياب (اوبه راغونډی سوی) پر دوی داسی راغونډی سوی څنګه چې راغونډی سوی (اوټول غرق سول) اوفرعون خپل قوم پربده لارروان کړی وو سيده لاريی دوی ته ونه ښوله (دکومی چې دده دعوٰی وه وَمَا اَهْدِيْكُمْ اِلاَّ سَبِيْلَ الرَّشَادِ: اوپه بده لار کيدل خو ظاهره ده چې په دنياکی يی هم نقصان وسو چې ټول هلاك سول او داخرت هم څکه چې جهنم ته ولاړل لکه چې په ايت کی دی اَدْخِلُوْا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ : بيابنی اسرائيلوته دفرعون دتعاقب اوپه درياب کی دغرقيدو څخه دنجات څخه وروسته نورنعمتونه ورکړل سول مثلا تورات ورکول سو اومن اوسلوٰی دانعمتونه مو ورکړل مونږ بنی اسرائيلوته وويل چې) ای بنی اسرائيلو (وګوری) مونږ (تاسی ته څنګه نعمتونه درکړل چې) تاسی ته مو (دداسی لوی) دښمن څخه خلاصون درکی اومونږ ستاسی سره (يعنی ستاسی دپيغمبر سره ستا دنفع دپاره) دکوه طور راسته طرف ته دراتلو (اوهلته تر راتلو وروسته دتورات ورکولو) وعده وکړه او (په وادی تيه کی) مونږ پر تاسی من اوسلوٰی نازل کړل (او اجازت مودرکی چې) مونږکوم پاك شيان (شرعًا چې حلال دی اوطبعًا هم چې خوند ناك دی) تاسی ته درکړي دی داخوری او په (خوراك د) دی

کي دحد (شرعي) څخه مه تيريږئ (مثلا داسي چي په حرامه يي حاصل کړئ لکه چي په : الدر: کي دي) بيايي دخوراك څخه وروسته گناه کوئ) هسي نه چي زما غضب پرتاسي واقع سي او پرچاچي زما غضب واقع سي هغه بالکل تباه سو او (دارنگه ددي سره دا هم ده چي) زه دداسي خلگو دپاره لوی بخښني والا هم يم کوم چي (دکفر اونافرماني څخه) توبه وکړي او ايمان راوړي اونيك عمل کوي بيا (پردي لاړ) قائم (هم) پاته سي (يعني په ايمان اونيك عمل هميشوالي کوی دا مضمون مونږبني اسرائيلوته ويلی وو چي يادگيرنه دنعمت او امرپه شکر اومنع دمعصيت څخه او وعده او وعيد داپه خپله ديني نعمت دي).

(معلومات اومسئلي)

وَاَوۡحَيۡنَا اِلٰی مُوۡسٰی : دحق اوباطل معجزه او دجادو فيصله کن معرکي دفرعون اوفرعونيانو ملا ماته کړه اوبني اسرائيل دحضرت موسیٰ اوهارون عليهما السلام په قيادت کي جمع سول نواوس دوی ته ددي ځای څخه دهجرت حکم ورکول کيږی اوچونکه دفرعون په دوی پسی دتعاقب اومخ ته ددرياب په لاره کي دحائل کيدو بيره وه ، په دی وجه ددی دوارو شيانو څخه حضرت موسیٰ ﷺ مطمئن سو چي درياب په همسا ووهی نو په درياب کي به لوږی لاری جوړی سی او دشا څخه دفرعون دتعاقب بيره به ختمه سی چي تفصيلي واقعه يي دحديث الفتون لاندي په دی سورة کي تيره سوي ده .

حضرت موسیٰ ﷺ درياب په همسا ووهی نودولس لاری په کی داسي جوړی سوی چي اوبه دواړه طرف ته لکه دمنجمد درياب په شان غرونه ودريدی اوپه مينځ کي اوچي لاري ښکاره سوی ، لکه چي په سورة شعراء کی دی،فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٍ كَالطَّوۡدِ الۡعَظِيۡمِ : اوپه مينځ چي کوم دا داوبو ديوالونه ددي دولسو سړکونو په مينځ وو دوی قدرت داسي جوړکړل چي ديو سړك تيريدونکوبه پرنورسړکونو تلونکی ليدل او ديوبل سره به يي خبری هم کولی چي دابيره ترهه يي نه وی چي زمونږ دهغو نورو قبيلو سره څه وسوه (قرطبي)

(دمصر څخه دوتلو په وخت کي دبني اسرائيلو ځيني حالات او د دوی شمير او دفرعون دلښکر شمير)

په تفسير روح المعاني کی دا روايت دی چي حضرت موسیٰ ﷺ دشپی په شروع کی بنی اسرائيل دځان سره کړل ، دمصرڅخه ددريابي قلزم طرف ته ووتل بنی اسرائيلو ددی څخه مخکی دښارپه خلگوکی دا مشهوره کړی وه چي زمونږ اخترډی مونږ به داختر نمانځلو دپاره دباندی ځو او په دی بهانه سره يي دقبطيانو څخه څه کالي په عاريت سره غوښتی وه چي داختر څخه راسو نوواپس به يي کړو. دبني اسرآئيلو شمير دغه وخت شپږ لکه دری زره او په بل روايت کی شپږ لکه اويا زره وو (دا اسرائيلي روايتونه دی په دی کی مبالغه کيدی سی . ليکن دومره خبره دقرآن کريم او دحديثو داشارو څخه ثابته ده چي د دوی دولس قبيلي وی او ږ هره قبيله کی ډير لوی شمير ـ ـ دا هم دحق تعالی دقدرت بوا عظيمه مشاهده وه چي کله دا حضرات دحضرت يوسف ﷺ په زمانه کی مصرته راغلل نو دا دولس ورونه وه اوس ددولسو ورونو ددولسو قبيلو دومره لوی شمير دمصر څخه ووتی چي دشپږو لکوڅخه

زیات بنوول کیږی فرعون ته چی کله د دوی دوتلو اطلاع ورسیده نوخپل فوجونه یی جمع کړل چی اویا زره په کښی تور اسونه وه او دلښکر په اول سرکښی اووه لکه ۷۰۰۰۰۰ سواره وو، هرکله چی دوروسته څخه دافوجی سیلاب او دمخکی څخه دریایی قلزم بنی اسرائیلو ولیدی نووبیریدل اوحضرت موسیٰ ﷺ ته یی فریادوکی چی ، اِنَّا لَمُدۡرَكُوۡنَ مونږخوونیول سو حضرت موسیٰ ﷺ تسلی ورکړه چی ، اِنَّ مَعِیَ رَبِّیۡ سَیَهۡدِیۡنِ: زماسره زمارب دی هغه به مونږته لارراکړی بیایی دالله ﷻ په حکم دریاب په همسا ووهی اودولس سرکونه په کی وچ جوړسول دبنی اسرائیلودولس قبیلی پرپوری وتلی څه وخت چی فرعون او دده لښکر دلته را ورسیدی نو دفرعون لښکر چی دا حیرانوونکی منظر ولیدی نووبیریدل چی د دوی دپاره په دریاب کی لاری څنګه جوړی سوی مګر فرعون دوی ته وویل چی دا ټوله معجزه زما دهیبت ده چی دریاب ودریدی اولاری په کی جوړی سوی دایی وویل اوفوراً مخکی سو اوخپل اس یی پر دغه لاره ورروان کی اوټول لښکرته یی په څان پسی دراتلو حکم وکی څه وخت چی فرعون سره دخپل ټول لښکره ددی دریاب پرلارو مینځ ته راورسیدی نو دغه وخت الله ﷻ دریاب ته دګډیدو حکم ورکی او ددریاب ټولی حصی دیوبل سره یوځای سوی فَغَشِیَهُمۡ مِّنَ الۡیَمِّ مَا غَشِیَهُمۡ: ددی هم دامطلب دی. «روح المعانی»

وَوٰعَدۡنٰكُمۡ جَانِبَ الطُّوۡرِ الۡاَیۡمَنَ : دفرعون څخه دنجات او په دریاب دپوری کیدو څخه وروسته الله ﷻ د حضرت موسیٰ ﷺ سره او دده په واسطه دټولو بنی اسرائیلو سره دا وعده وفرمایله چی دوی دی دکوه طور راسته طرف ته راسی چی حضرت موسیٰ ﷺ ته تورات ورکول سی اوبنی اسرائیل په خپله هم دده دحق تعالی سره خبری کول مشاهده کړی.

وَنَزَّلۡنَا عَلَیۡكُمُ الۡمَنَّ وَالسَّلۡوٰی : دا واقعه دهغه وخت ده کله چی بنی اسرائیل په دریاب پوری وتل اومخکی ولاړل اوپه بیومقدس ښارکی دداخلیدو دوی ته حکم وسو نو دوی خلاف ورزی وکړه. دهغه یی دا سزا ور کړه چی په دی وادی کی کومی ته چی وادی تیه ویل کیږی قید یی کړل ددی ځای څخه ترڅلویښتو کالو پوری دباندی نه سوای وتلی. ددی سزا باوجود دحضرت موسیٰ ﷺ په برکت سره په دوی ددی قید په زمانه کی هم قسم قسم انعامات کیدل. په دی انعاماتوکی دمنّ اوسلویٰ انعام هم ووکوم چی دوی ته دخوراك دپاره ورکول کیدی.

وَمَآ اَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ یٰمُوۡسٰی ۝٨٣ قَالَ هُمۡ اُولَآءِ عَلٰٓی اَثَرِیۡ وَعَجِلۡتُ اِلَیۡكَ رَبِّ لِتَرۡضٰی ۝٨٤

اوولی تلوارورکی تادخپل قوم څخه ای موسیٰ! وې ویل دا اروان دی په ماپسی اوزه ژرراغلم تاته ای زماربه چی ته

قَالَ فَاِنَّا قَدۡ فَتَنَّا قَوۡمَكَ مِنۡۢ بَعۡدِكَ وَاَضَلَّهُمُ السَّامِرِیُّ ۝٨٥

راضی سی ، وې ویل مونږ خو په فتنه کی واچولوستاقوم ستاڅخه وروسته اوبی لاری کړل دوی سامری ،

فَرَجَعَ مُوْسٰى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ

بیا واپس سو موسیٰ خپل قوم ته په غصه کی افسوس کوونکی وی ویل ای زما قومه ! آیا تاسی

رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ؕ اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ

وعده نه وه کړی ستاسی رب وعده ښه؟ آیا اوږده سوه په تاسی باندی موده یا وغوښتلو تاسی چی نازل سی په تاسی

غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ﴿۸۶﴾ قَالُوْا مَاۤ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ

باندی غضب ستاسی د رب په دی وجه خلاف وکی تاسی زما د وعدی څخه ، وې ویل مونږ خلاف نه دی کړی

بِمَلْكِنَا وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَاۤ اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ

ستاد وعدی څخه په خپل اختیار او لیکن راپورته کړل سوی وو مونږ ته ، یو درونډ بار د کالو د فرعونیانو څخه پس

اَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿۸۷﴾ فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ فَقَالُوْا

مونږ هغه وغورځول پس دغه شان وغورځول سامری، بیایی جوړ را ویستل د دوی دپاره یو سخوندرګی (بدن) چی

هٰذَاۤ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى ۬ فَنَسِيَ ﴿۸۸﴾ اَفَلَا يَرَوْنَ اَلَّا يَرْجِعُ اِلَيْهِمْ

اواز په کی وو بیایی وویل دا معبود دی ستاسی او معبود دی د موسیٰ ، پس هغه هیر کی آیا نو دا خلق نه ګوری

قَوْلًا ۙ وَّلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ﴿۸۹﴾ ع

چی هغه جواب قدر نه سی ورکولی دوی ته د څه خبری ، او اختیار نه لری د دوی دپاره د ضرر او نه د نفع.

تفسیر: او (کله چی الله ﷻ ته تورات ورکول منظور سو نو حضرت موسیٰ ؑ ته یی په کوه طور باندی دتلو حکم وفرمایی او قوم ته یی هم یعنی ځینو ته دخان سره د راوستو حکم وسو (لکه چی په فتح المنان کی دی دباب نولسم دسفر خروج څخه) حضرت موسیٰ ؑ په شوق کی دتلو څخه اول یوازی ورسیدی او نور خلک پرخپل ځای پاته سول دطور دتلو اراده یی هم ونه کړه الله ؑ د حضرت موسیٰ ؑ څخه پوښتنه وکړه چی) ای موسیٰ ستاد قوم څخه مخکی دژر راتلو څه سبب وو دوی (دخپل ګمان موافق) عرض وکی چی خلک دغه دی په ماپسی وروسته وروسته (راروان) دی اوزه (دتلو څخه مخکی) تاته (یعنی هغه ځای ته کوم ځای چی دخبرو اوخطاب تاوعده فرمایلی ده) په تلوار څکه راغلم چی ته (زیات)

خوشحاله سی (ځکه چې دحکم په منلو کې مخکې کيدل زيات سبب دخوشحالي وي) ارشاد وسو چې ستا قوم خو مونږ ستا (دراتلو) څخه وروسته په يوه بلاکې اخته کې او هغوی سامري گمراه کړل (چې بيان يې مخکې راځي فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا الخ او په فتنًا کې الله ﷻ دابتلاء خپل طرف ته ځکه منسوبه کړه چې خالق دهرفعل هغه دی کنه نو اصل نسبت ددی فعل دسامري طرف ته دی کوم چې يې په اَضَلَّهُمُ السَّامِرِيُّ کې ظاهر کې) مطلب دا چې موسیٰ ﷺ وروسته دپوره کيدو دمودی څخه) دغصې او خفگان څخه ډك دخپل قوم طرف ته بيرته راغی (او) وي فرمايل چې ای زما قومه! ايا ستاسي سره ستاسي رب يوه ښه (اوربشتينې) وعده نه وه کړې (چې مونږ به تاسي ته يو کتاب داحکامو درکړو نو ددی کتاب خو پرتاسي انتظار واجب وو) ايا پر تاسي (دمقرر ميعاد څخه ډيره) زياته زمانه تيره سوی وه (چې ددی د درکول کيدو څخه نااميده سوي په دی وجه مو دخپل طرف څخه يو عبادت ايجاد کې) يا (سره ددی چې نااميده سوي نه واست) ستاسي داخوښه سوه چې پرتاسي ستاسي درب غضب واقع سی په دی وجه تاسي چې زما سره کومه وعده کړې وه (چې ستا دبيرته راتلو پوري به څه نوی کار نه کوو او ستا دنائب هارون ﷺ حکم به منو) دهغه څخه مو خلاف وکې هغوی وويل چې مونږ کومه وعده ديوبل سره کړې وه هغه مونږ په خپل اختيارنه ده خلاف کړې (دا معنیٰ نه ده چې چاپه زور په دوی داکار وکې بلکې مطلب دا دی چې کومه رايه مونږ په اول کې چې ذهن موخالي وو اختيار کړې وه دهغه خلاف دسامري کار زمونږ دپاره منشاء داشتباه جوړسو چې مونږ هغه مخکنې رايه يعني توحيد اختيار نه کې بلکې رايه بدله سوه که څه هم په دی هم عمل په اختيار سره وسو لکه چه مخکې وويل سوه) او ليکن دقوم (قبطي کالي پرمونږ بار جوړسوي وو نو مونږ هغوی (دسامري په وينا سره اورته) وغورځول بيا دغه ډول سامري (هم خپل کالي) وغورځول (مخکې الله ﷻ قصه داسي مکملوی فرمايي) بيا دغه (سامري) دی خلکو ته يو سخوندرگی (جوړکړې) ظاهر کې چې هغه يو قالب (خالي دکمالاتو څخه) وو چې په هغه کې يو (بې معنیٰ) اواز وو پس (ددغه په نسبت هغو احمقو) خلکو (يوبل ته) وويل چې ستاسي او دموسیٰ ﷺ هم معبود خو دا دی (دده عبادت کوی) دموسیٰ ﷺ څخه خو هير سول (چې کوه طورته دخدای په طلب کې تللی دی حق تعالیٰ د دوی پردی احمقانه زړه ورتيا باندی فرمايي چې) آيا هغه خلک دی ته هم نه گوري چې هغه (په واسطه يابې دواسطې) نه خو د دوی ديوی خبرې جواب ورکولی سی اونه د دوی په څه ضرر يانفع رسولو قدرت لري (داسي بې کاره به څه خدای وی او حق الله ﷻ په واسطه دانبياؤ عليهم السلام ضروري خطاب او کلام فرمايي)

(معلومات او مسئلې)

هرکله چې حضرت موسیٰ ﷺ اوبني اسرائيل دفرعون دتعاقب او ددرياب څخه خلاص سول او مخکې ولاړل نو دوی پر يو داسې قوم را غلل چې بت پرست وه نو د دوی عبادت او پرستش چې يې وليدی نو

بنی اسرائیلو وویل چی لکه څنګه دوی موجود اومحسوس شیان یعنی بتان خپل خدایان جوړکړی دی دغسی زمونږ دپاره هم یو داسی معبودجوړکړه . حضرت موسیٰ ﵇ د دوی ددی احمقانه سوال په جواب کی وفرمایل چی تاسی لوی جاهلان یاست دابت پرست خلق خوټول هلاکیدونکی دی او د دوی طریقه باطله ده إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ إِنَّ هَؤُلَاءِ مُتَبَّرٌ مَاهُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ مَاكَانُوا يَعْمَلُونَ : دغه وخت الله ﷻ دحضرت موسیٰ ﵇ سره دا وعده وفرمایله چی دخپل قوم سره کوه طور ته راسه نو مونږ به تاته خپل کتاب تورات درکو کوم چی ستا اوستا دقوم دپاره به دستور العمل وی مګر دتورات درکولو څخه مخکی ته دیرش ورځی او دیرش شپی مسلسل روژه ونیسه . بیایی ددی څخه وروسته په دی میعادکی لس ورځی نوری زیاتی کړی او څلویښت ورځی یی کړی اوحضرت موسیٰ ﵇ دخپل قوم سره کوه طور طرف ته روان سو حضرت موسیٰ ﵇ درب ددی وعدی په شوق کی خپل قوم ته دا وصیت وکی او د دوی څخه مخکی سو چی تاسی هم په ما پسی راځی زه مخکی ځم . په عبادت روژو وغیره کی مشغولیږم چی میعادیی ماته دیرش ورځی ښوولی دی زماپه غیر موجودګی کی به هارون ﵇ زمانائب اوقائمقام وی . بنی اسرائیل سره دهارون ﵇ په خپل رفتار روان وه اوحضرت موسیٰ ﵇ تلواروکی مخکی سو. خیال یی دا وو چی قوم به هم په ما پسی وروسته کوه طورته را ورسیږی مګر هلته ددغه سامری دسخوندرګی دعبادت فتنه پیښه سوه بنی اسرائیل دری فرقی سول په اختلاف کی اخته سول او په حضرت موسیٰ ﵇ پسی د وروستو تلو معامله پاته سوه .

حضرت موسیٰ ﵇ چی هرکله حاضرسو نوحق تعالی ورته داخطاب وفرمایی ،وَ مَاأَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ يٰمُوسٰى : یعنی ای موسیٰ! ته دخپل قوم څخه مخکی په تلوار ولی راغلی ؟

(دحضرت موسیٰ ﵇ څخه دتلوار کولو پوښتنه اوپه دی کي حکمت)

دسوال مقصد په ظاهره دا وو چی حضرت موسیٰ ﵇ دخپل قوم دحالت څخه بی خبره وو او دا توقع یی کوله چی هغوی به هم کوه طورته نژدی را رسیدلی وی اوقوم په فتنه کی اخته سوي دی چی ددی خبری خبر حضرت موسیٰ ﵇ ته ورکړل سی (دتفسیر ابن کثیر څخه)

اوپه روح المعانی کی په حواله دکشف ددی سوال وجه حضرت موسیٰ ﵇ ته دخپل قوم دتربیت متعلق یو خاص هدایت ورکول او دوی ته په دی تلوارکولو باندی خبرداری ورکول وه چی ستا درسالت دمنصب تقاضا دا وه چی دقوم سره وای هغوی دی په خپل نظرکی ساتلی او دځان سره دی راوستی وای ستا دتلوار کولو دا نتیجه سوه چی سامری قوم ګمراه کی . په دی کی په خپله دتلوار ددی کار دبدوالی طرف ته هم اشاره ده چی دا شان دانبیاوو علیهم السلام نه دی په کار.

او په حواله دانتصاف نقل سوي دی چی په دی کی حضرت موسیٰ ﵇ ته دقوم سره دسفر کولو طریقه ښوول سوي ده چی دقوم سردار په قوم پسی وروسته په کار دی چی ځی . لکه دحضرت لوط ﵇ په

واقعه کی چی الله ﷻ ده ته حکم وکی چی مومنان دخپل ځان سره واخله دښار څخه ووزه او دوی دځان څخه مخکی کړه ته په دوی پسی وروسته څه. وَاتَّبِعْ اَدْبَارَهُمْ.

دالله ﷻ دذکرسوی سوال په جواب کی حضرت موسٰی ﷺ دخپل ګمان مطابق عرض وکی چی زما دقوم خلک هم په ماپسی وروسته دا دی را رسیدونکی دی او زه ورڅخه څه لږ مخکی په دی وجه راغلم چی دحکم په تعمیل کی پیشقدمی کول دحاکم د زیات خوشحالولو سبب وی. دغه وخت ده ته الله ﷻ دده په قوم بنی اسرائیلو کی دپیښی فتنی دسخوندرګی دعبادت خبر ورکی او دا چی دوی سامری ګمراه کړي دی او هغوی په فتنه کی اخته سوي دی.

(سامری څوک وو؟)

ځینی حضرات فرمایی چی دی دآلِ فرعون قبطی سړی ووکوم چی دحضرتم وسٰی ﷺ په ګاونډکی اوسیدی په حضرت موسٰی ﷺ یی ایمان راوړی اوکله چی بنی اسرائیل دحضرت موسٰی ﷺ سره دمصر څخه ووتل نودی هم ورسره سو. ځینی وایی چی دی دبنی اسرائیلو دسامره قبیلی سردار وو اوسامره قبیله په شام کی معروفه ده. حضرت سعیدبن جبیر ؓ فرمایی چی دا فارسی سړی دکرمان اوسیدونکی وو. حضرت ابن عباس ؓ فرمایی چی دا دیو داسی قوم سړی وو کوم چی به دغوا عبادت کوی دی په یوطریقه مصر ته ورسیدی اوپه ظاهره یی دبنی اسرائیلو دین قبول کړی دی په څه طریقه مصرته ورسیدی اوپه ظاهره یی دبنی اسرائیلو دین قبول کی مګر په زړه کی یی نفاق وو (قرطبی) دقرطبی په حاشیه کی دی چی دا سړی دهندوستان هندو وو کوم چی به دغوا عبادت کوی انتهٰی. په حضرت موسٰی ﷺ یی ایمان راوړی بیاخپل کفرته واپس سویایی داول څخه په منافقانه طورسره داسلام اظهاروکی (والله اعلم) مشهوره دا ده چی دسامری نوم موسٰی ابن ظفر وو. ابن جریر دحضرت ابن عباس ؓ څخه روایت کړي دی چی موسٰی سامری پیدا سو نو دفرعون دطرف څخه دټولو اسرائیلی هلکانو دقتل حکم جاری وو. دده مور ددی بیری څخه چی فرعونی سپاهیان به دی قتل کړی نو دبچی په خپل مخکی دقتلیدو دلیدو دمصیبت څخه یی دا ښه وګڼله چی دی یی په ځنګل کی په یوغارکی کښیښنووی اوسربیره یی بندکی (کله کله به یی دخبر اخیستو دپاره تله) اخوا الله ﷻ جبرائیل امین دده په حفاظت اوخوراك ورکولو مامورکی ده به په خپله یوه ګوته شهد په یوه کوچی او په یوه شیدی را ورلی او ده ته به یی ورکولی تردی چی دی په غارکی لوی سو اوانجام یی دا سوچی په کفرکی اخته سو او بنی اسرائیل یی هم اخته کړل اوبیاپه قهرِ الهی کی ګرفتار سو دا مضمون یوشاعر په دوو بیتونو کی داسی بیان کړي دی (دروح المعانی څخه)

اِذَا الْمَرْءُ لَم يُخْلَقْ سَعِيْداً تَحَيَّرَتْ عُقُوْلُ مُـرَبِّيْهِ وَخَابَ الْمُـؤَمَّلُ

فَمُـوْسَى الَّذِى رَبَّاهُ جِبْرِيْلُ كَافِرٌ وَمُوسَى الَّذِى رَبَّاهُ فِرْعَوْنُ مُرْسَلُ

ترجمه: هرکله چی یو سړی په اصل پیدائش کی نیك بخت نه وی نودهغه دپرورش کوونکو عقلونه هم

حیران سی او دده څخه امید کوونکی محرومه سی وګوره دکوم موسٰی پرورش چی جبرائیل امین کړی وو هغه خوکافر سو او کوم موسٰی چی فرعون لعین پاللی وو هغه دخدای رسول جوړ سو.

اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا : حضرت موسٰی ﷺ درنج او غم په عالم کی بیرته راغی قوم ته یی خطاب وکی او اول یی دوی ته دالله ﷻ وعده وریاده کړه دکوم دپاره چی هغه ټول قوم دکوه طور راسته طرف ته روان کړی وو چی دلته په رسیدو به درته الله ﷻ دهدایت خپل کتاب درکی او دکوم په ذریعه چی دوین او دنیا ټول مقصدونه د دوی پوره سی.

اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ : یعنی دالله ﷻ په دی وعده باندی خوڅه اوږده موده هم نه وه تیره سوی چی ګوندی ستاسی دهیریدو احتمال وو په کښی چی تر ډیری زمانی پوری دوعدی دانتظارکولوڅخه وروسته مایوسه سواست په دی وجه مو بله طریقه اختیار کړه.

اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ : یعنی دهیریدو یادانتظار څخه دستړی کیدو خو څه احتمال نسته نو اوس ددی څخه ماسوا نور څه ویلی سی چی تاسی په خپله په خپل قصد او اختیار سره دخپل رب غضب ته دعوت ورکی.

قَالُوْا مَا اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا: لفظ د: مَلْكٌ په فتح دمیم او په ضمه دمیم د دواړو تقریبًا یوه معنٰی ده اومراد دلته ددی څخه خپل اختیار دی اومقصد یی دا دی چی موږ دسخوندرګی عبادت په خپل اختیار سره نه دی کړی بلکی دسامری عمل موږ ولیدی نو په مجبوری مو کړي دی. ظاهره ده چی د دوی دا دعوی غلطه او بی بنیاده ده سامری یا دده عمل خودوی مجبوره کړی نه وو. په خپله یی دغور اوفکر څخه کاروانه خیستی نوپه کښی اخته سول مخکی یی دسامر هغه واقعه بیان کړه.

وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَا اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ الْقَوْمِ : لفظ دَاوزار دَوزر جمع ده چی معنٰی یی بوج او بار دی. دانسان ګناه به هم چونکی دقیامت په ورځ بارسی اوپر دوی به بارسی په دی وجه یی ګناه ته وزر اوګناهونو ته اوزار ویلی دی زِيْنَةُ الْقَوْمِ دلفظ دزینت څخه مراد کالی دی او دقوم څخه مراد قوم دفرعون (قبطیان) دی دکومو سره چی بنی اسرائیلو د اختر بهانه کړی اوڅه کالی یی ورڅخه په سوال (مستعار) اخستی وه اوبیا هغه د دوی سره وه. هغه ته یی اوزار په معنٰی دګناهونو دبارڅکه وویل چی ددغو خلګو څخه یی په سوال را اخستی وو چی حق یی دا وو چی دوی ته واپس کړل سی چونکه واپس نه کړل سوه نوګناه یی وګرځوله او دحدیث فتون په نوم سره چی کوم اوږد حدیث لوړ تیر سوي دی دهغه څخه معلومیږی چی حضرت هارون ﷺ دوی ددی په ګناه والی باندی خبر کړل او یو غار ته یی ددی ټولو کالو دغورځولو حکم ورکی. په ځینی روایتونو کی دی چی سامری دخپل مطلب پوره کولو دپاره دوی ته وویل چی داکالی دنورو خلګو مال دی ستاسی دپاره ددی ساتل وبال دی نو دهغه په وینا یی غار ته وغورځول.

(دکفارو مال مسلمانانو لره په کوم صورت کې حلال دی؟)

دلته دا سوال پیداکیږي چې کفارکوم چې اهل ذمه یعنی دمسلمانانو په حکومت کې د دوی دقانون پابندي کوي اوسیږي دغه ډول هغه کفار دکومو سره چې دمسلمانانو څه وعده دځان اومال وغیره دامن وسې . ددې کافرانو مال خوظاهره خبره ده چې دمسلمانانو دپاره حلال نه دی . لیکن کوم کافر چې نه دمسلمانانو اهل ذمه دي نه د دوی سره دمسلمانانو څه وعده اومعاهده سته کوم ته چې دفقهاؤ په اصطلاح کې حربي کافر ویل کیږي د دوی مالونه خودمسلمانانو دپاره دمباح الاصل اشیاوو په شان حلال دي . بیا حضرت هارون ﷺ دې ته وزر اوګناه څنګه وویل او د دوی دقبضې څخه دایستلو اوغارته دغورځولو حکم یې ولې وکړ؟ ددې یو جواب خو مشهوره دی کوم چې عامو مفسرینو لیکلی دی چې دحربي کافر مال اخیستل که څه هم دمسلمان دپاره جائزدي لیکن دغه مال په حکم دغنیمت کې دی او دغنیمت دمال قانون داسلامي شریعت دقانون څخه مخکې دا وو چې دکافرانو دقبضې څخه یې ایستل خو جائز وو . مګر دمسلمانانو دپاره ددې استعمال اونفع اخستل ورڅخه حلال نه وو بلکې مال غنیمت به یې جمع کې پر یو لوړځای وغیره به یې کښیښووی اواسماني اوربه راتلې هغه به یې خوړی . او دغه علامه وه ددغه جهاد دقبلیدو او کوم مال دغنیمت چې به اسماني اور ونه خوړی دغه علامه ددې وه چې داجهاد مقبول نه دی په دې وجه دغه مال به منحوس ګڼل کیدی اوهیڅوک به ورته نه نژدې کیدی . دنبي کریم ﷺ په شریعت کې چې کوم مخصوص رعایتونه اواساني ورکول سوي دي په هغه کې یوه دا هم ده چې دغنیمت مال دمسلمانانو دپاره حلال سو لکه چې دصحیح مسلم په حدیث کې ددې وضاحت دی .

ددې قاعدې په اعتبارسره دبني اسرائیلوپه قبضه کې راغلی مال کوم چې دفرعونیانوڅخه اخستل سوی وو که دمال غنیمت په حکم کې مقرر کړل سي بیاهم ددې استعمال دوی ته جائزنه وو . په دې وجه یې ددې مال څخه تعبیر په لفظ داوزار سره وکې او دحضرت هارون ﷺ په حکم سره یې دا یو غار ته وغوځول .

(یوه مهمه فائده)

لیکن په فقهي نظر سره ددې معاملې چې کوم تحقیق دامام محمد په کتاب سیر او ددې په شرح سرخسي کې بیان سوي دی هغه ډیر مهم اواقرب الی الصواب دی هغه دا دی چې دکافر حربي مال هم په هرحال کې مالِ غنیمت نه وي بلکې ددې دپاره شرط دا دی چې باقاعده دجهاد اوقتال په ذریعه دتوری په زور د دوی څخه حاصل سي په دې وجه په شرح سیرکې مغالبه بالمحاربه شرط ګرځولی ده او دحربي کافرکوم مال چې په مغالبه اومحاربه باندې نه وي حاصل سوی دغه مال دغنیمت نه دی بلکې دغه ته مال فیئ وایي مګر ددې په حلالیدو کې ددغو کفارو رضا اواجازت شرط دی لکه چې اسلامي حکومت پردوی باندې ټیکس مقرر کړي اوهغوی په دې راضي وي چې داټیکس ورکړي نو که څه هم داپه جهاد اوقتال سره نه بلکې په رضامندۍ سره ورکول سوی مال دفیئ دمال په حکم کې دی او دغه هم حلال دی .

دلته دفرعون دقوم ځخه اخستل سوي کالي په دي دواړو قسمونوکي دا خل نه دي . ځکه چي دا دوري ځخه په عاريت سره غوښتل سوي وه هغوي يي دوي ته په مالکانه طور ورکولوباندي راضي نه وه چي دي ته مال فيئ وويل سي اوځه جهاد اوقتال خوهلته سوي نه دي چي په مال غنيمت کي شمار سي په دي وجه دشريعت اسلامي په وجه سره هم دا مال د دوي دپاره حلال نه وو.

دهجرت په واقعه کي نبي کريم ﷺ چي کله مديني طيبي ته دتللو قصدوکي او د دوي سره دعربو دکافرانو ډير امانتونه پراته وه ځکه چي ټولو عربو به دي ﷺ امانتدار مني او د امين په لفظ سره به يي ورته خطاب کوي . نونبي کريم ﷺ د دوي دامانتونو واپس کولو دومره اهتمام وکي چي حضرت علي کرم الله وجهه ته يي وسپارل هغه يي دځان ځخه وروسته پاته کي اوحکم يي ورته وکي چي دځاځي امانتونه دي هغوي ته يي واپس کړه اوچي ته کله ددي ځخه فارغ سي نو بيا هجرت وکړه . دا مال نبي کريم ﷺ ترمال غنيمت لاندي حلال ونه ګرځوی که داسي نه واي نودغه به دمسلمانانو حق واي کافرانوته به يي دبيرته ورکولو هيڅ سوال نه پيدا کيدي . والله تعالى اعلم

فَقَذَفْنٰهَا : يعني مونږدغه کالي وغورځول دذکر سوي حديث فتون په تفصيل سره داکار دحضرت هارون ﷺ په حکم سره وسو اوپه ځينو روايتونوکي دي چي سامري دوي وغولولول اوکالي يي غارته په واچول اوکه دواړه خبري جمع سي نوهم څه بعيده نه ده .

فَكَذٰلِكَ اَلْقَى السَّامِرِيُّ : په حديث فتون کي دحضرت عبد الله ابن عباس ﷺ دروايت ځخه معلوميږي چي حضرت هارون ﷺ کله چي په بني اسرائيلو د دوي ټول کالي په غارکي واچول او اوريي پربل کي چي ټول کالي ويلي سي يوسي . بيا دحضرت موسىٰ ﷺ تر راتلو وروسته به ددي معامله طي کړل سي چي څه ورسره وکو؟ هرکله چي ټولو خلګو خپل خپل کالي دغه غار ته وغورځول نوسامري هم راغي چي موټي يي بندکړي وو حضرت هارون ﷺ ته يي وويل چي زه يي هم وغورځوم دحضرت هارون ﷺ خيال وو چي دده په لاس کي به هم څه کالي وي وي فرمايل چي وي غورځوه دغه وخت سامري حضرت هارون ﷺ ته وويل چي زه يي کله وغورځوم نوته دا دعا وکړه چي زه څه غواړم هغه پوره سي . حضرت هارون ﷺ ته دده نفاق او کفرمعلوم نه وو دعايي وکړه . اوس چي ده دخپل لاس ځخه څه وغورځول نودکالو پرځاي هغه خاوري وي کوم چي ده دحضرت جبرائيل ﷺ د اس دپښو دلاندي ځخه را اخيستي وي کله چي ده داحيرانونکي واقعه ليدلي وه چي هغه به کوم ځاي پښه اېښوله په هغه ځاي کي به دژوند نښاني پيدا کيدي اوشين کيدي به ددي ځخه يي ده دا معلومه کړه چي په دي خاوره کي دژوند نښاني دي شيطان دي دي ته تيار کي چي په دي سره دي يوسخوندرګي ژوندي کړي اوخلګوته يي وښيي . په هرحال ددي خاورو ذاتي اثروو يادحضرت هارون ﷺ ددعا چي دادسرو اوسپينو ويلي سوي ذخيره ددي خاوروپه غورځولو اودحضرت هارون ﷺ په دعا سره يو ژوندي سخوندرګي جوړ سو اوخبري يي کولي

په کومو روایتونو کی چی دی چی سامری بنی اسرائیلو ته دکالو دی غارته دغور خولو مشوره ورکړی وه په هغو کی دا هم دی چی ده دکالی ویلی کړی وه دسخوندرګی صورت یی ورځخه جوړ کړی وو. مګرپه ده کی ژوند نه وو. بیاددې جبرائیل امین دقدمونو دخاورو غورځولو څخه وروسته په کی ژوند پیداسو ، دا ټول روایتونه په تفسیر قرطبی وغیره کی ذکر دی اوظاهره خبره ده چی اسرائیلی روایتونه دی اعتماد نه سی پرکیدی مګردی ته دغلط ویلو هم څه دلیل موجودنه دی)

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُ خُوَارٌ : یعنی را وایستی سامری ددی کالو څخه دیوسخوندرګی جسم چی په کښی دغوا اواز وو. دلفظ دجَسَدًا څخه ځینوتفسیرلیکونکوحضراتو دا فرمایلی دی چی دا محض یوجسد او جسم وو ژوند په دی کی نه وو او اوازبه هم دیوخاص صفت په سبب سره دده څخه وتی. دعامو تفسیر لیکونکو قول دا دی کوم چی لوړ لیکل سوي دی چی په دی کی نښانی دژوندون هم وی.

فَقَالُوا هَٰذَا إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِيَ : یعنی سامری او دده ملګرو چی دا سخوندرګی خبری کوونکی ولیدی نورو بنی اسرائیلو ته یی وویل چی دا ستاسی او دموسٰی ﷺ خدای دی . دموسٰی ﷺ څخه لاره هیره سوی ده بلی خواته ولاړی . ترdی ځایه پوری دبنی اسرائیلو دبی کاره عذربیان وو چی دوی حضرت موسٰی ﷺ ته دهغه دوی ته دزورنی کولو په وخت کی پیش کی.

ددی څخه وروسته په ، أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا: کی یی د دوی حماقت او ګمراهی بیان کړي ده چی که په واقع کی داسخوندرګی ژوندی هم سی او دغوا په شان ګویاهم سی نو ای دعقل دښمنانو په دی خوځان پوه کی چی دخدای سره دده څه واسطه ده . هرکله چی دی نه ستاسی دخبری څه جواب درکولی سی اونه تاسی ته څه نفع یانقصان رسولی سی نو دی دخدای منلو دحماقت څه جوازدی .

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى

او ویلی وو دوی ته هارون مخکې چی ای زما قومه ! تاسی په فتنه کی واچول سوا ست په دی سخوندرګی ستاسی رب خو رحمن دی پس زما په لار راځی .

وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾ قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا

او ومنی خبره زما ، وې ویل مونږ به برابر په دی باندی ټینګ یُو تر هغه چی مونږ ته بیرته راسی

مُوسَىٰ ﴿٩١﴾ قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ

موسی ، وویل موسی ای هارونه! څه شی منع کړی ته کله چی تا ولیدل دوی چی ګمراه سول، چی ته په ماپسی

اَفَعَصَيْتَ اَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَاْخُذْ بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ

را نه غلي ايا تا رد کې زما حکم؟ هغه وويل اې زما د مور زويه! مه نيسه زما ږيره او نه سر

اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِيْ ﴿٩٤﴾

زه بېرېدم چې ته به بيا وايې چې تا تفرقه وغورځوله په بني اسرائيلو کې او زما دخبرې لحاظ دې ونه کړ.

تفسير: او دغو خلګو ته هارون ﷺ دحضرت موسىٰ ﷺ دواپس کېدو څخه مخکې هم ويلي وه چې اې زما قومه! تاسې ددې (سخوندرګي) په عبادت کولو سره په ګمراهۍ کې ګېر سواست (يعنى د دې عبادت په هيڅ ډول سره جائزنه دی دا ښکاره ګمراهي ده) او ستاسې رب (حقيقي) خورحمٰن دی (نه چې داسخوندرګې) پس تاسې (ددين په باره کې) زما پرلاره راځئ او (په دې باره کې) زما خبره منئ (يعنى زما په قول اوفعل باندې عمل کوئ) دوی جواب ورکړی چې مونږ خو تر څو پورې چې موسىٰ (ﷺ) بېرته رانه سي په (عبادت د) ده به دغسې ټينګ يو (مطلب دا چې دحضرت هارون ﷺ وينايي نه وه منلې تر دې چې حضرت موسىٰ ﷺ هم راغی اوقوم ته يې اول خطاب وکړی کوم چې لوړ تېرسو ددې څخه وروسته يې حضرت هارون ﷺ ته مخ کې او) وي ويل اې هارونه! (ﷺ) هرکله چې تا (دوی) وليدل چې دوی (بالکل) ګمراه سوه (اونصيحت يې هم نه اورېدی) نو (دغه وخت) تاته په ماپسې دراتلو څخه کوم کار مانع سوی وو (يعنى دغه وخت په ماپسې را تلل په کار وه چې ددې خلګو نور زيات يقين راغلی وای چې ته د دوی کار ډېر ناخوښه ګڼې او دارنګه ددې باغيانو څخه خوقطع تعلق چې څومره زيات وی ښه دی) پس ايا تا زما دوينا څخه خلاف وکړی (چې مادرته ويلي وه، لَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ: لکه چې په نهمه پاره کې دی چې معنٰى يې دا ده ته به دمفسدانو دلارې تابعداري نه کوې چې ددې په عموم کې دا هم دا خله ده چې دمفسدانو سره به تعلقات نه ساتې او جدا کېږې به ورڅخه) هارون (ﷺ) وويل چې اې زما دمور زويه! (يعنى زما وروه) ته زما ږيره مه نيسه اومه مې (وربښته) دسرنيسه (اوزما عذر واوره زما په تاپسې دنه دراتلو وجه دا وه چې) زما دا بېره بيدا سوې وه چې (که زه په تاپسې درتلې نو زما سره به هغه خلګ هم درتلل کوموچې دسخوندرګې دعبادت څخه ځان ساتلی وو نودبني اسرائيلو جماعت به دوې ټکړې سوې وای ځکه چې دسخوندرګي دعبادت څخه ځان ساتونکي به زماسره وای اونور خلګ به ددې پر عبادت ټينګ پاته سوی وای او په دې حالت کې) به تاويل چې تادبني اسرائيلوپه مېنځ کې تفريق پيدا کې (کوم چې څيني وخت د دوی سره دپاته کېدو څخه زيات مضر وي چې فساد کوونکي ميدان خالي پيدا کې بې خطرې بيافساد زياتوي) اوتا زما دخبرې لحاظ ونه کی (چې مادرته ويلي وه اَصْلِحْ يعنى په دې صورت کې به تا پرما دا الزام لګوئ چې ماتاته داصلاح کولو حکم کړی وو اوتا په بني اسرائيلو کې تفريق جوړ کې اوفساد دې پيدا کې)

(معلومات اومسئلې)

په بني اسرائيلوکی دسخوندرگی دعبادت فتنه را پورته سوه نوحضرت هارون عليه السلام دحضرت موسیٰ عليه السلام دنيابت حق ادا کی اوقوم يی پوه کی ليکن څنگه چی مخکی ويل سوي دی . په دوی کی دری فرقی جوړی سوی يوه فرقه خودحضرت هارون عليه السلام سره پاته سوه دده حکم يی ومنی اودسخوندرگی عبادت يی گمراهی وگڼله د دوی شمير دولس زره بنوول کيږی (لکه چی په قرطبی کی دی) پاته دوی فرقی دسخوندرگی په عبادت کی خوشريکی سوی مگر فرق دومره وو چی په دی دواړوکی يوی فرقی دا اقرار وکی چی حضرت موسیٰ عليه السلام بيرته راسی ددی څخه منع وکړی نو مونږ به منع سو دوهمه فرقه دومره پخه وه چی د دوی يقين دا ووچی که حضرت موسیٰ عليه السلام هم بيرته راسی هم دا به معبود جوړ وو اومونږ په هرحال دا طريقه پرينبودونکی نه يو . هرکله چی حضرت هارون عليه السلام ددی دواړو فرقو دا جواب واوريدی چی مونږ دحضرت موسیٰ عليه السلام تر را واپس کيدو پوری دسخوندرگی پرعبادت به ټينگ يو نوحضرت هارون عليه السلام خپل دولس زره ملگری د دوی څخه جدا خو کړل مگر داوسيدو اوناستی اوولاړی ځايونه يی هم هغه وه او په دی کی دهغو سره شريك وه .

حضرت موسیٰ عليه السلام چی بيرته راغی نو اول خو يی بنی اسرائيلو ته هغه خطاب وکی کوم چی په تيرو ايتونو کی بيان سوي دی بيايی خپل خليفه حضرت هارون عليه السلام ته مخ کی اوپه ده يی دسختی غصی اوخفگان اظهار وکی دده ږيره او دسر وريښته يی ونيول اووي فرمايل چی کله تادابنی اسرائيل وليدل چی په ښکاره گمراهی يعنی شرك اوکفرکی اخته سول اوگمراه سول نوتا زما اتباع ولی ونه کړه زما دحکم خلاف ورزی دی ولی وکړه ؟

مَامَنَعَكَ اِذْرَاَيْتَهُمْ ضَلُّوا ، اَلَّا تَتَّبِعَنِ : دلته دحضرت موسیٰ عليه السلام دا ارشاد چی ته څه شی زما داتباع کولو څخه منع کړی ، ددی اتباع يومطلب خوهغه دی کوم چی په لنډتفسيرکی اختيار سوچی د اتباع څخه مراد په حضرت موسیٰ عليه السلام پسی کوه طورته تلل دی اوځينی مفسرينو داتباع څخه مراد دااخستی دی چی کله دا خلگ گمراه سول نوتا د دوی مقابله ولی نه کوله څکه چی که زما په موجودگی کی داسی سوی وای نومابه يقيناًپه دی شرك اوکفر باندی دپاته کيدونکو سره جهاد کړی وای تاداسی ولی ونه کړل؟ په دواړو صورتونو کی دحضرت موسیٰ عليه السلام دطرف څخه پرحضرت هارون عليه السلام دا الزام وو چی دداسی گمراهی په صورت کی يا خو ددی سره مقاتله اوجهاد کيدی سو يا بيا د دوی څخه به دی ځان جدا کړی وای او په ماپسی به راغلی وای د دوی سره پاته کيدل او اوسيدل دحضرت موسیٰ عليه السلام په نزد د دوی خطا اوغلطی وه حضرت هارون عليه السلام ددی معاملی باوجود په پوره ادب سره دحضرت موسیٰ عليه السلام دنرمولو دپاره خطاب په يَابْنَؤُمَّ سره وکی يعنی زما دمور زويه په دی خطاب کی يوه خاص اشاره دسختی دمعاملی دنه کولو طرف ته وه چی زه ستا ورور يم څه مخالف خونه يم په دی وجه ته زما عذر واوره

بیایی عذر دابیان کی چی زما سره دا بیره پیدا سوه چی که زه ددی خلگو مقابله اومقاتله ستا دراتلو
څخه مخکی وکړم یادوی پریږدم او په خپله ددولسو زرو بنی اسرائیلو سره په تاپسی درسم نو په بنی
اسرائیلو کی به تفرقه پیداسی او تا چی کوم دتلو په وخت کی ماته دا هدایت کړی وو چی اَخْلُفْنِیْ فِیْ
قَوْمِیْ وَاَصْلِحْ ما ددی اصلاح مقتضا داګڼلی وه چی په دوی کی تفرقه پیدانه کړم (ممکنه ده چی ستا
دبیرته راتلو څخه وروسته دوی په هرڅه پوه سی او ایمان اوتوحید ته بیرته راسی) اوبل ځای په قرآن
کریم کی دحضرت هارون ﷺ په عذرکی دا قول هم دی چی: اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِیْ وَکَادُوْا یَقْتُلُوْنَنِیْ: یعنی
قوم (بنی اسرائیلو) زه ضعیف اوکمزوری وګڼلم څکه چی زما ملګری دنورو په مقابله کی ډیر کم وه نو
نژدی وه چی دوی زه قتل کړی وای.

دعذر خلاصه دا ده چی زه د دوی دګمراهی ملګری نه وم اوخومره پوهول او په هدایت باندی ساتل چی
زما په وس کی وه هغه ماپوره کړل. دغو خلګو زماخبره ونه منله او زماپه قتلولو پسی سول په داسی
صورت کی که ما د دوی سره جنګ کولی یامی دوی پری ایښی وای او په تاپسی د درتلو اراده می کولی
نوصرف دا دولس زره بنی اسرائیل به زماسره وای باقی ټول به جنګ اومقاتلی ته تیاروه اوجنګ به
زمونږ په مینځ کی ګرم سوی وای. ماددی څخه دمحفوظ کیدو دپاره ستا تروا پسی پوری دنرمی صورت
اختیارکی. حضرت موسیٰ ﷺ چی دا عذر واوریدی نو حضرت هارون ﷺ یی پریښووی او دفساد
داصل جوړ. نکی (سامری) خبر یی واخیستی. په قرآن کریم کی داهیڅ ځای ذکرنسته چی حضرت موسیٰ
۱ ﷺ دحضرت هارون ﷺ رایه صحیح ومنله یایی محض د دوی اجتهادی خطاء وګڼله اوپریښووی یی.

(په دوو پیغمبرانو کی درایی اختلاف او دواړه طرف ته دصواب اړخونه)

په دی واقعه کی دحضرت موسیٰ ﷺ رایه داجتهاد په وجه سره دا وه چی په دی حالت کی حضرت هارون
ﷺ او دده ملګرو لره ددی مشرک قوم سره پاته کیدل نه وو په کار دوی پریښوول او په حضرت موسیٰ
ﷺ پسی تلل په کار وو چی په دی سره د دوی دعمل څخه دمکملی بیزاری اظهار کیدی.

دحضرت هارون ﷺ رایه داجتهاد په روسره دا وه چی که داسی وسی نودهمیشه دپاره به بنی اسرائیل
ټکړی سی او تفرقه به قائمه سی اوچونکه د دوی داصلاح دا احتمال موجود وو چی دحضرت موسیٰ ﷺ
تر راتلو وروسته د دوی په اثر سره به بیا دا ټول د ایمان او توحید طرف ته بیرته راسی یوخوورځی د دوی
سره په نرمه اوخاموشی سره د دوی داصلاح دامید دپاره زغمل کیږی د دواړو مقصد دالله ﷻ داحکامو
تعمیل اوپر ایمان اوتوحید دخلګو قائمول وو مګر یوه جدا کیدل اوقطع تعلق کول ددی تدبیر وګڼی بل
داصلاح حال تر امیده پوری د دوی سره دنرمی اواسانی معامله ددی مقصد دپاره نفع منده وګڼله دواړه
جانبه دعاقلانو اوپوهانو اوفکر اونظر کوونکو دپاره دغور اوفکر ځای دی چاته خطا ویل اسان نه دی
دامت دمجتهدینو اجتهادی اختلافات په عام طور سره ددی قسمه څخه وی. په دوی کی هیڅ‌ځانه

ګناهګار یانافرمان نه سی ویل کیدی پاته سوه دحضرت موسیٰ ﷺ دحضرت هارون ﷺ دوربېښتو نیولو معامله نودا ددین په معامله کی د الله ﷻ دپاره دسخت غضب اثر وو چی دحال دتحقیق کولو څخه مخکی دوی حضرت هارون ﷺ پریوه واضحه غلطی باندی وګڼی اوکله چی دهغه عذر معلوم سو نوبیایی دخپل ځان او دهغه دپاره دمغفرت دعا وغوښته.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ﴿٩٥﴾ قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا

وویل موسی ﷺ اوس ستا څه حقیقت دی ای سامری؟ وې ویل ما ولیدل کوم چی نورو نه لیدل

بِهٖ فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ

بیا ډک کی ما یو موټی دپښو دلاندی څخه ددغه رالیږل سوی، بیاما هغه وغورځولی او داصلاح راکړه ماته زما

لِيْ نَفْسِيْ ﴿٩٦﴾ قَالَ فَاذْهَبْ فَاِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ اَنْ تَقُوْلَ لَا مِسَاسَ

زړه، وویل موسی ﷺ لیری سه ستا دپاره په ټول ژوند کی دا سزا ده چی ته به دا وایی ماته لاس مه راوړی

وَاِنَّ لَكَ مَوْعِدًا لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ اِلٰٓى اِلٰهِكَ الَّذِيْ ظَلْتَ

اوستا دپاره یوه وعده ده چی هغه به هرګز ستا څخه خلاف نه سی، او وګوره خپل معبود ته په کوم چی ته به

عَلَيْهِ عَاكِفًا ۗ لَنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿٩٧﴾ اِنَّمَآ

توله ورځ معتکف اوسیدی، مونږ سوزو دی بیا یی شیندو په دریاب کی په شیندلو سره، ستا سی

اِلٰهُكُمُ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۗ وَسِعَ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾

معبود خو هغه الله دی چی دهغه څخه ماسوا بل معبود نسته، ټول شیان دهغه دعلم په احاطه کی دی.

لنډتفسیر: (بیا سامری ته متوجه سو او ده ته یی) وویل چی ای سامری ستاڅه معامله ده (یعنی تا داحرکت ولی وکی) هغه وویل چی ماته داسی شی په نظر راغلی وو کوم چی نوروته په نظرنه وو راغلی (یعنی حضرت جبرائیل ﷺ چی په کومه ورځ په دریاب کی راپوری وتلی ووکوم چی دمومنانو دمدد او دکافرانو دهلاکولو دپاره راغلی وو اوپه تاریخ طبری کی دسدی په سند سره نقل کړي دي چی حضرت جبرائیل ﷺ حضرت موسیٰ ﷺ ته دکوه طور دتلوکوم حکم را وړی وو نو په آس سپور راغلی وو اودغه وخت سامری لیدلی وو) بیا ماددغه رالیږل سوی (چی دخدای دطرف څخه راغلی وو دسپرلی)

دپښی دپل ځخه یو موټ (دك دخاورو) لوړ کړی وو (اودغانه زماپه زړه کی دا خبره راغله چی په دی کی به دژوند نښانی وی په کوم شی کی چی واچول سی په هغه کی به ژوند پیدا کیږی) پس ماهغه موټ (دخاورو ددی سخوندرګی په قالب کی) واچوی اوزما زړه ته دا خبره (ښه او) ښه ښکاره سوه (موسیٰ ﷺ) وفرمایل نوبس ستا دپاره په دی (دنیوی) ژوندکی داسزا (تاکل سوی) ده چی ته به داوایی چی ماته دی هیڅوك لاس نه راوړی اوستا دپاره (ددی سزا ځخه علاوه) یوه بله وعده (دحق تعالی دعذاب) ده کومه چی ستاځخه واپس کیدونکی نه ده (یعنی په اخرت کی به دی جدا عذاب وی) اوته خپل دی (باطل) معبودته ګوره دکوم (په عبادت) چی ته تینګ سوی ناست وی (ګوره) مونږدی سوزو بیا (ایری د) ده په دریاب کی شیندو (چی نوم اونښانه یی ورکه سی) بس ستاسی (حقیقی) معبود خوصرف الله ﷻ دی دکوم ځخه چی ماسوا ځوك دعبادت لائق نسته هغه په (خپل) علم سره ټول شیان په احاطه کی را وستلی دی.

(معلومات اومسئلي)

بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوا بِهٖ : یعنی هغه شی می ولیدی کوم چی نورو نه لیدی ددی ځخه مراد جبرائیل امین دی او دده دلیدو په واقعه کی یو روایت خو دا دی چی څه وخت دحضرت موسیٰ ﷺ په معجزه سره په دریایی قلزم کی وچی لاری جوړی سوی اوبنی اسرائیل په دی لارو تیرسول او دفرعون لښکر دریاب ته دا خلیدی نو جبرائیل امین پر آس سپور دلته موجود وو بل روایت دا دی چی په دریاب دپوری وتو ځخه وروسته حضرت موسیٰ ﷺ ته دکوه طور دتلو ددعوت ورکولو دپاره جبرائیل امین په اس سپور تشریف راوړی وو دی سامری لیدلی وو نوروته نه وه معلومه سوی ددی وجه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په یو روایت کی دا ده چی دسامری پرورش په خپله دجبرائیل امین په ذریعه سوی وو څه وخت چی دده مور دی په غار کی غورځولی وو نوجبرائیل امین به روزانه ده ته دخوراك ورکولو دپاره راتلی په دی وجه دی دهغه سره اشناؤ او پیژندی یی خو نورو خلګو نه پیژندی. (دبیان القران ځخه)

فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ : د رسول ځخه مراد دلته دخدای رالیږل سوي دی چی حضرت جبرائیل ﷺ دی. دسامری په زړه کی شیطان دا خبره وغورځوله چی دجبرائیل امین اس چی پرکوم ځای قدم ږدی دهغه ځای په خاوره کی دژوند خاص اثرات وی دا خاوری دی را واخیستل سی نو ده دغه خاوری را لوړی کړی. دا خبره دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په روایت کی ده : اُلْقِیَ فِیْ رَوْعِهٖ اَنَّهٗ لَا یُلْقِیْهَا عَلٰی شَیْءٍ فَیَقُوْلُ کُنْ کَذَا اِلَّا کَانَ : یعنی دسامری په زړه کی په خپله دا خبره پیدا سوه چی دقدم دا خاوری پرڅه شی وغورځول سی او دا ورته وویل سی چی فلانی شی جوړ سه نو هغه شی جوړیږی او ځینی حضرات فرمایی چی سامری دآس دقدمونو په چاپونوکی په خپله دا ولیدل چی کوم ځای قدم ږدی هلته فوراً سبزه راخیژی. چی په دی سره یی دا دلیل قائم کی چی په دی خاوروکی دژوند نښی دی لکه داسی په کمالین کی دی. داتفسیر یی په روح المعانی کی دصحابه ؤ تابعینو اوجمهورو تفسیر لیکونکو ځخه

نقل کړي دي . اوپه دې کې نن صبا ظاهر پرستو خلکو چې کوم شبهات را ایستلي دي دهغو تولو جواب يې ورکړي دي فجزاه الله خير الجزاء. (بيان القران)

بیاچې هرکله دبنی اسرائیلو دجمع سوو کالیوڅخه ده دسخوندرگی شکل جوړکی نودخپل گمان مطابق چې په دې خاوروکې دژوند نښانې دي پرکوم شي چې وغورځول سي په هغه کې به ژوندپیداسي . ده دا خاوره په دغه سخوندرگی کې دننه وغورځوله دخدای په قدرت سره په هغه کې دژوند نښانې پیدا سوې او گویا سو او په حدیثِ فتون کې چې مخکې په تفصیل سره راغلې دي په هغه کې دا دي چې ده په حضرت هارون ﷺ باندې دعا وکړه چې زماپه لاس کې چې داهرڅه دي دا زه غورځوم خوشرط دا دی چې ته دا دعا وکې چې څه زه غوارم هغه وسي . حضرت هارون ﷺ ده ده دنفاق او دسخوندرگی دعبادت کولو څخه خبر نه وو دعایي وکړه اوده هغه خاوره ورواچوله نودحضرت هارون ﷺ په دعاسره په هغه کې دژند نښانې پیدا سوې . دیو روایت په حواله سره دا مخکې لیکل سوی دي چې سامري دفارس یاهندوستان باشنده دهغه قوم سړی ووکوم چې دغوا عبادت کوي مصرته ورسیدی او په حضرت موسیٰ ﷺ يې ایمان راوړی . وروسته بیامرتد سو یایي داول څخه دایمان اظهار منافقانه کړی وو. بیايي نفاق ظاهر سو د ایمان ددې اظهار فائده ده ته دا ورسیده چې دبنی اسرائیلو سره پردریاب پوري وتی .

فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيَاةِ أَنْ تَقُولَ لَا مِسَاسَ: حضرت موسیٰ ﷺ په دنیاکې دسامري دپاره دا سزا منتخب کړه چې ټول خلک دې ده څخه ځان ساتي اوڅوک دې ورته نه نژدې کیږي او ده ته يې هم داحکم ورکی چې چاته به لاس نه وروړې اوټول ژوندبه دغه ډول دوحشي حیواناتو په شان دټولو څخه جدا اوسې . داسزا کیدی سي چې دیوقانون په صورت کې وې چې پابندي يې پرده اوپرنورو ټولو بنی اسرائیلو دحضرت موسیٰ ﷺ دطرف څخه لازمی سوې وې او دا هم ممکنه ده چې دقانوني حیثیت دسزا څخه مخکې په خپله ده ده په ذات کې دخدای په قدرت څه داسې خبره پیدا سوې وای چې نه دې بل ته لاس وروړي سي او نه بل ده ته لکه چې په ځینو روایتونوکې دي چې دحضرت موسیٰ ﷺ په ښيرو سره په ده کې داکیفیت پیدا سوی وو چې که ده به چاته لاس وروړی یابه بل چاده ته لاس وروړی نوپر دواړو باندې به تبه راتله لکه چې په معالم کې دي ددې بيرې څخه به دې دټولو څخه لیرې تښتیدی او کله چې به يې څوک ځان ته نژدې راتلونکی لیدی نو دلیرې څخه به يې ورته دا اواز کوی چې لَامِسَاسَ یعني ما ته لاس مه را وړه .

(دسامري په سزا کې یوه لطیفه)

په روح المعاني کې په حواله دبحر محیط نقل کړي دي چې حضرت موسیٰ ﷺ دسامري دقتل کولو اراده وکړه مگر الله ﷻ دده دسخا او دخلکو دخدمت کولو په وجه سره دقتل دسزا څخه منع کی . (بيان القران)

لَنُحَرِّقَنَّهُ : یعني مونږبه دې په اورکې وسوزو دلته دا سوال پیدا کیږي چې دا سخوندرگی دسرو اوسپینو دکالو څخه جوړ سوی وو نوپه اورکې ده دسوزیدو به څه صورت وي . سره اوسپین خو ویلي کیدونکي

شیان دی سوزیدونکی نه دی . جواب دا دی چی اول خو په دی کی اختلاف دی چی په سخوندرګی کی
دژوند دنښانو پیدا کیدو څخه وروسته هم دی دسرو اوسپینو وو اوکه حقیقت یی بدل سو اوغوښه او
وینه جوړ سو که دغه غوښه اووینه جوړه سوی وی نوظاهره ده چی دده دسوزولو مطلب به دا وی چی ذبح
به سی او بیا به وسوزول سی اوکه بل قول واخستل سی نو دسوزولو مطلب به یی دا وی چی په سوان سره
به وګرول سی ذری ذری به سی یابه په یو دوا سره وسوزل سی (لکه په روح المعانی کی داسی دی) او
داهم څه لیری خبره نه ده چی سوزول په معجزه سره وی . والله اعلم (بیان القران)

كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا

دارنګه او روو مونږ تاته حالات دهغو چی مخکښ تیر سوی دی ، اومونږ درکړی دی تاته دخپل طرف څخه

ذِكْرًا ۖ ﴿۹۹﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ۙ ﴿۱۰۰﴾

دویلو کتاب ، چاچی مخ واړ وی دده څخه نو هغه به پورته کړی په ورځ دقیامت یو بار

خٰلِدِيْنَ فِيْهِ ۖ وَسَآءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ۙ ﴿۱۰۱﴾ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي

همیشه به وی په دی کی ، اوبد دی دوی لره په ورځ دقیامت دغه بار پورته کول په کومه ورځ چی پوهول سی

الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ زُرْقًا ۖ ﴿۱۰۲﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ

په شپلی کی ، او راجمع کړو مونږ ګناهګارو لره په دغه ورځ شنی سترګی ، پټ پټ به وایی په خپل مینځ کی

اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا عَشْرًا ﴿۱۰۳﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ اِذْ يَقُوْلُ اَمْثَلُهُمْ

چی تاسی نه یاست پاته سو مګرلس ورځی ، مونږ ته ښه معلوم دی څه چی وایی هرکله چی ووایی په دوی کی

طَرِيْقَةً اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا يَوْمًا ۧ ﴿۱۰۴﴾ وَيَسْــَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ

دزیات پوهی خاوند تاسی نه یاست پاته سوی مګر یوه ورځ ، او تا څخه پوښتنه کوی دغرونو حال پس ته ورته

يَنْسِفُهَا رَبِّيْ نَسْفًا ﴿۱۰۵﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا ﴿۱۰۶﴾ لَّا تَرٰى فِيْهَا

ووایه چی خپاره به کړی دوی زمارب په الوزولو سره ، نو پاته به کړی مځکه صفا میدان ، نه به وینی ته په دی کی

عِوَجًا وَّلَآ اَمْتًا ﴿۱۰۷﴾ يَوْمَئِذٍ يَّتَّبِعُوْنَ الدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ

کوږوالی او نه غوندی ، په دغه ورځ به منډی وهی په اواز کوونکی پس چی کربیدل ورته نه وی دخبری ، اوغلی

الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿۱۰۸﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ

به سی اوازونه درحمن دبیری څخه ، نو نه به اوری ته مګر کنبهاری ، په دغه ورځ به په کار را نه سی

الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ وَرَضِیَ لَهٗ قَوْلًا ﴿۱۰۹﴾ يَعْلَمُ

سفارش مګر چا ته چی اجازه ورکړی رحمن او خوښه کړی دهغه خبره ، هغه پوه دی

مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيْطُوْنَ بِهٖ عِلْمًا ﴿۱۱۰﴾ وَعَنَتِ

په هغه چی څه ددوی څخه مخکې دی او په هغه چی ددوی څخه وروسته دی اوددوی احاطه نه سی کولی دهغه په علم

الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ ۭ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ

اومړی مخونه وراندی دهغه ژوندی همیشه پاته کیدونکی ، او خراب سو چاچی پورته کی بار دظلم ، اوخوك

يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴿۱۱۲﴾

چی وکړی څه نیکی او دی مؤمن هم وی نو دده به بیره نه وی دبی انصافی اونه دنقصان رسیدو

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ

او دارنګه نازل کړی دی مونږ قرآن په عربی ژبه او بیا بیا اور وو مونږ په دی کی دبیری خبری

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

چی دوی ځان وساتی ، یا وغورځوی په زړونو د دوی کی فکر ، نو لوی دی الله چی باچاه دی په حقه ،

وَلَا تَعْجَلْ بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ وَحْيُهٗ ۡ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

اوته تلوارمه کوه دقرآن په اخیستلو کی ترڅوچی پوره نه سی تاته ددی نازلیدل اووایه ای ربه ! زیات کړی زماعلم

(دآیتونو تړون)

لنډتفسیر: په سورة طٰهٰ کی اصل بیان دتوحید رسالت او اخرت داصولی مسئلو دی ، دپیغمبرانو علیهم السلام واقعات په دی سلسله کی بیان سول او دحضرت موسیٰ ؑ قصه په تفصیل سره بیان سوه او ددی په ضمن کی درسالت محمدی ﷺ اثبات هم دی ، ددی رسالت محمدی ﷺ برخه دا ده کومه چی په راتلونکو آیتونو کی بیان سوه ، چی ددی واقعاتو او قصو اظهار دیو نبی اُمّی په ژبه په خپله دلیل

درسالت اونبوت او وحی الهی دی او ددی تولو سر چشمه قرآن کریم دی او دقرآن دحقوالی په ضمن کښې
څه تفصیل دآخرت او دبیا پورته کیدو هم راغلی دی (لکه څنګه چی مونږ دحضرت موسٰی ﷺ قصه بیان
کړه) دغه شان مونږ تاته دنورو تیرو واقعاتو خبرونه (اوقصې) هم بیانوو (چی دنبوت په دلیلونو کی په دی
سره زیاتوالی راځی) اومونږ تاته دخپل طرف څخه یوه نصیحت نامه درکړي ده (یعنی قرآن کریم چی په
دی کی هغه خبرونه دی او دغه په خپله هم په مستقل طورسره دخپل اعجاز په وجه دنبوت دلیل دی
اودغه نصیحت نامه داسی ده چی) کوم خلق چی ددی (دمضامینو منلو) څخه مخ واړوی نو دی به دقیامت
په ورځ دیر لوی بار (دعذاب) پورته کی (او) هغه به په دغه (عذاب) کی همیشه اوسیږی او دا بار به
دقیامت په ورځ د دوی دپاره لوی (بار) وی په کومه ورځ چی شپیلۍ پوك وهل سی (چی مړی په ژوندی
کول کیږی) او مونږ به په دغه ورځ مجرمان (یعنی کافران) خلق (په میدان دقیامت کی) په دی حالت کی
جمع کړو چی (نهایت بد صورته به وی چی) سترګی به یی شنی وی (کوم چی دارنګه دسترګو دټولو څخه
ناکاره رنګ شمیرل کیږی اوبیره به دومره وی چی) خبری به دیوبل سره پټی پټی کوی (اویوبل ته به وایی)
چی تاسی خلق (په قبرونوکی) صرف لس ورځی پاته سوی یاست (مطلب دا دی چی مونږ خو داسی ګڼله
چی دمرګ څخه وروسته ژوندون نسته هغه ګمان خوبالکل غلط سو، نه ژوندی کیدل خو پریږده داسی
هم ونه سوه چی لږڅه وروسته ژوندی سوی وای بلکی دیر ژر ژوندی سوو چی دغه موده خو دلسو ورځو
برابر معلومیږی وجه ددی مقدارد‌معلومیدو دا ده چی دغه ورځ دیره هیبتناکه او دپریشانی ده اواوږده
ده چی په قبرکی دپاته کیدو موده به ددی په مخکی دومره کمه معلومیږی حق تعالیٰ ﷻ فرمایی چی)
دکومی (مودی) په نسبت چی به داخلق خبری کوی هغه مونږ ته ښه معلومه ده (چی هغه څومره ده) هرکله
چی په دوی کی زیات هوښیار به داسی وایی چی نه بلکی تاسی یوه ورځ (په قبرکی) پاته سوی یاست (دا
ته یی صائب الرایه یعنی خاوندد‌پوهی ځکه وویل چی ددغه ورځی داوږدوالی اوهیبت په اعتبارسره
دانسبت دیرنژدی دی نو دا سړی دسختوالی په حقیقت زیات پوه سو، په دی وجه ددی سړی رایه
دمخکی سړی درایی څخه زیاته بهتره ده اومقصود دانه دی چی ددی سړی خبره بالکل صحیح ده ځکه
چی داظاهره ده چی دواړه مقدارونه داصلی حد په اعتبار سره صحیح نه دی او نه دویونکو دا مقصود
وو) او (ای نبی کریم ﷺ دقیامت دحال په اوریدو باندی ځینی) خلق ستاڅخه دغرونو په نسبت پوښتنه
کوی (چی په قیامت کی به د دوی څه حال وی) نو ته (په جواب کی) ووایه چی زمارب به دوی (ذره ذره
کړی) بالکل والوزوی بیابه مخکه یو هوار میدان کړی چی په دی کی به ته (ای مخاطبه) نه ژوره وه‌وینی او
نه لوړه (غر غونډی وغیره) ووینی په دغه ورځ به ټول د (خدایی) بلونکی (یعنی شپیلی وهونکی ملائکی)
په وینا ورپسی وی (یعنی هغه به دخپلی شپیلۍ په اواز سره ټول دقبرونو) څخه را وبلی نوټول به راووزی
دهغه په مخکی به (په هیچاکی) څه کوږوالی نه وی (چی ګوندی دقبرونو څخه به نه راوزی لکه په دنیاکی

چې به دپیغمبرانو علیهم السلام په مخکې کاره ګرځیدل چې تصدیق به یې نه کوي) او (د ډیر هیبت څخه) دټولو اوازونه به دالله ﷻ په مخکې غلې سې نو (اې مخاطبه) ته به بغیر دپښو دکښهار څخه (چې میدان دحشر ته به غلې غلې روان وي) نور هیڅ (اواز) نه اورې (خواه که په دې وجه چې دغه وخت به خبرې نه کوي که څه هم په ځینو ځایونو کې خو به کرار کرارخبرې کوي لکه چې لوړ راغلې دی ، یَتَخَافَتُوْنَ : اوکه خواه په دې وجه چې ډیرې پټې پټې خبرې به کوي چې لږ لیرې به نه سې اوریدې) په دغه ورځ به (چاته دچا) سفارش نفع نه ورکړې مګر داسې سړي لره (به دانبیاؤ علیهم السلام اوصالحانو سفارش نفع ورکې) چې دچا (دسفارش کولو) لدپاره الله ﷻ (سفارش کوونکو ته) اجازه ورکې اودهغه سړي دپاره (دسفارشې) خبرې کول خوښې کړې (مراد ددې څخه مومنان دې چې سفارش کوونکو ته به د دوی دسفارش دپاره اجازه وي او په دې باره کې به دسفارشې خبرې کول دالله ﷻ خوښې وي اودکفارو دپاره به دسفارش کولو هیچاته اجازه نه وي ، نو نیستوالې دنفع په سبب دنیستوالې دشفاعت دی او په دې کې داعتراض کوونکو کافرانو دپاره بیره ده چې تاسې خو به دشفاعت څخه هم محرومه یاست او) هغه (الله ﷻ) د دوی ټول مخکې او وروسته حالات پیژني او دهغه (معلومات) د دوی علم په احاطه کې نه سې را وستې (یعنې داسې یو کارنسته چې مخلوق ته معلوم وي اوالله ﷻ ته معلوم نه وي او داسې ډیر کارونه سته کوم چې الله ﷻ ته معلوم دي اومخلوق ته معلوم نه دي ، نودمخلوقاتو هغه ټول حالات هم هغه ته معلوم دي په کومو چې دشفاعت قابلیت یانه قابلیت مرتب دی ، نو څوك چې ددې اهل وي ، دهغوی دپاره به سفارش کوونکو (شافعانو) ته اجازه وسي اوکوم چې یې اهل نه وي دهغوی دپاره به اجازه ونه سي) او (په دغه ورځ) ټول مخونه به ددغه ژوندې او همیشه قائم پاته کیدونکې په مخکې کښته وي (اودټولو تکبر کوونکو اوانکار کوونکو تکبر اوانکار به ختم سي) او (په دې صفت کې به ټول شریك وي بیامخکې به په دوی کې دافرق وي چې) داسې سړې خوبه (په هر دول) ناکام وي کوم چې دظلم (یعنې شرك) سره راغلې وي اوچاچې نیك کار کړې وي او دې ایماندار هم وي نو ده ته به (پوره ثواب ورسیږي) نه به دځه زیاتوب بیره وي اونه دکمې (مثلا دا چې څه ګناه دده په عملنامه کې زیاته ولیکل سې اویاځه نیکې یې کمه ولیکل سې او دا کنایه ده دکمالِ ثواب څخه ، نو ددې په مقابله کې دکفارو څخه مقصود نفې کول دثواب دي په وجه دعدم موجب دثواب که څه هم ظلم اوحق تلفې به دکفاروهم نه وي او دکفارو نیك عملونه دایمان دشرط څخه خالې دي نو په شان دنیست سول) اومونږ (لکه څنګه چې دا ذکر سوې مضامین صفا صفا ارشاد کړي دي) دغه ډول دا (ټوله) په عربې قرآن کریم باندې نازل کړي دي (چې الفاظ یې واضح دي) اوپه دې سره مونږ قسم قسم بیرې (دقیامت او دعذاب) بیان کړي دي (چې په دې سره یې معنی هم واضحه سوه ، مطلب دا دی چې دټول قرآن کریم مضامین مونږ صفا صفا ښوولې دي) ددې دپاره چې دغه (اوریدونکې) خلق (ددې په ذریعه سره بالکل) وبیریږي (اوفې الحال ایمان

راوړی) یا (که بالکل ونه بیریږی نو دومره خو به وسی چی) دا قران به د دوی دپاره یوځه قدر پوهه (خو) پیدا کړی (یعنی که پوره اثر په ونه سی نولږ خوبه وسی او دغه ډول څوواره او بار بار چی لږلږ جمع سی پوره مقداربه سی او یو وخت به مسلمانان سی) نو الله ﷻ چی حقیقی بادشاه دی عالی شان دی (چی داسی نفع مندکلام یی نازل کی) آو (ځنګه عمل کول اونصیحت منل کوم چی لوړ ذکر سو دقرآن دتبلیغ واجب حق دی چی ادا کول یی پرتولو مسلمانانو باندی کوم چی داحکامو مکلف دی فرض دی ، دغه ډول ځینی اداب دقرآن دنزول سره هم متعلق دی چی دادا کولو تعلق یی ستاسره دی په دوی کی یو دا دی چی) په قران کریم (ویلو) مخکی ددی ځخه چی ددی وحی پرتا باندی پوره نازله سی تلوارمه کوه (چی په دی کی تاته تکلیف وی چی دجبرائل ﷺ ځخه یی اوریدل اوویل غبرګ راځی نو داسی مه کوه او ددی بیره مه کوه چی شاید یادبه دی نه سی یادول یی زمونږ پرذمه دی) اوته (هم ددی دیادولو دپاره زمونږ ځخه) دا دعا کوه چی ای زما ربه ! زماعلم زیات کی (په دی کی دحاصل سوی علم دیاد پاته کیدو او دغیر حاصل دحاصلیدو اوکوم چی حاصلیدونکی نه دی دهغه نه حاصلیدل خیر اومصلحت ګڼل او په تولوعلمونوکی دښه پوهی تولی دعاګانی داخلی دی نود : لَاتَعْجَلْ : ځخه وروسته ددی راتلل ډیر مناسب سول خلاصه یی دا سوه چی په تدبیرونو دحفظ تدبیرونه دتلوار پریږده او تدبیر ددعا اختیار کړه).

(معلومات اومسئلي)

قَدْ اٰتَيْنٰكَ مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا: د ذکر ځخه مراد دلته دجمهورو تفسیر لیکونکو په نزد قرآن دی .

مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ فَاِنَّهٗ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا: یعنی کوم سړی چی دقرآن ځخه مخ واړوی دقیامت په ورځ به په ده دګناهونو لوی باروی ، دقرآن ځخه دمخ اړولو مختلف صورتونه دی . دده تلاوت ته ګر سره خیال نه کوی نه چیري دقرآن دویلو اوزده کولو فکر کوی یاقرآن وایی ، مګرغلط یی وایی دحرفونو صحیح کولو فکر نه کوی یاصحیح یی وایی مګر په بی زړه توب اوبی پرواهی سره یی وایی یادځه دنیوی مال اوعزت په خواهش سره یی وایی دغه ډول دقرآن په احکامو باندی ځان نه پوهول او دقرآن داحکامو طرف ته توجه نه ورکول هم دقرآن ځخه مخ اړول دی او دپوهیدو ځخه وروسته په عمل کولوکی کوتاهي یاددی داحکامو خلاف ورزی خو.دمخ اړولو انتهایی درجه ده . مطلب دا چی دقرآن دحقوقو ځخه دبی پرواهی کولو لوی وبال دی کوم چی به دقیامت په ورځ دروند پیتی جوړسی په ده به بار کړل سی لکه چی دحدیثو په روایتونو کی دی چی دانسان بد عملونه او ګناهونه به دقیامت په ورځ یو دروند بار جوړسی اوپه ده به ورواړول سی .

يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ: حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایی چی دکلی یوسړی دنبی کریم ﷺ ځخه دا پوښتنه وکړه چی صور څه شی دی؟ نو ده ﷺ وفرمایل چی دایو ښکردی چی پوکی به په کښی کول کیږي . مراد دا دی چی دښکرپه شان یوشی دی چی ملائکه به په کښی پوکی وکی او په توله دنیابه یی دا اثر وسی چی تول مړی

به ژوندی سی راپورته به سی . حقیقت ددی صور یعنی شپیلی الله ﷻ ته ښه معلوم دی .
وَلَاتَعْجَلْ بِالْقُرْآنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّقْضٰی اِلَیْكَ وَحْیُهٗ : په صحیح حدیث کی د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه نقل دی
چی په ابتداء دوحی کی به کله جبرائیل امین څه آیت دقرآن راوړی اونبی کریم ﷺ ته به یی اوروی نو د ﷺ
به دهغه سره سره دآیت دویلو کوشش فرمایی چی هسی نه هیرسی راڅخه ، په دی وجه به په دوی غبرگ
مشقت وو ، یو دجبرائیل امین څخه دقرآن د اوریدلو او دځان پوهولو او ددی سره سره دیادولو دپاره یی
په خپله ژبه د ادا کولو . حق تعالی په دی آیت کی دارنگه دسورة قیامه په ایت ،لَاتُحَرِّكْ بِهٖ لِسَانَكَ : کی د
دوی دپاره اسانی داپیدا کره چی کوم ایتونه دقران پرتا نازلیږی دهغه یادساتل ستاذمه واری نه ده دغه
زموږ ذمه ده موږ به یی په خپله تاته یادوو ، په دی وجه ته دجبرائیل امین سره سره دویلو او دژبی چلولو
تکلیف مه کوه ته یی ترهغه وخته پوری صرف په اطمینان سره اوره ، البته دا دعا کوه چی رَبِّ زِدْنِیْ
عِلْمًا : یعنی ای زما پروردگاره! زماعلم زیات کی په دی جامع دعاکی دهغه قرآن کریم یاد ساتل هم دا خل
دی کوم چی نازل سوي دی او دغیرنازل سوی قرآن کریم طلب په کښی هم دا خل دی او په دی باندی
دپوهیدو توفیق په کښی هم دا خل دی .

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓی اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِیَ

او موږ تاکید وکی په آدم باندی ددې څخه مخکې نو هیر یی کی

وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿۱۱۵﴾ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا

اوبیانه کی پیدا موږ په ده کی څه همت، اوکله چی وویل موږ ملائکوته سجده وکی ادم علیه السلام ته نوسجده یی وکړه

اِلَّآ اِبْلِیْسَ ؕ اَبٰی ﴿۱۱۶﴾ فَقُلْنَا یٰٓاٰدَمُ اِنَّ هٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا

مگرونه منله ابلیس ، بیا وویل موږ ای ادم ! دا دښمن دی ستا او ستا دبی بی نوچی

یُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰی ﴿۱۱۷﴾ اِنَّ لَكَ اَلَّا تَجُوْعَ فِیْهَا وَ

و دی نه باسی تاسی دجنت څخه بیا به په تکلیف کی ولویږي ، تاته حاصل دی چی نه به اوږی کیږي په دی کی

لَا تَعْرٰی ﴿۱۱۸﴾ وَاَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا فِیْهَا وَلَا تَضْحٰی ﴿۱۱۹﴾ فَوَسْوَسَ اِلَیْهِ

او نه به لغړ کیږی ، او دا چی نه به تږی کیږی په دی کی او نه به په غرمو کیږي ، بیا وسوسه وکره ده ته

الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿١٢٠﴾

شیطان وي ویل ای ادم ! ایا زه ونه ښیم تا ته درخته دهمیشه پاته کیدو او بادشاهي چې نه زړېږي

فَاَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ

بیا دواړو وخوړه دهغه څخه بیا ښکاره سو دوی ته د دوی عورتونه او شروع سول چې ترل یې په ځان پوری

وَّرَقِ الْجَنَّةِ ۫ وَعَصٰٓى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿١٢١﴾ ثُمَّ اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ

پاڼې دجنت او قصور وکی ادم ﷺ دخپل رب په حکم کی بیا بی لاری سو ، بیا ونمانځی دی رب دده

فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿١٢٢﴾ قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيْعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

بیا متوجه سو ده ته او په لاریې را وستی ، وي فرمایل کښته سی ددې ځای څخه دواړه په جمع اوسی ځینې

عَدُوٌّ ۚ فَاِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ مِّنِّيْ هُدًى ۥ فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ

دځینو دښمنان بیا که راسی تاسی ته زما د طرف څخه هدایت ، نو څوک چې ولاړی زما په هدایت باندې ، نو نه به

وَلَا يَشْقٰى ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِيْ فَاِنَّ لَهٗ مَعِيْشَةً ضَنْكًا

بې لارې سی او نه به په تکلیف کی ولوېږي، او څوک چې مخ واړوی زما دیاد و څخه نو ده ته به ورسیږی گذران تنگ

وَّنَحْشُرُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَعْمٰى ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيْٓ اَعْمٰى وَقَدْ

اورا به ولو مونږ دی په ورځ دقیامت روند ، دی به وایي ای ربه ! ولی دی پورته کړم زه روند او

كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿١٢٥﴾ قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ الْيَوْمَ

زه خو مه لیدونکی ، وبه فرمایي هم دغسی رسیدلی وو تاته زمونږ ایتونه نو تا هغه هیر کړل ، او دغه شان

تُنْسٰى ﴿١٢٦﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ

نن تا مونږ هیر وو ، او دغه شان بدله ورکوو مونږ هغه چاته کوم چې دحد څخه وزی ، او یقین نه کوی دخپل رب په

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿۱۲۷﴾

ایتونو ، او داخرت عذاب سخت دی او ډیر باقی پاته کیدونکی دی .

تفسیر : او ددی څخه (ډیره زمانه) مخکی مونږ ادم (ﷺ) ته یوحکم ورکړی وو (چی بیان یی مخکی راغی) نو دده څخه غفلت (اوبی احتیاطی) وسوه اومونږ (ددی حکم په اهتمام کی) په ده کی پوخوالی (اوثابت قدمی) نکړه پیدا او (ددی اجمال تفصیل که غواړی نو) هغه وخت یادکړه کله چی مونږ ملائکو ته ارشاد وفرمایی چی دادم (ﷺ) په مخکی سجده (دتحیه) وکی ټولوسجده وکړه بغیر دابلیس څخه (چی) هغه انکار وکی بیامونږ (ادم ﷺ ته) وویل چی ای ادم (ﷺ یاد ساته) دی بیشکه ستا اوستا دبی بی (په دی وجه) دښمن دی (چی ستاسی په معامله کی مردود سو) نو هسی نه تاسی دواړه دجنت څخه ونه باسی (یعنی دده په وینا داسی کارونه کړی چی دجنت څخه ووزی) چی په مصیبت (دکسب او د) معاش کی ولویږي (اوستا سره ستابی بی هم مګر زیاته برخه دمصیبت به پرتا ولویږي او) دلته په جنت کی خوستاسی دپاره دا (ارام) دی چی تاسی به نه وږی سی (چی تکلیف به وی درته یابه یی په تدبیر کولوکی وخت واوړی اوپریشانه به سی) او نه به لغړسی (چی جامی به درته ونه رسیږي یاداچی دحاجت څخه وروسته ډیر وخت وروسته به درکړل سی چی تاسی ته به تکلیف ورسیږی) او نه به دلته تږی سی (چی اوبه به نه درکول کیږی یاداچی وروسته درکول کیږی چی تاسی ته به تکلیف رسیږی) او نه به په غرمو ګرم سی (ځکه چی په جنت کی غرمه نسته اومکان هم دهرقسم پناه دی په خلاف دهغه حالت څخه چی که دجنت څخه ووزی دنیاته ولاړسی نودا ټول مصیبتونه به درته پیښیږی په دی وجه داهرڅه په نظرکی وساتی ښه هوښیار اوبیدار اوسیږی) بیا دوی ته شیطان (دوکه ورکړه) ویی غولول وي ویل ورته چی ای ادم (ﷺ) زه تاته داسی درخته ونه ښیم چی (خاصیت په کښی) دهمیشه پاته کیدو وی (چی دهغه په خوړلو سره به همیشه ښاد اوباد اوسی) او داسی بادشاهي چی هیڅکله کمزوری نه په کښی راځی نو (دده په غولولو سره) دواړو دهغه درختی څخه خوراك وکی (دکومی څخه چی دوی منع سوی وه او شیطان ورته دهمیشه پاته کیدو درخته وویل اووي غولول) نو (ددی دخوراك سره) ددواړو ستر یوبل ته ښکاره سو او (دخپل بدن دپټولو دپاره) دواړو خپل پرځان (بدن) سربیره دجنت (ددرختو) پاڼی پوری کول شروع کړل او دادم (ﷺ) څخه دخپل رب قصور وسو نو (په جنت کی دهمیشه پاته کیدو دمقصد حاصلولوپه باره کی) په غلطی کی ولویدی بیا (کله چی دوی معذرت پیش کی نو) د دوی رب (زیات مقبول جوړ کړل نو پر دوی باندی یی (په مهربانی سره) توجه وفرمایله اوپه (سیده) لار یی همیشه قائم پاته کړل (چی بیا ورڅخه داسی خطا ونه سوه اوکله چی یی درخته وخوړه نو) الله ﷻ وفرمایل چی دواړه په جمع دجنت څخه کښته سی (اودنیاته) په داسی حالت کی ولاړسی چی (ستاسی په اولادکی) یوبل

دښمن وی بیاکه تاسی ته زما دطرف څخه څه (ذریعه د) هدایت (یعنی رسول یاکتاب) در ورسیږی نو (په
تاسی کی) کوم سړی چی زماددی هدایت تابعداری وکړی ، نوهغه خوبه نه (په دنیاکی) گمراه سی اونه به
(په اخرت کی) بدبخته سی اوکوم سړی چی زما ددی نصیحت څخه مخ واړوی نودهغه دپاره (دقیامت
څخه مخکی په دنیا اوپه قبرکی) دتنگسیا ژوندبه وی او دقیامت په ورځ به مونږدی ړوند (دقبر څخه
پورته کړو دی به (په تعجب سره) ووایی چی ای زماربه تازه ړوند ولی راپورته کړم زه خو (په دنیاکی
سترگو والاوم؟ (زما څخه به داسی څه خطاسوی وی) ارشاد به وسی چی (داځنگه چی تاته سزا درکړل
سوه) دغسی (ستا څخه عمل سوی ووهغه داچی) تاته (دپیغمبرانو علیهم السلام او عالمانو په واسطه
سره) زمونږ احکام دررسیدلی وه . بیاتا دهغوهیڅ پروا ونه کړه او دغسی نن ستاڅه پروانه سی کیدی
(لکه چی تا پر وا نه وه کړی) او (لکه ځنگه چی داسزا مناسبه دعمل ورکول سوه) دغه ډول (هر) سړی ته
مونږ (دعمل مناسبه) سزابه ورکړوکوم چی دحد (داطاعت) څخه تیرسی او دخپل رب په ایتونو باندی
ایمان رانه وړی اوواقعی داخرت عذاب ډیر سخت اوډیر پاته کیدونکی دی (اعاذنا الله منه) چی ددی
هیڅ ځای انتها نسته نو ددی څخه دځان ساتلو اهتمام په کار دی)

(معلومات اومسئلي)

(دآیتونو تړون) ددی ځای څخه دحضرت ادم ؑ قصه بیانیږی دا قصه ددی څخه مخکی په سورة بقره
او اعراف کی بیاڅه په سورةِ حجر اوکهف کی تیره سوي ده او په اخرکی به په سورةِ صٓ کی راسی په هر
موقع باندی ددی قصی مناسب اجزاء سره دمتعلقو هدایتونو بیان سوي دی په دی مقام ددی قصی
مناسبت دتیرو ایتونو سره مفسرینوحضراتوپه مختلفو اړخونوسره بیان کړي دی په دی کی دټولوڅخه
زیاته واضحه اوبی غباره خبره دا ده چی په تیرو آیتونوکی دا ارشاد راغلی دی ، كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ
أَنۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ : په دی کی نبی کریم ﷺ ته خطاب کوی فرمایی چی ستا دنبوت اورسالت داثبات اوستا
امت ته دخبرولو دپاره مونږ دتیرو پیغمبرانو حالات او واقعات تاته بیانوو چی په دی کی دحضرت
موسیٰ ؑ قصه په تفصیل سره ددی ایت څخه مخکی بیان سوي ده او په دی ټولو قصوکی دټولو څخه
مخکی او په ځینو حیثیتونو سره دټولو څخه مهمه دحضرت ادم ؑ قصه ده ددی ځای څخه یی داشروع
کړي ده چی په دی کی امت محمدی ﷺ په دی پوهول دی چی شیطان دټولو انسانانو پخوانی دښمن دی،
ده دټولوڅخه اول ستاسی پر پلار اومورخپله دښمنی وچلوله او دقسم قسم حیلو بهانو اوهمدردانه
مشورو جال یی خپور کړی هغوی یی په یوه خطاکی اخته کړل چی دهغه په نتیجه کی ورته دجنت څخه
دکښته کیدو حکم جاری سو او دجنت جامی ورڅخه لیری سوی بیا د الله ﷻ طرف ته یی رجوع وکړه او
دخطا معافی ورته وسوه ، ده ته درسالت اونبوت لوړ مقام ورکړل سو. په دی وجه ټولو انسانانو ته
دشیطان دلمس څخه بی فکره کیدل نه دی په کار ددین داحکامو په معامله کی دشیطانی وسوسو

او حیلو څخه دځان ساتلو لوی اهتمام کول په کار دي.

وَلَقَدْ عَهِدْنَا إِلَىٰ آدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْمًا : په دې کې لفظ : دَعَهِدْنَا دَامَرْنَا یا وَصَّیْنَا: په معنٰی کی دی (بحرِ محیط) مطلب دا دی چی مونږ ددی واقعی متعلق ستا څخه مخکی حضرت ادم ﷺ ته یو وصیت کړی وو یعنی تاکیدی حکم مو ورته کړی وو (چی ذکر یی په سورة بقره وغیره کی هم راغلی دی اومخکی هم څینی را روان دی چی یوه معینه درخته یی ورته ښوولی وه چی دا درخته یعنی ددی میوه یاګلونه یانور اجزاء ونه خوری او دی ته مه نژدی کیږي. باقی دټول جنت باغونه اونعمتونه ستاسی دپاره ازاد دی استعمالوی یی اولکه چی مخ ته راځی دایی ورته هم ښوولی وه چی ابلیس ستاسی دښمن دی. دده په لمس کی رانه سی څکه چی ستاسی دپاره به مصیبت جوړسی مګر دحضرت ادم ﷺ څخه هیر سول او په ده کی مونږ دارادی پوخوالی نه کی پیدا . دلته دوه لفظونه راغلی دی یو نِسْیَانْ دوهم عَزْم دنسیان معنٰی مشهوره ده هیریدل په غفلت کی لویدل او دعزم لفظی معنٰی دیوکاردپاره خپله اراده مضبوطول. ددی دواړولفظونو څخه دلته څه مراد دی په دی دپوهیدو څخه مخکی اول داپیژندل ضروری دی چی حضرت ادم ﷺ دالله ﷻ په اولو العزم پیغمبرانوکی دی اوپیغمبران ټول دګناهونو څخه معصوم وی.

په اولنی لفظ کی په ادم ﷺ باندی دهیری دراتلو ذکردی اوچونکه هیریدل غیراختیاری کاردی په دی وجه داپه ګناه کی نه سی شمار کیدی لکه په صحیح حدیث کی دی، رُفِعَ عَنْ اُمَّتِی الْخَطَاُ وَالنِّسْيَانُ: یعنی زما امت ته دخطاکیدو اوهیریدو ګناه معاف سوي ده اودقرآن کریم ارشاددی، لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا: یعنی الله ﷻ یوه سړی ته داسی حکم نه ورکوی کوم چی دده داختیار اوقدرت څخه بهروی. لیکن دا هم ټولوته معلومه ده چی الله ﷻ په دی دنیاکی داسی اسباب هم پیدا کړي دی چی که دغه په پوره احتیاط سره استعمال سی نوانسان دهیریدو او دخطا څخه محفوظ کیدی سی. انبیاء علیهم السلام چونکی دالله ﷻ خاص مقربین دی د دوی څخه په دومره خبره هم مؤاخذه کیدی سی چی دوی ددغو اختیاری اسبابو څخه ولی کار وانه خستی دکوموپه ذریعه چی ددی هیریدو څخه محفوظ کیدی سو. ډیر واره دحکومت دیو وزیر دپاره هغه کار دمواخذی قابل ګڼل کیږي کوم چی دعامو نوکرانو دپاره دانعام قابل وی دا حضرت جنید بغدادی رحمه الله فرمایلی دی : حَسَنَاتُ الْاَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ : یعنی دامت دصالحانو اونیکو خلقو ډیر نیك عملونه د ډیرو مقربانو ددربارِ الهی په حق کی ګناهونه اوخطاګانی ګڼل کیږي.

دحضرت ادم ﷺ دا واقعه اول خو دنبوت اورسالت څخه مخکی ده چی په دغه کی دانبیاؤ علیهم السلام څخه دڅه ګناه کیدل داهل سنت دځینو عالمانو په نزد دعصمت څخه خلاف نه دی. دوهم په حقیقت کی دا هیره ده کومه چی ګناه نه ده . مګر دحضرت ادم ﷺ دلوړ مقام اوالله ﷻ ته دنزدیکت په لحاظ سره دایی هم دده په حق کی یوه خطا وګڼله چی دالله ﷻ دطرف څخه ورته زورنه وسوه او دده دپوهولو دپاره یی داخطا د عصیان په لفظ سره تعبیر کړه لکه چی مخته راځی.

دوهم لفظ دعزم دی اوپه دی آیت کی دافرمایی چی په حضرت ادم ﷺ کی عزم نه سو پیدا ، لور معلوم
سوي ده چی دعزم معنیٰ دیو کار په اراده باندی په مضبوطی سره قائم پاته کیدل دی . حضرت ادم ﷺ د
الله ﷻ دحکم دتعمیل مکمله فیصله اوقصدکړی وو . مګردشیطانی وسوسوپه وجه ددی قصد په
مضبوطی کی فرق راغی اوهیری قائم پاته نه کړی باندی . والله تعالی اعلم

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ : دا دهغه وعدی لنډخه بیان دی کوم چی الله ﷻ دحضرت ادم ﷺ څخه اخستی وو . په
دی کی دحضرت ادم ﷺ دپیدائش څخه وروسته ټولو ملائکو ته او د دوی په ضمن کی ابلیس ته هم
ځکه چی تر دغه وخته پوری ابلیس په جنت کی دملائکو سره اوسیدی دا حکم ورکی چی ټول په جمع
حضرت ادم ﷺ ته سجده وکی ټولو ملائکو سجده وکړه مګر ابلیس انکار وکی چی وجه یی په بل ایت
کی دهغه تکبر وو چی زه د اورڅخه جوړیم دی دخاوری څخه اواورپه نسبت دخاوری افضل اواشرف دی
زه ده ته سجده څنګه وکړم؟ په دی خوابلیس ملعون سو او دجنت څخه وایستل سو دحضرت ادم اوحوا
علیهما السلام دپاره دجنت دټولو باغونو اوټولو نعمتونو دروازی خوخلاصی وی اودهر شی داستعمال
اجازه ورته ورکړل سوی وو . صرف دیوی معینی درختی متعلق ورته دا هدایت وسوچی ددی میوه وغیره
به نه خوری او دی ته به نژدی هم نه ورځی دامضمون هم دسورة بقره اواعراف په ایتونوکی راغلی دی .
دلته ددی دذکر کولو پرځای الله ﷻ خپل هغه ارشاد ذکر کړي دی کوم چی ددی وعدی دمحفوظ ساتلو
او پردی دقائم پاته کیدو په سلسله کی فرمایی چی وګوره شیطان ابلیس لکه څنګه چی دسجدی
دواقعی په وخت کی ظاهره سوه ستاسی د دواړو یعنی حضرت ادم اوحواء علیهما السلام دښمن دی
هسی نه چی هغه په څه مکر اوحیله سره دوکه درکړی په تاسی ددی وعدی خلاف ورزی وکړی چی نتیجه
به یی داسی چی تاسی به دجنت څخه ویستل سی ، فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقٰى : یعنی دا شیطان تاسی
دجنت څخه ونه باسی چی ددی په وجه به تاسی په مصیبت اومشقت کی ولویږي . لفظ دتشقیٰ دشقاوت
څخه مشتق دی . دالفظ د دوو معانیو دپاره استعمالیږی یوه بدبختی داخرت دوهمه بخدبختی ددنیا
یعنی جسمانی مشقت اومصیبت دلته دا دوهمه معنیٰ مراد کیدی سی ځکه چی په اولنی معنیٰ کی
دیو پیغمبر دپاره خوڅه کوی چی دنیك مسلمان دپاره هم دالفظ نه سی ویل کیدی په دی وجه فراء ددی
بدبختی تفسیر داسی کړي دی چی ، هُوَاَنْ يَّاكُلَ مِنْ كَدِّ يَدَيْهِ : یعنی دشقاوت څخه دلته مراد دادی چی
دخپلولاسوپه محنت به ځانته خوراك حاصلوی (قرطبی)
اودلته په قرینه دمقام باندی هم د دوهمی معنی دپاره شاهدی ده ، ځکه چی ددی څخه په وروسته آیت
کی دجنت دنعمتونوڅخه یی دهغوڅلورو نعمتونو ذکرفرمایلی دی کوم چی هریو انسان ته دژوند دپاره
بنیادی حیثیت لری او دژوند په ضرورتونوکی دټولو څخه اهم دی یعنی خوړل چښل جامه اوکور . په دی
آیت کی یی دا ارشاد فرمایلی دی چی دا ټول نعمتونه په جنت کی خو بی دیوکارکسب محنت اومشقت

ځغه رسیږي . په دې کې اشاره ده چې ددې ځاې ځغه که ووتلاست نودا نعمتونه به درځغه واخستل سي او شاید چې دې ته داشارې کولو دپاره یې دلته دجنت دلویو لویو نعمتونو ذکر ونه کې بلکې دهغو ذکر یې وکې پرکومو چې دانسان دژوند بنیاد ولاړ دی او ددې ځغه یې وبېرول چې هسې نه دشیطان په لمس کې راسی او دجنت ځغه ویستل سی او دا ټول نعمتونه درځغه واخستل سی اوبیاپه مځکه کې دژوند داضرورتونه په محنت اومشقت سره حاصلول درپه غاړه سی دامطلب دلفظ دَ فَتَشْقٰی دی کوم چې جمهورو مفسرینو لیکلی دی امام قرطبی رحمه الله دلته دا ذکرهم کړي دی چې حضرت ادم علیه السلام کله مځکې ته تشریف راوړی نوحضرت جبرائیل امین علیه السلام دجنت ځغه څه دغنمو او وریجو وغیره دانې راوړې ورې کړې چې دا په مځکه کې وکره . بیاچې کله ددې بوټی وسی او دانې ونیسی نو ویې ریبه او دغه دانې بیا اوړه کړه ډوډی ورځغه پخوه او دا ټولې طریقې یې حضرت ادم علیه السلام ته وښوولې . ددغه مطابق حضرت ادم علیه السلام ډوډی پخه کړه او دخوراك دپاره کښېنستل چې ډوډی دحضرت ادم علیه السلام دلاس ځغه وغورځیده او په رغړیدو رغړیدو دغره بیخ ته ورسیده حضرت ادم علیه السلام ورپسی روان وو او په محنت سره یې هغه ډوډی بیرته راوړه نو جبرائیل امین ورته وویل چې ای ادم علیه السلام ستا اوستا داولاد رزق به په مځکه هم دغسی په محنت سره حاصلیږي (قرطبی)

(دښځې ضروری نفقه دسړی پر ذمه ده)

په دې مقام باندې دایت په سر کې حق تعالٰی دحضرت ادم علیه السلام سره حواء اناعلیها السلام هم په خطاب کې شریکه کړه عَدُوٌّلَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَايُخْرِجَنَّكُمَامِنَ الْجَنَّةِ : په دې کې یې ښوولې دی چې شیطان هم ستا دښمن دی اوستا دښځې هم دا چې داسې ونه سی چې دی تاسی دجنت ځغه وباسی ، مګر دآیت په اخرکې یې لفظ دَ تشقٰی مفرد استعمال کې ښځه یې په کښې شریکه نه کړه کنه نو په مقتضا دمقام فَتَشْقَیَا به یې ویلی وای . امام قرطبی ددې ځغه دامسئله را ایستلې ده چې دښځې دژوند ضرورتونه دسړي پر ذمه دي ددې په حاصلولو کې چې کوم محنت اومشقت وی دهغه یوازې سړی ذمه واردی . په دې وجه فَتَشْقٰی یې په صیغه دمفرد راوړی او اشاره یې وکړه چې که مځکې ته راکښته سی نو دژوند ددې ضرورتونو په حاصلولوکې چې څه محنت او مشقت کول وی هغه به په حضرت ادم علیه السلام باندې وی ځکه چې دحضرت حواء علیها السلام نفقه او دژوند دضروتونو حاصلولو ذمه وار دی دی .

(واجب نفقه صرف ځلور شیان دی)

قرطبی رحمه الله فرمایی چې په دې آیت کې مونږ ته دا وښوول سوه چې دښځې کومه نفقه دسړی پرذمه واجب ده هغه صرف ځلورشیان دی ، خوړل ، چښل ، جامه ، او د اوسیدو کور ، ددې ځغه ماسوا چې خاوند ښځې ته څه ورکوی یاپه هغه څه خرڅ کوی دغه تبرع اواحسان دی ، واجب اولازم نه دی . ددې ځغه دا هم معلومه سوه چې دښځې ځغه علاوه دچانفقه چې شریعت پرچا لازمه کړي ده په دې کې هم

خلور شیان دده پر ذمه واجب وی لکه دمور اوپلار نفقه د اولاد پرذمه ده ، هرکله چی هغوی محتاج اومعذوره وی او نور داسی شیان چی تفصیل یی دفقه په کتابونوکی ذکری دی .

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ : په جنت کی دژوند دضرورت داخلورشیان چی بنیادی حیثیت لری ، بی غوښتو بی مشقته رسیږي ، او په جنت کی دنه وږی کیدو ځخه دی داشك نه سی کولای چی تر ځو پوری لوږه نه وی نو ترهغه خو به دخوراك خوند هم نه وی . دغه ډول چی تنده نه وی نو دیخو اوبو خوند او مزه نه حاصلیږي ، وجه دا ده چی په جنت کی دلوږی اوتندی نه کیدو مطلب دا دی چی دلوږی اوتندی تکلیف به نه وی چی گوندی دلوږی په وخت کی دخوراك او تندی په وخت کی داوبو نه رسیدو یا وروسته رسیدو په وجه چی وی بلکی هر هغه شی کوم چی دده زړه غواړی فوراً به حاضر اوموجود وی .

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ الشَّيْطَانُ : څخه تر ، وَعَصَىٰ آدَمُ رَبَّهُ فَغَوَىٰ : پوری په دی آیت کی چی کوم داسوالات پیدا کیږی چی کله حق تعالی حضرت ادم اوحواء علیهما السلام دیو خاصی درختی دخوړلو او دی ته دنژدی کیدو څخه هم منع کړی وو اوپه دی سر بیره یی زیات په دی هم پوه کړی وو چی شیطان ستاسی د دواړو دښمن دی دده په مکر اوفریب کی رانه سی ځان ورڅخه ساتی هسی نه چی دی تاسی دجنت څخه وباسی . ددومره واضحو دلیلونو اوهدایتونو څخه وروسته هم دومره دلوی مرتبی پیغمبر دشیطان په لمس کی څنگه راتلی سي؟ او دا چی دا خو ښکاره نافرمانی اوگناه ده حضرت ادم ﷺ د الله ﷻ نبی اورسول دی د ده څخه داگناه څنگه وسوه؟ کله چی دجمهور امت په دی باندی اتفاق دی چی انبیاء علیهم السلام دهری لویی اوکوچنی گناه څخه معصوم دی . ددی ټولو سوالونو جوابونه دسورة بقره په تفسیر کی تیر سوي دی هلته یی وگوری او په دی آیت کی چی کوم دحضرت ادم ﷺ په نسبت په صافو الفاظوکی عصیٰ اوبیا غویٰ فرمایل سوي دی ددی وجه هم په سورة بقره کی داسی بیان سوي ده چی که څه هم دحضرت ادم ﷺ دا عمل دشرعی قانون په وجه سره په گناه کی دا خل نه وو . لیکن حضرت ادم ﷺ دالله ﷻ رسول او دخاصو مقربینو څخه دی په دی وجه دده ادنیٰ خطایی هم دگناه په درنو لفظونو سره تعبیر کړه اوزورنه یی ورلره ورکړه او لفظ دغویٰ د دوو معانیو دپاره استعمالیږی یوه معنیٰ دژوند دتریخیدلو او دعیش خرابیدلو ده دوهمه معنیٰ یی دگمراهي یاغافله کیدو ده دتفسیر امامانو قشیری رحمه الله او قرطبی رحمه الله وغیره دلته دلفظ دغویٰ اوله معنیٰ اختیار کړي ده اومراد دا دی چی حضرت ادم ﷺ ته چی کرم عیش په جنت کی حاصل وو هغه ختم سو ژوند یی تریخ سو .

(دانبیاء علیهم السلام په باره کي یو اهم هدایت د دوی د ادب او احترام حفاظت)

قاضی ابوبکر ابن عربی رحمه الله په احکام القران کی په ذکرسوی ایت چی کوم الفاظ دعصیٰ وغیره دحضرت ادم ﷺ په باره کی راغلی دی په دی سلسله کی دوی یوه مهمه خبره ارشاد فرمایی هغه د دوی په الفاظو کی دا ده .

(لَا يَجُوزُ لَاحَدٍ مِنَّا الْيَوْمَ أَنْ يَخْبِرَ بِذَلِكَ عَنْ آدَمَ إِلاَّ إِذَا ذَكَرْنَاهُ فِي أَثْنَاءِ قَوْلِهِ تَعَالَى عَنْهُ أَوْ قَوْلِ نَبِيِّهِ فَأَمَّا أَنْ يَبْتَدِئَ ذَلِكَ مِنْ قِبَلِ نَفْسِهِ فَلَيْسَ بِجَائِزٍ لَنَا فِي آبَائِنَا الْاَدْنَيْنَ إِلَيْنَا الْمُمَاثِلِيْنَ لَنَا فَكَيْفَ فِي أَبِيْنَا الْاَقْدَمِ الْاَعْظَمِ الْاَكْرَمِ النَّبِيِّ الْمُقَدَّمِ الَّذِي عَذَرَهُ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى وَتَابَ عَلَيْهِ وَغَفَرَ لَهُ)

(دا دقرطبي څخه نقل سوي دي او په بحر محيط کې هم دا رنګه دي)
په مونږ کې دچا دپاره نن دا جائز نه دي چې دحضرت ادم ﷺ طرف ته دعصيان دا لفظ منسوب کړي بغير دهغه څخه چې په قران کريم کې ددې ايت يا حديث نبوي په ضمن کې راغلي دي هغه بيان کړي ليکن دا چې دخپل طرف څخه دداسې لفظ نسبت کول مونږ ته دخپلو نژدې پلارانو اونيکونو دپاره هم جائزنه دي بيا زمونږ دټولو څخه اولنى پلار کوم چې په هرحيثيت سره زمونږ دپلارانو څخه مخکنى اعظم او اکرم دي او د الله ﷻ معزز پيغمبر دي چې عذر يې الله ﷻ قبول کې او دمعافي اعلان يې وکې دهغوی دپاره په هيڅ حالت کې جائز نه دي.
په دې وجه قشيري رحمه الله اوابونصر فرمايي چې ددې لفظ په وجه سره حضرت ادم ﷺ ته عاصي اوغاوی ويل جائزنه دي او په قران کريم کې چې کوم خاى ديونبي يارسول په باره کې داسې الفاظ راغلي دي ياخو دغه خلاف اولې کارونه دي يادنبوت څخه مخکې دي . په دې وجه دقراني ايتونو او دحديث درو ايتونو په ضمن کې خو ددغو ذکر جائز دي ليکن دخپل طرف څخه د دوی په شان کې دداسې الفاظو داستعمال اجازه نسته (قرطبي)
اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا: يعنې کښته سي دجنت څخه دواړه داخطاب دحضرت ادم ﷺ اوابليس دواړو دپاره هم کيدې سي . اوپه دې صورت کې دبَعْضُكُم لِبَعْضٍ عَدُوٌّ: مضمون واضح دي چې دنياته ولاړسی هم به دشيطان دښمنی جاري وي اوکه داسې وويل سي چې شيطان خو ددې واقعې څخه مخکې دجنت څخه ايستل سوی وو اوس دې په دې خطاب کې شريکول بعيده خبره ده نو دوهم احتمال دا هم دي چې دا خطاب حضرت ادم اوحواء عليهما السلام دواړو ته دي . نو په دې صورت کې د دوی په مينځ کې ددښمنۍ څخه مراد د دوی داولاد په مينځ کې دښمنی بيانول دي اوظاهره خبره ده چې د اولاد په مينځ کې دښمنی دمور اوپلار ژوند هم تريخ کړي .
وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي : دلته دذکر څخه مراد قران کريم هم کيدې سي او دنبي کريم ﷺ ذات مبارك هم لکه چې په نورو ايتونو کې . ذِكْرًا رَسُولًا : راغلي دي د دواړو مطلب دا دي چې کوم سړي دقران څخه يا درسول څخه مخ واړوي دهغه انجام دا دي چې ، فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى : يعنې دده ژوند به تنګ وي اوپه قيامت کې به دې ړوند کړي پورته سی اول عذاب به په دنيا کې ده ته ورکول کيږي او دوهم يعنې دړنديدلو عذاب به په قيامت کې وي .

(دکافر او دبدکار دژوند په دنیا کې دتریخ اوتنګوالي حقیقت)

دلته داسوال کیدی سی چی په دنیا کی دژوند تنګیدل خودکافرانو اوفاجرانودپاره مخوص نه دی مومنانو صالحانو ته هم پیښیږی بلکی انبیاء علیهم السلام خو دټولو څخه زیاتی سختی اومصیبتونه په دنیاکی برداشت کوی په صحیح بخاری او دحدیثو په ټولو کتابونوکی په روایت دسعد ﷺ وغیره داحدیث نقل دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی ددنیا بلاګانی اومصیبتونه دټولو څخه زیات په انبیاوو علیهم السلام باندی سخت وی د دوی څخه وروسته چی څوك په کومه درجه کی صالح اوولی دی په دغه مناسبت سره ده ته داتکلیفونه رسیږی ، ددی په مقابله کی په عام طور سره کافران اوفاجران خوشحاله او په عیش اوعشرت کی لیدل کیږی نو بیا دا دقران ارشاد چی د دوی ژوندبه تنګ وی داخرت دپاره خوکیدی سی په دنیاکی دلیدو څخه خلاف معلومیږي .

ددی صفا اوبی غباره جواب خودا دی چی دلته ددنیا دعذاب څخه دقبر عذاب مراد دی چی په قبرکی به د دوی ژوند تنګ سی په خپله قبرکوم چی به ددوی مسکن وی هغه به دوی دومره وزوری چی پښتی به یی ماتی سی لکه چی په ځینو احادیثوکی ددی توضیح دی اوپه مسند بزاز کی په سند جیدسره دحضرت ابو هریره ﷺ څخه داحدیث نقل دی چی نبی کریم ﷺ په خپله ددی ایت دلفظ مَعِيْشَةً ضَنْكًا په تفسیرکی دا فرمایلی دی چی ددی څخه مراد دقبر عالم دی (مظهری)

اوحضرت سعید بن جبیر ﷺ دمعیشت دتنګی دا مطلب هم بیان کړي دی چی په دوی کی به دقناعت وصف نه وی او ددنیا حرص به یی زیات سی (مظهری) ۱

چی نتیجه به یی دا وی چی دده سره که ددنیا هرخومره مال او دولت جمع سی خو هیڅکله به ورته دزړه سکون نصیب نه وی همیشه دمال زیاتولو فکر او په دی کی دنقصان بیره به دی بی ارامه ساتی او دا خبره په عامو مالدارانوکی معلومه ده اولیدل کیږي . ددی مطلب دا وی چی ددی خلکو سره دراحت سامان خو ډیر جمع وی مګر دڅه نوم چی راحت دی هغه به ورته نصیب نه وی ، ځکه چې دغه بغیر دزړه دسکون او اطمینان څخه نه حاصلیږي .

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّأُولِي

ایانو دوی نه دی پوه کړل سوی په دی خبره چی څومره هلاك کړی دی مونږ د دوی څخه مخکې جماعتونه چی داخلق ګرځی دهغوی په ځایونوکی ، په دی کی نښانی (دعبرت) دی دعقل لروونکی دپاره .

النُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

او که نه وی یوه خبره چی مخکې سوی ده درب دطرف څخه نو خامخا به عذاب په دوی راغلی وای او که نه وای

فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

وعده مقررسوی ، پس ته صبرکوه په هغه چی دوی وایی اوبیانوه پاکی دخپل رب مخکښ دختلو دلمرڅخه

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ

او مخکښ دلویدلوڅخه یی ، او په څه وختونوکی دشپی تسبیح وایه او د ورځی په طرفونو کی شاید چی

تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

ته راضی سی ، اومه اوږدوه سترګی خپلی هغه شیانو ته چی دفائدی دپاره ورکړی دی مونږقسم قسم خلقوته

زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ۗ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٣١﴾

ددوی څخه ښائست ددنیا په ژوندکی چی ازمائش وکی د دوی په دی سره ، او ستا درب ورکړی رزق غوره دی

وَاْمُرْ اَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا ۖ نَحْنُ

او ډیرباقی پاته کیدونکی دی،اوحکم کوه خپل کورروالاؤته دلمانځه اوپه خپله هم قائم اوسه په دی ،مونږنه غوارو

نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿١٣٢﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ

تاڅخه رزق،مونږرزق درکووتاته اوانجام ښه دی دپرهیزګاری،اوخلق وایی دی ولی نه راوړی مونږته څه نښانه دخپل

اَوَلَمْ تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِى الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿١٣٣﴾ وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ

رب څخه ، آیانه دی راغلی دوی ته نښانی په تیرکتابونو کی ، او که مونږ هلاکولی دوی

بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

په څه آفت باندی ددې څخه مخکښ نو ویل به یی ای ربه ! ولی را ونه لیږی تا مونږته پیغام رسوونکی چی مونږ

اٰيٰتِكَ مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ

تابعداری کړی وای ستادکتاب دذلیل اورسوا کیدو څخه مخکښ ، ته ووایه هریو انتظار کوی نو تاسی هم انتظار

فَسَتَعۡلَمُوۡنَ مَنۡ اَصۡحٰبُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهۡتَدٰى ﴿۱۳۵﴾ ع ۸ / ۱۷

کوی ، پس ژر به پوه سی چی څوك دی دسیده لاری والا او چا لا بیدا کړه.

لنډتفسیر (دا اعتراض کوونکی چی په مخه باندی منع کوی نو) آیادی خلگوته (تراوسه) په دی هم هدایت ونه سو چی مونږ د دوی څخه مخکی ډیری ډلی (ددی منع کولو په سبب په عذاب سره) هلاکی کړي دی چی دهغوی (دځینو) داوسیدو پرځایونو باندی داخلګ هم گرځی (راګرځی څکه چی دمکی څخه شام ته په تلو کی دځینو دغو قومونو مکانات راتلل) په دی (ذکرسوی کار) کی خو دپوهانو خلگو (دپوهی دپاره (کافی) دلیلونه (دمخ اړولو دبدو نتیجو) موجود دی او (پر دوی چی فوراً عذاب نه راځی او ددی څخه دوی ته دخپل مذهب دنه بدوالی شبهه ده نو ددی حقیقت دا دی چی) که ستا درب دطرف څخه یوه خبره دمخکی څخه فرمایل سوی نه وی (هغه دا چی دځینی مصلحتونو په وجه دوی ته مهلت ورکړل سی) او (دعذاب دپاره) یو میعاد معین نه وی (چی هغه دقیامت ورځ ده) نو (د دوی دکفر او اعراض په مقتضاء به) عذاب په لازمی طور راغلی وای (لنډه دا چی کفر خو مقتضی دعذاب دی لیکن دیو مانع په وجه سره صبرکول کیږی نو د دوی دغه شبهه او په فوری عذاب نه راتلو سره دخپلو ځانونوپه حق باندی دکیدو دلیل نیول غلط دی غرض دا دی چی په مهلت سره سستی نه ده په کار) نو (هرکله چی دعذاب راتلل یقینی دی نو) ته د دوی په (کفریاتو) خبرو باندی صبرکوه (او د الله ﷻ دپاره چی پردوی تاته کومه غصه راځی اوپر دوی دعذاب نه راتلو په وجه تاته کومه پریشانی رسیږی ته دغه پریشانی پریږده) او دخپل رب دحمد (اوثناء) سره (دهغه) تسبیح (اوپاکی) کوه (په دی کی لمونځ هم راغلی) دلمر ختو څخه مخکی (مثلا دسهار لمونځ) او دلمر لویدو څخه مخکی (مثلاً دماپښین او ماځیګر لمونځ) او دشپی په وختونو کی (هم) کوه (مثلا دماښام ماخستن اوماځیګر لمونځ) او دورځی په اول اواخرکی (دتسبیح کولو داهتمام دپاره مکرر سو) ددی دپاره چی (تاته ثواب درکړل سی) ته (په دی سره) خوشحاله سی (مطلب دا دی چی ته خپله توجه دمعبود حقیقی طرف ته کړه دخلګو فکرمه کوه) اوته هیڅکله هغه شیانوته سترګی مه اړوه مه ګوره ورته (لکه چی تراوسه دی ورته نه دی کتلی) په کومو سره چی مونږ دکفارو مختلفو ډلوته (مثلا یهودو نصاراؤ اومشرکانو ته) د دوی دازمائش دپاره نفع ورکړي ده چی دغه (محض) ددنیا دژوند ښائست دی (مطلب نوروته اورول دی چی کله دمعصوم نبی دپاره دا ممانعت دی چی په هغه کی یی احتمال هم نسته نو غیر معصوم لره به ددی اهتمام ولی ضروری نه وی او ازمائش دا چی څوك احسان منی اوڅوك سرکښی کوی) اوستا درب بخشش (کوم چی په اخرت کی به درکول کیږی) په ډیرو درجو (ددی څخه) ښه اوقائم پاته کیدونکی دی (چی هیڅکله به نه فنا کیږی خلاصه دخبری دا سوه چی نه د دوی دمخ اړولو طرف ته نظرکول یعنی کتل په کار دی او نه د دوی سامان دعیش ته کتل په کار دی

ځکه چې دتولو انجام عذاب دی، اوخپلو متعلقینوته (یعني دکور خلگوته یامومنانوته) هم دلمونځ حکم کړه اوپه خپله (هم) ددی پابند اوسه (یعني زیات دتوجه قابل داکارونه دی) مونږ ستا ځخه او دغسی دنورو ځخه داسی دمعاش (گټل) نه غواړو (کوم چې دضروري اطاعت ځخه مانع وی) معاش خوتاته اودغسی نوروته) مونږ درکوو (یعني اصل مقصود کسب کول نه دی بلکې دین اوطاعت دی دکسب کولو خوپه هغه حالتونوکی اجازه یا حکم دی چې په ضروري طاعت اوعبادت کی خلل نه اچوی) اوښه انجام خو دپرهیزگاری دی (په دی وجه مونږحکم درکوو چې لاَ تَمُدَّنَّ الخ او وَاْمُرْ اَهْلَكَ الخ او دمعترضینو ځینی حالات او خبری کوم ی چې لوړی ذکر سوی دغه ډول د دوی یوه بله خبره هم ذکر کیږی چې) دغه خلک (دعناد ځخه) داسی وایی چې دا رسول مونږ ته یوه نښانه (دخپل نبوت) ولی نه راوړی (مخکی یی جواب دی چې) ایا دوی ته دتیرو کتابونو دمضمون اظهار نه دی رسیدلی (مراد ددی ځخه قران کریم دی چې په دی سره دتیرو کتابونو دپیش گویی دمضمون تصدیق ظاهرسو مطلب دا چې ایادوی ته قران کریم نه دی راغلی چې ددی دمخکی ځخه شهرت وو چې دغه پرنبوت کافی دلیل دی) اوکه مونږ دوی دقران ځخه مخکی (دکفر په سزا کی) په ځه عذاب هلاك کړی وای (او بیا مو ورته دقیامت په ورځ دکفر اصلی سزا ورکولای چې دغه لازمی وه) نو دی خلگو به (په طور دعذر) داسی ویلی چې ای زمونږ ربه تا مونږ ته یو رسول (په دنیاکی) ولی نه دی رالیږلی چې مونږ ستا احکام منلی وای مخکی ددی ځخه چې مونږ (دلته په خپله) بی قدره سو او (دخلگو په نظرکی) رسوا سو (نو اوس ددی عذرهم گنجائش پاته نه سوکه دوی دا وایی چې دغه عذاب به کله وی نو) ته ووایه چې (مونږ) ټول انتظار کوو نو (ترڅه وخته) نو انتظار وکی اوس به دیر ژر تاسی ته (هم) معلومه سی چې نیکی لاری والا څوك دی اوهغه څوك دی کوم چې (منزل) مقصودته ورسیدی (یعني دغه فیصله به ډیره ژر وروسته دمرگه یا وروسته دحشرځخه ظاهره سی)

(معلومات اومسئلي)

اَفَلَمْ یَهْدِ لَهُمْ په یَهْدِ : کی ضمیر دفاعل دهُدٰی طرف ته راجع دی کوم چې ددی لفظ په ضمن کی ذکر دی . او دهُدٰی ځخه مراد قرآن یارسول دی نو معنٰی دا ده چې ایا قرآن او رسول الله ﷺ دوی ته یعني دمکی خلگو ته دا هدایت ونه کی او ددی ځخه یی خبر نه کړل چې ستاسی ځخه مخکی څومره امتونه اوجماعتونه دخپلی نافرمانی په وجه سره دخدای په عذاب کی گرفتار سول اوهلاك سوي دی دکوموپه کورونو اومځکو کی چې اوس تاسی گرځی را گرځی او دا هم ممکنه ده چې په دی کی ضمیر دفاعل دالله ﷻ طرف ته راجع وی اومعنٰی دا وی چې ایا الله ﷻ دی خلگو ته هدایت ونه کی .

فَاصْبِرْ عَلٰی مَایَقُوْلُوْنَ : دمکی خلگوچې به دایمان ځخه دتښتیدو دپاره قسم قسم حیلی او بهانی تلاش کولی اونبی کریم ﷺ به یی په بدو بدو کلمو سره یادوی چابه ساحر چابه شاعر اوچابه ورته درواغ جن

ویل دده ﷺ دازارونو علاج قران کریم دلته دوه شیان وښوول اول دا چی ته د دوی خبروته گرسره گوره مه بلکی صبر کوه دوهم شی دالله ﷻ په عبادت کی مشغولیدل دی کوم چی په راتلونکی جمله کی دفَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ په الفاظو سره بیان سوي دی .

(ددښمنانو دازارونو څخه دمحفوظ کیدو علاج صبر او دالله ﷻ په یادو کي مشغولیدل دی)

ددښمنانو څخه خو په دی دنیاکی هیڅ لوی کوچنی ښه اوبد انسان ته نجات نه سی ورکول کیدی دهرسړی څه ناڅه دښمن خامخا وی او دښمن که هرڅومره سپك اوکمزوری وی خوخپل مخالف ته څه ازار رسوی خواه که زبانی ښکنځل وغیره هم وی که مخامخ یی نه سی کولی نو په شاپسی یی کوی ، په دی وجه ددښمن څخه دمحفوظ کیدو فکر دهر سړی سره وی . قرآن کریم ددی ښه اوکامیابه نسخه پر دوو شیانو مرکب فرمایلی ده . اول صبر یعنی خپل نفس په واك کی ساتل او دبدل اخستو په فکر کی نه پریوتل دوهم دالله ﷻ په یادو اوعبادت کی مشغولیدل . تجر به شاهده ده چی صرف دا نسخه ده په کومی سره چی ددی تکلیفونو څخه نجات حاصلیږی کنی نو دبدل اخستو په فکر کی لویدونکی که هرڅومره قوی لوی او د اقتدار خاوند وی خو ډیر واره دمخالف څخه په بدل اخستو نه سی قادریدی او دبدل اخستو دا فکر دده دپاره یو مستقل عذاب جوړ سی اوکله چی دانسان توجه دالله ﷻ طرف ته سی او دی دا خیال کوی چی په دی دنیاکی څوك یو چاته څه قسم نقصان یاتکلیف بغیر دالله ﷻ درضا څخه نه سی رسولی او دالله ﷻ ټول کارونه پرحکمت باندی مبنی وی په دی وجه کوم صورت چی را پیښیږی په دی کی به خامخا څه حکمت وی نو دمخالف دازارونو څخه راپور ته سوی غصه به خود بخوده سړه سی . په دی وجه دایت په اخرکی فرمایی ، لَعَلَّكَ تَرْضٰى : یعنی په دی تدبیر سره به ته راضی اوخوشحاله سی .

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ : یعنی ته دالله ﷻ پاکی بیانوه دهغه دحمد اوشکر سره په دی کی اشاره ده چی کوم بنده ته دالله ﷻ دنوم اخیستو یا دځه عبادت کولو توفیق وسی ده ته په کار دی چی په دی خپل عمل باندی ناز نه کوی او نه فخر په کوی بلکی ددی په ځای دالله ﷻ حمد اوشکر خپله وظیفه جوړه کړی دا دالله ﷻ ذکر یا عبادت دهغه دتوفیق ورکولو نتیجه او ثمره ده .

او دا لفظ دَ سَبِّحْ بِحَمْدِ : دعام ذکر او حمد په معنٰی کی هم کیدی سی اوخاص دلمونځ په معنٰی کی هم عامو تفسیر لیکونکو حضراتو دا اخستی دی او ددی څخه وروسته چی کوموختونه یی معین ښوولی دی هغه هم دلمونځونو وختونه مقررسوی دی مثلا ، قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ : ددی څخه مراد دسهار لمونځ او د قَبْلَ غُرُوْبِهَا : څخه مراد دماپښین اوماځیګر لمونځونه دی او د ، مِنْ اٰنَاۤئِ الَّيْلِ : څخه مراد دشپی ټول لمونځونه یعنی دماښام ماخستن تر دی چی دتهجد لمونځ هم په دی کی شامل دی ، اوبیاپه لفظ دَاَطْرَافَ النَّهَارِ : سره ددی زیات تاکید ښوول سوي دی .

(ددنیادولت دځو ورځو دپاره دی دا دالله ﷺ په نزددمقبولیت نښانه نه ده بلکې دمومن دپاره دبیری شي دی)

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ : په دی کی نبی کریم ﷺ ته خطاب دی او په اصل کی هدایت کول امت ته دی چی ددنیا مالدارانو سرمایه دارانو ته قسم قسم ددنیا دول او ډال اوقسم قسم نعمتونه حاصل دی ته دوی ته گر سره گوره هم مه څکه چی دا ټول فانی عیش او دیو څو ورځو دی . الله ﷺ چی کوم نعمت تاته اوستاپه واسطه سره مومنانوته ورکړي دی دغه په ډیرو درجو د دوی ددی څو ورځو دژوند درونق څخه ښه دی .

په دنیاکی کافرانو اوفاجرانوته عیش عشرت او دولت اوحشمت دهمیشه دپاره هرسړی ته داسوال جوړیږی چی هرکله داخلګ دالله ﷺ په نزد مبغوض او ذلیل دی نو د دوی سره دا نعمتونه ښنګه او ولی دی؟ او دفرمانبردارو مومنانو غربت او افلاس ولی ؟ تردی پوری چی دفاروق اعظم ﷺ غوندی عالی قدر بزرگ دی سوال متاثره کی هرکله چی دوی دنبی کریم ﷺ خواته د دوی خاص حجری ته دا خل سوه چی دی ﷺ په کی تشریف فرماوو نو وي لیدل چی دی ﷺ دغتو غتو خاشو پر یو چتیایی باندی پروت دی او دغو خاشو دده ﷺ پربدن مبارك باندی نښانی کړی وی نو بی اختیاره په ژړا سو او عرض یی وکی یا رسول الله ﷺ دکسرٰی اوقیصر او د دوی امیران په ښنګه نعمتونو او راحتونوکی دی اوتاسی په ټول مخلوق کی د الله ﷺ منتخب رسول اومحبوب یاست اوستاسی دژوند دا حال دی ؟

نبی کریم ﷺ وفرمایل ای زویه دخطاب! ایاته تراوسه پوری په شك اوشبهه کی اخته یی . داهغه خلګ دی چی د دوی مزی اوخوندونه الله ﷺ دوی ته په دی دنیاکی ورکړي دی په اخرت کی د دوی هیڅ برخه نسته هلته عذاب اوعذاب دی (او دمومنانو معامله ددی څخه برعکس ده) دا وجه ده چی نبی کریم ﷺ ددنیا ښائست او راحت طلبی څخه بالکل بی نیازه اوبی تعلقه ژون خوښوی سره ددی چی دوی ته پوره قدرت حاصل وو چی دځان دپاره یی دښه څخه ښه دراحت سامان جمع کړی وای اوهرکله چی بیا ددنیا دولت دوی ته بغیر دڅه محنت اومشقت اوکوشش اوطلب څخه راتلی هم نو هغه به یی فورا دالله ﷺ په لاره کی په غریبانو اوفقیرانو باندی خرڅ کوی اوځان ته به یی دصبا دپاره هم څه نه پریښوول . ابن ابی حاتم په روایت دابوسعید خدری ﷺ نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِنَّ اَخْوَفَ مَا اَخَافُ عَلَيْكُم مَّايَفْتَحِ اللهُ لَكُم مِّنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا (ابن کثیر)

ستاسی په باره کی چی زما دکوم شی څخه زیاته بیره ده هغه دولت او ددنیا ښائست دی کوم چی به په تاسی خلاص سی .

په دی حدیث کی نبی کریم ﷺ امت ته د اول څخه دا خبر ورکړي دی چی په راتلونکی زمانه کی به تاسی په دنیا کی ډیر فتوحات وکی او مال دولت او عیش عشرت به زیات درته حاصل سی . دغه صورت حال دڅه زیاتی خوشحالی شی نه دی بلکی دبیری شی دی هسی نه چی په دغوکی اخته سی او دالله ﷺ دیادو او دهغه داحکامو څخه غافله سی .

(خپل اهل اوعیال اومتعلقینو ته دلمونځ دپابندی تاکید او دهغه حکمت)

وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا: یعنی ته خپل اهل ته هم دلمانځه حکم کوه اوپه خپله هم پابند پر اوسیږه . دا په ظاهره دوه جلا جلا حکمونه دي یو اهل اوعیال ته دلمانځه تاکید دوهم په خپله ددی پابندی کول لیکن که غور وسی نو په خپله دخپل لمونځ دپوره پابندی دپاره دا هم ضروری ده چی ستاخپل ماحول اهل او عیال اومتعلقین دلمانځه پابند وی ، ځکه چی ماحول دده خلاف وی نو په طبعی طور سره انسان په خپله هم دکوتاهی ښکار سی .

په لفظ دَ. اَهَلَ: کی ښځه اولاد او متعلقین ټول دا خل دی دکوموځخه چی دانسان ماحول اومعاشره جوړيږي . پرنبی کریم ﷺ چی کله دا ایت نازل سو نو ده ﷺ به هره ورځ دسهار دلمانځه په وخت کی دحضرت علی رضی الله عنه اوحضرت فاطمی رضی الله عنها کورته ورتلی او اواز به یی کوی الصَّلٰوة الصَّلٰوة. (قرطبی)

او دحضرت عروه ابن زبیر رضی الله عنه چی به کله دامیرانو او بادشاهانو پر دولت او حشمت نظر ولګیدی نو فوراً به خپل کورته راغی اوخپل کورو الاؤ ته به یی دلمانځه دعوت ورکی او دا ایت به یی وایی اوحضرت فاروق اعظم رضی الله عنه چی به کله دشپی دتهجد دپاره بیدار سو نو خپل کور والا به یی هم بیدار کړل او دا ایت به یی ورته ووایه (قرطبی)

(کوم سړی چی په لمانځه او دالله ﷻ په عبادت کي ولګيږی نوالله ﷻ دده دپاره درزق معامله اسانه کړی)

لَا نَسْئَلُكَ رِزْقًا: یعنی مونږ ستاسی ځخه دامطالبه نه کوو چی تاسی خپل او دخپل اهل اوعیال رزق په خپل زور دعلم اوعمل سره پیدا کوی بلکی دامعامله مونږ پر خپله ذمه کړي ده ځکه چی درزق حاصلول په اصل کی دانسان په وس کی نه دی . دی دزیات ځخه زیات دغه خو کولی سی چی ځمکه نرمه او دکر قابله کړی اوځه دانی په کښی وغورځوی مګر د دانی ځخه شین تیغ را ایستل اوپیدا کول په دی کی خو دده ادنی دخل هم نسته دغه خوسیده په سیده دالله ﷻ کار دی . د درختی دبوټی را وتلوځخه وروسته هم دانسان ټول عمل دده حفاظت کول اوکومه میوه چی ورځخه الله ﷻ پیدا کړی وی دهغه ځخه فائده اخستل دی اوکوم سړی چی دالله ﷻ په عبادت کی مشغول سی نو الله ﷻ دا محنت هم دده دپاره اسان کړی . ترمذی او ابن ماجه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت سره نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی

يَقُولُ اللهُ تَعَالٰى : يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ مَلَأْتُ صَدْرَكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ ابن کثیر : الله فرمایی ای ابن ادمه ! ته زما دعبادت دپاره ځان فارغ کړه نو زه به ستا سینه دغنی او استغنی ځخه ډکه کړم اوستا محتاجی به لیری کړم اوکه تا داسی ونه کړل نوستا سینه به دفکر اوشغل ځخه ډکه کړم اوستا محتاجی به لیری نه کړم .

(یعنی خومره چی دی مال ډیریږی دومره به دی حرص هم ډیریږی نو همیشه به محتاجه اوسی اوحاجتونه به دی هیځکله هم پوره نه سی.

او حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی ما دنبی کریم ﷺ څخه دا اوریدلی دی چی

مَنْ جَعَلَ هُمُومَهُ هَمًّا وَاحِدًا هَمَّ الْمَعَادِ كَفَاهُ اللهُ هَمَّ دُنْيَاهُ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُومُ فِي أَحْوَالِ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللهُ فِي أَيِّ أَوْدِيَتِهِ هَلَكَ . رواه ابن ماجه از ابن کثیر

کوم سړی چی ټول فکرونه یو فکر یعنی داخرت فکر جوړ کړی نو الله ﷺ دده ددنیا دفکرونو به خپله کفایت کوی او دچا فکر چی ددنیا په مختلفو کارونو کی ونښتی نو الله ﷺ یی هیڅ پرواه نه کوی چی دی دغو فکرونو په کوم ځنګل کی هلاکیږی هلاک دی سی

بَيِّنَةُ مَا فِي الصُّحُفِ الْأُولَى : یعنی تیرو اسمانی کتابونو تورات انجیل او دحضرت ابراهیم ﷺ صحیفو وغیره ټولو درسول اخر زمان محمد مصطفی ﷺ دنبوت او رسالت شاهدی ورکړی ده ایا دا واضح بینات ددی انکار کوونکو دپاره دکافی څخه زیات ثبوت نه دی

فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ أَصْحَابُ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدَى : یعنی نن خو الله ﷺ هر سړی ته زړه ورکړی ده هر یو دخپلی طریقی او خپل عمل دښه والی او صحیح والی دعوه کوی لیکن دا دعوه هیڅ کار نه سی کولای . په اوصحیح طریقه خو هغه کیدی سی کومه چی دالله ﷺ په نزد مقبوله او صحیح دی او پته به یی دقیامت په ورځ ټولو ته ولګیږی چی څوک پر غلطی او پر ګمراهی وو او څوک پر صحیح او سیده لاره باندی وو

اللَّهُمَّ عَلِّمْنَا الْحَقَّ ... ولا حول ولا قوة الا بك ولا ملجأ ولا منجا منك الا اليك .

الحمد لله الذی وفقنی لتکمیل سورة طٰه ضحی یوم الخمیس لاربعة عشر خلت من ذی الحجة الحرام سنة ۱۳۹۰ هـ والله سبحانه وتعالی اسال لتکمیل باقی القرآن والله المستعان وعلیه التکلان .

شپاړسمه پاره ختمه سوه

تفسیر معارف القرآن و تفسیر احمدی ...

pdf ... ۰۷۲۹۸۲۹۵۶۹

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاري پښتوکي

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۷)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۰ ۲۶۶۲۵۱)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

فهرست تفسیر معارف القرآن

(سورة الحج)

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّ اثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

سورة انبیاء په مکه کی نازل سو او په دی کی یوسل دولس (۱۱۲) ایتونه دی او اووه (۷) په کی رکوع گانی دی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله ﷻ په نوم سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی.

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِيْ غَفْلَةٍ مُّعْرِضُوْنَ ①

نزدی راغی خلقو ته د دوی دحساب وخت او دوی په غفلت کی منع کوونکی دی.

مَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنْ رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ

نه دی راغلی دوی ته څه نصیحت د دوی درب څخه نوی مگر ددې په اوریدو سره دوی لوبی کوونکی

يَلْعَبُوْنَ ② لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

دی ، په لوبو کی دی ، زړونه د دوی ، اوپټی کوی مشوری بی انصافه خلق

هَلْ هٰذَا اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ③

دا سړی خوك دی یو انسان دی ، ستاسی په شان ، بیاولی منبلی دده په جادو کی او تاسی گوری.

قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ

هغه وویل زما رب پیژنی خبره په اسمان کی وی او که په مځکه کی او هغه

السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ④ بَلْ قَالُوْا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ بَلِ

دی اوریدونکی دی پوهیدونکی ، بلکه دا پریږده وایی چی دا خوبونه دی عبث داسی نه ده

افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ كَمَا اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ⑤

دروغ یی جوړ کړی دی ، دا سی نه ده شاعر دی نو که غواړی را دی وړی مونږته نښانه لکه چی پیغام راوړی وو

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝٦

مخکنيو، ايمان را نه وړی د دوی څخه مخکې يو کلي چې هلاك كړل مونږ هغه آيا اوس دوی به ايمان راوړی

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْـَٔلُوْٓا

او پیغان نه دی ليږلي مونږ تا څخه مخکې مگر دغه دسړو په لاس وحی کوله مونږ هغوی ته پس پوښتنه وکړی

اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝٧ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ

دیادونکو څخه که تاسی نه پوهیږي ، او نه وو جوړ کړی مونږ دهغوی

جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ ۝٨ ثُمَّ

داسی بدن چی خوراك نه کوی ، او نه وو هغوی همیشه پاته کیدونکی ، بيا

صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا

رښتو ی کړه مونږ دهغوی سره وعده پس نجات ورکی مونږ هغوی لره او چا لره چی مونږ غوښتل او هلاك كړل مونږ

الْمُسْرِفِيْنَ ۝٩ لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ۚ

دحد څخه وتوونکی ، مونږ نازل کړی دی تاسی ته کتاب چی په دی کی ستاسی ذکر دی

اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝١٠

ایا نو تاسی نه پوهیږي ؟

لنډتفسير: دغو (منکرانو) خلگو ته د دوی (دَ) حساب (وخت) نژدی را ورسيدی (يعنی قیامت وخت په وخت را نژدی کیږی) او دوی (تر اوسه) په غفلت کی (پراته) دی (او په ده دیقین کولو او دده دپاره دتیاری کولو څخه) منع کوونکی دی (او د دوی غفلت دومره زیات سوي دی چی) دوی ته د دوی دطرف څخه چی کوم تازه نصیحت (د دوی دحال موافق) راځی، په ځای ددی چی په پوه سی، دوی هغه په داسی طور سره اوری چی (ور پوری) خنداګانی کوی (او) د دوی زړونه (هيڅکله هغه ته) نه متوجه کیږی او داخلق یعنی ظالمان (او کافران) خلق (په خپل مینځ کی) پټی پټی مشوری کوی (په دی وجه نه چی دمسلمانانو دوی ته خطره وه ځکه چی په مکه کی دکفارو کمزوری نه وه بلکی ددی دپاره چی داسلام خلاف پټ سازش

وکی اوختم یی کی) دی (یعنی محمد ﷺ) محض ستاسی په شان یو (معمولي) سړی دی (یعنی نبی نه دی او دا کوم زړه راکښونکی کلام چی اوروی پردی داعجاز شبهه او په دی اعجاز سره دنبوت خیال مه کوی ، ځکه چی دغه په حقیقت کی سحر آمیزکلام دی) نو ایا (سره ددی خبری) بیاهم تاسی دجادو دخبری د اوریدو دپاره (دده خواته) ځئ؟ حال دا دی چی تاسی (دا خبره ښه) پیژنئ (په پوهیږئ) پیغمبر (ﷺ ته دجواب ورکولو حکم وسو او ده ﷺ موافق دحکم په جواب کی) وفرمایل چی زمارب هره خبره (برابره خبره ده که) په آسمان کی وی او (برابره خبره ده) که په مځکه کی (وی او برابره خبره ده که ظاهروی اوکه پټ ښه) پیژنی اوهغه ښه اوریدونکی اوښه پوهیدونکی دی (نو ستاسی دکفر دا خبری هم پیژنی اوتاسی ته به ښه سزا درکړی او دوی حق کلام ته صرف په جادو ویلو باندی صبر ونه کی) بلکه داسی یی (هم) وویل چی دا (قرآن) پریشانه خیالات دی (چی په واقع کی زړه راکشونکی هم نه دی) بلکه (ددی ځخه زیات دا ده چی) دوی (یعنی پیغمبر) دا (په قصد او اختیار سره په خپل زړه کی) جوړکړی دی (اودخوب په خیالاتو کی خوانسان څه قدر بی اختیاره اومعذور او په اشتباه کی اخته کیدی هم سی او دا دځانه جوړول څه دقرآن سره مخصوص نه دی) بلکه دی خویو شاعر سړی دی (دده ټولی خبری هم دغسی خیالی او دځانه جوړی سوي دی ، لنډه دا چی رسول نه دی اولوی مدعی درسالت دی) نو ده ته په کار دی چی داسی یوه (لویه) ښانه راوړی لکه مځکی رسولانو چی راوړی دی (اولویی لویی معجزی یی ښکاره کړي دی ، نو دغه وخت به مونږ دی رسول ومنو اوایمان به را وړو او دا ویناهم د دوی یوه بهانه وه کنی دوی خو تیر پیغمبران ﷺ نه منل حق تعالی په جواب کی فرمایی چی) د دوی ځخه مځکی دځه کلی خلګ چی مونږ هلاك کړي دی (سره ددی چی د دوی فرمائشی معجزی ظاهری هم سوی خو دوی) ایمان رانه وړی نو آیا دا خلګ به (ددی معجزو په ظاهریدو) ایمان راوړی (اوپه داسی حالت کی به په ایمان نه راوړلو عذاب نازل سی په دی وجه مونږ دغه معجزی نه ظاهرؤ او دقرآن معجزه کافی ده) او (درسالت متعلق چی کومه د دوی دا شبهه ده چی رسول بشر نه دی په کار دهغه جواب دا دی چی) مونږ ستاځخه مځکی یوازی سړیان پیغمبران جوړ کړي دی کوموته چی به مونږ وحی لیږله نو (ای منکرانو) که تاسی ته (دا خبره) معلومه نه وی نو داهل کتابو ځخه پوښتنه وکی (ځکه چی داخلګ که څه هم کافران دی مګرپه خبر متواترکی دراوی مسلمان والی اوثقه والی شرط نه دی بیاتاسی خودوی خپل دوستان ګڼی نوستاسی په نزد د دوی په خبره اعتبار په کار دی) او (دغه شان درسالت متعلق کوم چی ددی شبهی دوهم تقریردی چی رسول ملائکه په کارده دهغه جواب دا دی چی) مونږ ددی رسولانو (کوم چی تیر سوي دی) داسی بدن نه وو جوړ کړی چی خوراك به یی نه خوړی (یعنی ملائکی نه وی) او (داخلګ کوم چی ستا دوفات په انتظارکی خوشحالی کوی لکه چی داقول دالله ﷻ دی نَتَرَبَّصُ بِهٖ رَیْبَ الْمَنُوْنِ : لکه چی داسی په معالم کی دی د اوفات هم دنبوت ځخه منافی نه دی ، ځکه چی) دغه (تیرسوی) حضرات (هم په دنیاکی) همیشه

پاته کیدونکی سوی نه دی (نو که ته هم وفات سی نوستا په نبوت به څه اعتراض لازم سی مطلب دا چې لکه څنګه چې مخکی رسولان وه داسی ته هم یې ، او دا خلګ لکه چې څنګه تادروغ کوی دغه دول ددغو حضراتو هم دهغه زمانی کافرانو درواغ والی کړي دی) بیاموږ چی کومه د دوی سره وعده کړی وه (چی درواغ کوونکی به په عذاب سره هلاك کړ او تاسی او مومنان به محفوظ پریږدو موږ) دغه (وعده) رښتینی کړه یعنی دوی اوکوموکومو مومنانوته (نجات ورکول چی) منظور وو (هغوی ته دعذاب څخه) موږ نجات ورکی او (په دی عذاب سره) دحد (اطاعت) څخه تیریدونکی موهلاك کړل (نو دی خلګو ته) بیرول په کار دی ای منکرانو ددی درواغ کولو څخه وروسته پرتاسی که په دنیا اوآخرت کی عذاب راسی نو تعجب نه دی ، ځکه چی) موږ تاسی ته داسی کتاب رالیږلی دی چی په دی کی ستاسی (کافی) نصیحت موجود دی آیا (سره ددی تبلیغ او وعظ نصیحت) بیاهم تاسی نه پوهیږی (اونه منی) ؟

(معلومات اومسئلي) (دسورة انبياء فضيلت)

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی چی سورة کهف مریم طٰهٰ اوانبیاء داځلور سره سورتونه دنزول په اعتبار سره اولنی سورتونه او دا زما پخوانی دولت اوګټه ده چی زه یی همیشه حفاظت کوم (قرطبی)

اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ : یعنی هغه وخت نژدی راغی کله چی به دخلګو څخه د دوی دعملونوحساب اخستل کیږی ، مراد ددی څخه قیامت دی او ددی نژدی راتلل ددنیا دتیر عمر په لحاظ سره دی ، ځکه چی دا امت اخری امت دی اوکه مراد ورڅخه عام حساب واخستل سی ، نو دقبر حساب هم په دی کی شامل دی ، کوم چی به دمرګ څخه فوراً وروسته هرسړی ورکوی او په دی وجه یی دهرسړی مرګ ته ددهٔ شخصی قیامت ویلی دی ، مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ : یعنی کوم سړی چی مړ سو دده قیامت اوس قائم سو ، ددی معنٰی په اعتبار سره دحساب وخت نژدی کیدل خوبالکل واضح دی چی دسړی مرګ برابره خبره ده که هرڅومره عمر چی وی څه لیری نه دی ، خصوصاً هرکله چی دعمر انتها نامعلومه ده نو هره ورځ هره ګنټه دمرګ خطره مخامخ وی .

ددی آیت څخه مقصود غافله خلګ خبرول دی په کوم کی چی ټول مومنان اوکافران دا خل دی چی ددنیا دخواهشاتو په شغل کی دحساب ورځ هیره نه کړی ځکه چی ددی هیرول دټولو خرابیو اوګناهونو بنیاد دی

مَا يَأْتِيهِمْ مِنْ ذِكْرٍ مِنْ رَبِّهِمْ مُحْدَثٍ إِلَّا اسْتَمَعُوهُ وَهُمْ يَلْعَبُونَ لَاهِيَةً قُلُوبُهُمْ . کوم خلق چی دٙ اخرت اودقبردعذاب څخه غفلت کوونکی اوددی دتیاری څخه منع کوونکی دی ، دا د دوی دحال نورزیات بیان دی چی کله دوی ته دقرآن څه نوی آیت راسی او وویل سی نوهغه دوی په داسی حالت کی اوری چی لوبی خنداګانی اوټوکی کوی او د دوی زړونه د اخرت او الله جل جلاله څخه غافله وی ، ددی دا مراد هم کیږی ، چی دقرآن دآیتونو د اوریدو په وخت کی دوی په خپلو لوبو او شغل کی داسی لګیدلی وی چی دقرآن طرف ته هیڅ توجه نه ورکوی اودامعنٰی هم کیدی سی چی په خپله دقرآن دایتونوسره دلوبوخندا اوټوکومعامله کوی .

اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ : یعنی دا خلک په خپل مینځ کی پټی پټی مشوری کوی او دا وایی چی دا کوم چی ځان ته نبی او رسول وایی ، دا خو زمونږ په شان انسان دی څه ملائکه خو نه ده چی مونږ دده خبره ومنو اوبیا ددی کلام الهی څخه کوم چی دوی ته به ویل کیدی او ددی دخوږوالی اوبلاغت او په زړونوکی دتاثیرچی یوکافر ورڅخه هم انکار نه سوکولی ، ددی څخه دخلکو دمنع کولو صورت یی دا جوړکی چی دی ته سحر اوجادو وایی اوبیا دخلکو داسلام څخه دمنع کولو دپاره دا وایی چی کله تاسی پوه سواست چی دا جادو دی نو بیا دده خواته ورتلل او داکلام اوریدل دهوښیارتیا څخه خلاف دی شاید دا خبری یی په خپل مینځ کی ځکه کولی، چی مسلمانان به یی واوری نو د دوی دبی وقوفی دګډون رازبه ښکاره کړی .

بَلْ قَالُوْا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ : اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ : هغه خوبونوته ویل کیږی په کوموکی چی څه نفسانی یا شیطانی خیالات شاملیږي ، په دی وجه ددی ترجمه په پریشانه خیالاتو سره سوي ده ، یعنی دی منکرانو اول خو قرآن ته جادو وویل ، بیاچی په دی کی نورمخکی سول نو پریشانه خوبونه یی ورته وویل ، بیا چی په دی کی نورهم وړاندی سول نو وي ویل چی دا خو په خدای ﷻ درواغ اوبهتان دی چی دا دهغه کلام دی ، بیا یی وویل چی اصل خبره دا ده چی دا یو شاعر سړی دی او دا دده دکلام شاعرانه خیالات کیدی سی .

فَلْيَاْتِنَا بِاٰيَةٍ : یعنی که دی واقعی نبی او رسول وی نو زمونږ غوښتل سوی خاص معجزی دی وښیی ، ددی په جواب کی حق تعالی فرمایی چی په تیرو امتونوکی ددی هم تجربه او مشاهده سوي ده چی هغوی څنګه معجزه غوښتی ده د الله ﷻ درسول په لاسو هغه معجزه ښکاره سوي ده ، مګربیاهم هغوی ایمان نه دی راوړی او دغوښتلی معجزی په لیدو چی کوم قوم ایمان قبول نه کی دهغوی دپاره دالله ﷻ قانون دا دی چی په دنیاکی عذاب پرنازلولی اوختمولی یی سی اوچونکی امت مرحومه الله ﷻ دنبی کریم ﷺ په اعزاز کی ددنیا دعام عذاب څخه محفوظ کړي دی ، په دی وجه دوی ته غوښتی معجزی ښوول مصلحت نه دی ، مخکی په (اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ) کی دی طرف ته اشاره ده چی ایا دوی به خپله غوښتلی معجزه وويني نوايمان به راوړی ؟ مراد دا دی چی د دوی څخه ددی هیڅ توقع نه سی کیدی ، په دی وجه غوښتلی معجزه دوی ته نه سی ښوول کیدی .

فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ : د اهل ذکر څخه مراد دلته دتورات او انجیل عالمان دی ، کومو چی په نبی کریم ﷺ باندی ایمان راوړی وو ، مطلب دا دی چی که تاسی ته دتیرو پیغمبرانو حال معلوم نه وی چی هغوی انسانان وه او که ملائکی نو دتورات دعالمانو څخه معلومه کړی ، ځکه چی دغه ټول پوهیږی چی تیر ټول پیغمبران انسانان وه ، په دی وجه دلته د اهل الذکر څخه که مطلق اهلِ کتاب یهود اونصارا مراد دی ، نو بعیده نه ده ، ځکه چی ددی معاملی ټول شاهدان دی ، په لنډتفسیرکی یی دا احتمال اختیار کړي دی او تشریح یی کړي ده .

مسئله: په تفسیرِ قرطبي کې دې چې ددې آیت څخه معلومه سوه چې جاهل سړی چاته چې دشریعت احکام معلوم نه وي پرهغه باندې دعالم تقلیدواجب دی دعالم څخه به پوښتنه کوي اودهغه مطابق به عمل کوي

(قرآن کریم دعربو دپاره عزت او فخر دی)

كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ: دکتاب څخه مراد قرآن دی او ذکر دلته په معنٰی دشرافت فضیلت اوشهرت دی، مراد دا دی چې دا قرآن کوم چې ستاسي په ژبه عربي کې نازل سو، ستاسي دپاره یو لوی عزت او دهمیشه شهرت شي دی تاسي ته ددې قدر په کار دی لکه چې دنیا ولیدل چې عرب الله ﷻ دقرآن په برکت سره پرټوله دنیا غالب او فاتحان کړل او په ټوله دنیاکې د دوی دشهرت اوعزت اوازه خپره سوه، او دا هم تولو ته معلومه ده چې دا دعربو دمقامي یاقبائلي یا لساني خصوصیت په بناسره نه دی بلکي صرف دقرآن په برکت سره وسو، که قرآن نه وای نو نن به شاید چې څوك دعرب قوم نوم اخستونکی هم نه وای.

وَكَمْ قَصَمْنَا مِن قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً

او څومره تباه کړې دي مونږ　کلي　چې وو　گناهکار

وَأَنشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا آخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُم

او پورته کړي دي مونږ د دوی څخه وروسته نور خلق　، بیا چې کله پوه سول دوی زمونږ په عذاب راتلو

مِّنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا إِلَىٰ مَا أُتْرِفْتُمْ فِيهِ

نوپس ددغه ځای څخه په تښتیدوسول، مه تښتئ او واپس سئ هغه ځای ته په کوم ځای کې چې تاسي عیش کوی

وَمَسَاكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْأَلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿١٤﴾

او خپلو کورونو ته شاید چې تاسي څخه پوښتنه وسي، وې ویل های خراب ده مونږ لره بیشکه مونږ گناهگاروو

فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَاهُمْ حَتَّىٰ جَعَلْنَاهُمْ حَصِيدًا خَامِدِينَ ﴿١٥﴾

بیا همیشه د دوی هم دغه فریاد وو نژدې پوره چې مونږ کړل یوه کوته ریبل سوی ساړه سوی

لنډتفسیر: اومونږ ډیر کلي دکومو اوسیدونکي چې ظالمان (یعني کافران) وه تباه کړي دي او د دوی څخه وروسته مو بل قوم پیدا کړي دی، نوکله چې دغو ظالمانو به زمونږ عذاب راتلونکی ولیدی نو ددغه کلي څخه به یې تیښته شروع کړه (چې دعذاب څخه محفوظ سي الله ﷻ فرمایي چې) تښتئ مه خپل دعیش سامان او خپلو کورونو ته واپس سی، شاید چې ستاسي څخه څوك پوښتنه وکي (چې په

تاسی څه تیر سول مقصود ددی څخه په طور دتعریض یعني په کنایه سره دوی په خپله احمقانه زرورتیا باندي پوهول دي چي په کوم اسباب اومکان باندي ستاسی نازوو اوس نه هغه سامان دی او نه هغه مکان دی او نه دیو دوست اوهمدرد نوم اونښانه سته، دغو خلکو (دعذاب دنازلیدو په وخت کی) وویل چی های زمونږ کوم بختی بیشکه مونږ وو ظالمان خلګ د دوی دا شور فریاد تر هغه پوری وو چی مونږ دوی داسی (نیست اونا بود) کړل لکه څنګه چی پری سوی فصل وی یا اور سوړ کړل سوی وی.

(معلومات اومسئلې)

په دې آیتونو کې چې دکوموکلیو دتباه کیدو ذکر دی، ځینو تفسیرلیکونکو دادیمن کلی خضوراء اوقلابه ګڼلی دی کوموته چې الله ﷻ خپل یورسول ولیږی دکوم په نوم کی چی روایتونه مختلف دی په ځینو کی یی موسیٰ بن میشا اوپه ځینو کی شعیب ذکرکړي دی اوکه نوم یی شعیب وی نو دی دمدین والا شعیب (علیه السلام) څخه علاوه بل څوک دی دغو خلقو دالله ﷻ رسول قتل کی الله ﷻ دوی دیو کافربادشاه بخت نصر دلاسه تباه کړل اوبخت نصریی پردوی باندی مسلط کی لکه بنی اسرائیلو چی کله په فلسطین کی ګمراهی شروع کړه نو په دوی یی هم بخت نصر مسلط کی او سزا یی ورکړه مګر صفا خبره دا ده چی قرآن کریم څه خاص کلی نه دی متعین کړی او په دی وجه عام مقرریږی، نو په دی کی به دیمن کلی هم دا خل وی. والله تعالی اعلم

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ لَوْ اَرَدْنَآ

او مونږ نه دی پیدا کړی اسمان او مځکی او څه چی د دوی په مینځ کی دی په لوبو سره، که مونږ دلوبو

اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ۖ اِنْ كُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۱۷﴾ بَلْ

څه شی جوړول غوښتلی، نو جوړ کړی به مو وای دخان دطرف څخه که مونږ کولی، داسی

نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهٗ فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۚ وَلَكُمُ

نه ده بلکه مونږ وایو حق باندی باطل، پس هغه یی سرمات کړی، پس هغه ختم سی، اوتاسی دپاره

الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَلَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۗ

خرابی ده دهغو خبرو څخه کومی چی تاسی جوړوی، او دهغه دی څه چی په اسمانونو کی دی اوپه مځکه کی دی

وَمَنْ عِنْدَهٗ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾

او څه چی دهغه سره نږدی وی، تکبر نه کوی دعبادت دهغه څخه او نه ستړی کوی.

يُسَبِّحُونَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ﴿٢٠﴾ أَمِ اتَّخَذُوٓا اٰلِهَةً مِّنَ

تسبیح وایی شپه او ورځ نه ستړی کیږي ، یا دوی نیولی دی نورمعبودان په

الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ﴿٢١﴾ لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا

مځکه کی چی هغوی به ژوندی پورته کړی دوی ؟ که وی په دی دواړو کی نورمعبودان ماسوا

اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ۚ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿٢٢﴾

دالله ځخه نو دا دواړه به خراب سوی وای ، پس پاک دی الله مالك دعرش :هغو خبرو ځخه چی دوی یی جوړوی

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴿٢٣﴾ اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ

دهغه ځخه پوښتنه نه سی کیدی دهغه چی کوی او ددغو ځخه پوښتنه کیدی سی ایا نیولی دی دوی دهغه ځخه ماسوا

اٰلِهَةً ۖ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ

نور معبودان ، ته ووایه راوړی خپل دلیل دا خبره ده دهغو چی زما سره دی ، او دا خبره ده

مَنْ قَبْلِيْ ۗ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

زما ځخه دمخکې ، هیڅ نسته بلکه اکثر ددغو ځخه نه پوهیږي په رښتینی خبره پس دوی

مُّعْرِضُوْنَ ﴿٢٤﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا

منع کوی ، او نه دی لیږلی مونږ ستا ځخه مخکې ځوك رسول مګر

نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿٢٥﴾ وَقَالُوا اتَّخَذَ

هغوی ته دا حکم سوی دی چی خبره داده چی نسته لائق دعبادت ما سوا زما ځخه پس زما بندګی کوی ، او وایی

الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ۚ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٢٦﴾ لَا يَسْبِقُوْنَهٗ

رحمن نیولی دی یو ځوك زوی هغه هیڅکله ددې لائق نه دی لیکن دغه بندګان دی چی عزت ورکړل سوی دی ،دده

بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

څخه نه سی مخکې کيدی په خبره اودوی دهغه په حکم باندی کارکوی، هغه ته معلوم دی څه چی ددوی څخه مخکې

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يَشْفَعُوْنَ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى وَهُمْ مِّنْ

دی او څه چی وروسته دی اوسفارش نه سی کولی دوی ، مگر دهغه چی دچا څخه راضی سی الله او دوی دهغه

خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ

دهيبت څخه بيريدونکی دی ، اوڅوک چی په دوی کی ووايی چی زه معبود يم

دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۚ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۹﴾

دهغه څخه ماسوا پس ده ته به مونږ بدله ورکړو جهنم ، هم دغسی مونږ بدله ورکوو بی انصافو ته .

تفسير: او (زما په يو والی زماداجوړ کړی دلالت کوی څکه چی) مونږ آسمان اومځکه اوڅه چی د دوی په مينځ کی دی (داپه) داسی طورسره نه دی جوړ کړی چی مونږ عبث کار کوونکی يو (بلکه په دی کی ډير حکمتونه دی چی په دی کی لوی حکمت دتوحيد په حقوالی دلالت دی او) که چيری مونږ ته (دآسمان او مځکی په جوړولو کی څه حکمت مقصود نه وای بلکه دا محض) يو مشغوله جوړول منظور وای (چی څه عادتی فائده ورڅخه مقصود نه وای محضی زړه مشغولول منظور وای) نو مونږ به خاص دخپلی خوا په شی کی مشغولا جوړه کړی وای (مثلاً خپل صفتونه دکمال) که مونږ داسی کولی (څکه چی مشغولا نه دمشغولا کوونکو دشان سره مناسبت په کار دی نوچيری ذات دکائناتو دخالق اوچيری داجوړ سوی حادث شيان البته صفاتوته په وجه ددی چی دذات سره په قديم والی کی مناسب دی ، نوهرکله چی په دليلونو دعقل اواجماع دملتونو دخاوندانو ددی هم مشغولا مقررول محال دی نوحادث شيان خودچا په وهم کی هم راتلل نه دی په کار ، نو ثابته سوه چی مونږ عبث يعنی فضول نه دی پيدا کړی) بلکه (دحق دثابتولو او دباطل دباطلولو دپاره مو پيدا کړي دی او) مونږ (دغه) حقه خبره (دکومی په ثبوت چی دامصنوعات دلالت کوی) پر باطله خبره (داسی غالب کوو لکه داسی وکنی چی مونږ دغه حق پردی باطل) اوروو نو هغه (حق) ددی (باطل) ماغزه وباسی (يعنی مغلوبه يی کړی) نو دغه (باطل مغلوب سی) فوراً ختم سی (يعنی دتوحيد دليلونه کوم چی ددی جوړ سوو شيانو څخه حاصليږی دشرك بالکل نفی وکی چی دمخالف جانب گرسره څه احتمال پاته نه سی) او (تاسی کوم چی سره ددی زبردستو دليلونو شرك کوی نو) ستاسی دپاره ددی خبری څخه لويه خرابی ده کومه چی تاسی (دحق خلاف) جوړوی او

(دحق تعالى هغه شان دى چى) څومره چى په آسمانونو او په مځکه كى دى ټول دهغه (مملوك) دى او (په
دوى كى) كوم چى دالله ﷻ په نزد (مقبول او مقرب) دى (دهغوى دبندگى خو دا حال دى چى) دغه دهغه
دعبادت څخه شرم نه كوى او نه ستړى كيږى (بلكى) شپه اوورځ (دالله) تسبيح (اوپاكى) كوى (يو وخت
يي) نه بس كوى ورڅخه (هركله چى دهغوى داحالت دى نوعام مخلوق په څه شماركى دى نو لائق
دعبادت هغه دى او هركله چى څوك بل داسى نسته نو بيا دهغه سره شريك گڼل څومره بى عقلى ده) آيا
(سره ددى دليلونو دتوحيد څخه) دى خلگو دخداى څخه ماسوا نور معبودان جوړكړى دى (خاص كر
دمځكى دشيانو څخه (كوم چى نور هم زيات ادنى اوزيات لاندى دى لكه دډبرو اونورو معدنى شيانو
بتان) كوم چى څوك به ژوندى كړى (يعنى كوم چى روح هم په چا كى نه سى اچولى نو داسى عاجز
دمعبود كيدو كله قابل دى او) په مځكه (كى يا) په آسمان كى كه دالله ﷻ څخه ماسوا بل معبود (واجب
الوجود) واى دواړه به (يووخت) په مقابله سوى واى (ځكه چى عادتًا د دواړو په ارادو اوكارونوكى به
مزاحمت راتلى ، ديو بل سره به ټكراويدل او ددى سره خوفساد لازم دى مگر فساد واقع نه دى په دى
وجه ډير معبودان هم نه سى كيدى) نو (ددى تقريرونو څخه ثابته سوه چى) الله ﷻ كوم چى مالك دى
دعرش دهغو كارونو څخه پاك دى كوم چى داخلگ بيانوى (چى نعوذ بالله دهغه سره نور شريكان هم سته
حال دا دى چى هغه داسى لوى دى چى) هغه څه چى كوى دهغه څخه څوك پوښتنه نه سى كولى اودهغه
دنورو څخه پوښتنه كولى سى (يعنى الله ﷻ پوښتنه كولى سى ، نو په لويى كى څوك دهغه سره شريك نه
۱ سو نو بياپه معبوديت كى ورسره څوك څنگه شريكيدى سى ، تر دى پورى خوكلام په طور دباطلولو
ماتولو او دمحال دلازم والى وو ، مخ ته كلام په طور دسوال اومنع دى چى) ايا دوى دخداى څخه ماسوا
نور معبودان جوړكړى دى (دوى ته) ووايه چى تاسى خپل دليل (پردى دعوه باندى) پيش كى (تردى ځاى
پورى خو دشرك باطلوالى په طور دسوال اوعقلى دليل وو مخكى دليل نقلى پيش كوى چى) دا زما
دملگرو كتاب (يعنى دقرآن) او زما څخه دمخكى خلگو كتابونه (يعنى تورات انجيل اوزبور) موجود دى
(چى ددى په رښتينوالى كى كه څه هم تحريف سوي دى مگر په قرآن كى خو دتحريف دسره احتمال نسته
، نو كوم مضمون چى ددغو كتابونو دقرآن مطابق وى هغه يقينًا صحيح دى او ددى ټولو ذكر سوو
دليلونو مقتضادا وه چى داخلگ دتوحيد قائل سوى واى ، ليكن بياهم قائل نه دى) بلكى په دوى كى
زيات هغه دى كوم چى په حق كار باندى يقين نه كوى نو (په دى وجه سره) دغه (ددى دقبلولو څخه) منع
كوى او (دا توحيد څه نوى خبره نه ده چى بيره ورڅخه كيدى سى بلكى دا خو پخوانى شريعت دى هم
دارنگه) مونږ ستا څخه مخكى يو داسى پيغمبرنه دى ليږلى كوم ته چى مونږ دا وحى نه وى ليږلى چى
زما څخه ماسوا څوك معبود (لائق دعبادت) نسته نو (خاص) زما عبادت كوى او دا (مشركان) خلگ (چى
كوم دى په دوى كى څينى) داسى وايى چى (نعوذ بالله) الله ﷻ (فرشتى) اولاد جوړكړي دى (توبه توبه)

دغه (الله ﷻ ددی څخه) پاك دی (اودغه ملائكی دهغه اولاد نه دی) بلكی (دهغه) بندګان دی (البته) عزتمند (بندګان دی په دی سره بی عقلو ته اشتباه وسوه ، او ددغو دبندګی او ترحكم لاندی كيدو او ادب دا حال دی چی دوی دهغه په مخكی خبره نه سی كولی ، بلكی دحكم منتظره اوسيږی) او هغوی دهغه دحكم موافق كار كوی (دهغه څخه خلاف نه سی كولی ، څكه چی هغوی پوهيږی چی) الله ﷻ د دوی دمخكی او وروسته حالات (ښه) پيژنی (نو چی څه حكم وی او كله چی حكم وی موافق دحكمت وی په دی وجه نه عملی مخالفت كوی او نه قولی مخكی والی كوی) او (ددوی دادب داحال دی چی) هغوی بغير دهغه (سری) څخه دچا دپاره چی د (شفاعت كولو) خدای ﷻ رضا وی دبل چاسفارش نه سی كولی او دغه ټول دالله ﷻ دهيبت څخه په بيره كی اوسيږی او (داخو بيان وو د دوی دمغلوبيت او محكوميت مخكی بيان دی د الله ﷻ دغالب والی اوحاكموالی ، كه څه هم مطلب د دواړو يوبل ته نژدی دی يعنی) په دوی كی كوم سړی چی (بالفرض) داسی ووايی چی (نعوذ بالله) زه دخدای څخه ماسوا معبوديم نو مونږ به ده ته دجهنم سزا وركو (او) مونږ ظالمانو ته خاص داسی سزا وركوو (يعنی دخدای ﷻ په دوی پوره وس چليږی لكه پر نورو مخلوقاتو بيادغه دخدای اولاد چی خدای كيدل ورلره ضروری دی څنګه كيدی سی؟)

(معلومات اومسئلي)

وَمَاخَلَقْنَاالسَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَابَيْنَهُمَالَاعِبِينَ : يعنی مونږ آسمان اومځكه او ددی دواړو په مينځ كی شيان دلوبو اوعبثو دپاره نه دی جوړكړی ، په تيرو آيتونوكی دځينو كليو دتباه كيدو اوهلاكيدو ذكر وو، په دی آيت كی اشاره ددی خبری طرف ته ده چی لكه څنګه چی دمځكی اوآسمان پيدا كول او په دی كی دټولو مخلوقاتو پيدا كول پر لويو مهمو حكمتونو اومصلحتونو مبنی دی كوم كلی چی تباه سوي دی دهغوی تباه كول هم عين حكمت وو ، ددی مضمون تعبير يی په دی آيت كی داسی وكی چی دا دتوحيد يا رسالت څخه منكر خلګ ايا زمونږ دكامل قدرت اوعلمی بصيرت دی ښكاره نښانوته كوم چی دمځكی اوآسمان په پيدائش كی او دټولو مخلوقاتو په جوړولوكی ليدل كيږی ، دی ته نه ګوری او په دی نه پوهيږي؟ اوكه يا داسی ګنی چی مونږ دا ټول شيان فضول اومحض دلوبو دپاره پيدا كړی دی ؟

لعِبِيْنَ ، دَ لَعَبٌ : څخه مشتق دی لعب داسی كارته ويل كيږی ، په كوم پوری چی څه صحيح مقصد متعلق نه وی (راغب)

او، لَهْو، هغه كار ته ويل كيږی په كوم پوری چی څه صحيح ياغلط مقصدنه وی تړلی ، بلكی خالی دوخت تيرولو مشغله جوړه سی ، داسلام څخه منكر كوم چی په نبی كريم ﷺ اوقرآن كريم اعتراض او دتوحيد څخه انكاركوی دقدرت حق ددی عظيم الشانه نښانو باوجود يی نه منی نو د دوی دا عمل ګويا ددی خبری دعوی ده چی دا ټول شيان فضول دلوبو دپاره جوړسوی دی ، د دوی په جواب كی داارشاد

وسو چې دلوبې اوفضول دپاره نه دي که لږ هم دغور او فکر څخه کار واخلې نو دکائناتو په یوه یوه ذره کې او دقدرت په یو یوصنعت کې په زرګونو حکمتونه دي او ټول دحق سبحانه تعالی دمعرفت او دده دتوحید خاموش سبقونه دي .

هر گیاهی که از زمین روید وحده لا شریك له گوید

هره گیاه بوټی درخته وغیره څه چې پر مځکه پیدا کیږي دخدای ﷻ دیو والی ظهور اوثنا صفت بیانوي

لَوْ أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا لَاتَّخَذْنَاهُ مِنْ لَدُنَّا إِنْ كُنَّا فَاعِلِينَ : یعنی که مونږ یوه تماشا په طور دلوبو جوړول غوښتې او مونږ داسې کار کولی نو مونږ ته ددې څه ضرورت وو چې مځکه او آسمان پیدا کړو، داکار دخپلې خوا په شیانو سره هم کیدی سوای .

په عربي لغت کې حرف دَ لَوْ دفرضي شیانو دپاره ویل کیږي چې هیڅ وجود یې نه وي ، دلته هم په دې حرف سره دا مضمون بیان سوي دی چې کوم احمق دا ټول پورتنې اولاندینې اسماني او دمځکې مخلوقات او عجیبه مصنوعات لهو اولعب ګڼي هغه دومره هم عقل نه لري چې دا دومره لوی لوی کارونه دلهو اولعب دپاره نه کول کیږي ، داسې کارونه چې څوك کوي هغه یې هم دغسې عبث نه کوي ، په دې کې اشاره دې طرف ته ده چې دالله ﷻ لویې اوشان خو ډیر لوړ دی داسې دلهو اولعب کار خو ډیر معقول سړي څخه هم په تصور کې نه سي راتلی .

دَ لَهْو اصلي اومشهوره معنی دبې کارې مشغله ده ، ددې مطابق دا ذکر سوی تفسیر سوي دی ، ځینې مفسرین حضرات فرمايي چې لفظ دلَهْو کله دښځې دپاره او د اولاد دپاره هم ویل کیږي ، او دلته دا مطلب که واخستل سي نو مراد به ورڅخه پر یهودو اونصاراؤ رد کول وي کوم چې حضرت مسیح یاعزیر علیهما السلام ته دالله ﷻ زوی وايي چې که مونږ اولاد جوړولی نو دانساني مخلوق څخه به مو ولې جوړولی دخپلې خوا دمخلوق څخه به موجوړ کړی وای . والله اعلم

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ : دقذف لغوي معنی ویشتل اوګذارول دي ، د يَدْمَغُ معنی په سر وهل دي او د زَاهِقٌ معنی تلل او بې نام او نشان کیدل دي ، مطلب دآیت دا دی چې دمځکې او آسمان عجیبه اونا اشنا کائنات مونږ دلوبو دپاره نه دي پیدا کړي ، بلکې پر لویو حکمتونو موبنی جوړ کړي دي ، په دې کې یوه دا هم ده چې په دې سره دحق او دباطل فرق کیږي، دقدرت مصنوعاتو ته کتل دحق طرف ته دانسان داسې رهبري کوي چې باطل دده په مخکې نه سي پاته کیدی ، ددې مضمون تعبیر یې داسې کړي دی ، چې په حق باندې باطل وویشتل سي داسې چې دباطل ماغزه په راووزي اوهغه بې نام او نشانه سي ورك سي .

وَمَنْ عِنْدَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ : یعنی زمونږ کوم بندګان چې زمونږ سره دي مراد ورڅخه ملائکې دي ، هغه هر وخت زمونږ په عبادت کې بغیر دڅه وقفې څخه همیشه مشغوله وي که

ناسي زمونږ عبادت نه کوي نو زمونږ په خدایی کی څه فرق نه راځي ، انسان چونکی نور هم په خپل حال باندی دقياس کولو عادي اوفکر وهونکی وي ، ده ته همیشه دعبادت څخه دوه شیان مانع کیدی سی ، يو خو دا چی دی دچاعبادت کول دخپلی درجي او مقام څخه خلاف گڼی په دی وجه عبادت ته نه نژدی کیږي ، دوهم دا چی عبادت کول غواړي مگر همیشه (پرله پسی) یی څکه نه سی کولی ، چی په مقتضا دبشریت په لږ کار کولو سره ستړي کیږي ده ته دارام کولو او دبیده کیدو ضرورت پیښیږي ، په دی وجه په آخري آیت کی یی دملائکو څخه ددی دواړو منع کوونکو خبرو نفی وکړه چی نه هغه زمونږ دعبادت څخه تکبر کوي چی گوندی دخپل شان خلاف یی وگڼی او نه په عبادت کولو سره هغه څه وخت ستړي کیږي ددی مضمون دمکمل کولو څخه وروسته په آیت کی داسی فرمایی ، يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ : یعنی ملائکی شپه او ورځ تسبیح کوي هیڅ وخت هم سستی نه کوي.

عبدالله بن حارث وایی چی ما دکعب احبار څخه پوښتنه وکړه چی ایا دملائکو دتسبیح کولو څخه ماسوا بل څه کار نسته ؟ اوکه سته نو هغه دنورو کارونو سره هر وخت تسبیح څنگه جاري ساتلی سی ؟ کعب وفرمایل ای زماوراره ایا تاڅه کار اومشغله دساه اخستوڅخه منع کوي؟ او په کار کولوکی څه خلل اومانع راځي؟ حقیقت دا دی چی تسبیح دملائکو دپاره داسی ده لکه زمونږساه اخستل یاسترگی رپول چی دادواړه شیان هروخت په هرحال کی جاري وي اوپه څه کارکی مانع اوخلل نه راځي (قرطبی اوبحر محیط)

أَمِ اتَّخَذُوا آلِهَةً مِنَ الْأَرْضِ هُمْ يُنْشِرُونَ : په دی کی دمشرکانو جهالت په څوقسمه سره ظاهر سوي دی ، اول دا چی دا څومره احمقان دی چی خدای یی جوړکی نودمځکی مخلوق یی جوړکی دا خو دپورتنی او اسمانی مخلوق څخه په هرحال کمتر اوبی کاره دی دوهمه دا چی دوی څوك خدای جوړکی نوایا دوی هغه لیدلی دی چی څوك یی ژوندی کړي دی یایی روح په کښی اچولی دی؟ دمعبود دپاره خو دا خبره ضروري ده چی مرگ او ژوند دمخلوق دده په قبضه کی وي.

لَوْكَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ دا دتوحید عادتی دلیل دی چی دعامو عادتونو پراعتبار باندی مبنی دی او ددلیل عقلی طرف ته هم اشاره ده چی مختلف تقریرونه یی دعلم کلام په کتابونو کی ذکردی او دلیل عادی په دی بنا سره دی چی که په مځکه اوآسمان کی دوه خدایان او دواړه مالکان اومختاران وي نوظاهره دا ده چی ددواړو حکمونه په مځکه اوآسمان کی پوره پوره نافذ په کاروه اوعادتًا داممکنه نه ده چی کوم حکم يو وکړي هغه دی بل هم وکی یاکوم شی چی یوخوښوي هغه دی بل هم خوښ کړي نوپه دی وجه کله کله درایی اختلاف او دحکمونو اختلاف خامخا لازمی دی او کله چی د دوو خدایانو حکمونه په مځکه اوآسمان کی مختلف سول نونتیجه یی ددی دواړو دفساد څخه ماسوا بله څه ده یوخدای غواړي چی دا وخت ورځ دی وي اوبل خدای غواړي چی شپه دی وي یوخدای غواړي چی باران دی وي ، بل خدای

غواړي چي نه دي وي ، نو د دواړو ديو بل څخه خلاف حکمونه به څنګه جاري سي؟ اوکه يومغلوب سر نو بيا خو مختار مالك اوخداى پاته نه سو، پردې باندې دا شبهه چي دواړه به په خپل مينځ کي مشوره کوي حکمونه به جاري کوي په دې کي څه بعددې؟ ددې جواب دعلم کلام په کتابونوکي ډېر په تفصيل سره راغلى دى ، په دومره خبره دلته هم پوه سى چي که دواړه دمشوره پابندسى ، يو بغير دبل دمشورې څخه څه کارونه کړل سى ، نو ددې څخه خو دا لازميږي چي په دوى کي يو هم مالك او مختار نه دى ، دواړه ناقص دي اوناقص خداى نه سى کيدى اوشايد په راتلونکى آيت ، لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ : کي هم دې طرف ته اشاره پيداکيږي چي کوم سړي ديو قانون پابند وي چي دکارونو يې چاته دمؤاخذې کولو حق وي هغه خداى نه سى کيدى ، خداى هغه دى کوم چي دچا پابند نه وي دده څخه دپوښتنې کولوحق چاته نه وي که خدايان دوه وي او دواړه دمشورې پابندوي نو هر يوه ته دبل څخه دپوښتنې کولو او په مشوره نه کولو دمؤاخذې حق لازمي دى کوم چي په خپله دخدايي دمنصب سره منافي دى.

هَٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِي : ددې يو مطلب خو هغه دى کوم چي په لنډ تفسيرکي بيان سوى دى چي د ذِكْرُ مَنْ مَعِيَ : څخه مراد قرآن کريم او د ذِكْرُ مَنْ قَبْلِي څخه مراد تورات انجيل او زبور وغيره تير پخواني کتابونه دي اومعنى دآيت دا ده چي زما اوزما دملګرو قرآن او دتيرو امتونو کتابونه تورات انجيل وغيره موجود دي ، ايا په هغوى کي په يو کتاب کي دالله ﷻ څخه ماسوا دچا دعبادت تلقين موجود دى په تورات او انجيل وغيره کي دتحريف کيدو باوجود دا خو تر اوسه پورې هم يو ځاى صفا نسته چي دالله ﷻ سره څوك شريك کړي اوبل معبود جوړ کړي.

په بحر محيط کي ددې دا مطلب هم بيان سوى دى چي دا قرآن ذکر دى زما دملګرو دپاره هم او زماڅخه دمخکنيو دپاره هم مطلب دا دى چي دخپلو ملګرو دپاره خو ددعوت او دشريعت داحکامو په لحاظ سره ذکر دى او دتيرو پخوانيو دپاره ذکر په دې معنى دى ، چي ددې په ذريعه دپخوانيو حالات اومعاملې او قصې ژوندى دي.

لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ : يعنى ملائکي دالله ﷻ اولاد خو څه کوى هغه خو دومره په بيره او ادب سره اوسيږي چي نه په خبره کي دالله ﷻ څخه مخکي کيږي او نه په کارکي دهغه خلاف کله هم څه کوي په خبره کي دمخکي کيدو مطلب دا دى چي تر څو پورې دالله ﷻ دطرف څخه څه ارشاد نه وي په خپله په يو خبره کي دمخکي کيدو همت نه کوى ، ددې څخه هم دا معلومه سوه چي دمشرانو يو ادب دا هم دى ، چي هرکله په مجلس کي څه خبره راسى نو کوم چي په دې مجلس کي مشر دى دهغه دخبرې انتظار دى وسى ، اول دبل چا خبرې کول د ادب څخه خلاف دي.

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا

ایا نه گوري دا منکران چي اسمان او مځکه بند

رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ؕ

وو بیا مونږ دوی خلاص کړل او جوړ کی مونږ په ابو سره هر یو شی په کوم کی چی روح دی

أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ

پس ایا دوی یقین نه کوی ؟ او کښېښوی مونږ په مځکه دروند بار چی په دوی ونه ښوری

بِهِمْ وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ﴿٣١﴾

او جوړی کړی مونږ په دی کی پراخی لاری چی دوی لار پیدا کی

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۚ وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا

او جوړ کی مونږ اسمان چت محفوظ ، او دوی داسمان نښو ته

مُعْرِضُونَ ﴿٣٢﴾ وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ

نکر نه کوی ، او الله ﷻ هغه دی چی جوړه یی کړه شپه او ورځ او لمر

وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٣٣﴾

او سپوږمی ، ټول په خپل خپل کور کی ګرځی.

لنډتفسیر: آیادی کافرانو ته دا خبره معلومه نه سوه چی آسمان او مځکه (اول) بندو (یعنی نه دآسمان څخه باران کیدی نه دمځکی څخه حاصلات دی ته یی بندوالی فرمایلی دی ، لکه چی اوس هم که په یو ځای یا په یو وخت کی دآسمان څخه باران او دمځکی څخه حاصلات نه وی ، نو ددغه ځای یاددغه زمانی په اعتبار سره دوی ته بندویل کیږی) بیا مونږ دواړه (په خپل قدرت سره) خلاص کړل (چی دآسمان څخه باران او دمځکی فصلونه تو کیدل شروع سول) او (په باران سره صرف ښنه بوټی ترقی نه کوی بلکه) مونږ (دباران) په اوبو سره هر روح لرونکی جوړکړي دی (یعنی دهر ژوندی او روح لرونکی په ژوند اوباقی

پاته کیدوکی د اوبو دخل خامخا دی برابره خبره ده که بی واسطی وی اوکه په څه واسطه سره لکه چی په
بل آیت کی دی ، وَمَا أَنْزَلَ اللهُ مِنَ السَّمَاءِ مِنْ مَاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِنْ كُلِّ دَابَّةٍ : ایا
(ددی خبرو داوریدو څخه وروسته) بیاهم ایمان نه راوړی اومونږ (په خپل قدرت سره) په مځکه کی
غرونه ځکه جوړکړل چی مځکه په دی خلګو ونه ښوری اومونږ په دی (مځکه) کی پراخی لاری جوړی
کړی ، چی خلګ (ددی په ذریعه سره) منزل (مقصود) ته ورسیږی او مونږ (په خپل قدرت سره) آسمان (په
مقابله دمځکی کی ددی پر سر په مثل د) دیو چت جوړکی کوم چی (په هردول) محفوظ دی (یعنی
درالویدو څخه هم دماتیدو څخه هم او ددی څخه هم چی شیطان هلته ورسیږی دآسمان خبری واوری مګر
دا دآسمان محفوظ والی او مضبوط والی هم دائمی نه دی تر یوې زمانی معینی پوری دی) او داخلګ (د
آسمان د) دی (موجوده) نښانو څخه منع کوی (یعنی غور اوفکر نه په کښی کوی) اوهغه داسی (قادر) دی
چی هغه شپه او ورځ اولمر او سپوږمی جوړ کړل (دغه نښانی دآسمان هم دا دی او په لمرسپوږمی کی هر
یو په یوه دائره کی داسی روان دی چی شاید) لامبو وهی .

(معلومات اومسئلي)

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا : دلته لفظ درؤیت په معنٰی دعام علم دی برابره خبره ده که دغه دسترګو په لیدو
حاصل سی یاپه عقلی دلیل سره ، ځکه چی مخته کوم مضمون را روان دی دهغه تعلق څه دمشاهدی
اولیدو سره دی ، اوڅه دعلم استدلالی سره .

أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا : دلفظ درَتق ، معنٰی بندیدل او دفتق معنٰی خلاصیدل دی ،
ددی دواړو لفظونو مجموعه رتق اوفتق دیو کار دانتظام او ددی دپوره اختیار په معنٰی کی
استعمالیږي ، دآیت دالفاظو ترجمه دا سوه چی آسمان اومځکه بندوه ، مونږ دوی خلاص کړل په دی کی
دبندوالی او خلاصیدو څخه څه مراد دی ، ددی په مراد کی دمفسرینو حضراتو مختلف اقوال نقل سوی
دی ، په دی ټولو کی چی کومه معنٰی صحابه کرامو ﷺ اوجمهورو مفسرینو اختیار کړي ده دغه هغه ده
کومه چی په لنډتفسیر کی را اخستل سوي ده چی دبندیدو څخه مراد دآسمان باران او دمځکی
حاصلات بندیدل دی ، او دخلاصولو څخه یی مراد ددی دواړو خلاصول دی .
په تفسیر ابن کثیرکی د ابن ابی حاتم په سندسره دحضرت عبدالله ابن عمرﷺ دا واقعه نقل ده، چی
یوسړی ده ته راغی او دده څخه یی ددی آیت دتفسیر پوښتنه وکړه دوی دحضرت ابن عباسﷺ طرف ته
اشاره وکړه وي فرمایل چی دغه شیخ ته ورسه پوښتنه ورڅخه وکړه اوهغه چی څه جواب درکی ماورڅخه
هم خبر کړه دغه سړی حضرت ابن عباس ﷺ ته ورغلی اوپوښتنه یی ورڅخه وکړه چی په دی آیت کی
دَرَتْقًا او فَتْقًا څخه څه مراد دی؟ حضرت ابن عباس ﷺ وفرمایل چی اول آسمان بند وو باران ورڅخه نه
اوریدی اومځکه بنده وه بوټی اوفصلونه نه په کښی توکیدل ، کله چی الله ﷻ پر مځکه انسان اباد کی

نو د آسمان باران یې خلاص کې او د مځکې نشو او نما، دې سرې د آیت تفسیر معلوم کې ، حضرت ابن عمر ﷺ ته بیرته راغې او څه چې یې د حضرت ابن عباس ﷺ څخه اوریدلې وه هغه یې بیان کړل ، نو حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ وفرمایل چې اوس ماته ثابته سوه چې واقعي حضرت ابن عباس ﷺ ته د قرآن علم ورکول سوي دی د دې څخه مخکې ماد قرآن د تفسیر په باره کې د حضرت ابن عباس ﷺ بیانونه یوه زړه ورتیا ګڼله چې زمابه خوښه نه وه اوس معلومه سوه چې الله ﷻ ده ته د قرآن د علمونو خاص ذوق ورکړي دی ، دوی د رتق او فتق تفسیر وفرمایل.

په روح المعاني کې دابن عباس ﷺ دا روایت د ابن المنذر او ابونعیم او د محدیثنو دیوجماعت په حواله سره نقل کړي دی چې په دی کې حاکم صاحب د مستدرك هم دی ، حاکم دی روایت ته صحیح ویلی دی.

ابن عطیه عوفي دا روایت نقل کوی او وایې چې دا تفسیر حسن او جامع او د قرآن د سیاق اوسباق سره مناسب دی ، په دی کې د منکرینو خلاف عبرت او حجت هم دی او د الله ﷻ د خاصو نعمتونو اوکاملو قدرتونو اظهار هم کوم چې د معرفت او توحید بنیاد دی او په وروسته آیت کې چې کوم ، وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ، فرمایې د دې سره یې هم د دې معنی په اعتبار سره مناسبت دی په بحرِ محیط کې یې هم دا اختیار کړي ده ، قرطبی دا د عکرمه ﷺ قول هم ګڼلی دی او فرمایې چې په یو بل آیت سره هم د دې معنی تائید کیږي ، یعنی وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ! وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ، طبری هم دا تفسیر اختیار کړي دی.

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ : مراد دادی چې د هر روح لرونکی په پیدائش کې داوبو دخل خامخا دی او روح لرونکی د تحقیق کوونکو په نزد صرف انسانان او حیوانات نه دی بلکه په نباتاتو او جماداتو کې هم روح اوژوند د تحقیق کوونکو په نزد ثابت دی اوظاهره ده چې داوبو د دې ټولو شیانو په پیدائش اوایجاد اوترقی کې لوی دخل دی.

ابن کثیر د امام احمد په سند سره په روایت د حضرت ابوهریره ﷺ نقل کړي دی حضرت ابو هریره ﷺ فرمایې چې ما نبی کریم ﷺ ته عرض وکې یارسول الله ﷺ! زه چې هرکله ستا زیارت کوم ،نو زما زړه باغ باغ او سترګې یخې سی تاسی ماته د هرشی (د پیدائش) په باره کې وښیاست دوی وفرمایل چې هرشی د اوبو څخه پیدا سوي دی ، د دې څخه وروسته حضرت ابوهریره ﷺ پوښتنه وکړه چې ماته یو داسی عمل وښیاست د کوم په کولو سره چې زه جنت ته ورسم دوی ورته وفرمایل ، اَفْشِ السَّلَامَ وَاَطْعِمِ الطَّعَامَ وَصِلِ الْاَرْحَامَ وَقُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ ثُمَّ اُدْخُلِ الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ تَفَرَّدَ بِهِ اَحْمَدُ وَهٰذَا اِسْنَادٌ عَلٰى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ .

سلام کول عام کړه (برابره خبره ده که مخاطب نااشناوی) اوخوراك ورکوه (داهم په حدیث کې عام دی هر سړی ته خوراك ورکوه که کافر اوفاسق هم وی ثواب په کښې دی) اوصله رحمی کوه او د شپې د تهجد لمونځ کوه کله چې ټول خلګ بیده وی نو جنت ته به په سلامتی سره داخل سی.

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ : لفظ د : مَيْدَ ، په عربی ژبه کې بنوریدونکی حرکت ته ویل کیږي

او مراد دآیت دا دی چی پرمخکه دغرونو بار الله ﷻ ددی دتوازن برقرار ساتلو دپاره غورځولی دی چی
دا رپیدونکی حرکت ونه کړل سی چی په دی سره به پردی سربیره اوسیدونکو ته نقصان ورسیږی ، ددی
دفلسفیانه تحقیق چی دغرونو دبار دمخکی په قرار ساتلوکی څه دخل دی؟ ددی دلته ضرورت نسته ،
په تفسیر کبیر وغیره کی ددی تفصیلی بیان دعلم خاوندان لیدی سی او په قدر دضرورت دسورة نمل په
تفسیرکی حضرت حکیم الامت په تفسیر بیان القرآن کی هم لیکلی دی .

كُلٌّ فِىْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ : لفظ دَ فَلَكَ په اصل کی هری دائری اوګول شی ته ویل کیږی ، په دی وجه په څرخ
کی چی کومه ګول چمړه لګیدلی وی ، هغه ته فلكة المغزل وایی «روح» او په دی وجه سره آسمان ته هم
فلك ویل کیږی ، دلته مراد دفلك دلمر اوسپوږمی څخه هغه مدارونه دی په کوموچی دوی حرکت کوی
دقرآن په الفاظو کی ددی څه وضاحت نسته چی دا مدارونه په آسمان کی دننه دی اوکه دباندی په
فضاکی ، موجوده خلایی تحقیقاتو دا واضحه کړي ده چی دا مدارونه په خلاء اوفضاء کی دآسمان څخه
ډیر لاندی دی .
ددی آیت دظاهر څخه دا هم معلومیږی چی لمر هم پر یو مدار حرکت کوی نوی فلاسفران اول ددی څخه
منکر وه اوس هغوی هم ددی قائل سوي دی د زیات تفصیل دا ځای نه دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِنْ مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ

او نه دی ورکړی مونږ ، ستا څخه مخکي يوبنده ته همیشه ژوند پس آیا که ته مړ سی نو دوی به ژوندی پاته سی؟

ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ۗ وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ۖ وَإِلَيْنَا

هرنفس څکونکی دی دمرګ او مونږ ستاسی ازمائش کوو په بدی او په نیکی سره دپاره دازمائش او مونږ ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا إِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ إِلَّا

به واپس سی ، او هرکله چی ووینی تا منکران نو نه نیسی تا مګر

هُزُوًا ۖ أَهٰذَا الَّذِيْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ۚ وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمٰنِ

په توقو سره ، آیا دا هغه سړی دی چی نوم اخلی ستاسی دمعبودانو ؟ او دوی درحمن

هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿٣٦﴾ خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ۗ سَاُورِيْكُمْ اٰيٰتِيْ

دنوم څخه منکر دی ، جوړ دی انسان دتلواری څخه ژر ده چی وبه ښیم تاسی ته

فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنِ ﴿۳۷﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ

خپلی نښانی ، پس تلوار مه کوی زما څخه ، او وایی کله به وی دا وعده که تاسی

صٰدِقِيْنَ ﴿۳۸﴾ لَوْ يَعْلَمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ عَنْ

رښتونی یاست ؟ ، که پوه وی دا منکران دهغه وخت څخه چی منع به نه کړی

وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۳۹﴾

دمخونو خپلو څخه اور او نه دخپلو شاګانو څخه اونه به دوی ته مدد ورسیږي ،

بَلْ تَاْتِيْهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ رَدَّهَا وَلَا

داسی نه ده هغه به راسی په دوی ناڅاپه ، پس دوی به بد حواسه کړی ، بیا به نه واپس کول کیږي هغه ته ، او نه به

هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

دوی ته فرصت ورسیږي ، او مسخری سوی دی په رسولانو پوری ستاسی څخه مخکې

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۱﴾ ع

بیا چپه ولویدی په مسخروکوونکو باندی د دوی څخه هغه شی په کوم پوری چی دوی مسخری کولی

قُلْ مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمٰنِ ؕ بَلْ هُمْ

تهووایه څوك حفاظت کوی ستاسی په شپه کی او په ورځ کی د رحمن څخه دا سی نه ده بلکه

عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ

دوی دخپل رب د ذکر څخه منع کوی ، یا د دوی دپاره څوك معبودان سته چی محفوظ کوی یی

دُوْنِنَا ؕ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا

زمونږ څخه ماسوا ؟ دغه خو خپل مدد هم نه سی کولی او نه د دوی سره زمونږ په باره کی

يُصْحَبُونَ ﴿٤٣﴾ بَلْ مَتَّعْنَا هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ

ملګر تیا کولی سی ، داسی نه ده بلکه مونږ نفع ورکړه دوی ته او د دوی پلار نیکه ته ، تردی چی اوږد سو

الْعُمُرُ ۗ أَفَلَا يَرَوْنَ أَنَّا نَأْتِي الْأَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ أَطْرَافِهَا ۚ

په دوی باندی ژوند ، آیا پس دوی نه ګوری چی مونږ راتله کوو په مځکه کمولو داطرافو څخه

أَفَهُمُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾ قُلْ إِنَّمَا أُنْذِرُكُمْ بِالْوَحْيِ ۚ وَلَا يَسْمَعُ

پس ایا دوی غالب کیدونکی دی؟ ته وروایه دا زه چی تاسی بیروم نو دحکم موافق ، او نه اوری

الصُّمُّ الدُّعَاءَ إِذَا مَا يُنْذَرُونَ ﴿٤٥﴾ وَلَئِنْ مَسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِنْ

کوڼ اواز کله چی ورته دبیری خبره کول کیږي ، او که چیری ورسیږي دوی ته ګرم تپ

عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُولُنَّ يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ

دعذاب درب ستا نو خامخا به ووایی های زمونږ کم بختی بیشکه وو مونږ ګناهګار ، او کښیږدو

الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا ۖ

به مونږ تله دانصاف دقیامت په ورځ پس ظلم به نه وی په هیڅ نفس یوه ذره

وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَاسِبِينَ ﴿٤٧﴾

او که وی په قدر د سپلنی ددانی هومره نو مونږ به راړو هغه ، او مونږ پوره یو حساب کوونکی

لنډتفسير: او (دا خلک کوم چی ستا دوفات خوشحالی کوی لکه داقول دالله ﷻ دی ، نَتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ : دا وفات هم منافی دنبوت نه دی ، ځکه چی) مونږ ستا څخه مخکی هم یو بنده ته (برابره خبره ده که هغه نبی وی او که غیرِ نبی په دنیاکی) همیشه پاته کیدل نه دی خاص کړی (لکه چی داقول دالله ﷻ دی وَمَا كَانُوا خَالِدِينَ : نو لکه څنګه چی ستا څخه مخکی پیغمبرانوته مرګ راغلی دی او په دی سره د دوی په نبوت کی دچاشك نه دی راغلی دغه ډول ستاپه وفات سره ستاپه نبوت کی هیڅ شك نه سی کیدی ، لنډه دا ده چی نبوت اومرګ دواړه په یوسړی کی یوځای کیدی سی) بیا (داچی) که چیری ستا

انتقال وسی نوایا دا خلک به (په دنیاکی) همیشه همیشه پاته وی؟ (اخر دوی به هم مری بیا دخوشحالی ځه ځای دی ، مطلب دا دی چی ستا په وفات سره د دوی خوشحالی که دنبوت دباطلیدو دپاره وی ، نو مَاجَعَلْنَا لِبَشَرٍ الخ ددی جواب دی ، او که په ذاتی بغض اودښمنی سره وی نو ، اَفَائِنْ مِّتَّ الخ ددی جوا دی ، غرض په هرحال کی دا انتظارمهمل اوعبث دی اومرګ خو داسی شی دی چی په تاسی کی) هر جاندار دمرګ خوند څکی او (دا چی کوم یوڅو ورځی مونږتاسی ته ژوند درکړي دی نو ددی مقصود محض دا دی چی) مونږ تاسی په بد اوښه حالتونو سره ونرمایو (دبدحالت څخه مراد هغه دی کوم چی دمزاج مخالف وی لکه مرض فقر، او دښه حالت څخه مراد هغه دی کوم چی دمزاج موافق وی لکه صحت اوغناپه ژوندکی داحالتونه په مختلف طور سره را پیښیږی ، څوك په دی کی ایمان او اطاعت په ځای را وړی اوڅوك کفر اونافرمانی کوی مطلب دا دی چی ژوند په دی وجه درکړل سوي دی چی وګورو چی څنګه عمل کوی) او (ددی ژوندپه ختمیدو به) بیا تاسی ټول مونږ ته بیرته راځی به (اوهر یوه ته به ده مناسب سزا اوجزا ورکوو ، نو مهم کار خو مرګ اودمرګ څخه وروسته سو، او ژوند خومحض عارضی سو، بیاداخلق په دی ولی مستی کوی ، اودپیغمبر په وفات خوشحالی کوی؟ داسی ونه سوه چی په دی عارضی ژوندکی یی دولت دایمان اوطاعت ګټلی وو کوم چی به د دوی په کار ورغلی وو اوچپه خپله عملنامه توره او دآخرت منزل درنوی بیریږی نه) او (ددی منکرانو دا حالت دی چی) داکافران خلګ کله چی تا ووینی نو بس په تاپوری خنداګانی اوټوکی شروع کړی (اوپه خپل مینځ کی وایی) ایا داهغه (صاحب) دی کوم چی ستاسی دمعبودانو (په بدی سره) ذکرکوی (نو پر تاخو دبتانو څخه دانکارهم اعتراض دی) او په (په خپله) داخلګ د (حضرت) رحمٰن (ﷻ) په ذکر باندی انکار (اوکفر) کوی (نو د اعتراض خبره خوپه حقیقت کی دا ده ، په دی وجه دوی لره په خپل دی حالت پوری مسخری کول په کار وو او د دوی حالت دا دی چی کله دکفر دسزا مضمون اوری لکه چی لوړ ذکرسوی دی اِلَیْنَا تُرْجَعُوْنَ : نو په دی وجه چی درواغ یی ګڼی ددی خبری تقاضا کوی چی دا سزا ژر راسی او دا تقاضا اوتلوار کول څه دانسانی طبیعت خاصه اکثریه هم ده ، نو ددی طبعی کیدل داسی دی لکه چی ګواکی) انسان دتلواری (دخمیر) څخه جوړ دی (یعنی تلواری اوجلد بازی ګویاکه د ده اجزاء ترکیبیه دی ، په دی وجه داخلګ عذاب ژر ژر غواړی او ددی په ژر نه راتلو باندی دوی دلیل نیسی چی دا به نه واقع کیږی لیکن ای کافرانو داستاسی غلطی ده ، څکه چی ددی وخت معیّن دی نو لږ صبر وکی) مونږ ډیر ژر (ددغه په وخت راتلو) تاسی ته خپلی نښانی (دقهر یعنی سزاګانی) ښیو نوتاسی پرما تلواری مه کوی (څکه چی عذاب دوخت څخه مخکی نه راځی اوچی وخت یی راسی نو لیری کیږی نه) او دا خلګ (کله چی دامضمون اوری چی په وعده سوی وخت به عذاب راځی نو رسول او مومنانو ته داسی) وایی چی دا وعده به څه وخت راځی که تاسی (دعذاب دواقع کیدوپه خبرکی) رښتینی یاست (نوتوقف ولی په کښی دی ژر ولی

نه راځي؟ اصل خبره دا ده چي دوی ددغه مصيبت څخه خبر نه دي چي داسي بی فکره خبری کوی) کاشکې
چي دا کافران دهغه وخت څخه خبر وای کله چي (دوی دهرطرف څخه د دوږخ اور راګير کړی او) داخلک
نه دغه اور دخپل مخ څخه منع کولی سی او نه دخپلی شا څخه او نه به د دوی څوك حمايت کوی (يعنی که
ددی مصيبت څخه خبر وای نو داسي خبری به يی نه جوړولی او دا چي کوم په دنياکی داور دعذاب
دپاره فرمائش کوی نو دا ضروری نه ده چي د دوی دفرمائش مطابق د اور عذاب راسی) بلکی دغه اور
(خو) به دوی يو دم را ونيسی نو دوی به بد حواسه کړی بيا به نه دهغه دليری کولو د دوی قدرت وی او نه
به دوی ته مهلت ورکول کيږی او (که دغه خلګ داسي ووايي چي ددغه عذاب وعده خوپه آخرت کی ده
په دنيا کی نه سی راتلی نو ښه ده بيا په دنياکی خو يی څه نمونه وښياست نو که څه هم دنمونی دپاره
دهغه ښوول ضروری نه دی ليکن بياهم دوی ته دنمونی ليدلو دپاره پته ورکوو هغه داچي) ستاڅخه
مخکی کوم پيغمبران چي تير سوي دي دهغوی سره هم (دکفارو دطرف څخه) مسخری وسوی کومو
خلقو چي د دوی سره مسخری کړی وی پرهغوی هغه عذاب واقع سو په کوم پوری چي به يی مسخری
کولی (چي عذاب کوم دی نو ددی څخه معلومه سوه چي کفر موجب دعذاب دی نوکه په دنياکی واقع نه
سی نوپه آخرت کی به وی او داهم دوی ته) ووايه (چي په دنياکی کوم تاسی دعذاب څخه محفوظ ياست
نو دا حفاظت هم حضرت رحمٰن کوی ، په دی کی هم دهغه احسان اوپر توحيد دلالت دی اوکه تاسی دا نه
منی نو بيا وښياست) چي هغه څوك دی کوم چي دشپی او د ورځی درحمٰن (دعذاب) څخه ستاسی
حفاظت کوی (او ددی مضمون منل سوی مقتضا دا وه چي په توحيد قائله سوی وی ، مګر دوی اوس هم
قائل نه سوه) بلکی دغه خلګ (اوس هم په خپل دستور) دخپل (حقيقی) رب د ذکر (دتوحيد قبلولو) څخه
مخ اړوی (البته مونږ د: مَنْ يَّكْلَؤُكُمْ : دمصداق دوضاحت دپاره په توضيح سره پوښتنه کوو چي) ايا د
دوی زمونږ څخه ماسوا نور داسی معبودان سته چي (دذکر سوی عذاب څخه) د دوی حفاظت کوی (دغه
عاجزان به د دوی څه حفاظت وکی دهغوی دعاجزی اوبی وسی خو دا حالت دی چي) هغه خو په خپله
دخپل حفاظت قدرت نه لري (مثلاً که څوك د دوی په ماتولو شروع سی نوخپل ځان ورڅخه هم نه سی
خلاصولی لکه دالله ﷻ دا قول وَاِن يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ الخ نو نه دغه د دوی معبودان د دوی حفاظت کولی
سی) او نه زمونږ په مقابله کی څوك د دوی ملګرتيا کولی سی (اوداخلګ سره ددی قوی دليلونوکوم چي
حق نه قبلوی نو دا وجه نه ده چي په دعوىٰ يادليل کی څه خلل دی) بلکی (اصل وجه ددی دا ده چي)
مادوی لره او د دوی پلارانو اونيکونو لره (ددنيا) ښه سامان ورکی تردی چي پر دوی (په دی حالت کی)
يوه اوږده زمانه تيره سوه (چي پښت پرپښت عيش او ارام کوی را روان دی نو دوی مغروره سول
اوسترګی پټی سوی مطلب دا دی چي په دوی کی دغفلت خلل دی ليکن د دومره تشريعی اوتکوينی
پوهولو باوجود داسی غفلت نه دی په کار هم دارنګه دپوهولو يو بل کار ذکر کيږی هغه دا چي) ايا دوی

ته دا په نظر نه راځي چي مونږ (د دوی) مځکه (په ذريعه د اسلامي فتوحاتو) دهر څلور طرفه څخه برابر کمولی سو نو ايا دا خلگ (داتوقع لری چي په نبی کريم ﷺ او مومنانو) به غالب سی (ځکه چي عادتی قرينی او دليلونه نازليدونکی پر دی متفق دی چي دوی به مغلوب او اهلِ حق به غالب وی تر هغه وخته پوری چي مسلمانان دالله ﷻ د اطاعت څخه مخ وانهړوی او داسلام حمايت پری نه ږدی نو په دی کار کی تامل کول هم دپوهيدو دپاره کافي دی که په دی باندی هم دعناد او جهالت په وجه دعذاب واقع کيدو فرمائش کوی نو) ته ووايه چي زه خو صرف دوحی په ذريعه سره تاسی بيروم (دعذاب را وستل زما دوس څخه بهر دی) او (که څه هم دا طريقه حق ته ددعوت ورکولو او دبيرولو دپاره کافي ده مگر) داکاڼه څه وخت چي (حق ته درابللو دپاره دعذاب څخه) وبيرول سی نو نه اوری (اوحق دواضح کيدو پرطريقه تامل نه کوی مگرهم داسی پرمخ عذاب غواړی) او (د دوی دلوی همت حال خو دا دی چي) که دوی ته ستادرب دعذاب يوه ذره قدر څپه هم ور ورسيږی نو (ټوله بهادری به يی ختمه سی او) داسی به وايی چي های زمونږ کوم بختی (ځنگه مونږ ته مخ ته راغلی) واقعی مونږ خطاكار وو (بس په دی همت باندی دعذاب فرمائشونه کوی واقعی د دوی دشرارت هم دامقتضا وه چي په دنياکی فيصله سوی وای مگرمونږ دډيرو حکمتونو په وجه په دنياکی وعده سوی سزا نه غواړو چي وسی ، بلکی دآخرت دپاره يی ساتو) او (هلته) دقيامت په ورځ به مونږ ميزان دعدل قائم کړو (اودټولو عملونه به وزن کوو) نو پرچا به هيڅکله ظلم نه سی کيدی (او دظلم نه کيدو به دا فائده وی چي) اوکه (دچا يو) عمل دسپلنی ددانی برابر هم وی خو مونږ به هغه (هلته) حاضرکړو (او دهغه به هم وزن وکړو) اومونږ حساب اخستونکی کافي يو (زمونږ ددی وزن اوحساب څخه وروسته به بيادڅه حساب اوکتاب ضرورت پاته نه سی بلکی په دغه باندی به ټوله فيصله وسی نو هلته به دخلگو دشرارتونو هم کافي او مناسبه سزا جاری سی)

(معلومات اومسئلي)

وَمَاجَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ : په تيرو آيتونوکی دکفارو اومشرکانو دباطلو دعوو اومشرکانه عقيدو چي په دی کی دحضرت مسيح ﷺ ياحضرت عزير ﷺ وغيره دخدای سره شريك يافرشتو اومسيح ﷺ ته دخدای اولاد ورېل سول ددی گمراهو عقيدو رد اوباطلوالی په داسی واضحو دليلونو سره راغلی دی چي دمخالفينو سره يی هيڅ جواب نه وو په داسی مواقعوکی چي کله مخالف په حجت او دليل سره مغلوبه سی نو دغصی څخه تاو راتاؤ کيږی اوهم ددی نتيجه وه چي مشرکانو دمکی خواهش کوی چي نبی کريم ﷺ ژر وفات سی ، لکه چي په ځينو ايتونوکی دی ، نَتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ : په دی آيت کی الله ﷻ د دوی ددی عبث خواهش دوه جوابونه ورکړي دی هغه دا چي که زمونږ نبی کريم ﷺ ژر وفات سی نوتاسی ته به څه فائده ورسيږی ؟ که ستاسی مقصد دا وی چي دی وفات سی نومونږ به خلگوته ووايو چي دی نبی او رسول نه وو ، کنه نومرگ به نه ورته راتلی نو ددی جواب يی دا ورکی چي دکومو انبياؤ

علیهم السلام نبوت چی تاسی هم منی ایا دوی ته مرګ نه دی راغلی؟ هرکله چی د دوی په مرګ سره دوی په نبوت او رسالت کی څه فرق نه دی راغلی نو دنبی کریم ﷺ په وفات سره د دوی دنبوت خلاف پروپیګنډه څنګه کولی سی؟ او که ستاسی مقصد د دوی په ژر وفات کیدو سره خپله غصه سړول وی نو یاد ساتی چی دا دمرګ خوشحالی څه معنیٰ لری.

اګر بمرد عدو جائی شادمانی نیست که زندګانئ مانیز جاودانی نیست

که دښمن مرسو نو دخوشحالی هیڅ ځای نسته ځکه چی زمونږ خپل ژوند هم همیشه نه دی (یعنی مونږ به هم یوه ورځ مرو)

(مرګ څه شي دی؟)

بیا ارشاد فرمایی کُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ : یعنی هر نفس دمرګ څکونکی دی؟ دلته مراد دهرنفس څخه دمځکی نفسونه یعنی دمځکی ساه لرونکی دی په دی کی اختلاف دی چی دقیامت په ورځ به ملائکو ته هم مرګ راځی او که نه ، ځینی حضرات فرمایی چی دیو وخت دپاره به پرټولو مرګ راسی برابره خبره ده که انسانان او دمځکی نفسونه وی او که ملائکی او آسمانی نفسونه وی ځینی حضرات فرمایی چی ملائکی او دجنّت حوری او غلمان دمرګ څخه مستثنیٰ دی ، والله اعلم (روح)

او دمرګ حقیقت دجمهورو عالمانو په نزد دروح دجسد عنصری څخه وتل دی او روح په خپله یو نورانی لطیف ژوندی حرکت کوونکی جسم نوم دی کوم چی دانسان په ټول بدن کی داسی ځای سوی دی ، لکه دګلاب عرق چی په ګل کی، ابن قیم رحمه الله دروح حقیقت بیان کړي دی او دا یی په سلو دلیلونو سره ثابت کړي دی (روح المعانی)

دلفظ د ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ : څخه اشاره دی طرف ته پیداکیدی سی چی هرنفس به دمرګ خاص تکلیف محسوس کړی ، ځکه چی دخوند څکولو محاوره په داسی موقعوکی استعمالیږی او دا ظاهره ده چی دروح څنګه اتصال چی دبدن سره دی ، ددی دوتلو په وخت کی دتکلیف او درد احساس یو طبعی امر دی پاته سوه دخینو خدایی خلګو دامعامله چی هغوی ته په مرګ سره خوند اوراحت حاصلیږی چی ددنیا دسختیو څخه خلاص سی او دلوی محبوب سره یی دملاقات وخت راسی نو دا یو بل ډول خوند دی کوم چی دبدن څخه دجدا کیدو دطبعی تکلیف څخه خلاف نه ده ، ځکه چی هرکله یو لوی راحت اولویه فائده په مخکی وی نو ددی دپاره وړوکی تکلیف برداشت کول اسان سی ، ددی معنیٰ په لحاظ سره ځینی خدایی خلګو ددنیا غم او تکلیف او مصیبتونه هم خواږه ګڼلی دی چی په محبت سره ترخه خواږه سی

غم چی ایستادۂ تو بر در ما اندر آ یارِ ما برادر ما

ای غمه ! ته په دروازه کی ولی ولاړ یی زما ، دننه راسه ته خو زما یار او زما ورور یی.

او مولانا روم رحمه الله فرمایی

۱

رنج راحت شد چو مطلب شد بزرگ گرد گله تو تیائی چشم گرگ

دلوی مقصد دحاصلولو دپاره تکلیف تیرول راحت جوړسی دپسو او بزو درمی دوړه دشر مبنی دسترګو دپاره رانجه جوړسی.

(ددنیا هر تکلیف او راحت ازمائش وی)

وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً: یعنی مونږ دشر او خیر دواړو په ذریعه دانسان ازمائش کوو، دشر څخه مراد هرخلاف طبع شی دی لکه بیماري رنج اوغم فقر اوفاقه او ددی په مقابله کی دخیر څخه مراد هرنفس ته مرغوب شی دی لکه صحت عافیت خوشحالي او راحت غناء او دعیش سامان وغیره دا دواړه قسمه شیان په دی دنیاکی دانسان د ازمائش دپاره راځی چی په شر یعنی خلاف طبع شیانو باندی صبر وکی حق یی ادا کی او پر خیر یعنی خوښوشیانو شکر وکی اوحق یی ادا کی، ازمائش دا دی چی څوك پر دی ثابت قدم پاته کیږي اوڅوك نه، او بزرګانو فرمایلی دی چی په حقونو دشکر باندی ثابت قدم پاته کیدل په نسبت دحقونو دصبر مشکل وی، انسان ته پرتکلیف صبر کول دومره ګران نه وی څومره چی په عیش او عشرت او ارام او راحت کی ددی په حق دشکر اداکولو باندی ثابت قدمی مشکل وی، په دی بنا باندی حضرت فاروق اعظم ﷺ فرمایی، بُلِينَا بِالضَّرَّآءِ فَصَبَرْنَا وَبُلِينَا بِالسَّرَّآءِ فَلَمْ نَصْبِرْ: یعنی په تکلیفونوکی مونږ اخته سو نو په دی مونږ صبر وکی لیکن کله چی په عیش او راحت کی اخته سو نو بیا مونږ صبر نه سو یعنی ددی په حقوقو اداکولو باندی ثابت قدم پاته نه سوو.

(تلواري مذموم ده)

خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ، عَجَل: په معنی دعجلت اوتلواری دی چی حقیقت یی څه شی دوخت څخه مخکی طلب کول دی او دا وصف فی نفسه مذموم دی، په قرآن کریم کی یی بل ځای هم دا دانسانی کمزوری په طور سره ذکر کړي دی وَكَانَ الْإِنسَانُ عَجُولًا، یعنی انسان ډیر تلواري دی، حضرت موسیٰ ﷺ کله چی کوه طور ته دخپل قوم څخه مخکی دالله ﷻ په دربار کی حاضر سو نو هلته هم په دی تلوار کولو عتاب وسو او دانبیاؤ علیهم السلام اوصالحانو په باره کی چی کوم ځای په نیکیوکی دتلواری اومخکی کیدو په طور دمدح ذکر سوي دی دغه دجلدبازی اوتلواری په معنی کی دا خل نه دی، ځکه چی دغه دوخت څخه مخکی دیو شی طلب نه دی بلکی پر وخت باندی دنیکیو د ډیرولو کوشش کول دی، والله اعلم

اود: خُلِقَ الْإِنسَانُ مِنْ عَجَلٍ: مطلب دا دی چی دانسان په طبعیت کی چی څنګه نوری کمزوری اینسول سوي دی په هغه کی یوه کمزوری دعجلت هم ده اوکوم شی چی په طبعیت اوجبلت کی داخل وی نوعرب هغه په دی عنوان سره تعبیر کوی چی داسری ددغه شی څخه پیدا سوي دی لکه دچاپه مزاج کی چی غصه غالبه وی نو ویل کیږی چی دی دغصی څخه جوړ سوی دی.

سَاُورِيْكم اٰيٰتِي : په دی کی دایتونو څخه مرادهغه معجزی اوحالات دی کوم چی دنبی کریم ﷺ په صدق اوحقوالی شهادت ورکوی (قرطبی) لکه په غزادبدروغیره کی دانبنبی په ښکاره طورسره ظاهری سوی او اخر دغو مسلمانانوغلبه تولو په سترگوسره ولیده کوم چی به دتولوڅخه زیات ضعیف اوذلیل گڼل کیدل

(په قیامت کې وزن دعملونو او دهغه میزان)

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ : لفظ د : مَوَازِيْنَ . دمیزان جمع ده کوم چی دتلی په معنی کی راځی ، دلته دمیزان دپاره دجمع صیغه استعمال سوي ده ، ددی څخه ځینو تفسیر لیکونکو حضراتو دا گڼلی ده چی دعملونو دتول دپاره به ډیری تلی استعمالیږی برا بره خبره ده که دهر سړی دپاره جلا جلا تله وي یا دخاصو خاصوعملونو دپاره جلا جلا تلی وی ، مگر جمهور عالمان پر دی متفق دی چی تله به یوه وي خو دجمع په صیغه یی ورڅخه تعبیر ځکه کړي دی چی دا به د ډیرو تولونو کار کوی ځکه چی دتولو مخلوقاتو دحضرت ادم ﷺ څخه واخله ترقیامته پوری چی شمیر یی الله ﷻ ته معلوم دی ددی ټولو عملونه به په دغه تله تلل کیږي .

اودَ قِسْط . معنی عدل او انصاف ده معنی دا ده چی دغه تله به په عدل اونصاف سره تول کوی هیڅ کمی او زیاتوب به نه کوی ، په مستدرك دحاکم کی په روایت دحضرت سلمان ﷺ روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دقیامت په ورځ به چی کومه تله دعملونو دوزن کولو دپاره ایښوول کیږی هغه به دومره لویه او پراخه وی چی که په هغه کی آسمان اومځکه تلل وغواړی نو هم به په کښی ځای سی (مظهری) حافظ ابوالقاسم لالکائی رحمه الله په خپل سنن کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په میزان باندی به یوه ملائکه مقرروی اوهر انسان به ددغه تلی خواته راوستل کیږي که دده دنیکو تول دروند سی نوملائکه به اواز وکی چی تول اهل محشر به یی واوری چی فلانی سړی کامیاب سو اوس به هیڅکله دی محرومه نه سی اوکه دنیکو تول یی سپك سی نو دغه ملائکه به اواز وکی چی فلانی سړی شقی او محرومه سو اوس به هیڅکله کامیابه اوبامراده نه سی اوحافظ مذکور دحضرت حذیفه ﷺ څخه روایت کړي دی چی داملائکه کومه چی به پرمیزان مقرره وی حضرت جبرائیل امین ﷺ دی (قرطبی)

حاکم اوبیهقی او آجری دحضرت صدیقی عائشی ﷺ څخه روایت کړي دی چی دی وویل مادنبی کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی ایا دقیامت په ورځ به هم تاسی خپل اهل اواولاد یادساتی نووي فرمایل چی دقیامت په ورځ کی به دری ځایونه داسی وی چی په هغه کی به هیڅوك چاته یادنه سی یوپه هغه وخت کی کله چی میزان دعدل ته دعمل تول کولو دپاره حاضرسی ترڅو پوری چی ددی نتیجه معلومه نه سی چی دنیکو تول یی دروند سو اوکه سپك دهیچابه څوك یادنه وی او دوهم مقام هغه دی کله چی عملنامی راوالوزول سی تر څو پوری چی دا معلومه نه سی چی دده عملنامه په رسته لاس کی راغله (کومه چی

دنجات نښانه ده) یا په چپه لاس یادشا دطرفه څخه (کومه چې دعذاب نښه ده) او دریم مقام په پل صراط دتیریدو وخت دی تر څو پوري چې پوري وتلی نه وی، هیڅوا ته به څوك یاد نه وی (مظهري)

وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا: یعنی په ورځ دحساب او دمیزان دعمل په وخت کی به دانسان تول لوی کوچنی ښه بد عملونه حاضرسی چې په حساب او وزن کی شامل سی.

(دعملونو دوزن کولو صورت)

دا هم کیدی سی چې دملائکو لیکل سوی عملنامی تول کړل سی، لکه چې په حدیث دبطاقه سره دی طرف ته اشاره راوزی او دا هم کیدی چې هلته عین عملونو ته دجوهر مستقله شکل ورکړل سی او وزن بی وکړل سی، په عام طور سره روایتونه پر دی باندی شاهد دی اوجمهورو عالمانو دا صورت اختیار کړي دی، په قرآن مجید کی د وَوَجَدُوا مَا عَمِلُوا حَاضِرًا وغیره آیتونو او ډیرو روایتونو دحدیث څخه ددی تائید کیږي.

(دعملونو محاسبه)

ترمذی دحضرت عائشه ﷺ څخه روایت کړي دی چې یو سړی دنبی کریم ﷺ مخ ته راغی کښینستی اوبیان یی وکی چې یارسول الله ﷺ زمادوه غلامان دی چې ماته دروواغ وایی او په معاملوکی خیانت کوی او زما دحکمونو خلاف ورزی کوی دهغه په مقابله کی زه دوی ته په ژبه هم بدرد وایم او په لاسو سره یی وهم هم، نو زما او ددی غلامانو انصاف به څه رنګه وی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل چې د دوی نافرمانی اوخیانت او سرکښی به وتلل سی بیاستا ښکنځل او وهل ټکول به وتلل سی که ستا سزا او دهغوی جرم برابر سو نو معامله به سر په سر سی اوکه ستا سزا دهغوی دجرم څخه کمه سوه نو دا به ستا احسان شمارسی اوکه دهغوی دجرم څخه زیاته سوه نو څومره چې تا زیاتوب کړي دی دهغه به ستاڅخه بدل اوقصاص واخستل سی دا سړی ددی ځای څخه ولاړ سو یوازی کښینستی اوژړل یی، ده ﷺ ورته وفرمایل چې ایاتا په قرآن کریم کی دا آیت نه دی ویلی. وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ: هغه عرض وکی چې اوس څو زما دپاره ددی څخه ماسوا بله لار نسته چې زه دوی ازاد کړم او ددی حساب دغم څخه بی فکره سم (قرطبي)

وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَىٰ وَهَارُونَ الْفُرْقَانَ وَضِيَاءً

او مونږ ورکړی وو موسی ﷺ او هارون ﷺ ته فیصله کوونکی کتاب او رڼا

وَذِكْرًا لِلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ

او نصیحت دبیردونکو دپاره، کوم چې بیریږي دخپل رب څخه په نالیدلو او دوی

مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ اَنْزَلْنٰهُ

دقیامت څخه خطره لرونکی دی ، دا یو نصیحت دی برکت والا چی مونږ نازل کړی

اَفَاَنْتُمْ لَهٗ مُنْكِرُوْنَ ﴿۵۰﴾

پس ایا تاسی دا نه منی

لنډتفسیر: اومونږ (ستا څخه مخکی) موسیٰ اوهارون (علیهما السلام) ته یو دفیصلی او رڼا او دمتقیانو دپاره دنصیحت شی (یعنی تورات) ورکړی وو چی کوم (متقیان) دخپل رب څخه بی لیدو ویره کوی او (دخدای څخه دبیری په سبب) دغه خلګ دقیامت څخه (هم) بیزه کوی (ځکه چی په قیامت کی ددی ویره ده چی دالله ﷻ ناراضتیا اوسزا ونه سی) او (لکه څنګه چی دغه کتاب مونږ هغوی ته ورکړی وو دغه شان) دا (قرآن هم) یو ډیرو فائده دنصیحت (کتاب) دی کوم چی مونږ نازل کی نو ایا (وروسته ددی کتابونو دنزول څخه چی عادة الله معلوم سو او په خپله ددی دالله ﷻ دطرف څخه نازلیدل په دلیل سره ثابت دی) بیاهم تاسی ددی (دالله ﷻ دطرف څخه دنازلیدو) څخه منکر یاست ؟

(معلومات اومسئلي)

اَلْفُرْقَانَ وَضِيَاءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ : دا دری سره صفتونه دتورات دی چی فرقان یعنی په حق اوباطل کی فرق کوونکی دی او دزړونو دپاره رڼا اونور دی او دخلګو دپاره د ذکر او تذکیر اوذریعه دهدایت ده . اوځینی حضرات فرمایی چی دفرقان څخه مراد دالله ﷻ کومک دی کوم چی په هره موقع باندی دحضرت موسیٰ ﷺ سره وو چی دفرعون په کورکی یی پرورش وسو اوبیا دده دمقابلی په وخت کی الله ﷻ فرعون ذلیل کي بیاچی دفرعون لښکروروپسی سونوپه دریاب کی یی لاری ورکړی نجات یی پیداکی او دفرعون لښکر غرق سو ، دغه ډول په هره موقع باندی دخدایی امداد مشاهده کیده اوضیاء اوذکر دواړه دتورات صفتونه دی قرطبی دی ته ترجیح ورکړي ده ،ځکه چی دفرقان څخه وروسته دواوپه ذریعه په فاصله کولو سره دی طرف ته اشاره معلومیږی چی فرقان دتورات څخه علاوه یوبل شی دی ، والله تعالی اعلم

وَلَقَدْ اٰتَيْنَآ اِبْرٰهِيْمَ رُشْدَهٗ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيْنَ ﴿۵۱﴾ اِذْ قَالَ

او مخکي ورکړی وه مونږ ابراهیم ﷺ ته ، دده نیکه لار ، او وو مونږ په ده باندی خبردار ، کله چی ووېل

لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا

ده خپل پلار ته او خپل قوم ته دا څه صورتونه دی ، په کومو چی تاسی مجاور ناست یاست ؟ وې ویل

وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عٰبِدِينَ ﴿٥٣﴾ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ

مونږ پیدا کړي دي خپل پلاران نیکونه چې د دوی عبادت یې کوو ، وې ویل خامخا یاست تاسی او ستاسی

وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٥٤﴾ قَالُوٓا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ

پلاران او نیکونه په ښکاره گمراهي کی ، وې ویل ایا تا مونږ ته راوړی ده حقه خبره او

أَنتَ مِنَ اللّٰعِبِينَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

که ته لوبی کوی ؟ وې ویل داسی نه ده بلکه رب ستاسی داسمانونو او دمځکی

الَّذِى فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلٰى ذٰلِكُم مِّنَ الشّٰهِدِينَ ﴿٥٦﴾ وَتَاللّٰهِ

هغه دی کوم چې دوی یې جوړ کړل ؛ او زه ددې خبری قائل یم او قسم دی

لَأَكِيدَنَّ أَصْنٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا مُدْبِرِينَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ

په الله چې زه به علاج وکړم ستاسی دبتانو پس دهغه چې تاسی ولاړ سی په شا واپس ، بیایې کړل هغه

جُذٰذًا إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾ قَالُوا مَن

ټوټې ټوټې مګر یو لوی دهغوی چې شاید دده طرف ته رجوع وکړی ، وې ویل چا وکی

فَعَلَ هٰذَا بِـَٔالِهَتِنَآ إِنَّهُ لَمِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى

دا کار زمونږ دمعبودانو سره دغه خو بیشکه دبی انصافو څخه دی ، هغو وویل مونږ اوریدلی

يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرٰهِيمُ ﴿٦٠﴾ قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلٰى

دی یو ځوان دی چې بتانو ته څه وایی ، هغه ته وایی ابراهیم ﷺ ، هغوی وویل هغه را ولی

أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾ قَالُوٓا ءَأَنتَ فَعَلْتَ هٰذَا

دخلقو مخ ته شاید هغوی یې ووینی ، هغوی وویل ایا تا کړی دی دا کار

بِـَٔالِهَتِنَا يٰٓإِبْرٰهِيمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ

زمونږ دمعبودانو سره ای ابراهیم؟ وې ویل نه ! بلکه دا کړی دی د دوی دی مشر پس دده څخه پوښتنه وکړی

إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ

که دوی خبری کولی سی ، بیا یې سوچ وکی په خپلو زړونو کې پس وې ویل خلقو تاسې

الظَّالِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا عَلَى رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰؤُلَاءِ

بې انصافه یاست ، بیا یې نسکور کړل سرونه خپل ته خو ښه پوه یې چې دوی به نه خبرې

يَنْطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ

وکړي ، وې ویل بیا تاسې عبادت کوی ما سوا دالله ﷻ شخه دداسې چې نه تاسې ته

شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

څه نفع رسولی سی او نه ضرر ، بیزاره یم زه تاسې شخه او دکومو چې تاسې عبادت کوی ماسوا دالله څخه

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ

ایا تاسې نه پوهیږې ؟ وویل هغوی ده لره وسوزوی او مدد وکړی ، دخپلو معبودانو ، که تاسې څه

فَاعِلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾

کوونکی یاست ، مونږ وویل ای اوره! یخ سه او رام ورکوونکی سه ، په ابراهیم ﷺ باندې

وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنَاهُ وَلُوطًا

او اراده یې وکړه دده سره دبدو کولو ، بیا دوی وغورځول مونږ په نقصان کې ، او محفوظ کی مونږ دی او لوط

إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بَارَكْنَا فِيهَا لِلْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ

هغه مځکې ته په کومه کې چې برکت اینښی دی مونږ دمخلوق دپاره ، او ورکی مونږ ده ته اسحق

وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ ﴿٧٢﴾ وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً

او یعقوب مو ورکی په انعام کې ، او تول مونږ نیک بختان کړل ، او کړل مونږ دوی پیشوایان

يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ

چې لار به یې ښووله زمونږ په حکم سره او وحی وکړه مونږ دوی ته دکولو دنیکو او دقائم ساتلو دلمونځ

وَإِيتَآءَ الزَّكٰوةِ وَكَانُوا لَنَا عٰبِدِيْنَ ﴿۷۳﴾

او دورکولو دزکوٰة او دوی وه زمونږ عبادت کوونکی .

تفسیر: اومونږ ددغه (زمانی دموسٰی ؑ) څخه مخکی ابراهیم ؑ ته دده (دشان مناسب) ښه پوهه ورکړی وه اومونږ (علمی اوعملی کمالاتو) هغه ښه پیژندل (یعنی هغه ډیر لوی کامل وو دده هغه وخت دیادولو قابل دی) کله چی دوی خپل پلارته اوخپلو خلګوته (چی دوی یی په بت پرستی کی مشغول ولیدل) وفرمایل چی څه (عبث) بتان دی په کومو چی (دعبادت دپاره) تاسی چیله سوی ناست یاست (یعنی دوی هیڅکله دعبادت قابل نه دی) دغو خلګو (په جواب کی) وویل چی مونږ خپل مشران د دوی په عبادت کولو باندی لیدلی دی (اوهغه خلګ هوښیاروه، ددی څخه معلومیږی چی دا بتان لائق دعبادت دی) ابراهیم ؑ وویل چی بیشکه تاسی اوستاسی پلرونه اونیکه ګان (د دوی دعبادت په لایقو ګڼلوکی) په ښکاره غلطی کی (اخته) یاست (یعنی په خپله دهغوی سره د دوی دمعبودوالی څه دلیل اوسند نسته هغوی خوڅکه په ګمراهی کی دی اوتاسی دداسی خلګو تقلید کوی کوم چی بی دلیله اوبی ثبوته په وهمونو پسی تلونکی دی) په دی وجه تاسی په ګمراهی کی یاست چونکی دغوخلګو داسی خبره نه وه اوریدلی نو ډیر په تعجب سره یی وویل چی ایاته (په خپل نزد) رښتینی خبره مونږته پیش کوی که (هم هسی) توکی کوی ابراهیم (ؑ) وفرمایل داسی نه ده (توکی نه دی ، بلکه رښتینی خبره ده اوصرف زماپه نزدنه بلکه په واقع کی هم رښتینی خبره دا ده چی دا دعبادت قابل نه دی) بلکی ستاسی ربّ (حقیقی کوم چی لایق دعبادت دی) هغه دی کوم چی دټولو اسمانونو اومځکو رب دی چاچی (علاوه دتربیت څخه) هغه ټول (آسمانونه اومځکی او په دی کی چی کوم مخلوق دی چی دابتان هم په کښی داخل دی ټوله) پیدا کړل اوزه پردی (دعوٰی) دلیل هم لرم (ستاسی په شان په ړوندو سترګو تقلیدنه کوم) او په خدای قسم دی زه به ستاسی ددی بتانو فکر وکړم کله چی تاسی (د دوی دخوا څخه) ولاړسی (ددی دپاره چی د دوی عاجزوالی اوبی کاری زیاته ښکاره سی هغو خلګو دا وګڼله چی دی به یوازی زمونږ څه وکړی هیڅ پرواه یی ونه ساتله او ولاړل) نو (ددوی دتلو څخه وروسته) ده هغه بتان (په تبر وغیره سره مات ګوډ) ټوټی ټوټی یی کړل بغیر دهغه یو لوی بت څخه (کوم چی په بدن کی یاددغو خلګوپه نظرکی په عظیم والی کی لوی وو هغه یی پریښووی چی په دی سره یی یوقسم مسخره کول مقصودوه چی دیوپه روغ پریښوولو او دنورو په ټوکر ټوکر سره دایوقسم وهم کیدی سی چی چیری ده به داټول مات کړی وی ، نوابتداء د وهم څخه ده ، بیاچی کله دغه خلګ دماتوونکی تحقیق کوی اوپه دغه لوی بت خوبه شك هم نه کوی نو د دوی عاجزوالی به ورته هم معلوم سی اوحجت به نور زیات لازم سی ، نو دا په آخرکی پردوی باندی الزام دی یعنی لاجوابه کول یی دی اومقصود یی په شریکه دعجز ثابتول دی او دیو د دوی

په اقرارسره ، مطلب دا چې یوې په دې مصلحت سره پرېښوو ی اونورتول یې مات کړل چې شاید دغه
خلګ دابراهیم (ﷺ) طرف ته (دپوښتنې کولو په طور) رجوع وکې (اوبیاپه دغه تقریر دجواب سره
مکررحق ثابت سې مطلب دا چې دغه خلګ چې بت خانې ته راغلل نودبتانو بدل حال چې یې ولیدی په
خپل مینځ کې یې) وویل چې دا (دبې ادبې کار) زمونږ دبتانو سره چاکړې دی په دې کې هیڅ شك نسته
چې ده ډېر لوی غضب کړې دی (ددې خبرې پوښتنه هغو خلګو وکړه کوم چې ددې قول څخه ناخبره وو
تَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ الخ یاخو په دې وجه چې دوی به دغه وخت کې موجودنه وه، ځکه چې ددغه مناظرې په
وخت کې دټول قوم یوځای کېدل ضروري نه دی اویابه موجود وه مګر اورېدلې به یې نه وو اوځینو به
اورېدلې وی لکه په درمنثور کې دابن مسعودؓ څخه داسې نقل دی) ځینو وویل (کوم چې ددې قول
څخه خبروو) چې مونږ یوځوان سړی کوم ته چې ابراهیم ویل کېږي ددې بتانو (په بدی سره) ذکرکول
اورېدلی دی (بیا) هغو (ټولو) خلګو (یاکوموچې اول پوښتنه کړې وه) وویل چې (کله خبره داسې ده) نو بیا
ده دی دټولو خلګوپه مخکې حاضر کې چې (شاید هغه اقراروکی او) هغه خلګ (دده په اقرار) شاهد سی
(بیادحجت تمامیدو څخه وروسته ورلره سزا ورکول سی چې بیا څوك ملامتول ونه کړی ، مطلب دا چې
هغه دټولو په مخکې راغی اوهغه ته) هغوخلګو وویل چې ایازمونږ دبتانو سره داحرکت تاکړی دی ای
ابراهیمه! (ﷺ) هغه (جواب ورکړی) اووې فرمایل چې (تاسې دا احتمال ولې نه فرضوی چې دا حرکت ما
نه دی کړی بلکې د دوی دغه مشر (بت) کړې دی (اوکله چې په دې مشرکې دکار کولو احتمال کېدی نو
په دې کوچنو کې به دخبرو کولو هم احتمال وی) نو هم د دوی څخه پوښتنه وکړی که دوی خبرې کولی
سی (اوکه په لوی بت کې دکار کولو طاقت او په نورو بتانوکې دخبرو کولو طاقت محال اوباطل دی نو د
دوی عجز خو ستاسې په نزد ومنل سو بیا دمعبودوالې عقیده پرلړل څه معنی لری) په دې خبره هغو
خلګو په خپل زړه کې (سوچ وکی) بیایې (په خپل مینځ کې) وویل چې په حقیقت کې تاسې خلګ په
ناحقه یاست (اوابراهیم ﷺ په حقه دی کوم چې داسې عاجزوی هغه به څه معبود سی) بیا (دشرم څخه یې
خپل سرونه کښته کړل (ابراهیم ﷺ ته یې په ډېره مغلوبانه لهجه کې وویل چې) ای ابراهیمه! (ﷺ) تاته
خومعلومه ده چې دابتان (څه) خبرې نه سی کولی (مونږبه د دوی څخه څه پوښتنه وکړو او په دې سره
دمشر دکار کولو نفی خوپه درجه اولی وسوه دغه وخت) ابراهیم (ﷺ) وفرمایل چې (افسوس هرکله چې
خبره داسې ده) نوایا خدای پرېږدی اوتاسې دداسې شی عبادت کوی کوم چې (نه تاسې ته فائده رسولی
سی او نه درته څه نقصان رسولی سی تُف پر تاسې (چې سره دواضح کېدو دحق پر باطل باندې ټینګ
یاست) او په هغو (هم) دکوموچې تاسې دخدای څخه ماسواعبادت کوی ایاتاسې (دومره هم) نه پوهیږئ
(په دې ټول تقریر سره خاص دماتولو څخه یې چې انکار هم ونه کې سره ددې چې احتمال دبدل اخیستو
مقتضی دانکار وو دوی ته ثابته سوه چې داکارده کړې دی او دتقریر څه جواب ورڅخه جوړنه سو نو به

مقتضا ددی قول چی .

چو حجت نماند جفا جوئی را — به پر خاش درهم کشد روئی را

هر کله چی دظالم سره بل څه دلیل پاته نه سی اوبی دلیله سی نو په غصه سره تاو راتاؤ سی مخ واړوی او مقابلی ته تیار سی .

(په خپل مینځ کی) دغوخلګو وویل چی دی (ابراهیم ﷺ) په اورکی وسوزی او دخپلو معبودانو (دده څخه) بدله واخلی که تاسی څه کول غواړی (نوداکاروکی کنه نوبالکل خبرة به ډوبه سی ، غرض دا چی ټول متفق سول او ددی سامان یی تیارکی او دی یی سوزونکی بل اورته واچوی دغه وخت) مونږ (اورته حکم وکی چی ای اوره ته یخ اوبی ضرره سه دابراهیم (ﷺ) په حق کی (یعنی مه داسی ګرمیږه چی ویی سیزی اومه داسی یخیږه چی واوره سی اوتکلیف ورته دیخ ورسیږی بلکی دمعتدلی هوا په شان سه نو همدارنګه دغسی سو) اوهغو خلګو ددہ سره بدکول غوښتی وه (چی هلاك سی) نو مونږ هغه خلګ ناکام کړل (چی د دوی مقصود حاصل نه سو بلکی سرچپه دابراهیم ﷺ حقوالی زیات ثابت سو) اومونږ ابراهیم (ﷺ) او (دده وراره لکه چی په درمنثورکی دابن عباس؄ څخه دی) لوط (ﷺ چی ده دقوم خلاف دابراهیم ﷺ تصدیق کړی وو لکه الله ﷻ فرمایی فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ او په دی وجه سره خلګ ددہ هم مخالف سوی وه) داسی ملك (یعنی شام) طرف ته ولیږل (دکافرانو دشر اوازار څخه مو) وساتل په کوم کی چی مونږ ددنیا دخلګو دپاره (خیراو) برکت اینښی دی (دنیوی هم چی هر قسم میوی ګلونه په کښی ډیر زیات پیدا کیږی او نورو خلګو ته هم ددی څخه نفع رسیدی سی ، او دینی هم چی ډیر پیغمبران علیهم السلام دلته سوي دی چی دشریعتونو برکت یی لیری لیری دنیاته خپور سو، یعنی دوی دشام دملك طرف ته دالله ﷻ په اجازه سره هجرت وفرمایی) او (دهجرت څخه وروسته) مونږ ده ته اسحٰق (ﷺ زوی) اویعقوب (ﷺ لمسی) ورکی او مونږ دوی ټوله (پلار زوی اولمسی داعلی درجی) نیکان کړل (داعلی درجی دنیکی مصداق عصمت دی کوم چی په بشریت کی دنبوت دخواصو څخه دی نو مراد دا دی چی دوی ټوله مونږ نبیان جوړ کړل) او مونږ دوی (ټوله) مقتدا جوړ کړل (کوم چی دنبوت دلوازمو څخه دی) چی زمونږ په حکم سره به یی (دخدای مخلوق ته) هدایت کوی (کوم چی دنبوت دمنصبونو څخه دی) اومونږ دوی ته دنیکو کارونو کولو او (خصوصًا) دلمونځ دپابندی کولو او دزکوٰة د ادا کولو حکم ولیږی (یعنی داحکم مو ورته وکی چی دا کارونه کوی) او دغو (حضراتو) به زمونږ (ښه) عبادت کوی (یعنی دوی ته چی کوم حکم سوی وو هغه به یی په ښه ډول سره پوره کوی ، نو په صالحینوکی دکمالِ نبوت طرف ته اوپه ، اَوْحَیْنَا اِلَیْهِمْ فِعْلَ الْخَیْرٰتِ کی دکمال علم طرف ته او په ، کَانُوْا لَنَا عٰبِدِیْنَ ، کی دکمال عمل طرف ته او په ، اَئِمَّةً یَّهْدُوْنَ کی دنورو د هدایت او تربیت طرف ته کافی اشاره ده)

(معلومات اومسئلي)

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ : دآيت دالفاظو څخه ظاهره ده چي دا خبره حضرت ابراهيم ﷺ دخپلو خلکو په مخکي کړي وه ، مگر په دي دا شبهه کيږي چي حضرت ابراهيم ﷺ دوی ته اِنِّيْ سَقِيْمٌ (زه مريض يم) عذر وکي او د دوی سره يي اختر ته دتلو څخه ځان پاته کي او کله چي دبتانو دماتيدو واقعه پيښه سوه نوخپلو خلکو ددی تلاش شروع کي چي دا کار چا وکی که دحضرت ابراهيم ﷺ دا خبره دمخکي څخه خپلو خلکو ته معلومه وی نو دا ټولی خبری به څنګه کيدی ، ددی جواب لوړ په لنډ تفسير کي دا ورکول سوي دی ، چي حضرت ابراهيم ﷺ ددی خيال يکی يوازی سري وو ، دټولي برادري په مقابله کي د دوی هيڅ حيثيت دوی نه ګڼی، ممکنه ده چي د دوی خبری ته يي هيڅ التفات نه وی کړی او هير سوی يي وی (بيان القرآن) او دا هم ممکنه ده چي دا تلاش او تحقيق کوونکی نور خلګ وی کوموته چي دحضرت ابراهيم ﷺ ددی خبرو علم نه وو او په مفسرينو کي دمجاهد اوقتاده قول دا دی چي دا کلام حضرت ابراهيم ﷺ دخپلو خلکو په مخکي نه دی کړي بلکي په زړه کي يي ويلي وو ياچي کله دبتانو دماتيدو واقعه پيښه سوه اوخپلو خلکو يي تلاش شروع کي نو دغو خلکو مخبری وکړه (قرطبي)

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا جُذاذ ، دَجِذْ په کسری دجيم جمع ده چي معنٰی يي ټوټه ټوټه ده ، مراد دا دی چي حضرت ابراهيم ﷺ مات کړل او ټول بتان يي ټوټی ټوټی کړل .

اِلَّا كَبِيْرًا لَّهُمْ : يعنی صرف لوی بت يي بغير دماتولو څخه پريښوی ، دده لوی والی ياخو په جسم اعتبار سره وو ، چي دخپل جسم اوبدن په اعتبار سره دی دنورو بتانو څخه لوی وو او دا هم کيدای سی چي په جسم اوبدن کي خو دنورو سره برابر وو خو دبت پرستو په عقيده کي دی دټولو څخه لوی منل کيدی .

لَعَلَّهُمْ اِلَيْهِ يَرْجِعُوْنَ : په دی کی دَ اِلَيْهِ په ضميرکی دوه احتماله دی يو دا چي ضمير حضرت ابراهيم ﷺ ته راجع وی ، لکه چي په لنډتفسيرکی داسی بيان سوي دی اوددی مناسب دآيت داتشريح سوي ده چي د حضرت ابراهيم ﷺ مقصد په دی عمل سره په خپله دا وو چي دا خلګ ماته رجوع وکي او زماڅخه پوښتنه وکي چي تاداسی ولی وکړل نو زه به دوی د دوی په بی عقلی باندی خبرکړم اودالَيْهِ يَرْجِعُوْنَ يومطلب دا هم کيدی سی چي دا عمل يي په دی اميد باندی وکی چي شايدخپل بتان ټوټی ټوټی ووينی او په دوی کی عقل راسی چي دوی دعبادت قابل نه دی بيابه دغه خلګ دحضرت ابراهيم ﷺ دين ته رجوع وکی اوکلبی فرمايي چي د اِلَيْهِ ضمير دکبير طرف ته راجع دی اومعنٰی دا ده کله چي داخلګ بيرته راسی اوټول بتان ټوټی ټوټی اوغټ بت صحيح سالم او په اوږه کی يي تبر ووينی نوشايد ددی لوی بت طرف ته به رجوع وکی او دده څخه به پوښتنه وکی چي داسی ولی وسوه هغه به څه جواب ورنه کی نو د دوی عاجزوالی به پر دوی واضح سی .

(دحضرت ابراهيم ﷺ قول درواغ نه وو بلکې يوه کنايه وه ددې تفصيل اوتحقيق)

قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ : يعنې هرکله چې حضرت ابراهيم ﷺ دده دبرادرۍ خلکو گرفتار کې راېې وستی او دده څخه يې داقرار اخيستو دپاره پوښتنه وکړه چې ايا تا زمونږ دبتانو سره دامعامله کړي ده ؟ نو حضرت ابراهيم ﷺ جواب ورکې چې بلکې د دوی دې مشر داکار کړي دی تاسي په خپله دده څخه پوښتنه وکې که دې خبرې کولی سی ، دلته يو سوال داپيدا کيږي چې داکارخو حضرت ابراهيم ﷺ په خپله کړی وو بيا ددې څخه انکار او دلوی بت طرف ته يې نسبت کول په ظاهره دواقعې څخه خلاف دې چې دې ته خو د رواغ ويل کيږي اوحضرت خليل الله ﷺ خو ددې څخه ډير لوړدې ددې جواب دپاره مفسرينو حضراتو ډير احتمالات ذکرکړي دی ، په دې کې يو هغه هم دې کوم چې په لنډتفسير کې دبيان القرآن اختيار سوي دی چې دحضرت ابراهيم ﷺ دا قول په طور دفرض وو يعنې تاسې داسې ولې نه فرض کوی چې داکاربه دې لوی بت کړي وي او په طور دفرض باندې خلاف واقعه خبره په درواغو کې دا خله نه ده لکه چې په خپله په قرآن کريم کې دی ، إِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ : يعنې که دالله رحمٰن يوځوك زوی وی نو زه به يې دټولو څخه اول په عبادت کې دا خل سوی وم ليکن بې غباره اوبې تاويله هغه توجيه ده کومه چې په بحرِ محيط قرطبی روح المعانی وغيره کې اختيار سوي ده چې دا اسناد مجازی دی کوم کارچې حضرت ابراهيم ﷺ په خپلو لاسونو سره کړی وو هغه يې لوی بت ته په طور دااُسناد مجازی منسوب کې ځکه چې ددې کار دپاره اماده کولو ته دغه بت وو، او دده تخصيص شايد په دې وجه سره وی چې دده دبرادرۍ خلکو ددغه بت تعظيم دټولو څخه زيات کوی ددې مثال به داسې وی لکه چې ديو غل څخه په سزا کې لاس پری سی اوبيا دغه لاس پريکوونکې وايي چې دا مانه دې پريکړی بلکې داستا عمل پری کې ځکه چې دلاس پريکيدو سبب دده عمل دی .

حضرت ابراهيم ﷺ په عملی طور هم دبتانو دماتولو نسبت لوی بت ته کړی وو لکه چې په روايتونو کې دې چې په کوم تبر سره ده بتان مات کړی وه هغه تبر يې دلوی بت په اوږه ياپه لاس کې يې ايښی وو چې دليدونکو دا خيال پيداسی چې ده داکار کړي دی او په خبره ويلو کې يې هم هغه ته نسبت وفرمايې نو دا يو اسناد مجازی دی لکه چې دعربی مشهوره مقوله ده : أَنْبَتَ الرَّبِيعُ الْبَقْلَةَ (يعنې دپسرلی باران فصل راوټوکوی) دا ددې مشهور مثال دی چې ټوکوونکې که څه هم په حقيقت کې الله ﷻ دی مگرددې يوظاهری سبب طرف ته نسبت سوي دی او دې ته څوك درواغ نه سی ويلی ، دغه ډول دحضرت ابراهيم ﷺ لوی بت ته ددې کارعملاً اوقولاً نسبت کولوته هيڅکله درواغ نه سی ويل کيدی البته دډيرو دينی مصلحتونو دپاره يې دا توريه اختيار کړه په هغوکې يومصلحت خودا ووچې دليدونکو دې طرف ته خيال راسې چې شايد دې لوی بت ته به په دې غصه ورغلی وی چې زماسره په عبادت کې دا واړه بتان ولې شريکيږی که دا خيال د دوی په زړونوکې پيدا سو نو حق توحيدته به لارخلاصه سی چې کله يولوی

بت دځان سره دکوچنیو بتانو شرکت نه سی برداشت کولی نو رب العالمین ددی دبرو شرکت دځان سره ځنګه برداشت کولی سی .

دوهم دا چی دوی ته داخیال دغه وخت پیدا کیدل عقل ته نژدی دی ، کوموته چی مونږ خدای اومختار کل وایو که هغه داسی وای نوڅوک به یی پرماتولو ځنګه قادریدی دریم دا چی که دغه کار دغه لوی بت ته منسوب سی نوکوم بت چی داکار کوی چی نور ماتوی نوپه ده کی دخبرو طاقت هم په کار دی په دی وجه فرمایی و فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ : لنډه دا چی دحضرت ابراهیم ﷺ دا ذکر سوی قول که بی دتاویل څخه پرخپل ظاهر باندی کښیښوول سی او دا وویل سی چی حضرت ابراهیم ﷺ ددی کار دلوی بت طرف ته نسبت وکی او دا اسناد یی په مجازی طورسره وفرمایی نو په دی کی دڅه درواغ اوخلاف واقعه شبهه نه پاته کیږی صرف یوقسم توریه ده .

(په حدیث کي حضرت ابراهیم ﷺ ته د دری درواغو دنسبت کولو حقیقت)

یوسوال اوس داپاته کیږی چی په صحیح احادیثوکی په خپله نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اِنَّ اِبْرَاهِيْمَ ﷺ لَمْ يَكْذِبْ غَيْرَثَلٰثٍ ، رواه البخاری ومسلم یعنی حضرت ابراهیم ﷺ هیڅکله درواغ نه دی ویلی بغیر د درو ځایونو څخه بیا یی ددی درو ځایونو تفصیل په دی حدیث کی داسی بیان کړي دی چی په دی کی دوه درواغ خو یی خالص دالله ﷻ دپاره ویلی دی ، یو دا کوم چی یی په دی آیت کی ، بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ فرمایلی دی ، دوهم د اختر په ورځ خپل دبرادری خلګو ته دا عذرکول چی اِنِّیْ سَقِيْمٌ زه مریض یم، دریم دخپلی محترمی بی بی حضرت ساره ﷺ سره په سفر روان وو چی په یو داسی کلی باندی را غلل چی دهغه ځای سردار ظالم او بدکار وو ، کله چی به یی دچاسره دهغه بی بی لیده نوښځه به یی نیوله اوبدکاری به یی ورسره کوله ، مګر دامعامله به یی په هغه صورت کی نه کوله کله چی به لور دپلار سره یاخور دورور سره وه حضرت ابراهیم ﷺ چی کله دخپلی بی بی سره دی کلی ته ورسیدی نو دی ظالم بدکار ته مخبری وسوه ده حضرت ساره ﷺ ګرفتاره کړه او رایی وستله ، را وستونکو دحضرت ابراهیم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چی دا ښځه ستاپه قرابت کی څه ده؟ حضرت ابراهیم ﷺ دظالم دبیری څخه دمحفوظ کیدو دپاره وفرمایل چی دا زما خور ده (دا هغه شی دی کوم ته چی په حدیث کی درواغ ویل سوي دی) مګر ددی باوجود هغه ونیول سوه اوحضرت ابراهیم ﷺ حضرت ساره ﷺ ته هم دا وښووله چی ماتاته خورویلی دی ته به څه ونه وایی او وجه دا ده چی په اسلامی قرابت سره ته زما خور یی ځکه چی دا وخت په دی مځکه کی مونږ دا دوه تنه مسلمانان یو او داسلامی وروړلی تعلق لرو، دحضرت ابراهیم ﷺ دمقابلی قدرت نه وو الله ﷻ ته یی دفریاد اوزاری دپاره لمونځ شروع کی ، حضرت ساره ﷺ چی هغه ته ورسیده نو دغه ظالم په بد نیت سره دی ته وروړاندی کیدی چی قدرت شل اومعذوره کی نو ده حضرت ساره ﷺ ته درخواست وکی چی ته دعا وکړه چی زما دا معذوری لیری سی نو زه به تاته هیڅ

نه وایم دهغی (ﷺ) په دعا سره الله ﷻ دی بیا جوړ کی مګر ده وعده ماته کړه اوبیاپه بدنیت سره ورورواندی کیدی بیا الله ﷻ دی شل اومعذوره کی ، دری واړه دا واقعه سوه نو ده حضرت ساره ﷺ واپس کړه (دالندمضمون دحدیث وو) په هرحال په دی حدیث کی حضرت ابراهیم ﷺ ته د دری درواغو نسبت په توضیح سره سوي دی کوم چی دنبوت او دعصمت دشان سره خلاف دی مګر ددی جواب په خپله په دی حدیث کی دننه موجود دی هغه دا چی په اصل کی په دی کی یو هم په حقیقی معنی کی درواغ نه وه دا توریه وه کومه چی دظلم څخه دمحفوظ کیدو دپاره جائزه اوحلاله وی دغه د درواغو په حکم کی نه وی ، ددی دلیل په خپله په ذکرسوی حدیث کی دا دی چی حضرت ابراهیم ﷺ حضرت ساره ﷺ ته ویلی وه چی ماتاته خپله خور ویلی دی ، که ستاڅخه پوښتنه وکړی نوته هم ماخپل ورور وښیه او دخور ویلو وجه یی هم دی ته وښیوله چی موږ دواړه داسلامی وروړلی په اعتبار سره خور ورور یو دی ته توریه وایی چی الفاظ داسی وویل سی دکوموچی دوی معنی وی اواوریدونکی ورڅخه یوه معنی مرادواخلی او دویونکی ورڅخه مرادبله معنی وی او دظلم څخه دمحفوظ کیدو دپاره دا تدبیر دتوریی په اتفاق دفقهاؤ جائز دی دا دشیعه ګانو دتقیی څخه بالکل مختلف شی دی ، په تقیه کی صریح درواغ ویل کیږی او په هغه عمل هم کول کیږی په توریه کی صریح درواغ نه وی بلکی په کومه معنی سره چی یی متکلم وایی هغه بالکل صحیح اورښتیا وی لکه داسلامی وروړلی په لحاظ سره ورور خور کیدل داوجه خو په خپله د ذکرسوی حدیث په الفاظو کی صراحتًا ذکرده ددی څخه معلومه سوه چی دا په حقیقت کی درواغ نه وه بلکی یوه توریه وه، خاص دغه ډول توجیه په مخکی دواړو خبروکی هم کیدی سی بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ : ددی توجیه اوس لوړه لیکل سوي ده چی په دی کی په طور دمجازی اسناد ددی کار لوی بت ته نسبت سوي دی، دغه ډول دَ اِنِّیْ سَقِیْمٌ لفظ دی څکه چی دسقیم لفظ څنګه چی په ظاهری طور سره دمریض په معنی کی راځی دغه ډول دغمجن اوخفه اوپریشانه په معنی کی هم راځی ، حضرت ابراهیم ﷺ ددی دوهمی معنی په لحاظ سره اِنِّیْ سَقِیْمٌ فرمایلی وو، اوریدونکو ورڅخه معنی دبیماری واخسته او په دی حدیث کی چی کوم دا الفاظ راغلی دی چی په دی دری درواغوکی دوه دالله ﷻ دذات دپاره وه نو داپه خپله خو ددی خبری قرینه ده چی دا څه دګناه کارنه وو او نه دګناه دیوکار د الله ﷻ دپاره دکولو څه مطلب کیدی سی او دګناه کارنه کیدل هلته کیدی سی کله چی دغه په حقیقت کی درواغ نه وی بلکی داسی کلام وی دکوم چی دوی معانیوی کیدی سی یوه درواغ اوبله صحیح .

(دحضرت ابراهیم ﷺ د درواغو حدیث غلط ګڼل جهالت دی)

مرزا قادیانی اوڅه نورو دمستشرقینو څخه مغلوبه مسلمانانو دا حدیث سره ددی چی اسناد یی صحیح دی په دی ورته غلط اوباطل ویلی دی چی په دی کی حضرت خلیل ﷺ ته د درواغو نسبت کیږی او دسند تولو راویانوته یی درواغجن ویل ددی څخه ښه دی چی خلیل الله ﷺ درواغجن وګڼل سی څکه

چي دغه دقرآن څخه خلاف ده اوبيايي ددي څخه داقاعده كليه هم را ويستله چي كوم حديث دقرآن څخه
خلاف وي برابره خبره ده كه هغه هرڅومره صحيح قوي اومعتبر او په سندونو سره ثابت وي هغه به غلط
بلل كيږي دا خبره په خپل ځاى خو بالكل صحيح او دټول امت په نزد په طور دفرض محال مسلم ده
مګر د امت عالمانو په ټوله ذخيره داحاديثوكي خپل عمرونه صرف كړي دي يو يو حديث يي چان كړي
دي او دكوم حديث ثبوت چي په قوي سندونوسره سوي وي په هغه كي يو هم داسي نه سي كيدى چي
دقرآن خلاف ورته وويل سي بلكي دغه دخپلي كم فهمي ياغلط فهمي نتيجه وي چي كوم حديث ردكړل
ياباطلول غواړي دهغه دقرآن سره ټكراو راولي او دا ووايي ځان ورڅخه فارغ كړي چي داحديث دقرآن
څخه دخلافوالي په سبب غير معتبر دي لكه په دي حديث كي چي تاسي وليدل چي د درواغو دالفاظو
څخه توريه مراد اخستل په خپله په حديث كي موجود دي پاته سوه دا معامله چي بياپه حديث كي
دتوريي څخه د درواغو په لفظ سره تعبير څنګه وسو، نو ددي وجه هغه ده كومه چي دحضرت ادم ﷺ
هيره اوخطا يي په عَصٰى اوپه، غوٰى الفاظو سره تعبيركول په سورة طٰهٰ كي دحضرت موسٰى ﷺ په قصه
كي تير سوي دي چي دالله ﷻ د دربار دمقربو دپاره ادنٰى كمزوري اومحض په رخصت اوجائز عمل كول
اوعزيمت پريښودل هم دمواخذى قابل ګڼل كيږي، او په داسي شيانو په قرآن كي دالله ﷻ عتاب دانبياؤ
عليهم السلام په باره كي په ديرو ځايونو كي نقل دي ، دشفاعت حديث كوم چي مشهور اومعروف دي
چي په محشركي به ټول مخلوق جمع سي ، دحساب دژركيدو متعلق به دانبياؤ عليهم السلام څخه
دشفاعت طلب ګارسي دحضرت ادم ﷺ څخه واخله ترخاتم الانبياء ﷺ څخه مخكي پوري ټولو پيغمبرانو
عليهم السلام ته به ورسي ، هرپيغمبربه خپل يو قصور اوكوتاهي ذكركړي او دشفاعت همت به نه كوي،
په اخر كي به ټول دخاتم الانبياء ﷺ په خدمت كي حاضرسي او دوي به ددي شفاعت كبرٰى دپاره ودريږي
، په دي حديث كي حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ هغه كلمي كومي چي په طور دتوريي ويل سوي دي
حقيقةً درواغ نه وي مګر دپيغمبرانه عزيمت څخه خلاف وي خپل قصور اوكوتاهي به وګڼي اوعذر به
وكي ، دي كوتاهي ته داشاري كولو دپاره په حديث كي دا په لفظ د درواغو تعبير سوه دكوموچي نبي
كريم ﷺ ته حق وو او دده ﷺ دحديث دبيانولو او روايت كولو ترحده پوري مونږ ته هم حق دي ، مګر
دخپل طرف څخه كه څوك دحضرت ابراهيم ﷺ په باره كي داسي ووايي چي هغوى درواغ ويلي وه دا
جائز نه دي لكه چي دحضرت موسى ﷺ دقصي سره دسورة طٰهٰ په تفسيركي دقرطبي او بحر محيط په
حواله سره بيان سوى چي په قرآن ياحديث كي چي كوم داسي الفاظ ديو پيغمبر په باره كي راغلي دي
دهغه ذكر په طور دقرآن دتلاوت ياتعليم دقرآن يادحديث درروايتونو سره كول كيږي ، په خپله دخپل
طرف څخه دغه الفاظ ديو پيغمبر طرف ته منسوب كول بي ادبي ده چي دهيچا دپاره جائزنه دي.

(په ذكرسوى حديث كي يواهم هدايت او دعمل داخلاص دباريكي بيان)

په حدیث کی دحضرت ابراهیم ؑ په باره کی چی دکومو درو درواغو ذکر راغلی دی په حدیث کی په دی کی دمخکنیو دوو په باره کی خو دا راغلی دی چی دالله ﷻ دپاره وه ، مگر دریمه خبره کومه چی دحضرت ساره ؓ په باره کی ویل سوي ده دی ته یی دالله ﷻ دپاره نه دی ویلی ، حال دا دی چی دبی بی دعزت حفاظت هم عین دین دی ، پردی باندی په تفسیر قرطبی کی دقاضی ابوبکر بن عربی رحمه الله څخه یوه لویه نکته نقل سوي ده ، ددی متعلق ابن عربی فرمایی چی دا د اولیاؤ اوصالحانو دملا ماتوونکی خبره ده هغه دا چی دریمه خبره هم که څه هم ددین کار وو مگر په دی کی څه خپله حصه دنفس دبی بی عصمت او دحرم حفاظت هم وو، ددومره شان دنیوی غرض دشاملیدو پرینا دایی دَ فِی الله او لله دنهرست څخه جلا کی ځکه چی دالله ﷻ ارشاد دی ، اَلَا لِلّٰهِ الدِّیْنُ الْخَالِصُ دبی بی دعصمت اوحفاظت دا معامله که زمونږ یادبل چادطرف څخه وای نوبیشکه چی دابه هم په لله او فی الله کی شمیرل کیدی مگر دانبیاء علیهم السلام دشان دعظمت مقام دټولو څخه لوړ دی د دوی دپاره دومره قدر حصه دنفس شاملیدل هم دکامل اخلاص منافی گڼل کیږي ، والله اعلم یا الله! مونږ ته په هرعمل کی دکامل اخلاص توفیق راکړی امین.

(په حضرت ابراهیم ؑ دنمرود د اور د گلزار کیدلو حقیقت)

کوم خلک چی دمعجزو اوخوارق عاداتو څخه منکردی دوی په دی کی عجیبه اونا اشنا تحریفات کړي دی خبره دا ده چی دفلسفی دا قاعده چی کوم شی دکوم شی دپاره لازم د ذات وی هغه دده څخه په هیڅ وخت کی نه سی جلا کیدی په خپله یوه باطله اوبی دلیله قاعده ده حقیقت دا دی چی په دی دنیاکی او په ټول مخلوقات کی یوشی هم څه لازم ذات نه دی بلکی صرف دالله ﷻ عادت د اجاری دی چی د اور دپاره گرمی اوسوزول لازم دی أو د اوبو دپاره یخول او مړه کول لازم دی ، مگر دا لازم صرف عادی دی عقلی نه دی ځکه چی فلسفیان هم ددی دعقلی والی څه معقول دلیل نه سی پیش کولی ، او کله چی دا لازم عادی سو نو کله چی الله ﷻ په یو خاص حکمت سره دیو عادت بدلول وغواړی نو بدلولی یی سی ددی په بدلولو کی څه عقلی محال نه لازمیږي ، کله چی الله ﷻ وغواړی نو د اور دمړه کولو اویخولو کار شروع کوی اواوبه دسوزلوحال دادی چی اورپه خپل حقیقت کی اوروی اوبه اوبه وی مگردیوخاص سړی یاجماعت په حق کی په حکم دخدای هغه خپل خاصیت پریږدی دپیغمبرانوعلیهم السلام دنبوت په ثبوت کی چی کومی معجزی حق تعالی ظاهروی دهغو ټولو حاصل هم دا وی ، په دی وجه الله ﷻ دی اور ته حکم وکی چی یخ سه نو هغه یخ سو ، اوکه دَ بَرْدًا سره دَ سَلٰمًا لفظ نه وای نو اوربه دااوری په شان یخ سوی وای دتکلیف سبب سوی به وای او دحضرت نوح ؑ قوم چی په اوبو کی دوب سوی وو د دوی په باره کی قرآن کریم فرمایی ،اُغْرِقُوْا فَاُدْخِلُوْا نَارًا یعنی دغه خلک په اوبو کی غرق سول اورته داخل سول.

حَرِّقُوْهُ: یعنی ټولو دبرادری خلکو او نمرود دا فیصله وکړه چی دی دی په اورکی وسوزل سی په تاریخي
روایتونو کی دی چی تر یوی میاشتی پوری دټول ښار خلکو ددی کار دپاره خشاك وغیره سامان جمع
کول بیا یی اور ورلره ورکی تر اوو ورځو پوری یی هغه ته پوکی ورکول اوتیزوی یی نژدی چی دهغه
شغلی په فضاء کی آسمان ته دومره لوړی سوی چی یوه مرغی که به پرتیریدله نوسوزیدله به، دغه وخت
دوی اراده وکړه چی حضرت ابراهیم ﷺ دی ورته ورواچول سی نو اوس دا فکر سو چی دی به ورته څنګه
ورواچول سی دغه ته ورتلل خو دهیچا په وس کی نه وو نوشیطان دوی ته دمچوغولی یا ټال په ذریعه
دور اچولو ترکیب وښووی څه وخت چی د الله خلیل دمچوغولی په ذریعه داوردی سمندرته وراچول سو
نو ټولی ملائکی بلکې مځکه اوآسمان او ددی ټول مخلوقات په چیغو سول چی یا ربه ا ستا پرخلیل د
څه تیریږی حق تعالی دی ټولو ته دحضرت ابراهیم ﷺ دمدد کولو اجازه ورکړ ، ملائکو دمدد کولو
دپاره دحضرت ابراهیم ﷺ څخه پوښتنه وکړه نوحضرت ابراهیم ﷺ جواب ورکی چی زما الله کافی دی
هغه ماوینی حضرت جبرائیل أمین عرض وکی چی که ستا زما څه مددته ضرورت وي نوچی زه خدمت
وکړم جواب یی ورکی چی حاجت می سته خوستا دطرف څخه نه بلکی دخپل رب دطرف څخه (مظهری)

قُلْنَا يَانَارُ كُونِي بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰى إِبْرٰهِيْمَ : لوړتیرسوي دی چی دا اور په حضرت ابراهیم ﷺ باندی دیخ
اوسلامتیا ورکوونکی دا صورت هم کیدی سی چی اور اور پاته نه وی بلکی په هوا کی بدل سو مګر
ظاهره دا ده چی اور په خپل حقیقت کی اور وو او دحضرت ابراهیم ﷺ دخوا اوشا څخه علاوه نورښیاز
به یی سوزل بلکی په کومو رسیو چی یی حضرت ابراهیم ﷺ تړلی وو او اورته یی وراچولی وو دغه
رسی هم دی اور وسوزولی او ختمی یی کړی مګر دحضرت ابراهیم ﷺ بدن مبارك ته څه بځری قدر د
ونه رسیدی (لکه چی داسی په ځینو روایتونوکی دی)
په تاریخی روایتونوکی دی چی حضرت ابراهیم ﷺ په دی اورکی اووه ورځی وو او ده به فرمایل چی
ماته په عمرکی چیری هم داسی راحت نه دی راکول سوی څومره چی راته په دی اوو ورځوکی حاصل
سو ، (مظهری)

وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوطًا إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي بٰرَكْنَا فِيهَا لِلْعٰلَمِينَ : یعنی حضرت ابراهیم او دده سره لوط علیهما السلام
ته مونږ ددی مځکی څخه پرکومه چی دنمرودغلبه وه (یعنی دعراق مځکه) نجات ورکی او یو داسی
مځکی ته مو ورسول په کومه کی چی مونږ دټولی دنیا دخلکو دپاره برکت ایښی دی ، ددی څخه مراد
دشام ملك او مځکه ده چی دا په خپل ظاهری اوباطنی حیثیت سره لویه دبرکتونو مجموعه ده ، باطنی
برکت خو دا دی چی دا مځکه دانبیاؤ علیهم السلام خزانه ده ، ډیرانبیاء علیهم السلام په دی مځکه کی
پیدا سوي دی او ظاهری برکتونه یی دآب اوهوا اعتدال دنهرونو اوچینو فراوانی دمیوو ګلونو
اوهرقسم بوټو غیرِ معمولی نشو اونما وغیره دی چی ددی فائدی صرف ددغه مځکی اوسیدونکو ته نه

بلکې دعامې دنيا خلکو ته هم رسيږي.

وَوَهَبْنَا لَهٗ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً : يعني مونږ ورکی ده ته زوی اسحٰق ﷺ (ده ددعا او درخواست مطابق) اوپردی زیات مو ورکی نمسی یعقوب ﷺ یعني دعاصرف دزوی دپاره وه الله ﷻ په خپل فضل سره زوی هم ورکی بيا يې دده څخه لمسی هم دخپل طرف څخه زيات ورکی په دی وجه يې ده ته نافلةً وويل.

وَلُوطًا آتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِي كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ

اولوط ته مونږ ورکی حکم اوپوهه اومحفوظ کی مونږ دی دهغه کلی څخه کوم چی کول به يی گنده کارونه

إِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ﴿٧٤﴾ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿٧٥﴾

دغه وو خلق لوی نافرمانه ، اودی مونږ داخل کی په خپل رحمت کی ، دغه دی دنيك بختو څخه

لنډتفسير: اولوط (ﷺ) ته مونږ حکمت اوعلم (مناسب دشان دانبياؤ ﷺ) ورکړل او مونږ ده ته دهغه کلی څخه نجات ورکی دکومو اوسيدونکو چی گنده گنده کارونه کول (چی په هغوکی دټولو څخه زيات ناکاره لواطت وو اونورهم ډيربی هوده اوناکاره کارونوداخلق عادت وه شراب چنبل غزلی اورول ږيره خريل بريت اوږدول کبوتربازی لوټی ويشتل شپيلی وهل ريښمی جامی اغوستل أخْرَجَهُ اسحٰق بن بشر و الخطيب وابن عساکرعن الحسن مرفوعًاكذا فی الروح) بیشکه دغه خلق لوی بدذاته بدکاره وه اومونږ لوط (ﷺ) په خپل رحمت کی (يعنی پرکومو بندګانوچی رحمت کيږی په هغوی کی) داخل کی (ځکه چی) بيشکه هغه (دّلوی (درجی) دنيکانوڅخه وو(دلوی درجی دنيك څخه مرادمعصوم دی کوم چی دنبی خصوصيت دی)

(معلومات اومسئلې)

حضرت لوط ﷺ ته چی دکوم کلی څخه دنجات ورکولو ذکر په دی ايتونوکی راغلی دی ، ددغه کلی نوم سدوم وو ددی تابع اووه کلی نور هم وه کوم چی حضرت جبرائيل ﷺ پاستر اولاندی باندی کړل صرف يو کلی يی باقی پريښودلی وو چی په هغه کی حضرت لوط ﷺ سره دخپلومتعلقينو مومنانو او وسيږی (قاله ابن عباس ﷺ قرطبی)

تَعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ -خَبَائِث دَخَبِيْثَةٌ جمع ده ، ډيروخبيثو اوگنده عادتونوته خبائث ويل کيږي ،دلته د دوی دټولو څخه لوی خبيث اوگنده عادت دکوم څخه چی ځنګلی حيوانان هم پرهيز کوی لواطت وو يعنی دسړی دسړی سره شهوت پوره کول، دلته دی يوعادت ته که يی ددی دلوی جرم والی په سبب خبائث ويلی وی نو دا هم بعيده نه ده لکه چی ځينو مفسرينو فرمايلی دی او ددی څخه علاوه نورخبيث عادتونه په دوی کی کيدل هم په روايتونوکی ذکر دی لکه چی په لنډتفسيرکی په حواله دروح المعانی تيرسول، په دی لحاظ سره مجموعی ټولوته خبائث ويل خو ظاهره ده ، والله اعلم.

وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ

او نوح ﷺ کله چی ده اواز وکی ددې څخه مخکې بیا قبوله کړه موږ ده دده دی

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ ۝ وَنَصَرْنَاهُ مِنَ الْقَوْمِ

پس محفوظ کی موږ دی او دده کوالا دلوی غم څخه ، او مدد وکی موږ دده په هغو خلقو په

الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ۝

درواغجن کول یی زمونږ ایتونه ، دغه وو ناکاره خلق پس دوب کړل موږ دغه ټوله

تفسیر: او دنوح (ﷺ دقصې) ذکر وکړه کله چې ددغه (زمانې دابراهیم ﷺ) څخه مخکې دوی (دالله ﷻ څخه) سوال وکی (چې ددې کافرانو څخه زما بدله واخلې) نو موږ د دوی دعاقبوله کړه او ده ته او دده تابعدارو ته مو د دا لوی دروند غم څخه نجات ورکی (دا غم دکفارو دده درواغجن کول اوقسم قسم تکلیفونه ورته رسول وو) او (نجات مو داسې ورکی چې) موږ د داسې خلکو څخه د دوی بدله واخسته کوموچې زمونږ حکمونه (کوم چې حضرت نوح ﷺ راوړی وه) درواغ کړل ، بیشکه دغه خلک ډیر ناکاره وه په دې وجه موږ دغه ټوله غرق کړل.

(معلومات اومسئلې)

وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ د: مِن قَبْلُ څخه مراد دحضرت ابراهیم اولوط علیهما السلام څخه مخکې والی دی دکومو ذکر چې په لوړو آیتونوکی راغلی دی او دحضرت نوح ﷺ دکوم اواز ذکرچې دلته په اجمال سره راغلی دی ددې بیان په سورة نوح کی داسې دی چې حضرت نوح ﷺ خپل قوم ته ښېرې وکړی ، رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا : یعنی ای پروردګاره پرمځ دمځکی دکافرانو یواستوګن هم پری نه ږدې او بل یوځای کی داسې دی چې کله دحضرت نوح ﷺ قوم دده خبره په هیڅ ډول سره ونه منله نو ده دالله ﷻ په دربار کی عرض وکی أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ یعنی زه مغلوب اوعاجزه سوی یم ته ددې خلکو څخه بدل واخلې.

فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيمِ : دکرب عظیم څخه مراد یاخو په طوفان کی غرقیدل دی چې ټول قوم په کی اخته سو یاددې قوم تکلیفونه مراد دی کوم چې ددې طوفان څخه مخکې په بې حضرت نوح ﷺ او دده خاندان ته رسول.

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ اِذْ

او داود اوسليمان كله چې يې فيصله كوله دفصل جګړه هركله

نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿۷۸﴾

چې وخريدې په دې دشپې بزې ديو قوم ، اوزمونږ په مخكې وه د دوى فيصله كول .

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا ۡ وَّسَخَّرْنَا مَعَ

بيا پوه وركړه مونږ ددغه فيصلې سليمان ته ، او دواړو ته وركړى وو مونږ حكم اوپوه اوتابع كړى وو مونږ

دَاوٗدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ ۭ وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَعَلَّمْنٰهُ

د داود سره غرونه چې تسبيح به يې كوله او مرغان ، او دا هرڅه مونږ وكړل ، او وښوول مونږ ده ته

صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ

جوړول ستاسې ديو لباس چې ساتل كوى ستاسې په جنګ ستاسې كې پس آيا تاسې

شٰكِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِىْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى

شكر كوى ، او دسليمان مو تابع كړى وه هوا تيزه چې تله به په حكم دده سره

الْاَرْضِ الَّتِىْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ۭ وَكُنَّا بِكُلِّ شَىْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾

هغه مځكې ته په كومه كې چې بركت اېښى دى مونږ او مونږ دهرڅه څخه خبر يُو

وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ

او تابع يې كړل مونږ دشيطانانو څخه هغه چې غوټې به يې وهلې دده دپاره او نور كارونه به يې ورته كول

ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿۸۲﴾

ددې ماسوا ، او مونږ د دوى ساتونكى وو .

تفسير: او د داود اوسليمٰن (عليهما السلام قصه) ذكر كړه هركله چې دواړو (حضراتو) دفصل په باره

کی (چی غله وه په کښې يادانګورو تاکونه وی لکه چی په درمنثورکی دی) فيصله کوله کله چی په دی
(فصل) کی دخه خلګو بزی دشپی په وخت کی ورو ختی (اوپه هغه کی وڅريدی) اومونږ دافيصله کوله
چی د (مقدمه کوونکو) خلګو متعلق وسوه ليدله نو مونږ ددی فيصلی (دآسان صورت) پوهه سليمان
(ﷺ) ته ورکړه او (هسی هم) مونږ دواړو ته حکمت اوعلم ورکړی وو (يعنی دداود ﷺ فيصله هم دشريعت
ښخه خلاف نه وه، صورت دفيصلی دا وو چی څومره دفصل نقصان سوی وو دهغه قيمت دبزو دقيمت
سره برابروو، داود ﷺ په تاوان کی دفصل خاوند ته هغه بزی ورکړی او اصل مقتضاهم دشرعی قانون
وه چی پردی دمدعی يامدعٰی عليه رضا مندی شرط نه ده مګرچونکی په دی کی دبزو دخاوندانو بالکل
نقصان کيدی، په دی وجه سليمان ﷺ په طور دمصالحت کوم چی موقوف وو دجانبينو په رضامندی
باندی دا صورت په کوم کی چی د دواړو دپاره رعايت اواسانی وه خوښ وفرمايي چی دڅورڅو دپاره
دی بزی دفصل خاوند ته ورکول سی چی په شيدو وغيره يی خپله ګذاره کوی او دبزو خاوندانو ته دی
دغه فصل وسپارل سی چی خدمت وغيره يی کوی نوکله چی فصل بيا پرخپل زوړ حالت برابرسی بيا دی
فصل اوبزی خپلو خپلو مالکانو ته بيرته ورکړل سی ، لکه چی داسی په دُرِّ منثورکی دمرةٔ اوابن مسعود
اومسروق اوابن عباس اومجاهد اوقتاده اوزهری ښخه دی، نو ددی ښخه معلومه سوه چی په دواړو
فيصلوکی څه تعارض نسته چی ديوی صحت او دبلی دعدم صحت مقتضی سی په دی وجه کُلًّا اٰتَيْنَا
حُكۡمًا وَّعِلۡمًا يی زيات کی) او (دلته تردی ځای پوری خو دعام کرامت ذکر وو کوم چی په دواړو حضراتو
کی مشترك وو، مخ ته د دواړو حضراتو دخاصو خاصو کرامتونو بيان دی) مونږ د داود (ﷺ) سره تابع
کړی وه غرونه چی (دده دتسبيح سره به) هغو (هم) تسبيح کوله او (دغه شان) مارغان هم (لکه چی په سورة
سباکی دی يَاجِبَالُ اَوِّبِیۡ مَعَهٗ وَالطَّيۡرَ) او (څوك دی په دی خبروباندی تعجب نه کوی ځکه چی ددی
کارونو) کوونکی مونږ وو (او زمونږ دقدرت عظيموالی ظاهر دی بياپه دی معجزوکی تعجب څه دی
اومونږ ده ته دزغرو (جوړولو) کار ستاسی خلګو د (نفع د) پاره ښوولی وو (يعنی ددی دپاره چی هغه
(زغری) تاسی (په جنګ کی) ديوبل دګذار ښخه محفوظ کړی (او ددی لوی نفع مقتضا دا ده چی تاسی
شکر وکی) نو ايا تاسی (ددی نعمت) شکر هم کوی (اوکه نه) اومونږ دسليمان (ﷺ) تيزه هوا تابع کړی وه
هغه به دده په حکم سره دهغه مځکی طرف ته تله په کومه کی چی مونږ برکت ايښی دی (مراد ورڅخه
دشام ملك دی کوم چی دده ځای وو لکه چی داسی په در منثور کی دسدی ښخه دی او دلالت کوی په دی
باندی ابادول دبيت المقدس يعنی کله چی به يوځای دشام ملك ته تلی اوبيابه راتلی نوداتلل راتلل به يی
دهوا په ذريعه سره وه لکه چی په درمنثور کی په روايت اوتصحيح دحاکم دحضرت ابن عباس ﷺ ښخه
ددی دکيفيت روايت دی چی سليمان ﷺ به سره دسردارانو دحکومت پرکرسيو باندی کښېنستل بيابه
يی هواته حکم وکی هوابه داټول لوړ کړل په لږ وخت کی به يی ديوی مياشتی مزل قطع کوی) او مونږ

هرشی پیژنو (زمونږ په علم کی سلیمان ﷺ ته په دی شیانو ورکولو کی حکمت وو په دی وجه مو ورکړل) او ځینی شیطانان (یعنی پیریان) داسی وه چی د سلیمان (ﷺ) دپاره به یی (په دریاب کی) غوټی وهلی (چی ملغلری راوباسی او هغه ته یی راوړی) او هغو به نور کارونه هم ددی څخه علاوه (د سلیمان ﷺ دپاره) کول او (که څه هم دغه پیریان ډیر سرکښه او شرارت کوونکی وه مګر) د دوی سنبالوونکی مونږ وو (په دی وجه هغوی حیلی اوبهانی نه سوی کولای)

(معلومات اومسئلې)

نَفَشَتۡ فِيهِ غَنَمُ ٱلۡقَوۡمِ دلفظ دَ نَفَشۡ معنیٰ دعربی لغت په اعتبار سره دا ده چی دشپی په وخت حیوان دچا پر فصل ورسی او نقصان ورته ورسوی .

فَفَهَّمۡنَٰهَا سُلَيۡمَٰنَ : دَ ، فَفَهَّمۡنَٰهَا ضمیرپه ظاهره دمقدمی اوفیصلی طرف ته راجع دی اومعنی دا ده چی کومه نیصله دالله ﷻ په نزد ښه وه الله ﷻ هغه حضرت سلیمان ﷺ ته وښووله ، ددی مقدمی اوفیصلی صورت لوړ په لنډتفسیر کی راغلی دی ، ددی څخه معلومیږی چی دحضرت داود ﷺ فیصله هم دشرعی قانون په وجه سره غلطه نه وه مګر کومه فیصله چی الله ﷻ حضرت سلیمان ﷺ ته وښووله ، په دی کی دفریقینو رعایت او مصلحت وو، په دی وجه دالله ﷻ په نزد دغه ښه مقرره کړل سوه ، امام بغوی دحضرت ابن عباس ﷺ قتاده ﷺ اوزهری څخه ددی واقعی روایت داسی کړی دی چی دوه سړیان دحضرت داود ﷺ په خدمت کی حاضرسول په دوی کی یو سړی دبزو خاوندوو بل دفصل خاوند وو، دفصل خاوند دبزو په خاوند دا دعوه وکړه چی دده بزی دشپی زما فصل ته ورختلی دی اوفصل یی بالکل صفا کړی دی هیڅ یی نه دی پری ایښی (غالبًا چی مدعا علیه به ددی اقرار کړی وی او دټولو بزو قیمت به ددغه ضائع سوی فصل دقیمت برابر وو په دی وجه) حضرت داود ﷺ.دا فیصله واوروله چی بزو والادی خپلی ټولی بزی فصل والاته ورکړی (ځکه چی کوم شیان دقیمت په ذریعه اخستل او ورکول کیږی کوم ته چی دفقهاؤ په عرف کی ذوات القیم ویل کیږی دغه که چاضائع کړه نو تاوان به یی دقیمت په حساب سره ورکوی ، دبزو قیمت چونکی دضائع سوی فصل دقیمت برابر وو، په دی وجه دا دضابطی فیصله یی وفرمایله) دا دواړه مدعی اومدعا علیه دحضرت داود ﷺ دعدالت څخه واپس سول نو (په دروازه کی دده د زوی) حضرت سلیمان ﷺ سره یی ملاقات وسو هغه پوښتنه ورڅخه وکړه چی ستاسی دمقدمی څه فیصله وسوه هغوخلګو حضرت سلیمان ﷺ ته بیان وکی نوحضرت سلیمان ﷺ وفرمایل چی که ددی مقدمی فیصله ماکولی نو ددی څخه علاوه به می بل ډول کړی وه کومه چی به دفریقینو دپاره مفیده اونافعه وه، بیاپه خپله دخپل پلار حضرت داود ﷺ په خدمت کی حاضرسو او دا خبره یی عرض کړه، حضرت داود ﷺ په تاکید سره پوښتنه وکړه چی هغه څه فیصله ده چی د دواړو دپاره ددی فیصلی څخه ښه ده ؟ نوحضرت سلیمان ﷺ وفرمایل چی ته بزی خوټولی فصل والاته ورکړه چی هغه

ددي دشيدو او وړي وغيره څخه فائده واخلي او دفصل مخکه بزو والاته حواله کړه چې هغه په کښر فصل وکړي اوخصمانه يې وکړي ، هرکله چې فصل بيا خاوند ته اوبزې دبيزو خاوند ته حواله کړي. حضرت داود ﷺ دا فيصله خوښه کړه چې بس اوس فيصله داسې په کار ده اوفريقين يې را وغوښتل او دا دوهمه فيصله يې نافذه کړه (مظهري وقرطبي وغيره)

(ايا دفيصلي کولو څخه وروسته ديو قاضي فيصله ماتيږي يا بدليږي؟)

دلته دا سوال پيدا کيږي چې حضرت داود ﷺ هرکله چې يوه فيصله کړې وه نوحضرت سليمان ﷺ ته دهغه دماتولو څه حق وو؟ اوکه حضرت داود ﷺ په خپله دده فيصله واوريده اوخپله زړه فيصله يې ماته کړه او دوهمه يې جاري کړه نو ايا قاضي ته ددې اختيار سته چې ديوې فيصلې کولو څخه وروسته هغه زړه فيصله ماته کړي او دوهمه جاري کړي ؟

قرطبي دلته په دا قسم مسئلو په ډير تفصيل سره بحث کړي دی خلاصه دهغو دا ده چې که يوقاضي دشرعي نصوصو اوجمهور امت خلاف څه فيصله غلطه محض په اټکل سره ورکړه نو هغه فيصله په اتفاق د امت مردوده اوباطله ده، بل قاضي ته ددې خلاف فيصله ورکول نه صرف جائز بلکه واجب دي او دهغه قاضي معزول کول واجب دي ليکن که ديو قاضي فيصله پرشرعي اجتهاد مبني او داُصولو تراجتهاد لاندې وه نوبل قاضي ته دده فيصله ماتول جائزنه دي ځکه چې که داسې وسي نوعظيم فساد به جوړسي او داسلامي قانون څخه به يوه لوبه جوړه سي اوهره ورځ به حلال اوحرام بدليږي البته که په خپله دې فيصله ورکوونکي قاضي ته وروسته ددې څخه چې داصولو تراجتهاد لاندې ده يوه فيصله نافذه کړي ده خو اوس ورته داجتهادپه وجه سره دا په نظر ورغله چې په اوله فيصله او اولني اجتهادکې غلطي سوي ده نو دهغه بدلول جائز بلکې ښه دي ، حضرت فاروق اعظم ﷺ چې يومفصل خط دحضرت ابوموسیٰ اشعري ﷺ په نوم دقضا اومقدمو فيصله کولو پر اصولو مشتمل ليکلی وو په هغه کې ددې توضيح دي چې دفيصلې کولو څخه وروسته که اجتهاد بدل سي نو اوله فيصله بدلول په کار دي ، هغه خط دار قطني په سندسره نقل کړي دی (قرطبي ملخصاً) اودشمس الائمه سرخسي په مبسوط باب القضاء کې هم داخط مفصل ليکلی دی

او دتفسير دامام مجاهد قول دا دی چې دحضرت داود اوسليمان عليهما السلام دواړو فيصلې پرخپل خپل ځای دي اوحقيقت يې دا دی چې حضرت داود ﷺ کومه فيصله فرمايلې وه هغه دقاعدې فيصله وه او حضرت سليمان ﷺ چې څه وفرمايل هغه په حقيقت کې دمقدمې فيصله نه وه بلکې په فريقينوکې دصلح کولو يوه طريقه وه او په قرآن کريم کې د: وَالصُّلۡحُ خَيۡرٌ ارشاد وارد دی په دې وجه دا دوهم صورت دالله ﷻ په نزد خوښ کړل سو (مظهري)

حضرت فاروق اعظيم ﷺ خپلو قاضيانوته دا هدايت ورکړی وو چې هرکله تاسې ته د دوو فريقينو مقدمه

راسي نو اول د دوارو په مينځ کي په رضامندي سره پريو خبره دصلح کولو کوشش کوئ خو که دا ناممکنه سي نو خپله شرعي فيصله جاري کوئ او په دي کي يي دا حکمت ارشادو فرمايي، چي په حاکمانه عدالتي فيصلي سره هغه سړي دکوم خلاف چي فيصله سوي وي پر کراره کولي خو سي، مګر د دواړو په مينځ کي دبغض او دښمني تخم وکرل سي کوم چي د دوو مسلمانانو په مينځ کي نه وي په کار په خلاف دروغي راوستو او صلحي کولو څخه چي په دي سره دزړونو څخه نفرت هم ليري کيدی سي(ازمعين الحکام) ٠

دمجاهد په دي قول باندي دا معامله دقاضي دماتولو اوبدلولو پاته نه سوه بلکه فريقينو ته چي کوم حکم اورول سوي وو هغه لاتللي هم نه وو چي يوصورت په کي دصلحي راووتي او هغه دواړه په دي راضي سول

(دوه مجتهدان که په خپل خپل اجتهاد سره دوی متضادی فيصلي وکي نو ايا په دوی کي هره يوه فيصله صحيح او درسته ده او که يوی ته به غلطه ويل کيږي؟)

په دي موقع قرطبي په ډير تفصيل سره اونورو مفسرينو په تفصيل يا په لنډه سره دا بحث هم کړي دی چي هر مجتهد هميشه صحيح وي او که دوه متضاد اجتهادونه وي نو دواړه به حق ګڼل کيږي او آيا په دوی کي به ديوه فيصلي ته خطاء اوغلطه ويل کيږي؟ په دي کي دپخواني زماني څخه دعالمانو قولونه مختلف دي د ذکر سوي آيت څخه دواړو ډلو دليل نيولی دی کوم حضرات چي دا وايي چي د دواړو اجتهادحق دی که څه هم متضاد وي د دوی دليل دآيت په اخري جملي سره دی په کومه کي چي فرمايي ،

وَكُلًّا آتَيْنَا حُكْمًا وَعِلْمًا: په دي کي حضرت داود او سليمان عليهما السلام دواړو ته دحکمت اوعلم عطاء کولو ارشاد دی ، په حضرت داود ﷺ باندي څه عتاب نسته او نه ده ته دا ويل سوي دي چي دده څخه غلطي وسوه ، ددي څخه معلومه سوه چي دحضرت داود ﷺ فيصله هم حقه وه اودحضرت سليمان ﷺ فيصله هم البته دحضرت سليمان ﷺ فيصله ته يي په فريقينو کي دصلح کيدو په بناء باندي ترجيح ورکړه اوکوم حضرات چي دا فرمايي چي په اجتهادي موقعو کي حق يو طرف ته وي او دوهم غلط وي ، د دوی دليل ددي آيت په اولي جملي سره دی يعني فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ چي په دي کي يي تخصيص کړي دی ، دحضرت سليمان ﷺ په باره کي يي فرمايلي دي چي مونږ ده ته حق فيصله وښووله ددي څخه معلوميږي چي دحضرت داود ﷺ فيصله حقه نه وه که څه هم هغه په وجه دخپل اجتهادپه دي کي معذوروی او څه مؤاخذه نه وي ورباندي، دا بحث دفقهي داصولو په کتابونو کي ډيرپه تفصيل سره راغلي دی هلته يي کتلي سي ، دلته صرف دومره پوهيدل کافي دي چي په حديث کي نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چي کوم سړي اجتهاد وکي اوحکم ورکول يي تر اصولو داجتهاد لاندي بيان کي که دده اجتهاد صحيح سونوده ته به دوه اجرونه ورکول کيږي يو داجتهاد کولو دمحنت دوهم صحيح او درست حکم ته درسيدو، اوکه دا اجتهاد صحيح نه سو خطا ورڅخه وسوه نو بيا ده ته يو اجر داجتهاد دمحنت به ورکول کيږي دوهم اجر کوم چي اصل صحيح حکم ته درسيدو وو هغه به نه ورکول کيږي (داحديث اکثرو مستندو کتابونو

دحدیثو نقل کړي دي، په دی حدیث سره دعالمانو ددی اختلاف حقیقت هم واضح کیږی چی په حقیقت کی دااختلاف دیولفظی جګړی په شان دی څکه چی حقوالی دواړه طرف ته حاصل دی نومطلب یی دا سوچی په اجتهادکی دخطا کوونکی مجتهد او دده دتابعدارو دپاره هم اجتهاد حق اوصحیح دی په دی په عمل کولو سره به د دوی نجات وسی برابره خبره ده که هغه اجتهادپه خپل ذات کی خطاهم وی مګرپه دی دعمل کوونکو به څه ګناه نه وی اوکوموحضراتوچی دا فرمایلی دی چی حق په دی دواړوکی یودی دوهم غلط اوخطاء دی، ددی مطلب هم ددی څخه زیات نه دی چی اصل مراد حق تعالی ته دنه رسیدو په وجه سره به ددی مجتهدپه ثواب کی کمی راسی او داکمی په دی وجه سره دی چی دده اجتهاد حق خبری ته ونه رسیدی لیکن دامطلب د دوی هم نه دی چی خطاء کیدونکی مجتهدته به څه ملامتیا وی یادده تابعداری کوونکوته به ګناهګار وویل سی ، په تفسیرِ قرطبی کی یی په دی مقام باندی دااړول بحثونه په پوره تفصیل سره لیکلی دی عالمان یی هلته کتلی سی.

(دافقهی مسئله چی که دڅاحیوان دڅاخان یامال ته نقصان ورسوی نوفیصله یی څنګه په کار ده؟)

دحضرت داود ﷺ دفیصلی څخه خو داسی ثابتیږی چی دحیوان پرمالك به تاوان راځی که دا واقعه دشپی سوی وی لیکن دا ضروری نه ده چی دحضرت داود ﷺ دشریعت کومه فیصله وی هغه دی په شریعت محمدی کی هم وی ، په دی وجه په دی مسئله کی دمجتهدینو امامانو اختلاف دی ، دامام شافعی مسلك دا دی چی که دشپی په وخت کی دڅاحیوان دبل څافصل ته ورداخل سو اونقصان یی ورسوی نودحیوان په مالك به تاوان راځی اوکه دورځی داسی وسوه نوتاوان به یی نه وی دده دلیل دحضرت داود ﷺ دفیصلی څخه هم کیدی سی مګر دشریعت محمدی داصولو ترمخه دوی په یوحدیث سره دلیل فرمایلی دی کوم چی په موطاء امام مالك کی مرسلاً نقل دی چی دحضرت براء بن عازب ؓ اوښه دیوسړی باغ ته ننوته او نقصان یی ورته ورسوی نونبی کریم ﷺ دافیصله وفرمایله چی دباغونو اوفصلونو حفاظت دشپی ددی دمالکانو پر ذمه دی او د دوی دحفاظت باوجود دشپی که ورته دڅا حیوان نقصان ورسوی نودڅاروی پر مالك تاوان دی او دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او دکوفی دفقهاؤ مسلك دا دی چی څه وخت دحیوانانو سره د دوی څروونکی اوحفاظت کوونکی سړیان موجود وی او دده دغفلت په وجه حیوان دڅاباغ یافصل ته نقصان ورسوی نوپه دی صورت کی دحیوان پرمالك باندی تاوان راځی برابره خبره ده که دامعامله دشپی وسی اوکه دورځی اوکه مالك یا محافظ دحیوانانو سره نه وو حیوان په خپله ولاړی او دڅا باغ یافصل ته یی نقصان ورسوی نودحیوان پرمالك باندی تاوان نسته معامله دورځی وی اوکه دشپی دواړه برابر دی ، دامام اعظم دلیل هغه حدیث دی کوم چی بخاری اومسلم اوټولو محدثینو روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی جَرْحُ الْعَجْمَاءِ جُبَار، یعنی حیوان چی څاته نقصان ورسوی نوهغه دمؤاخذی قابل نه دی یعنی دحیوان پرمالك باندی ددی تاوان نسته په

دی شرط چی دحیوان مالك یامحافظ دحیوان سره نه وی لکه چی په نورو دلیلونو سره ثابت دی) په دی حدیث کی دشپی او ورځی دفرق څخه بغیر دا شرعی قانون مقرر سوی دی چی که دحیوان مالك په خپله په خپل قصد اواراده سره دچاپه فصل کی نه وو پری ایښی او حیوان نه وو ورڅخه تښتیدلی نو دنقصان تاوان به یی دحیوان پر مالك نه وی او دحضرت براء بن عازب ﷜ دواقعی دروایت په سندکی فقهاءِ حنفیه وو خبری کړي دی او فرمایلی یی دی چی دا دصحیحینو دحدیث په مقابله کی کوم چی ذکر سو دلیل نه سی گرځول کیدی والله سبحانه وتعالی اعلم

(دغرونو او دمارغانو تسبیح)

وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُودَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ وَكُنَّا فَاعِلِينَ: حضرت داود ﷺ ته الله ﷻ په ظاهری کمالاتوکی یو کمال دښائسته اواز هم ورکړی وو، کله چی به ده زبور وایه نودهوا مارغان به ودریدل او دده سره به یی تسبیح کوله، دغه ډول دغره اوهری درختی اوکانی څخه به دتسبیح اواز راوتی، دخوش اوازی کمال خو یی دظاهری کمالاتو څخه وو او دمارغانو اوغرونو په تسبیح کی شریکیدل په تسخیرخداوندی کی په طور دمعجزی وو او دمعجزی دپاره داهم ضروری نه ده چی په مارغانو اوغرونوکی ژوند اوشعور وی بلکی په طور دمعجزی په هرغیر ذی شعورکی هم شعور پیدا کیدی سی ددی څخه علاوه تحقیق دا دی چی په غرونو او ډبروکی هم ژوند اوشعور د دوی دحیثیت په قدر موجود دی، په صحابه کرامو﷡ کی حضرت ابوموسیٰ اشعری ﷜ ډیرخوش اوازه وو، یوه ورځ ده قرآن وایه نبی کریم ﷺ پرراغی نو د دوی دتلاوت اوریدو دپاره ودریدی اواوریدی یی بیایی وفرمایل چی ده ته الله ﷻ دحضرت داود ﷺ خوش اوازی ورکړي ده کله چی حضرت ابوموسیٰ ﷜ ته معلومه سوه چی نبی کریم ﷺ دده تلاوت اوریدی نو عرض یی وکی چی که ماته معلومه سوی وای چی تاسی زما تلاوت اوری نوما به زیات دښائسته ویلو کوشش کړی وای (ابن کثیر)

فائده: ددی څخه معلومه سوه چی دقرآن په تلاوت کی خوش اوازی اوښه لهجه پیدا کول خوښ سوی او مطلوب دی په دی شرط چی دنن صبا قاریانو په شان غلو په کښی نه وی چی صرف داواز ښائسته کول او دخلگو لوبولو فکر یی وی او دتلاوت اصل مقصد غائب سی. والله اعلم

(دزغرو جوړولو کار حضرت داود ﷺ ته دالله ﷻ دطرف څخه عطاء سوی وو)

وَعَلَّمْنَاهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَكُمْ: لفظ دلَبُوس دلغت په اعتبار سره په اسلحه کی هرشی ته ویل کیږی کوم چی انسان یی اغوندی یاغاړی ته یی اچوی او استعمالوی یی، مراد ورڅخه دلته د اوسپنی زغری دی کومی چی په جنگ کی دځان دحفاظت دپاره اغوستل کیږی په بل آیت کی دی وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ یعنی مونږ دده دپاره اوسپنه نرمه کړی وه برابره خبره ده که داسی چی اوسپنه به دده لاس ته راغله اوخود بخوده به نرمه سوه چی څنگه به یی تاوولی به یی سوه اوکه نری کول یاپنډه کول به یی غوښتله نوکیده به لکه

موم چی دی یاداسی چی په اورکی یی دویلی کولو اونرمولو تدبیر ورته ښوولی ووکوم چی نن صبا ر
اوسپنو په ټولو کار خانوکی استعمالیږي.

(داسي کار چي خلګوته ورځخه نه فائده رسيږي مطلوب اوپیغمبري کاردی)

په دی آیت کی دزغرو جوړولو کار حضرت داود ﷺ ته دښوولو دذکر سره یی ددی داحکمت هم وښوولی
چی لِتُحْصِنَكُم مِّنْ بَأْسِكُمْ : یعنی ددی دپاره چی دا زغری ستاسی دجنګ په وخت کی دتیری توری
دګذار ځخه تاسی وساتی دا یو داسی ضرورت دی کوم ته چی ددیندارو او دنیا دارو ټولو ضرورت
راځی او په کاریږی یی ، په دی وجه ددی کار ښوول الله ﷻ خپل انعام مقررکی ، ددی ځخه معلومه سو
چی دکوم کار په ذریعه دخلګو ضرورتونه پوره کیږي ،دهغه زده کول اوښوول په ثواب کی داخل دی په
دی شرط چی دخلګو دخدمت نیت وی صرف ګټه مقصدنه وی دحضراتو انبیاء علیهم السلام ځخه
مختلف قسم کارونه کول نقل دی ، حضرت ادم ﷺ به دزمینداری کار کوی ، نبی کریم ﷺ ارشاد فرمایی
چی کوم کاریګر په خپل کار کی نیت نیك یعنی دخلګو دخدمت لری دهغه مثال دحضرت موسیٰ ﷺ
دموردی چی شیدی به یی خپل بچی ته ورکولی اومعاوضه به ورته دفرعون ځخه په مفته کی رسیده دغه
ډول دخلګو دخدمت په نیت سره کاریګر ته دخلګو دخدمت دثواب خپل مقصد خوځاصلیږی او
دکاریګری دُنیوی نفع پرهغه سربیره ده ته ورکول کیږی داحدیث دحضرت موسیٰ ﷺ په قصه کی په
سورة طٰهٰ کی تیر سوي دی.

(دحضرت سلیمان ﷺ دپاره دهوا مسخر کیدل او دهغه متعلق مسئلي)

دحضرت حسن بصری رحمه الله ځخه نقل دی چی کله حضرت سلیمان ﷺ ته داواقعه وریپینه سوه چی
دلښکر دآسونو په معائنه مشغوله سو او دماځیګر لمونځ ورځخه فوت سو نو په خپل دی غفلت یی
افسوس وکی او هغه آسونه کوم چی ددی غفلت سبب جوړ سوی وه هغه یی هم دغسی خوشی پریښوول
چونکی ده دا کاردالله ﷻ درضاحاصلولودپاره کړی ووپه دی وجه الله ﷻ ده ته د اسونوځخه به
اوتیزرفتاره سپرلی دهوا ورکړه ددی واقعی تفصیل اوددی سره دمتعلقه ایتونوتفسیربه په سورة ص
کی راسی ان شآء الله تعالی.

وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ عَاصِفَةً : دا جمله پرمخکی سَخَّرْنَا مَعَ دَاوُدَ باندی عطف ده یعنی لکه ځنګه چی الله ﷻ
دحضرت داود ﷺ دپاره غرونه اومارغان مسخر کړی وه کوموچی به دده داواز سره تسبیح کوله ، دغه
ډول دحضرت سلیمان ﷺ دپاره یی هوا مسخر کړی وه چی پردی به سپریدی اوکوم ځای ته چی به یی
تلل غوښتل ښه په اسانی سره به رسیدی دلته دا خبره دلحاظ قابله ده چی دحضرت داود ﷺ په
تسخیرکی یی لفظ د ،مَعَ استعمال کی چی دده سره مونږ غرونه اومارغان مسخر کړی وه او دلته په حرف
دلام سره فرمایی چی هوا مودحضرت سلیمان ﷺ دپاره مسخره کړی وه ، په دی کی یوه باریکه اشاره

ددي خبري طرف ته ده چې په دواړو تسخیرونوکې فرق وو، حضرت داود ﷺ چې به تلاوت کوی نوغرونه اومرغان به دځانه په تسبيح کولو شروع سول دده دحکم منتظربه نه وه او دحضرت سليمان ﷺ دپاره يې هوا دده دحکم تابع کړې وه چې څه وخت او کله او کوم طرف ته به يې تلل غوښتل هواته به يې حکم وکې هغه به ورسوی او چې کوم ځای به يې کښته کيدل غوښتل هلته به يې کښته کړه او کله چې به يې ورته دبيرته تللو حکم وکې نو بيرته به يې را ورسوی (روح عن البيضاوی)

په تفسير ابن کثيرکې يې دحضرت سليمان ﷺ دتخت کوم چې به په هوا باندې تلی دهغه کيفيت دابيان کړي دی چې حضرت سليمان ﷺ دلرګي يو ډير لوی اوپلن تخت جوړ کړی وو چې پرهغه به په خپله سره دحکومت دسردارانو اوسره دلښکر اوسامان دجنګ ټول سپاره سول بيابه يې هواته حکم وکی، هوا به دا لوی او پلن تخت په خپلو اوږو سپورکی، دا هوايي تخت به دسهار څخه ترغرمې پورې ديوی مياشتې په سفر تلی او دغرمې څخه تر ماښامه پورې به ديوی مياشتې سفرکوی يعنې په يوه ورځ کې به يې د دوو مياشتو سفر قطع کوی، ابن ابی حاتم دسعيد بن جبير ﷺ څخه نقل کړي دي چې پردې تخت سليمانی به شپږ لکه کرسۍ ايښوول سوې چې په دې کې به دحضرت سليمان ﷺ سره ايماندار انسانان سپريدل او د دوی شاته به ايماندار پيريان کښينستل بيابه مرغيوته حکم وسو هغوبه په دې ټول تخت سايه وکړه چې دلمر ګرمي ورته تکليف نه ورکوی، بيابه هواته حکم وکړل سو هغه به داعظيم الشانه مجمع پورته کړه کوم ځای ته چې به حکم کيدی هغه ځای ته به يې رسوی اوپه ځينو روايتونوکې دي چې ددې هوايي سفرپه وخت کې به په ټوله لاره حضرت سليمان ﷺ سرکښته کړی وو دالله ﷻ په ذکر اوشکرکې به مشغوله وو يوی خوا اوبلې خواته به يې هيڅ نه کتل او په خپل عمل سره به يې دتواضع اظهارفرمايی (ابن کثير)

عاصفةً، د، ريح عاصفة: لفظي معنی تيزه هوا ده دقرآن کريم په بل آيت کې ددې هواصفت رُخاء بيان سوي دی چې معنی يې نرمه هوا ده چې نه ګرد په پورته کيږي او نه په فضاء کې څپې پيداکوی، په ظاهره دادوه متضادصفتونه دي ليکن ددواړوصفتونو يوځای کيدل داسی ممکن دی چې دا هوا په خپل ذات کې ډيره سخته او تيزه وي چې ددې په وجه سره په څوګنټوکې ديوی مياشتې مزل کولای سی ليکن دالله ﷻ قدرت دا داسی جوړه کړې وي چې په فضاء کې ورڅخه څپې نه پيدا کيږي چنانچې ددې يې دا حال بيان کړي دی چې په کومه فضاء کې به دا تخت روان ووهلته به يو مرغه ته هم څه نقصان نه رسيدی.

(دحضرت سليمان ﷺ دپاره دپيريانو او شيطانانو تسخير)

وَمِنَ الشَّيَاطِينِ مَنْ يَغُوصُونَ لَهُ وَيَعْمَلُونَ عَمَلًا دُونَ ذَٰلِكَ وَكُنَّا لَهُمْ حَافِظِينَ: يعنې مونږ دحضرت سليمان ﷺ دپاره مسخر کړي وه شيطانان دپيريانوڅخه داسی خلګوته کوموچې به په دريابونوکې غوټې وهلې دحضرت سليمان ﷺ دپاره به يې جواهرات را ايستل راوړل به يې او ددې څخه علاوه نور کاربه يې هم

ګوي دکومو ښځه چې دځینو ذکر په نورو ایتونوکې راغلي دي يَعۡمَلُونَ لَهٗ مَا يَشَآءُ مِن مَّحَٰرِيبَ وَتَمَٰثِيلَ وَجِفَانٍ كَٱلۡجَوَابِ یعني جوړ وي دحضرت سلیمان ﷺ دپاره محرابونه اوشاندار مکانونه اوتصویرونه او ډېرې غټې غټې پیالې کومې چې دحوض په شان کار کوي ، د دوی ښځه به حضرت سلیمان ﷺ دلوی مشقت کار هم اخستی اوعجیبه اونا اشنا کارونه هم اوموږ د دوی محافظ وو .

شَيَٰطِينِ : دغه د اورښځه جوړ لطیف جسمونه دي کوم چې عقل اوشعور لري او دانسان په شان دشریعت د احکامو مکلف دي، ددې نوع دپاره اصل لفظ دجنّ یاجنّات استعمالیږي ، په دوی کې چې کوم ایمان قبول نه کې کافر پاته سي هغوی ته شیطانان ویل کیږي، ظاهره دا ده چې دحضرت سلیمان ﷺ دپاره مسخر خو ټول جنات وه برابره خبره ده که مومن وي یاکافر مګر مومنانو خودتسخیرښځه بغیرهم دحضرت سلیمان ﷺ دحکم تعمیل دیومذهبي فرض په حیثیت سره کوي د دوی دپاره دتسخیر دذکر ضرورت نسته ، په دې وجه یې په تسخیرکې صرف دشیطانانو یعني دکافرانو جناتو ذکر وکې چې هغوی سره دخپل کفر اوسر کښي په زبردستي اوزور دحضرت سلیمان ﷺ دفرمان تابع اوسیدل اوشاید ددې دپاره یې دآیت په اخرکې داجمله زیاته کړه چې موږ د دوی محافظ ووکنه نودکافرانوجناتوښځه خوهر وخت دا خطره وه چې دوی ښه نقصان ونه رسوي مګر دالله ﷻ دحفاظت پهره پردوی لګیدلې وه په دې وجه یې هیڅ ضررنه سو رسولی .

يوه لطيفه : دحضرت داود ﷺ دپاره خوحق تعالی دټولو ښځه زیات سخت اوبدن داره جسمونه مسخرکړل چې په هغوی کې غرونه اوسپنه سخت شیان شامل دي ددې په مقابله کې دحضرت سلیمان ﷺ دپاره یې داسې لطیف اجسام مسخرکړل کوم چې په نظرهم نه سي راتلی لکه هوا اوجنات په دې کې دالله ﷻ دکامل قدرت پرهر قسم مخلوقاتو باندې حاوي کیدل واضح سول (تفسیر کبیر للرازي رحمه الله)

وَأَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ۝٨٣ فَٱسۡتَجَبۡنَا لَهُۥ فَكَشَفۡنَا

او ایوب هر کله چې اواز وکې ده خپل رب ته چې په ما تکلیف لویدلی دی او ته یې دټولو رحم کوونکو ښځه زیات رحم کوونکی ، پس موږ واوریدی فریاد او لیرې مو کې

مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّۖ وَءَاتَيۡنَٰهُ أَهۡلَهُۥ وَمِثۡلَهُم مَّعَهُمۡ رَحۡمَةً مِّنۡ عِندِنَا وَذِكۡرَىٰ لِلۡعَٰبِدِينَ ۝٨٤

ښه چې وو په ده تکلیف او ورمو کې ده ته دده اهل دکور او دومره نور د دوی سره رحمت دخپل طرف ښځه او نصیحت دبندګی کوونکو دپاره .

لنډتفسير: او دایوب (ﷺ) دقصې ذکروکړه کله چې ده (په سخت مرض کې د اخته کیدوښځه وروسته) خپل رب ته اوازوکې چې ماته داتکلیف رسیدلی دی اوته دټولو مهربانانو ښځه زیات مهربانه یې (نو په خپله مهرباني سره زما داتکلیف لیرې کړې) نوموږ دده دعا قبوله کړه اوده ته چې کوم تکلیف وو هغه

مولیږي کې او (بغير دده درخواست څخه) مونږ دده کورنۍ (يعني اولادکوم چې دده څخه غائب سوي وقاله الحسن كذا فى الدر المنثور يامره سوي وه قاله الغير) ورکړل (داسې چې هغوی ده ته راغلل ياپه دي معنی چې دومره نورپيدا سول قاله عکرمه ﷺ كمافى فتح المنان) او د دوی سره (په شمير کې) د دوی برابر نور هم (ورکړل يعني څومره اولادچې يې اول وو دهغه برابر مو نور هم ورکړل برابره خبره ده که په خپله دده څخه وسو يا د اولاد څخه يې اولاد پيداسو كذافى فتح المنان من كتاب ايوب) دخپل خاص رحمت په سبب سره او دعبادت کوونکو دپاره ديو يادگار پاته کيدو په سبب سره.

(معلومات اومسئلې (قصه دايوب ﷺ))

دحضرت ايوب ﷺ په قصه کې اسرائيلي روايات ډير اوړېده دي په دغوکې چې کوم محدثينو حضراتو په تاريخي درجه کې داعتماد ګڼلي دي ، هغه نقل کيږي، په قرآن کريم کې خوصرف دومره خبره ثابته ده چې دوی ته څه سخت مرض پيښ سوي وو، چې دده صبر پرکوی اخرالله ﷻ ته يې دعا وکړه نو ددغه څخه يې نجات پيدا کې او دا چې ددې مريضی په زمانه کې د دوی اولاد او دوستان ټول غائب سوي وه برابره خبره ده که دمرګ په وجه سره وه ياپه بله وجه سره بياالله ﷻ ده ته صحت اوعافيت ورکې اوڅومره اولادچې وو هغه ټول يې ده ته بيرته ورکې بلکې دومره يې نور ورکې باقي دقصې اجزاء ځينې خوپه مستندو احاديثو کې موجوددي زيات ترتاريخي روايتونه دي حافظ ابن کثير (رح) ددې قصې تفصيل داسې ليکلی دی چې.

حضرت ايوب ﷺ ته الله ﷻ په اول کې مال او دولت اوجائيداد اوشاندار مکانات او سپرلي اواولاد او نوکران خادمان ډير څه ورکړي وه، بيا الله ﷻ دی په پيغمبرانه ازمائش کې مبتلا کې دا ټول شيان دده دلاس څخه ووتل او په بدن يې هم داسې سخته مريضي ولګيده لکه جذام چې وی دبدن يوه حصه يې هم بغير دژبې او دزړه څخه ددې مريضی څخه محفوظ نه سوه ده به په دې حالت کې ژبه اوزړه دالله ﷻ په ياد کې مشغول ساتل اوشکريه يې اداکوله ، ددې سختي مريضی په وجه سره ټولو عزيزانو دوستانو او همسايه ګانو دی جلا کې او داباديٰ څخه دباندې په ګنده ځای کې وغورځوی هيڅوك به يې خواته نه ورتلې صرف دده بي بي به دده خبر ګيري کوله کومه چې دحضرت يوسف ﷺ لور يا لمسی وه چې نوم يې ليابنت ميشا ابن يوسف ﷺ بنوول کيږي (ابن کثير) مال اوجائيداد خو يې ټول ختم سوي وو . دده بي بي محترمې به محنت اومزدوری کوله خپل او دده رزق او ضرورتونه به يې پوره کول او دده خدمت به يې کوی دحضرت ايوب ﷺ دا ازمائش اوامتحان څه دحيرانتيا اوتعجب شی نه دی دنبي کريم ﷺ ارشاد دی.

اَشَدُّ النَّاسِ بَلَاءً اَلْاَنْبِيَآءُ ثُمَّ الصَّالِحُوْنَ ثُمَّ الْاَمْثَلُ فَالْاَمْثَلُ : يعني دټولو څخه زياتې سختی بلاګانی او ازمائشونه انبياء ﷺ ته پيښيږي د دوی څخه وروسته نورو صالحانوته درجه په درجه، او په يو روايت کې دی چې دهر انسان امتحان اوازمائش دده په دين باندې دکلك والی اومضبوط والی په اندازه سره

وی کوم چې په دین کې څومره زیات مضبوط وی دومره دده ازمائش او امتحان زیات وی (چې په دغه مقدار سره دده درجې دالله ﷻ په نزد لوړی سی) حضرت ایوب ﷺ ته الله ﷻ دپیغمبرانو په تولی کې ددینی سختوالی او صبر یو امتیازی شان ورکړی وو) پرمصیبتونو او سختیو باندی په صبر کی حضرت ایوب ﷺ ضرب المثل دی یزید بن میسره ﷺ فرمایی چې کله الله ﷻ حضرت ایوب ﷺ دمال او اولاد وغیره تولو دنیوی نعمتونو څخه خالی کې او ازمائش یی پرراوستی نو دوی چې ددی څخه فارغ سو، دالله ﷻ په یادو او عبادت کې یی نور محنت شروع کی او الله ﷻ ته یی عرض وکی چې ای زما پروردگاره! زه ستا شکر ادا کوم چې تا ماته مال جائیداد او ددنیا دولت او اولاد راکی چې محبت یی زما دزړه پرهریو جزء باندی خپور سوی وو، بیا پردی هم شکر ادا کوم چې تازه ددی تولو شیانو څخه فارغ کړم او اوس زما او ستا په مینځ کې حائل کیدونکی هیڅ شی باقی پاته نه سو.

حافظ ابن کثیر ﷺ دذکرسوو روایتونو نقل کولو څخه وروسته لیکی چې دوهب بن منبه ﷺ څخه په دی قصه کې ډیر اوږده روایتونه نقل دی چې غرابت په کښی پیدا کیږی او اوږده دی په دی وجه موږ هغه پریښوول.

(دحضرت ایوب ﷺ دعا دصبر خلاف نه ده)

حضرت ایوب ﷺ په دی سخت ازمائش کې چې دټول مال او جائیداد او دنیوی دولت څخه جلا سو نو په داسی جسمانی بیماری کې اخته سو چې خلک به یی خواته دراتللو څخه بیزیدل دکلی څخه بهر په یو سخا او گنده ځای کې اووه ۷ کاله څومیاشتی پروت وو او هیڅکله یی دفریاد او شکایت یو کلمه په ژبه نه ده راغلی، نیکی بی بی محترمی لیا به ورته عرض هم وکی چې ستا تکلیف ډیر زیات سو الله ﷻ ته سوال وکړه چې داتکلیف لیری سی نووي فرمایل چې ما اویا کاله صحیح تندرست دالله ﷻ په بی شمیره نعمتونو کې تیر کړي دی نو ایا ددی په مقابله کې اووه کاله هم په مصیبت کې تیرول څه مشکل دی؟ دپیغمبرانه عزم او ضبط او صبر او ثابت قدمی یی دا حال وو چې ددعا کولو همت یی هم نه کوی چې هسی نه دصبر خلاف سی (حال دا دی چې د الله ﷻ څخه دعا غوښتل او خپل حاجتونه او تکلیفونه پیش کول په بی صبری کې داخل نه دی) اخر یو داسی سبب پیښ سو چې دی یی په دعا کولو مجبوره کی او لکه چې لوړ لیکل سوي دی چې دا دعا وه څه بی صبری نه وه ، الله ﷻ دده پرکمال صبر باندی په خپل کلام کې مهر لگولی دی فرمایی اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا ددی سبب په بیان کې روایتونه ډیر مختلف او اوږده دی په دی وجه هغه پریښوول کیږي.

ابن ابی حاتم دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ څخه روایت کړي دی چې (کله دحضرت ایوب ﷺ دعا قبوله سوه او ده ته حکم وسو چې په مځکې پونده کښیږده ددغه ځای څخه به دصفا اوبو یوه چینه راووزی په هغه کې غسل وکړه او اوبه یی وچښنه نودا ټول مرض به ختم سی حضرت ایوب ﷺ دغسی وکړل ټول

بدن یې زخمي وو ، بغیر دهډوکې څخه نور هیڅ نه وه پرپاته سوی په دې چینه کې دغسل کولو سره یکدم یې پربدن غوښه څرمن او وریښته وسول او په خپل اصلي حالت سو نو) الله ﷻ دده دپاره دجنت یو جوړه کپړې را ولیږلې هغه یې واغوستلې او ددې ګنده ځای څخه لیرې سو اوپه یوکونج کې کښېنستی بلې خواته یې بې محترمه چې دعادت مطابق دده خبر اخیستوته راغله نو دی یې په خپل ځای نه کی پیدا په ژړا سوه حضرت ایوب ؑ چې په یوکونج کې ناست وو دی یې ونه پیژندی ځکه چې حالت یې بدل سوی وو دده څخه یې پوښتنه وکړه چې ای دخدای بنده (تاته معلومه ده چې) هغه بیمار کوم چې دلته پروت وو چیرې ولاړی؟ ایا سپیانو یا شرمښانو وخوړی (اوکه څه سو؟) او داسې خبرې یې دده سره کولې دا ټولې خبرې یې چې واوریدې نوحضرت ایوب ؑ دې ته وویل چې زه ایوب یم مګر محترمې بې بې تر اوسه پورې نه پیژندی وي ویل د الله بنده ته زما سره مسخرې کوې نوحضرت ایوب ؑ بیا وفرمایل چې ښه فکر وکړه زه ایوب یم الله ﷻ زما دعا قبوله کړه اوزما بدن یې دسره بیرته جوړ کی .

حضرت ابن عباس ؓ فرمایي چې ددې څخه وروسته الله ﷻ دده مال او دولت هم ده ته واپس کی او اولاد هم او داولاد دشمیر په برابر یې نور اولادونه هم ورکړه (ابن کثیر)

حضرت ابن مسعود ؓ فرمایي چې دحضرت ایوب ؑ اووه زامن اووه لوڼې وې ، ددې ازمائش په زمانه کې دا ټول مړه سوي وه ، کله چې الله ﷻ ده ته صحت ورکی نوهغه یې هم بیرته ژوندي کړل او دبې بې څخه یې نور هم دومره اولاد وسو کوم ته چې یې په قرآن کریم کې وَمِثْلَهُمْ مَعَهُمْ فرمایلي دې ثعلبي وایي چې دا قول دظاهر آیت دقرآن سره ډیر نژدې دی (قرطبي)

ځینې حضرات فرمایي چې نوې اولاد یې دخپلې بې بې دومره وسو لکه څومره چې مخکې وو او دغومره یې د اولاد څخه اولاد وسو ، دمثلهم څخه دامراد دی چې د اولاد څخه یې دومره اولاد وسو (والله اعلم)

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ۝٨٥ وَ اَدْخَلْنٰهُمْ

او اسمٰعیل ؑ او ادریس ؑ او ذالکفیل دا ټول دي دصبر کوونکو څخه او دا خل کړل مونږ دوی

فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝٨٦

په رحمت خپل کې ، دغه دي دنیك بختانو څخه .

تفسیر : او داسمٰعیل ؑ اوادریس ؑ او ذوالکفل ؑ (دقصې) ذکر وکړه دا ټول (دالله ﷻ په تشریعي اوتکویني احکامو باندې) دثابت قدم پاته کیدونکو خلګو څخه وه او مونږ دوی (ټولو) په خپل (خاص) رحمت کې دا خل کړي وه بیشکه دوی (ټول) دکاملو صالحانو څخه وه .

(معلومات اومسئلې)

(حضرت ذوالکفل نبي وو او که ولي؟ او دده عجيبه قصه)

په دی ذکر سوو ايتونوکی د درو حضراتو ذکر دی چی په دوی کی دحضرت اسمٰعيل اوحضرت ادريس
عليهما السلام نبی کيدل اورسول خودقرآن کريم په ډيرو ايتونوسره ثابت اوذکر يی هم په قرآن کريم کی
ځای په ځای راغلی دی ، دريم بزرگ ذو الکفل دی ، ابن کثير رحمه الله فرمايی چی دده نوم دپيغمبرانو سره
د ذکر کولو څخه دا معلوميږی چی دی هم يو دالله ﷻ نبی اورسول وو مگر دځينو نورو روايتونو څخه دا
معلوميږی چی دی په ټولی دانبياؤ کی نه وو بلکی يو سړی صالح د اولياء الله څخه وو دتفسيرامام ابن
جرير په خپل سندسره دمجاهد څخه نقل کړي دی چی حضرت يَسَع (دکوم دنبوت اوپيغمبری چی په قرآن
کی ذکر دی) کله چی بوډا اوضعيفه سو نو اراده يی وکړه چی يوڅوك خپل خليفه جوړکړی کوم چی دده
په ژوندکی دغه ټول کارونه دده دطرف څخه کوی کوم چی دنبی په فرائضوکی داخل دی .
ددی مقصد دپاره حضرت يَسَع عليه السلام خپل ټول اصحاب جمع کړل چی زه ځان ته خپل خليفه جوړول غواړم
چی دهغه دپاره دری شرطونه دی کوم سړی چی ددی دری شرطونو جمع کوونکی وی هغه به خليفه
جوړوم دغه دری شرطونه دا دی چی دی هميشه روژه نيسی اوهميشه دشپی په عبادت کی بيدار اوسی
اوهيڅکله غصه نه کوی، په مجمع کی يوداسی غيرِ معروف سړی پورته سوکوم چی په خلگوکی سپك
اوذليل گڼل کيدی وي ويل چی زه ددی کار دپاره حاضريم، حضرت يسع عليه السلام پوښتنه ورڅخه وکړه چی
اياته هميشه روژه نيوی سی اوهميشه شب بيداری کولی سی اوهيڅکله به غصه نه کوی ، دی سړی
عرض وکی چی بيشکه زه ددی کارونو کوونکی يم حضرت يسع عليه السلام (شايدچی دده په خبرو به يی
اعتمادنه وو په دی وجه) په دغه ورځ يی هغه ردکی، بيايی په بله ورځ دغه ډول مجمع ته خطاب وکی
اوټول حاضرين چپ پاته سول او دغه سړی بيا ودريدی دغه وخت حضرت يسع عليه السلام دی خپل خليفه
منتخب کی، شيطان چی دا وليدل چی ذوالکفل په دی کی کامياب سو نوخپلو مددگارو شيطانانو ته يی
وويل چی ولاړسی په يو ډول سره په دی سړی اثر واچوی چی دی يو داسی کار وکی چی په دی سره دغه
منصب دده څخه واخستل سی مدد گارو شيطانانو عذروکی چی دی زمونږ په واك کی راتلونکی نه دی،
شيطان ابليس وويل چی ښه نوتاسی دی ماته پريږدی (زه به ورسره وگورم) حضرت ذوالکفل دخپل
اقرارمطابق به ټوله ورځ روژه نيوله اوټوله شپه به ويښ وو صرف دغرمی قيلوله به يی کوله (قيلوله
دغرمی خوب ته وايی) شيطان عين په غرمه کي دده دقيلولی په وخت کی راغی اودروازه يی وټکوله دی
راکښينستی اوپوښتنه يی وکړه چه څوك يی؟ ده وويل چی زه يو بوډا مظلوم يم دوی دروازه ورخلاصه
کړه هغه چی دننه راغی نو يوه قصه يی شروع کړه چی زما دبرادری دخلگو زماسره جگړه ده هغوی پرما
باندی دا ظلم کړي دی هغه ظلم کړی ، يوه اوږده قصه يی شروع کړه تردی چی دقيلولی وخت ختم سو،
حضرت ذوالکفل ورته وويل چی کله زبه دباندی درسم نوما ته راسه زه به ستاحق دهغو څخه واخلم

حضرت ذوالکفل دباندی تشریف راوړی او دعدالت په خپل مجلس کی کښینستی او دده انتظاریی کوی مگر دی یی ونه لیدی ، په بله ورځ بیاچی کله دی عدالت ته کښنستی نو ددغه بوډا انتظاریی کوی او دی رانه غی کله چی دغرمی دقیلولی دپاره کورته ولاړی نو داسړی راغی او دروازه ټکول یی شروع کړل ده بیا پوښتنه ورځخه وکړه څوك یی؟ نو جواب یی ورکی چی یو بوډا مظلوم دی ، ده بیا دروازه ورته خلاصه کړه او وي فرمایل چی ماپرون تاته نه وه ویلی چی کله زه په عدالت کی کښینم نوته راسه (نه نه پرون راغلی نه نن سهار راغلی) هغه وویل چی حضرت زما مخالف ډیر خبیث خلگ دی کله چی دوی ولیدل چی تاسی په خپل عدالت کی ناست یاست او زه حاضر سم نوتاسی به دوی زماپه حق راکولو باندی مجبوره کړی نو دوی هغه وخت اقرار وکی چی مونږ ستاحق درکوو بیا چی کله تاسی دعدالت ځخه ولاړسی نواوس یی بیا انکار وکی، دوی ورته بیاهم دغه وفرمایل چی اوس زه کله په مجلس کی کښینم نوراسه په دی خبرو اتروکی نن بیادغرمی خوب پاته سو او دی دباندی راووتی او ددغه بوډا انتظاریی کوی (بله ورځ یی بیا ترغرمی پوری انتظاروکی خودی رانه غی بیاچی په دریمه ورځ دغرمی دخوب وخت سو او دخوب یی نن دریمه ورځ وه خوب غلبه پرکړی وه نوچی کورته راغی دکورخلگ یی په دی مقرر کړل چی څوك دروازه ونه ټکوی ، دا بوډا بیاپه دریمه ورځ راغی او دروازه یی وټکوله، نو خلگو منع کی نو دیو روښندان په ذریعه وروختی او دننه دوازه ټکول یی شروع کړل دی بیا دخوبه بیدارسو اووي لیدل چی دغه سړی په کورکی دننه دی او دروازه په خپل ډول بنده ده، دده څخه یی پوښتنه وکړه چی ته په کوم طرف دننه را ورسیدی؟ دغه وخت حضرت ذوالکفل وپیژندی چی داشیطان دی او ورته یی وفرمایل چی ایاته دخدای دښمن ابلیس یی؟ هغه اقرار وکی چی هو! اووي ویل چی تازه په خپل تدبیرکی ستړی کړم اوزماپه جال کی را نغلی، اوس ما داکوشش کوی چی تاته غصه درولم چی ته په خپل اقرارکی دروا غجن سی کوم چی تا دیسع نبی سره کړي دی ، په دی وجه ما داټول حرکتونه وکړل،دا واقعه وه ځکه په وجه چی ده ته د ذوالکفل خطاب ورکول سو ځکه چی د ذوالکفل معنی داسی سړی دی کوم چی خپله وعده او ذمه واری پوره کړی حضرت ذو الکفل ﷺ په خپل دی وعده باندی پوره وختی (ابن کثیر)

په مسنداحمد کی یو روایت بل هم دی مگر په دی کی د ذوالکفل پرځای دالکِفل نوم راغلی دی ، په دی وجه ابن کثیر ددغه روایت نقل کولو ځخه وروسته فرمایی چی دا یو بل کفل نومی سړی دی ، دغه ذوالکفل دکوم نوم چی په دی آیت کی راغلی دی دغه نه دی ، روایت دا دی .

حضرت عبدالله ابن عمرؓ فرمایی چی ما دنبی کریم ﷺ ځخه یوحدیث اوریدلی دی او یو وار دوه نه داوو ۷ وارو ځخه می زیات اوریدلی دی هغه دا چی دوی ﷺ فرمایل چی کفل دبنی اسرائیلو یوسړی وو چی دهیڅ گناه ځخه به یی ځان نه ساتی ده ته یوه ښځه راغله ده هغه ته شپیته دیناره ورکړل اوهغه یی

حرام کاري ته جوړه کړه ، کله چې دې ورته دحرام کارې دپاره کېنېنستې نو هغه ورپېده او په ژړا سره
هغه ورته وويل چې ژاړې ولې ماخو څه پرتا زورنه دي کړي هغه وويل چې نه زور خو دې نه دی کړی
لیکن دا داسې ګناه ده چې ماهیڅکله په خپل عمرکې نه ده کړې او دا وخت زه خپل ضرورت مجبوره کړې
څکه دې ته تیاره سوم چې دا یې واورېدل دغه سړي هم دغه وخت ددغې ښځې څخه بیرته سو و دریدی
اووې ویل چې څه ؛ دغه دینارونه هم ستا سول او د اوس څخه به کفل هم یوه ګناه نه کوي ، اتفاق داسې
پيښ سوچې په دغه شپه دکفل انتقال وسو اوسهار دده په دروازه غیبي داليکل سوي وليده سول غفر
الله للکفل يعني الله ﷻ کفل وبخښی .

ابن کثیر ددې روايت دمسنداحمد څخه دنقل کولو څخه وروسته فرمايي چې دا روايت په صحاح ستہ
کې چانه دی روايت کړی او اسناد ددې غريب دي او په هرحال که روايت ثابت هم وي نوپه دې کې ذکر
دکفل دی د ذوالکفل نه دی دا يو بل سړی معلوميږي ، والله اعلم

دکلام خلاصه دا ده چې ذوالکفل دحضرت يسع نبي خليفه او ولي صالح وو ، دده دخاص نېه عملونو
پربنا کیدی سی چې دده ذکر په دې آيت کې دپیغمبرانو په زمره کې وسو او په دې کې هم څه بعد نسته
چې په شروع کې دی دحضرت يسع نبي خليفه وو بيا الله ﷻ ده ته دنبوت منصب ورکړی وي، والله
سبحانه وتعالى اعلم

وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادَىٰ فِي الظُّلُمَاتِ أَن لَّا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ

او ماهي والا کله چې ولاړی په غصه کې بيايي وګڼله چې مونږ به قادر نه سو په ده باندي بيايي اواز وکی په
تیارو کې چې څوک حاکم نسته ما سوا ستا څخه .

سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ

ته بې عيبه يې ، زه ومه دګناهګارانو څخه ، بيا واوريدی مونږ دده فرياد او محفوظ کی دی

مِنَ الْغَمِّ ۚ وَكَذَٰلِكَ نُنجِي الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨٨﴾

مونږ ددغه غم څخه ، او هم دغسی مونږ محفوظ کړه مؤمنان .

تفسير: او دماهي والا (پيغمبر يعني دحضرت يونس ؑ دقصې) ذکر وکړه کله چې هغه (دخپل قوم
څخه چې هغوی ايمان رانه وړی) خفه سو روان سو (او دده دقوم څخه چې عذاب ليرې سو نو بيا هم واپس
نه سو او ددې سفردپاره يې زمونږ دحکم انتظار ونه کی) او ده (په خپل اجتهاد سره) داسې وګڼله چې مونږ
به (دده پرتللو باندي) په ده څه مواخذه نه کوو (چونکې دا تيښته ده په خپل اجتهاد سره جائز وګڼله او ځکه
دې وجه يې دوحې انتظار ونه کی ليکن چونکه دوحې ترامید پوري دوحې انتظار دانبياؤ دپاره مناسب

دی او دا مناسب کار دده څخه ترك سو په دی وجه ده ته دا ازمائش ورپیښ سوچی په لاره کی ده ته یودریاب راغی اوهلته په کښتی کی سپور سوکښتی تله تله چی ودریده حضرت یونس علیه السلام پوه سوچی زما دا بی اجازته تیښته دالله جل جلاله خوښه نه سوه ددی په وجه سره داکښتی ودریده کښتی والاوو ته یی وویل چی مادریاب ته وغورځوی هغوی راضی نه سول، اخر اتفاق یی پرهسکه وسو بیاهم دده نوم راوختی او دی یی دریاب) ته وغورځوی او دخدای په حکم سره دی یوماهی تیرکی (اخرجه ابن ابی حاتم عن ابن عباس رضی الله عنه کذافی الدر المنثور) نو دوی په تیاروکی اواز وکی (یوه تیاره دماهی دنس بله تیاره ددریاب داوبو دواړه غتی تیاری چی د ډیرو تیارو قائمقامی وی یا دریمه تیاره دشپی قاله ابن مسعود رضی الله عنه کما فی الدر المنثور مطلب دا چی په دی تیاروکی یی دعا وکړه) چی ستاڅخه ماسوابل معبودنسته (داتوحیددی) ته (دټولونقصونوڅخه) پاك یی (داتنزیه ده) زه بیشکه چی قصور واریم (دا استغفار دی چی په دی سره مقصود دا دی چی زما قصورمعاف کړی ددی سختی څخه نجات راکړی) نو مونږ دده دعاقبوله کړه اوده ته موددی غم څخه نجات ورکی (چی قصه یی په سورة صافات کی فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ الخ کی ذکرده) اومونږ دغه ډول (نورو) ایماندارو ته (هم دغم اوتکلیف څخه) نجات ورکوو (چی څه ډیروخت یی په غم کی پاته کول مصلحت نه وی)

(معلومات او مسئلې)

وَذَا النُّوْنِ : دحضرت یونس علیه السلام بن متٰی قصه په قرآن کریم کی په سورة یونس سورة انبیاء بیاپه سورة صافات اوسورة نون کی ذکر فرمایی کله دده اصلی نوم ذکر کوی او کله یی دذوالنون یاصاحب الحوت په القابو سره یی ذکر کړي دی ، دنون اوحوت دواړو معنٰی ماهی دی د ذوالنون اوصاحب الحوت معنٰی ده ماهی والا حضرت یونس علیه السلام ته په تقدیرِ الٰهی سره څو ورځی دماهی په نس کی دپاته کیدو واقعه ورپیښه سوی وه په دی مناسبت سره ده ته ذوالنون هم ویل کیږی اوصاحب الحوت هم.

(دحضرت یونس علیه السلام قصه)

په تفسیر ابن کثیرکی دی چی حضرت یونس علیه السلام دموصل په علاقه کی دیوکلی نینوٰی خلګوته دهدایت دپاره لیږل سوی وو ، حضرت یونس علیه السلام دوی ته دایمان اونیك عمل دعوت ورکی دوی دنافرمانی او سر کښی څخه کار واخستی، حضرت یونس علیه السلام د دوی څخه ناراضه سو دکلی څخه ووتی او دوی ته یی وویل چی په دری ورځوکی دننه دننه به پرتاسی عذاب راسی حضرت یونس علیه السلام کلی پرېښووی او ووتی نو اوس د دوی سره فکر سوچی اوس به عذاب راځی (اودځینو روایتونو څخه معلومیږی چی دعذاب ځینی نښانی ده لیدلی هم وی) نو دوی دخپل شرك اوکفرڅخه توبه وکړه او دکلی ټول سړی ښځی اوبچیان دځنګل طرف ته ووتل او خپل څاروی حیوانان او بچیان یی هم دځان سره کړل او بچی یی دخپلو میندو څخه جلا کړل او ټولو ژړا اوفریاد شروع کی او په زاری سره یی د الله جل جلاله څخه پناه وغوښته

دحیوانانو بچیان کوم چی یی دمیندو څخه جلا کړی وه ځان ته شور اوفریاد جوړکی ، الله ﷻ د دوی
رښتنی توبه اوزاری اوفریاد قبول کړل اوعذاب یی د دوی څخه بندکی بلی خواته حضرت یونس ﷺ په
دی انتظارکی وو چی عذاب پرقوم راغی دوی به هلاك سوی وی، کله چی ده ته پته ولګیده چی عذاب
رانغی اوقوم صحیح سالم دی نو (ده سره دا فکرسو چی اوس به زه درواغ وګڼل سم) او په خینو
روایتونوکی دی چی دده په قوم کی دا رسم وو چی څوك به درواغجن ثابت سو ، نو هغه به قتل کیدی
(مظهری) په دی وجه دحضرت یونس ﷺ سره دخپل ځان بیره پیدا سوه نوحضرت یونس ﷺ خپل قوم ته
دبیرته راتلو پر ځای یو بل ځای ته دهجرت کولو په قصد سره سفرشروع کی په لاره کی دریاب وو تر هغه
دپوری وتو دپاره په یوه کښتی کی سپورسو، اتفاقی خبره وه کښتی په داسی ګرداب کی ومښتله چی
دغرقیدو بیره یی پیداسوه، ملاحانوداخبره مقرره کړه چی په کښتی کی د سپروخلګوڅخه یو دریاب ته
وغورځول سی نوباقی خلګ به وساتل سی ، ددی کار دپاره دکښتی دخلګو په نومونوکی هسکه وسوه
، اتفاقی خبره وه هسکه دحضرت یونس ﷺ په نوم را ووته (کښتی والاووته شاید چی دده بزرګی معلومه
وه) دده یی دریاب ته دغورځولو څخه انکار وکی او دوباره یی هسکه وکړه بیا هم په کښی دحضرت
یونس ﷺ نوم را ووتی دوی بیا هم دده غورځول نه غوښتل په دریم وار یی بیاهسکه وکړه بیاهم دده نوم
راووتی ددی هسکه کولو ذکر په قرآن کریم کی بل ځای په دی الفاظو سره راغلی دی ، فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ
الْمُدْحَضِيْنَ : یعنی هسکه یی وکړه نوحضرت یونس ﷺ ودریدی او خپلی غیر ضروری کپړی یی
ویستلی اوخپل ځان یی دریاب ته ورواچوی، بل خواته الله ﷻ په بحرِ اخضر کی یوماهی ته حکم وکی
هغه په منډه منډه ځان دلته را ورسوی (لکه چی داسی ابن مسعود ﷺ فرمایلی دی) اوحضرت یونس ﷺ
یی په خپل نس کی واخستی الله ﷻ ماهی ته داهدایت کړی وو چی نه دده غوښی ته څه نقصان ورسیږی
او نه هډوکی ته دا ستا خوراك نه دی بلکه ستا نس دخوورځو دپاره دده قید خانه ده (تردی ځای پوری دا
توله واقعه په روایت دابن کثیرکی ده بغیر دهغو کلمو څخه کوم چی په قوسونو کی دی دغه دنورو
کتابونو څخه را اخستل سوي دی) دقرآن کریم د ارشاداتو اوځینو وضاحتونو څخه دومره معلومیږی چی
دحضرت یونس ﷺ بغیر دالله ﷻ دواضح حکم څخه خپل قوم پریښوول اووتل دالله ﷻ په نزد نا خوښه
وو ، ځکه عتاب پرنازل سو اوپه دریاب کی بیادماهی په نس کی دپاته کیدو نوبت رالی ، حضرت یونس
ﷺ چی قوم دکوم دری ورځی وروسته دعذاب راتلوڅخه بیرولی وو ظاهره دا ده چی دا په خپله رایه
سره نه وو بلکی دالله ﷻ په وحی سره وو او دغه وخت قوم پریښوول او د دوی څخه جلا کیدل هم کوم
چی دانبیاؤ قدیم عادت دی، ظاهره دا ده چی دا هم په حکم دالله ﷻ سره به وو تردی پوری هیڅ خبره
دخطا موجب دعتاب نه وه مګرکله چی دقوم توبه اوفریاد وزاری الله ﷻ قبولی کړی د دوی څخه عذاب
واپس سو دغه وخت دحضرت یونس ﷺ خپل قوم ته بیرته نه راتلل او په قصد دهجرت سفر کول دا

دخپل دی اجتهاد پربنا وسو چی په دی حالت کی که زه بیرته خپل قوم ته ولاړم نو دروغ به وګنل سم او زما دعوت به بی اثره اوبی فائدی وی بلکی دخپل ځان په کښی هم خطره ده اوکه زه دوی پریږدم بل ځای ته ولاړ سم نو دا خبره به دالله ﷻ په نزد دمؤاخذی اوګرفت قابله نه وی دخپل دی اجتهاد پربنا باندی دهجرت قصد کول او د الله ﷻ دواضح حکم انتظارنه کول که څه هم څه ګناه نه وه مګرالله ﷻ ته دحضرت یونس ﷺ دا طرز عمل خوښ نه سوچی دوحی دانتظار څخه بغیر یی یوه فیصله وکړه دا که څه هم څه ګناه نه وه خو خلاف اولی خامخاسو دانبیاء علیهم السلام او د الله ﷻ ددربار دمقربانو شان ډیر لوړ وی دوی ته په کار دی چی مزاج پیژوندونکی وی ، د دوی څخه په دی معامله کی پرادنی غوندی کوتاهی هم ګرفت اوعتاب کیږی دا معامله وه پرکومه چی عتاب وسو.

په تفسیر قرطبی کی دقشیری رحمه الله څخه هم دا نقل دی چی ظاهره دا ده چی دا صورت دغضب دحضرت یونس ﷺ هغه وخت پیښ سو کله چی دقوم څخه عذاب واپس سو دده دا خوښه نه وه او دماهی په نس کی څو ورځی پاته کیدل هم څه عذاب نه وو بلکی دتادیب په طور وو ،لکه خپلو نابالغو بچیانو ته چی عذاب ورکول اوخفه کول دچا مرادنه وی بلکه تادیب وی چی اتنده دوی احتیاط کوی (قرطبی) په واقعه دپوهیدو څخه وروسته د ذکر سوو ایتونو تفسیر او دالفاظو تشریح وګوری.

ذَهَبَ مُغَاضِبًا : یعنی ولاړی په غصه کی ظاهره ده چی مراد ددی څخه پرخپل قوم باندی غصه ده دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا منقول دی ، اوکوموحضراتوچی دمُغَاضِبًا مفعول رب مقرر کړي دی دهغوی مراد هم مُغَاضِبًا لِرَبِّهٖ یعنی دخپل رب دپاره دغصی څخه ډك روان سو اوپرکافرانو فاجرانو درب دپاره غصه کیدل عین نښانه دایمان ده (لکه چی په قرطبی اوبحر محیط کی دی)

فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ : په لفظ دنَقْدِرَ کی په اعتبار دلغت سره یواحتمال دا دی چی دمصدر د: قُدْرَتْ څخه مشتق وی نو معنٰی به داسی چی دوی داګمان وکی چی مونږ به پرده قدرت اوواك نه کړو پیدا ظاهره ده چی دا خبره دیو پیغمبر څخه څه چی دیو مسلمان څخه هم ددی ګمان نه سی کیدی څکه چی داګنل صریح کفر دی ، په دی وجه دلته دا معنٰی قطعًا نه سی کیدی ، دوهم احتمال دا دی چی دا دمصدر دقَدْرٌ څخه مشتق وی معنٰی یی تنګی کول وی لکه چی په قرآن کریم کی دی اللهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ یعنی الله ﷻ فراخی کوی په رزق کی دچادپاره چی وغواړی اوتنګوی پرچاچی وغواړی دتفسیر په امامانو کی عطاء سعید بن جبیر حسن بصری او ډیرو عالمانو دآیت دا معنٰی اخستی ده اومراد دآیت یی دا مقرر کړي دی چی دحضرت یونس ﷺ په خپل قیاس اواجتهاد سره دا ګمان وو چی که په دی حالاتوکی زه خپل قوم پریږدم یوځای ولاړ سم نو په دی باره کی به پرما څه تنګی نه کول کیږي.

اودریم احتمال دا هم دی چی دالفظ دقَدْرٌ څخه په معنٰی دتقدیر باندی مشتق وی چی معنٰی یی دقضاء اوفیصله ورکولوده ، نو معنٰی دآیت به دا وی چی دحضرت یونس ﷺ دا ګمان وسوچی په دی معامله

کی به پرماخه گرفت اومؤاخذه نه وی ، دتفسیرپه امامانو کی قتاده مجاهد اوفراء دا معنی اختیار کړې ده ، په هرحال دمخکنی معنی خو دلته گرسره څه احتمال نسته دوهمه یا دریمه معنی کیدی سی

(دحضرت یونس ؑ دعا دهر سړی دپاره په هره زمانه کي دهر مقصد دپاره مقبوله ده)

وَكَذٰلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ : یعنی څنگه چی مونږ حضرت یونس ؑ ته دغم اومصیبت څخه نجات ورکړ دغه ډول مونږ دټولو مومنانو سره هم دا عمل کوو ، هرکله چی دوی په صدق او اخلاص سره زمونږ طرف ته متوجه سی اوزمونږ څخه پناه وغواړي، په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی دذوالنون ؑ دعاکومه چی هغوی دماهي په نس کی دننه کړې وه یعنی ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ چی کوم مسلمان دخپل یو مقصد دپاره په دی کلموسره دعاوکړي الله ﷻ به یی قبوله کړي (روایت یی کړي دی احمد اوترمذی اوحاکم او صحیح کړي یی دی دحدیث دسعد بن ابی وقاص څخه مظهري)

وَزَكَرِيَّا إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ رَبِّ لَا تَذَرْنِي فَرْدًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ ﴿٨٩﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ

اوزکریاکله چی ده اواز وکی رب خپل ته ای ربه ! ته مه پرېږده مایوازی اوته یی دټولو څخه ښه وارث ، نومونږ

وَوَهَبْنَا لَهُ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُ زَوْجَهُ إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ

واوریده دده دعا ، وبخښی مونږ ده ته یحیی ؑ اوښه کړه مونږ دده بی بی ، دغو خلقو به منډی وهلی

فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴿٩٠﴾

نیکیو ته او بللو به یی مونږ په امید او بیره سره او وو زمونږ په مخکې عاجزی کوونکي.

لنډتفسیر: او دزکریا (ؑ دقصی) ذکر وکړه کله چی دوی خپل رب وبللی چی ای زمارببه! ما لاوارثه مه پرېږدی (یعنی ماته زوی را کړي چی زما وارث سی) او (هسی خوته) دټولو وارثانو څخه ښه (یعنی حقیقی وارث) خاص ته یی (په دی وجه زوی هم حقیقی وارث نه وی ، بلکی یو وخت به هغه هم فناکیږي لیکن به دی ظاهري وارث سره به ځینی دینی فائدی اونفعی حاصلی سی په دی وجه یی غواړم) نو مونږ دده دعا قبوله کړه او مونږ ده ته یحیی (زوی) ورکی او دده په خاطر سره مونږدده بی بی هم (کومه چی شنډه وه) د اولاد قابله کړه دا ټول (انبیاء دکوموچی په دی سورة کی ذکر سوی دی) نیکو کارونو ته به یی منډی وهلی او په امید اوبیره سره به یی زمونږ عبادت کوی او زمونږ په مخکی عاجزی کوونکی وه .

(معلومات اومسئلي)

دحضرت زکریا ؑ خواهش وو چی یوبچی وارث ورلره ورکول سی ددی دپاره یی دعاوغوښته مگردی سره یی دا عرض هم وکی چی أَنْتَ خَيْرُ الْوَارِثِينَ چی زوی وسی اوکه ونه سی په هرحال ته ښه وارث یی دا

پیغمبرانه رعایت ادب دی چی دانبیاء ﷺ اصل توجه دحق تعالی طرف ته په کار وی دغیر الله طرف ته
کړوی خو چی داصل مرکز څخه وانه وړی.

یَدْعُوْنَنَا رَغَبًا وَّرَهَبًا: دوی په رغبت اوبیره یعنی راحت اوتکلیف هرحالت کی الله ﷻ بللی او ددی دا
معنی هم کیدی سی چی دوی دخپل عبادت اودعاپه وخت کی دامید اوبیری دواړو حالتونو په مینځ کی
وی دالله ﷻ څخه دقبول اوثواب امیدهم لری اودخپلو گناهونو اوکوتاهیو په وجه یی بیره هم وی (قرطبی)

وَالَّتِیْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا

او هغه ښځه کومی چی په قبضه کی وساتی خپل شهوت بیا پوک کړو مونږ په دی کی خپل روح وکړو مونږ

وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۱﴾

دی او ددی زوی نښانه دجهان دخلقو دپاره.

تفسیر: اودهغه بی بی (مریم ﷺ دقصی) ذکر وکړه کومی چی خپل ناموس (دسړیو څخه) وساتی
(دنکاح څخه هم اودناجائزو څخه هم) بیا مونږ په دی کی (په واسطه دحضرت جبرائیل ﷺ) خپل روح پوک
وهی (چی په دی سره ددی بی دخاوند څخه حمل سو) اومونږ دا او ددی زوی (عیسی ﷺ) ددنیا دخلگو
دپاره (دخپل کامل قدرت) نښانی جوړه کړله (چی دا واوری ووینی اوپوه سی چی الله ﷻ په هرڅه باندی
قادر دی هغه بغیر دپلار څخه هم اولاد پیداکولی سی اوبغیر دمور اوپلار څخه هم لکه حضرت ادم ﷺ)

اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْنِ ﴿۹۲﴾ وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ۖ كُلٌّ اِلَيْنَا

داخلق ستاسی ددین دی ټول په یودین باندی اوزه یم رب ستاسی نو زمابندگی کوی، اوټوټی ټوټی کی دی خلقو
په خپل مینځ خپل کار، ټول به مونږ ته.

رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ

بیرته راځی، پس څوک چی وکړی نیک کار او دی مؤمن وی پس ضائع به نه سی

لِسَعْيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا

دده کوشش او مونږ دا لیکو، او مقرر سوی دی په هر کله باندی چی مونږ هلاک کړی دی چی دوی

يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾ حَتّٰٓى اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ وَهُمْ مِّنْ كُلِّ

به بیا واپس نه سی، تردی چی کله خلاص سی یاجوج او ماجوج او دوی به هر لوړ ځای څخه

حَدَبٍ يَّنۡسِلُوۡنَ ﴿۹۶﴾ وَاقۡتَرَبَ الۡوَعۡدُ الۡحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ

په ښوئیدو را روان وی ، او نژدی راغله رښتونی وعده پس دغه وخت به یخی پاته سی

اَبۡصَارُ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا ؕ يٰوَيۡلَنَا قَدۡ كُنَّا فِيۡ غَفۡلَةٍ مِّنۡ هٰذَا بَلۡ كُنَّا

سترګی دمنکرانو ، های زمونږ کم بختی مونږ ددې څخه په غفلت کی وو داسی نه ده بلکه

ظٰلِمِيۡنَ ﴿۹۷﴾ اِنَّكُمۡ وَمَا تَعۡبُدُوۡنَ مِنۡ دُوۡنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ ؕ

وو مونږ ګناهګاران ، تاسی او دچا چی تاسی عبادت کوی ، ماسوا دخدای څخه خشاک دی د دوږخ

اَنۡتُمۡ لَهَا وٰرِدُوۡنَ ﴿۹۸﴾ لَوۡ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوۡهَا ؕ وَكُلٌّ

ستاسی دی ته رسیدل دی ، که وی دابتان معبودان نو نه به وو رسیدلی دی ته او ټول

فِيۡهَا خٰلِدُوۡنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمۡ فِيۡهَا زَفِيۡرٌ وَّهُمۡ فِيۡهَا لَا يَسۡمَعُوۡنَ ﴿۱۰۰﴾

به په دی کی همیشه اوسیږي ، دوی به په دی کی چغې وی او دوی به په دی کی هیڅ نه اوری.

اِنَّ الَّذِيۡنَ سَبَقَتۡ لَهُمۡ مِّنَّا الۡحُسۡنٰٓى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنۡهَا مُبۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۱﴾

دکومو دپاره چی مخکې مقرر سوی ده زمونږ څخه نیکی ، هغوی به ددغه څخه لیری اوسیږي

لَا يَسۡمَعُوۡنَ حَسِيۡسَهَا ۚ وَهُمۡ فِيۡ مَا اشۡتَهَتۡ اَنۡفُسُهُمۡ خٰلِدُوۡنَ ﴿۱۰۲﴾

نه به اوری ددې کنبهاری هم ، او دوی به دخپل زړه په خوشحالیو کی همیشه وی.

لَا يَحۡزُنُهُمُ الۡفَزَعُ الۡاَكۡبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ الۡمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا

غم به نه وی دوی لره په دغه لویه بیره کی ، او ملاقات به ورسره کوی ملائکی دا نن ورځ

يَوۡمُكُمُ الَّذِيۡ كُنۡتُمۡ تُوۡعَدُوۡنَ ﴿۱۰۳﴾ يَوۡمَ نَطۡوِي السَّمَآءَ

ستاسی هغه ورځ ده دکومی چی تاسی سره وعده سوی وه ، په کومه ورځ چی مونږ راغونډ کړو اسمان

كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلۡكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاۡنَآ اَوَّلَ خَلۡقٍ نُّعِيۡدُهٗ ؕ وَعۡدًا

په شان دراغونډولو دکاغذ ، لکه چی اول وار پیدا کړی وو مونږ بیا به یی دغسی واپس کړو وعده ده

عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ

خامخا په مونږ ، چې مونږ به يې خامخا پوره کړو ، او مونږ ليکلې دي په زبور کې وروسته

الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴿١٠٥﴾

دنصيحت څخه چې اخر به دمځکې مالکان وي ، زما نيک بندګان .

تفسير: د ايتونو تړون : تردې ځاى پورې دانبياء عليهم السلام قصې او واقعات او ددې په ضمن کې د ډېرو اصولي او فروعي مسئلو بيان وو ، اصول مثلاً توحيد رسالت اوعقيده دآخرت په ټولو انبياؤ کې اصول مشترك دي کوم چې د دوى ددعوت بنياد دى لکه چې په ذکر سوو واقعاتوکې ددې حضراتو دټولو کوششونو محور دحق سبحانه تعالى دتوحيد مضمون وو په راتلونکوايتونوکې په طور دنتيجې دقصو دتوحيد اثبات او دشرك دبدوالي بيان دى .

اى خلګو (لورچې کومه دانبياء عليهم السلام طريقه اوعقيده دتوحيد معلومه سوې ده) داستاسې طريقه ده (په کومه چې تاسې ته پاته کيدل واجب دي) چې دغه يوه طريقه ده (چې په دې کې يونبي اويوشريعت اختلاف نه دي کړى) او (خلاصه ددې طريقې دا ده چې) زه ستاسې رب يم نوتاسې زماعبادت کوى او (خلګو لره په کاروه چې کله داثابته سوه چې ټول انبياء اوټول اسمانى کتابونه اوشريعتونه ددې طريقې دعوت ورکوونکي دي نوچې دوى هم په دې طريقه واى مګرداسې يې ونه کړل بلکې) دې خلګو په خپل دين کې اختلاف پيداکې (مګر ددې سزابه ووينې ځکه چې) ټول مونږ ته راتلونکي دي (اوتر راتلو وروسته به هر يوه ته د دوى دعمل بدله ورکول کيږي) نوکوم سړى چې نيك کار کړى وي او ده ايمان هم راوړى وي نو دده محنت عبث کيدونکي نه دي اومونږ دغه ليکو (چې په دې کې دهيرى اوخطا امکان نسته ددغو ليکلو مطابق به ده ته ثواب ورکول کيږي) او (مونږ چې کوم دا ويلي دي چې ټول مونږته راتلونکي دي په دې کې منکران داشبهه کوي چې ددنيا دومره عمرتير سوې دى ، تر اوسه پورې خو داسې ونه سوه چې مړى ژوندى سوي دي او د دوى حساب سوى وى د دوى دا شبهه ځکه غلطه ده چې دالله ﷻ طرف ته دواپسى دپاره يوه ورځ دقيامت مقررده دهغه څخه مخکې هيڅوك نه سى واپس کيدى دا وجه ده چې) مونږ کوم کلى (په عذاب يامرګ سره) فنا کړى دى د دوى دپاره دا خبره (په شرعى ممانعت سره) نامکنه ده چې دوى (په دنياکې دحساب اوکتاب دپاره) بيابيرته راسى (مګردانه واپس کيدل هميشه نه دي ، بلکې دوعده سوى وخت يعني قيامته پورې دي) تردې چې کله (دغه وعده سوى وخت راسى چې دهغه ابتدايى سامان به داسې وي چې) ياجوج ماجوج (دکومو چې اوس دسدي ذوالقرنين په ذريعه لاره بنده سوې ده هغه) راخلاص سى اوهغوى (دانتهايى زيات والي په سبب) دهرى لوړى (غونډى

اوغر) څخه راکښته کيدونکی (راښويدونکی معلوم) وی او (دالله طرف ته دواپس کيدو رښتينی وعده)
چی نژدی را ورسيږی نوبس بيابه يکدم داحالت سی چی دمنکرانو سترګی به يخی (حيرانی) پاته سی (او
دوی به داسی ښکاری چی وايی به) های زمونږ کم بختی مونږ ددی څخه په غفلت کی وو (بيابه څه سوچ
وکی نوبه وايی چی غفلت خو به دی ته هلته ويل کيږی چی که چامونږ خبرکړی نه وای) بلکی (حقيقت
دا دی چی) مونږ قصور وارووو (مطلب داسوچی کوم خلګ په قيامت کی ددوباره ژوندی کيدو څخه
منکروه هغوی به دغه وخت ددی قائل سی مخ ته دمشرکانو دپاره وعيددی) بيشکه تاسی او دچا چی
تاسی دخدای څخه ماسوا عبادت کوی ټول به جهنم ته وغورځول سی (او) ټول به په کښی داخل سی (په
دی کی هغه انبياء ﷺ اوهغه ملائکی نه سی داخليدی کوم چی په دنياکی ځينو مشرکانو خدای
اومعبودان جوړکړی وه ځکه چی په هغوی کی يوشرعی مانع موجود دی چی هغوی ددی مستحق نه دی
او نه په هغه کی د دوی څه قصور سته مخ ته په آيت کی په اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ : سره هم ددی شبهی دفع
سوي ده او دا خبره دپوهيدو ده چی) که چيری (دا ستاسی معبودان) واقعی معبودان وی نودی (جهنم) ته
به ولی تلل او (پوهيدل هم داسی چی دخوورخو دپاره نه بلکی) ټول (معبودان اوعابدان) به په دی کی
هميشه اوسيږی (او) د دوی به په دی کی شور اوفرياد وی اوهلته به (دځپل شور اوفرياد په وجه) دچا څه
خبره هم نه اوری (دا خو د دوږخيانو حال سو او) دکومو دپاره چی زمونږ دطرف څخه ګټه مقرر سوي ده
(اودغه دوی په عملونو اوکارونو سره ظاهره سوه) دغه خلګ به ددی (دوږخ) څخه (دومره) ليری وساتل
سی چی دده کش به هم نه اوری (ځکه چی داخلګ به په جنت کی وی اوجنت او دوږخ ډير ليری دی)
اوهغه خلګ به دځپل زړه په غوښتلو شيانوکی هميشه اوسيږی (او) دوی به لويه بيره (يعنی په قيامت
کی دژوندی کيدو او دمحشر دهيبتناك منظرونو ليدو حالت) په غم کی نه اچوی او (دقبر څخه دوتلو
سره) ملائکی به د دوی استقبال کوی (اووايی به) دا ده ستاسی هغه ورځ دکومی چی ستاسی سره وعده
سوی وه (دا دعزتونو معامله اوخوش خبری به د دوی دپاره دزياتی خوشحالی سبب سی اوکه په يو
روايت سره يوځای داثابته سی چی دقيامت دهيبت اوخوف څخه هيڅوك مستثنی نه دی ټولوته به
پيښيږی نوچونکه دنيکو بندګانو دپاره به ددی وخت ډير لږ وی په دی وجه دنيست برابر دی او) هغه
ورځ (هم) ديادولو قابله ده په کومه ورځ چی مونږ (داولی شپيلی څخه وروسته) اسمانونه داسی را ټول
کړو لکه څنګه چی دليکل سوی مضمون کاغذ راټوليږی (بيا دراټولولو څخه وروسته برابره خبره ده که
محض معدوم سی ياتر دوهمی شپيلی پوری هم په دی حالت وی ، دواړی خبری ممکنی دی او) مونږ
لکه څنګه چی اول وار دپيدا کولو په وخت کی (دهرشی) ابتداء کړی وه، دغه ډول (په اسانی سره) به
دوی دوباره پيداکو دا زمونږ پرذمه وعده ده مونږ به خامخا (دا) پوره کړواو (لوړ چونکی دنيکو بندګانو
سره دثواب اونعمت وعده سوي ده دغه ډيره پخوانی اوکلکه وعده ده چنانچی) مونږ په (ټولو اسمانی)

کتابونو کې په لوحِ محفوظ (کې دلیکلو) څخه وروسته لیکلې دي چې ددې مځکې (دجنت) مالکان به زما نیك بندګان وي (دوعدې زوروالی خوددې څخه معلوم دی چې په لوحِ محفوظ کې لیکل سوي ده اوتاکید یې په دې خبره سره معلوم دی چې یو اسماني کتاب هم ددې څخه خالي نه دی)

(معلومات اومسئلې)

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ : دلته لفظ د حَرَام په معنی دشرعی ممتنع دی چې ترجمه یې په لنډ تفسیر کې په ناممکن (سره سوي ده او په لَا يَرْجِعُونَ کې داکثرو مفسرینو حضراتو په نزد لَا زائد دی او دآیت معنی دا ده چې کوم کلی اودهغه انسانان مونږ هلاك کړي دی دهغوی دپاره محاله ده چې هغوی بیا بیرته دنیا ته راسي اوځینو مفسرینو حضراتو لفظ دَ حرام دلته په معنی دواجب مقرر کړي دی ، لا یې په خپله معروفه معنی دنفی کې اینبی دی اومطلب دآیت یې داليکلی دی چې واجب دی پرهغه کلی کوم چې مونږ په عذاب سره هلاك کړي دی چې هغه به دنیاته را واپس نه سی (قرطبی)

د ایت مطلب دا دی چې دمرګ څخه وروسته دتوبې دروازه بنده سی که څوك دنیاته راځی نیك عمل کول غواړي ، نو ده ته موقع نه ورکول کیږي ، اوس به صرف دقیامت دورځې ژوند وي .

حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ : لفظ دَحَتَّىٰ په تیر مضمون دتفریع اوترتیب طرف ته اشاره کوي په تیر آیت کې دا ویل سوی وه چې کوم خلګ پرکفر مړه دی دهغوی دوباره دنیاته ژوندی کیدل اوواپس کیدل ممکن نه دی ددی عدم امکان انتهایی دا وښوولې چې دوباره ژوندی کیدل اوواپس کیدل ترهغه وخته پوری ناممکن دی تر څو پوری چې دا واقعه دیاجوج ماجوج پیښه نه سی کومه چې دقیامت نژدی علامه ده لکه چې په صحیح مسلم کې دحضرت حذیفه ﷛ څخه روایت دی چې مونږ یو څو تنو اصحابو په خپلو کې څه مذاکره کوله نبی کریم ﷺ تشریف راوړی پوښتنه یې وفرمایله چې څه مذاکره ستاسی په مینځ کې جاري ده؟ مونږ عرض وکی چې دقیامت ذکر کوو دوی وفرمایل چې قیامت به ترهغه پوری قائم نه سی تر څو پوری چې لس علامې ددې څخه مخکې ظاهری نه سی په لسو علامو کې یې دیاجوج ماجوج ذکر هم وکی .

په آیت کې دیاجوج ماجوج دپاره لفظ دفُتِحَتْ یعنی خلاصیدلو استعمال سوی دی چې ظاهری معنی یې دا ده چې ددغه وخت څخه مخکې به هغوی په څه بندش اوایساري دو کې وي ، قیامت ته په نژدی وخت کې کله چې الله ﷻ ته د دوی راوتل منظورسی نودغه بندش به دلاری څخه لیری کړل سی اوظاهره خو په قرآن کریم کې دا ده چې دا بندیز پر سد ذوالقرنین دی کوم چې به قیامت ته نژدی ختم سی برابره خبره ده که ددی څخه مخکې هم مات سوی وی مګر د دوی دپاره به لاره هغه وخت هواره سی په سوة کهف کې دیاجوج ماجوج اوسد ذو القرنین پوره تفصیلی بحث سوي دی هلته یې کتی سی .

مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ : لفظ دَحَدَب هرلوړ ځای ته ویل کیږی که هغه لوی غروی اوکه کوچنی کوچنی

غونډی ، په سورة کهف کی چی کوم ځای دیاجوج ماجوج په محل وقوع باندی خبری اتری سوي دی دهغه ځخه معلومه سوه چی د دوی ځای ددنیا دشمالی غرونو شاته دی په دی وجه دخروج په وخت کی به ددغه طرف دغرونو اوغونډیو ځخه رابهیدونکی په نظر راسی.

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ : یعنی تاسی اوستاسی معبودان بغیر د الله ﷻ ځخه ټول به جمع به د دوږخ لرگی جوړسی ، په دی آیت کی دټولو باطلو معبودانو دکومو چی ناجائز عبادت دکفارو مختلفو ډلوپه دنیاکی کړی دی دټولو په جهنم کی داخلیدل بیان سوي دی ، پردی داشبهه کیدی سی چی ناجائز عبادات خو دحضرت مسیح ﷺ اوعزیر ﷺ او ملائکوهم سوي دی نو دټولو جهنم ته دتللو به څه مطلب وی؟ ددی جواب حضرت ابن عباس ﷺ ورکړی دی ، دهغه روایت په تفسیر قرطبی کی داسی دی چی حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دقرآن یوآیت داسی دی په کوم کی چی خلک شبهات کوی مگر عجیبه اتفاق دی چی ددی متعلق خلگ زما ځخه پوښتنه نه کوی، معلومه نه ده چی ددی شبهاتو جواب دی خلگو ته معلوم سوي دی ځکه پوښتنه نه کوی اوکه د دوی ددی شبهی او جواب طرف ته گرسره خیال نه دی سوی خلگو عرض وکی چی هغه څه دی؟ دوی وفرمایل چی هغه آیت إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ الخ دی، کله چی داآیت نازل سو نودقریشو کافرانو سخت بد وگڼل او وي ویل چی په دی خو زمونږ دمعبودانو سخت توهین سوي دی دا خلگ (د اهل کتابو دعالم) ابن الزبعری خواته ولاړل او ددی شکایت یی وکی هغه ورته وویل چی که زه هلته موجود وای نودوی ته به می ددی جواب ورکړی وو، دغو خلگو پوښتنه وکړه چی تابه څه جواب ورکړی وای؟ هغه وویل چی مابه ورته ویلی وای چی نصاری دحضرت مسیح ﷺ اویهود دحضرت عزیر ﷺ عبادت کوی دهغوپه باره کی ته څه وایی؟ (ایا نعوذ بالله هغوی به هم جهنم ته ځی؟) ذقریشو کفارو چی دا واوریدل نوډیر خوشحاله سول چی واقعی داخبره خوداسی ده چی محمد ﷺ به ددی هیڅ جواب ونه کړی په دی باندی الله ﷻ دا آیت نازل کی کوم چی مخ ته راځی ، إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ : یعنی دکومو خلگو دپاره چی زمونږ دطرف ځخه گټه اوښه نتیجه مقدره سوي ده هغه به ددی جهنم ځخه لیری اوسیږي.

اوددی ابن الزبعری متعلق دقرآن داآیت نازل سو ، وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا إِذَا قَوْمُكَ مِنْهُ يَصِدُّونَ یعنی کله چی ابن زبعری دحضرت ابن مریم ﷺ مثال پیش کی نوستا دقوم خلگوقریشودخوشحالی ځخه شورجوړکی

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ: حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دفزع اکبر ځخه مراد دوهمه شپیلی ده چی په دی سره به ټول مړی ژوندی سی دحساب دپاره به ودریږي، ځینی حضراتو اوله شپیلی فزع اکبر گڼلی دا دابن عربی قول دا دی چی شپیلی به دری واره وهل کیږي، اوله شپیلی به شپیلی دفزع وی چی په دی سره به دټولی دنیا خلگ وبیریږی دی ته یی دلته فزع اکبر ویلی دی، دوهم شپیلی به شپیلی دصعق وی

چې تول به په مړه سی اوفنا به سی، دریمه شپیلی به شپیلی دبعث وی چې په دې به تول مړی ژوندی سی، ددې په شهادت کې یې دمسند ابویعلی اوبیهقی عبدبن حمید ابوالشیخ ابن جریرطبری وغیره څخه دحضرت ابوهریره ﷺ یوحدیث نقل کړي دی، (مظهری) والله اعلم

يَوْمَ نَطْوِى السَّمَآءَ كَطَىِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ: دَلفظ دَسجل معنی دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دَصحيفی نقل دی، علي بن طلحه عوفي مجاهد قتاده وغیره هم معنی بیان کړي ده ابن جریر ابن کثیر وغیره هم دا اختیار کړي ده، اوکُتُب دلته په معنی دمکتوب دی، مطلب دا دی چې آسمان به داسی راونغښتل سی (لکه داسی ویلی دی ابن کثیر اوذکر کړي دی په روح کی)

دسجل متعلق نور روایتونه چې دغه دیوسړی یاملائکی نوم دی دمحدثینو په نزد ثابت نه دی (تفصیل یې کړي دی ابن کثیر) دآیت دمطلب متعلق په صحیح بخاری کی دحضرت عبدالله ابن عمر ﷺ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې الله ﷻ به دقیامت په ورځ تولی مځکی اوآسمانونه راونغاړی په خپل لاس کی به یې کیږي، ابن ابی حاتم په خپل سندسره دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روایت کړي دی چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ اووه آسمانونه سره ددې دټولومخلوقاتو اواووه مځکی سره ددې دټولومخلوقاتو را ونغاړی یوځای به یې کړی او دا ټول به دالله ﷻ په لاس کی دأوری دیوی دانی برابروی (ابن کثیر)

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ اَنَّ الْاَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ الصّٰلِحُوْنَ: لفظ دَزبور دَزُبُرْ جمع ده چې معنی یې کتاب دی او زبور دهغه خاص کتاب نوم هم دی کوم چې پرحضرت داود ﷺ باندی نازل سوی وو، دلته دزبور څخه مراد دی؟ په دې کی مختلف اقوال دی دحضرت ابن عباس ﷺ په یو روایت کی دا دی چې دَ ذکر څخه مرادپه آیت کی تورات دی او دزبور څخه مراد هغه تول کتابونه دی کوم چې دتورات څخه وروسته نازل سول انجیل زبور دداود ﷺ اوقرآن (اخرجه ابن جریر) داتفسیر دضحاک څخه هم منقول دی او ابن زید فرمایی چې دذکرڅخه مراد لوحِ محفوظ دی او دزبور څخه مراد تول کتابونه دی کوم چې پرانبیاء ﷺ باندی نازل سوي دی، زجاج دا اختیار کړي دی (روح المعانی)

اَلْاَرْضَ: دلته دارض څخه مراد دجمهورومفسرینو په نزد مځکه دجنت ده، ابن جریر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه داتفسیر نقل کړي دی اوداتفسیر مجاهد ابن جبیر عکرمه سدی او دابوالعالیه څخه هم نقل دی، امام رازی (رحمه الله) فرمایی چې دقرآن نور ایتونه ددې تائید کوی په کوموکی چې فرمایی وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ: اوپه آیت کی چې دافرمایی چې ددې مځکی وارثان به صالحان وی دا هم ددې قرینه ده چې دَارض څخه مراد ارضِ جنت دی ددنیا دمځکی وارثان خومومنان اوکافران تول دی، دا رنګه دا چې دلته دصالحانو دمځکی وارث کیدل دقیامت دذکرڅخه وروسته راغلی دی اودقیامت څخه وروسته دجنت دمځکی څخه ماسوا بله مځکه نسته او دحضرت ابن عباس ﷺ یو روایت دا هم دی چې

ددی ارض څخه مراد عامه مځکه ده ددنیا مځکه هم او دجنت مځکه هم دجنت دمځکی خوتنها صالحان وارثان کیدل ظاهردی، ددنیادتولی مځکی وارث کیدل هم په یووخت کی دمومنانوصالحانودپاره موعود دی دکوموخبرچی دقرآن کریم په ډیروآیتونوکی ورکول سوي دی په یوآیت کی دی ، اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ، په یوبل آیت کی دی، وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِى الْاَرْضِ : په یوبل آیت کی دی ، اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ: دمومنانو صالحانو ددنیا پرغټه ابادی قابض کیدل اووارث کیدل یو وار دنیا اول هم لیدلی دی اوتر اوږدی زمانی پوری دغه صورت قائم وو اوبیا دحضرت مهدی ﷺ په زمانه کی کیدونکی دی (روح المعانی وابن کثیر) (یا الله) زمونږ په تولـه دنیا صحیح اسلامی اقتدار نصیب کړی اومونږته یی ونښیی او په مونږکی بیا دقرون اولی دمسلمانانو په شان دینی جذبه پیدا کړی اوزمونږ دا اختلافات کوم چی مسلمان امت یی توټی توټی کړي دی په مینه محبت الفت او ورورولی کی بدل کړی او زمونږ دعالمانو دسینو څخه دیو بل سره بغض اوعناد وباسی او د اتحاد او اتفاق جذبه په کی پیدا کړی امین)

اِنَّ فِيْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً

په دی کی مطلب ته رسیږي خلق بندګی کوونکی ، او تاته چی مونږ څه درلیږلو پس دا رحمت دی

لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

دجهان په خلقو ، ته ووایه ما ته حکم دا راغلی دی چی معبود ستاسی یو معبود دی ،

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۰۸﴾ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى

بیا ایا تاسی حکم منونکی یاست ؟ بیا که دوی مخ واړوی نو ته ووایه ما خبر درکی تاسی

سَوَآءٍ ۭ وَاِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ اَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۹﴾ اِنَّهٗ

ددواړو طرفو برابر، او زه نه پوهیږم چی نژدی دی او که لیری دی کوم چی یی تاسی سره وعده سوی ده ، دغه

يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۱۱۰﴾ وَاِنْ

درب پوه دی کومه خبره چی په زوره وسی ، او پوه دی په هغه چی تاسی یی پټوی ، او زه

اَدْرِيْ لَعَلَّهٗ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ اِلٰى حِيْنٍ ﴿۱۱۱﴾ قٰلَ

نه پوهیږم چی په تاخیر کی ستاسی ازمائش وی او فائده درکول وی تر یو وخته پوری ، رسول وویل

رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ

ای ربه! فیصله وکړی په انصاف، او رب زمونږ رحمٰن دی، دهغه څخه مدد غوښتل

عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

کیږي په هغو خبرو چی تاسی یی جوړ وی

تفسیر: بیشکه په دی (قرآن یایی په یوجزء یعنی ذکرسوی صورت) کی پوره مضمون دی دهغو خلګو دپاره کوم چی عبادت کوونکی دی (اوکوم چی دعبادت څخه سرکښی کوونکی دی دا هدایت خو د دوی دپاره هم دی مګر په دوی کی دهدایت طلب نسته، په دی وجه ددی دفائدی څخه محرومه دی) اومونږ ته دیوی بلی خبری دپاره (رسول جوړکړی) نه یی لیږلی مګر دجهان په خلګو باندی (دخپلی) مهربانی کولو دپاره (دغه مهربانی دا ده چی خلګ درسول څخه ددی مضامین قبول کړی او دهدایت فائدی حاصلی کړی او څوك چی یی قبول نه کړی هغه دهغه قصوردی په دی سره ددی مضمون پرصحت هیڅ اثرنه پریوزی) ته دی خلګوته (په لنډه سره بیابیا) وفرمایه چی ماته خو (دموحدینو اومشرکینو په مینځ کی داختلاف په باره کی) صرف دا وحی راغلی ده چی ستاسی معبود یومعبود دی (نو دده دحقوالی ثابتیدوڅخه وروسته) اوس هم تاسی منی (اوکه یی نه منی یعنی اوس خو یی ومنی) بیاهم که داخلګ (ددی دقبلولو څخه) مخ واړوی نوته (په طوردحجت تمامولو) وفرمایه چی ماتاسی ته نهایتی واضحی خبری درکړي دی (چی یوه ذره پټوالی نه دی په کښی پاته سوی دتوحید او داسلام دحقوالی خبرهم او ددی څخه په انکارچی کومه سزا ورکول کیږی هغه هم صفا صفا بیان سوي ده اوس پرما نه دتبلیغ دحق څه ذمه واری باقی پاته ده او نه ستاسی څه عذرباقی پاته سوي دی) اوکه چیری (ددی په حقوالی کی تاسی په دی وجه شبهه کوی چی کومه سزا ښوول کیږی هغه ورکول کیږی ولی نه نو پوه سی چی دسزاورکول کیدل خویقینی دی مګر) زه په دی پوه نه یم چی دکومی (سزا) ستاسی سره وعده سوي ده ایاهغه نژدی (واقع کیدونکی ده) یا اوږده (زما څخه وروسته واقع کیدونکی) ده (البته واقع کیدل یی خامخادی ځکه چی) الله ﷻ ته (ستاسی) په لوړ اواز باندی دویل سوی خبری هم خبرسته اوکومه چی تاسی په زړه کی ساتی دهغه څخه هم خبر دی او (په تاخیر دعذاب سره ددی دنه واقع کیدوپه دوکه کی مه راځی دا تاخیر په څه مصلحت اوحکمت سره کیدی سی) زه نه پوهیږم (چی هغه مصلحت څه دی البته دومره ویلی سم چی) شاید (دا تاخیر دعذاب) ستاسی دپاره امتحان وی (چی شاید که پوه سی او ایمان راوړی) اوتریو وخت (محدود یعنی تروخته دمرګ پوری) فائده رسول وی (چی غفلت یی ښه اوږدښی اوعذاب یی زیات سی اوله معامله یعنی امتحان رحمت دی او دوهمه معامله یعنی عمر اوږدیدل اوسهولتونه یی ورکول کیدل عذاب اوسزا ده اوهرکله چی په دی تولو مضامینو سره هدایت ونه سونو)

پیغمبر ﷺ د الله ﷻ په اذن، وویل چی ای زما ربه! (زما او دقوم په مینځ کی) فیصله وکی (کوم چی همیشه) دحق موافق (وی مطلب دا دی چی عملی فیصله وکی چی دمسلمانانو سره دکومی فتح اونصرت وعدی دی هغه واقع کړی چی په دوی باندی نور زیات حجت پوره سی) او (رسول الله ﷺ کفاروته دا هم وفرمایل چی) زما رب لوی مهربان دی چی دهغه څخه دهغو خبروپه مقابله کی مدد غوښتل کیږی کوم چی تاسی جوړ وی (چی مسلمانان به ژر ورك سی یعنی مونږ دهغه مهربان رب څخه ستاسی په مقابله کی مدد غواړو)

(معلومات اومسئلي)

وَمَآأَرْسَلْنَاكَ إِلَّارَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ : عالمین ، دعالم جمع ده چی ټول مخلوقات انسانان پیریان حیوانات نباتات جمادات ټول په کښی دا خل دی دنبی کریم ﷺ ددی ټولو شیانو دپاره رحمت کیدل داسی دی چی دټولو کائناتو حقیقی روح دالله ﷻ ذکر او دهغه عبادت دی دا وجه ده چی هرکله دمځکی څخه دا روح ووزی او په مځکه یوځوك الله ویونکی پاته نه سی نو ددی ټولو شیانو مرګ یعنی قیامت به راسی اوهرکله چی دا معلومه سوه چی ددی ټولو شیانو روح دالله ذکر اوعبادت دی نو دنبی کریم ﷺ رحمت کیدل ددی ټولو شیانو دپاره خود بخوده ظاهرسوه ځکه چی په دی دنیاکی ترقیامته پوری د الله ﷻ ذکر اوعبادت د دوی ﷺ په دم قدم اوتعلیماتو سره قائم دی، په دی وجه نبی کریم ﷺ فرمایی أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ زه د الله ﷻ دطرف څخه رالیږل سوی رحمت یم (اخرجه ابن عساکرعن ابی هریرهؓ) او دحضرت ابن عمرؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ بِرَفْعِ قَوْمٍ وَخَفْضَ آخَرِيْنَ : یعنی زه دالله ﷻ رالیږل سوی رحمت یم چی (دالله ﷻ حکم منونکی) یو قوم لوړ کړم او بل قوم (کوم چی دالله ﷻ حکم منونکی نه دی هغوی) ذلیل کړم (ابن کثیر)

ددی څخه معلومه سوه چی دکفر اوشرك دختمولو دپاره کفار ذلیل کول د دوی په مقابله کی جهاد کول هم عین رحمت دی چی ددی په ذریعه سرکښان پوه سی دایمان اونیك عمل دپابند کیدو امید کیدی سی (والله سبحانه وتعالی اعلم)

تم تفسیرسورة الانبیآء ولله الحمد لیلة الرابع والعشرین من ذی الحجة الحرام سنة ۱۳۹۰ من الهجرة النبویة قبل العشاء وله الحمد اولا واٰخراً وظاهراً وباطنًا وهو المرجّو لاتمام الباقی وما ذلك علیه بعزیز ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم

﴿سورة الحج﴾

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

سورة حج په مدینه کی نازل سو په دی کی اته اویا (۷۸) ایتونه اولس (۱۰) رکوع گانی دی .

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع کوم دالله په نوم سره چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ۚ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ①

ای خلقو! وبیریږي درب خپل څخه ، بیشکه زلزله دقیامت یو لوی شی دی ،

يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ اَرْضَعَتْ وَتَضَعُ

په کومه ورځ چی دغه ووینی هیربه کړی هره تی ورکوونکی خپل تی ورکوونکی او وبه غورځوی ،

كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكٰرٰى وَمَا هُمْ

هره حملداره خپل حمل او ته به وینی خلق په نشه کی او په دوی

بِسُكٰرٰى وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ②

به نشه نه وی او لیکن عذاب دالله سخت دی .

تفسیر: ای خلکو! دخپل رب څخه وبیریږی (اوایمان او اطاعت اختیار کړی څکه چی) یقیناً دقیامت زلزله به ډیر درونډ شی وی (چی راتلل یی خامخادی ددغی ورځی دسختیو څخه دمحفوظ کیدو څخه اوس فکروکی چی طریقه یی تقوی ده مخ ته ددغه سختی بیان دی) په کومه ورځ چی تاسی خلک دغه (زلزله) ووینی دغه ورځ به (دا حال وی چی) تولی تی ورکوونکی (به دهیبت اوبیری په وجه سره) خپل تی خوړونکی (بچیان) هیر کړی اوتولی حملداری به خپل حمل (دورځو پوره کیدو څخه مخکی) وغورځوی اوتاته (ای مخاطبه) به خلک دنشی په شان په حالت کی ښکاره کیږی حال دا دی چی هغوی به په نشه کی نه وی (څکه چی هغه وخت دنشی دیو شی داستعمالولو هیڅ امکان اواحتمال نسته) لیکن دالله ﷻ عذاب ډیر سخت شی دی (چی دهغه څخه دبیری په وجه سره به د دوی حالت دنشی والاپه شان سی)

(معلومات اومسئلي)

(دسورة خصوصيات)

ددی سورة په مکی یامدنی والی کی دمفسرینو اختلاف دی، دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دغه دواړه روایتونه نقل دی دجمهورو تفسیر لیکونکو قول دا دی چی دا سورة دمکی اومدنی ایتونو مخلوط سورة دی قرطبی رحمه الله دا صحیح ګڼلی ده او دارنګه فرمایی چی ددی سورة په عجائباتو کی دا خبره ده چی ددی دآیتونو نزول دځینوپه شپه کی دځینو په ورځ کی دځینو په سفرکی دځینوپه حضرکی دځینوپه مکه کی دځینوپه مدینه کی دځینو دجنګ اوجهاد په وخت کی دځینو دصلح اوامن په حالت کی سوی دی او په دی کی ځینی آیتونه ناسخ دی او ځینی منسوخ ځینی محکم دی ځینی متشابه ځکه چی دتنزیل پر ټولو اقسامو مشتمل دی.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُم : دا آیت پرنبی کریم ﷺ دسفر په حالت کی نازل سو نو دوی په لوړ اوازسره ددی تلاوت شروع وفرمایی دسفر ملګرو صحابه کرامو ﷺ چی دنبی کریم ﷺ اواز واوریدی نوجمع سول، دوی صحابه کرامو ﷺ ته خطاب وکی اووي فرمایل چی دقیامت زلزله دکومی ذکر چی په دی آیت کی دی تاسی ته معلومه ده چی په کومه ورځ به وی؟ صحابه کرامو ﷺ عرض وکی چی الله او دهغه رسول ته ښه معلومه ده دوی وفرمایل چی دا به هغه ورځ وی په کومه کی چی الله ﷻ حضرت ادم ﷺ ته خطاب وکی وفرمایی چی جهنم ته تلونکی پورته کړه ، حضرت ادم ﷺ به پوښتنه وکړی چی هغه جهنم ته تلونکی کوم خلګ دی نوحکم به ورته وسی چی په هرو زرو کسانوکی یوکم زرتنه ۹۹۹ اووي فرمایل چی دا به هغه وخت وی چی دهیبت اوبیری څخه به کوچنی بوډاګان سی او دحمل والا دښځو حمل به وغورځیږی صحابه کرامو ﷺ چی دا واوریدل نو وبیریدل او پوښتنه یی وکړه چی بیا یارسول الله ﷺ زمونږ څخه به هغه کوم وی چی نجات به پیداکی نووي فرمایل چی تاسی به فکره وسی جهنم ته تلونکی به دیاجوج ماجوج څخه زرتنه اوستاسی څخه یوتن وی دامضمون دصحیح مسلم وغیره په روایتونوکی دابوسعید خدری ﷺ څخه روایت سوي دی اوپه ځینوروایتونوکی دی چی په هغه ورځ به تاسی دداسی دوو مخلوقاتو سره یاست چی هغوی دکوم جماعت سره وی نو په شمیرکی به پر دوی غالب اوزیات وی یومخلوق دیاجوج ماجوج دی اوبل د ابلیس او دده اولاد او دادم ﷺ اولادکوم چی مخکی مړه دی (په دی وجه به یو کم زرو کسانو کی به ډیر شمیر د دوی وی) په تفسیر قرطبی وغیره کی دا ټول روایتونه نقل کړي دی

(دقیامت زلزله به کله وی؟)

دقیامت قائمیدو او دخلګو دبیرته ژوندی کیدو څخه وروسته یاددی څخه مخکی، ځینی فرمایی چی دا به دقیامت څخه مخکی په دی دنیا کی وی او دقیامت داخری نښانو څخه به شماروی دکوم ذکرچی دقرآن کریم په ډیرو ایتونوکی راغلی دی ، إِذَازُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَاوَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَادَكَّةً

راحِدَةٌ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا: وغیره اوځینو حضراتو دذکرسوی حدیث (په کوم کی چی حضرت ادم ﷺ
ته دخطاب کولو ذکر دی) څخه استدلال کړي دی او دا یی ګڼلی ده چی دا زلزله به دحشر نشر او دبیرته
ژوندی کیدو څخه وروسته وی اوحقیقت دا دی چی په دواړوکی څه منافات نسته ، دقیامت څخه
مخکی زلزله هم دقرآن په ایتونو اوصحیح احادیثو سره ثابته ده او دحشر اونشر څخه وروسته کیدل یی
هم په ذکرسوی حدیث سره ثابت دی ، والله اعلم

دقیامت ددی زلزلی چی کوم کیفیت په راتلونکی آیت کی ذکر سوي دی چی ټولی حملداری ښځی به
حمل وغورځوی اوټی ورکوونکی ښځی به خپل دتی بچیان هیر کړی که دا زلزله په دی دنیاکی دقیامت
څخه مخکی وی نو په داسی واقعه پیښیدوکی څه اشکال نسته اوکه دحشر نشر اوقیامت څخه وروسته
وی نو توجیه به یی دا وی چی کومه ښځه په دی دنیاکی دحمل په حالت کی مړه ده په قیامت کی به په
دی حالت کی ددی حشروی اوکومه چی دتی ورکولو په زمانه کی مړه ده هغه به هم هغسی دبچی سره
پورته سی ، (کما ذکره القرطبی) والله اعلم

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۝٣ كُتِبَ عَلَيْهِ

اوځینی خلق داسی دی چی جګړه کوی دالله په خبره کی په بی خبری سره او تابعداری کوی دهرشیطان سرکش

أَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ فَأَنَّهٗ يُضِلُّهٗ وَيَهْدِيْهِ إِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ۝٤

دکوم په حق کی چی لکل سوی ده چی څوك یی ملګری سو پس دی هغه ګمراه کړی اوبیایی عذاب د دوږخ ته .

يٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ فَإِنَّا خَلَقْنٰكُمْ

ای خلقو که تاسی په شك کی یاست دبیا پورته کیدوڅخه نوموږ تاسی جوړی کړی یاست

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ

دخاوری څخه ، بیا دقطری څخه ، بیا دټوکړی وینی څخه ، بیا د غوښی دټکړی څخه ، نقشی جوړی

وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۚ وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَآءُ

سوی ، اوبی نقشی جوړی سوی نه ، چی تاسی ته ښکاره بیان کړی ، اوساتویی موږ په نسوکی څومره چی غواړو

إِلٰٓى أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْٓا أَشُدَّكُمْ

تر یو وخت معین پوری ، بیا تاسی را باسو بچیان بیا چی ورسیږي ، خپلی ځوانی ته

وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ لِكَيْلَا

اوځينې په تاسې کې قبضه کولې سې اوځينې په تاسې کې رسول کيږي ارذل عمر ته چې د

يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا ؕ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ

پوهې څخه وروسته په هيڅ شی بيا نه پوهيږي ، او ته وينې مځکې چې خرابه ده ، پس

اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ

چې کله مونږ اوبه نازلې کړو په دې ، تازه سي او را پورته سي او زرغونه سي په کې هر قسم د رونق شيان

بَهِيْجٍ ﴿۵﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ

دا هرڅه په دې وجه دي چې هغه الله حق دی او هغه ژوندي کوي مړي او هغه

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۶﴾ وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ

په هرڅه قادر دی ، او دا چې قيامت راتلونکی دی په دې کې هيڅ شك نسته

وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴿۷﴾ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ

او دا چې الله به پورته کوي هغه چې پراته دي په قبرونو کې ، اوځينې دخلقو څخه هغه دي چې جګړه کوي

فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿۸﴾ ثَانِيَ عِطْفِهٖ

دالله په خبره کې بغير دپوهې څخه او بغير ددليل څخه او بغير دروښانه کتاب څخه ، په څنګ کيږي چې

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّنُذِيْقُهٗ

ګمراه کړي دالله دلارې څخه ، دهغه دپاره په دنيا کې رسوايي ده او وبه څکوو مونږ دده

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۹﴾ ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ

په ورځ دقيامت عذاب سوزونکی ، دا په دې وجه چې مخکې ليږلې دي ستادواړو لاسونو

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۰﴾ ع

او په دې وجه چې الله ﷻ ظلم نه کوي په بندګانو باندې .

تفسیر: او ځینی خلګ داسی دی چی دالله ﷻ په باره کی (یعنی دهغه دذات یا صفتونو یاکارونو متعلق) بی دپوهی ځخه جګړی کوی او په هرشیطان سرکښ پسی کیږی (یعنی دګمراهی قابلیت یی داسی دی چی کوم شیطان یی کوم طرف ته لمسوی دهغه په لمسه کی راځی نو په داسی سړی کی انتهایی درجه ګمراهی ده چی په ده دهرشیطان لاس رسیږی) دکوم په نسبت (چی دخدای دطرف ځخه داخبره لیکل سوي ده (او مقررسوي ده) چی کوم سړی دده سره تعلق ساتی (یعنی تابعداری یی کوی) نو دهغه کار دا دی چی هغه دی (دحقی لاری ځخه) بی لاری کوی او ده ته د دوږخ دعذاب لار ښیی (مخ ته دی جګړه کوونکوته خطاب دی چی) ای خلګو! که تاسی (دقیامت په ورځ) دبیرته ژوندی کیدو (دامکان ځخه په شك کی یاست نو (لږځه په راتلونکی مضمون کی غور وکی چی شك مو لیری سی اوهغه دا چی) مونږ (اول وار) تاسی دخاورو ځخه جوړ کړاست (ځکه چی خوراك دکوم ځخه چی نطفه جوړیږی اول دعناصرو ځخه پیدا کیږی چی یو جزء په کی دخاوری هم دی) بیادنطفی ځخه (کومه چی دخوراك ځخه پیداکیږی) بیا دوینی دټوټی ځخه (چی په نطفه کی په سختی اوسرخی راتلو سره جوړیږی) بیا دغوښی دټوټی ځخه (کله چی ددغه وینی د زیاتوب سختیدوځخه جوړیږی) چی (ځینی) پوره وی (چی پوره اندامونه یی جوړسی) او (ځینی) نیمګړی هم (وی چی ځینی اندامونه یی ناقص پاته سی دا په داسی ساخت اوترتیب اوتفاوت سره یی ځکه جوړ کړل) چی مونږ تاسی ته (خپل قدرت) ظاهرکي (اوپه دی سره دانکاره خبره ده چی هغه پر دوباره پیدا کولو هم قادر دی) او (تتمه ددی مضمون دا ده چی په دی سره نور زیات قدرت ظاهریږی چی) مونږ (دمور) په رحم کی کومه (نطفه چی) وغواړو تر یوی مقرری نیټی (یعنی دحمل دپیدا کیدو تروخته) پوری ساتو (او دکومی چی پاته کول نه غواړو دهغه اسقاط وسی) بیا (ددی مقرری نیټی ځخه وروسته) مونږ تاسی بچیان (دمور دنس ځخه) دباندی راباسو بیا (ددی ځخه وروسته دری قسمونه سی یو قسم دا چی په تاسی کی ځینو ته ترځوانی پوری مهلت ورکوو) چی تاسی خپلی دځوانی پوره (عمر) ته ورسیږی اوځینی په تاسی کی هغه هم دی کوم چی (دځوانی ځخه مخکی) مړه سی (دا دوهم قسم سو) اوځینی په تاسی کی هغه دی کوم چی ارذل عمر (یعنی زیات زوړوالی) ته رسول کیږی چی ددی اثر دا دی چی دیو شی ځخه سره ددی چی خبرداروی بیا ناخبره سی (لکه داکثرو بوداګانو دا حال لیدل کیږی چی اوس به ورته یوه خبره وښیی اوهم اوس به یی بیا پوښتنه کوی دا دریم قسم سو دا ټول حالات هم د الله ﷻ دعظیم قدرت نښانی دی یو استدلال خو دا وو) او (مخته بل استدلال دی چی) ای مخاطبه! ته مځکه وینی چی وچه (پرته) وی بیا کله چی مونږ پردی اوبه وروو نو دغه را وپړسیږی اوشنه سی اوهر قسم (یعنی په قسمونو) ښائسته بوټی په کی پیداسی (نو دا هم دلیل دی دکامل قدرت مخ ته داستدلال دنور واضح کولو دپاره دذکر سوو تصرفاتو وجه اوحکمت بیان فرمایی یعنی) دا (چی لوړ د دواړو استدلالونو په ضمن کی دذکرسوو شیانو ایجاد اواظهار ذکرسو داټول) په

دی سبب سره وسوه چی صرف دالله ﷻ ذات یوه کامله هستی ده (دا خو یی ذاتی کمال سو) اوهغه
روحو لره روح ورکوونکی دی (دا یی فعلی کمال دی) او هغه پر هرڅه قادر دی (دا یی وصفی کمال دی) او
دا دری سره کارونه په جمع د ذکر سوو کارونو علتونه دی ځکه چی په دی دری سره کمالونوکی که یو هم
غیر متحقق وای نوایجاد به نه وای سوی چنانچی ظاهره ده) او (دارنگه په دی سبب سره وسوه چی
قیامت راتلونکی دی په دی کی یوه ذره شك نسته او الله ﷻ به (په قیامت کی) قبرونه والا دوباره پیدا
کړی (دا د ذکر سوو کارونو حکمت دی یعنی مونږ دغه ذکرسوی تصرفات په دی وجه ظاهر کړل چی په
دی کی منجمله دټولو حکمتونو څخه یوحکمت او اصل مقصد دا وو چی مونږ ته دقیامت را وستل او
دمړو دوباره ژوندی کول منظور وه نو په دی تصرفاتو کولو سره به ددغه امکان خلگوته ظاهر سی
وروسته دمذکوره شیانو دری علتونه او دوه حکمتونه ذکرسول اوسبب په عامه معنی سره دټولو دپاره
عام سو په دی وجه دَ بِاَنَّ اللهَ باسببیة پرټولو داخله سوه) او (تردی ځای پوری خو دجگړی کوونکو
دگمراهی او د دوی په ردکی استدلال ذکر وو مخ ته د دوی نور دگمراه کولو او دخپلی گمراهی او نورو
دگمراه کولو دعظیم وبال ذکر دی) ځینی دخلگو څخه داسی دی چی د الله ﷻ په باره کی (یعنی دهغه په
ذات یاصفتونو یاپه تیرو کارونو کی) بغیردپوهی (یعنی علم ضروري) څخه اوبغیر ددلیل (یعنی علم
استدلال عقلي) څخه اوبغیر دیو روښان کتاب (یعنی علم استدلالی نقلی) څخه (او دنورو تحقیق
کوونکو داتباع اوتقلید څخه) په تکبر سره جگړی کوی ددی دپاره چی (نور خلگ هم) دالله ﷻ دلاری
څخه (یعنی دحق دین څخه) بی لاری کړی دداسی سړی دپاره رسوایی ده په دنیاکی (برابره خبره ده که
هرقسم رسوایی چی وی چنانچی ځینی گمراهان په قتل اوقید وغیره سره ذلیله کیږی ځینی داهل
حقوسره په مناظره کی مغلوب سی او دعاقلانو په نظرکی بی عزته سی) او دقیامت په ورځ به مونږ دوی
ته دسوزونکی اور عذاب ورکو (او دوی ته به وویل سی) چی دا ستاسی دلاسونو دکړو کارونو بدله ده
او داخبره ثابته ده چی الله ﷻ په (خپلو) بندگانو ظلم کوونکی نه دی (نو تاسی ته بی دجرم څخه سزا درنه
کړل سوه)

(معلومات اومسئلی)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُجَادِلُ فِي اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ : دا آیت دنضربن حارث په باره کی نازل سوکوم چی لوی جگړه
مار وو ملائکو ته به یی دخدای ﷻ لونی اوقرآن ته به یی دتیرو خلگو قصی ویلی او دقیامت او دوباره
ژوند څخه منکر وو (لکه چی داسی روایت ابن ابی حاتم دابی مالك څخه کړي دی) (مظهری)
دآیت نزول که څه هم دیوخاص سړی په باره کی سوي دی ، مگر حکم ددی دټولو دپاره عام دی په کوم
کی چی دا قسم بد خصلتونه پیدا سی.

(دمور په نس کي دانسان دجوړیدو درجي او مختلف حالات)

إِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ : په دی آیت کی دمور په نس کی دننه دانسان دجوړیدو دمختلفو درجو بیان دی ،
ددی تفصیل دصحیح بخاری په یوحدیث کی دی دکوم چی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت
دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، اوهغه رښتیاویونکی اوپه رښتیاپوهیدونکی دی چی دانسان ماده
ترڅلوېښتو ورځو پوری په رحم کی جمع وی بیا دڅلوېښتو ورځو څخه وروسته علقه یعنی منجمده وینه
سی ، بیاپه څلوېښو ورځوکی دغه مضغه یعنی غوښه جوړه سی ددی څخه وروسته دالله ﷻ دطرف څخه
یوه ملائکه ولیږل سی کومه چی په ده کی روح پوکی او دده متعلق څلورخبری دغه ملائکه ولیکی اول
دا چی دده عمر څومره دی دوهم رزق یی څومره دی دریم څه څه عمل به کوی څلورم دا چی اخر دی به
بدبخته شقی وی اوکه خوش نصیبه نیك به وی (قرطبی)
په بل یو روایت کی کوم چی ابن ابی حاتم او ابن جریر دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړي
دی په هغه کی دا هم دی چی نطفه دڅو دورونو څخه دتیریدو څخه وروسته دغوښی جوتلی ټوټه جوړه
سی نو هغه وخت دغه ملائکه کومه چی دهر انسان په جوړولو ماموره ده دغه دالله ﷻ څخه پوښتنه کوی
یَارَبِّ مُخَلَّقَةٌ اوغَيْرَ مُخَلَّقَةٍ (یعنی ای الله! دغوښی ددی ټوټی څخه دانسان پیدا کول ستاپه نزد مقدردی
اوکه نه؟) که دالله ﷻ دطرف څخه دا جواب ورته وسی چی دا غیر مُخَلَّقَه دی نو رحم دغه ساقط کړی یعنی
وي غورځوی او دپیدائش نورو مرتبوته ونه رسیږی اوکه حکم وسی چی دا مُخَلَّقَه دی نو بیا ملائکه
پوښتنه وکړی چی هلك دی اوکه انجلی ده اونیك بخت دی اوکه بدبخت دی او عمریی څومره دی؟
اوعمل یی څه دی؟ او کوم ځای به مری؟ دا ټولی خبری دغه وخت ملائکی ته وښوول سی (ابن کثیر)
دَ مُخَلَّقَه اوغیر مُخَلَّقَه دا تفسیر دحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم نقل دی (قرطبی)
مُخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ د ذکرسوی حدیث څخه ددی دواړو تفسیر دا معلوم سو چی دکومی نطفی څخه دانسان
پیداکول مقدر وی هغه مُخَلَّقَه ده او دکومی ضائع کول اوساقط کول چی مقدر وی هغه غیرمُخَلَّقَه ده
اوځینی مفسرین حضرات دمُخَلَّقَه اوغیر مُخَلَّقَه تفسیر دا کوی چی دکوم بچی مکمل اوصحیح سالم په
ټولو اندامونو باندی پیدا کول مقدر وی هغه مُخَلَّقَه او دکوم چی ځینی اندامونه ناقص وی یاقد اورنګ
وغیره یی غیر متناسب وی هغه غیر مُخَلَّقَه دی په لنډتفسیرکی یی دا تفسیر سوي دی والله تعالی اعلم .
ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا : یعنی بیادموردنس څخه تاسی راباسودضعیف بچی په صورت کی چی بدن یی هم کمزوری
وی سماعت اونظرهم حواس اوعقل هم دحرکت اوګرفت قوت هم مطلب داچی ټول قوتونه یی انتهایی
ضعیف اوکمزوری وی بیاکرارکرارپه کی ترقی کیږی تردی چی پوره قوت ته ورسیږي، ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا اَشُدَّكُم
هم دامعنی ده،لفظ دَاَشُدَّ دَشِدَّةٌ جمع ده، لکه اَنْعُمٌ چی دَنِعْمَةٌ جمع راځی معنی داسوه چی دتدریجی ترقی دا

سلسله ترهغه وخته پوری روانه وی ترڅو چې ستاسې هرقوت مکمل نه سی کوم چې دځوانی په وخت کی وی

اَرْذَلِ الْعُمُرِ: یعنی هغه عمر په کوم کی چې دانسان په عقل شعور اوحواسو کی خلل راتلل شروع سی، نبی کریم ﷺ دداسې عمر څخه پناه غوښتې ده، په نسایی کی په روایت دحضرت سعد ؓ نقل دی چې نبی کریم ﷺ به پرلاندینیو الفاظو مشتمله دا دعا ډیره غوښتله او دحدیث راوی حضرت سعد ؓ به دا دعا خپل ټول اولادته یادوله ، هغه دعا دا ده .

اَللّٰهُمَّ إِنِّي اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُرَدُّ إِلٰى اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ (قرطبی)

(دانسان دابتدایي جوړېدوڅخه وروسته دعمرمختلفي درجي اوحالات يې)

په مسنداحمد اومسند ابویعلی کی دحضرت انس بن مالك ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې بچی ترڅو پوری چې بالغ سوی نه وی دده نیك عمل دده دپلار یامور اوپلارپه حساب کی لیکل کیږی اوکوم چې بدعمل کوی نو هغه نه دده په حساب کی لیکل کیږی نه دمور اوپلار بیاچې کله دی بالغ سی نو دحساب قلم دده دپاره جاری سی او دوی ملائکی کومی چې دده سره اوسیږی هغوی ته حکم کیږی چې دده حفاظت کوئ اوقوت ورته رسوئ ، کله چې داسلام په حالت کی دڅلوېښتو کالو عمرته ورسیږی نوالله ﷻ دی (د دری قسمه بیماریو څخه) محفوظ کی یعنی دجنون جذام اوبرص څخه کله چې دپنځوس ۵۰ کالو عمرته ورسیږی نوالله ﷻ دده حساب سپك کړی ، کله چې شپیتو ۶۰ کالوته ورسیږی نوالله ﷻ ورته خپل طرف ته درجوع توفیق ورکړی کله چې اویا ۷۰ کالوته ورسیږی نوټول آسمان والا دده سره محبت شروع کړی او کله چې اتیا ۸۰ کالو ته ورسیږی نوالله ﷻ دده نیکی لیکی او بدی یی معاف کوی بیا چې کله نیوی ۹۰ کالو ته ورسیږی نوالله ﷻ دده ټول مخکنی وروستنی ګناهونه معاف کړی او ده ته دخپلو اهلِ بیتو په معامله کی دشفاعت کولو حق ورکړی او دده شفاعت قبول فرمایی او دده لقب اَمِیْنُ اللهِ او: اَسِیْرُ اللهِ فِی الْاَرْضِ (یعنی په مځکه کی دالله ﷻ قیدی) سی ځکه چې دی عمرته ورسیږی نوپه عام طورسره دانسان قوت ختم سی په هیڅ شی کی خوند پاته نه سی دقیدی په شان عمر تیروی او کله چې ارذل عمرته ورسیږی نو دده ټول هغه نیك عملونه په علمنامه کی برابر لیکل کیږی کوم چې به یې دصحت اوقوت په زمانه کی کول اوکه دده څخه څه ګناه وسی نو هغه نه لیکل کیږي .

دا روایت حافظ ابن کثیر رحمه الله دمسند ابویعلی څخه دنقل کولو څخه وروسته فرمایی : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ جِدًّا وَفِيْهِ نَكَارَةٌ شَدِيْدَةٌ (یعنی داحدیث غریب دی او په دی کی سخت نکارت دی) بیا فرمایی (ومع هٰذَا فَقَدْ رَوَاهُ الْاِمَامُ اَحْمَدُ بْنِ حَنْبَلَ فِیْ مُسْنَدِهٖ مَوْقُوْفًا وَمَرْفُوْعًا) یعنی ددی غرابت اونکارت باوجود امام احمدپه خپل مسندکی داموقوفًا او مرفوعًا په دواړه قسمه روایت کړي دی بیا ابن کثیر دمسنداحمدڅخه دا دواړه قسمه روایتونه نقل کړی دی دکومو مضمون چې تقریبًا هغه دی کوم چې په

حواله دمسند ابویعلی لوړ نقل سوي دی . والله تعالی اعلم .

ثانی عِطفِهٖ دَعطف معنٰی جانب اومنع ده یعنی منع گرځول ددی څخه مراد اعراض کول دی .

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ ۚ فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ اطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ

اوځینی دخلقو څخه هغه دی چی عبادت کوی دالله یو ارخ ته پس که ورسیږي ده ته خیر نو قائم سی په دغه عبادت ، او که ورسیږي ده ته څه .

فِتْنَةُ انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ ۚ خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ

ازمائش نو وگرځی په چپه مخ باندی ، تاوانی سو په دنیا او په آخرت کی دا دی

الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۱﴾ يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا

تاوان ښکاره ، بلی دالله څخه ماسوا داسی شی چی نه ده ده نقصان کولی سی او نه

يَنْفَعُهٗ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۲﴾ يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗٓ

ورته فائده رسولی سی ، دا ده گمراهي ډیره لیری ، بلی هغه چی ضرر یی

اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿۱۳﴾

دنفع څخه مخکې دی ، بیشکه ناکاره دوست دی او ناکاره ملگری دی .

تفسیر: اوځینی خلگ دالله ﷻ عبادت (په داسی طور) کوی (لکه څوک چی دیوشی) په کناره باندی (ولاړوی او په موقع پیدا کیدو سره تلو ته تیار وی) بیاکه ده ته څه (دنیوی) نفع ورسیږی نو ددی په وجه سره (په ظاهره) قرار پیدا اکی او که پرده څه ازمائش راسی نو مخ لوړکړی (دکفر طرف ته) روان سی (چی په دی سره یی) دنیا او اخرت دواړه تاوان سی دا دی ښکاره نقصان (ددنیا نقصان خوپه دنیاوی ازمائش کوم چی په یو مصیبت سره وی دغه ظاهره ده او دآخرت نقصان یی دا سوچی اسلام او) خدای یی پریښوول او دداسی شی په عبادت شروع سوکوم چی (دومره عاجز اوبی وسه دی چی) نه ده ته نقصان رسولی سی او نه نفع رسولی سی (یعنی که عبادت یی نه کوی نو دڅه نقصان رسولو اوکه کوی یی نو دنفع رسولو څه قدرت یی نسته ظاهره خبره ده چی دقادر مطلق پریښوول او داسی بی وسه شی اختیارول سُوده تاوان دی) دا انتهایی درجه گمراهي ده (صرف دا نه چی ددغه په عبادت سره څه نفع نه رسیږی بلکی چپه ضرر اونقصان دی څکه چی) هغه دداسی شی عبادت کوی چی دهغه ضرر دهغه دنفع څخه زیات نژدی دی داسی کارساز هم ناکاره او داسی ملگری هم ناکاره (کوم چی په هیڅ دول په هیڅ حال په هیڅ کارنه

راځي چې مولى او بادار جوړسي يا دوست او ملګرى جوړسي په هيڅ حال کې دده څخه نفع نسته،

(معلومات او مسئلې)

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ : بخاري او ابن ابى حاتم دحضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت کړي دی چې کله نبى کريم ﷺ هجرت وکى او په مدينه طيبه کې مقيم سو نو ځيني نور داسی خلک به راتلل مسلمانيدل به (چې په زړونوکې يې دايمان پوخوالى نه وو) که داسلام راوړلو څخه وروسته به د دوی په اولاد او مال کې زياتوالى راغى نو ويل به يې چې دا دين ښه دی او که ددې خلاف به وسول نو ويل به يې چې دا دين ښه نه دی دداسې خلګو په باره کې که دا آيت نازل سوي دی چې داخلګ دايمان په يوه کناره باندې ولاړدی که دده دايمان څخه وروسته دنيوي راحت مال او سامان حاصل سی نو په اسلام پاته سی او که په طور دازمائش په څه تکليف او پريشانۍ کې اخته سی نو ددين څخه واپس سی .

إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ

الله داخلوي هغه کوم چې ايمان راوړی او نيک عمل وکی باغونو ته چې بهيږي به

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ

لاندی د هغو څخه نهرونه ، الله تعالى کوی څه چې غواړی ، دچا چې دا خيال وی

اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ اللّٰهُ فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى

چې هيڅکله به مدد ونه کړی دده الله په دنيا کې او په آخرت کې نو اږده دی کړی يو رسی

السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾

اسمان ته بيا دی پريکړی اوس دی وګوری چې ايا ولاړه په دی تدبير سره دده غصه ،

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ﴿۱۶﴾

او دا رنګه نازل کې مونږ دا قرآن ښکاره خبری او دا ده چې الله پوهوی څوک چې غواړی

لنډتفسير: بيشکه الله ﷻ داسی خلک کوم چې ايمان راوړی او نيک کارونه وکی (دجنت) داسی باغونو ته به داخل کړی دکومولاندې چې به نهرونه بهيږی (او الله ﷻ کوم سړی يا قوم ته چې څه ثواب يا عذاب ورکول وغواړی نو څوک يې منع کونکی نسته ځکه چې) الله ﷻ (قادر مطلق دی) چې څه اراده وکړی کوی يې (او دکومو خلګو چې په دين حق کې دجګړی کولو ذکر راغلی دی په راتلونکی آيت کې دهغوی

دمحرومي او ناكامي بيان دى فرمايى) كوم سړي چي (دنبي كريم ﷺ سره مخالفت او دښمني لري) ددى خبري خيال ساتي چي (زه به غالب سم او دده ددين ترقي به منع كړم اودا چي) الله ﷻ به درسول (ﷺ او دده ددين) په دنيا او آخرت كي مددونه كړي نو ده ته په كار دى چي يوه رسى آسمان ته وغزوى (اودآسمان سره يې وتړي) بيا (ددې رسى په ذريعه كه آسمان ته رسيدى سى نو ودى رسيږي ددى دپاره چي) دا وحى دى بنده كړي (او ظاهره ده چي داسى هيڅوك نه سى كولى) نو بيا غور كول په كار دى ايادده په (دى تدبير سره (دكوم څخه چي دى بالكل عاجزدى) دده غصه او غضب يوشى (يعني وحي) موقوف كولى سى، اومونږ دا (قرآن) داسى نازل كړي دى (چي په دى كي زمونږ دارادى اوقدرت څخه ماسوا دهيڅ دخل نسته) چي په دى كي ښكاره ښكاره دليلونه (دحق دتعين) دى اوالله ﷻ چا ته چي وغواړي هدايت ورته كوي.

(معلومات اومسئلي)

مَنْ كَانَ يَظُنُّ: مطلب دا دى چي داسلام لار بندوونكي عنادګر كوم چي غواړي چي الله ﷻ دخپل رسول او دده ددين مدد ونه كړي نو دى دى پوه سى چي دا خوهله كيدى سى چي خداى مه كړه دنبي كريم ﷺ څخه دنبوت منصب واخستل سى او پر ده وحي راتلل بندسى څكه چي الله ﷻ چاته نبوت اورسالت وسپاري او دى په وحي الهي سره ونمانځي نو دده په دنيا اوآخرت كي دمدد كولو دهغه دطرف څخه پخه وعده وي او عقلاً هم ددى خلاف كيدل نه دى په كار نوكوم سړي چي ستا اوستا ددين ترقي منع كول او بندول غواړي ده ته كه دده په واك كي وي نوداسى تدبير كول په كار دى چي دا دنبوت منصب دده څخه واخستل سى او وحي الهي بنده سى، دامضمون يې ديو فرضِ محال په عنوان سره داسى تعبير كړي دى چي كه دنبي كريم ﷺ څخه وحي بندول غواړي نو په يو ډول سره دى آسمان ته ورسيږي اودهغه ځاى څخه دى ددى وحي سلسله ختمه كړي او ظاهره ده چي نه دچاپه داسى ډول سره آسمان ته تلل ممكن دى او نه الله ﷻ ته دوحي بندولو وينا ممكنه ده، نوهر كله چي دا تدبير كارګر نه دى نو داسلام اوايمان خلاف دغصي اوغضب څه نتيجه ده؟ دا تفسير يې بعينه په درمنثوركى د ابن زيد څخه روايت كړي دى او زمايه نزد دا دټولو څخه ښه او صفا تفسير دى (بيان القرآن مع تسهيل)

قرطبي دا تفسير د ابوجعفر نحاس څخه نقل كړي دى فرمايى چي دا دټولو څخه ښه تفسير دى او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه هم دا تفسير نقل دى اوځينو حضراتو ددى آيت تفسير داسى كړي دى چي دآسمان څخه مراد دخپل كور چت دى او مراد دآيت دا دى چي كه ديو عنادګر جاهل خواهش دا وي چي الله ﷻ دخپل رسول ﷺ او دده ددين مدد ونه كړي او دى داسلام خلاف غصه اوغضب لري نو پوه دى سى چي دده دا مراد به هيڅكله پوره نه سى، ددى احمقانه غصى اوغضب خوعلاج دا دى چي چت ته رسى واچوي اوځان پانسى كړي او مړسى (مظهري وغيره)

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ

کوم خلق چی مسلمانان دی او کوم چی یهودیان دی او صابئین دی او نصارا

وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ

او مجوسیان دی او کوم چی مشرکان دی ، بیشکه الله به فیصله وکړی په دوی کی

يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ

دقیامت په ورځ ، دالله تعالی په مخکی دی هر یو شی ، ته نه گوری چی

اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ

الله ﷻ ته سجده کوی ، څه چی په اسمانونو کی دی او څه چی په مځکه کی دی او لمر

وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ وَكَثِيرٌ

او سپوږمی ، او ستوری او غرونه او درختی او حیوانان او ډیر

مِنَ النَّاسِ ۖ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۗ وَمَنْ يُهِنِ اللَّهُ

انسانان ، او ډیر دی چی په هغوی ثابت سوی دی عذاب ، او څوك چی الله ذلیل کړی

فَمَا لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ ۚ إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ ۩ ﴿١٨﴾

هغه ته هیڅوك نسته عزت ور کوونکی بیشکه الله ﷻ کوی هغه چی غواړی .

لنډتفسیر: په دی کی هیڅ شك نسته چی مسلمانان اویهودیان اوصائبین اونصارا او مجوسیان اومشرکان الله ﷻ به ددی ټول په مینځ کی په ورځ دقیامت (عملی) فیصله وکړی (چی مسلمانان به په جنت کی او دکافرانو دا ټول قسمونه به په دوږخ کی دا خل کړی) بیشکه الله ﷻ دهر څه خبر دی. ای مخاطبه! ایا تاته دا خبره نه ده معلومه چی دالله ﷻ په مخکی (دَخپل خپل حالت په مناسبت سره) ټول عاجزی کوی کوم څه چی په آسمانونو کی دی اوکوم څه چی په مځکه کی دی اولمر اوسپوږمی اوستوری اوغرونه او درختی اوحیوانان او (دټولو مخلوقاتو دتابعدار اوفرمانبردار کیدو باوجود انسانان کوم چی په خاص درجه عقل هم لری داټول په جمع تابعدار اوفرمانبردار نه دی بلکی) ډیر (خو) انسانان هم (فرمانبرداری اوعاجزی کوی) او ډیر داسی دی پرکومو چی دعذاب استحقاق ثابت سوي دی او (ربښتیا

خو دا ده چې) کوم څوك خداى ذليل کې (چې دهدايت توفيق ورته ونه سي) هغه ته هيڅوك عزت ورکوونکى نسته (او) الله ﷻ (ته اختيار دى په خپل حکمت سره) چې څه غواړى کوى يې .

(معلومات اومسئلي)

۱ په اولنى آيت کې دټولو قومونو دعالم دمومنانو اوکفارو اوبيا دکفارو دمختلفو عقيدو دډلو متعلق دا ارشاد فرمايى چې الله ﷻ به ددى ټولو فيصله وکې اوهغه دهريو دظاهر اوباطن څخه باخبره دى .

فيصله به څه وى ددى ذکربار بارپه قرآن کريم کې راغلى دى چې دمومنانو صالحانو دپاره ابدى اولا زوال راحت دى او دکفارو دپاره دائمى عذاب، په دوهم آيت کې دټول مخلوقات برابره خبره ده که ژوندى دروح خاوندان وى اوکه جمادات اونباتات دټولو يى دالله ﷻ په مخکې تابعدار اوفرمانبردار کيدل په عنوان دسجدى سره بيان کړي دى او دبنى نوع انسان يى دوه قسمونه بيان کړي دى، يوقسم تابعدار اوفرمانبردار په سجده کې دټولو سره شريك او دوهم قسم سرکښ اوباغى دسجدى څخه اوښتى اوتابع فرمان کيدل يى په سجدى سره بيان کړي دئ چې ترجمه يى په لنډتفسيرکې په عاجزى کولو سره سوي ده ، ددى دپاره چې دمخلوقاتو دهرنوع او دهرقسم سجدى لره شامل سى ځکه چې په دوى کې دهر يوه سجده دهغه دحال مناسب وى دانسان سجده پرمخکه دتندى اينبوولو نوم دى دنورو مخلوقاتو سجده دخپل خپل خدمت دکوم دپاره چې يى دى پيدا کړي دى دهغه دکولو او دخدمت دحق ادا کولو نوم دى .

(دټولو مخلوقاتو دتابعدار او فرمانبردار کيدو حقيقت)

دټول کائنات اومخلوقات دخپل خالق دحکم لاندى کيدل او دمشيت تابع کيدل يوخوپه تکوينى اوتقديرى طورسره غيراختيارى دى چې ددى څخه يومخلوق هم مومن ياکافر ژوندى يامړ جمادات يا نباتات مستثنى نه دى په دى مشيت کې ټول په جمع په يودول د الله ﷻ دحکم اومشيت لاندى دى ددنيا او جهان يوه ذره يايوغر دده داذن اومشيت څخه بغير يو ادنى غوندى حرکت هم نه سى کولى ، دوهم اطاعت او فرمانبردارى اختيارى دى چې يو مخلوق په خپل قصد اواختيار سره دالله ﷻ داحکامو اطاعت وکې په دى کې دمومن اوکافر فرق دى چې مومن اطاعت کوونکى فرمانبردار وى کافر ددى څخه منحرف اومنکر وى ، په دى آيت کې يى چونکى دمومن اوکافر فرق بيان کړي دى نوځکه دا قرينه ددى ده چې په دى کې دسجدى اوفرمانبردارى څخه مراد صرف تکوينى اوتقديرى اطاعت نه‌دى بلکى اختيارى اوارادى اطاعت دى په دى کې دا شبهه نه سى کول کيدى چې اختيارى اوارادى اطاعت خوصرف په ذوى العقولو انسانانو اوپيريانو وغيره کې کيدى سى ، په حيوانانو نباتاتو اوجماداتو کې خوعقل اوشعور نسته نو بيا قصد اواراده دکومه سوه اواختيارى اطاعت څنګه وى ځکه چې دقرآن کريم دبى شميره نصوص او تصريحاتو څخه دا خبره ثابته ده چې دعقل اوشعوراوقصد اوارادى څخه هيڅ مخلوق هم خالى نه دى دکمى اوزياتى فرق دى ، انسانانو اوپيريانو ته الله ﷻ دعقل اوشعور يوه کامله

درجه ورکړي ده او په دی وجه یی دوی دآمرٔ اونهی داحکامو مکلف جوړ کړي دی ، د دوی ځخه ماسوا
په باقی مخلوقاتوکی هرنوع اوقسم ته یی ددغه قسم دضرورتونو موافق عقل اوشعور ورکړي دی
دانسان ځخه وروسته دا عقل اوشعور زیات په حیواناتو کی دی د دوی ځخه په دوهم لمبرکی بیا نباتات
دی په دریم کی جمادات دی دحیواناتو عقل اوشعور خو په عام طور سره محسوس کیدی سی دنباتاتو
عقل اوشعور هم په لږځه غور اوتحقیق سره پیژندل کیدی سی لیکن دجماداتو عقل اوشعور دومره کم
دی ، چی عام انسان په دی نه سی پوهیدی ، مګر د دوی خالق اومالك خبر ورکړي دی چی داهم دعقل
اوشعور اوارادی مالکان دی ، قرآن کریم دمځکی اوآسمان په باره کی فرمایی ، قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ
یعنی کله چی الله ﷻ آسمان اومځکی ته حکم وکی چی تاسی ته به زما دحکم تابعداری کول وی نوپه
خپله خوښی سره تابعداری اختیار کړی کنه نو جبرًا اوحکمابه تابع کیدل وی نوآسمان اومځکی عرض
وکی چی مونږ په خپله اراده اوخوښی سره اطاعت اوفرمانبرداری قبلوو اوبل ځای دغرونو او ډبرو
متعلق دقرآن کریم ارشاددی ، وَاِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ یعنی ځینی ډبری داسی دی کومی چی د الله
ﷻ دبیری اوخوف ځخه دلوړی ځخه کښته رارغړی دغه ډول په ډیرو احادیثوکی دغرونو دیوبل سره
خبری او په نورو مخلوقاتوکی دعقل اوشعور شهادتونه په کثرت سره ترلاسه کیږی په دی وجه په دی
آیت کی چی کوم اطاعت او فرمانبرداری یی دسجدی په لفظ سره تعبیر کړي ده دهغه ځخه اختیاری
اوارادی اطاعت مراددی او دآیت معنٰی دا ده چی دنوعِ انسانی ځخه علاوه (دکومو په ضمن کی چی
پیریان هم دا خل دی) باقی ټول مخلوقات په خپل قصد اواختیار سره د الله ﷻ په دربارکی سجده
کوونکی یعنی تابعِ فرمان دی صرف انسانان اوپیریان داسی دی دکومو چی دوې حصی سوی یو مومن
فرمانبردار سجده کوونکی دوهم کافر نافرمان دسجدی ځخه منحرف کوم چی الله ﷻ ذلیله کړي دی چی
دسجدی توفیق یی ورته ورنه کی . والله اعلم

هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ

دادوه فریقه دی چی جګړه یی وکړه دخپل رب په باره کی ، پس خوك چی منکر سول د دوی دپاره به قطع کړل سی

نَّارٍ يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِيْ

جامی د اور غورځول کیږي به د دوی په سرونو ګرمی اوبه ، چی کبابیږي په دی باندی ځه

بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ﴿٢٠﴾ وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ﴿٢١﴾ كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا

چی د دوی په نسو کی دی اوڅرمن هم ، او د دوی دپاره پلکونه دی داوسپنی ، هرکله چی وغواړی

أَن يَخْرُجُوا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا فِيهَا وَذُوقُوا عَذَابَ

وتل د دوزخ څخه دوجهي دغم څخه واپس به كړل سي دي ته ، او وڅکئ عذاب

الْحَرِيقِ ﴿٢٢﴾ إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

دسوزلو ، بيشكه الله به داخل كړي هغه چې ايمان راوړي او كړي نيكي

جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن

په باغونو كې چې بهيږي به ورڅخه لاندې نهرونه ، وابه غوستل سي ورته په دې كې بنګړي

ذَهَبٍ وَلُؤْلُؤًا ۖ وَلِبَاسُهُمْ فِيهَا حَرِيرٌ ﴿٢٣﴾ وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ

د سرو زرو او ملغلري ، او د دوی جامې به وي هلته دوريښمو ، او لار به پيدا كې دوی دپاكې خبرې

مِنَ الْقَوْلِ وَهُدُوا إِلَىٰ صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾

طرف ته ، او بيا به پيدا كې دهغه ستايل سوي لاره :

لنډتفسير: (دكومو ذكرچې لوړ په آيت ، اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كې سوي دي) دا دوې فريقې دي (يوه مومنه اوبله كافره بيا دكافرانو ډيرقسمونه دي يهود نصارا اوصائبين مجوسيان اوبت پرست) كوموچې دخپل رب په باره كې (اعتقاداً اوكله كله مباحثةً هم) ديو بل سره اختلاف وكې (ددې اختلاف فيصله به په قيامت كې داسې وي چې) كوم خلګ كافران وه د دوی (داغوستلو دپاره) به د اور جامې قطع سي (يعنې اور به د دوی ټول بدن داسې راګير كړي وي لكه جامې) او د دوی پرسر سربيره به تيزې ګرمې اوبه واچول سي چې په دې سره به د دوی دنس شيان (يعنې كولمې) اوڅرمن ټول كباب سي (يعنې دا جوشيدلې تيزې اوبه به څه نس ته دننه ولاړې سي چې كولمې اوپه نس كې دننه ټول شيان به يې په وسوزي اوڅه به سربيره پروبهيږي چې څرمن به وروسوزي) او د دوی (دوهلو دپاره) به داوسپنې ګرزونه وي (اوددې مصيبت څخه به هيڅكله نجات پيدانه كړي) دغه خلګ چې كله (په دوزخ) دغم (په وجه وبيريږي او) ددې څخه دباندې وتل وغواړي نو بيا به ډيكه ورته وركړل سي اوور ته به وويل سي چې دسوزيدو عذاب (دهميشه دپاره) هيڅكله (به ورڅخه ستاسې وتل نصيب نه سي او) الله ﷻ به هغو خلګوكوم چې ايمان راوړي اوهغوی نيك عملونه وكې (دجنت) په داسې باغونوكې به داخل كړي دكومولاندې چې به نهرونه بهيږي دوی ته به هلته دسروزرو بنګړي اوملغلرې واغوستل سي اوكپړې به د دوی هلته دوريښمو وي او

(داتول انعام اواکرام د دوی دپاره په دی سبب سره دی چی په دنیا کی دوی ته) دکلمی طیبی (دعقیدی هدایت سوی وو او دوی ته دهغه (خدای) دلاری هدایت سوی وو کوم چی لائق دحمد دی (دغه دا اسلام لاره ده)

(معلومات اومسئلی)

هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا: دا دواړی فریقی دکومو ذکر چی په دی آیت کی دی عام مومنان او د دوی په مقابله کی دکفارو ټولی ډلی دی برابره خبره ده که د اولنی زمانی وی اوکه د وروسته راتلونکو زمانو، البته نزول ددی آیت دهغو دوو فریقو په باره کی سوی دی کوم چی په میدان دبدرکی په جنګ کی دیوبل په مقابله کی وو، دمسلمانانو څخه حضرت علی ﷺ حضرت حمزه ﷺ اوحضرت عبیده ﷺ او دکفارو څخه عتبه بن ربیعه دده زوی ولید او دده ورور شیبه وو په دوی کی کفار خو دری سره قتل سول او په مسلمانانوکی حضرت علی اوحضرت حمزه ﷺ صحیح سالم بیرته راغلل خوحضرت عبیده ﷺ سخت زخمی راغی او دنبی کریم ﷺ قدمونو ته را ورسیدی اوساه یی ورکړه ، دآیت نزول دبدر ددی مقابله کوونکوپه باره کی کیدل خو دبخاری او مسلم په احادیثو سره ثابت دی لیکن دا ظاهره ده چی دا حکم په دوی پوری مخصوص نه دی دټول امت دپاره عام دی په هره زمانه کی چی وی .

(جنتیانو ته دبنګړو اغوستلو حکمت)

دلته دا شبهه کیدی سی چی بنګړی په لاسونوکی اچول خو دښځو کار او د دوی کالی دی ، دسړو دپاره خو معیوب ګڼل کیږي ، جواب دا دی چی ددنیا دبادشاهانو دا یو امتیازی شان پاته سوي دی چی په سرتاج او په لاسونوکی به یی بنګړی استعمالول لکه چی په حدیث کی دی چی کله نبی کریم ﷺ دهجرت په سفر کی روان وو اوسراقه بن مالك د دوی دګرفتارولو دپاره ووتی څوك چی دغه وخت مسلمان نه وو، دده اس دخدای په حکم سره په مځکه کی ننوتی اوده توبه وکښله نو دنبی کریم ﷺ په دعاسره اس را ووتی دغه وخت نبی کریم ﷺ دده سره وعده کړی وه چی دفارس دکسرٰی بادشاه بنګړی چی دغنیمت په مال کی دمسلمانانو په لاس راسی هغه به تاته درکړل سی ، او کله چی دحضرت فاروق اعظم ﷺ په زمانه کی دفارس ملك فتح سو او د ایران څخه دغه بنګړی دنورمالِ غنیمت سره راغلی نو سراقه بن مالك مطالبه وکړه اوهغه ته ورکول سول ، لنډه دا چی لکه څنګه چی پرسر تاج اېښوول دعامو سړیانو رواج نه دی شاهی اعزازدی دغه ډول په لاسونوکی بنګړی اچول شاهی اعزاز ګڼل کیږي، په دی وجه جنتیانو ته به بنګړی په لاسونوکی واچول سی، دبنګړو متعلق خو په دی آیت او په سورة فاطرکی خو دا دی چی دغه به دسرو زرو وی او په سورة نساء کی یی دا بنګړی دسپینو زرو ویلی دی په دی وجه تفسیر لیکونکی حضراتو فرمایلی دی چی دجنتیانو په لاسونوکی به دری قسمه بنګړی واچول سی دسرو سپینو او دملغلرو، لکه چی په دی آیت کی دملغلرو هم ذکر موجود دی (قرطبی)

(دوربښمو جامې دسړو دپاره حرامې دی)

په ذکر سوی آیت کی دی چی دجنتیانو جامی به دوربښمو وی مراد دا دی چی د دوی ټولو داغوستلو غوړولو اوپردو وغیره کپړی به دوربښمو وی کوم چی په دنیا کی دټولو ښخه زیات ښه لباس ګڼل کیږی او دجنت وربښم ظاهره ده چی ددنیا دوربښمو سره صرف دنوم شرکت لری کنه نو دهغو عمدګی اوښه والی ددی سره هیڅ مناسبت نه لری.

امام نسائی اوبزار اوبیهقی په سند جید سره دحضرت عبدالله بن عمرؓ ښخه دا روایت نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دجنتیانو وربښمی لباس به دجنت دمیوو ښخه راووزی او دحضرت جابرؓ په یو روایت کی دی چی په جنت کی به یوه درخته داسی وی چی وربښم به ورښخه پیدا کیږی دجنتیانو لباس به دهغه ښخه جوړیږي (مظهری)

مَنْ لَبِسَ الْحَرِيْرَفِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَفِي الدُّنْيَا لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ وَمَنْ شَرِبَ فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لَمْ يَشْرَبْ فِيْهَا فِي الْآخِرَةِ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِبَاسُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَشَرَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ وآنِيَةُ أَهْلِ الْجَنَّةِ (از قرطبی بحواله نسائی)

کوم سړی چی وربښمی کپړی په دنیاکی واغوندی هغه به یی په آخرت کی وانه غوندی اوښوك چی په دنیاکی شراب وچښی هغه به په آخرت کی دشرابو ښخه محروم وی اوښوك چی په دنیا کی دسرو اوسپینو په لوښوکی (وخوری) وچیښی هغه به په آخرت کی دسرو اوسپینو زرو په لوښوکی ونه خوری بیانبی کریم ﷺ وفرمایل چی دا دری سره شیان دجنتیانو دپاره خاص دی.

مراد دادی چی کوم سړی په دنیا کی دا کارونه وکړی اوتوبه ونه کاږی هغه به دجنت ددی درو سره شیانو ښخه محرومه وی که څه هم جنت ته دا خل هم سی لکه چی دحضرت عبدالله بن عمرؓ په روایت کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی چی کوم سړی په دنیاکی شراب وچیښل بیایی توبه ونه کښل هغه به په آخرت کی دجنت دشرابو ښخه محرومه وی (رواه الائمة قرطبی) دغه ډول په یوبل حدیث کی دحضرت ابوسعید خدریؓ ښخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایی.

مَنْ لَبِسَ الْحَرِيْرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِنْ دَخَلَ الْجَنَّةَ لَبِسَهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ وَلَمْ يَلْبَسْهُ هُوَ (رواه ابوداود الطیالسی فی مسنده وقال القرطبی اسناده صحیح)

کوم سړی چی په دنیاکی وربښم واغوستل دی به په آخرت کی وانه غوندی که څه هم جنت ته داخل هم سی نور جنتیان به وربښم واغوندی دی به یی وانه غوندی.

دلته دا شبهه کیدی چی کله یو سړی جنت ته دا خل سی اوبیادی دڅه شی محرومه کیدی سی نو دی خوبه حسرت اوافسوس کوی اوجنت خو ددی ځای نه دی هلته چاته څه غم او افسوس راتلل نه دی په کار اوکه دا حسرت او افسوس نه وی نو بیا خو دمحرومی څه فائده نسته، ددی جواب قرطبی ډیرښه ورکړي

دي چې دجنتيانو چې څنګه مقامونه او درجې مختلفې او په تفاوت سره دي او اعلی او ادنی به په کښې وي ددې تفاوت احساس به هم تولو ته وي مګر ددې سره الله ﷻ به دجنتيانو زړونه داسې جوړ کړي چې دحسرت او افسوس هيڅ شي به په کې نه وي ، والله سبحانه وتعالی اعلم

وَهُدُوا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ : حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې ددې څخه مراد کلمه طيبه لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ دی ، ځينې فرمايي چې ددې څخه مراد قرآن دی (قرطبي) صحيح دا ده چې دا ټول شيان په دې کې داخل دي .

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ الَّذِي جَعَلْنَاهُ

کوم خلق چې منکر سول او منع کوي خلق دالله تعالی دلارې څخه او دمسجد حرام څخه کوم چې مونږ جوړ کړی دی

لِلنَّاسِ سَوَاءً الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ

دټولو خلقو دپاره ، برابر دي په دې کې اوسېدونکې او دبهر څخه راتلونکې ، او څوک چې په دې وغواړي کږه

بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾

لار په شرارت سره هغه ته به مونږ وڅکوو يو عذاب دردناک .

تفسير: بيشکه کوم خلګ چې کافران سول او (مسلمانان) دالله ﷻ دلارې او دمسجد حرام څخه منع کوي (چې مسلمانان عمره ونه کړي حال دا دی چې دحرم حيثيت دا دی چې په دې کې دچا خصوصيت نسته بلکې) دا مونږ دټولو انسانانو دپاره مقرر کړي دی چې په دې کې ټول برابر دي په دې (حرم حدونو کې دننه) اوسېدونکې هم (يعنې کوم خلګ چې هلته مقيم دي) او دبهر څخه راتلونکې (مسافر) هم او څوک چې په دې کې (يعنې په حرم شريف کې) دظلم سره دبې ديني ديو کار کولو اراده وکي نو مونږ به هغه سړي ته دردناک عذاب ورکو .

(معلومات اومسئلې)

په تېرآيت کې دمومنانو او دکافرانو د دوو فريقو ديو بل سره دجګړې ذکر وو ، ددغه جګړې يو خاص صورت يې دا ښوولی دی چې په دوی کې ځينې داسې کفار هم دي کوم چې په خپله پرګمراهي ټينګ دي او نور هم دالله ﷻ په لاره باندې دچليدو څخه منع کوي ، داسې خلګو نبي کريم ﷺ اوصحابه کرام ﷺ کله چې دعمرې احرام يې تړلی وو اوحرم شريف ته دا خليدل نو دوی حرم شريف ته دداخليدو څخه منع کړل حال دا دی چې دمسجد حرام او حرم شريف هغه حصه دکومې سره چې دخلګو دعبادت عمرې اوحج تعلق دی د دوی په ملکيت کې دا خله نه وه دکوم په بناچې به دوی ته دمزاحمت اومداخلت څه حق رسيدی بلکې دغه دټولو خلګو دپاره يو دول ده چې دلته دحرم اوسيدونکې او دبهر څخه راتلونکې مسافران

دښار اوپر دیس ټول برابر دی، مخته د دوی دسزا ذکر دی چی کوم سړی په مسجد حرام (یعنی پوره حرم) کی څه دبی دینی کار وکی لکه خلګ حرم ته دداخلیدو څخه منع کول یابل څه ددین څخه خلاف کارکول نو هغه ته به دردناك عذاب ورکول سی، خاصکر کله چی ددی بی دینی دکار سره ظلم یعنی شرك هم یوځای وی لکه چی دمکی دمشرکانوحال وو کوم چی مسلمانان په حرم کی دداخلیدو څخه منع کړل د دوی دا عمل هم ددین څخه خلاف ناروا وو بیاددی سره دغه خلګ په شرك اوکفرکی هم اخته وه اوکه څه هم ددین څخه خلاف هرکار خاصکر شرك اوکفر هرځای او په هره زمانه کی حرام انتهایی جرم ګناه اوموجب دعذاب دی مګرڅوك چی داسی کار په حرم محترم کی دننه وکی نو ددی جرم دوچنده سی په دی وجه یی دلته دحرم په تخصیص سره بیان کړی دی.

يَصُدُّونَ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ دسبیل الله: څخه مراد اسلام دی دآیت معنی دا ده چی دا خلګ په خپله خو داسلام څخه لیری دی نور هم داسلام څخه منع کوی.

وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ: دا د دوی دوهمه ګناه ده چی دوی مسلمانان مسجد حرام ته دداخلیدو څخه منع کوی مسجدحرام په اصل کی دهغه جمات نوم دی کوم چی دبیت الله شریفی څخه شا اوخوا جوړ سوی دی او دادمکی دحرم یومهم جزء دی مګرځینی وخت مسجدحرام ووایی اومرادورڅخه ټول حرم وی لکه په خپله په دی واقعه کی یعنی مسلمانان دعمری دپاره حرم ته دداخلیدوڅخه دبندولو چی کوم صورت پیښ سو هغه دا وو چی دمکی کفارو دوی صرف جمات ته دتللوڅخه نه بلکه په حدودو دحرم کی یی دداخلیدو څخه منع کړی وه کوم چی په صحیح احادیثو سره ثابت دی اوقرآن کریم په دی واقعه کی دمسجد حرام لفظ په معنی دمطلق حرم استعمال کړی دی، وَصَدُّوكم عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ: په تفسیر درمنثورکی دلته دمسجد حرام په تفسیرکی دپوره حرم مراد کیدل دحضرت ابن عباس ﷛ څخه روایت دی.

(دمکي په حرم کي دټولو مسلمانانو دبرابر حق مطلب)

پردومره خبره دټول اُمّت او فقهاؤ امامانو اتفاق دی چی مسجد حرام او دمکی دحرم شریف هغه ټولی حصی دکومو سره چی دحج دکارونو تعلق دی لکه دصفا مروه دمینځ میدان په کوم کی چی سعی کیږی او دمنی ټول میدان دغه ډول دعرفات ټول میدان او دمزدلفی میدان داټولی مځکی دټولی دنیا دمسلمانانو دپاره وقف عام دی دیوچا ذاتی ملکیت پردی نه چیری سوي دی او نه کیدی سی ددی څخه علاوه دمکی مکرمی عام مکانات او دباقی حرم مځکی ددی متعلق هم دځینو فقهاؤ امامانو دا قول دی چی دغه هم وقف عام دی ددغو خر څول یاپه کرایه ورکول حرام دی هرمسلمان هرځای پاته کیدی سی، مګر دنورو فقهاؤ مختار مسلك دا دی چی دمکی مکانات خاص ملکیت کیدی سی ددی اخستل خرڅول او په کرایه ورکول یی جائز دی دحضرت فاروق اعظم ﷜ څخه ثابته ده چی دوی دصفوان بن امیه مکان په مکه مکرمه کی واخستی او دمجرمانو دپاره یی قیدخانه جوړه کړه، دامام اعظم ابوحنیفه

رحمه الله ځخه په دې کې دوه روايتونه نقل دي يو د اول قول مطابق دوهم د دوهم قول مطابق او فتوى په دوهم قول ده لکه په روح المعاني کې داسي دي دا بحث دفقهي په کتابونو کې په تفصيل سره ذکر دي مګر په دې آيت کې دحرم دکومو حصو ځخه چې دمنع کولو ذکردې دغه حصې په هرحال دتولو په نزد وقف عام دي ددې ځخه منع کول حرام دي دذکر سوي آيت ځخه ددې حرمت ثابتيږي . والله اعلم

وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ : دالحاد معنی په لغت کې دنيکۍ لارې ځخه يو خواته کيدل دي، دلته دالحاد ځخه مراد دمجاهد اوقتاده په نزدکفر اوشرك دي مګرنورو تفسير ليکونکو داپه خپله عامه معنی کې مقرر کړي دي چې هره ګناه او دالله او درسول ﷺ نافرماني په کښې دا خله ده تردې چې خپل نوکر ته بنکنځل کول او بدې ردې ويل هم، او ددې معنی په لحاظ سره حضرت عطاء فرمايي چې په حرم کې دالحاد ځخه مراد په دې کې بغير دحرام ځخه داخليدل يادحرم دممنوعاتو ځخه ديو ممنوع شی کول دي لکه دحرم ښکار کول يايې درخته پريکول وغيره اوکوم شيان چې په شريعت کې منع اوناجائز دي هغه تول هرځای ګناه اوموجب دعذاب دي ، دحرم تخصيص په دې بنا وسو چې لکه ځنګه چې دمکې په حرم کې دنيکۍ ثواب ډير زياتيږي دغه ډول دګناه عذاب هم ډير زياتيږي (قاله مجاهد)

اوحضرت عبد الله ابن مسعود ؓ ځخه ددې يو تفسير داهم نقل دي چې دحرم ځخه علاوه په نورو ځايونو کې صرف دګناه په اراده کولو سره ګناه نه ليکل کيږي ترڅوپوري چې يې عمل نه وي کړی اوپه حرم کې صرف په پخه اراده کولو سره هم ګناه ليکل کيږي قرطبي داتفسيردابن عمر ؓ ځخه هم نقل کړي دي اودې تفسير ته يې صحيح ويلي دي حضرت عبدالله بن عمر ؓ چې به کله حج ته تلی نودوې خيمې به يې لګولې يوه دحرم دننه بله دباندې، په حرم کې که به يې خپل اهل اوعيال ياخادمانوته په يو قسم خبره باندې زورنه ياتنبيه اوعتاب کوی نو دحرم ځخه دباندې والاخيمې ته به تلی داکار به يې هلته کوی خلګو پوښتنه ورځخه وکړه چې په دې کې ځه مصلحت دې؟ نووې فرمايل چې مونږته به دابيانيدل چې انسان کله دغضب په حالت کې کَلَّا وَاللهِ يا بَلَىٰ وَاللهِ الفاظ وايي نو دا هم په الحاد في الحرم کې دا خل دي (مظهري)

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَن لَّا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ

او کله چې صحيح کی مونږ ابراهيم ته ځای ددغه کور چې مه شريکوه زماسره ځوك او پاك ساته زماکور دطواف

وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ

کوونکو دپاره او دولاړو دپاره او رکوع سجده کوونکو دپاره ، او اواز وکړه خلقوته دحج

يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ ﴿٢٧﴾

ځخه، چې راځي تاته پياده اوسپاره په خوارو اوښانو تاته راځي دهرې لارې لير

لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ

چې ورسیږي خپل دفائدې ځایونوته او یاد کړي دالله نوم ، په ورځو معلومو کې

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا

په ذبح باندې دځارووکوم چې الله تعالی ورکړي دي دوی ته ، پس خورئ ددې څخه

الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿۲۸﴾ ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ

او خورئ په بد حالو محتاجانو ، بیا په کار دي چې ختم کړي خپل خیرې او پوره کړي خپل نذرونه

وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾

اوطواف وکړي دپخواني کور .

لنډتفسیر: او (ددې قصې ذکر وکړه) کله چې مونږ ابراهیم (عليه السلام) ته دخانه کعبې ځای وښووی (ځکه چې دغه وخت خانه کعبه جوړه نه وه اوحکم مو ورته وکی) چې (دامکان دعبادت دپاره تیارکړه اوپه دې عبادت کې) زماسره هیڅوك مه شریکوه (داپه اصل کې د دوی څخه وروسته خلګوته اورول وه اودبیت الله دجوړولو سره دشرك دممانعت یوخاص وجه دا هم ده چې دبیت الله طرف ته په لمونځ کولو او ددې څخه په طواف کولو سره یو جاهل دا شبهه ونه کړي چې دا معبوددی) اوزماکور دطواف کوونکو او (په لمانځه کې) دقیام اورکوع اوسجده کوونکو دپاره (دباطنی اوظاهری پلیتیو یعنی کفر اوشرك څخه) پاك ساته (دا هم په اصل کې نوروته اورول وه دحضرت ابراهیم (عليه السلام) څخه خو ددې څخه دخلاف کولو دسره احتمال نه وو) او (حضرت ابراهیم (عليه السلام) ته دا هم وویل سول چې) په خلګوکې دحج (فرض کیدو) اعلان وکړه (په دې اعلان سره) خلګ به تاته (یعنی ستاسې دې مقدسې ابادۍ طرف ته) راځي بیاده هم او (داوږدسفر) په وجه په خوارو سوو اوښانو هم کوم چې دلیرو لیرو لارو څخه را رسیدلي دي (الله جل جلاله کال په کال یې زمونږنصیب کړي او دغه خلګ به ځکه راځي) چې دخپلو (دیني او دنیوي) فائدو دپاره حاضرسي (دیني فائدې خوېې معلومې اومشهورې دي دنیوي فائدې هم که یې مقصودوې مثلاً اخستل خرخول دقرباني غوښې وغيره نو دا هم څه بدې نه دي) او (ددې دپاره به راځي) چې په مقررو ورځوکې (کوم چې دقرباني ورځې دلسم څخه تردولسم تاریخ پورې دي) په هغو مخصوصو حیوانانو باندې (یعنې دقرباني پرحیوانانو دذبح په وخت کې) دالله جل جلاله نوم واخلي کوم چې خدای جل جلاله دوی ته ورکړي دي (حضرت ابراهیم (عليه السلام) ته دخطاب مضمون پوره سو مخ ته امت محمدی ﷺ ته خطاب دی) ددې (قربانۍ د

حیوانانو څخه تاسی هم خوری (چی داجائزدی اومستحب دا دی چی) په بدحاله محتاجه باندی یی هم خوری بیا (دقربانی څخه وروسته) خلګوته په کار دی چی خپلی خیری لیری کړی (یعنی احرام خلاص کړی سر وخر وی) اوخپل واجبات (برابره خبره ده که په نذرسره یی قربانی وغیره واجب کړی وی یابغیردنذرڅخه کوم چی دحج واجب کارونه دی دغه ټوله) پوره کړی او(په دغو معلومو ورځو کی) ددی مامون او محفوظ کور (یعنی بیت الله) طواف وکی (دی ته طواف زیارت وایی)

(معلومات اومسئلي)

ددی څخه په مخکی آیت کی دمسجد حرام اوحرم څخه دخلګو پر منع کوونکو دسخت عذاب وعدہ راغلی وه ، اوس په دی مناسبت سره دبیت الله دخاصو فضیلتونو اوعظمتونو بیان دی چی په دی سره د دوی دکار قباحت نور واضح سی .

(دبیت الله شریفي دجوړولو ابتداء)

وَاِذْ بَوَّأْنَا لِاِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ ، دبَوّءَ : لفظ په لغت کی دځای او د اوسیدو دمکان ورکولو په معنٰی کی راځی دآیت معنٰی دا ده چی دا خبره دذکر اویادولو جوګه ده چی مونږ ابراهیم ﷺ ته دهغه ځای مقام وښوری کوم ځای چی بیت الله ده په دی کی اشاره ده چی حضرت ابراهیم ﷺ دمخکی څخه پردی مځکه ابادنه وو لکه چی درروایتونو څخه ثابته ده چی دی یی دشام دملك څخه په هجرت کولو سره دلته راوستلی وو اوپه مَكَانَ الْبَيْتِ کی دی طرف ته اشاره ده چی بیت الله دحضرت ابراهیم ﷺ څخه مخکی موجوده وه لکه چی په معتبرو روایتونوکی دی چی ددی اولنی بنا دحضرت ادم ﷺ مځکی ته دراتلو څخه مخکی یاددی سره سوی وه اوحضرت ادم ﷺ او دده څخه وروسته انبیاء به دبیت الله شریفی طواف کوی دحضرت نوح ﷺ دطوفان په وخت کی دبیت الله شریفی ابادی پورته سوی وه ښارونه اومعین ځایونه موجودوه حضرت ابراهیم ﷺ یی دلته راوستی او دیره یی کی اوده ته یی حکم وکی ، اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا: یعنی زماپه عبادت کی ځوك مه شریکوه ، ظاهره ده چی دحضرت ابراهیم ﷺ څخه خودشرك کولوهیڅ احتمال هم نه وو، دده بتان ماتول اودشرك کوونکو سره مقابله اوپه دی کی دسختو ازمائشونو واقعات خو دمخکی څخه تیر سوي دي په دی وجه مراد ددی څخه عامو خلګو ته اورول دی چی دشرك څخه ځان وساتی دوهم حکم دا ورکول سو وَطَهِّرْ بَيْتِيَ (یعنی زما کور پاك کړه) دغه وخت که څه هم کورموجودنه وو ، مګر بیت الله په اصل کی د درو دیوالو اوابادی نوم نه دی هغه دهغه مبارك مقام نوم دی په کوم کی چی بیت الله د اول څخه جوړه سوی وه او اوس یی دبیرته دجوړولو حکم ورکول کیږی دغه ځای اومکان پرهرحال موجود وو ددی دپاکولو حکم یی ځکه ورکی چی په دغه زمانه کی هم جُرهم اوعمالقه قوم دلته څه بتان اینبی وه چی عبادت به یی ورته کوی (ذکر القرطبی)

او دا هم کیدی سی چی دا حکم راتلونکو ته اورول وی او دپاکولو څخه مراد لکه چی دکفر اوشرك څخه

پاکول وي او داسې دظاهرې پلټيو اوګندګيو څخه پاکول هم مراد وي او حضرت ابراهيم ﷺ ته په دې خطاب کولو سره نورو خلګو ته ددې داهتمام فکر ورکول وي چې کله کله خليل الله ته ددې حکم وسوکوم چې په خپله په دې عمل کوونکې وو ، نو مونږ ته ددې څومره اهتمام کول په کار دې .
دريم حکم حضرت ابراهيم ﷺ ته دا وسو چې اَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ : يعني په خلګو کې اعلان وکړه چې ددې بيت الله حج پرتاسې فرض سوي دې (بغوی)
ابن ابی حاتم دحضرت ابن عباس ﷺ څخه نقل کړي دې چې کله حضرت ابراهيم ﷺ ته دحج فرضيت داعلان کولوحکم وسو نو دوی الله ﷻ ته عرض وکې چې (دلته خوځنګلې ميدان دی څوك اوريدونکې نسته) کوم ځای چې ابادی ده هلته به زما اوازځنګه ورسيږي الله ﷻ ورته وفرمايل چې ستاذمه واری صرف اعلان کول دې تولې دنياته يې درسولو اوخپرولو ذمه واری پرمونږده حضرت ابراهيم ﷺ پرمقام ابراهيم ودريدی او دا اعلان يې وکې کوم چې الله ﷻ ډير لوړکې او په ځينو روايتونوکې دی چې دی جبل ابوقبيس ته وختې او دا اعلان يې وکې ، په غوږونوکې يې ګوتې کنبيښوولې رسته اوچپه طرف ته مشرق اومغرب هرطرف ته يې دا آواز وکې چې ای خلګوستاسې رب خپل کورجوړکړي دې اوپرتاسې يې ددې کورحج فرض کړي دې ، نو تاسې ټول دخپل رب حکم ومنې .
په دې روايت کې دا هم دې چې دحضرت ابراهيم ﷺ دا اواز الله ﷻ ټولې دنياته ورسوی اوصرف ددغه وخت ژوندو انسانانوته نه بلکې کوم انسانان چې اتنده ترقيامته پورې پيداکيدونکې وه په طور دمعجزې دغو ټولوته يې دا اواز ورسوی او دچا چاپه قسمت کې چې الله ﷻ حج کول ليکلې دې په دوی کې هر يوه ددې اواز په جواب کې ، لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ : ووېل يعنې دحاضريدو اقرار يې وکې ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمايي چې دحج دتلبيې اصل بنياد ددې نداء ابراهيمي جواب دی (قرطبی ومظهری)
مخکې په آيت کې دهغه تاثير ذکر دې کوم چې دحضرت ابراهيم ﷺ اعلان ټولو انسانانو ته د الله ﷻ دطرف څخه درسولو ترقيامته پورې قائم سو هغه دا دې .
يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ: يعنې ددنيا د اطرافوڅخه به خلګ دبيت الله طرف ته راځي څوك پياده څوك سپاره او په سپرلې سره راتلونکې به دليرې ليرې ملکونو څخه راځي ، چې په دې سره به د دوی سپرلې خوارې سې هم دارنګه دهغه وخت څخه ترننه پورې په زرګونو کلونه تير سوي دې اوبيت الله شريف ته دحج دپاره دراتلونکو هم دغه حال دی وروسته راتلونکې ټول پيغمبران او د دوی امتونه هم ددې پابند پاته سول او دحضرت عيسىٰ ﷺ څخه وروسته چې دجاهليت کوم اوږد دور تيرسوی وو مګر دحج دارکانو هم هغسې پابندې وه څنګه چې دحضرت ابراهيم ﷺ څخه منقول اوماثور را روان وه .
لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ : يعنې د دوی دا حاضرې دليرې ليرې هيوادونو دسفر کولو څخه وروسته دخپلې نفع

دپاره ده ، په قرآن کی یی منافع په صیغه دنکره را وړی ددی دعموم طرف ته اشاره یی کړي ده چی په دی کی دینی نفع خو بی شمیره دی دنیوی نفع په کښی هم ډیری لیدل کیږی ،کم ازکم دومره خبره خو دتعجب او حیرانتیا ده چی دحج په سفر باندی عموماً لوی رقم خرڅ کیږی دکوم دپاره چی ځینی خلک ټول عمر محنت کوی ، لږ لږ محفوظ کوی جمع کوی یی او په حج کی یی په یووخت خرڅ کوی ، لیکن دټولی دنیاپه تاریخ کی څوك یوه واقعه داسی نه سی ښوولی چی یو سړی په حج یاعمره کولوسره فقیر اومحتاج سو ، ددی څخه علاوه په نورو کارونو مثلاً دواده کوزدی په رسمونو دکور په جوړولو په خرڅ کولوسره په زرگونو خلق محتاجه اوفقیران سوی هرڅای لیدل کیږي، الله ﷻ دحج اوعمری په دی سفرکی داخصوصیت هم ایښی دی چی په دی سره څوك په دنیوی لوړه تنده اوفقرکی نه اخته کیږی بلکی په ځینو روایتونوکی دی چی په حج اوعمره کی خرڅ کول مفلسی اومحتاجی لیری کوی که غور وسی نو دا به هم په عام طور سره ولیدل سی او دحج دینی نفع خو ډیری دی چی دا یوه په کښی دځه څخه کمه نه ده.

دحضرت ابوهریره ﷺ په حدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دالله ﷻ دپاره حج وکی او په دی کی یی دبی حیایی دکارونو او دگناه دکارونو څخه ځان وساتی نودی به دحج څخه په داسی حالت کی بیرته راسی لکه چی گویا دخپلی مور دنس څخه نن پیدا سوی دی یعنی داسی لکه چی داول پیدا کیدوپه وخت کی کوچنی بی گناه اومعصوم وی دی به هم داسی وی (بخاری اومسلم) (مظهری)

بیت الله ته دیوځای کیدونکو حاجیانو یوه فائده خو دا لوړه ذکرسوه چی دوی خپلی دینی او دنیوی نفع او فائدی وویني دوهمه فائده یی دا ښوولی ده چی ، وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِي أَيَّامٍ مَعْلُومَاتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ : یعنی ددی دپاره چی هغوی دالله ﷻ نوم ذکر کړی په ورځو معلوموکی په هغو حیوانانو باندی کوم چی الله ﷻ دوی ته ورکړي دی په دی کی دټولو څخه اوله خبره خو دا ده چی دقربانی په غوښه او ددی څخه په حاصلیدونکو فائدو باندی نظر کول نه دی په کار بلکی اصل شی دالله ﷻ ذکر دی کوم چی په دی ورځو کی په قربانی کوونکوحیوانانو باندی دقربانی په وخت کی کول کیږی کوم چی دعبادت روح دی ، دقربانی غوښه د دوی دپاره حلاله سوه دا زیات انعام دی ، او دَایَّام معلومات څخه مراد هغه ورځی دی په کوم وکی چی قربانی جائز ده یعنی د ذوالحجی لسم یو ولسم او دولسم تاریخونه اود ، مَا رَزَقَهُمْ مِنْ بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ : الفاظ عام دی په دی کی هرقسم قربانی دا خله ده برابره خبره ده که واجب وی او که مستحب.

فَكُلُوا مِنْهَا : دلته لفظ دَ كُلُوا كه څه هم په صیغه دَ اَمر را غلی دی مگر مراد ددی څخه وجوب نه دی ، بلکه اباحت اوجواز دی ، لکه چی دقرآن په آیت، وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا : کی دښکار حکم په معنی داجازه دی.

مسئله : په مکه معظمه او دحج په زمانه کی مختلف قسم حیوانان ذبح کول کیږی : یو قسم هغه دی کوم چی دځه جرم دسزا په طور دځاروی قربانی واجبیږی ، لکه که چاپه حرم شریف کی دننه ښکار مرکی نوپه

ده باندی په سزاکی دحیوان قربانی واجب ده چی تفصیل یی دفقهی په کتابونوکی دی چی دکوم حیوان
په بدله کی کوم حیوان قربانی کیږی دغه ډول چی کوم کار داحرام په حالت کی منع وی اوهغه چا وکی
نو په هغه هم حیوان ذبح کول لازم اوواجب دی ، کوم ته چی دفقهاؤ په اصطلاح کی دَم جنایت وایی ، په
دی کی هم څه تفصیل سته، دځینو منع سوو کارونو په کولو سره غوا یا اوښ قربانی کول ضروری وی او
دځینو دپاره پسه یابزه کافی وی ، په ځینوکی دم واجب نه وی صرف صدقه ورکول کافی وی ددی
تفصیلاتو دا ځای نه دی احقر په خپله رساله احکام الحج کی په قدر دضرورت لیکلی دی دداسی قسم
دم کوم چی دڅه جنایت او جرم دسزا په طور لازم سوی وی دهغه غوښه خوړل په خپله ددی سړی دپاره
جائز نه ده بلکی دا صرف دفقیرانو اومسکینانوحق دی بل مالدارسړی ته هم ددی خوړل جائز نه دی،
دامت دټولو فقهاؤ په دی اتفاق دی ، باقی هرقسم قربانی که واجب وی اوکه نفلی، په واجب کی
داحنافو شافیعیانو اومالکیانو په نزد دم تمتع او دم قران هم دا خل دی ، ددی ټولو غوښه قربانی
کوونکی دده دوستان اوخپلوان که څه هم غنیان وی هم خوړی سی ، په دی آیت کی ددی بیان دی او ددی
پوره تفصیل دفقهی په کتابونوکی کتل کیږي ، دعامی قربانی غوښه وی اوکه خاص دحج دقربانی وی
ددی ټولو دا حکم دی چی قربانی کوونکی په خپله اوهر مسلمان غنی وی اوکه فقیر ددی څخه یی
خوړلای سی لیکن مستحب دا ده چی کم ازکم دریمه حصه غریبانو فقیرانوته ورکړی ، ددی مستحب
کار بیان دآیت په راتلونکی جمله کی داسی فرمایی وَاَطۡعِمُوا الۡبَآئِسَ الۡفَقِيۡرَ دبائس معنی ډیر تنګدست
مصیبت زده او دفقیر معنی حاجتمند دی، مطلب دا دی چی دقربانی دغوښی څخه په دوی هم خوړل او
ورکول مستحب اومطلوب دی .

ثُمَّ لۡيَقۡضُوۡا تَفَثَهُمۡ : د ، تفث لغوی معنی خیری میری دی کوم چی دانسان په بدن پوری منبتی وی ، د
احرام په حالت کی چونکی دوینیتو خریل پریکول ایستل دغه ډول نوکان پریکول خوشبو لګول دا ټول
شیان حرام دی نو تر دوی لاندی خیری یوځای کیدل یو طبعی خبره ده ، په دی آیت کی دا فرمایی چی کله
په حج کی دقربانی څخه فارغ سی نو خپل خیری لیری کی مطلب دا دی چی اوس احرام خلاص کی اوسر
وخریاست نوکان پریکی او دنامه لاندی وریښته صفاکی ، په ذکر سوی آیت کی اول دقربانی کولو ذکر
راغلی ، ددی څخه وروسته داحرام خلاصولو ، ددی څخه داخبره فائده کیږی چی په دی ترتیب سره کار
کول په کار دی دقربانی څخه مخکی حلق کول یانوکونه پریکول وغیره ممنوع دی او څوک چی داسی
وکی پرهغه به دَم جنایت واجب سی .

(دحج په کارونوکي دترتیب درجه)

کوم ترتیب چی دحج دکارونو په قرآن او په حدیث کی راغلی دی اوفقهاؤ هغه لیکلی دی ، په هغه
ترتیب سره دحج کارونه ادا کول دامت په اتفاق سره کم ازکم سنت خامخادی خو په واجبوالی کی یی

اختلاف دی، دامام اعظم ابوحنیفه اوامام مالك په نزد واجب دی چی ددی په خلاف کولو سره یی د
دجنایت لازمیږي ، دامام شافعی په نزد سنت دی ، په دی وجه ددی په خلاف کولو سره په ثواب کی کم
راځی ، مګر دم نه لازمیږي ، دحضرت ابن عباس ﷺ په حدیث کی دی ، مَنْ قَدَّمَ شَيْئًا مِنْ نُسُكِهٖ اَوْ اَخَّرَهٗ
فَلْيُهْرِقْ دَمًا (رواه ابن ابی شيبة موقوفًا وهوفی حکم المرفوع مظهری) یعنی کوم سړی چی دحج په کارونو
کی یو کارمخکی یا وروسته کی په ده لازمه ده چی یو دم ورکی دا روایت طحاوی رحمه الله په مختلفو
ذریعو سره نقل کړي دی ، او دحضرت سعیدبن جبیر ﷺ قتاده رحمه الله نخعی اوحسن بصری رحمه الله هم دا
مذهب دی ، چی دترتیب څخه په خلاف کونکی باندی دم لازمیږي ، په تفسیر مظهری کی دلته ددې
مسئلې پوره تفصیل اوتحقیق ذکر دی ، دا رنګه دحج دنورو مسئلو هم تفصیل ذکر سوی دی .
وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ : نُذُوْر دنذرجمع ده کوم ته چی په اردوکی منت او په پښتو کی منبه وایی ، ددی حقیقت
دا دی چی کوم کار شرعًا پرچا لازم اوواجب نه وی که دغه په ژبه سره داسی نذر کړی اومنبه یی ومنی
چی زه به داکار کوم یاداچی دالله ﷻ دپاره پرما لازمه ده چی فلانی کاربه کوم نوداندر سی ددی حکم دا
دی چی ددی پوره کول واجب سی که څه هم په اصل سره واجب نه وی مګر ددی دواجب کیدو دپاره
شرط خو په اتفاق دامت دی چی دغه کار شرعًا ګناه اوناجائزه نه وی که یو سړی دګناه دکار نذر ومنی نو
پرده دغه ګناه کول په دی سره نه لازمیږی بلکی ددی خلاف کول پرواجب دی البته پرده به کفاره دقسم
لازمه سی او دامام ابوحنیفه رحمه الله وغیره فقهاؤ امامانوپه نزد دا هم شرط دی چی دغه کار داسی وی
چی دهغه په جنس کی څه عبادت مقصوده شرعیه وی لکه لمونځ روژه صدقه قربانی وغیره چی ددی په
جنس کی څه شرعی واجبات اوعبادات مقصوده سته نوکه یو سړی نفلی لمونځ روژه صدقه وغیره نذر
ومنی نو دغه نفل دده په ذمه واجب سوه چی پوره کول یی دده په ذمه لازم او واجب دی په ذکر سوی آیت
کی دا حکم ثابتیږی ، ځکه چی په دی کی دنذر دپوره کولو حکم ورکول سوي دی .
مسئله: دا یاد ساتل په کار دی چی په زړه کی دیو کار په اراده کولو سره نذر نه کیږی تر څو چی په ژبه
سره الفاظ دنذر ادا نه کړی په تفسیر مظهری کی دلته دنذر اومنبی احکام او مسئلې په ډیر تفصیل سره
جمع کړي دی ، کوم چی پرخپل ځای ډیری مهمی دی مګر دلته یی ګنجائش نسته .

(یو سوال اودهغه جواب)

ددی آیت څخه مخکی هم دحج دکارونو دقربانی او احرام خلاصولو وغیره ذکر سوي دی ، او ددی څخه
وروسته هم دطواف زیارت بیان دی ، په مینځ کی دنذر پوره کولو ذکر په څه مناسبت سره وسو؟ ځکه
چی پوره کول دنذر خو یو مستقل حکم دی په حج کی وی اوکه دحج څخه بغیر په حرم کی وی اوکه دحرم
څخه دباندی په یوملك کی .
جواب دا دی چی که څه هم دنذر پوره کول یومستقل شرعی حکم دی دحج دورڅو یادحج دکارونو

يادحرم سره مخصوص نه دی ، ليكن ذكريي دلته دحج دكارونو په ضمن كې شايد په دی وجه سره دی ، چې انسان كله دحج دپاره وزی نو زړه يې غواړي چې په دی سفركې تر زيات لا زيات نيك كارونه اوعبادتونه ادا كړي په دی كې د ډيرو شيانو نذر هم كوي خاصكر دحيوانانو دقرباني نذر كول خو عام رواج دی ، حضرت ابن عباس ﷺ دلته دنذر څخه مراد دقرباني نذرمقرركړي دی او يو مناسبت دنذر دحج داحكامو سره دا هم دی چې لكه څنګه چې په نذر اوقسم سره پرانسان ډير هغه شيان كوم چې داصل احكامو په وجه سره حرام اونا جائز نه وه هغه پر ده ناجائز اوحرام سی ، داحرام ټول احكام تقريبًا داسی دی چې ګنډلی جامی دخوشبو استعمال دوريښتو پريكول نوكونه پريكول وغيره في نفسه څه ناجائزكارنه وومګرچې ده احرام وتړی نودا ټول كارونه يې پرڅان حرام كړل دغه ډول دحج نوركارونه كوم چې فرض خوپه عمركې يو واروی مګربياچې دحج اوعمری دپاره احرام وتړی نو دا ټول كارونه دده دپاره فرض سی ، په دی وجه حضرت عكرمه ﷺ دلته دنذرپه تفسيركې دافرمايی چې ددی څخه دحج مواجب مراددی كوم چې دحج په وجه سره پرده لازم سول .

وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ : دلته دطواف څخه مراد طواف زيارت دی كوم چې په لسم تاريخ دذی الحجی درمی دجمری اوقرباني څخه وروسته كول كيږي ، داطواف دحج دوهم ركن دی او فرض دی ، اول ركن يې وقوف دعرفات دی كوم چې ددی څخه مخكې ادا كيدی سی ، په طواف زيارت باندی داحرام ټول احكام مكمل سی او ټول احرام خلاص كړل سی . «روی ذلك عن ابن عباس ﷺ ومجاهد والضحاك وجماعة بل قال الطبري وان لم يسلم له لا خلاف بين المتاولين فی انه طواف الافاضة ويكون ذلك يوم النحر ازروح المعانی»

بَيْت عتيق : دبيت الله نوم بيت عتيق څكه دی چې دعتيق معنٰی ازاده ده اونبی كريم ﷺ فرمايلی دی چې الله ﷺ دخپل كور نوم بيت عتيق څكه اينبی دی چې الله ﷺ دا دكفارو او جبابرو دغلبی اوقبضی څخه ازاد كړي دی «رواه الترمذی وَحَسَّنَه والْحَاكِم وصَحَّحَه وابنُ جَرِيْرٍ وَالطَّبْرانِیُّ وغيرُهُم ازروح المعانی»

دهيڅ كافرمجال نسته چې پرده قبضه ياغلبه وكی د اصحاب فيل واقعه پردی باندی شاهده ده والله اعلم په تفسير مظهری كې په دی موقع باندی دطواف مفصل احكام اومسئلی جمع كړی دی كومی چې ډيری مهمی دی كتل يی په كار دی والله اعلم .

ذٰلِكَ ۗ وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا يُتْلٰى

دا واوريده ، او څوك چې تعظيم وكی دالله ﷺ دحرمتونوپس هغه غوره ده دده دپاره دده درب په نزد ، اوحلال

عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ

سوی دی تاسی لره حيوانان مګر كوم چې تاسی ته اورول كيږي پس څان ساتی دبتانو دګندګی څخه اوڅان ساتی

الزُّوۡرِ ﴿۳۰﴾ حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيۡرَ مُشۡرِكِيۡنَ بِهٖ ؕ وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ بِاللّٰهِ

د درواغ خبري څخه ، ديو الله طرف ته سي ېه دا چي دهغه سره شريك جوړ كړي ، اوڅوك چي شريك جوړ كي دالله

فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخۡطَفُهُ الطَّيۡرُ اَوۡ تَهۡوِىۡ بِهِ الرِّيۡحُ

سره پس داسي دي لكه چي راولويدي دآسمان څخه پس وتښتوي دي الوتونكو مردارخورو ياوغورځوي دي هوا

فِىۡ مَكَانٍ سَحِيۡقٍ ﴿۳۱﴾ ذٰلِكَ وَمَنۡ يُّعَظِّمۡ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنۡ

په يو ليرې مكان كي ، دا مو واورديده ، او څوك چي ادب كوي دالله په نوم سووشيانو ، پس دغه

تَقۡوَى الۡقُلُوۡبِ ﴿۳۲﴾ لَـكُمۡ فِيۡهَا مَنَافِعُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ

ده دزړه دپرهيزګاري خبره ، ستاسي دپاره په حيوانانو كي فائدي دي ، تريوي مقرري وعدي پوري بيا

مَحِلُّهَاۤ اِلَى الۡبَيۡتِ الۡعَتِيۡقِ ﴿۳۳﴾ ع

د دوي رسول دي پخواني كور ته .

تفسير: داخبره وسوه (كومه چي دمخصوصواحكام وه) او(اوس نوراحكام چي په كوموكي حج اوعلاوه دحج څخه نوري مسئلي هم دي واوري چي) كوم سړي دالله ﷻ دمحترمو احكامو عزت كوي نو دا دده په حق كي دده درب په نزد ښه ده (داحكامو په عزت كولو كي داهم داخله ده چي علم يې هم حاصل كي اوداهم چي په دي دعمل كولو اهتمام كوي اودالله ﷻ داحكامو عزت كول دده دپاره څكه ښه دي چي هغه دعذاب څخه دنجات اوددائمي راحت سبب دي) اوددغو مخصوصو حيوانانو په استثناء دهغو (څينو څينو) كوم چي تاسي ته ويل سوي دي (يعني دسورة انعام وغيره په آيت، قُلۡ لَّاۤ اَجِدُ فِىۡ مَاۤ اُوۡحِىَ اِلَىَّ مُحَرَّمًا كي دحرامو حيوانانو تفصيل ښوول سوي دي دهغه څخه ماسوا نورحيوانان) ستاسي دپاره حلال سوي دي (په دي ځاى كي دحيوانانو دحلالي والي ذكر يې څكه وكي چي په حالت داحرام كي دښكار په منع كيدو سره چانته داحرام په حالت كي دعامو حيوانانو دممانعت شبهه ونه سي اوكله چي ددين اودنيا ګټه دالله ﷻ دحكمونو په تعظيم كولو كي ده) نو تاسي خلق دګندګي څخه يعني دبتانو څخه ليري اوسيږئ (څكه چي بتان دخداى سره شريكول خودحكم الهي څخه ښكاره بغاوت دي دلته دشرك څخه دمحفوظ كيدو هدايت په خاص طور سره څكه وسو چي دمكي مشركانو چي به په خپل حج كي كومه تلبيه ويله په هغه كي به يې اِلَّا شَرِيۡكًا هُوَلَكَ، يوځاى كول يعني دالله ﷻ هيڅوك شريك بغير دهغو بتانو څخه نسته كوم چي په خپله د الله ﷻ دي) او د درواغو

دخبرې څخه ځان ساتي (برابره خبره ده که دعقیدو درواغ وي لکه دمشرکانو د شرك عقیده یانور قسم درواغ وي) په دې طور سره چې الله ﷻ ته کښته کیږې دهغه سره (څوك) شریك مه جوړوي اوکوم سړي چې دالله ﷻ شریك جوړوي نو (دهغه حالت به داسې وي لکه چې) ګویادې دآسمان څخه راولویدی بیا الوتونکو مارغانو دده غوښې وشکولې یاهوا یو لیرې ځای ته وغورځوي دا خبره هم (کومه چې په طور دقاعدې کلیې وه) وسوه او (اوس یوه ضروري خبره دقرباني دحیوانانو متعلق بله واورې چې) کوم سړي چې دخدای ددین ددې (ذکر سوو) یادګارونو پوره لحاظ وساتي نو دده دالحاظ ساتل په زړه سره دخدای څخه بیره حاصلوي (دیاګارونو دلحاظ ساتلو څخه مراد دالله ﷻ دهغه احکامو پابندي ده چې دقرباني متعلق دي برابره خبره ده که دذبح څخه مخکې احکام وي یا دذبح دوخت وي لکه په هغه دالله ﷻ نوم اخستل یا وروسته دذبح څخه وي لکه دهغه خوړل یانه خوړل چې دکومو دپاره یې خوړل حلال دي هغه یې خوري دچادپاره چې یې خوړل حلال نه وي هغه یې ونه خوري په دې احکاموکې څه خومخکې ذکر سوي دي اوځینې دا دي چې) تاسې ته د دوی څخه تر یو مقرر وخته پورې فائدې حاصلول جائزدي (یعنې تر څو پورې چې هغه دشرعي قاعدو مطابق هدیه نه وي جوړه کړې نو ددې څخه شیدې یا سپرلي یابار وړل وغیره فائدې اخستل جائزدي مګرکله چې دا دبیت الله اوحج یاعمرې دپاره) هدی (قرباني) جوړه سي (نوبیاددې څخه څه نفع اخستل جائزنه دي) بیا (یعنې دقرباني جوړیدو څخه وروسته) ددې دذبح حلالیدو موقع دبیت عتیق په خواکې ده (مراد ورڅخه نه پوره حرم دې یعنې دحرم څخه بهردې ذبح نه کوي)

(معلومات اومسئلې)

د، حُرُمٰتِ اللہ : څخه مراد دالله ﷻ محترم اومعزز جوړ سوي شیان یعنې دشریعت احکام دي د دوی تعظیم یعنې د دوی علم حاصلول او په دې عمل کول ددنیا اوآخرت خوش بختي ده.

اُحِلَّتْ لَکُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّامَایُتْلٰی عَلَیْکُمْ :د انعام څخه مراد اوښان غوایان بزې پسونه وغیره دي چې دحیوان په حالت داحرام کې هم حلال دي اوپه اِلاَّ مَایُتْلٰی کې چې دکومو ځاروو دمستثنا کولو ذکردې دهغو بیان په نورو آیتونوکې راغلی دی هغه مردار ځاروي او غورزیدلي ویشتل سوي او په کوموچې دالله ﷻ نوم نه وي اخستل سوي یاپه کوموچې دغیر الله نوم اخستل سوي وي دا ټول دهمیشه دپاره حرام دي داحرام په حالت کې وي اوکه دغیرحرام په حالت کې.

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ : درجس معنی ناپاکي اوګندګي ده او اوثان دوثن جمع ده معنی یې بت دي بتان نجاست څکه وګڼل سول چې دا دانسان باطن دشرك دپیلتې څخه ډکوي.

وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ : دقول زور څخه مراد درواغ دي دحق څخه خلاف چې څه وي هغه په باطلو او درواغوکې دا خل دي برابره خبره ده که شرك اوکفر فاسدې عقیدې وي یاپه معاملو او شهادتونوکې درواغ ویل وي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې په ټولو کبیره ګناهونوکې غټ کبیره ګناهونه دا دي دالله ﷻ

سره شریك جوړول دمور اوپلار نافرمانی کول او د درواغو شاهدی کول او په عامو خبروکی درواغ
ویل، نبی کریم ﷺ اخری لفظ وَقَوْلَ الزُّوْرِ بار بار وفرمایی (رواه البخاری)

وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللهِ : شعائرد شعیره جمع ده چی معنٰی یی علامت (نښانه) ده کوم شیان چی دیوخاص
مذهب یاجماعت خاص نښانه گڼل کیږی هغه ته ددغو شعائر (نښانی) وایی، داسلام شعائر دهغه خاصو
احکامونوم دی کوم چی په عرف کی دمسلمانیدونښانی گڼل کیږی دحج اکثره احکام ددی قسم څخه دی

مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ : یعنی دالله ﷻ دشعائرو تعظیم کول دزړه دتقوٰی نښانه ده د دوی تعظیم هغه څوك کوی
دچاپه زړه کی چی تقوٰی او دخدای بیره وی، ددی څخه معلومه سوه چی دتقوٰی تعلق په اصل کی دانسان
دزړه سره دی ، هرکله چی په دی کی دخدای بیره وی نو ددی اثر په لو کارونو اوعملونوکی لیدل کیږی

لَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى : یعنی دحیوانانو اوځناورانو څخه شیدی سپرلی بار برداری او دهرقسم نفع
حاصلول ستاسی دپاره ترهغه وخته پوری خوحلال دی ترڅوچی دوی دمکی په حرم کی دذبح کولو دپاره
تاکلی نه وی دقربانی حیوان نه وی ورڅخه جوړسوی ، هدی هغه حیوان ته وایی کوم چی حج یاعمره
کوونکی دخپل ځان سره یو حیوان بیایی چی دا به په حرم کی ذبح کیږی ، هرکله چی دا حیوان دحرم
دپاره نامزد اومقرر کړل سی نو بیا دده څخه څه قسم نفع اخستل بغیر دڅه خاص مجبوری څخه جائزنه دی
لکه اوښ دقربانی دپاره دځان سره بیایی او په خپله پیاده روان وی دسپرلی دپاره بل حیوان ورسره
موجودنه وی او پیاده تلل ده ته گران سی ، نو دمجبوری اوضرورت پربنا دغه وخت دسپریدو اجازه سته

ثُمَّ مَحِلُّهَا اِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيْقِ : دلته دبَیْتِ عتیق څخه مراد پوره حرم شریف دی کوم چی په حقیقت کی دبیت
الله خاص حریم دی لکه په تیر آیت کی چی دمسجد حرام په لفظ سره ټول حرم مراد اخستل سوي دی،
دلته دبیت عتیق څخه مرادهم پوره حرم دی او په مَحِلُّهَا کی دمَحِلْ معنٰی ځای دحلول داجل دی، مراد
ورڅخه نه ځای دذبح دی یعنی دقربانی دځاروو دذبح کولو ځای دبیت عتیق په خواکی دی اومراد
ورڅخه پوره حرم دی کوم چی دبیت عتیق په حکم کی دی ، ددی څخه معلومه سوه چی دهدی ذبح کول
په حرم کی دننه ضروری دی دحرم څخه دباندی جائز نه دی اوبیا حرم عام دی برابره خبره ده که منٰی
دذبحو ځای وی یا په مکه مکرمه کی بل ځای (روح)

وَلِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۗ فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ

او دهرامت دپاره مونږمقرر کړی ده قربانی چی یادکړی دالله ﷻ نوم په ذبح دهغو حیوانانوچی الله ﷻ دوی ته ور کړی دی ،
پس معبود ستاسی یو الله دی.

وَّاحِدٌ فَلَهٗٓ اَسْلِمُوْا ۗ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

پس دهغه په حکم کی اوسیږي او خوشخبری وکړه عاجزی کوونکو ته ، هغه کله چی نوم واخیستل سی دالله

وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي

بيريږي د دوى زړونه او صبر كوونكى په هغه چې دوى ته ورسيږي ، او قائم ساتونكى

الصَّلٰوةِ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا لَكُمْ

دلمونځ او زمونږ د وركړو څخه څه خرڅ كوى ، او په كعبه كى قربانى كوونكى اوښ مقرر

مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ

كړي دي مونږ تاسى دپاره دنښو دالله دنوم تاسى دپاره په دى كې خيردى ، پس وواياست په دى نوم دالله كله چې

فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ

يې ودروى په قطار، بيا هركله چې ولويږي د دوى ارخونه نوخورى ددې څخه اوخورى په صبر كوونكو او بې قرارى

كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿٣٦﴾ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا

كوونكو ، دغسى ستاسى په قبضه كى كړي دي مونږ داخاروى چې تاسى احسان ومنى ، الله ته نه رسيږي د دوى

وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ

غوښى او نه د دوى وينى ليكن هغه ته رسيږي ستاسى دزړه تقوىٰ ، دغه شان دوى يې په واك كى كړي دي

لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٣٧﴾

ستاسى چې دالله لويى وواياست په دى خبره چې تاسى ته يې لاربښوولى ده ، او خوشخبرى وركړه نيكى كوونكو ته

تفسير: او (لوړچې كوم په حرم كى دقربانى ذبح كولو حكم دى په دى سره دى څوك دا نه گڼى چې اصلى مقصود دحرم تعظيم دى بلكى اصل مقصود دالله ﷻ تعظيم او دهغه سره تقرب دى او مذبوح اومُذبح ددى يو آله او ذريعه ده او تخصيص دخينو حكمتونو په وجه سره دى او كه داتخصيصات اصلى مقصودونه واى نو په يو شريعت كى به نه بدليدى مگر ددى بدليدل ظاهر دى البته تقرب الى الله كوم چې اصل مقصود وو هغه په ټولو شريعتونو كى محفوظ پاته سو چنانچې) مونږ (چې څومره اهل شرائع تير سوي دي په دوى كى) دهر امت دپاره قربانى كول په دى غرض سره مقرر كړى وه چې هغوى پرد غو مخصوصو خاروو باندى د الله ﷻ نوم واخلى كوم چې هغه دوى ته وركړى وه (نو اصل مقصود دانوم اخستل وه) نو (ددى څخه داخبره راووته چې) ستاسى معبود (حقيقى) يو خداى دى (چې دهغه په

ذکرکولو سره تولوته دتقرب حکم کیږي) نو تاسي همه تن دهغه سئ (یعني خاص موحدین او سیرز
دیومکان وغیره په معظم بالذات گنلو دیوی ذری قدر دشرك شائبه په خپل عمل کی رانه ولی) او ای
محمد ﷺ کوم خلګ چې زمونږ په دی تعلیم عمل کوی) ته (دداسی الهی احکامو په مخکی) غاړی کښېنه
کوونکوته (دجنت وغیره) خوشخبری ورکړه کوم چې (ددی توحید خالص په برکت سره) داسی دی چې
کله (د دوی په مخکی) د الله ﷻ (داحکامو صفتونو وعدو اوعیدونو) ذکرکول کیږي نو د دوی زړونه
وبیریږي او کوم چې پرهغو مصیبتونو چې پردوی راځی صبر کوی اوکوم چې دلمونځ پابندی کوی او څه
چې مونږ دوی ته ورکړی دی دهغه څخه (په قدر دحکم اوتوفیق) خرڅ کوی (یعني خالص توحید داسی
برکت ناکه شی دی چې ددی په وجه سره بدنی اونفسانی او مالی کوم الات پیدا کیږي) او (دغه شان
لوړچی کوم په تعظیم دشعائرالله دځینونفعو اخستل ممنوع معلوم سوي دی په دی سره دی هم پردی
قربانیو دمعظم بالذات شبهه ونه کړل سی څکه چې ددی سره هم اصل هغه دالله ﷻ او دهغه ددین تعظیم
دی او دا تخصیصات ددی یوه طریقه ده نو) دقربانی اوښ اوغوا (اودغه شان بزه اوپسه هم) مونږ دالله ﷻ
(ددین) یادګار جوړکړي دی (چې ددی متعلق داحکامو په علم اوعمل سره دالله ﷻ دعظمت او ددین
عزت ظاهریږي چې دده دنامزدشی څخه په نفع اخستوکی دمجازی مالك رایه قابل اعتبار پاتــه نه سی
چې په دی سره دده پوره بنده والی او دمالك حقیقی معبودوالی ظاهریږي او ددی دینی حکمت څخه
علاوه) په دی څاروکی کی ستاسی (نوری هم) فائدی دی (مثلاً دنیوی فائده په خپله خوړل او په نورو
خوړول او اخروی فائده ثواب دی) نو (هرکله چې په دی کی داحکمتونه دی نو) تاسي چې دوی ودروی
(دذبح کولو په وخت کی) دالله ﷻ نوم اخلی (دا صرف د اوښانو په اعتبار سره فرمایی چې د دوی په
ولاړی ذبح کول په وجه داسانی دذبح اوتلو دروح ښه دی نو په دی سره خو اخروی فائده یعنی ثواب
حاصل سو او دارنګه د الله ﷻ لویی ظاهره سوه چې دهغه په نوم باندی یو روح قربان سوچی په دی سره
دهغه خالقوالی او دده مخلوق والی ظاهرسو) نو کله چې هغه پر (یو) اړخ ولویږي (اویخ سی) نو تاسي په
خپله یی هم ورڅخه خوری اوبی سوال کوونکی اوسوال کوونکی (محتاج) ته (کوم چې دبائس اوفقیر
دوه قسمونه دی) هم ورکوئ (چې دا دنیوی فائده هم ده او) مونږ داحیوان دغه ډول ستاسی ترحکم لاندی
کړي دی (چې ستاسی سره دخپلی کمزوری او دهغوی دقوت دغه ډول د دوی پرذبح قادرسواست) ددی
دپاره چې تاسي (پردی تسخیر باندی دالله ﷻ) شکر ادا کی (داحکمت مطلق په ذبح کی دی قطع نظر ددی
دقربانی کیدو څخه اومخ ته دذبح تخصیصات مقصود بالذات نه کیدل په یوی عقلی قاعدی سره بیان
فرمای چې ګوری ظاهری خبره خو دا ده چې) الله ﷻ ته نه ددی غوښه رسیږي او نه ددی وینه لیکن هغه ته
ستاسی تقوی (چې نیت دتقرب او اخلاص ددی دشعبو څخه دی البته) رسیږي (نو دغه دتعظیم الهی
مقصودوالی ثابت سو اولکه څنګه چې لوړ په کَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا الخ کی دتسخیر یوعام حکمت یعنی

دقربانی کیدو په خصوصیت سره دقطع نظر کولو په اعتبار سره بیان سوی وو، مخته ددی تسخیر یو خاص حکمت یعنی په لحاظ دقربانی کیدو ارشاد فرمایي چی، دغه دول الله ﷻ داحیوان ستاسی ترحکم لاندی کړل چی تاسی «دالله ﷻ په لاره کی دوی ته قربانی کړی» په دی خبره دالله ﷻ لویی «بیان کړی چی هغه تاسی ته «په داسی شان دقربانی کولو» توفیق درکی «کنه نو دالله ﷻ توفیق که ستاسی رهبری نه وای کړی نو په ذبح کولو کی به تاسی شبهی را ایستلی ددی عبادت څخه به محروم سوی وای اویابه تاسی دغیر الله په نوم ذبح کوله» او «ای محمد ﷺ» اخلاص والاووته خوشخبری واوره «ددی څخه مخکی خوشخبری داخلاص پرشعبو وه دا پرخاص اخلاص باندی ده».

﴿ معلومات اومسئلي ﴾

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا : لفظ د: مَنْسَك او نُسُك دعربی ژبی په اعتبار سره په څو معانیوکی استعمالیږی، یو معنیٰ یی دحیوان قربانی ده بله معنیٰ دحج ټول کارونه او دریمه معنیٰ یی مطلق دعبادت ده، په قرآن کریم کی په مختلفو مواقعو باندی دالفظ په دی دری سره ؤمعانیوکی استعمال سوي دی دلته دری سره معانیوی مراد کیدی سی، په دی وجه دتفسیر په امامانو کی مجاهد وغیره دلته مَنْسَكْ دقربانی په معنیٰ کی اخستی دی نو په دی سره به معنیٰ دآیت داسی چی دقربانی حکم کوم چی ددی امت خلګوته ورکول سوي دی څه نوی حکم نه دی، دتیرو ټولو امتونو پرذمه هم دقربانی عبادت لګول سوی وو اوقتاده په دوهمه معنیٰ کی اخستی دی چی په دی سره به مراد دآیت داسی چی دحج کوم کارونه لکه چی پر دی اُمّت باندی غورځول سوي دی پرتیرو اُمّتونو هم حج فرض سوی وو، ابن عرفه رحمه الله ورڅخه دریمه معنیٰ اخستی ده په دی اعتبار سره به مراد داسی چی مونږ پرتیرو ټولو امتونو د الله ﷻ عبادت هم فرض کړی وو په طریقه دعبادت کی څه ناڅه فرق په ټولو امتونوکی پاته سوي دی مګر اصل عبادت په ټولوکی مشترك راغلی دی، وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ : لفظ دَخْبَت په عربی ژبه کی دکښته مځکی په معنیٰ کی راځی په دی وجه خَبِیْت هغه سړی ته ویل کیږی کوم چی خپل ځان حقیرګڼی، په دی وجه حضرت قتاده اومجاهد دَمُخْبِتِيْنَ ترجمه په مُوَاضِعِيْنَ سره کړي ده عمرو بن اوس فرمایی چی مخبتین هغه خلګ دی کوم چی پرخلګو ظلم نه کوی اوکه څوك په دوی ظلم وکی نو دوی بدله نه ورڅخه اخلی حضرت سفیان فرمایی چی دا هغه خلګ دی کوم چی دالله ﷻ په رضا اوتقدیر راحت اوتکلیف فراخی اوتنګی هرحال کی راضی اوسیږي.

وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ : دَوَجِلْ اصل معنیٰ دهغه بیری اوهیبت ده کومه چی دچادعظمت پربنا باندی په زړه کی پیدا سی، دالله ﷻ دنیکو بندګانو اوصالحانو داسی حال وی چی دالله ﷻ ذکر او نوم واوری نو دهغوی په زړونو کی دهغه دعظمت اولویی په سبب یو خاص هیبت راسی.

وَالْبُدْنَ جَعَلْنَاهَا لَكُم مِّن شَعَائِرِ اللَّهِ : اول تیرسوی دی چی شعائر دهغوخاص احکامو اوعبادتونو نوم دی کوم

چی د دین اسلام نښانی ګڼل کیږی قربانی هم په دی کی ده د داسی احکامو پابندی زیاته اهمه ده.

فَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا صَوَافَّ: صَوَآفَّ په معنی د مصفوفه دی یعنی صف تړلی، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د دی تفسیر دا بیان کړی دی چی حیوان په درو پښو ودریږی یو لاس یی تړلی وی دا صورت د قربانی د اوښ سره مخصوص دی دده قربانی دولاړی په حالت کی سنت او ښه ده دباقی حیوانانو په پروتی ذبح کول سنت دی

فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا: دلته وَجَبَتْ په معنی دَسَقَطَتْ راغلی دی لکه وَجَبَتِ الشَّمْسُ په معنی دسقطت مشهوره محاوره ده مراد ددی څخه دحیوان روح وتل دی.

اَلْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ: په تیر آیت کی چی کوموخلګوته دقربانی غوښه ورکول دی هغه یی دبائس فقیر په لفظ سره یاد کړی دی چی معنی یی ده مصیبت ځپلی محتاج، په دی آیت کی یی دلته دقَانِعَ او مُعْتَرَّ په دوو لفظونو سره ددی تفسیر او وضاحت کړی دی دقَانِعَ څخه مراد هغه محتاج فقیر دی کوم چی دخلګو څخه سوال نه کوی، دخپل غربت او فقر باوجود پرخپل ځای ناست وی څه چی پیدا کیږی پر هغه قناعت کوی او مُعْتَرَّ هغه دی کوم چی داسی مواقعو ته ورځی په کوموکی چی دڅه دپیدا کیدو امیدوی برابره خبره ده که په ژبه سوال کوی او که یی نه کوی (مظهری)

(دعبادتونو خاص صورتونه اصل مقصودنه دی بلکي دزړه اخلاص او اطاعت مقصود دی)

په، لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا: کی دا ښوول مقصود دی چی قربانی کوم چی یو عظیم عبادت دی الله ﷻ ته دد ی غوښه او وینه نه رسیږی او نه مقصود دغه قربانی ده بلکی اصل مقصود پردی باندی دخدای ﷻ نوم اخستل دی او دزړه په اخلاص سره دخدای ﷻ حکم په ځای کول دی، دا حکم دنورو ټولو عبادتونو دی چی دلمونځ کښینستل پورته کیدل په روژه کی اوږی تږی اوسیدل اصل مقصودنه دی بلکی اصل مقصود په اخلاص او محبت سره دالله ﷻ حکم منل دی، که دا عبادتونه ددی اخلاص او محبت څخه خالی وی نو صرف صورت او تابوت دی روح نسته په کی مګر دعبادتونو شرعی صورت او دا نچه هم په دی وجه ضروری ده چی دالله ﷻ دحکم دمنلو دپاره دهغه دطرف څخه دا صورتونه متعین سوي دي والله تعالی اعلم

إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

الله ﷻ دښمنان دفع کوی دمؤمنانو څخه الله ﷻ نه خوښوی دوکه باز نا شکره

لنډتفسیر: بیشکه الله ﷻ به (ددی مشرکانو غلبه او دتکلیف رسولو قدرت) دایماندارو څخه (ډیر زر) لیری کړی (چی بیا به یی دحج وغیره څخه نه سی منع کولی) بیشکه الله ﷻ دوکه باز کفر کوونکی نه خوښوی (بلکه ددا سی خلګو څخه ناراضه دی په دی وجه اخر به دغو خلګو ته مغلوبه او مؤمنو مخلصان به غالبه کړی)

(معلومات او مسئلې)

په تیرو آیتونو کې ددې ذکرو وچې مشرکانونبي کریم ﷺ او د دوی اصحاب ؓ کوم چې دعمرې احترام
نزلي وو مکې مکرمې ته نژدې دحدیبیې مقام ته رسیدلي وه خو حرم شریف او مسجد حرام ته دتللو څخه
منع کړل سول چې عمره ادا نه کړي ، په دې آیت کې مسلمانانو ته ددې وعدې سره تسلي ورکړل سوې ده
چې الله ﷻ به ډیر ژر ددې مشرکانو دا قوت مات کې دکوم په ذریعه چې هغوی پر مسلمانانو ظلم کوي ،
دا واقعه په سنه ۶ هـ کې پیښه سوې وه ددې څخه وروسته پرله پسې دکفارو او مشرکانو طاقت کمزوري
او همت پست کیدی تردې چې په سنه ۸ هجري کې مکه مکرمه فتح سوه په راتلونکو آیتونو کې ددې
تفصیل راروان دی .

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ

حکم وسو هغو خلقو ته دکومو سره چې کافران جنګ کوي په دې وجه چې په دوی ظلم وسو او الله د دوی په مدد

لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا

کولو باندې قادر دی ، هغه خلق کومو چې ویستل سول دکورونو خپلو څخه او دعوه هیڅ نه وه ماسوا ددې څخه

رَبُّنَا اللَّهُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ

چې هغوی ویل زمونږ رب الله دی ، او که نه دفع کولی الله خلق یو په بل نو نړول سوي به وای

صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ

خلوت خانې او مدرسې او عبادت خانې او مسجدونه په کومو کې چې یادیږي دالله نوم ډیر ،

وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الَّذِينَ

او خامخا الله ﷻ مدد کوي دهغو چې مدد کوي دهغه ، بیشکه الله زبردست دی زور اور ، هغه خلق چې

إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا

که مونږ قدرت ورکړو هغوی ته په ملك کې نو دوی قائم ساتي لمونځ او ورکوي زکوٰة او حکم کوي

بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٤١﴾

دنیکۍ او منع کوي دبدۍ څخه ، او دالله په اختیار کې دی انجام دکارونو .

لنډتفسير: (که څه هم تر اوسه دڅه مصلحتونو په وجه دکفارو سره دجنګ ممانعت وو ليکن اوس) دجنګ هغو خلګوته اجازه ورکړل سو دکوموسره چي (دکافرانو دطرف څخه) جنګ کول کيږي په دي وجه سره چي په دوی (ډير) ظلم سوي دی (دا علت دی دجائز کيدو دجهاد) او (په دي حالت کي چي اجازه دجهاد وسو دمسلمانانو لړوالی او دکفارو ډيروالی ته کتل نه دي په کارځکه چي) بيشکه الله ﷻ د دوی پرغالب کولو باندي قادر دی (مخته دمسلمانانو دمظلوميت بيان دی چي) کوم (بي چاره) دخپلو کورونو څخه بي وجهي وايستل سول محض په دي خبره چي هغوی دا ويل چي زموږ رب الله دی (يعني دکفارو دا ټوله غصه او غضب د دوی دتوحيد دعقيدي په وجه باندي پر دوی وو چي دوی يي دومره پريشانه کړل چي وطن يي پريښووی مخته دجهاد حکمت دی) اوکه دا خبره نه وی چي الله ﷻ (هميشه) دخلګو ديو بل د (لاسه) زورنه کمولی (يعني اهل حق يي پراهل باطلو وقتًا فوقتًانه غالب کولی) نو (په خپلو خپلو زمانوکي به) دنصاراؤ خلوت اوعبادت خاني او ديهودو عبادت خاني او (دمسلمانانو) جماتونه په کوموکي چي دالله ﷻ نوم ډير يادولکيږي ټول به نړيدلي (اووران سوی) وای (مخ ته په جهادکي داخلاص په وجه دغلبي خوشخبري ده) او بي شکه الله ﷻ دهغو مددکوی کوم چي دالله ﷻ (ددين) مددکوی (يعني د دوی په جنګ کي نيت خالص د الله ﷻ دکلمي لوړوالی وی) بيشکه الله ﷻ قوت والا (او) غلبي والادی (هغه چي چاته وغواړي قوت اوغلبه ورکولای سی ، مخته د دوی فضيلت دی) دا خلګ داسي دي چي که موږ دوی ته په دنياکي حکومت ورکړو نو دا خلګ په خپله هم دلمانځه پابندي کوی اوزکوة ورکوی او (نوروته هم) دنيکو کارونو دکولو وايي او دبدوکارونوڅخه يي منع کوی اودټولوکارونوانجام خودخدای په اختيار کي دی (نو دمسلمانانو دموجوده حالت په ليدو دا څوك څنګه ويلای سی چي انجام به د دوی دغه ډول وی بلکه ممکنه ده چي ددی عکس وسی هم دارنګه وسوه)

(معلومات اومسئلي)

(دکفارو سره دجهاد اولني حکم)

په مکه مکرمه کي په مسلمانانو دکفارو دظلمونو دا حال وو چي يوه ورځ به خالی نه تله چي يو مسلمان به دکفارو دلاسه زخمي او وهل سوی نه وای راغلی دمکی دقيام په اخري دورکي دمسلمانانو شميرهم خاص زيات سوی وو ، دوی دکفارو دزور ظلم اوزياتوب شکايت او د دوی په مقابله کي دجنګ کولو اجازه غوښتي وه ، نبي کريم ﷺ به په جواب کي فرمايل چي صبرکوی ماته لاتراوسه دجنګ کولو اجازه نه ده راکړل سوی دا سلسله ترلسو کالو پوري دغه ډول جاري وه (قرطبي عن ابن عربي)

هرکله چي نبي کريم ﷺ په خپل وطن مکه پريښودلو اوهجرت کولو محبوره کړل سو اوحضرت صديق اکبر ﷺ د دوی ملګری وو نودمکی مکرمي څخه دوتلو په وخت کي د دوی دژبي څخه ووتل اَخْرَجُوْا نَبِيَّهُمْ لَيَهْلِكُنَّ : يعني دي خلقوخپل نبي ويستی اوس د دوی دهلاکت وخت راغي په دي باندي مدينی طيبی نه

درسیدو څخه وروسته ذکر سوی آیت نازل سو (په کوم کی چی مسلمانانو ته دکفارو سره دجنګ کولو اجازت ورکړل سو) رواه النسائی والترمذی عن ابن عباس ﷺ قرطبی.

او دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ترمذی نسایی ابن ماجه ابن حبان اوحاکم وغیره روایت کړي دی اوترمذی ورته حسن فرمایلی دی روایت دا دی چی حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی دا اولنی آیت دی کوم چی دکفارو سره دجنګ په معامله کی نازل سو، هرکله چی ددی څخه مخکی د اویاوو ۷۰ څخه په زیاتو ایتونو کی جنګ منع سوی وو.

(دجهاد اوقتال یو حکمت)

وَلَوْلَا دَفْعُ اللهِ النَّاسَ: په دی کی دجهاد اوقتال دحکمت او ددی بیان دی چی داځه نوی حکم نه دی تیرو انبیاؤ ﷺ او د دوی امتونوته هم دکفارو سره دجنګ کولو حکمونه ورکول سوي دی اوکه داسی نه کیدی نودیومذهب اودین خیر به نه وای تول دینونه اومذهبونه او د دوی عبادت خانی به نړول سوی وای

لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ: ډیر دینونه اومذهبونه په دنیاکی داسی تیر سوي دی چی په یو زمانه کی د دوی اصل بنیاد دالله ﷻ دطرف څخه او دوحی په ذریعه قائم سوی وو، بیاهغه منسوخ سول اوپه هغوی کی تحریف وسو اوپه کفراوشرك بدل سول مګر په خپل خپل وخت کی هغه حق وه ددغو تولو دعبادتونو ذکر یی په دی آیت کی فرمایلی دی ځکه چی په خپل خپل وخت کی ددغو عبادتخانو احترام اوحفاظت فرض وو، دهغو مذهبونو دعبادتخانو ذکریی ونه فرمایی دکومو بنیادچی هیڅ وخت هم په نبوت او وحی الهی باندی نه وو لکه اتش پرست مجوس یابت پرست هندوان ځکه چی د دوی عبادت خانی په هیڅ وخت کی هم داحترام قابلی نه وی.

په آیت کی صَوَامِعَ دَصومعة جمع ده کوم چی دنصاراؤ تارك الدنیا راهبانو مخصوصی عبادت خانی دی، اوبِيَعٌ دَ بِيعَة جمع ده کوم چی دنصاراؤ دعاموکنیسونوم دی، اوصَلَوَاتٌ د صَلُوتٌ جمع ده کوم چی دیهودو عبادت خانی دی اومَسَاجِدُ دمسلمانانو دعبادت خانو نوم دی.

مطلب دآیت دا دی چی که دکفارو سره دجنګ اوجهاد احکام نه راتلی نوپه یوه زمانه کی به دیومذهب اوملت دپاره دامن ځای نه وای دحضرت موسٰی ﷺ په زمانه کی صَلُوت اودحضرت عیسٰی ﷺ په زمانه کی صوامع اوبیع او دخاتم الانبیاء ﷺ په زمانه کی به مسجدونه نړول سوی وای (قرطبی)

(دخلفاء راشدینو په حق کی دقرآن پیش ګویي اودهغه ظهور)

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ: په دی آیت کی اَلَّذِيْنَ صفت دی دهغوخلګو دکومو ذکرچی ددی څخه په مخکی آیت کی په دی الفاظوسره راغلی دی چی: اَلَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ بِغَيْرِ حَقٍّ: یعنی هغه خلګ کوم چی د دوی دکورونو څخه په ظلم سره بغیر دځه حق څخه وایستل سول ددغوخلګو په باره کی یی په دی آیت کی دا فرمایلی دی چی دا داسی خلګ دی چی که دوی ته په مځکه کی حکومت او اقتدار ورکول

سی نو دا خلک به خپل اقتدارپه دی کارونوکی صرف کړی چی لمونځ به قائموی اوزکوة به ورکوی او
دنیکو کارونو طرف ته به خلکو ته دعوت ورکوی او دبدو کارونو څخه به منع کوی او دا لوړمعلومه
سوي ده چی داآیت دمدینی دهجرت څخه فوراً وروسته هغه وخت نازل سوی دی کوم وخت چی
مسلمانانو ته په یوه مځکه کی هم حکومت اواقتدارحاصل نه وو، مگر الله ﷻ د دوی په باره کی
دمخکی څخه داخبر ورکی چی هرکله دوی ته دحکومت اقتدار ورکول سی نو دوی به ددین دا ذکر سوی
اهم خدمتونه سرته ورسوی ، په دی وجه حضرت عثمان غنی ؓ فرمایی ثَنَاءٌ قَبْلَ بَلَاءٍ یعنی دالله ﷻ دا
ارشاد دکارپه وجودکی دراتلو څخه مخکی ددغه عمل کوونکو ستاینه اوثناء ده بیا دالله ﷻ ددی
خبرچی واقع کیدل یی یقینی وو، په دی دنیا کی وقوع داسی وسوه چی څلور واړه خلفاءِ راشدین
اومهاجرین د: اَلَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا مصداق صحیح سوه، بیا الله ﷻ دوی ته دټولو څخه مخکی په مځکه کی
ځای اوقدرت یعنی حکومت اوسلطنت ورکی اودقرآن دپیشگویی مطابق د دوی عمل اوکردار
اوکارنامو دنیاته وښووله چی دوی خپل اقتدار په دی کارکی استعمال کی چی لمونځونه یی قائم کړل
دزکوة مضبوط انتظام یی وکی نیکو کارونوته یی رواج ورکی او دبدو کارونو لاری بنده کړه.
په دی وجه علماء فرمایی چی دا آیت ددی دلیل دی چی خلفاءِ راشدین ټول ددی مصداق دی اودخلافت
کوم نظام چی د دوی په زمانه کی قائم سو هغه حق اوصحیح اوعینی دالله ﷻ دارادی او رضا او
دپیشگی خبر مطابق دی (روح المعانی)
داخو دایت دشان نزول واقعاتی اړخ دی لیکن داظاهره ده چی کله دقرآن الفاظ عام وی نوهغه په یو خاص
واقعه پوری منحصر نه وی دهغه حکم عام وی، په دی وجه دتفسیر په امامانوکی ضحاك فرمایی چی په
دی آیت کی دهغو خلکو دپاره هدایت هم دی کوموته چی الله ﷻ ملك اوسلطنت ورکړی چی هغوی به
خپل اقتدار کی دا کارونه وکړی کوم چی خلفاءِ راشدینو په خپل وخت کی کړي دی (قرطبی مع توضیح)

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾ وَقَوْمُ

او که تادرواغجن کړی ، نو درواغجن کړی دی ، د دوی څخه مخکی قوم دنوح او عادیانو اوثمودیانو ، او قوم

إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾ وَأَصْحَابُ مَدْيَنَ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ

دابراهیم ؑ او قوم دلوط ؑ ، او دمیدن خلقو او درواغجن کړل سوی وو موسی ؑ

فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾ فَكَأَيِّن

بیامونږ مهلت ورکی منکرانو ته بیا مونږ ونیول دوی ، پس څنګه سو زمونږ څخه انکار ، پس څومره

مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا

کلی مونږ هلاک کړل او هغه گناهکار وو ، پس هغه ولویدی په خپلو چتونو

وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾ أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

اوڅومره څاهان بی کاره سوی دی او څومره پاخه محلونه چونه ، گچ ، ایا دوی نه دی گرځیدلی په ملک کی

فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا

چی د دوی زړونه وای چی دوی پوهیدی یا یی غوږونه وای ، چی دوی په اوریدی

فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي

پس د دوی سترگی ړندی نه دی او لیکن د دوی زړونه ړانده دی هغه چی

الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ

په سینو کی دی ، اوستا څخه ژر غواړی عذاب او الله تعالی هیڅکله نه خلاف کوی خپله وعده

وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾ وَكَأَيِّن

او یوه ورځ ستا درب په نزد د زرو کلونو برابر ده کوم چی تاسی شمیری ، اوڅومره

مِّن قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا وَإِلَيَّ

کلی دی چی مونږ مهلت ورکړی دی ، او هغوی گناهکار وو ، بیا مونږ هغوی ونیول ، او مونږ ته

الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٩﴾

واپسی ده ، ته ووایه ای خلقو ! زه خو بیره اوروونکی یم تاسی ته ښکاره ،

فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ

پس کوم خلق چی ایمان راوړی او نیك عملونه وکی د دوی دپاره بخښنه ده او رزق دی

كَرِيمٌ ﴿٥٠﴾ وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٥١﴾

دعزت او کوم چی کوشش کوی زمونږ دایتونو دعاجزه کولو دغه دی د دوږخ اوسیدونکی

لنډتفسير: او دا (جګړه کوونکي خلګ) که تادرواغجن کوی (نوته مه غمجن کيږه ځکه چي) ددی خلګو څخه مخکي قوم دنوح (عليه السلام) اوعاديانو اوثموديانو اوقوم دابراهيم (عليه السلام) اوقوم دلوط (عليه السلام) اواهل دمدين هم (خپل خپل انبياء عليهم السلام) درواغجن کړي دی اوموسی (عليه السلام) هم درواغجن کړل سوی دی (مګر د درواغ کولو څخه وروسته) ما دی کافرانوته (څوورځی) مهلت ورکی لکه نن چي منکرانوته مهلت ورکول سوي دی بیا مادوی (په عذاب کی) ونیول نو (ګوره) زماعذاب څنګه سو مطلب دا چي څو ورځی کلی دی کوم چي مونږ (په عذاب سره) هلاك کړل دکوموچي داحالت وو چي دوی نافرماني کولی نو (اوس د دوی داحال دی چي) هغه پرخپلو چتونو پريوتلی دی (يعني خراب پراته دی ځکه چي عادتًا اول چت لويږي بیا دیوالونه رالويږي) او (دغه ډول په دغوکلی کی) ډير بی کاره څاهان (کوم چي مخکي ابادوه) ډيرپاخه چونه سوی محلونه (کوم چي اوس نړيدلی دی دا ټول ددغوکليو سره تباه سول نو دغه ډول په وعده سوی وخت به ددی زمانی داخلګ هم په عذاب کی ونیول سی) نوايا داخلګ په ملك کی نه دی ګرځیدلی چي په دی سره د دوی زړونه داسی سی چي پوه سی یایی غوږونه داسی سی چي واوري خبره دا ده چي (دنه پوهیدونکو څه) سترګی ړندی نه دی بلکي زړونه یی کوم چي په سینوکی دی دغه ړندیږي (ددی موجوده منکرانوهم زړونه رانده سوي دی کنه نو دتیرو امتونو دحالاتو څخه به یی سبق اخستی وای) او داخلګ (په نبوت کی دشبهی را ایستلو دپاره) ستا څخه دعذاب تقاضا کوی (اودعذاب په ژرنه راتلوسره دا دلیل نیسی چي عذاب راتلونکی نه دی) حال دا دی چي الله ﷻ هیڅکله خپله وعده نه خلاف کوی (يعني دوعدی په وخت کی به خامخا عذاب واقع کيږي) اوستا درب په نزد یوه ورځ په کومه کی چي به عذاب واقع کيږي يعني دقیامت ورځ په خپل اوږدوالی یاسخت والی کی) ديوزر کلونو برابره ده ستاسی خلګو دشمير مطابق (نو دوی ډير بی عقل دی چي دداسی مصیبت تقاضاکوي او (دذکرسوي جواب خلاصه بیاداوری چي) ډيرکلی دی کومو ته چي مامهلت ورکړی وو او هغوی به نافرمانی کولی بیا مادوی (په عذاب کی) ونیول او دټولوبه زما طرف ته واپسی وی (دغه وخت به پوره سزا درکول کيږي) اوته (داهم) ووایه چي ای خلګو زه ستاسی دپاره یو صفا بیرونکی یم (دعذاب په واقع کولو او نه واقع کولو کی زمادخل نسته او نه ماددی دعوی کړي ده) نوکوم خلګ (چي دابيره واوري ایمان راوړي اونيك عملونه وکی د دوی دپاره دمغفرت اوعزت رزق (يعني جنت) دی اوکوم خلګ چي زمونږ دآیتونو متعلق (د دوی دانکار اوابطال) کوشش کوی (دنبی اوایماندارو) دعاجزه کولو دپاره داسی خلګ به په دوږخ کی (اوسیدونکی) وی.

معلومات اومسئلي: (په مځکه کي سیل اوسفر که دعبرت دپاره وی نو دا ديني مقصود دی)

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ : په دی آیت کی دمځکی سیل اوسفر کول کله چي دعبرت دپاره وی نو ددی ترغیب دی او فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ سره دی طرف ته اشاره ده چي دتیری زمانی اوتیرو قومونو حالات او واقعات لیدل دانسان عقل اوپوهه زیاتوی ، په دی شرط چي دی حالاتوته دتاریخی سوانحو په حیثیت سره نه بلکي دعبرت په نظر سره وکوری نوهره واقعه دعبرت سبق ورنوی.

ابن ابی حاتم په کتاب التفکر کی دحضرت مالك بن دینار څخه نقل کړي دی چي الله ﷻ حضرت موسی

ﷺ ته حکم ورکی چې داوسپنی څپلۍ په پښو کړه او داوسپنی همسا په لاس کی واخله او دالله ﷻ په مخکه کی دومره وګرځه چې دا داوسپنی څپلۍ وسولیږی اوداوسپنی همسا ماته سی «روح المعانی» که دا روایت صحیح وی نو ددی سیل او ګرځیدو مقصد هم دغه عبرت اوپوهه حاصلول دی.

(دآخرت دورځي دزرو کلونو کیدو مطلب)

په ذکرسوی آیت کی چې دا فرمایی ، وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ : یعنی ستا درب په نزد یوه ورځ به ددنیا دزرو کلونو برابر وی په دی کی دوه احتماله دی یو دا چې ددغی ورځی څخه مراد دقیامت ورځ واخستل سی او دهغه دزرو کالوسره دبرابریدو به دامطلب وی چې ددغه بیرونکو اوهیبتناکو حالاتوپه وجه سره به دا ورځ دومره اوږده محسوسیږی لکه زر کلونه ، په لنډ تفسیرکی یی دا داشتداد په لفظ سره تعبیر کړي دی ډیرو حضراتو مفسرینو ددی دامعنی مقرره کړي ده .

دوهمه دا چې په واقع کی دآخرت یوه ورځ دهمیشه دپاره ددنیا دزروکالو برابر وی په ځینو روایتونو دحدیث کی ددی معنی شاهدی پیدا کیږی په مسنداحمد ترمذی کی دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ یوه ورځ فقیرانو اومهاجرینو ته خطاب وکی وي فرمایل چې تاسی ته زه دقیامت په ورځ دمکمل نور خوشخبری درکوم او دا چې تاسی به دغنیانو اومالدارو څخه نیمه ورځ مخکی جنت ته ځی او دالله ﷻ په نزد به یوه ورځ دزروکلونو برابروی په دی وجه فقیران به دغنیانوڅخه پنځه سوه کاله مخکی جنت ته ځی «رواه الترمذی وحسنه مظهری»

په لنډ تفسیرکی یی دا دوهمه معنی په لفظ دامتداد سره تعبیر کړي ده ، والله اعلم

(یوه شبهه او دهغي جواب)

په سورة معارج کی چې یی کومه ورځ دقیامت پنځوس زره کاله مقرر کړي ده كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِيْنَ اَلْفَ سَنَةٍ په دی کی هم دواړه تفسیرونه داشتداداوامتدادکیدی سی اودهرسړی سختی اومصیبت به چونکی دنوروڅخه مختلف اوکم اوزیات وی په دی وجه دغه ورځ به په چاته زرکاله محسوسیږی پرچابه پنځوس زره کاله ،اوکه بله معنی واخیستل سی ، چې په حقیقت کی به دقیامت ورځ پنځوس زره کاله وی نوپه دی دواړوایتونوکی په ظاهره تعارض راځی په چې په یوه کی دزروکالواوپه بل کی دپنځوسو زروکالوذکر دی نوددی تطبیق حکیم الامت قدس سره په بیان القرآن کی دابیان کړي دی کوم چې داهل علمو دپاره په علمی اواصطلاحی الفاظوکی نقل کیږی هغه دادی چې داتفاوت دزروکالوڅخه ترپنځوسو زروکالو پوری اختلاف دافاق په اعتبارسره وی لکه څنګه چې په دنیاکی دمعدل النهارحرکت کوم ځای دولابی دی اوکوم ځای حمائلی اوکوم ځای رحوی اوپه دی وجه سره پرخط استواء باندی یوه شپه او ورځ دځلرویشتو ګنټو وی اوپه قطب شمالی باندی دیو کال او ددی دواړو په مینځ کی په مختلفو مقادیرو مختلفه وی ، دغه دول ممکنه ده چې اول دلمرحرکت کوم چې دمعدل سره دی په طور دخرق عادت او اعجازدومره سست

سی چی پر یوافق به زرکاله ورځ وی او کوم افق چی ددی شخه په پنځوسو حصو اخواته وی په هغه کی به
پنځوس زره کاله وی او په مینځ کی په دی نسبت سره متفاوته وی (والله تعالی اعلم) (بیان القرآن)

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ

او کوم رسولان چی لیږلی دی مونږ ستا شخه مخکی او نبیان بیا چی به

اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِىْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِى

کله یی خیال دویلو وکی نو وبه غورځوی شیطان په خیال دده کی بیا ، الله ﷻ ورانوی دشیطان یوځای سوی

الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿٥٢﴾ لِّيَجْعَلَ

بیا پخوی خپلی خبری الله ﷻ ، او الله ﷻ دهرڅه شخه خبر دی حکمتونو والا ، په دی وجه

مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ

چی څه شیطان یوځای کړی وی په هغه سره ازمائش وکړی دهغو چی په زړونو کی یی مرض دی اودچازړونه

قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِىْ شِقَاقٍ ۢ بَعِيْدٍ ﴿٥٣﴾ وَّلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

چی سخت دی ، او گناهگار خو دی په مخالفت کی لیری لویدلی ، او په دی وجه چی معلوم

اُوْتُوا الْعِلْمَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوْا بِهٖ فَتُخْبِتَ لَهٗ

کړی هغه خلق کوموته چی پوهه رسیدلی ده چی داحق دی ستا درب دطرف شخه ،بیاایمان باندی راوړی پس نرم

قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٥٤﴾

سی دی ته زړونه د دوی ، او الله ﷻ هدایت کوونکی دی مؤمنانو ته دسیده لاری ،

وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِىْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ

او منکران همیشه دی په شک کی ددی شخه ترڅو پوری چی راسی په دوی قیامت

بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿٥٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ

ناڅاپه یاراسی په دوی باندی افت دداسی ورځی چی دخلاصی لارپه کی نسته ، حکومت به په دغه ورځ دالله وی

يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ۖ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فِي جَنَّاتِ

فیصله به وکړي د دوی په مینځ کی ، پس څوك چی ایمان راوړی او نیك عملونه وکړی ، دنعمت په باغونوکی

النَّعِيمِ ﴿٥٦﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٥٧﴾

به وی ، او څوك چی منكر سول او دروا غجن یی کړل ایتونه زموږ پس دغه به وی دذلت په عذاب کی

تفسیر: او (ای محمد ﷺ داخلک کوم چی دشیطان په لمس ستاسره جګړه کوی داڅه نوی خبره نه ده بلکی) موږ ستاڅخه مخکی یو رسول اویونبی داسی نه دی لیږلی کوم ته چی داقصه نه ده پیښه سوی چی کله ده (دالله ﷻ په احکامو کی) څه وویل (نودغه وخت) شیطان دده په ویلو کی (دکفارو په زړونو کی) شبهه (او اعتراض) واچوی (او کفارو به دغه شبهی او اعتراضونه پیش کول او دانبیاؤ علیهم السلام سره به یی جګړی کولی لکه چی په نورو ایتونو کی ارشاددی ، وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُم) بیا الله ﷻ دشیطان غورځول سوی شبهی (په قاطعو جوابونو او واضحو دلیلونو سره) نیستی او نابودی کړی (لکه چی ظاهره ده چی دصحیح جواب څخه وروسته اعتراض دفع کیږی) بیا الله ﷻ خپل آیتونه (یعنی مضامین یی) زیات مضبوط کړی (که څه هم په خپله هم هغه مضبوط او محکم وه لیکن داعتراضونو په جوابونو سره دهغو استحکام زیات واضح سی) او الله ﷻ (ددی اعتراضونو متعلق) ښه علم والادی (او د دوی دجواب په تعلیم کی) ښه حکمت والا دی (او دا ټوله قصه یی ځکه بیان کړي ده) چی الله ﷻ دشیطان غورځول سوی شبهی دداسی خلکو دپاره (د) ازمائش (ذریعه) کړی دکوموپه زړه کی چی (دشکونو) مرض دی او دکومو زړونه چی (بالکل) سخت دی (چی دوی دشك څخه زیات پرباطل یقین کوونکی دی پس د دوی ازمائش کیږی چی وکتل سی چی دجواب څخه وروسته اوس هم دشبهاتو تابعداری کوی یاپه جواب پوه سی او حق قبلوی) او واقعی (دا) ظالمان خلک (یعنی شکیان هم او په باطل یقین کوونکی هم) په لوی مخالفت کی دی (چی حق سره دواضح کیدو څخه محض دعناد په سبب نه قبلوی شیطان ته دوسوسی اچولو تصرف خوځکه ورکول سوی وو چی ازمائش وسی) او (ددی شبهو په صحیح جوابونو او دهدایت رڼا سره باطلوالی ځکه کیږی) چی کومو خلکو ته (صحیح) پوهه ورکړل سوي ده هغوی (په دی جوابونو او نور دهدایت سره) ددی خبری زیات یقین وکی چی دا (کوم چی نبی ویلی دی هغه) ستا درب دطرف څخه حق دی پس پر ایمان زیات قائم سی بیا (دزیات یقین په برکت سره) دهغه (په عمل کولو) طرف ته دهغوی زړونه نورهم مائله سی او بی شکه ایماندارو ته الله ﷻ نیکه لار ښیی (بیابه دغوته هدایت څنګه نه کیږی دا خو دایماندارو حالت سو) او (پاته سول) کافران خلک (نو هغوی) همیشه دهغه (ویل سوی حکم) دطرف څخه په شك کی اوسیږی (کوم چی د دوی په زړونو کی شیطان اچولی وه) تردی چی پردوی ناڅاپه قیامت راسی (چی دهغی هغه بیره هم پوره ده برابره خبره ده که عذاب وی هم نه) یا (ددی څخه زیاته دا چی) پردوی دیو بی برکته ورځی (چی دقیامت ورځ ده) عذاب راسی (او د دواړو

يو ځاى كيدل هم كوم چي په واقع كي به وي نور زيات سخت مصيبت دي مطلب دا دي چي دوی
دليدلو دعذاب ښخه دكفر ښخه نه راګرځي مګر دغه وخت به فائده مندنه وي، بادشاهي به په دغه
دالله ﷻ وي هغه به ددي تولو (ذكر سوو) په مينځ كي (عملي) فيصله وفرمايي پس كومو خلكو چي ايمان
راوړى وي اونيك عملونه يې كړي وي هغوي به دارام په باغونوكي وي اوكومو چي كفر كړى وي او
زمونږ ايتونه يې دوراغ كړي وي دهغو دپاره به دذلت عذاب وي.

معلومات اومسئلي: مِن رَّسُولٍ وَلَا نَبِيٍّ : ددي الفاظو ښخه معلوميږي چي رسول اونبي دوه جدا جدا
مطلبونه لري يو نه دي په دي دواړوكي فرق څه دي؟ په دي كي مختلف اقوال دي مشهوره اوواضحه
ده چي نبي خو هغه سړى ته وايي كوم ته چي دالله ﷻ دطرف ښخه دنبوت منصب دقوم داصلاح دپاره
وركول سوى وي او ده ته د الله ﷻ دطرف ښخه وحي راځي برابره خبره ده كه ته يو مستقل كتاب اوشريعت
وركړل سي اوكه يا دمخكي نبي دكتاب اوشريعت دتبليغ دپاره مامور وي داول مثال حضرت موسى ﷺ
اوحضرت عيسى ﷺ اوخاتم الانبياء ﷺ دي اوددوهم مثال حضرت هارون ﷺ دي كوم چي دحضرت موسى ﷺ
دكتاب تورات او د دوی دشريعت دتبليغ او تعليم دپاره مامور وو اورسول هغه دي كوم ته چي مستقل
شريعت اوكتاب وركړل سوى وي، ددي ښخه داهم معلومه سوه چي دهر رسول نبي والي ضروري دي
مګردهر نبي رسول والي ضروري نه دي ، دا تقسيم دانسانانو دپاره دي ملائكه كومه چي دالله ﷻ دطرف
ښخه وحي راوړي هغه ته رسول ويل ددي منافي نه دي ددي تفصيل په سورة مريم كي تير سوي دي.

أَلْقَى الشَّيْطَٰنُ فِىٓ أُمْنِيَّتِهِۦ لفظ دَتَمَنَّا : دلته په معنى دَقَرَأَ دي او د أُمْنِيَّة معنى قرآئت دي ، دعربي لغت په
اعتبار سره دا معنى هم معروفه ده ، ددي آيت تفسيرچي كوم لوړ په لنډ تفسيركي سوي دي هغه دبرصغير
اوبي غباره دي ابوحيان په بحرمحيط كي او ډيرو نوروحضراتو مفسرينو دا اختيار كړي دي ، دحديث
په كتابونو كي دلته يوه واقعه نقل سوي ده كومه چي دَغرانيق په نوم سره معروفه ده داواقعه دجمهور
محدثينو په نزد ثابته نه ده ځينو حضراتودي ته موضوع دملحدينو اوزنادقه وو ايجاد ويلي دي اوكوم
حضراتوچي دامعتبره هم ګڼلي ده نو دهغه دظاهري الفاظو ښخه چي كوم شبهات دقرآن اوحديث پرقطعي
اويقيني احكامو باندي عائد كيږي دهغوی مختلف جوابونه يي وركړي ليكن دومره خبره بالكل واضحه
ده چي دقرآن ددي آيت تفسير پردغه واقعه باندي موقوف نه دي بلكي دډي ساده مطلب هغه دي كوم چي
لوړ بيان سو ، بي وجهي هغه ددي آيت دتفسير جزء جوړول شكونه اوشبهي پيدا كول اوبيايي دجواب
وركولو فكر كول څه دفائدي كارنه دي په دي وجه هغه پرښوول كيږي . والله سبحانه وتعالى اعلم

وَٱلَّذِينَ هَاجَرُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوٓا۟ أَوْ مَاتُوا۟

او كوم خلق چي كور پريږدي	دالله ﷻ په لاركي ،	بيا قتل كړل سي يامړه سي

لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾

خامخا به دوی ورکړی الله رزق خاص ، او الله دی دټولو څخه غوره رزق ورکوونکی ،

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ۭ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾

خامخا به داخل کړی دوی یو ځای ته چې دوی به یې خوښ کړی او الله ﷻ په هرڅه پوه تحمل والا دی.

تفسیر: اوکوموخلکوچې دالله په لاره کې (یعنی ددین دحفاظت دپاره) خپل وطن پرېښووی (چې ذکریې په تیرو ایتونوکې هم په ، اَلَّذِیْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِیَارِهِمْ الفاظو سره سوي دی) بیا دغه خلګ (دکفارو په مقابله کې) قتل سول یا (هسې په طبعي مرګ سره) مړه سول (دغه ناکامه اومحرومه نه دی که څه هم دوی ته ددنیا فائدې ورنه کړل سې مګر په آخرت کې) الله ﷻ به دوی ته خامخا یوښه رزق ورکړی (یعنی دجنت بې شمیره نعمتونه) اویقینًا الله ﷻ دټولو ورکوونکو څخه ښه (ورکوونکی) دی (اوددی ښه رزق سره به) الله ﷻ دوی لره (د اوسیدو ځای هم ښه ورکړی یعنی) داسې ځای ته به یې بوزي او داخل کړی کوم چې به هغوی (ډیر) خوښ کړی (پاته سوه دا خبره چې ځینې مهاجرین دغسې ددنیوی فتح اونصرت او ددی دفائدو څخه محروم ولې سول او د دوی په مقابله کې کفار د دوی په قتل کولو قادر ولې سول دوی دالله ﷻ په قهرولې هلاك نه سول نوددی وجه داده چې) بیشکه الله ﷻ (دهرکار حکمت اومصلحت) ښه پیژنی (د دوی په دې ظاهري ناکامي کې هم ډیر مصلحتونه اوحکمتونه دی او) ډیر بردباره دی (په دې وجه دښمنانو ته فورًا سزا نه ورکوی)

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ

دا دی واوریده ، او چاچې بدله واخیسته لکه چې ده ته درد رسول سوی وو بیا په ده خوك زیاتوب وکړی

لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾

نو خامخا به دده مدد وکړی الله ، بیشکه الله عفوه کوونکی بخښوونکی دی .

تفسیر: دا (مضمون خو) وسو او (مخته دا واوری چې) کوم سړی (دښمن ته) دومره قدر تکلیف ورسوی څومره چې (ددښمن دطرف څخه) ده ته تکلیف رسول سوی وو بیا (ددی سړي په سرکیدو څخه وروسته که دغه دښمن دطرف څخه) پردی سړي زیاتی وسو نو الله ﷻ به ددی سړي خامخا مدد وکی بیشکه الله ﷻ ډیر معافی کوونکی ډیر مغفرت کوونکی دی .

معلومات اومسئلې: څو ایتونه مخکې دا مضمون ذکر سوي دی چې الله ﷻ دمظلوم مدد کوی ، وَاِنَّ اللّٰهَ لَقَوِیٌّ

نَصَرَهُمْ لَقَدِيْرٌ : مگرمظلومان دوه قسمه دي يوهغه چاچي ددښمن څخه دظلم انتقام اوبدله دسره نه وي
اخستي بلکي معاف یی کی یایی پرېښووي، دوهم هغه سري چاچي ددښمن څخه سر په سر بدله واخسته
چې ددي مقتضا دا وه چې اوس دواړه برابرسول مخکي داسلسله ختمه سوه مگر دښمن دده دبدلي
اخستو په بنا نورغصه سو او دوباره یی حمله وکړه اوزیات ظلم یی وکی نو دا سري بیامظلوم پاته سو،
په دي آیت کی ددي دوهم قسم دمظلوم دامدادهم وعده ده، مگردالله ﷻ په نزدښه دا ده چې سري دسره
پرظلم صبر وکی اومعاف یی کی انتقام وانه خلي لکه چې په ډيرو ایتونوکی ددي ذکر دي مثلاً ، فَمَنْ
عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللهِ او ، وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى او ، وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ فَإِنَّ ذٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُوْرِ په
دي تولو ایتونوکی ترغیب ددي ورکرل سوي دي چې دظلم بدله وانه خلي بلکي معافي وکی اوصبروکي
دقرآن کریم ددي هدایتونو څخه ددي طرز ښه والي اوافضل والي ثابت سو، ذکرسوي سري چاچي دخپل
دښمن څخه سر په سر بدله واخسته ده په دي ښه والي اوبهتروالي اوپه ذکرسوو قراني هدایتونوعمل
پرېښووي نوپه دي سره شبهه کیدي سوه چې اوس دي شاید دالله ﷻ دنصرت څخه محرومه سي، په دي
وجه دآیت په اخر کی یی ارشاد وفرمایي ، إِنَّ اللهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ، یعني الله ﷻ ددي سري په دي کوتاهی باندي
چې په ښه والي اوبهتروالي یی عمل ونه کی دده څخه به څه مواخذه نه فرمایي بلکي اوس هم که مخالف
دوباره پرده څه ظلم وکی نو دده امداد به دالله ﷻ دطرف څخه کیږي (روح المعاني)

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللهَ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَأَنَّ اللهَ سَمِيْعٌ

دا څکه چې الله تعالی ننباسي شپې په ورځ کی اوننباسي ورځ په شپه کی او الله اوري

بَصِيْرٌ ﴿٦١﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّ اللهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ

ویني ، دا په دي وجه چې الله ﷻ هغه دي چې حق دي او کوم چې دوی بلي دهغه

دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ وَأَنَّ اللهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿٦٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ

څخه ماسوا هغه غلط دي ، او الله ﷻ هغه دي دټولو څخه لوړ لوی ، ته نه گوري چې

اللهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً

الله نازلوي داسمان څخه اوبه بیا مځکه سی سرسبزه ،

إِنَّ اللهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿٦٣﴾ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

بیشکه الله پټ تدبیرونه پيژني خبردار دي ، دهغه دي څه چې دي په اسمانونو او مځکه کی

وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۶۴﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا

او الله هغه دی بې حاجته صفتونو والا ، ته نه گوری چې الله ﷻ قابو کړی ستاسی

فِي الْاَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ

څه چې دی په مځکی کی او کشتی کومی چې چلیږي په دریاب کی دهغه په حکم سره، او ټینګ کړی یې دی اسمان

اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ اِنَّ اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ

ددې څخه چې را ولویږي په مځکه مګر دهغه په حکم سره ، بیشکه الله ﷻ په خلقو نرمی کوونکی

رَّحِيْمٌ ﴿۶۵﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ اَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ

مهربان دی ، او هغه تاسی ژوندی کړی ، بیا تاسی مړه کوی ، بیا به تاسی ژوندی کړی

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿۶۶﴾

بیشکه انسان نا شکره دی.

لنډتفسیر: دا (مومنان غالب کول څکه) چې الله ﷻ (دکامل قدرت خاوندذی هغه) دشپی (اجزاء) په ورځ کی او دورځی (اجزاء) په شپه کی دننه کوی (دا دکائناتو انقلاب دیو قوم پربل قوم دغالب کوونکی انقلاب څخه زیات عجیبه دی) او په دی سبب سره دی چې الله ﷻ (ددی ټولو خبرو اوحالاتو) ښه اوریدونکی اوښه لیدونکی دی (هغه دکافرانو ظلم او دمومنانو مظلومیت اوری وینی په دی وجه هغه دټولو حالاتو څخه خبردار هم دی اوقوت اوقدرت هم دهغه دټولو څخه لوی دی دامجموعه سبب سو دکمزورو دغالب کولو) او (دا رنګه) دا (نصرت) په دی سبب سره (یقیني) دی چې (په دی کی دیوطاقت مجال نسته چې په دی کی د الله ﷻ مزاحمت وکی څکه چې) الله ﷻ کامله هستی ده اودکوموشیانوچې دالله څخه ماسوا داخلک عبادت کوی هغه بالکل باطل دی (چې هغوی په خپله په خپل وجودکی محتاج هم دی کمزوری هم هغوی به څه د الله ﷻ سره مزاحمت وکړی) او الله ﷻ عالی شان دټولو څخه لوی دی (په دی کی په غورکولو سره دتوحید په حقوالي او دشرك په باطلوالي باندی هرسړی پوهیدی سی ددی څخه علاوه) ایا تاته خبر نسته چې الله ﷻ دآسمان څخه اوبه را وورولی چې په دی سره مځکه سرسبزه سوه (بیا) بیشکه الله ﷻ ډیر مهربانه دټولو خبرو څخه خبردار دی (نوپه دی وجه دبندګانو په ضرورتونو خبردار دی مناسبه مهربانی کوی) توله هرڅه دهغه دی څه چې په آسمانونوکی دی اوڅه چې په مځکه کی دی اوبیشکه الله ﷻ داسی دی چې دهیڅا محتاج نه دی دهرقسم صفتونو لائق دی (اوای مخاطبه!) ایاته

نه گوري چې الله ﷻ ستاسي دخلګو په کار کي لګولي دي دمځکي شيان اوکښتني (هم) چې هغه په دریاب کي دهغه په حکم سره چليږي او هغه آسمانونه پرمځکه دلويدو څخه ټينګ کړي دي البته کله چې دهغه حکم وسي (نودا هرڅه کيدی سي او دبندګانو ګناهونه اوبدعملونه که څه هم دداسي حکم کولو مقتضي دي مګر بياهم چې داسي حکم نه کوي نو وجه دا ده چې) بيشکه الله ﷻ پر خلګو لوی شفقت اورحمت کوونکی دی اوهغه دی چاچې تاسي ته ژوند درکړی بيا (په وعده سوي وخت) به تاسي ته مرګ درکړي بيا (په قيامت کي) به تاسي ژوندي کړي (ددي انعاماتو او احساناتو تقاضاوه چې خلګو توحيد او دالله ﷻ شکراختيارکړي واي مګر) واقعي انسان لوی ناشکره دی (چې اوس هم دکفر اوشرک څخه نه راګرځي مراد ټول انسانان نه دي بلکي هغه دي کوم چې دهغه په ناشکري کي اخته دي)

معلومات اومسئلي: سَخَّرَلَكُم مَّا فِي الْاَرْضِ : يعني دمځکي ټوله شيان يې دانسان مسخرجوړکړي دي دمسخر جوړولو ظاهري اوعامه معنٰی داګڼل کيږي چې هغه دده دحکم تابع چليږي ددي معنٰی په لحاظ سره دلته دا شبهه کيدی سي چې دمځکي غرونه دريابونه درندګان او دهوامرغان اونورپه زرګونو شيان خودانسان دحکم تابع نه چليږي مګر يوشي دچاپه خدمت کي لګول چې هروخت ورله دغه خدمت کوي داهم په حقيقت کي دهغه دپاره تسخيردی که څه هم هغه دده په حکم کي نه بلکي دمالك حقيقي په حکم سره داخدمت پوره کوي ، په دي وجه دتسخير ترجمه دلته په کارکي په لګولو سره سوي ده ، دالله ﷻ په قدرت کي دا هم وه چې داټول شيان يې دانسان دحکم تابع هم جوړکړي واي ، مګر ددي نتيجه به په خپله دانسان په حق کي مضره وه ، ځکه چې دانسانانو طبيعتونه خواهشات اوضرورتونه مختلف وي يوانسان به درياب ته دخپل مخ بل طرف ته داړولو حکم کوي اوبل به بل طرف ته نونتيجه به يې بغير دفساد څخه نوره هيڅ نه وه، الله ﷻ په دي وجه دا ټول شيان دخپل حکم تابع خو وساتل مګر دتسخير اصل فائده يې انسان ته ورسوله .

لِكُلِّ اُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْاَمْرِ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ

دهري امت دپاره مونږ مقرر کړي ده لار دبندګي چې هغوی دغسي بندګي کوي پس تا سره دجګړه نه کوي په دي کارکي او ته بلنه ورکوه خپل رب طرف ته .

اِنَّكَ لَعَلٰى هُدًى مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۶۷﴾ وَاِنْ جٰدَلُوْكَ فَقُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۸﴾

بشکه ته يې په سيده لاره برابره باندې ، او که ته ستاسره جګړه کوي نو ته ووايه چې الله پوه دی په هغه چې

اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۶۹﴾

تاسي يې کوي الله به فيصله وکي په تاسي کي دقيامت په ورځ په کوم شي کي چې تاسي په هغه کي اختلاف کوئ

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّ

ایا تا ته معلومه نه ده چې الله ﷻ پوه دی په هغه څه چې په اسمانونو کې دي او مځکه کې ، او

ذَٰلِكَ فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ۝

ټول لیکلی دي په کتاب کې ، دا په الله ﷻ باندي اسانه ده .

لنډتفسیر: (څومره امتونه چې داهل شریعتو تیرسوي دي په دوی کې) مونږ دهرامت دپاره دذبح کولوطریقې مقرری کړې دي چې هغوی به په دغوطریقو ذبح کولې نو (اعتراض کوونکو) خلکوله په کار دي چې په دې کار (ذبح) کې ستاسره جګړه نه کوي (د دوی خوستاسره دبحث او دجګړې کولوحق نسته مګرتاته حق سته څکه چې) ته (دوی ته) دخپل رب (یعني دهغه ددین) طرف ته بلنه ورکوه ته یقیناً پرصحیح لاره باندي یې (په صحیح لاره تلونکوته حق وي چې پرغلطه لاره تلونکې خپل طرف ته راوبلي په غلطه لاره باندي تلونکوته داحق نه وي) اوکه چیري (په دې هم) داخلګ ستاسره جګړه کوي نوته دا وفرمایه چې الله ﷻ ستاسي کارونه ښه پیژني (هغه به ستاسي سره پوره سي مخته ددې وضاحت دي چې) الله ﷻ به ستاسي په مینځ کې دقیامت په ورځ (عملي) فیصله وکې په کوموشیانوکې چې تاسي اختلاف کوئ (مخته ددې تائید دي چې) ای مخاطبه ! آیاتاته معلومه نه ده چې الله ﷻ ټوله شیان پیژني څه چې په آسمان اومځکه کې دي (اوپه علم الهی کې دمحفوظ کیدو سره دا هم) یقیني خبره ده چې دا (یعني د دوی ټولې خبرې اوعملونه) په علمنامه کې (هم محفوظ) دي (پس) یقیناً (ثابته سوه چې) دا (فیصله کول) دالله ﷻ په نزد اسانه دي .

معلومات اومسئلې: لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا : دامضمون تقریباً په دې الفاظو سره ددې سورة په آیت ۳۴ کې تیر سوي دی مګرپه دواړو ځایونوکې دمَنسَكٌ دلفظ په معنی اومرادکې فرق دی، هلته نسک اومنسک دقرباني په معنی کې په ضمن داحکامو دحج کې راغلی وو ، په دې وجه هلته دواو سره وو وَلِكُلِّ أُمَّةٍ یې فرمایلی وو ، دلته دمَنسَكٌ بله معنی (یعنی احکام دذبحې یاعلم دشرعي احکامو) اوبل مفهوم مراد دی او دا یو مستقل حکم دی په دې وجه یې داپه عطف سره نه دی بیان کړی، ددې آیت په تفسیرکې یوقول خوهغه دی کوم چې په لنډ تفسیرکې راوړل سوي دي چې ځینو کفارو به دمسلمانانو سره د دوی دذبحو متعلق فضول بحث اوجګړې کولې اوویل به یې چې ستاسي دمذهب داحکم عجیبه دی چې کوم څاروی تاسي په خپلو لاسو قتل کړي هغه خوحلال وي اوکوم چې بې له واسطې الله ﷻ مړکړي یعني عام مردار څاروی نوهغه حرام وي ددوی ددې جګړې په جواب کې داآیت نازل سو (کمارواه الحاکم وصححه والبیهقی فی الشعب عن علی بن حسن ﷺ وابن عباس ﷺ انهانزلت بسبب قول الخزاعیین! روح المعاني)

دلته طریقه دذبح به دمنسك معنٰی وی او حاصل دجواب به دا وی چی الله ﷻ دهریو امت او شریعت دپاره دذبح احکام جلاجلا ایښی دی دنبی کریم ﷺ شریعت یومستقل شریعت دی ددی داحکامو معارضه دیر مخکی شریعت داحکامو سره کول هم جائزنه دی دالاخه چی تاسی یی دخپل غلط خیال اورایه سره معارضه کوی یعنی دِمردارخاروی نه حلالوالی خوښه ددی امت سره خاص نه دی په تیروتولو شریعتونوکی هم حرام راغلی دی نوستاسی داخبره خوبالکل بی بنیاده ده، ددی بی بنیاده خیال په بناسره دصاحب شریعت نبی سره جگړه اومعارضه کول بی وقوفی اوحماقت دی(داسی په روح المعانی کی یی دآیت معنٰی بیان کړي ده)

او جمهورو مفسرینو دلته لفظ دمَنْسك دعامو شرعی احکامو په معنٰی کی اخستی دی ځکه چی په اصل لغت کی دمنسك معنٰی یومعین ځای دی کوم چی خاص دعمل خیر یاشر دپاره مقرر وی اوپه دی وجه دحج احکامو ته مناسك الحج ویل کیږی چی په دی کی خاص خاص مقامات دخاصو احکامو اوعملونو دپاره مقرر دی (ابن کثیر)

اوپه قاموس کی یی دلفظ دنسك معنٰی عبادت لیکلی ده په قرآن کریم کی اَرِنَا مَنَاسِكَنَا ددی معنٰی دپاره راغلی دی، دمناسك څخه مراد دعبادت شرعی احکام دی، دحضرت ابن عباس ﷛ څخه دا دوهم تفسیر هم روایت سوي دی ، ابن جریر ابن کثیر قرطبی روح المعانی وغیره کی یی ددی عامی معنٰی تفسیر اختیار کړي دی او دآیت سیاق اوسباق هم ددی قرینه ده چی دمنسك څخه مراد شریعت او ددی احکام دی او دآیت مطلب دا دی چی مشرکان اومخالفان داسلام کوم چی دشریعت محمدیه پراحکامو نه وی نوهغوی دی واوری چی په تیر یوشریعت اوکتاب سره دنوی شریعت اوکتاب معارضه اوجګړه کول باطل دی ځکه چی الله ﷻ هرامت ته دهغه په وخت کی یوخاص شریعت اوکتاب ورکړی دی چی دهغه تابعداری پردغه امت باندی ترهغه وخته پوری جائزوه تر څو چی بل امت او بل شریعت دالله ﷻ دطرف څخه نه وو اوکه دده یو حکم دمخکی شریعتونو څخه خلاف وی نواولنی حکم به منسوخ او دابه ناسخ ګڼل کیږي، په دی وجه ددی صاحب شریعت سره چاته دجګړی اومنازعی اجازت نه سی کیدی دآیت اخری الفاظو فَلاَ يُنَازِعُنَّكَ فِي الْاَمْرِ دامطلب دی چی په موجوده زمانه کی کله چی خاتم الانبیاء ﷺ یومستقل شریعت راوړی دی نوچاته ددی حق نسته چی دده دشریعت په احکامو کی جګړه اومنازعه پیدا کړی.

ددی څخه دا هم معلومه سوه چی په اولنی تفسیر او دی دوهم تفسیر کی په حقیقت کی هیڅ اختلاف نسته کیدی سی چی دآیت نزول دذبح په باره کی دیوخاص جګړی په سبب سوی وی ، مګر دآیت عام الفاظ په ټولوشرعی احکامو باندی مشتمل دی او اعتبارعموم دلفظ لره وی دمورد خصوص لره نه وی نوحاصل د دواړوتفسیرونوبه داسی چی کله الله ﷻ هرامت ته جداجدا شریعت ورکړي دی چی په هغه

کی جزئی احکام مختلف هم وی نو په یوتیر شریعت باندی عمل کوونکی ته دیونوی شریعت سره
دمعارضی اوجګړی هیڅ حق نسته بلکی پرده ددغه نوی شریعت تابعداری واجب ده، په دی وجه دآیت
په اخرکی یی وفرمایل، وَادْعُ إِلَى رَبِّكَ إِنَّكَ لَعَلَى هُدًى مُسْتَقِيمٍ : یعنی ته ددی خلګو په خبرو اوجګړو پسی
مه څه بلکی په خپل منصبی فرض دعوت الی الحق کی مشغول اوسه څکه چی ته پر حقه لارباندی یی
ستا مخالف بی لاری سوي دی.

(دیوی شبهې جواب)

ددی څخه داخبره هم واضحه سوه چی دشریعت محمدی دنزول څخه وروسته یوچاپه مخکی شریعت
عمل کوونکی مثلاً یهودی نصرانی وغیره ته ددی وینا حق نسته چی په خپله قرآن زمونږ دپاره په دی
آیت کی په دی ویلو سره داګنجائش پیدا کی چی هریو شریعت د الله ﷻ دطرف څخه دی په دی وجه که په
زمانه داسلام کی هم مونږ په شریعت موسوی یاعیسوی عمل کوو نومسلمانانو ته نه دی په کارچی
زمونږ سره اختلاف کوی څکه چی هرامت ته دخاص شریعت ورکولو دذکر کولو څخه وروسته دتولی
دنیا خلګوته داحکم هم ورکړل سوي دی چی په شریعت محمدی دقائمیدو څخه وروسته دی هغوی ددی
شریعت مخالفت نه کوی دا یی نه دی فرمایلی چی مسلمانان دی دغه تیر شریعت دیوحکم څخه خلاف
څه نه وایی او ددی آیت څخه په ورپسی آیت سره دا مضمون نورهم زیات واضح کیږی په کوم کی چی
داسلامی شریعت خلاف مجادلی کوونکو ته تنبیه ورکړل سوي ده چی الله ﷻ ستاسی په دی
حرکتونو باندی ښه پوه دی هغه به ددی سزا درکړی ، وَإِنْ جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ .

وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَمَا لَيْسَ لَهُمْ

اوعبادت کوی دالله ﷻ څخه ماسوا دهغه شی دکوم چی سند نه دی نازل سوی اودکوم چی خبر نسته دوی ته

بِهِ عِلْمٌ ۗ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ نَصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ

او دبی انصافو هیڅوک مدد ګار نسته ، او کله چی واورول سی دوی ته

آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ۖ يَكَادُونَ

زمونږ ایتونه واضحه نو پیژنی به ته دمنکرانو بد شکلونه دمخونو ، نژدی وی

يَسْطُونَ بِالَّذِينَ يَتْلُونَ عَلَيْهِمْ آيَاتِنَا ۗ قُلْ أَفَأُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ

چی حمله وکړی په هغو چی وایی دوی ته زمونږ ایتونه ، ته ووایه چی ایا زه ونه ښیم تاسی ته ددی څخه

مِّنْ ذٰلِكُمْ اَلنَّارُ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَبِئْسَ

ناکاره شی هغه اور دی دهغه وعده کړی ده الله دمنکرانو سره او دغه دیر

الْمَصِيْرُ ﴿۷۲﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ اِنَّ

بد دواپسی ځای دی ، ای خلقو ! یو مثال بیانیږي ، پس دی ته غوږ کښیږدی ، دکومو چی

الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا

تاسی عبادت کوی دالله تعالی څخه ماسوا هرګز نه سی جوړولی یو مچ که څه هم تول جمع سی

لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ ضَعُفَ

او که چیري وتښتوی د دوی څخه مچ څه شی نو نه یی سی ورڅخه خلاصولی ، بی کاره دی

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ﴿۷۳﴾ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

عبادت کوونکی او بی کاره دی معبود ، دالله تعالی قدر دوی ونه پیژندی څنګه چی دهغه قدر دی ، بیشک

لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۷۴﴾

الله تعالی زور اوردی زبردست .

تفسیر: او دا (مشرکان) خلک دالله ﷻ څخه ماسوا دداسی شیانو عبادت کوی دکومو (دعبادت دجواز) دپاره چی الله ﷻ څه دلیل (په خپل کتاب کی) نه دی رالیږلی او نه د دوی سره ددی څه (عقلی) دلیل سته او (په قیامت کی) کله (چی دوی ته په شرک سزا ورکول کیږی نو) ددی ظالمانو چی به هیڅوک مددګار نه وی (نه قولاً چی د دوی ددی کار په ښه والی باندی څه دلیل پیش کی نه عملاً چی دوی دعذاب څخه خلاص کی) او (دی خلګو ته په دی ګمراهی او د اهل حقو سره په عنادسا تلوکی دومره غلوده چی) کله ددی خلګو په مخکی چی مونږ ایتونه (دتوحید وغیره متعلق) کوم چی (په خپلو مضامینوکی) ښه واضح دی (داهلِ حقو دژبی څخه) ویل کیږی اورول کیږی نو ستاسی کافرانو په مخونوکی (پر زړونو دبدو لګیدو په وجه) بدی نښانی لیدل کیږی (لکه مخ ګونجی کیدل پزه تروهل وغیره اوپه دی نښانوسره داسی معلومیږی چی) نژدی ده چی په دغو خلګو (اوس) حمله وکی کوم چی زمونږ ایتونه د دوی په مخکی وایی (یعنی همیشه دحملی شبهه وی او کله کله داحمله واقع سوی هم ده پس یکادون بی

راستمرار په اعتبار سره وفرمايي) ته (دی مشرکانوته) ووايه چې (پرتاسې چې کوم ددی قرآن کريم دا اېتونه اوريدل بدلګيږي نو) ايا زه تاسې ته ددې (قرآن) څخه (هم) زيات دبدلګيدو شي وښيم هغه دوږخ دی (چې) دهغه الله ﷻ دکافرانو سره وعده کړي ده او هغه ډير بدځای د اوسيدو دی (يعنې دقرآن دبدلګيدو نتيجه بدلګيدونکی دوږخ دی ددی بدو لګيدو خو په غصه سره په غضب سره په انتقام سره څه تدارك هم کول کيدی سی مګر ددغه بدلګيدوبه څه علاج وکی کوم چې به په دوږخ سره وی مخته په پوبديهي دليل سره دشرك ابطال دی چې) ای خلګو يوه عجيبه خبره بيانيږي دی ته غوږکښيږدی واوری هغه دا ده چې) په دی کی هيڅ شك نسته چې دکوموتاسی خلګ دخدای څخه ماسوا عبادت کوی هغه خو يو (ادنی) مچ قدرنه سی پيدا کولی که څه هم ټول جمع (هم) سی او (پيدا کول خو لويه خبره ده هغه خو داسی عاجزان دی چې) که چيری د دوی څخه مچ يوشی (چې پردوی اينسوول سوی وی دهغه څخه) وښتوی نودغه خو يی دهغه څخه ازادولی هم نه سی داسی بی کاره عبادت کوونکی او داسی بی کاره معبوددی (افسوس دی) چې دی خلقو دالله ﷻ چې څنګه تعظيم په کار وو (چې دهغه څخه ماسوا يی دچاعبادت نه کولی) هغه يی ونه کی (چې شرك يی شروع کی حال دا دی چې) الله ﷻ لوی قدرت والا پرتولو غالب دی (نوعبادت خالص دهغه وو نه چې دغير قوی اوغيرِ غالب دکوم چې نيستوالی دقوت په واضحو وجهو سره معلوم سو)

معلومات اومسئلي: (دشرک اوبت پرستي داحمقانه حرکت په يومثال سره وضاحت)

ضُرِبَ مَثَلٌ د ضُرِبَ مَثَلٌ لفظ په عام طور سره ديوخاص قصی دتمثيل دپاره استعماليږی دلته دضُرِبَ مَثَلٌ څخه داصورت مرادنه دی بلکی دشرکت اوبت پرستی حماقت په يوواضح مثال سره بيانول دی چې دا بت کوم چې تاسی يی خپل کارساز ګنی دا خو داسی بی وسه اوبی چاره دی چې که ټول يوځای سی نوديو مچ قدر حقيرشی هم نه سی پيداکولی اوپيدا کول خولوی کار دی تاسی روزانه دوی ته متايانی ميوی وغيره دخوراك شيان راوړی او مچان هغه خوری نو دوی دومره هم نه سی کولی چې مچان دخپل شی څخه وشړی اوخپل شی ورڅخه وساتی نو دوی به تاسی ديوافت څخه څنګه محفوظ کړی؟ په دی وجه دآيت په اخرکی د دوی جهالت اوبی وقوفی يی په دی الفاظو سره تعبير کړي ده، ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ : يعنی دچامعبود چې داسی بی وسه وی دهغه عابدبه ددی څخه زيات کمزوری وی .

مَاقَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِه: يعنی څومره بی وقوفه احسان فراموشه دی دی خلقودالله ﷻ هيڅ قدر ونه پيژندی چې دداسی عظيم الشان قدرت والا سره يی داسی بی وسه بی شعوره دبری برابری کړی . والله اعلم

اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ

پيغام رسوونکی	دملائکو څخه	الله تعالی غوره کوی

النَّاسِ ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٧٥﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَ

او دانسانانو څخه ، الله اوري اوويني ، پوه دی په هغو چی د دوی په مخکې دی او څه

مَا خَلْفَهُمْ ۗ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٧٦﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

چی د دوی وروسته دی ، او الله ﷻ ته رسيږي هر يو كار ، ای ايماندارو !

ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ

ركوع كوی او سجده كوی او بندگی كوی دخپل رب او نيكی كوی چی تاسی

تُفْلِحُونَ ۩ ﴿٧٧﴾ وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ ۚ هُوَ اجْتَبَاكُمْ

خيرپيداكی ، او محنت كوی دالله دپاره څنگه چی په كاردی دهغه دپاره محنت ، هغه خوښ كړی یاست

وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ۚ مِلَّةَ أَبِيكُمْ

تاسی ، او نه يی دی ايښی په تاسی په دين كی څه مشكل دين ستای دپلار

إِبْرَاهِيمَ ۚ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ ۙ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَٰذَا

ابراهيم ؑ هغه نوم ايښی دی ستاسی مسلمان دمخكې څخه او په دی قرآن كی

لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى

چی سی رسول ﷺ شاهد په تاسی باندی او تاسی شاهدان سی

النَّاسِ ۚ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ

په خلقو پس قائم ساتی لمونځ او وركوی زكوٰة اومضبوط ونيسی الله ، هغه

مَوْلَاكُمْ ۖ فَنِعْمَ الْمَوْلَىٰ وَنِعْمَ النَّصِيرُ ﴿٧٨﴾

ستاسی مالك دی پس ډير ښه مالك دی او ډير ښه مددگار دی.

لنډتفسير: الله ﷻ (ته اختيار دی چی درسالت دپاره څوك وغواړي) منتخب كوی دملائكو څخه (كوم ملائكی چی غواړي) احكام (دالله نبيانو ته) رسوونكی (مقرركوی) او (دغه شان) دانسانانو څخه هم رجانه

چې وغواړي دعامو خلګو دپاره احکام رسوونکي مقرر کوي چې رسالت خداى ﷻ هغه چاته ورکوي کوم چې هغه منتخب کي په دې کې څه دملائکه کيدو خصوصيت نسته يعني لکه څنګه چې دملائکه کيدو سره رسالت يوځاى کيدى سي کوم چې مشرکان هم مني لکه چې دملائکو رسول کيدل به دوى په خپله تجويز کول دغه ډول دانسان والي سره هم دغه يوځاى کيدى سي پاته سوه داخبره چې داانتخاب په يوخاص پوري څنګه واقع سو نوظاهري سبب يې خوځانګړتياوي داحوالو ددغه رسولانو دي او دا) يقيني خبره ده چې الله ﷻ ښه اوريدونکى ښه ليدونکى دى (يعني) هغه ددغو (ټولو ملائکو اوانسانانو) راتلونکي اوتير حالتونه (ښه) پيژني (نو موجوده حالت خوبه يې په درجه اولى سره پيژني غرض ټول حالات د اوريدو اوليدو هغه ته معلوم دي په دې کې دځينو حال ددى انتخاب کولومقتضي سو) او (حقيقي سبب ددى دا دى چې) دټولو کارونو مدار پر الله ﷻ باندي دى (يعني هغه مالك مستقل بالذات اوفاعل مختاردى دهغه اراده مرجع بالذات ده دهغه دارادى دپاره دڅه مرجع ضرورت نسته پس حقيقي سبب يې اراده دخداى ﷻ ده او دهغه څخه دسبب پوښتنه کول عبث دي او دا معنى ددى قول دالله ﷻ ده لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ يعني دالله ﷻ دهغه ديو کار دسبب دپوښتني کولو هيچاته حق نسته)

(مخته دسورة په ختمولو باندي اول دفروعو اوشرائعو بيان دى اوپه ملت ابراهيمي باندي داستقامت حکم يې ورکړي دى او ددى دترغيب دپاره يې ځيني مضامين ارشاد فرمايلي دي) اى ايماندارو! (تاسي داصولو قبلولو څخه وروسته دفروعو پابندي ساتي خصوصًا دلمونځ پس تاسي) رکوع کوى اوسجده کوى او (په عام طور سره فروع هم په ځاى کوى) دخپل رب عبادت کوى اونيك کارونه کوى اميد (يعني وعده) ده چې تاسي به فلاح پيدا کى او دالله ﷻ په کارکي ښه کوشش کوى لکه چې دکوشش کولوحق دى ، هغه تاسي (دنورو امتونو څخه) ممتاز فرمايلي ياست (لکه چې په آيت جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا وغيره کي ذکردى) او په تاسي يې په دين کي څه قسم تنګى نه ده راوستلي (اواى ايماندارو! دکوم اسلام چې تاسي ته حکم سوى دى چې احکام يې ټول پوره کوئ او دا ملت ابراهيمي دى) تاسي دخپل پلار ابراهيم (ﷺ) په ملت قائم اوسي هغه ستاسي لقب مسلمان ايښى دى مخکي هم او په دى (قرآن) کي هم چې ستاسي دپاره رسول الله ﷺ شاهد سي او (ددى شاهدى درسول ﷺ څخه مخکي) تاسي (په يوه لويه مقدمه کي په کومه کي چې به يوفريق انبياء وي اوفريق ثاني به د دوى مخالف قومونه وي ددى مخالفو) خلګوپه مقابله کي به شاهدان ياست (او درسول په شهادت سره به ستاسي دشهادت تصديق وسى او دانبياؤ په حق کي به فيصله وسي) پس (زمونږ احکام پوره پرځاى کوى پس) تاسي خلګ (په خصوصيت سره) دلمونځ پابندي ساتي اوزکوة ورکوى او (په باقي احکامو کي هم) الله ﷻ مضبوط ونيسى (يعني په عزم اوهمت سره ددين احکام پرځاى کوى دغيرالله رضا اوعدم رضا او دخپل نفس دمصلحت اومضرت طرف ته مه ګورى) هغه ستاسي کار ساز دى نو څنګه ښه کارساز دى اوڅنګه ښه مددګار دى .

معلومات اومسئلي : (دسورة حج دتلاوت سجده)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ : په سورة حج کی یوآیت خومخکی تیر سوي دی چی په
هغه دتلاوت سجده کول په اتفاق واجب ده په دی آیت کوم چی دلته ذکردی دتلاوت دسجدی په
واجبیدوکی دامامانو اختلاف دی ، دامام اعظم ابوحنیفه امام مالك سفیان ثوری رحمهم الله په نزد پردی
آیت سجده دتلاوت واجب نه ده ځکه چی په دی کی دسجدی ذکر درکوع وغیره سره راغلی دی چی
دلمونځ سجده مراد کیدل ورڅخه ظاهردی لکه په ، وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرَّاكِعِينَ کی دټولو اتفاق دی
دلمونځ سجده ورڅخه مراد ده ، ددی په تلاوت کولو سره دتلاوت سجده نه واجبیږی دغه ډول په ذکر
سوی آیت دتلاوت سجده واجب نه ده، دامام شافعی اوامام احمد په نزد په دی آیت هم دتلاوت سجده
واجب ده د دوی دلیل یوحدیث دی چی په هغه کی ارشاددی چی سورة حج ته په نورو سورتونو
دافضیلت حاصل دی چی په دی کی دتلاوت دوی سجدی دی دامام اعظم ابوحنیفه (رحمه الله) په نزد ددی
روایت په ثبوت کی خبره ده ، تفصیل یی دفقهی اواحادیثوپه کتابونو کی دی .

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ : لفظ دجهاد اومجاهده دیو مقصد په حصول کی خپل پوره قوت خرځ کول او
هغه دپاره دمشقت تیرولو په معنی کی راځی، دکفارو سره په جنګ کی هم مسلمان خپل قول اوفعل
اوهر قسم امکانی طاقت خرڅ کوی په دی وجه هغه ته هم جهاد ویل کیږی او دحَقَّ جِهَادِهِ څخه مراد په
دی کی پوره اخلاص دالله ﷻ دپاره کیدل دی چی په دی کی څه دنیوی نوم نمائش یادغنیمت دمال څه
شائبه نه وی او نه په کی ددی څه طمع وی .

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی حق جهاد دا دی چی په جهادکی خپل پوره طاقت خرڅ کی اودچا ملا
متیا کوونکی ملامتیا ته غوږنه ایږدی ، اوځینی مفسرین حضرات دلته دجهاد معنی په عامو عبادتونو
او دالله ﷻ په حکمونو پوره کولوکی خپل پوره طاقت په پوره اخلاص سره خرڅ کولوکی اخلی ، ضحاك
اومقاتل فرمایی چی دآیت مراد دا دی چی (اعملوا لله حق عمله واعبدوه حق عبادته) عمل کوی د الله
دپاره لکه څنګه چی حق دعمل دهغه دی اوعبادت کوی دالله لکه څنګه چی حق دعبادت دهغه دی .

اوحضرت عبدالله ابن مبارك فرمایی چی دلته دجهاد څخه مراد دخپل نفس او دده دبی ځایه خواهشاتو
په مقابله کی جهاد کول دی او داحق دجهاددی ، امام بغوی رحمه الله وغیره ددیَ قول په تائید کی یوحدیث
هم دحضرت جابربن عبدالله رضی الله عنه څخه نقل کړي دی چی یووار داصحابو کرامو رضی الله عنهم یوجماعت کوم چی
دکفارو سره دجهاد دپاره تللی وو بیرته را غلل نو نبی کریم ﷺ وفرمایل .

قَدِمْتُمْ خَيْرَ مَقْدَمٍ مِنَ الْجِهَادِ الْأَصْغَرِ إِلَى الْجِهَادِ الْأَكْبَرِ قَالَ (يعنی الراوی) مُجَاهَدَةُ الْعَبْدِ لِهَوَاهُ (رواه
البیهقی وقال هٰذَا اسناد فیه ضُعْفٌ)

یعنی تاسی خلک ښه بیرته راغلاست دکوچنی جهاد څخه دلوی جهاد طرف ته یعنی دخپل نفس دبی

خایه خواهشاتو دمقابلې جهاد اوس هم لاجاري دی «دابیهقي روایت کړي دی مګر ویلي یې دي چې په اسناد کې یې ضعف دی»

فائده: په تفسیرِ مظهري کې یې دا دوهم تفسیر اختیار کړي دی ددې آیت څخه یې دا مسئله را ایستلې ده چې صحابه کرامو ﷺ به چې کله دکفارو په مقابله کې جهاد کوی ، دنفساني خواهشاتو دمقابلې جهاد خو دغه وخت هم جاري وو مګر په حدیث کې یې دا دواپسې څخه وروسته ذکر کړي دی ، په دې کې اشاره دا ده چې دنفس دخواهشاتو دمقابلې جهاد که څه هم دجنګ په میدان کې هم جاري وو ، مګر عادتًا جهاد دشیخ کامل په صحبت باندې موقوف دی ، په دې وجه دهغه جهاد څخه په واپسۍ او دنبي کریم ﷺ په خدمت کې دحاضرۍ دوخت څخه شروع سو.

(امت محمدی دالله ﷻ منتخب امت دی)

هُوَ اجْتَبٰكُمْ : دحضرت واثله بن اسقع ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې الله ﷻ په ټولو بني اسمٰعیلو کې دکنانه انتخاب وفرمایی بیاپه کنانه کې دقریش بیاپه قریش کې دبني هاشم بیاپه بني هاشم کې یې زما انتخاب وفرمایی «رواه مسلم مظهري»

وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ : یعني الله ﷻ ددین په معامله کې په تاسې څه تنګي نه ده اېښې ، په دین کې دتنګي نه کیدو مطلب ځینو حضراتو دابیان کړي دی چې په دین کې داسې څه ګناه نسته کوم چې په توبه سره معاف نه سي او دآخرت دعذاب دخلاصي څه صورت را ونه وزي په خلاف دتیرو امتونو څخه چې په هغوی کې ځیني ګناهونه داسې هم وه کوم چې به په توبه کولو نه معاف کیدل .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمایي چې دتنګي څخه مراد هغه سخت اوګران احکام دي کوم چې په بني اسرائیلو عائد سوي وه کوم چې قرآن کریم په اِصْر او اَغْلال سره تعبیر کړي دی په دې امت داسې یوحکم نه دی فرض سوی ، ځیني حضرات فرمایي چې دتنګي څخه مراد هغه تنګي ده کومه چې انسان ونه زغمل سي ، ددې دین په احکامو کې یوحکم داسې نسته کوم چې فی نفسه ناقابل برداشت وي پاته سو لږ ډیر محنت اومشقت نو دغه خو ددنیا په هرکار کې وي ، تعلیم حاصلول ، بیاپه نوکري تجارت اوصنعت کې خومره خومره محنتونه برداشت کول کیږي ، مګر په دې وجه دانه سي ویل کیدی چې داکار ډیرسخت اوګران دی ، دماحول غلط کیدو یامخالف کیدو یاملك اوښارکې ددې درواج نه کیدو په سبب چې په کوم کارکې سختي پیښیږي هغه ته ددغه کارسختي نه سي ویل کیدی ، کوونکی ته په دې وجه ګران معلومیږي چې په ماحول کې دده سره څوك ملګري نه وي ، په کوم ملك کې چې د دوډۍ پخولو عادت نه وي هلته دوډۍ تر لاسه کول خومره ګران سي ، په دې ټول پوه وي مګر ددې باوجود څوك دانه وایي چې دوډۍ پخول خومره ګران کار دی .

اوحضرت قاضي ثناء الله رحمه الله په تفسیرِ مظهري کې فرمایي چې په دین کې دتنګي نه کیدو دامطلب هم

کیدی سی چی الله ﷻ دا امت دټولو امتونو څخه دځان دپاره منتخب فرمایلی دی دهغه په برکت سره بی ددی امت خلګوته ددین په لاره کی لوی لوی تکلیفونه برداشت کول هم اسان بلکی خوندناك جوړ کړي دی په محنت سره راحت پیدا کیږی بیا کله چی په زړه کی دایمان خوږوالی پیدا سی نوټول ګران کارونه هم سپك او اسان سی ، په حدیث شریف کی دحضرت انس ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلٰوةِ : یعنی په لمونځ کی زما دسترګو یخوالی دی «رواه احمد والنسایی والحاکم وصححه»

مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ : یعنی دا ملت ستاسی دپلار حضرت ابراهیم ﷺ دی ، داخطاب په اصل کی قریشو مؤمنانو ته دی کوم چی دحضرت ابراهیم ﷺ دنسل څخه دی بیاټول خلګ دقریشو په تابعداری کولو سره په دی کی داخلیږی لکه چی په حدیث کی دی ، اَلنَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ فِي هٰذَا الشَّاْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ «رواه البخاری ومسلم مظهری» یعنی ټول خلګ په دی دین کی دقریشو تابع دی مسلمانان دمسلمانانو قریشو تابع دی اوکافران دکافرانو قریشو تابع دی .

اوځینی حضرات فرمایی د اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ خطاب دټول امت مسلمانانو ته دی اوحضرت ابراهیم ﷺ ددی ټولو دپاره پلار کیدل په دی اعتبارسره دی چی نبی کریم ﷺ دامت روحانی پلار دی لکه چی پاکی بیبیانی دمسلمانانو میندی دی اونبی کریم ﷺ خو دحضرت ابراهیم ﷺ په اولاد کی کیدل ظاهره او معلومه ده .

هُوَ سَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هٰذَا : یعنی حضرت ابراهیم ﷺ دامت محمدی اوټولو ایماندارو نوم دقرآن څخه مخکی مسلم ټاکلی دی او په خپله په قرآن کریم کی هم لکه چی دحضرت ابراهیم ﷺ دعا په قرآن کی داسی منقول ده ، رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ : او په قرآن کریم کی چی کوم دایماندارو نوم مسلم ایښوول سوي دی ددی ایښوونکی که څه هم بی له واسطی حضرت ابراهیم ﷺ نه دی مګر دقرآن څخه مخکی دده دا نوم تجویز کول په قرآن کریم کی په دی نوم سره دمسمّٰی کولو سبب جوړ سو په دی وجه ددی نسبت هم حضرت ابراهیم ﷺ ته وسو .

لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ : یعنی ده ﷺ به په محشرکی شاهدی کوی چی ما دالله ﷻ احکام دی امت ته رسولی وه ، اوامت محمدی به ددی اقرار کوی، مګر نور انبیاء علیهم السلام چی کله دا ووایی نو د دوی امتونه به منکر سی دغه وخت به امت محمدی شهادت ورکړی چی بیشکه ټولو انبیاؤ علیهم السلام خپل خپل قوم ته دالله ﷻ احکام رسولی وو ، دنورو امتونو دطرف څخه به د دوی په شهادت داجرح وسی چی زمونږ په زمانه کی خو د امت محمدی وجود هم نه وو دوی زمونږ په معامله کی څنګه شاهدان کیدی سی؟ د دوی دطرف څخه به دجرح دا جواب وی چی بیشکه مونږ موجودنه وو مګر مونږ دا خبره دخپل رسول ﷺ څخه اوریدلی ده دکومی په رښتینوالی کی چی هیڅ شك

او شبهه نشته ، په دې وجه مونږ دا شاهدي ورکولی شو تر د دوی شهادت به قبول شي ، دا مضمون دهغه حدیث دی کوم چې بخاري وغیره دحضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت کړي دی

اقیموا الصلاة وآتوا الزکاة : مراد دا دی چې هرکله الله ﷻ په تاسې خلګو داسې عظیم احسانات فرمایلي دي کوم چې لوړ ذکر سول نو تاسې فرض دا دی چې دالله ﷻ داحکامو په پابندۍ کې پوره کوشش وکړی. په دې کې دلته دلمونځ اوزکوٰة په ذکر پسوالی څکه وسوچې دبدن سره په تعلق لرونکو عملونو حکمونو کې لمونځ دټولو څخه اهم دی او دمال سره په تعلق لرونکو حکمونو کې زکوٰة ډیراهم دی ګویا مراد دټولو شرعي احکامو پابندي کول دي

واعتصموا بالله یعني په خپلو ټولو کارونو کې صرف په الله ﷻ توکل لرئ دهغه څخه مدد غواړئ او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایي چې مراد ددې اعتصام څخه دا دی چې دالله ﷻ څخه دعا غواړئ چې تاسې ددنیا اوآخرت دټولو مکروهاتو څخه محفوظ وساتي او ځینې حضرات فرمایي چې د واعتصموا بالله معنی دا ده چې په قرآن او سنت منګولې ولګوئ او مضبوط یې ونیسئ لکه چې په حدیث کې نبي کریم ﷺ فرمایي.

ترکت فیکم امرین لن تضلوا ما تمسکتم بهما کتاب الله وسنة رسوله رواه مالك في الموطأ، مرسلا مظهري، ما په تاسې کې دوه شیان داسې پرې ایښي دي ترڅو چې تاسې دغه دواړه نیولي وي ګمراه به نه سئ دالله ﷻ کتاب او دوهم درسول ﷺ سنت.

تم تفسیر سورة الحج بعون الله سبحانه وبه نعتصم هو مولانا ونعم النصیر. الحمد لله دسورة حج دتفسیر اکثر (ډیره) برخه دا شهر حج اخري میاشت ذي الحجة کې پوره سوه دپوره سورة تفسیر په اوو ۷ ورځو کې مکمل سو، پنځه ۵ ورځې دذي الحجې سنه ۱۳۹۰ هجري او دوې ورځې دمحرم سنه ۱۳۹۱ هجري ولله الحمد اوله واخره وبه استعین في تکمیل الباقي وما ذلك على الله بعزیز

ربنا اصرف عنا عذاب جهنم إن عذابها کان غراما ٭ إنها ساءت مستقرا ومقاما

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة والایمان

تفسیر معارف القرآن ونصیر احمد احمدي خواست ترجمه

pdf جوړونکی نصیر احمد احمدي اواټ سپ ۰۷۲۹۸۲۹۵۶۹

تفسیر

معارف القرآن

په قندهاری پښتوکی

(تالیف)

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمة الله علیه

پښتو ترجمه کوونکي (ابو صدیق احمد .... مولوی نصیر احمد حقّانی)

تصحیح اوسمون... مولوی نصیر احمد (حقّانی) اومولوی آمین الله (حقّانی)

دکمپوز او ترجمي چارې .... الدین العلم کمپوزنگ (۰۳۰۱۳۷۸۴۹۵۶)

پاره (۱۸)

خپرونکي

مکتبه حنفیه

فون نمبر (۲۶۶۲۵۱۰)

کانسي روډ حاجي غیبي چوک کوئټه

چاپ ځای .... لاهور

اللهم اختم لنا بالخير والسعادة والبشارة والايمان

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّثَمَانَ عَشَرَةَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة مؤمنون په مکه کی نازل سوی دی او په دی کی یو سل (١١٨) اتلس ایتونه او شپږ رکوع گانی دی

شروع کوم د الله ﷻ په نوم چی بی حده مهربان نهایت رحم والا دی.

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝١ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ ۝٢

بیشکه خلاصوالی پیداکی ایماندارو ، کوم چی په خپل لمانځه کی خشوع (عاجزی) کوونکی دی

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝٣ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ

او کوم چی د عبثو خبرو څخه منع کوی . او کوم چی زکوٰة

فٰعِلُوْنَ ۝٤ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝٥ اِلَّا عَلٰٓى

ورکوی . او کوم چی د خپل شهوت د ځای حفاظت کوی ، مگر په خپلو

اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝٦ فَمَنِ

بیبیانو او یا په خپلو مینځو پس په دوی الزام نسته پس څوک چی

ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝٧ وَالَّذِيْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ

ولټوی دی څخه ماسوا ، نو دغه دی د حد څخه وتونکی ، او څوک چی د خپلو امانتونو

وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ۝٨ وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ۝٩ اُولٰٓئِكَ

او د خپلو اقرارونو خیال ساتی ، او څوک چی د خپلو لمونځونو حفاظت کوی ، دغه

هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ۝١٠ الَّذِيْنَ يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝١١

دی میراث اخیستونکی ، چی په میراث به پیداکی باغونه دیخو سایو ، دوی به په دی کی همیشه وی

(د سورة مومنون فضیلتونه (خصوصیات) او ځانگړتیاوي)

په مسند احمد کی د حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه څخه روایت دی دوی فرمایی چی په نبی کریم ﷺ به کله وحی نازلیده نو چی خواته به یی څوک ناست وو د هغوی په غوږونو کی به داسی اواز راتلی لکه

دشاتومچې چې اوازکوی یوه ورځ دد ﷺ په خواکې هم داسی اواز واوریدل سو نوموږ ایسارسوو چې تازه راغلې وحی واورو، هرکله چې دوحی دخاص کیفیت څخه فارغ سو نونبی کریم ﷺ قبلې ته مخ کې کښینستی او دا دعایی شروع کړه، اَللّٰهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا وَاَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَاَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا وَاٰثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا وَارْضَ عَنَّا وَاَرْضِنَا: یعنی ای الله! موږ ته زیات راکړې کموی مو مه او زموږ عزت زیات کې ذلیل کوی مومه اوموږ وبخښې محروم کوی مومه اوموږ ته پر نورو ترجیح راکړې نورو لره پرموږ ترجیح مه ورکوی او زموږ څخه راضی سی اوموږ هم په خپله رضا سره راضی کړې ددې څخه وروسته یې وفرمایل چې پرما داوخت لس ایتونه داسی نازل سول چې کوم سړی په دې پوره پوره عمل وکی نوهغه به (سیده) جنت ته ځې بیایې دا لور لیکل سوی لس ایتونه وویل (ابن کثیر)

اونسایی په کتاب التفسیرکی دیزیدبن بابنوس څخه نقل کړي دی چې دوی دحضرت عائشه صدیقه ؓ څخه سوال وکی چې دنبی کریم ﷺ اخلاق څنګه اوځه وه؟ هغې وفرمایل چې دهغوی اخلاق یعنی طبعی عادتونه هغه وه کوم چې په قرآن کریم کې دی ددې څخه وروسته یې دالس ایتونه تلاوت کړل اوورې فرمایل چې بس دایی اخلاق او عادتونه وه دنبی کریم ﷺ (ابن کثیر)

لنډتفسیر: په تحقیق سره هغو مسلمانانو (په آخرت کې) فلاح پیداکې کوم چې (دصحیح عقیدوسره په دی لاندینیو صفتونو باندی هم موصوف وی یعنی هغوی) په خپلو لمونځونوکی (برابره خبره ده که فرض وی یاغیر فرض) عاجزی کوونکی وی اوکوم چې دعبثو (یعنی فضول) خبروڅخه (برابره خبره ده که قولی وی اوکه فعلی) لیری اوسیدونکی وی اوکوم چې (په عملونو اواخلاقوکی) خپله پاکی کوونکی وی اوکوم چې دخپلو شرم ګاهونو (په حرامه طریقه دشهوتونو پوره کولو څخه) حفاظت کوونکی وی لیکن دخپلو بیبیانو یادخپلو (شرعی) مینځو څخه (حفاظت نه کوی) ځکه چې په دوی (په دی کې) څه الزام نسته البته کوم چې ددی څخه علاوه (بل ځای دشهوت پوره کولو) طلبګارسول داسی خلګ دحد (شرعی) څخه وتونکی دی اوکوم چې خپل (ځانته دسپارل سوو) امانتونو او دخپل عهد (کوم چې دیوعقد په ضمن کې سوی وی یادغسی ابتداءً یې کړی وی) خیال ساتونکی وی اوکوم چې دخپلو (فرضو) لمونځونو پابندی کوی داسی خلګ وارثان کیدونکی دی کوم چې به دفروس (برین) وارثان وی (او) هغوی به په دغه کې همیشه اوسیږي.

معلومات اومسئلې

(فلاح څه شي دی؟ اوکوم ځای اوڅنګه پیدا کیږی؟)

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ: لفظ دفلاح په قرآن اوسنت کې ډیر استعمال سوي دی په اذان اواقامت کې پنځه وخته هرمسلمان ته دفلاح طرف ته دعوت ورکول کیږی دفلاح معنٰی دا ده چې هرمراد حاصل وی اوهر تکلیف لیری وی (قاموس) دالفظ چې څومره لنډدی دومره جامع هم داسی دی چې یوانسان ددی څخه

زيات دخه شي خواهش كولى نه سي اوداظاهره ده چي مكمله فلاح چي يومرادهم داسي پاته نه سي چي پوره سوى نه وي اويوتكليف هم داسي پاته نه سي چي نه وي ليري سوى په دنياكي دهيڅ دپاره دامـمكنه نه ده چي يوشي خلاف طبع ور پيښ نه سي اوكوم خواهش چي يي څه وخت په زړه كي پيداسي بلاتاخيره پوره سي كه نور هيڅ نه وي نو دهرنعمت دزوال اوفنا بيره او دهر تكليف دواقع كيدو خطره وي چي ددي څخه څوك خالي كيدى سي ؟

ددي څخه معلومه سوه چي فلاح كامله خوداسي شي دى كوم چي په دى دنيا كي نه سي حاصليدى څكه چي دنيا خودار التكليف اومحنت هم ده او ددي يوشي باقي اوقرارهم نه دى دابيش بها پانګه په بوېل عالم كي پيداكيږي چي دهغه نوم جنت دى هغه يو داسي ملك دى چي په هغه كي به دانسان هرمراد هروخت بي دڅه انتظار څخه حاصل وي وَلَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ (يعني دوى ته به وركول كيږي هرهغه شي كوم چي دوى غواړي) اوهلته به څه ادنى غم اوتكليف هم نه راځي اوهر سړى به ددي ويناسره هلته داخليږي، وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ! الَّذِيْ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ : يعني شكردى دالله ﷻ چاچي زمونږ څخه غم ليري كي اومونږ يي په خپل فضل سره يومقام ته ورسولو چي دهغه هرشى قائم او دائم دى ، په دى آيت كي داهم اشاره موجوده ده چي ددنيا په كوركي به يوڅوك هم داسي نه وي كوم ته چي هيڅ غم اوتكليف نه وي رسيدلى په دى وجه په جنت كي دقدم ايښوولو سره به هرسړى داووايي چي اوس زمونږ غم ليري سو، قرآن كريم په سورة اعلى كي كوم ځاى چي دفلاح حاصلولو دانسخه ښوولى ده چي خپل ځان دګناهونو څخه پاك كي قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى ددى سره يي داهم ارشاد فرمايلى دى چي دكاملي فلاح ځاى په اصل كي آخرت دى صرف ددنياسره زړه لګول دفلاح طلب كوونكي كارنه دى فرمايي ، بَلْ تُؤْثِرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ! وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى : يعني تاسي خلګ دنياته په آخرت باندى ترجيح وركوى حال دا دى چي آخرت ښه هم دى چي په هغه كي هرمراد پوره كيږي اوهر تكليف ليري كيږي اوباقي پاته كيدونكي هم دى .

لنډه دا چي كامله اومكمله فلاح خوصرف په جنت كي پيدا كيدى سي دنيا دهغه ځاى نه دى، البته داكثرو حالاتو په اعتبار سره فلاح يعني مرادونه پوره كيدل او دتكليفونو څخه نجات پيدا كول دا په دنياكي هم الله ﷻ خپلو بندګانوته وركوى ، په ذكر سوو آيتونوكي الله ﷻ دفلاح پيدا كيدو وعده دهغو مومنانو سره كري ده په كوم وكي چي دغه اووه ۷ صفتونه موجود وي دكومو ذكر چي په دى ايتونوكي راغلى دى، داعامه اوشامله فلاح ده چي دآخرت كامله اومكمله فلاح هم په كښي داخله ده او په دنيا كي چي څومره فلاح حاصليدل ممكن وي هغه هم .

دلته يوسوال دا پيدا كيدى سي چي دذكر سوو صفتونو حاملو مومنانوته دآخرت كامله فلاح پيدا كول خو په خيال كي راتلى سي چي وي به ليكن په دنيا كي فلاح خوپه ظاهره دكافرانو فاجرانو حصه جوړه

سوي ده اودهري زماني انبياء او د دوی څخه وروسته صالحان دامت په عام طور سره په تکليفونو کی اخته پاته سوي دي ، مګرجواب ددي ظاهردي چی په دنيا کی خودمکملي فلاح وعده نسته چی ګوندي هيڅ تکليف به نه پيښيږي بلکی څه ناڅه تکليف خودلته صالح اومتقي ته هم اوهر کافر اوفاجرته هم پيښيدل خامخا دي او داحال دمراد دحاصليدو دي چی څه ناڅه دامقصد هم هرانسان ته برابره خبره ده که صالح اومتقي وي اوبرابره خبره ده که کافر اوبدکار وي حاصليږي بياپه دي دواړوکی فلاح پيدا کوونکی به چاته ويل کيږي نو ددي اعتبار عاقبت اوانجام لره دي .

ددنيا تجربه اومشاهده شاهده ده چی کوم اهل اصلاح ددي اوو ۷ صفتونو حامل او په دي متصف او په دي قائم دي که څه هم په دنيا کی به وقتي تکليف دوی ته هم ورپيښيږي مګر اخر د دوی تکليف ژر ليری کيږي اومراد حاصليږي توله دنيا د دوی په عزت کولو مجبوره کيږي او په دنياکی نيك نوم د دوی باقي پاته کيږي ، څومره چی ددنيادحالاتو په غور اوانصاف سره مطالعه وسی ، نوپه هردور هره زمانه اوهرځای کی ددي شهادتونه پيدا کيدی سی .

(دكامل مومن هغه اووه ۷ صفتونه په كوموچي په ذكر سوو ايتونوكي ددنيا اوآخرت دفلاح وعده ده)

دټولو څخه اولنی وصف خومومنوالي دي مګرهغه يوبنيادي شی اواصل داصولودي دغه چی ورڅخه جلا کی نواووه ۷ صفتونه کوم چی دلته بيان سوي دي دا دي .

اول په لمونځ كي خشوع : دخشوع لغوی معنی سکون دي دشرع په اصطلاح کی خشوع دا ده چی په زړه کی هم سکون وي يعني دغيرالله خيال په زړه کی په قصد حاضر نه کړي او دبدن په اندامونوکی هم سکون وي چی عبث اوفضول حرکتونه نه کوي (بيان القرآن) بيا هغه حرکتونه دکوموڅخه چی نبی کريم ﷺ په لمونځ کی منع فرمايلی ده او فقهاؤ هغه دلمونځ دمکروهاتو ترعنوان لاندي جمع کړي دي په تفسير مظهری کی دخشوع دا تعريف يی دحضرت عمروبن دينار څخه نقل کړي دي او دنورو بزرګانو څخه چی دخشوع په تعريف کی کوم مختلف شيان نقل سوي دي هغه په اصل کی ددي زړه او اندامونو دسکون تفصيلات دي مثلاً حضرت مجاهد فرمايي چی دنظر او اواز کښته ساتلو نوم خوشوع ده ، حضرت علی ؓ فرمايي چی دا خوا ديخواته کتلو يعني دسترګو په کُنجيانو باندي دنظر کولو څخه ځان ساتل خشوع ده، حضرت عطاء فرمايي چی دبدن ديو حصی سره لوبی نه کول خشوع ده، په حديث کی دحضرت ابوذر ؓ څخه روايت دي چی نبی کريم ﷺ فرمايلی دي چی الله ﷻ دلمونځ په وخت کی برابر خپل بنده ته متوجه وي ترڅوچی دی بل طرف ته توجه ونه کی ، کله چی دی دسترګو په کونجيانو سره بل طرف ته وګوري ، نو الله ﷻ دده څخه مخ واړوي (رواه احمد والنسايي ابوداود وغيرهم) (مظهری)

اونبی کريم ﷺ حضرت انس ؓ ته حکم وکی چی خپل نظر په هغه ځای ساته په کوم ځای چی سجده کوی او دا چی په لمانځه کی راښته اوچپه طرف ته مه ګوره (رواه البيهقی فی السنن الکبریٰ مظهری)

اوحضرت ابوهریره ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ یوسړی ولیدی چی په لمونځ کی یی دخپلی ږیری سره
لوبی کولی نووي فرمایل ، لَوْ خَشَعَ قَلْبُ هٰذَا لَخَشَعَتْ جَوَارِحُهُ (رواه الحاكم والترمذي بسند ضعيف)
یعنی که ددی سړی په زړه کی خشوع وی نوپه اندامونو کی به یی هم سکون وو (مظهری)

(په لمانځه کي دخشوع دضرورت درجه)

امام غزالی رحمه الله اوقرطبی رحمه الله اوځینی نور حضرات فرمایی چی په لمانځه کی خشوع فرض ده نوکه
تول لمونځ یی بغیر دخشوع څخه وکی نولمونځ به یی ادانه سی ، نورحضرات فرمایی چی په دی آیت کی
شك نسته چی خشوع دلمانځه روح دی ، ددی څخه بغیر لمومځ بی روحه دی ، مګردی ته دلمونځ درکن
په حیثیت سره نه سی ویل کیدی چی خشوع ونه سوه نولمونځ ونه سو او دوباره کول یی فرض وګرځول
سول ،
حضرت حکیم الامة په بیان القرآن کی فرمایی چی دلمونځ دصحت دپاره خوخشوع موقوف علیه نه ده او
په دی درجه کی فرض نه ده مګر دلمونځ دقبول دپاره موقوف علیه او په دی درجه کی فرض ده په حدیث
کی طبرانی په معجم کبیر کی په سند احسن سره دحضرت ابودرداء ﷺ څخه روایت کړي دی چی نبی کریم
ﷺ فرمایلی دی چی دټولو څخه اول کوم شی چی به ددی امت څخه پورته سی هغه خشوع ده تردی چی په
قوم کی به هیڅوك هم خاشع په نظرنه راځی (کذا فی مجمع الزوائد بیان القرآن)

دکامل مومن دوهم صفت : دلغو څخه پرهیز کول دی ، وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ : دلغومعنی فضول
خبری یاکار چی په هغه کی هیڅ دینی فائده نه وی دلغو اعلی درجه نافرمانی اوګناه ده چی ددینی فائدی
دنیستوالی سره په کښی دینی ضرر اونقصان وی ددی څخه ځان ساتل واجب دی اوادنی درجه یی داده
چی نه په کښی فائده وی نه ضرر ، دهغه پریښوول کم ازکم اولی اوموجب دمدح دی ، په حدیث کی نبی
کریم ﷺ فرمایلی دی ، مِنْ حُسْنِ اِسْلاَمِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لاَ يَعْنِيهِ : یعنی دبنده اسلام هلته غوره کیدی سی
کله چی ددی بی فائدی شیان پریږدی په دی وجه یی دا دکامل مومن خاص صفت ګڼلی دی .

دریم صفت: زکوٰة دی ، دزکوٰة دلفظ معنٰی په لغت کی پاکول دی دشرع په اصطلاح کی دمال یوه خاص
حصه دځه شرطونو سره صدقه کولوته زکوٰة وایی اوپه قرآن کریم کی په عام طورسره دالفظ په دی
اصطلاحی معنٰی کی استعمال سوي دی ، په دی آیت کی دا معنٰی هم مراد کیدی سی اوپه دی چی کوم
دا شبهه کول کیږی چی دا آیت مکی دی اوپه مکه کی زکوٰة فرض سوی نه وو ، دمدینی منوری دهجرت
څخه وروسته فرض سو ، دهغه جواب دابن کثیر رحمه الله وغیره مفسرینو دطرفه څخه دا دی چی دزکوٰة
فرضیت په مکه کی سوی وو سورة مزمل چی په اتفاق سره مکی دی په هغه کی هم د ، اَقِيمُوا الصَّلٰوةَ
سره د ، اٰتُوا الزَّكٰوةَ ذکر موجود دی مګر په سرکاری طور سره ددی دوصولولو عام انتظام اونصابونه
وغیره په تفصیل سره مدینی طیبی ته دتللو څخه وروسته جاری سوه ، کوموخلکوچی زکوٰة په مدنی

احکامو کی شمیر کړي دي دهغوی هم دامنشاء ده اوکومو حضراتو چې فرضیت دزکوٰة مدینی منوری ته درسیدو څخه وروسته حکم مقررکړي دي هغوی دلته دزکوٰة مضمون په عامه لغوی معنٰی کی دخپل نفس پاکول مقرر کړي دي ، په لنډ تفسیرکی هم دا را اخستل سوي ده ددی معنٰی قرینه په دی آیت کی دا هم ده چې په عام طور سره په قرآن کریم کی چې کوم ځای دفرض زکوٰة ذکر راغلی دی نودا دَ اِیْتَاءِ الزَّکٰوةِ ، یُؤْتُوْنَ الزَّکٰوةَ او اٰتُوا الزَّکٰوةَ په عنوان سره بیان کړل سوي دی ، دلته عنوان بدلول لِلزَّکٰوةِ فٰعِلُوْنَ فرمایل ددی قرینه ده چې دلته دزکوٰة څخه هغه اصطلاحی معنٰی مراد نه ده ددی څخه علاوه دَ فٰعِلُوْنَ بې تکلفه تعلق دفعل سره دی اوزکوٰة اصطلاحی فعل نه دی بلکه یوه برخه دمال ده دمال ددی برخی دپاره فٰعِلُوْنَ ویل بغیر دتاویل څخه نه سی کیدی که په آیت کی دزکوٰة اصطلاحی معنٰی زکوٰة ورکول واخستل سی نو ددی فرض کیدل اودمومن دپاره یې لازم والی ښکاره معامله ده اوکه مراد دزکوٰة څخه دنفس پاکول دی یعنی خپل نفس درذائلو څخه پاکول وی نوهغه هم فرض دی ځکه چې شرك ریاء تکبر حسدبغض حرص اوبخل دکوموڅخه چې نفس پاکولوته تزکیه وایی دا ټول شیان حرام اوګناه کبیره دی نفس ددی څخه پاکول فرض دی.

څلورم صفت: دحراموڅخه دشرمګاهونوحفاظت، وَالَّذِیْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ اِلَّا عَلٰی اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَامَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ: یعنی هغه خلق کوم چې دخپلوبیبیانواوشرعی مینځوڅخه علاوه دټولوڅخه دخپلو شرمګاهونو حفاظت کوی ، ددی دواړو سره دشرعی ضابطی مطابق دنفس دشهوت پوره کولو څخه علاوه دبل هیچا سره په ناجائزه طریقه په شهوت پوره کولوکی نه اخته کیږی ددی آیت په اخرکی ارشاد فرمایی ، فَاِنَّهُمْ غَیْرُ مَلُوْمِیْنَ : یعنی دشرعی قاعدی مطابق دخپلی بی بی یامینځی سره دنفس په شهوت پوره کوونکو باندی څه ملامتیا سته ، په دی کی اشاره ده چې داضرورت په درجه کی ساتل دی دژوند مقصد جوړول نه دی ددی درجه هم دومړه ده چې څوك داسی کوی هغه دملامتیا قابل نه دی ، والله اعلم

فَمَنِ ابْتَغٰی وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ : یعنی دنکاح سوی بی بی یاپه شرعی قاعده سره دحاصلی سوی مینځی سره دشرعی قاعدی مطابق دشهوت پوره کولو څخه علاوه بل څه صورت دشهوت پوره کولو حلال نه دی په دی کی زناهم داخله ده اوکومه ښځه چې شرعًا پرده حرامه ده دهغه سره نکاح هم په حکم دزناکی ده اودخپلی بی بی یامینځی سره دحیض اونفاس په حالت کی یاپه غیر فطری طور باندی جماع کول هم په دی کی داخل دی یعنی دیو سړی یاهلك یایو څاروی سره شهوت پوره کول هم په دی کی داخل دی اودجمهورو په نزد په خپل لاس سره منی ایستل هم په کښی دا خل دی (بیان القرآن قرطبی بحر وغیره)

پنځم صفت: دامانتونو حق اد اکول ، وَالَّذِیْنَ هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ :دلفظ د: اَمَانَتْ لغوی معنٰی هرهغه شی لره شامله ده چې دهغه ذمه واري یوه سړی اخستی وی اوپه هغه اعتماد اوتکیه سوی وی ، ددی قسمونه چونکی بی شماره دی، په دی وجه دمصدروالی څخه یې په صیغه دجمع راوړی دی چې

دامانتونو ټول قسمونه په کښې شامل سي برابره خبره ده که هغه دحقوق الله سره متعلق وي او که دحقوق العباد سره دحقوق الله سره متعلق امانتونه ټول شرعي فرائض واجبات ادا کول او دټولو محرماتو اومکروهاتو څخه ځان ساتل دي او دحقوق العباد سره په متعلقو امانتونوکي دمالي امانتونو داخليدل خو معلوم اومشهور دي چي يوسړی دچاسره خپل څه مال په طور دامانت کښېښږدي دادهغه امانت دی ترواپس کولو پوري يې حفاظت دده ذمه واري ده ددي څخه علاوه درازڅه خبره که چاچاته وکړه هغه هم دهغه امانت دی بغير دشرعي اذن څخه دچاراز ظاهرول په امانتونوکي خيانت دی، مزدور ياملازم ته چي کوم کار سپارل سوی وي دهغه دپاره چي څومره وخت خرڅ کول مقرر سوي وي دغه هم په دغه کار لګول امانت دی دکار غلا يا دوخت غلا خيانت دی ، ددې څخه مَعلومه سوه چي دامانتونو حفاظت او ددې حق اداکول لوی جامع لفظ دی ټول ذکرسوی تفصيلات په دې کي داخل دي.

شپږم صفت: وعده پوره کول دی عَهَدخو يوه هغه معاهده ده کومه چي د دوو طرفو څخه ديوی معاملی په سلسله کي لازمه مقرره سي دهغه پوره کول فرض اوخلاف کول يې غدراودوکه ده کومه چي حرامه ده دوهم هغه کوم ته چي وعده وايي يعني ديوطرف څخه يوسړی ديوبل سړي سره دڅه شي ورکولوياڅه کارکولو وعده وکي دهغه پوره کول هم شرعًا لازم اوواجب وي په حديث کي دي چي اَلعِدَةُ دَيْنٌ يعني وعده يوقسم قرض دی لکه دقرض اداکول چي واجب دي دغه ډول دوعدي پوره کول هم واجب دي بې دشرعي عذر څخه ددې خلاف کول ګناه ده فرقّ په دواړو قسمونوکي دادی چي داول قسم په پوره کولوباندی دوهم سړی هغه په ذريعه دعدالت هم مجبوره کيدی سي او ديك طرفه وعدی دپوره کولو دپاره په ذريعه دعدالت نه سي مجبوره کيدی، دیانتًا دهغه پوره کول هم واجب اوبې دشرعي عذر څخه يې خلاف کول ګناه ده.

اووم صفت: په لمانځه محافظت دی،وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ:دلمونځ دمحافظت څخه مراد دلمونځ پابندی کول اوهريولمونځ دهغه په مستحب وخت کی اداکول دي(دارنګه تفسيريی کړي دی ابن مسعودؓ) دلته صلوٰت لفظ دجمع څکه راوړل سوي دی چي مراد ددی څخه پنځه وخته لمونځونه دي کوم چي په خپل مستحب وخت کي په پابندی سره ادا کول مقصود دی اوپه شروع کی کوم ځای چي مقصود په ذکرسره خشوع وه هلته لفظ دمفرد راوړل سو چي مطلقًا جنس دلمونځ برابره خبره ده که فرض وی ياواجب سنت وي يانفل دټولو روح خشوع ده چي غور وسی نو په دی اوو ۷ سره وو ذکر سوو صفتونوکي ټول حقوق الله او حقوق العباد اوددی سره متعلق ټول احکام په کی راغلي کوم سړی چي په دی صفتونوسره متصف سی اوپه

دی قائم پاته سی نوهغه کامل مومن او ددنيا اواخرت دفلاح مستحق دی.

دا خبره دغورقابله ده چی ددی اوو ۷ صفتونو شروع هم دلمونځ څخه وسوه اوختم يی هم په لمونځ وسو په دی کی اشاره ده چی که لمونځ دلمونځ په شان په پابندی او دلمونځ دادابو سره اداسی نوباقی

صفتونه په ده کي بيا په خپله پيدا کيدی سی، والله تعالی اعلم

أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ! الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ : د ذکر سوو صفتونو حامل خلگ يې په دې آيت کې دجنت الفردوس وارثان فرمايلي دي په لفظ دوارث کې اشاره دې طرف ته ده چې لکه څنگه دمورث مال دده وارث ته رسيدل قطعي اولازمي دي دغه ډول ددې صفتونو والا خلگو جنت ته داخله يقيني ده او قَدْ أَفْلَحَ څخه وروسته اوصاف تر مفلحون پوري دذکر کولو څخه وروسته په دې جمله کې دې طرف ته هم اشاره ده چې دکاملې فلاح او اصلي فلاح ځاى جنت دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ ﴿۱۲﴾ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ

او مونږ جوړ کی انسان دختی دخاصو اجزاؤ څخه ، بيا مونږ کښيښووی دی

نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ

نطفه په يو حصار ځاى کی، بيا جوړه کړه مونږ دغه نطفی څخه دويني کلکه سوی توته بيا مونږ جوړه کړه ددېويني

مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ

کلکه سوی څخه دغوښی توته، بيا جوړ کړل مونږ دغه غوښی څخه هډوکی، بيا واغوستوله مونږ دغوهډوکو ته غوښه

أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ ۚ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴿۱۴﴾ ثُمَّ إِنَّكُم

بيا پورته کی مونږ دی په يونوی صورت کی، نو لوی برکت والا دی الله دټولو څخه ښه جوړوونکی دی ، بيا ددې څخه

بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿۱۵﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴿۱۶﴾ وَلَقَدْ

وروسته به تاسی مړه سی ، بيا به تاسی دقيامت په ورځ پورته کول کيږي ، او مونږ جوړی

خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ ﴿۱۷﴾

کړی دی پرتاسی سربيره اووه لاری ، او مونږ نه يو دپيداکولو څخه ناخبره .

وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلَىٰ

اونازلی کړی مونږ دآسمان څخه اوبه په اندازه سره بيا مو دی حصار کی په ځمکه کی ، او که مونږ ددی

ذَهَابٍ بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاَنْشَاْنَا لَكُمْ بِهٖ جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ

تلل وغوارو نو بيولي يي سو ، بيا زرغونه كړل مونږ په دي سره تاسي ته باغونه دخرما

وَّاَعْنَابٍ لَكُمْ فِيْهَا فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَشَجَرَةً

او انګورو ، ستاسي دپاره په دي كي ميوي دي ډيري او ددې څخه تاسي خوری ، او هغه درخته

تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿۲۰﴾

چي راخيژي دسيناء غر څخه زرغونوی تيل او سالن دخوړونكو دپاره

وَاِنَّ لَكُمْ فِى الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ۚ نُسْقِيْكُمْ مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ

او ستاسي دپاره په حيواناتو كي عبرت دی ، چيښوو مونږ په تاسي د دوی دنس دشي څخه او ستاسي

فِيْهَا مَنَافِعُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾

دپاره په دي كي ډيري فائدي دي ، اوځيني ورڅخه تاسي خوری ، او په دي او په كښتيو باندي سپريږي

لنډتفسير: (اول بيان دی دانسان دايجاد) اومونږ انسان دخاوری دنچوړ (يعني خوراك) څخه جوړكي (يعني اول خاوره وی بيا ددی څخه په ذريعه دشنو بوټو خوراك حاصل سی) بيا مونږدی دنطفی څخه جوړكی كومه چي (ديوی مقرری نيټي پوری) په يو محفوظ مقام (يعني رحم) كي پريږدو (او دغه نطفه دخوراك څخه حاصله سوی وه) بيامونږ دغه نطفه دوينی ټوټه جوړه كړه بيامونږ ددغه وينی ټوټه (دغوښي) ټوټه جوړه كړه بيامونږ دغوښي ددی ټوټي (دځينو اجزاوو) څخه هډوكي جوړكړل بيا مونږ پردغو هډوكو باندي غوښه راوخيژوله (چي دغه هډوكي په پټ سول) بيا (ددی ټولو بدليدو رابدليدو څخه وروسته) مونږ (په دی كي روح واچوی) دی مو يو بل (قسم) مخلوق جوړكی (كوم چي دمخكي څخه ډير فرق لرونكی اوجدادی ځكه چي ددی څخه مخكي ټول ادلون بدلون په يو بی روحه جماد كي كيدی او اوس ورڅخه دروح خاوند ژوندی انسان جوړسو) نو څنګه شان دی دالله ﷻ چي دټولو جوړونكو څخه لوی دی (ځكه چي نورجوړونكی خو دالله ﷻ په پيداكړو شيانو كي جوړ اوتوړ كوی جوړوی يي ژوند پيداكول داخاص دالله ﷻ كاردی اوپه نطفه كي ددی ذكرسوی ادلون بدلون تفصيل په دی ترتيب سره به قانون وغيره دطب په كتابونو كي هم ذكردی مخ ته دانسان داخری انجام فنا بيان دی) بيا تاسي وروسته ددی (ټولي عجيبه قصي) څخه به خامخا مری (مخ ته بيان دی داعادی يعني) بيا به تاسي دقيامت په ورځ دوباره ژوندی سی (اولكه څنګه چي مونږ تاسي لره اول وجود دركړي دی دغه ډول مو ستاسي دباقی پاته

کیدو اسباب هم تیارکړي دي چې، مونږستاسي سربیره اووه آسمانونه (چې په دي کي دملائکو دتلو راتلودپاره لاری دی) جوړکړل (چې په دی پوری ستاسی ځینی مصلحتونه متعلق دی) اومونږ دمخلوق (دمصلحتونو) څخه بی خبره نه وو (بلکی دهر مخلوق دمصلحت اوحکمت رعایت مووکی جوړکړل) اومونږ (دانسان دبقاء او نشو اونما دپاره) دآسمان څخه په (مناسب) مقدارسره اوبه راوورولی بیا مونږدغه (تربوی مودی پوری) په مځکه کی بندی کړی (چنانچې څه اوبه پرمځکی سربیره وی اوځه لاندی کښته سی کومی چې وخت په وخت بیا راوزی) اومونږ (لکه څنګه چې ددی پراوررولو قادریو دغه شان) ددغو (اوبو) په ورکولو باندی (هم) قادریو (برابره خبره ده که په هواکی یی والوزوو یایی په مځکه کی دومره لاندی کړو چې دآلاتو په ذریعه یی هم بیا را ایستلی نه سی مګرمونږ باقی پاته کړی) بیامونږ ددی (اوبو) په ذریعه سره باغونه پیدا کړل دخرماوو اوانګورو ستاسی دپاره په دغو (خرماوو اوانګورو) کی ډیری میوی هم دی (کله چې تازه تازه خوړل کیږی نومیوه ګڼل کیږی) او ددی څخه (چې کوم ی پاته سی وچې یی کړی نوهغه په طور دغلی) خوری هم او (په دغو اوبو سره) یوه (دزیتون) درخته هم (مونږ پیداکړه) کومه چې په طورسیناء کی (ډیری) پیداکیږی کومه چې شنه کیږی دتیلوسره او دخوړونکو دپاره په پخکړی سالن سره (یعنی ددی دمیوی څخه دواړی فائدی حاصلیږی برابره خبره ده که درنا کولو اومالش په کاریی راولی اوبرابره خبره ده که په دوډۍ پوری یی خوری دا ذکر سوی سامان د اوبو اوبوتو څخه حاصلیږی) او (مخته دحیوانانو په ذریعه دانسان دنفعو او اسانیو بیان دی چې) ستاسی دپاره په څارویوکی (هم) دغورکولو موقع ده چې مونږ تاسی ته د دوی دګیډی شیان (یعنی شیدی) چیښلو لره درکوو اوستاسی دپاره په دی کی نوری هم ډیری فائدی دی (چې وریښته اووړی یی په کار راځی او) (دارنګه) په دوی کی ځینی خوری هم اوپه دوی (کی چې کوم دباربرداری قابل دی پرهغو) باندی اوکښتیو باندی سپاره ګرځی (هم)

معلومات اومسئلې: په تیرو آیتونوکی دانسان ددنیا اوآخرت دفلاح طریقه دالله ﷻ عبادت اودهغه د احکامو په پوره کولو کی دخپل ظاهر اوباطن دپاك ساتلو اودټولو انسانانو په حقوقو اداکولو سره بیان کړی وه ، په دی ذکرسوو ایتونوکی د الله ﷻ دکامل قدرت او دبنی نوع انسان په پیدا کولوکی ددغه کامل قدرت دخاصو نظارو ذکردی چې په دی سره داواضحه سی چې انسان په کوم کی چې عقل اوشعور وی هغه ددی څخه ماسوا بله لار ګرسره نه سی اختیارولی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ مِن سُلَالَةٍ مِّن طِينٍ: سُلاله په معنٰی دنچوړ اوطین لندی ختی ، ددی معنٰی دا ده چې دمځکی دخاوری خاص اجزایی راټول کړل اوانسان یی ورڅخه پیداکی، دانسان دپیدائش ابتداء دحضرت ادم ؑ څخه ده اودی ددغه راټول سوی خاوری څخه پیدا سو په دی وجه یی دابتدایی پیدائش نسبت خاوری ته وکی ، ددی څخه وروسته دیوانسان نطفه دبل انسان دپیدائش سبب جوړه سوه ، په

مخکی آیت کی یی ددی بیان په ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً : سره فرمایلی دی مطلب دا دی چی اولنی پیدائش دخاوری څخه وسو بیا وراندی دپیدائش سلسله ددی خاوری په یولطیف جُزء یعنی نطفی سره جاری کړل سو، جمهورو مفسرینو دذکر سوی آیت په تفسیرکی دالیکلی دی او داهم ویل کیږی چی د: سُلٰلَةٍ مِّنْ طِیْنٍ : څخه هم دانسان نطفه مرادوی ځکه چی دغه دخوراك څخه پیدا کیږی او دانسان خوراك دخاورو څخه جوړیږي، والله تعالی اعلم

(دانسان دپیدا کیدو دپاره اووه ۷ درجي)

په ذکرسوواتیونوکی دانسان دپیدائش اوه دورونه ذکرسوی دی دټولو څخه اول سُلٰلَةٍ مِّنْ طِیْنٍ : په دوهمه درجه کی ، نُطْفَةً : په دریمه کی ، عَلَقَةً : په څلورمه کی مضغة : په پنځمه کی عظام : په شپږم دورکی په هډوکو غوښه راتلل په اووم دورکی مکمل پیدائش یعنی روح په کښی اچول .

(یوه عجیبه لطیفه دحضرت ابن عباس ﷺ څخه)

په تفسیرِ قرطبی کی دلته دحضرت ابن عباس ﷺ څخه ددی آیت په دلیل سره دشبِ قدر دتعین یوه عجیبه لطیفه نقل کړي ده ، هغه دا ده چی حضرت فاروقِ اعظم ﷺ یووار دمشرانو صحابه کرامو ﷺ په مجمع کی سوال وکی چی شبِ قدر درمضان په کوم تاریخ کی دی؟ ټولوپه جواب کی صرف دومره وویل چی الله اعلم هیڅ تعین یی بیان نه کی، حضرت ابن عباس ﷺ په دی ټولوکی کشرو دوی ته یی خطاب وفرمایی چی ته څه وایی؟ نوحضرت ابن عباس ﷺ وفرمایل چی امیر المومنین! الله ﷻ آسمانونه اووه ۷ پیداکړل مځکی یی اوه ۷ پیدا کړی دانسان پیدائش یی په اوو ۷ درجوکی وفرمایی دانسان خوراك یی داوو ۷ شیانو څخه جوړکی په دی وجه زماپه خیال کی خودا راځی چی شب قدربه په اوه ویشتمه ۲۷ شپه وی حضرت فاروق اعظم ﷺ چی داعجیبه دلیل واوریدی نومشرانو اصحابو ﷺ ته یی وفرمایل چی ستاسی څخه هغه خبره ونه سوه کومه چی دی هلك وکړه دسروربښته یی لانه دی مکمل سوی دا اوږد حدیث دابن ابی شیبه په مسندکی دی ، حضرت ابن عباس ﷺ دانسان دپیدائش داوو ۷ درجو څخه هغه مراد اخستی دی کوم چی په دی ایتونوکی دی او دانسان دخوراك اووه ۷ شیان دسورة عبس په آیت کی دی ، فَاَنْبَتْنَا فِیْهَا حَبًّا وَّعِنَبًا وَّقَضْبًا وَّزَیْتُوْنًا وَّنَخْلًا وَّحَدَآئِقَ غُلْبًا وَّفَاكِهَةً وَّاَبًّا : په دی آیتوکی داتو ۸ شیانو ذکردی چی اولنی اووه ۷ دانسان لخوراك دی اواخری یعنی اب دا دحیوانانو خوراك دی (قرطبی)

بیاچی په انسانی پیدائش کوم اووه ۷ دورونه تیریږی دقرآن کریم بلاغت ته وګوری چی دا ټول یی په یوانداز سره نه دی بیان کړی بلکی کله دیودور څخه بل دورته بدلیدل یی په لفظ د: ثُمَّ سره تعبیر کړی چی دا پرڅه وخت تیریدو باندی دلالت کوی یوځای یی ددی بدلیدو ذکرپه حرف دفاء سره کړي دی چی داپربلا تاخیرکیدو باندی دلالت کوی په دی کی اشاره ددی ترتیب طرف ته ده کوم چی دیوانقلاب څخه دبل انقلاب په مینځ کی فطرتًا وی چی ځینی انقلابونه دانسانی عقل په لحاظ سره ډیر مشکل اوډیر

رخت اخستونکی وی څینی دومره وخت نه اخلی چنانچی قرآن کریم اولنی دری دوورونه په لفظ دثُمّ سره بیان کړی اول سُلالة طین بیا دا دنطفی په صورت کی بدلول یی په ثمّ سره وفرمایل ثُمّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً څکه چی دخاوری څخه دخوراك پیدا کیدل بیا خوراك دبدن جزء جوړیدل بیاپه دی کی یوخاص جزء دنطفی په صورت کی بدلیدل دانسانی اندازی په اعتبار سره ډیر وخت غواړی دغه ډول ددی څخه وروسته په دریمه درجه کی دنطفی دغوښی دټکری په شکل کی بدلیدل داهم یواوږد وخت غواړی دایی هم په ثُمّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً سره تعبیر وفرمایی ددی څخه وروسته دری دوورونه دعَلَقه څخه مضغه دمضغه څخه هډوکی اوپرهډوکو غوښه راتلل داټول په لږلږ وخت کی کیدل څه بعید نه معلومیږی نودا دری یی په حرف دفاء سره بیان کړي دی بیا اخری دور چی دروح اچولو اوژوند پیدا کولو دی هغه یی هم په لفظ دثُمّ سره تعبیر وفرمایی څکه چی اوس په بغیر ذی روح جمادکی روح اوژوند پیدا کول دعقل په قیاس سره ډیره موده غواړی په دی وجه یی دلته بیا لفظ دثُمّ راوړی .

لنډه دا چی دیودور څخه بل دورته بدلیدل چی په کومو صورتونوکی دانسان په عقل اوقیاس سره ددیر وخت اخستلو کاروو هلته یی ورته په لفظ دثُمّ سره اشاره وکړه اوکوم ځای چی دعام انسانی قیاس په اندازه سره زیات وخت نه اخستی هلته یی په حرف دفاء سره تعبیر وکی او دی طرف ته یی اشاره وکړه په دی وجه پردی باندی دهغه حدیث په وجه شبهه نه سی کیدی په کوم کی چی یی دابیان فرمایلی دی چی دهردور څخه بل دور ته په بدلیدوکی څلویښت څلویښت ورځی لګیږی څکه چی دا دالله ﷻ دکامل قدرت کار دی کوم چی دانسانی قیاس تابع نه دی .

﴿ دانسان دپیدا کیدو اخری مقام یعني په ده کي روح او ژوند پیدا کول ﴾

ددی بیان قرآن کریم په یوخاص اوممتاز انداز سره داسی فرمایلی دی ، ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ: یعنی بیا مونږ ده ته په یوخاص قسم بل ډول پیدائش ورکی، دبیان ددی امتیاز وجه دا ده چی اولنی شپږ دوورونه دپیدا کولو دعالم دعناصرو اومادیاتو څخه او په دی کی دانقلاب اوبدلون سره متعلق وه او دا اخری اووم دور دبل عالم یعنی عالم ارواح سره روح دهغه په جسم کی دمنتقل کولو دور وو په دی وجه یی دی په خَلْقًا اٰخَرَ سره تعبیر کی .

﴿روح حقيقي او روح حيواني﴾

دلته دخَلْقًا اٰخَر تفسیرحضرت ابن عباس رضی الله عنه مجاهد رحمه الله شعبی رحمه الله عکرمه رحمه الله ضحاك رحمه الله ابوالعالیه رحمه الله اونورو په روح پوکلو سره فرمایلی دی په تفسیر مظهری کی دی چی غالبًا مراد ددی روح څخه روح حیوانی دی چی هغه هم مادی اویولطیف جسم دی کوم چی دحیوانی جسم په هرهر جزء کی ځای سوی وی کوم ته چی طبیبان اوفلاسفران روح وایی ددی پیدائش هم دانسان دټولو اندامونو دپیدائش څخه وروسته کیږی په دی وجه یی داپه لفظ دثُمّ سره تعبیر فرمایلی دی او روح حقیقی چی

تعلق یی دعالم ارواح سره دی دهغه ځای څخه الله ﷻ په خپل قدرت سره ددغه روح رابطه ددی روح حیوانی سره پیدا کوی چی حقیقت پیژندل یی دانسان دوس خبره نه ده ددی حقیقی روح پیدائش خو دټولو انسانانو دپیدائش څخه ډیرمخکی دی، دغه ارواحان الله ﷻ په ازل کی جمع کړل اَلَسْتُ بِرَبِّكُم یی ورته وفرمایل اوټولو دبلی په لفظ سره دحق تعالی دربوبیت اقرار وکی ، البته دهغه روح تعلق دانسان دجسم سره دانسانی اندامونو دپیدا کیدو څخه وروسته کیږي ، دلته د روح اچولوڅخه که دامراد واخستل سی چی دروح حیوانی سره دروحِ حقیقی تعلق دا وخت قائم سو نو دا هم ممکنه ده اوپه حقیقت کی دانسان ژوند ددغه حقیقی روح سره متعلق دی کله چی دده تعلق د روح حیوانی سره راسی نوانسان ته ژوندی وایی اوکله چی قطع سی نو انسان ته مړ وایی دغه حیوانی روح هم خپل کار پریږدی.

فَتَبَارَكَ اللّٰهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ ، دخَلق او تخليق اصلی معنٰی یوشی دنوی سره بغیر دڅه مخکی مادی څخه پیدا کول دی کوم چی د الله ﷻ مخصوص صفت دی ، ددی معنٰی په اعتبار سره خالق صرف الله ﷻ ، دی بل سړی ملائکه وی اوکه انسان دیوادنٰی شی هم خالق کیدی نه سی لیکن کله کله دالفظ دخلق اوتخلیق دصنعت یعنی کاریگری په معنٰی کی هم استعمالیږی او دصنعت حقیقت ددی څخه زیات هیڅ نسته چی الله ﷻ کوم مواد اوعناصر په دی دنیاکی په خپل کامل قدرت سره پیدا کړي دی په هغه کی جوړوالی او یو ځای والی وکړی دیوبل سره یی پیوست کړی اویونوی شی ورڅخه جوړکړی ، داکار هرانسان کولی سی او ددی معنٰی په لحاظ سره هرانسان ته هم دیوخاص شی خالق ویل کیدی سی ، په خپله قرآن کریم فرمایی تَخْلُقُوْنَ اِفْكًا او دحضرت عیسٰی ﷺ په باره کی فرمایی : اَنِّی اَخْلُقُ لَكُم مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ په دی ټولو موقعوکی لفظ دخلق په مجازی طور دصنعت (یعنی جوړولو) په معنٰی کی ویل سوي دی.

دلته لفظ دخَالِقِيْنَ په صیغه دجمع سره څکه راوړل سوی دی چی عام انسانان کوم چی دخپلو جوړولو په اعتبار سره ځان دیوشی خالق گنی که دوی ته مجازاً خالقان وویل هم سی خو الله ﷻ ددی ټولوخالقانو یعنی جوړونکو څخه ښه جوړونکی دی ، والله اعلم

ثُمَّ اِنَّكُم بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ : په اولنیو درو آیتونوکی دانسان ابتداء یعنی شروع دپیدائش ذکر وه اوس په دوو ایتونوکی دده واپسی یعنی دکار دانجام ذکردی، په ذکرسوی آیت کی فرمایی چی بیابه تاسی ټول دی دنیاته دراتلو اواوسیدو څخه وروسته دمرگ سره مخامخ کیدونکی یاست چی یوهم ورڅخه مستثنٰی کیدی نه سی بیافرمایی ، ثُمَّ اِنَّكُم يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُوْنَ : یعنی دمرگ څخه وروسته به بیا دقیامت په ورځ تاسی ټول ژوندی پورته سی چی ستاسی دعملونوحساب واخستل سی اصلی داوسیدو ځای جنت یادوږخ ته ورسول سی دادانسان انجام سو، مخ ته دآغاز اوانجام یعنی دنیاته دراتلو څخه ددنیا څخه ترتللو پوری درمیانی حالات او په دی کی پرانسان باندی دحق تعالی داحساناتو اوانعاماتو لږ څه تفصیل دی کوم چی یی په راتلونکی آیت کی دآسمان دپیدا کولو دذکر څخه شروع کړي دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَائِقَ : دطريقة جمع ده داپه معنیٰ دطبقی هم اخستل کیږی چی معنیٰ به یی داسی چی په تاسی سربیره مولاندی باندی اووه آسمانونه جوړ کړي دی او دطریقی معنیٰ مشهوره لارده، دامعنیٰ هم کیدی سی چی داټول آسمانونه دملائکولاری دی کوم چی احکام راوړی مخکی ته ځی راځی وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غَافِلِينَ : په دی کی یی داوښوولی چی موږ انسان صرف پیداکړی اوبیاموږغسی پریښی نه دی او دده څخه غافله سوی نه یو بلکه دده دنشو اونما اوسیدو او ارام اسباب موهم پیدا کړي دی چی ابتداء یی دآسمانونو دپیدائش څخه سوي ده بیامو دآسمان څخه باران وکی ، دانسان دپاره خوراك او دده دارام سامان مودګلونو اومیوو څخه پیداکی چی ذکریی په ورپسی آیت کی داسی فرمایی ، وَأَنزَلْنَا مِنَ السَّمَاءِ مَاءً بِقَدَرٍ فَأَسْكَنَّاهُ فِي الْأَرْضِ وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ .

(انسانانو ته داوبو رسولو عجيبه قدرتي نظام)

په دی آیت کی یی دآسمان څخه داوبو اورولو دذکرسره یوقید دبِقَدَرٍ زیات کی او دی طرف ته یی اشاره وکړه چی انسان داسی پیدائشی ضعیف دی چی کوم شیان دده دپاره دژوند مدار دی که دغه دمقرر مقدار څخه زیات سی نودده دپاره مصیبت اوعذاب جوړیږی د اوبوپه شان شی دکوم څخه چی بغیرانسان او حیوان ژوندی نه سی پاته کیدی که دضرورت څخه زیاتی واوریږی نو طوفان ورڅخه جوړیږی او دانسان او دده دسامان دپاره وبال اوعذاب سی، په دی وجه دآسمان څخه اوبه اورول هم په یوه خاص پیمانه سره وی کوم چی دانسان ضرورت پوره کی اودطوفان صورت اختیارنه کی بغیر دهغو خاصو مقاماتو څخه په کوموچی دالله ﷻ دحکمت دتقاضا په یو وجه سره دطوفان مسلط کولوسبب سی، ددی څخه وروسته لویه دغورطلب کوونکی مسئله دا ده چی اوبه که دروزانه ضرورت دپاره روزانه اوریږی نوهم په انسان مصیبت جوړیږی روزانه باران خودده دکاروبار اومزاج څخه خلاف دی اوکه دټول کال یاشپږو میاشتو یادرو میاشتو دضرورت اوبه یی په یو وار اورولی اوخلګوته حکم وای چی خپله کوټه اوبه دشپږو میاشتو دپاره جمع کوی ساتی اواستعمالوی یی نوهرانسان څه چی اکثرو خلګوبه هم ددی انتظام څنګه کولی اوکه په لویو حوضونو اوخومانوکی یی ددی انتظام هم کولی نوپه څو ورځوکی به دغه اوبه ورستیدی چی بیابه یی څښل څه کوی استعمال به یی هم ګران وای، په دی وجه قدرت حق ﷻ ددی نظام داسی جوړکی چی اوبه څه وخت اوریږی دغه وخت په وقتی طور باندی چی څومره درختی اومځکی داوبه کولوقابلی وی هغه اوبه کیږی بیادمځکی په مختلفوتالابونو حوضونو اوقدرتی خومانوکی دا اوبه جمع سی چی انسان او حیوان یی ترڅه وخته پوری دضرورت دپاره استعمالوی مګر ظاهره ده چی دا اوبه هم په څو ورځوکی ختمی سی ، همیشه روزانه انسان ته تازه اوبه څنګه رسیږی کوم چی دهرځای اوسیدونکوته رسیږی ددی نظام قدرت داسی جوړکی چی داوبو یوه لویه حصه یی دواوری په صورت کی بحرِ منجمد جوړکی او دغرونو پرسرونو باندی یی په داسی پاکه صافه فضاء کی

کنبینبوولی چی نه ورته دگرداوغبار رسیدل سته نه دیوانسان اوخاروی او په کوم کی چی نه دورسنیدو امکان سته او نه دپلیتیدو اوخرابیدو څه صورت سته بیا دواوری دا اوبه کرارکرار ویلی کیږی دغرونو څخه درګونوپه ذریعه په مځکه کی دننه خپریږی او دا قدرتی پائپ لائن دپوره مځکی کونج کونج ته رسیږی چی په ځینو ځایونوکی ورڅخه چینی راوزی او دویالو اولښتیوپه شکل کی په مځکه بهیږی، تازه په تازه جاری اوبه په کرورنو انسانان او حیوانان اوبه کوی اوځینی دغه اوبه په مځکه کی دیری ځنه ولاړی سی او دا دڅاهانو کیندلو په ذریعه هر ځای را وایستل سی دقرآن کریم په دی ذکرسوی آیت کی یی داپوره نظام په یو لفظ فَأَسْكَنَّهُ فِي الْأَرْضِ سره بیان کړي دی په اخرکی یی دی طرف ته هم اشاره کړي ده چی دمځکی دبیخ څخه چی کومی اوبه دڅاهانوپه ذریعه را ایستل کیږی داهم دقدرت دطرف څخه اسانی ده چی دیری زیاتی لاندی نه دی بلکی په لږ ژوروالی باندی دا اوبه ساتل سوي دی کنه نوداهم ممکنه وه بلکه د اوبو دطبعی خاصیت داتقاضا وه چی دا اوبه دمځکی بیخ ته لاندی تللی وای چی بیاورته دانسان رسیدل ممکن نه وای، دامضمون یی دآیت په اخری جمله کی ارشاد وفرمایی، وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِ لَقَادِرُونَ.

مخ ته یی د اوبوپه ذریعه پیدا کیدونکی خاص خاص شیان دعربو دمزاج اومذاق مطابق ذکر وفرمایل چی دخرماو اوانګورو باغونه په دی سره پیدا سول اونوری میوی یی په یوخاص لفظ کی جمع کړی ذکر یی وفرمایلی ، لَكُمْ فِيهَا فَوَاكِهُ كَثِيرَةٌ : یعنی په دی باغونوکی ستاسی دپاره دخرماو اوانګورو څخه علاوه په زرګونو قسمه میوی پیدا کړی کومی چی تاسی محض دطبیعت خوشحالولو اوپه شوق طورباندی هم خوری او ددی څخه میوی ذخیره کړئ، ستاسی مستقل خوراك هم دهغه څخه تیاریږی، وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ دامطلب دی، مخ ته په خصوصیت سره دزیتون او دهغه دتیلو دپیداکیدو ذکرفرمایی ځکه چی ددی نفع بی شمیره دی اوچونکه دزیتون درخته پرکوه طور زیاته پیداکیږی په دی وجه یی دکوه طور طرف ته نسبت وکی: وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُورِ سَيْنَاءَ سَيْنَاءَ او سینین دهغه مقام نوم دی په کوم کی چی کوه طور واقع دی ، دزیتون تیل دتیلوپه ضرورتونو کی مثلاً دبدن په مالش او درناٶ دبلولو په کارهم راځی او په خوراك کی دسالن کارهم ورکوی دی ته یی وفرمایل: تَنْبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِلْآكِلِينَ دزیتون ددرختی دپاره دکوه طور خصوصیت دا دی چی دا درخته دټولوڅخه اول پرکوه طور پیداسوی ده اوځینی وایی چی دطوفان نوح څخه وروسته دټولو څخه اوله درخته چی په مځکه راټوکیدلی وه هغه دزیتون وه (مظهری)

ددی څخه وروسته دهغونعمتونو ذکرفرمایی کوم چی الله ﷻ دحیوانانو اوخاروپه ذریعه انسان ته ورکړی دی چی انسان ددی څخه عبرت حاصل کی او دالله ﷻ دکامل قدرت اوکامل رحمت دلیل یې ونیسی ، په توحید اوعبادت کی مشغول سی نوپه دی وجه فرمایی ، وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً یعنی

ستاسی دپاره په څارو او حیواناتوکی یو عبرت او نصیحت دی ، مخ ته ددی څه تفصیل داسی ښیی ،
نُسْقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهَا چی ددی څارو په ګیده کی موږ ستاسی دپاره پاکیزه شیدی تیاری کړلی کوم چی
دانسان دټولو څخه ښه خوراك دی او بیا فرمایی چی صرف شیدی نه بلکه په دی څارو کی ستاسی
دپاره ډیری (بی شمیره) فائدی او نفعی دی، وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ : که فکر وسی نو دڅاروی دبدن هرجز،
جز، دانسان په کار ورځی او په ده سره دانسان دژوند دپاره بی شماره اسباب تیاریږي ، دڅناورو
وریښته هډوکی کولمی پټی (پلي) او ټولو اجزاوو څخه انسان دخپل ژوند دپاره دومره سامانونه جوړوی
اوتیاروی چی شمیر یی هم مشکل دی ددی بی شمیره نفعو څخه علاوه یوه لویه نفع یی دا هم ده چی په
دی کی کوم څناور حلال دی دهغه غوښه هم دانسان دټولو څخه ښه خوراك دی وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ .
په آخرکی یی ددی حیواناتو یوه بله عظیمه فائده ذکر کړي ده چی تاسی پردی سپریږی هم او دبار برداری
کار هم د دوی څخه اخلی ، په دی اخری فائده کی چونکه دڅناورو سره په دریاب کی تلونکی کښتی هم
شریکی دی چی دسپرلی او باربرداریٔ لوی کار د دوی څخه اخستل کیږی په دی وجه کښتی یی هم د
دوی سره ذکر کړه : وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ د ، فُلك یعنی کښتیو په حکم کی هغه ټولی سپرلی هم
دی کومی چی دپهیو په ذریعه چلیدونکی دی .

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا

او موږ ولیږي نوح ﷺ دده قوم ته نو ده وویل ای قومه ا بندګی کوی ،

اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ۖ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ

دالله ستاسی بل معبود نسته دهغه څخه ماسوا ایا تاسی نه بیریږي ؟ ، نو وویل سردارانو کوم چی

كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ

کافران وه ، دده په قوم کی دا نه دی مګر سړی دی ستاسی په ډول غواړی چی لویی وکړی

عَلَيْكُمْ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا

په تاسی او که غوښتلی الله نو نازله کړی به یی وای ملائکه موږ نه دی اوریدلی دا په خپلو مخکنیو پلرونو

الْأَوَّلِينَ ﴿٢٤﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّىٰ

نیکونو کی ، نور هیڅ نسته دا یو سړی دی چی په ده سودا ده نو دده انتظار کوی تر یو وخته پوری

جِنَّةٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٢٦﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ

، وي ویل ای ربه ! ته مدد وکړی زما چی دوی زه دروغجن کړم ، بیا مونږ حکم ولیږی ده ته چی

اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ ۙ

جوړه کړه کښتی زمونږ په مخکښی او زمونږ په حکم سره بیا چی را ورسیږي زما حکم اور او خوټکیږي

فَاسْلُكْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلَّا مَنْ سَبَقَ

تنور نو ته وقوړخوه په کښتی کی دهرشی جوړه دوه دوه او دخپل کور خلق مګر دکوموپه قسمت کی

عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ ۖ وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ إِنَّهُمْ

چی مخکښی مقررسوی ده خبره ، او خبره مه کوه زما سره ددې ظالمانو په باره کی ، بیشکه دوی

مُغْرَقُونَ ﴿٢٧﴾ فَإِذَا اسْتَوَيْتَ أَنْتَ وَمَنْ مَعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ

لره دوبیدل دی ، بیا چی کله وختی ته او څوك چی تاسره دی په کښتی کی نو وایه

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي نَجَّانَا مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٢٨﴾ وَقُلْ رَبِّ

شکر دی د الله چی خلاص یی کړو مونږ دګناهګارانو خلقو څخه ، او ووایه ای ربه!

أَنْزِلْنِي مُنْزَلًا مُبَارَكًا وَأَنْتَ خَيْرُ الْمُنْزِلِينَ ﴿٢٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ

کښته کړی ما په برکتی کښته کیدو سره او ته یی ښه کښته کوونکی ! په دی کی نښانی دی

وَإِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِينَ ﴿٣٠﴾

او مونږ یُو ازمایش کوونکی .

لنډتفسیر: (ددی څخه په مخکی آیتونوکی دانسان دپیدائش او دده دبقاء اوارام دپاره دمختلف نـ
دسامان پیدا کولو ذکروو ، مخ ته دده دروحانی تربیت او دینی فلاح یی چی کوم انتظام فرمایلی دی
دهغه ذکر دی) او مونږ نوح (علیه السلام) دده قوم طرف ته پیغمبر جوړ کړی ولیږی پس دوی (خپل قوم ته) وفرمایل
چی ای زما قومه! خاص د الله جل جلاله عبادت کوی دهغه څخه ماسوا څوك ستاسی دپاره دمعبود جوړیدو

لايق نسته (او کله چي دا يوه خبره ثابته ده نو) بيا اياتاسي (دنورو دمعبود جوړولو څخه) نه بيرېږي پس (دنوح ﷺ دا خبره يي چي واوريده نو) دده په قوم کي چي کوم کافران سرداران وه (عواموته يي) وويل چي داسړی بغير ددی څخه چي ستاسي په شان يو (معمولي) انسان دی اوبل څه (رسول وغيره) نه دی (په دی دعوی سره) د ده (اصل) مطلب دا دی چي ترتاسي ځان لوی کی (يعني دده مقصد محض خپله مرتبه اوعزت دی) اوکه الله ﷻ ته (رسول ليږل) منظوروی نو (ددی کار دپاره) ملائکي به يي راليږلي وای (نو دده دعوی غلطه ده دغه ډول دده دتوحيد طرف ته دعوت ورکول بله غلطي ده ځکه چي) مونږ داخبره (چي بل څوك معبود مه جوړ وی) په خپلو مخکنيو مشرانو کی (هيڅکله) نه ده اوريدلی بس دا يوسړی دی چي دی ليونی سوی دی (په دی وجه دتولی دنيا څخه خلاف خبری کوی چي زه رسول يم اومعبود يو دی) پس تريو خاص وخت (يعني د ده ترمرګه) پوری دده (ددی حالت) نور انتظار کوی (اخردی به يو وخت ته ورسيږي ختم به سی اوتوله معامله به سره پاته سی) نوح (ﷺ چي د دوی دايمان راوړلو څخه نا اميده سو نودالله ﷻ په درباركي يي) عرض وکی چي ای زما ربه! (دوی څخه) زما بدله واخلي په وجه ددی چي دوی زه دروا غ کړی يم بس مونږ (دده دعا قبوله کړه او) ده ته (مو) حکم وليږی چي ته کښتۍ جوړه کړه زمونږ په نګراني کی او زمونږ په حکم سره (چي اوس به طوفان راځي اوتاسي اومومنان به ددغه په ذريعه محفوظ پاته کيږي) بياچي څه وخت زمونږ حکم (دعذاب نژدی) راسي او (نښانه يي دا ده چي) دمځکي څخه اوبه خوټکيدل شروع سي نو (دغه وخت) دهرقسم (حيواناتو) څخه (کوم چي دانسان په کار ورځي او په اوبوکی ژوندی نه سی پاته کيدی لکه پسه بزه غوا غوايي اوښ اس خر وغيره) يو يونر اويوه يوه ماده يعني دوه دوه په شمير په دی (کښتی) کی داخل کړه اوخپل دکور خلګ هم (سپاره کړه) بغير دهغو څخه په کومو چي (دغرقيدو) حکم نافذ سوي دی (يعني ستاپه اهل اوعيال کی چي کوم کافران وي هغه مه سپروه) او (داواوره چي دعذاب راتلوپه وخت کی) زماسره دکافرانو (دنجات) په باره کی هيڅ خبری مه کوه (ځکه چي) دغه ټول به غرقيږی بياچي څه وخت تاسي اوستاسي ملګری (مسلمانان) په کښتي کی کښيني نوداسي واياست چي شکردی دخدای چي مونږ ته يي دکافرانو خلګو څخه (يعني د دوی دکارونو او د دوی دتکليف څخه) نجات راکی او (کله چي دطوفان ختميدو څخه وروسته مځکي ته دکښتي څخه راکښته کيږی نو) داسي واياست چي ای زمونږ ربه! مونږ (په مځکه) دبرکت په کښته کيدو سره کښته کړی (يعني په باطني اوظاهری اطمينان سره مو وساتی) اوته دټولو (دځان سره په طور دميلمنو) کښته کونکو څخه ښه يي (يعني نورخلګ چي کوم ميلمانه دځان سره کښته کوی هغوی دخپلو ميلمنوپه مقصدونو پوره کولو او دمصيبتونو څخه په نجات ورکولو قدرت نه لری اوستا پردی ټولو شيانو قدرت دی) په دی (ذکرسوی واقعه) کی (دعاقلانو دپاره زمونږ دقدرت) ډيری نښاني دی اومونږ (دانبي ښيو اوخپل بندګان) ازمايو (يعني ازمائش يي کوو چي وګورو چي کوم ددی څخه نفع اخلي او

کوم یی نه اخلی او نښانی دا دی رسول لیږل ایماندار ان ساتل کافران هلاکول او ناځاپه طوفان پیدا کول
کښتی محفوظه ساتل وغیره وغیره)

معلومات او مسئلې: وَفَارَ التَّنُّورُ: تنور هغه خاص ځای ته هم ویل کیږی کوم چی د دوډی پخولو دپاره
جوړیږی او دا معنی معلومه او مشهوره ده دوهمه معنی د تنور ټولی مځکی ته هم ویل کیږی په لنډ تفسیر
کی ددی معنی په اعتبار سره ترجمه سوي ده او ځینی حضرات ددی ځخه یو خاص تنور د دوډی پخولو
مراد اخستی دی کوم چی دکوفی په جمات کی او دځینو په نزد دشام په ملك کی په یو ځای کی وو ددی
تنور ځخه اوبه راخوټکیدل دحضرت نوح ﷺ دپاره دطوفان نښانی مقرره سوی وه (مظهری)
دحضرت نوح ﷺ او دده دطوفان او کښتی واقعه په تیرو سورتونو کی په تفصیل سره تیره سوي ده

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِیْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَرْسَلْنَا فِیْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ
بیا پیدا کی مونږ ددوی ځخه وروسته یو جماعت بل، بیا ولیږي مونږ په دوی کی یو رسول د دوی ځخه چی بندګی کوی

غَیْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَ
دالله نسته تاسی ته معبود دهغه ځخه ماسوا ، نوتاسی نه بیریږي ، او وویل سردارانو دهغه دقوم چی کافران وه

كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا ۙ مَا هٰذَآ اِلَّا
او درواغجن کوی یی ملاقات دآخرت او آرام ورکړی وو مونږدوی ته ددنیا په ژوند کی هیڅ نسته دا یو سړی دی

بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ یَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَیَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ﴿۳۳﴾
ستاسی په شان خوری دکوم قسم ځخه چی تاسی خوری او چیښی دکوم قسم ځخه چی تاسی چیښی

وَلَئِنْ اَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ اِنَّكُمْ اِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ اَیَعِدُكُمْ اَنَّكُمْ
او که تاسی روان سوی په خبره دیوسړی چی ستاسی په شان دی نو بیشکه تاسی به خراب سی ایا تاسی ته وعده در

اِذَا مِتُّمْ وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿۳۵﴾ ۙ هَیْهَاتَ هَیْهَاتَ
کوی چی کله تاسی مړه سی او سی خاوری او هډوکی نو تاسی ته بیارا وتل دی ، کله کیدی سی ،کله کیدی سی

لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۶﴾ ۙ اِنْ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا نَمُوْتُ وَنَحْیَا وَمَا
دکومی چی تاسی سره وعده کیږی ، نور هیڅ نسته دا ژوند دی زمونږ ددنیا مړه کیږو او ژوندی کیږو

نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۳۷﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلُ ۨ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا وَّ

او مونږ ته بيا پورته كيدل نسته، او هيڅ نسته دا يو سړى دى جوړ كړى يې دى په الله ﷻ باندې دروغ

مَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۸﴾ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۳۹﴾ قَالَ عَمَّا

او مونږ دده دا نه منو، وې ويل اى ربه! زما مدد وكړه چې دوى زه دروغ جن كړم، وې فرمايل

قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ

اوس په لږو ورځوكې به سهار ته سي دوى پښيماني كوونكي، بيا ونيول دوى چيغې په حقه سره بيا كړل مونږ دوى

غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾

خس او خشاك، پس دخداى لعنت دى په ظالمانو خلقو.

تفسير: بيا (دنوح ؑ دقوم څخه وروسته) مونږ بله ډله پيدا كړه (مراد عاديان دي يا ثموديان) بيا مونږ په دوى كې يو پيغمبر وليږى كوم چې د دوى څخه وو (مراد هود ؑ يا صالح ؑ دى) دغه پيغمبر وويل چې تاسې خلګ دالله ﷻ عبادت كوى دهغه څخه ماسوا ستاسې بل څوك معبود (حقيقي) نسته ايا تاسې (دشرك څخه) بيريږى نه او (دهغه پيغمبر په دې خبره اوريدو) دهغوى په قوم كې چې كوم سرداران وه كوموچې (دخداى او رسول سره) كفر كړى وو او دآخرت راتلل يې دروواغ كړى وه اومونږ دوى ته په دنيوى ژوند كې عيش هم وركړى وو وويل چې بس داخو ستاسې په شان يو (معمولي) سړى دى (چنانچې) دى هغه څه خورى كوم چې تاسې خورى اوهغه څه چښى كوم چې تاسې چښى او (كله چې دى ستاسې په شان دى نو) كه تاسې دخپل په شان ديو (معمولي) سړي په خبره پسې ولاړاست نوبيشكه تاسې به (دعقل) په تاوان كې ياست (يعني لوى بې عقله به ياست) ايا دا سړى تاسې ته داوايي چې كله تاسې مړه سې او (دمرګ څخه وروسته) خاورى اوهډوكې سې (مطلب دا چې دا دغوښې اجزاء خاورى سي نوهډوكې بې غوښې پاته سي بيا په څو ورځوكې دغه هم خاورى سي نودا سړى وايي چې كله دى حالت ته ورسيږى) نو (بيابه دوباره ژوندى سى او دمځكې څخه) به را ويستل سى (نوايا داسې سړى هم داطاعت اوتابعدارى قابل كيدى سى او) ډيره ليرى اوډيره ليرى ده كومه خبره چې تاسې ته كول كيږى بس ژوند خو زمونږ ددنيا دا ژوند دى چې په مونږ كې څوك مرى اوڅوك پيدا كيږى اومونږ دوباره ژوندى كيدى نه سو بس دا يو داسې سړى دى كوم چې په الله ﷻ باندې دروواغ جوړ وى (چې زه يې رسول راليږلى يم اوبل څوك معبود نسته اوقيامت به راځى) او مونږ خويې هيڅكله رښتينى نه سو ګڼلى

پیغمبر دعا وکړه چی ای زما ربه! زما بدله واخله په دی وجه چی دوی زه دروغجن کړم ارشاد وسوچی
داخلګ په ډیر ژر پښیمانه سی چنانچی دوی یو سخت اواز (یاسخت عذاب) موافق دوعدی برحقی (چی
لَیُصْبِحُنَّ نٰدِمِیْنَ) ونیول (چی په دی سره دوی ټول هلاك سول) بیا (دهلاکولو څخه وروسته) مونږ دوی (د
خس او خاشاك (په شان پایمال) کړل نو دخدای لعنت دی پر کافرانو باندی

معلومات اومسئلي: ددی څخه په مخکی ایتونوکی دحضرت نوح ﷺ قصه په سلسله دهدایت ذکرسوی
وه ، مخ ته دنورو پیغمبرانو او د دوی دامتونوڅه حال اجمالاً بغیر دنوم اخستو څخه ذکر سوي دی
دنبیانو اوعلامو څخه مفسرین حضرات فرمایي چی مراد ددغو امتونو څخه عادیان یاثمودیان یادواړه
دی ، دعادیانو طرف ته حضرت هود ﷺ لیږل سوی وو او دثمودیانو پیغمر حضرت صالح ﷺ وو په دی
قصه کی یې ددی قومونو هلاکیدل دچیغی یعنی غیبی سخت اواز په ذریعه بیان کړي دی او دصَیحَة
یعنی دچیغی په ذریعه هلاکیدل په نورو آیتونوکی دثمودیانو دقوم بیان سوي دی په دی وجه ځینی
حضرات فرمایی چی په دی آیتونوکی د ، قَرْنًا اٰخَرِیْنَ څخه مراد ثمودیان دی مګر داهم کیدی سی چی
دصیحة لفظ دلته دمطلق عذاب په معنٰی کی اخستل سوی وی نو بیا دا دقوم دعادیانو سره هم لګیدی
سی ، والله اعلم

اِنْ هِیَ اِلَّا حَیَاتُنَا الدُّنْیَا نَمُوْتُ وَنَحْیَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِیْنَ (ددنیا ددی ژوند څخه ماسوا بل ژوند نسته پس مړه
کیدل اوژوندی کیدل ددی دنیا دی اوبیا بیرته ژوندی کیدل نسته) دا خبره دعامو کافرانو ده کوم چی
دقیامت څخه منکر دی دا انکارکوم چی په ژبه سره کوی هغوی خوښکاره کافران دی لیکن دافسوس او
ډیر دفکر شي دا دی چی اوس په ډیرو مسلمانانو کی هم په عملی طور دا انکار د دوی دهرقول اوفعل
څخه ښکاره کیږی چی دآخرت او قیامت دحساب طرف ته هیڅکله خیال هم نه کوی الله ﷻ دی مونږ ټول
مسلمانان ددی مصیبت څخه خلاص کړی . آمین

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِیْنَ ﴿۴۲﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا یَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۴۳﴾ ثُمَّ
بیا مونږ پیدا کړل ددوی څخه وروسته نور جماعتونه ،نه مخکي کیږي یو قوم دخپلی نیتی څخه اونه ورڅخه وروسته
اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا ؕ کُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا کَذَّبُوْهُ فَاَتْبَعْنَا
کیږي ، بیا ولیږل مونږ خپل رسولان پرله پسی ، کله چی به ورسیدی یو امت ته د دوی رسول نو دروغ جن به یې کړ
بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِیْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۴﴾
بیا وچلول مونږ ځینی په ځینو پسی ، او کړل مونږ دوی لره قصی ، نو لیری دی سی کوم خلق چی نه منی ،

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ ۙ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾

بیا ولیږل مونږ موسی ﷺ او دده ورور هارون ﷺ دخپلو نښانو اوښکاره دلیل سره.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَئِهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوا

فرعون او دده سردارانو ته بیایي تکبر وکی او وو دغه خلق تکبر کوونکی، نو وې ویل

أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴿٤٧﴾ فَكَذَّبُوهُمَا

ایا مونږ مونو دخپل ځان په شان ددومره سړواوقوم یې زمونږ تابعدار دی، نو دروا غ جن یې کړل دی دوواړه

فَكَانُوا مِنَ الْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ لَعَلَّهُمْ

بیا سول دهلا کیدونکو څخه، او مونږ ورکی موسی ﷺ ته کتاب چی دوی

يَهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَىٰ

لارپیداکی، او جوړ کی مونږ زوی دمریم او دده مور یوه نښانه او دوی ته موځای ورکی

رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ ﴿٥٠﴾

په یوه غونډی کوم چی ځای دپاته کیدو وو او اوبه صافی.

تفسیر: بیا ددی (عاد اوثمود دهلاکیدو) څخه وروسته مونږ امتونه پیدا کړل (کوم چی درسولانو د دروا غ کولو په سبب دغه هم هلاک سول او د دوی دهلاکیدو چی کومه نیته دالله ﷻ په علم کی مقرره وه) یو امت (په دی امتونو کی) دخپلی (دی) معین وخت څخه (په هلاکیدو کی) نه مخکی کیدی سو او نه (ددغه وخت څخه) دغه خلگ وروسته کیدی سول (بلکه په عینی وخت باندی هلاک سول مطلب دا چی دغه امتونه اول پیدا کړل سوی وه) بیا (دوی ته) مونږ خپل پیغمبران په یوبل پسی (دهد ایت دپاره) ولیږل (لکه څنګه چی دغه امتونه په یوبل پسی پیدا سول مګر د دوی حالت دا سو) چی کله به یوامت ته ددغه امت (خاص) رسول (دخدای داحکامو سره) راغی دوی هغه دروا غ کی پس مونږ (هم په هلاکولو کی) دیو څخه وروسته دبل تار وتړی او مونږ دوی لره قصی جوړی کړی (یعني دغه داسی نیست اونابود سول چی بغیر دقصو څخه د دوی څه نوم اونښانه پاته نه سوه) پس دخدای لعنت دی پرهغو خلګو کوم چی (دانبیاء علیهم السلام په یوه کولوهم) ایمان نه راوړی بیامونږ موسی (ﷺ) او دده ورور هارون (ﷺ) ته خپل

احکام او ښکاره دلیلونه (یعني ښکاره معجزه چې دلیل دنبوت دی) ورکړل اوفرعون او دده دربار یانو ته
(هم پیغمبر جوړ کړی) ولیږی (اوبني اسرائیلو ته یې مبعوث کیدل هم معلوم دی) پس دغو خلکو (دده
دتصدیق او اطاعت څخه) تکبر وکړ او دغه خلک وه متکبره (یعني داول څخه د دوی دماغ خراب وو
چنانچې دغو (دیوبل سره) وویل چې ایا مونږ په داسې دوو سړو کوم چې زمونږ په شان انسان دی په
دوی کې دامتیاز څه خبره نسته) ایمان راوړو؟ (او د دوی فرمان بردار جوړ سو؟) حال دا دی چې د دوی
دقوم خلک (خوپه خپله) زمونږ دحکم لاندې دی (یعني مونږ ته خوپه خپله د دوی په قوم باندې ریاست
حاصل دی بیا ددې دواړو اقتدار او ریاست مونږ څنګه منلی سو؟ دغو خلکو دیني ریاست په دنیوي
ریاست باندې قیاس کې چې مونږ ته یو قسم ددنیاریاست حاصل دی نو دبل قسم هم مونږ مستحق یو
اوکله چې دوی ته دنیوي ریاست نه دی حاصل نو دیني ورته څنګه ملاویدی سی اوفساد ددې قیاس
ظاهر دی) مطلب دا چې دغو خلکو دی دواړه درواغ کول پس (ددې درواغ کولو په وجه سره) هلاک کړه
سول او (د دوی دهلاکیدو څخه وروسته) مونږ موسیٰ (ﷺ) ته کتاب (یعني تورات) ورکړی چې (ددې په
ذریعه سره) دغه خلک (یعني دموسیٰ ﷺ قوم بني اسرائیل) هدایت پیداکړي اومونږ (په خپل توحید
اوقدرت ددلالت دپاره او دارنګه دبني اسرائیلو دهدایت دپاره) دمریم زوی (عیسیٰ ﷺ) ته او دده مور
(حضرت مریم ﷺ) ته لویې نښانې (دخپل قدرت او دهغه دصدق) جوړې کړې (چې بې پلاره پیداکیدل د
دواړو دپاره عظیمې نښانې دي) او (چونکې دې نبي جوړول منظور وو او یو ظالم باچا په کوچنیوالي
کې دده په قتل پسې سوی وو په دې وجه) مونږ (دده څخه محفوظ کې) دې دواړه مو یو داسې لوړ ځای
ته بوتلل اوپناه مو ورکړه کوم چې (په وجه دغلو اومیوو پیداکیدو) دپاته کیدو قابل او (په وجه دجاري
کیدو دنهر) خړوبه ځای وو (تردې چې په امن اوامان سره ځوان سو او نبوت ورکړل سو نوپه توحید او په
دعوه درسالت کې دده تصدیق ضروري وو مګر ځینو ونه کړې)

يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾ وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ

ای رسولانو . خوری پاک شیان اوکار کوی نیک ، څه چې تاسې کوی زه یې پیژنم او داخلق دی ستاسې دین

أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ

تول په یو دین باندی او زه یم ستاسی رب نو زما څخه وبیریږي ، بیا یې جلا جلاکی خپل کار په خپل منځ

زُبُرًا ۖ كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾ فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ

کی توتې توتې ، هره فرقه چې څه ورسره دی په هغه خوشحاله ده ،نو دوی پریږده د دوی په بې هوښی کې دوپ

حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾ نُسَارِعُ

تریو خته پورې ، آیادوی خیال کوي چې دا څه مونږ دوی ته ورکوو دمال او اولاد څخه ، نو ژر رسوو

لَهُمْ فِي الْخَيْرٰتِ ۚ بَلْ لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾

مونږ دوی ته ګټې ، دا سې نه ده بلکه دوی نه پوهیږي .

تفسير: (مونږ چې څنګه تاسې ته دخپلو نعمتونو داستعمال اجازه درکړې ده او دعبادت حکم مو درکړې دی دغه ډول ټولو پیغمبرانوته او د دوی په واسطه سره د دوی امتونوته مو هم حکم ورکړی وو چې) ای پیغمبرانو! تاسې (اوستاسې امتونه) پاک شیان خوری (چې دخدای نعمتونه دي) او (دخوراك شکر ادا کوی چې) نیك کارونه کوی (یعنی عبادت او) زه ستاسې ټول کړی کارونه ښه پیژنم (نوپه عبادت اونیکو کارونو به دوی ته جزا اوثمرات ورکړم) او (مونږ دوی ته دا هم وویل چې کومه طریقه تاسې ته تر اوسه ښوول سوې ده) دا ده ستاسې طریقه (پرکومه چې تاسې ته تلل اوپاته کیدل واجب دي) چې هغه یوه طریقه ده (دټولو پیغمبرانو او د دوی دامتونو په یوشریعت کې دا طریقه نه ده بدله سوی) او (حاصل ددغې طریقې دا دی چې) زه ستاسې رب یم تاسې زماڅخه بیره کوی (یعنی زما داحکامو مخالفت مه کوی څکه چې درب والی په حیثیت سره ستاسې خالق اومالك هم یم او دمنعم والی په حیثیت سره تاسې ته بی شمیره نعمتونه هم درکوم ددې ټولو شیانو تقاضا اطاعت اوفرمانبرداری ده) نو (ددې نتیجه خوداپه کار وه چې ټول په یوه طریقه چې دا ذکرسوه پاتي وی مګرداسې ونه سوه بلکه) دغوخلګوخپل دین اوخپله طریقه جداجدا کړه او اختلاف یې پیداکې دهری ډلې سره چې کوم دین (یعنی خپله جوړه سوی طریقه) ده چې هغه په خوشحاله اومین دی (اودباطلوالی باوجودیې حق ګڼې) نوته دوی لږه د دوی په جهالت کې تریوخاص وخته پوری پریږده (یعنی د دوی په جهالت ته غم مه کوه چې په مقرروخت د دوی دمرګ وخت راسی نوټول حقیقت به ښکاره سی او اوس چې کوم په فوری طورپه دوی عذاب نه راځی نو) ایا (په دې سره) داخلګ داګمان کوی چې مونږ دوی ته کوم مال اواولاد ورکوو نودامونږ دوی ته ژر ژر فائدې رسوو (داخبره هیڅکله نه ده) بلکه دا خلګ (ددې مهلت په وجه سره) نه پوهیږي (یعنی دامهلت خودوی ته په طور داستدراج ورکول کیږي کوم چې به اخر د دوی دپاره نور زیات دعذاب سبب جوړیږي څکه چې زمونږ په مهلت ورکولو سره به دوی نور مغروره سی په سرکښی اوګناهونوکی به نور زیات سی اوعذاب به یې زیات سی)

معلومات اومسئلې: يَا اَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا: دلفظ د طَيِّبٰت لغوی معنی ده پاك صفا شیان اوچونکی په اسلامی شریعت کی چی کوم شیان حرام سوي دی هغه نه پاکیزه دی او نه دعقل

والاوو په نزد نفيس او مرغوب دی ، په دی وجه دطيبات څخه مرادصرف حلال شيان دی کوم چی په ظاهری او باطنی هر اعتبار پاکيزه اونفيس دی په دی آيت کی دا ښوول سوي ده چی ټولو انبياؤ عليهم السلام ته دوه هدايتونه ورکړل سوی وه يو دا چی خوراک حلال اوپاکيزه خوری دوهم دا چی عمل صالح کوی اوکله چی انبياء عليهم السلام ته داخطاب سوي دی کوم چی الله ﷺ معصوم جوړ کړي دي نو د دوی دامت دخلکو دپاره داحکم زيات داهتمام قابل دی او اصل مقصود هم امتونه په دی حکم باندی چلول دی ، علماء فرمايي چی ددی دواړو حکمونو په يوځای راوړلو کی اشاره ده چی دحلال خوراک په نيک عمل کی لوی دخل دی که خوراک حلال وی نودنيک عمل توفيق خود بخوده پيداکيږي اوچی خوراک حرام وی نو دنيک کار دارادی کولو باوجود په کښی مشکلات را مخ ته کيږي .

په حديث کی دی چی ځينی خلک اوږده اوږده سفرونه کوی اوگردونه پر پراته وی بيا الله ﷻ ته ددعا دپاره لاسونه اوږده کړی يارب ! يارب وايی مگر د دوی خوراک هم حرام وی چښل يی هم حرام وی جامه يی هم دحراموڅخه وی اوحرام خوراک هم ده ته ورکول کيږي دداسی خلکو دعا کله قبليدی سي؟ (قرطبی) ددی څخه معلومه سوه چی دعبادت او دعاپه قبليدوکی دحلال خوراک لوی دخل دی کله چی خوراک حلال نه وی نو دعبادت او دعا دمقبوليت استحقاق نه پاته کيږي .

وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً : لفظ د : اُمّت يوجماعت او ديوخاص پيغمبر دقوم په معنی کی معلوم اومشهور دی او کله دالفظ دطريقی او دين په معنی کی هم راځي لکه دقرآن په يو آيت ، وَجَدْنَا آبَآئَنَا عَلَىٰ أُمَّةٍ په دی کی دامت څخه مراد دين اوطريقه ده دامعنی دلته هم مراده ده .

فَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ، زُبُر د زَبُور جمع ده کوم چی دکتاب په معنی کی راځي ددی معنی په اعتبار سره مراد دآيت دا دی چی الله ﷻ خو ټولو انبياء عليهم السلام او د دوی امتونوته داصولو اوعقائدو په مسئلو کی پر يو دين اوطريقه دتللو هدايت فرمايلي وو مگر امتونو دا ونه منله او په خپل مينځ کی ټوټی ټوټی او مختلف سول هر يو په خپله خپله طريقه جُدا اوخپل ځانته کتاب جوړ کی ، او زُبُر کله د زُبْرَةٌ جمع هم راځي چی معنی يی قطعه اوفرقه ده ، دا معنی دلته زياته واضحه ده اومراد دآيت دا دی چی دا خلک په عقيدو اواصولو کي هم مختلفي فرقي جوړی سوی ، ليکن دمجتهدينو امامانو فروعی اختلاف په دی کی دا خل نه دی ځکه چی په دی اختلافاتو باندي دين اوملت نه جدا کيږي او داسی اختلاف لرونکو ته جدا فرقه نه سی ويل کيدي او دی اجتهادي اوفروعی اختلاف ته دفرقه واريت رنگ ورکول خالص جهالت دی چی ديوه مجتهد په نزد هم جائز نه دی .

إِنَّ الَّذِينَ هُمْ مِنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ هُمْ بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾

بيشکه کوم خلق چی دخپل رب دبيری څخه په انديښنه کی وی او کوم خلق چی دخپل رب په خبرو يقين کوی

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّ

اوکوم خلق چې دخپل رب سره شریك نه منی ، اوکوم خلق چې ورکوی څه چې ورکوی

قُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿۶۰﴾ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ

او د دوی زړونه په بیره کی وی ، ځکه چې دوی خپل رب ته واپس کیدونکی دی ، دغه خلق تلوار کوی

فِى الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا

په نیکیو کی او دوی ورته دټولو څخه مخکی رسیږي ، اومونږ په چاباز نه غورځوو مگر دده دطاقت

وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾

او مونږ سره لیکلی دی چې خبره کوی رښتیا او په دوی به ظلم نه وی .

تفسیر: په دی کی هیڅ شك نسته چې کوم خلک دخپل رب دهیبت څخه په بیره کی اوسیږي او کوم خلک چې دخپل رب په ایتونو ایمان لري اوکوم خلک چې دخپل رب سره شرك نه کوی او کوم خلك چې (دالله ﷻ په لاره کی) ورکوی څه چې ورکوی او (سره ددی چې د الله په لاره کی ورکوی اوخرځ کوی) د دوی زړونه ددی څخه په بیره کی وی چې دوی خپل رب ته تلونکی دی (چې گوری هلته به د دوی ددی صدقو څه فائده حاصله سی هسی نه چې داصدقی ورکول دحکم موافق نه وی مثلاً مال حلال نه وی یانیت دالله ﷻ دپاره خالص نه وی او په نیت کی دکامل اخلاص نیستوالی یاپه مال کی حراموالی داصفتونه وی) داخلگ خپله فائده ژرژرحاصلوی اوهغه دهغوی طرف ته منډی وهي او (دا ذکرسوی عملونه څه سخت هم نه دی چې کول یی مشکل وی ځکه چې) مونږ پرچادهغه دطاقت څخه زیات کاربار نه غورځوو (په دی وجه داټول کارونه اسان دی او ددی سره د دوی به انجام اوثمره یقینی ده ځکه چې) زمونږ سره یوکتاب دی (عملنامه محفوظ ده) کوم چې صحیح صحیح (ټول حال) به ووښیی اوپرخلکو به یو ذره ظلم نه وی .

معلومات اومسئلي: وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ : لفظ د يُؤْتُوْنَ د ، ایتاء څخه مشتق دی چې معنی یی ورکول اوخرځول دی په دی وجه ددی تفسیرپه صدقوسره سوی دی او دحضرت عائشه ؓ څخه یو قرآئت دی یَاْتُوْنَ مَآ اَتَوْا هم نقل دی یعنی عمل کوی څه چې کوی په دی کی صدقی لمونځ روژه اوټول نیك کارونه شاملیږی او په مشهور قرآئت کی که څه هم ذکر دلته دصدقوری مگر مراد په هرحال عام نیك کارونه دی لکه چې په یوحدیث کی ثابت دی حضرت عائشه صدیقه ؓ فرمایي چې ما ددی آیت دمطلب

پوښتنه دحضور ﷺ څخه وکړه چې داکار کوونکي بيريدونکي خلګ هغه دي کوم چې شراب ...
ياغلا کوي؟ حضور ﷺ وفرمايل چې اى دصديق ﷺ لوريا داخبره نه ده بلکه دا هغه خلګ دي کوم ...
روژې نيسي لمونځونه کوي اوصدقې ورکوي ددې باوجود ددې څخه بيريږي چې شايد زمونږ دا ...
دالله ﷻ په نزد (زمونږ دڅه کوتاهي په سبب) قبول نه وي داسې خلګ نيکو کارونو ته تلوار او جلدي ...
(رواه احمد والترمذي وابن ماجه مظهري)

اوحضرت بصري رحمه الله فرمايي چې مونږ داسې خلګ ليدلي دي کوم چې به نيك عملونه کول دوي ...
بيريدل چې تاسې په بدعمل کولوهم دومره نه بيريږئ (قرطبي)

أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ د: مسارعت في الخيرات څخه مراد دا دې چې لکه څنګه ...
عام خلګ ددنياپه نفعو پسې منډې وهي او دنورو څخه دمخکې کيدو په فکر کې وي دا حضرات ...
په فائدوکې داسې عمل کوي په دې وجه دوي ددين په کارونوکې دنورو څخه مخکې کيږي.

بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هَٰذَا وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذَٰلِكَ هُمْ لَهَا

داسې هيڅ نسته ددوي زړونه بې هوښه دي ددې طرف څخه اودوي په نورو کارونوکې لګيدلي دي ددې څخه ما ...

عَامِلُونَ ﴿٦٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْأَرُونَ ﴿٦٤﴾

چې دوي هغه کوي، تردې چې کله ونيسو مونږ د دوي اسوده خلق په عذاب کې نو بيا به دوي چغې وهي.

لَا تَجْأَرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾ قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ

چغې مه وهئ نن ورځ تاسې زمونږ څخه نه سئ خلاصيدى ، تاسې ته اورول سوي وو زما اياتونه

عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾ مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ سَامِرًا

نو تاسې پرپوندو باندې چپه تيښتيدلاست . چې تکبر به مو ورڅخه کوي يو قصه ...

تَهْجُرُونَ ﴿٦٧﴾ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُم مَّا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ

ويونکي پرېښودونکي به تللاست ، آيا دوي غور ونه کې په دې کلام کې يا راغلى دى دوي ته داسې شى چې ...

الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿٦٩﴾ أَمْ

دې راغلى د دوي مخکني پلارانو نيکونوته ، يا ونه پيژندى دوي خپل رسول نو دوي هغه پردى ګني ، يا ...

يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ

چې په ده باندې سودا ده ، هیڅ نسته هغه خو راوړی ده دوی ته حقه خبره او په دوی کې په ډیرو حقه خبره

كٰرِهُوْنَ ۝۷۰ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

بده لګیږي ، او که حق د دوی دخواهشاتو تابعداري وکړي نو خراب به سی اسمانونه او مځکې

وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝۷۱ ؕ

او څه چې په دوی کې دي، هیڅ نسته مونږ رسولې دي دوی ته ددوی نصیحت نو دوی دخپل نصیحت څخه منع کوي

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖۗ وَّهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝۷۲ وَاِنَّكَ

یا خو د دوی څخه غواړې څه محصول پس محصول ستا درب ښه دی ، او هغه دی ښه رزق ورکوونکی ، او ته

لَتَدْعُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝۷۳ وَاِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ

خوی بلې دوی سیده لارې دی ته ، او کوم خلق چې نه مني

بِالْاٰخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ۝۷۴ وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ

آخرت دلارې څخه کاږه سوي دي ،او که مونږ په دوی رحم وکړو اولیرې کړو د دوی څخه کوم تکلیف

مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ۝۷۵ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ

چې دوی ته رسیدلی دی نو بیا به هم لګیدلي وي په خپل شرارت کې سرګردانه ، او مونږ نیولي وو دوی

بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ۝۷۶ حَتّٰۤى

په عذاب کې نو نه دوی عاجزي وکړه خپل رب ته او نه یې فریاد وکې ، تردې چې

اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا هُمْ فِيْهِ مُبْلِسُوْنَ ۝۷۷ ؑ

خلاصه کړه مونږ په دوی دروازه دیو سخت عذاب نو دوی په هغه کې نا امیده سول.

لنډتفسیر: (دا لوړ خو تاسې دمومنانو حال واوریدی مګر کفارداسې نه دي) بلکه (د دوی څخه برعکس)

دغو کفارو زړونه ددې دین دطرف څخه (چې ذکر یې په بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ کې دی) په جهالت (اوشك) کې

(هو ب) دی (چی حال یی لوړ هم معلوم سو فَذَرْهُمْ فِي غَمْرَتِهِمْ) او ددی (انکار اوجهالت) څخه علاوه ددی
خلکو نور هم (دیرخبیث) عملونه دی کوم چی (دوی پرله پسی) کوی (داخلک دشرك اوبدو عملو څخه سره
برابر عادت سوي دی) تردی چی کله مونږ د دوی خوشحاله خلک (دکوموسره چی مال دولت اونوکر مرئی
دی دمرګ څخه وروسته) په عذاب کی راګیر ونیسو (نوغریب اوغرباء لاپه کوم شمیرکی دی چی
دعذاب څخه به څه محفوظ کولی سي مطلب دا چی کله پردی تولو عذاب نازل سی) نوفوراً به چیغی
کوګاری کړی (اوتول انکار اوتکبر دکوم چی اوس عادت دی ختم به سی دغه وخت به دوی ته وویل سی
چی) اوس چیغی مه وهی (اوس یی هیڅ فائده نسته ځکه چی) زمونږ دطرف څخه ستاسی مطابق مدد نه
سی کیدی (ځکه چی دا دار الجزاء ده دار العمل نه دی په کوم کی چی چیغی وهل اوعاجزی کول مفید
وه چی دارالعمل وو په هغه کی خوستاسی دا حال وو چی) زمونږ ایتونه به تاسی ته (درسول په ژبه) ویل
اواورول سول نوتاسی به پر شا تښتیداست تکبرکوونکی دقرآن څخه مشغله جوړونکی (دقرآن په شان
کی) بی هوده عبثیات ویونکی (چی چابه ورته سحر ویل چابه ورته شعر ویل او دمشغلی دا مطلب دی
پس تاسی چی په دارالعمل کی څه کړي دی دهغه نن په دار الجزاء کی خوند واخلی او دا خلک کوم چی
دقرآن اوصاحب قرآن تکذیب کوی نوددی سبب څه دی ؟) ایادی خلکوپه دی کلام الهي کی فکر ونه کی
(چی ددہ اعجاز ورته ظاهرسی اوایمان را وړی) اوکه (د درواغجن کولو وجه دا ده چی) دوی ته یو داسی
شی راغلی دی کوم چی د دوی مشرانوته نه وو راغلی (مراد ددی څخه دالله ﷻ داحکامو راتلل دی کوم
چی څه نوی خبره نه ده دهمیشه څخه دانبیاء علیهم السلام په ذریعه د دوی امتونوته دا احکام ورکول
کیږی لکه چی داقول دالله ﷻ دی مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ پس د درواغجن کولو دا وجه هم باطله سوه او
دا دوي وجهی خو دقرآن متعلق دی مخ ته دصاحب قرآن متعلق فرمایی یعنی) یا (وجه د درواغ کولو دا
ده چی) داخلک دخپل رسول (ددیانت صدق او امانت دصفت) څخه خبر نه وه په دی وجه ددہ څخه منکر
دی (یعنی دا وجه هم باطله ده ځکه چی د دوی پر صدق او دیانت دټولو اتفاق وو) یا (دا وجه ده چی
داخلک (نعوذ بالله) ستاپه نسبت دلیونتوب قائل دی (نو ستاسی خو د اعلی درجی عاقل والی اوصاحب
الرایه کیدل ښکاره خبره ده پس په واقع کی په دی کی یوه وجه هم معقوله نه ده) بلکه (اصلی وجه دا ده
چی) دی رسول دوی ته حقه خبره راوړی ده او په دوی کی اکثره خلک دحقی خبری څخه نفرت کوی (نو دا
ټوله وجه ده د درواغ کولو او دحق دتابعداری نه کولو او دا خلک به دحق دین تابعداری څه وکی دوی
خو برعکس دا غواړی چی دغه حق دین د دوی دخیالاتو تابع سی یاترمیم په کښی وسی لکه دالله ﷻ
داقول چی په سورة یونس کی دی ، قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ او (په فرض محال
که چیری (داسی کار واقع کیدی او) دین حق د دوی دخیالاتو تابع (اوموافق) کیدی نو (په ټول عالم کی
به کفر اوشرک غوړولی سوی وای اواثر به یی دا سوی وای چی دحق تعالی غضب به ټول عالم ته متوجه

سوي واي او مقتضا به يې دا وه چې) تول آسمانونه او ځمکې او څه چې په دوي کې (آباد) دي ټول به تباه شوي واي (لکه چې په قيامت کې به په ټولو انسانانو کې دګمراهي عاميدو په سبب د الله ﷻ غضب هم پر ټولو عام وي او د الله ﷻ دعام غضب والي په وجه به هلاکت هم عام واي او اول خو د يو حق کار مقتضا دا ده چې هغه قبول سي که څه هم نافع هم نه وي او دهغه نه قبلول په خپله عيب دي مګر په دې خلګو کې صرف دا يو عيب نه دي چې حق بد ګڼي) بلکه (ددې څخه زيات دوهم په کښې هم دي چې دحق نابعداري کومه چې د دوي دنفع امتباب دي دهغه څخه ليرې تښتي بس) مونږ دوي ته د دوي دنصيحت (اونفع) خبر ورليږله پس دا خلګ دخپل نصيحت څخه هم روګرداني کوي يا (که علاوه دمذکوره وجهو څخه د دوي د دروا غ ګڼلو دا وجه ده چې دوي ته دا شبهه سوي وي چې) ته د دوي څخه څه امدني غواړې نو (دا هم غلطه ده ځکه چې کله ته پوهيږې چې) آمدني خوستا درب دټولوڅخه ښه ده اوهغه دټولو ورکوونکو څخه ښه دي (نوته دخلګو څخه ولې غواړې) او (خلاصه ددې حالاتو دا ده چې) ته خو دوي دنيکي لارې طرف ته (کومې ته چې لورحقه ويل سوي ده) رابلې او ددې خلګوکوم چې په آخرت ايمان نه لرې دا حالت دي چې ددې (نيکي) لارې څخه منع کيږي (مطلب دا دي چې حقوالي سيده والي اونافعوالي دا ټول مقتضيات د ايمان جمع دي اوکومې وجهې چې مانع کيدې سوې هغه يوه هم موجوده نه ده بيا ايمان نه راوړل سخته درجه دجهالت اوګمراهي ده) او (د دوي دسختدلي اوعناد داحالت دي چې لکه څنګه چې دا خلګ دشرعي ايتونو څخه متاثره کيږي دغه رول دقهري ايتونو مصيبتونو اوافتونو څخه هم نه متاثره کيږي که څه هم دمصيبت په وخت کې په طبعي طور سره مونږ بلې هم ليکن دغه وقتي دفعيه وي چنانچې) که مونږ پر دوي مهرباني وکړو اوپر دوي چې کوم تکليف دي هغه ليرې هم کړو نودغه خلګ (بيا) په خپله ګمراهي کې سرګردانه اصرار کوي (اوهغه قول او اقرارکوم چې يې په مصيبت کې کړي وي ټول ختم سي لکه داقول د الله ﷻ ، إِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ الضُّرُّ دَعَانَا الخ او داقول د الله ﷻ ، إِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ الخ) او (شاهد ددې دا دي چې څيني وخت) مونږ دوي په عذاب کې ګرفتار کړي هم دي پس دې خلګونه (په پوره طورسره) خپل رب ته زاري وکړه او نه يې عاجزي اختيار کړه (پس کله چې په عين مصيبت کې بل مصيبت هم داسې سخت راسې کوم ته چې عذاب ويل کيږي لکه قحط کوم چې په مکه کې دحضور ﷺ په ښراوو سره سوی وو دوي عاجزي اختيار نه کړه نو وروسته دمصيبت ليرې کيدو څخه خوپه درجه اولی د دوي څخه ددې توقع نسته مګر د دوي داتوله بې پرواهي اوبې باکي ترهغو مصيبتونو پورې ده دکومو سره چې دوي عادت سوي دي) تردې چې مونږ کله پر دوي دسخت عذاب دروازه خلاصه کړو (کوم چې دعادت څخه زيات وي برابره خبره ده که په دنياکې پردوي يوغيبي قهر راسي يا وروسته دمرګ څخه چې ضرور به واقع کيږي) نو دغه وخت به بالکل حيران پاته سي (چې دا څه وسوه اوټوله نشه به يې ووزي)

معلومات اومسائل: غَمْرَةٍ : داسی ژ ورو اوبو ته ویل کیږی په کوموکی چی سړی ډوب سی اوکوم چی په دی کی ورداخیلدونکی پټوی ، په دی وجه لفظ دغمره په دی اوهرپټونکی شی ته هم ویل کیږي ، دلته یی د دوی دی مشرکانه جهالت ته غمره ویلی ده څکه چی په دی کی د دوی زړونه ډوب اوپټ دی او دهیڅ طرف څخه دوی ته درڼا څرک نه رسیږي .

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ : یعنی دهغوی دګمراهی دپاره خویوه دشرك اوكفر دغفلت پرده کافی وه مګر هغوی په دی بسوالی نه کوی او ددی سره نور خبیث عملونه هم پرله پسی کوی .

مُتْرَفِيْهِمْ مُتْرَف دتَرَف څخه مشتق دی چی معنٰی یی په نعمت کی اوخوشحالی کی کیدل دی ، دلته دا قوم په عذاب کی دنیولو ذکر دی چی امیر غریب خوشحاله بدحاله ټول به په کښی دا خل وی مګر دمالدارو او خوشحالو ذکر یی په خاص طور سره څکه وکی چی داسی خلګ ددنیا دمصیبتونو څخه دخپل حفاظت دپاره څه اسباب کولی سی مګر د الله ﷻ عذاب چی کله راسی نو دټولو څخه اول داخلګ بی وسه پاته سی په دی آیت کی چی په کوم عذاب سره د دوی دنیولو ذکردی ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی ددی څخه مراد هغه عذاب دی کوم چی دبدر په غزاکی دمسلمانانو په تورو سره د دوی په سرونو راغلی وو اوځینو حضراتو ددی څخه مراد دقحط عذاب اخستی دی کوم چی دنبی کریم ﷺ په ښراوو سره په مکه والاؤ مسلط سوی وو، تردی چی دوی په مردارو حیوانانو سپو او هډوکو خوړلو باندی مجبوره سول ، نبی کریم ﷺ دکفارو دپاره ښراوی ډیری کمی کړی دی ، لیکن په دی موقع پرمسلمانانو د دوی دسختو ظلمونو څخه مجبوره سو او دا ښراوی یی وکړی . اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰی مُضَرَ وَاجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ، (رواه البخاری ومسلم قرطبی ومظهری)

مُسْتَكْبِرِيْنَ بِهٖ سٰمِرًا تَهْجُرُوْنَ : په دی کی دلفظ دَ بِهٖ ضمیر اکثرومفسرینو دحرم طرف ته راجع مقرر کړی دی کوم چی لوړکه څه هم ذکرنه دی مګر دحرم سره دمکی دقریشو دزیات ژور تعلق او په دی باندی د دوی ناز دومره معروف اومشهور وو چی دذکر کولو ضرورت یی نسته اومعنٰی ددی دا ده چی دمکی قریشوته د الله ﷻ آیتونه اورول او د دوی پرشا د تښتیدلو او نه منلو سبب دمکی دحرم نسبت او ددی په خدمت باندی د دوی تکبر اوناز وو .

او سٰمِرًا : دَ سَمَر څخه مشتق دی چی اصل معنٰی یی دخوارلسمی دسپوږمی شپه ده ، دعربو عادت وو چی دخوارلسمی دسپوږمی په شپه به کښینستل اوقصی به یی ویلی ، په دی وجه لفظ دَ سَمَر دقصی په معنٰی کی استعمالیدل شروع سول او سَامِر قصه ګوته ویل کیږي ، دالفظ که څه هم مفرد دی ، مګر په معنی کی دجمع دپاره هم ویل کیږي ، دلته سَامِر ، په معنی دَ سَامِرِيْن جمع دپاره استعمال سوي دی ، دمشرکینو یوحال کوم چی دالله ﷻ دایتونو څخه دانکار سبب جوړ سوی وو دمکی دحرم سره په نسبت اوخدمت باندی د دوی ناز وو، دوهم حال یی دابیان وفرمایی چی دا خلګ په بی بنیاده اوبی اصله قصو

دمشغولیدو سره عادت سوي دی د دوی دالله ﷺ دایتونو سره دلچسپی نسته .
تهجرون : دالفظ دهُجر څخه په ضمه دهاء سره مشتق دی چی معنی یی فضولی خبری او ښکنځل دی دا حال ددی مشرکانو بیان سوی دی چی داخلګ دفضول خبرو او ښکنځلو عادت سوی دی دنبی کریم ﷺ په شان کی ځینی داسی بی باکه کلمی وایی .

(دماخستن څخه وروسته دقصو کولو څخه منع او خاص هدایتونه)

دشپی دقصو ویلو مشغله په عربو عجموکی دپخوا څخه رارروانه ده او په دی کی ډیرفسادونه او دوخت ضائع کول وو، نبی کریم ﷺ دارسم دختمولو دپاره دماخستن څخه مخکی بیده کیدی او دماخستن څخه وروسته په فضولو قصوکی دمشغولیدوڅخه یی منع وفرمایل، حکمت په کی دا وو چی دماخستن په لمونځ باندی دانسان دورځی عملونه ختمیږی کوم چی دټولی ورځی دګناهونو هم کفاره کیدی سی ځکه دا ده ددی ورځی اخری عمل وی نوښه ده که دماخستن دلمونځ څخه وروسته په فضولو قصو کولوکی مشغول سی نواول خودا عبث کار اومکروه دی ، ددی څخه علاوه ددی په ضمن کی غیبت دروا غ اونور قسم قسم ګناهونه کیږی او یو بد انجام ددی دا دی چی دشپی ترناوخته پوری بیداره وی نوسهار وختی نه سی ولاړیدی په دی وجه حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه چی به کله څوك دماخستن دلمونځ څخه وروسته په فضول قصوکی مشغول لیدل نوتنبیه به یی ورته کوله اوځینوته به یی سزاهم ورکوله اوفرمایل به یی چی ژربیده سی شاید دشپی په اخرکی درته دتهجد توفیق وسی (قرطبی)

: اَفَلَمْ یَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ څخه تر اَمْ یَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ پوری دداسی پنځو شیانو ذکردی کوم چی دمشرکانو دپاره په نبی کریم ﷺ دایمان راوړلو څخه په یودرجه کی مانع کیدی سو او په دی کی دهریو دمنفی وجهی بیان یی ددی سره کړي دی چی خلاصه یی دا ده ، کومی وجهی چی دهغه خلګو دپاره دایمان څخه مانع کیدی سوی په هغه کی یوه وجه هم موجوده نه ده په دی وجه اوس د دوی انکار خالص دعناد اوضد څخه ماسوا بل هیڅ نه دی چی ذکریی په ورپسی آیت کی داسی فرمایی ، بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ : یعنی درسالت څخه دانکار څه عقلی یاطبعی وجه خوموجوده نه ده بیا دانکار سبب ددی څخه ماسوا هیڅ نه دی چی نبی کریم ﷺ حقه خبره راوړی ده او داخلګ حقه خبره بده ګنی او اوریدل یی نه غواړی چی سبب یی دهوا اوهوس غلبه اوجاهلانو ته چی کوم ریاست اواقتدار حاصل دی دهغه محبت او دجاهلانو تقلید دی ، داپنځه وجهی دی چی ذکر یی دایمان او په نبوت باندی داقرار کولو څخه دمانع کیدو په حیثیت سره سوي دی په هغه کی یی یوه دا هم فرمایلی ده .

اَمْ لَمْ یَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ : یعنی د دوی دانکار یوه وجه دا هم کیدی سوه چی کوم سړی دحق دعوت او دنبوت دعوه راوړی ده هسی نه دی دبهر څخه راغلی وی چی داخلګ دده دنوم نسب عادتونو اخلاقو اوعمل څخه خبرنه وی نودابه یی ویلی سول چی مونږته ددی مدعی حالات معلوم نه دی دی څنګه نبی او

رسول ومنو او خپل مقتداء (پیشوا) یی جوړ کړو، مګر دلته خو دا خبره ښکاره ده چی نبی کریم ﷺ دقریشو
په اعلی نسب کی ددی مکی په ښارکی پیدا سوی دی او دکوچنیوالی څخه ترځوانی پوری اووروسته
تو له زمانه یی ددی خلګو په مخکی تیره سوه د دوی یو عمل او یو عادت د دوی څخه پټ نه وو او د نبوت
د دعوی څخه تر مخکی پوری ټولو کفارو دمکی دوی ته صادق او امین وایه ، د دوی په کردار او عمل
هیڅاهم څه شبهه نه وه ظاهره کړی نو اوس د دوی داعذر هم نه سی چیلدی چی هغوی دی نه پیژنی.

وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ : ددی څخه مخکی په آیت کی دمشرکانو په باره کی
دا ویل سوی وه چی دا خلق کوم چی په عذاب کی دمبتلا کیدو په وخت کی الله ﷻ ته یا رسول ته فریاد
کوی که مونږ د دوی په فریاد رحم وکو او عذاب لیری کړو نو د دوی دپیدائشی شرارت او سرکښی دا
حال دی چی دعذاب څخه دخلاصیدو څخه وروسته به بیاهم په خپله سرکښی او نافرمانی کی مشغول
سی، په دی آیت کی د دوی دیوی دغه ډول واقعی بیان دی چی دوی په یو عذاب باندی ونیول سول مګر
دنبی کریم ﷺ په دعا سره دعذاب څخه دنجات پیدا کیدو څخه وروسته هم دوی دالله په مخکی کښته
نه سول او برابر په خپل کفر او شرک باندی ټینګ پاته سول .

(په مکي والاؤ دقحط عذاب او دنبي کريم ﷺ په دعا سره ددی دفع کيدل)

اول معلومه سوي ده چی نبی کریم ﷺ دمکی په خلګو دقحط دعذاب مسلط کیدو دعا کړی وه په دی
وجه دوی په سخت قحط کی اخته سول او په مردارو وغیره خوړلو باندی مجبوره سول چی دایی ولیدل
نو ابو سفیان دنی کریم ﷺ په خدمت کی په مدینه طیبه کی حاضر سو او وي ویل چی زه تاته په الله ﷻ
قسم درکوم او دصله رحمئ ، ایا تا دا نه دی ویلی چی زه داهل عالم دپاره رحمت جوړ سوی را لیږل سوی
یم دوی وفرمایل چی هو! بیشکه چی فرمایلی می دی او واقعه هم داسی ده ابو سفیان وویل چی تاسی
خو دخپل قوم مشران دبدر په جنګ کی په توره قتل کړل او کوم چی اوس پاته دی هغوی په لوږه وژنی؟
الله ﷻ ته سوال وکړه چی داعذاب زمونږ څخه لیری سی نبی کریم ﷺ دعا وفرمایله او دغه عذاب ختم
سو په دی باندی دا ذکر سوی آیت نازل سو ، وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ . الخ
په دی آیت کی دا ارشاد دی چی په عذاب کی په اخته کیدو بیا ددی څخه دنجات خلاصیدو څخه
وروسته هم دا خلګ دخپل رب په مخکی کښته نه سول چنانچی واقعه هم دا وه چی دنبی کریم ﷺ په دعا
سره قحط لیری هم سو، مګر دمکی مشرکان په خپل شرک او کفر هم دغسی ټینګ پاته سول (مظهری
وغیره)

وَهُوَ الَّذِي أَنْشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۚ قَلِيلًا مَا

او هغه جوړ کړی دی ستاسی دپاره غوږونه	اوسترګی	اوزړونه	ډیر لږ تاسی

تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۷۸﴾ وَهُوَ الَّذِىۡ ذَرَاَكُمۡ فِى الۡاَرۡضِ وَاِلَيۡهِ تُحۡشَرُوۡنَ ﴿۷۹﴾

حق منئ ، او هغه تاسی خپاره کړی یاست په مځکه کی او هغه ته به جمع کړل سی

وَهُوَ الَّذِىۡ يُحۡىٖ وَيُمِيۡتُ وَلَهُ اخۡتِلَافُ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ‌ؕ

او هغه دی چی ژوندی کوی او مړه کوی او دهغه کار دی بدلول دشپی او دروځی

اَفَلَا تَعۡقِلُوۡنَ ﴿۸۰﴾ بَلۡ قَالُوۡا مِثۡلَ مَا قَالَ الۡاَوَّلُوۡنَ ﴿۸۱﴾ قَالُوۡۤا ءَاِذَا

ایا تاسی نه پوهیږئ ؟ هیڅ خبره نسته بلکه دوی هغسی وایی لکه چی ویل به مخکنی خلقو ، وایی ایا

مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبۡعُوۡثُوۡنَ ﴿۸۲﴾ لَقَدۡ وُعِدۡنَا نَحۡنُ

هرکله چی مونږ مړه سو اوسو خاوری اوهډوکی نو ایا مونږ ته بیا ژوندی پورته کیدل دی ؟ وعده کول کیږي مونږ

وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنۡ قَبۡلُ اِنۡ هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِيۡرُ الۡاَوَّلِيۡنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ

سره اوزمونږ دپلارانو نیکونو سره داسی دمخکي څخه نه دی دا ، مگر نقلونه دی د مخکنیو څخه ، ته ووایه

لِّمَنِ الۡاَرۡضُ وَمَنۡ فِيۡهَاۤ اِنۡ كُنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۸۴﴾ سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ‌ؕ

دچا ده مځکه ؟ او څه چی په دی کی دی ووایاست که تاسی پوهیږئ ؟ اوس به ووایی هرڅه دالله دی

قُلۡ اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۸۵﴾ قُلۡ مَنۡ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبُّ

ته ووایه بیا تاسی فکر نه کوی ، ته ووایه څوک دی مالك داوو (۷) اسمانونو او مالك دی

الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡمِ ﴿۸۶﴾ سَيَقُوۡلُوۡنَ لِلّٰهِ‌ؕ قُلۡ اَفَلَا تَتَّقُوۡنَ ﴿۸۷﴾ قُلۡ

دهغه لوی تخت ، اوس به ووایی چی الله لره دی ، ته ووایه بیا تاسی نه بیریږئ ؟ ته ووایه

مَنۡۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوۡتُ كُلِّ شَىۡءٍ وَّهُوَ يُجِيۡرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ

دچا په لاس کی دی حکومت دهرشی او هغه محفوظ کوی او دهغه څخه څوك نه

إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾

سی محفوظ کیدی وواياست که تاسی پوهیږي ؟ اوس به ووايي چی الله ﷻ لره دی ، ته ووايه بيا په تاسی دکومه

بَلْ أَتَيْنَاهُم بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٩٠﴾ مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ

جادو سوی دی ؟ هیڅ نسته مونږ دوی ته رسولی دی حق او دوی خامخادرواغجنان دی ، نه دی جوړکړی الله څوك

وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ ۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَ

زوی او نه دهغه سره دچاحکم چلیږي که داسی وای نوبیولی به وای هرحکم والا خپل جوړسوی شی

لَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٩١﴾ عَالِمِ

او حمله به کړی وای يوه په بل باندی ، پاك دی الله د دوی دجوړ کړو خبرو څخه ، پوهیدونکی دی

الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٩٢﴾

په پټو او په ښکاره هغه ډیر لوی دی دهغو څخه چی دوی يی ورلره شریك جوړوی .

لنډتفسیر: اوهغه (الله) داسی (قادر اومنعم) دی کوم چی ستاسی دپاره غوږونه اوسترګی اوزړونه جوړکړل (چی ارام درته هم وی او ددین پوه هم حاصله کړی لیکن) تاسی خلګ ډیرکم شکرکوی (ځکه چی اصل شکر دا وو چی ددغه منعم ښه دین تاسی قبول کړی وی او دوباره په قیامت کی دژوندی کیدو څخه موانکارنه کولی) اوهغه داسی دی کوم چی تاسی په مځکه کی خپاره کړی یاست اوتاسی ټول به (دقیامت په ورځ) هغه ته را وستل سی (دغه وخت به دنعمت ددی ناشکری حقیقت معلوم سی) اوهغه داسی دی چی ژوندی کول کوی اومړه کول کوی اودهغه په اختيارکی دی دشپی او ورځی کمول اوزیاتول نو اياتاسی (په دومره خبره) نه پوهیږی (چی دقدرت دا دلیلونه په توحید او په قیامت کی به دوهم ژوند دواړو باندی دلالت کوی مګر) بیایی هم منی نه بلکه دوی هم هغسی خبره کوی کومه چی مخکی (کافرانو) خلګو ویله اوس یی دوی وایی (یعنی) داسی وایی چی اياکله مونږ مړه سو او مونږ خاوری اوهډوکی سو نو ايامونږ به بیرته ژوندی سو ددی خو زمونږ او (زمونږ څخه) دمخکی مشرانو سرا وعده کیدل.راروان دی دا هیڅ هم نسته محض بی سنده خبری دی کوم چی دمخکی خلګو څخه نقل کیدونکی راروانی دی (چونکی په دی قول سره دقدرت څخه انکار لازمیږی او په دی سره دبیا پورته کیدو څخه په انکار سره انکار دتوحید څخه هم کیږی په دی وجه ددی قول په جواب کی دقدرت

دثابتولو سره دتوحيد ثابتول هم ارشاد كيږي يعنې) ته (په جواب كې) دا ووايه چې (ښه نو دا وښياست چې) دا مځكه اوڅه چې په دې اوسيږي دچاملكيت دې كه تاسې ته څه خبر وي؟ هغوي به خامخا دا ووايي چې دالله دې (نو) دوی ته ووايه چې بيا ولې فكرنه كوي (چې دبيا پورته كولو په قدرت اوتوحيد په حكم ثبوت وسي او) ته دا هم ووايه چې (ښه نو دا وښياست چې) ددې اووه آسمانونو مالك او دعالي شان عرش مالك څوك دی؟ (ددې به هم) هغوي به ضرور دا جواب دركې چې دا هم (ټول) د الله دي ته (دغه وخت) ووايه چې بياتاسې (دهغه څخه) ولې نه بيريږي؟ (چې دهغه دقدرت او دبيا پورته كيدو دايتونه څخه انكار كوی او) ته (دوی ته) دا هم ووايه چې (ښه) هغه څوك دی دكوم په لاس كې چې دټولو شيانو اختياردی اوهغه (چاله چې وغواړي) پناه وركوی اودهغه په مقابله كې څوك چاله پناه نه سي وركولی كه تاسې ته څه خبر وي؟ (بيابه هم په جواب كې) هغوي ضرور داسې ووايي چې داټول صفتونه هم د الله ﷻ دي ته (دغه وخت) ووايه چې بياپه تاسې دكوم طرف څخه ليونتوب سوی دی (چې داټولي مقدمی منی اونتيجه چې توحيد او دقيامت عقيده ده نه منی دا خودليل وو پرمقصود باندې د دوی په جواب كې مخ ته د دوی دمقدمې دليل يعنې دَ، إِنْ هَٰذَا إِلَّا أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ الخ باطلول دي يعنې دا چې كومه دوی ته ښوول كيږي چې قيامت به راځي اومړي به ژوندي كيږي دا اساطير الاولين نه دي) بلكه مونږ دوی ته رښتيني خبره رسولې ده اويقينًا (په خپله) دوی دروا‌غ دي (تردې ځای پوری مكالمه ختمه سوه اوتوحيد اوبيا پورته كيدل دواړه ثابت سول مگر په دې دواړو مسئلو كې دتوحيد مسئله چونكې زياته مهتم بالشان اوپه حقيقت كې داخرت اوقيامت مسئله هم په دې بناء ده اومحل دخبرې هم زيات وو په دې وجه دتقرير په تماميدوكې دا مستقل ارشاد فرمايي چې) الله ﷻ څوك خپل اولادنه دی مقرركړی يا (لكه څنگه چې مشركانو دملائكو په باره كې ويل) اونه دده سره څوك بل خدای سته كه داسې وای نوهر خدای به خپل مخلوق (تقسيم كړی) جدا كړی وای او (بيابه يې لكه ددنيا دبادشاهانو په شان ديوبل پرمخلوق دقبضې كولو دپاره) په يوبل حمل كولی (نوبيا خو به دمخلوق دتباهي گرسره څه انتهانه وه ليكن دعالم نظام په خپل دستورسره قائم دی نو ددې څخه ثابته سوه چې) الله ﷻ ددې (مكروهو) خبرو څخه پاك دی كوم چې داخلك (دهغه په نسبت) بيانوی پوه دی په ټولو پټو اوښكاره وو باندې، مطلب دا چې ددې خلكو دشرك څخه هغه ډير لوی (اومنزه) دی.

معلومات اومسئلي: وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ يعنې الله ﷻ چاته چې غواړي دعذاب اومصيبت رنځ اوتكليف څخه پناه وركوی اوداچې دچامجال نسته چې دده په مقابله كې چاته پناه وركړي اودده دعذاب اوتكليف څخه يې محفوظ كړي دا خبره ددنياپه اعتبارسره هم صحيح ده چې الله ﷻ چاته څه نفع رسول غواړي هغه څوك منع كولی نه سي اوچا ته چې څه تكليف اوعذاب وركول غواړي هغه څوك محفوظ كولی نه سي او دآخرت په اعتبار سره هم دامضمون صحيح دی چې څوك هغه په عذاب كې اخته كوي

خوك يي نه سي محفوظ كولى اوچاته چي جنت اوراحت وركوى هغه خوك منع كولى نه سي (قرطبي)

قُلْ رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ ﴿٩٣﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٩٤﴾

ته ووايه اى ربه اته ښيى ماته هغه چي ددوى سره يي وعده سوى ده، نواى ربه امامه كوى په دى ګناهګارانو خلقو كى

وَإِنَّا عَلَىٰ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ ﴿٩٥﴾ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ

او زمو قدرت سته چي تاته وښيو دكوم چي د دوى سره وعده سوى ده ، دبدى خبرى په جواب كي هغه وايه

أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾ وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ

كومه چي ښه ده ، مونږ ښه پيژنو څه چي دوى جوړ وى ، اووايه اى ربه ازه ستا پناه

بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ﴿٩٧﴾ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

غوارم دشيطانانو دوسوسو څخه ، اوستا پناه غوارم اى ربه ! ددې څخه چي ما ته راسى ،

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ ﴿٩٩﴾ لَعَلِّي

تردى چي كله ورسيږي په دوى كي يوه ته مرګ وبه وايى اى ربه ! ما بيرته وليږه شايد

أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ ۚ كَلَّا ۚ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا ۖ وَمِن

زه نيكى وكړم په هغه كي چي ما پرينبى دى هرګز داسى نه ده ، دا يوه خبره ده چي دى يي وايى او ددى خلقو

وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٠٠﴾

په مخكې يوه پرده ده تر هغه ورځى پورى چي پورته كړل سى.

لنډتفسير: ته (دحق تعالى څخه) دعاكوه چي اى زماربه ! دكوم عذاب چي ته ددى كافرانو سره وعده كوې (لكه چي لوړ په اِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ سره هم معلومه سوه) كه ته يي ماته ښيى (مثلاً دا چي دغه عذاب به په دوى زماپه ژوندكي په دى طورسره راسى چي زه يي هم ووينم څكه چي ددغه وعده سوى عذاب ځ خاص وخت نه دى ښوول سوى لكه چي په ذكرسوى آيت كي هم توضيح نسته چي دا ذكر سوى احتمال به كښى دى مطلب دا چي كه داسى وسوه) نواى زما ربه! ماپه دى ظالمانو خلګو كي مه شاملوى اومونږ به دى خبره چي دكومې د دوى سره وعده كوو تاته هم پرښوولو باندى قادريو (باقى تر څو پورى چي به

دوی عذاب نه راځي) ته (د دوی سره داسې معامله کوه چې) د دوی دبدی دفع په داسې سلوك سره کوه کوم چې ډیرښه (اونرم) وي (او دخپل ځان دپاره بدله مه اخله بلکه مونږ ته یې حواله کوه) مونږ ته ښه معلوم دي څه چې داخلگ (ستاپه باره کې) وایي او (که چیرې تاته په مقتضا دبشریت غصه درسي نو) ته داسې دعاکوه چې ای زماربه ! زه ستاپناه غوارم دشیطانانو دوسوسو څخه (کوم چې په ماداسې کاروکې چې خلاف مصلحت وي که څه هم خلاف شریعت نه وي) او ای زما ربه ! زه ستا پناه غوارم ددې څخه چې شیطان ماته هم راسي (او وسوسه غورځول خو لاپریږده نو په دې سره به دغه غصه ولاړه سي دا کفار دخپل کفر اودخپل بیا ژوندي کیدو دانکار څخه نه منع کیږي) تردې چې کله په دوی کې پریوچا مرگ سربیره) راسي (اواخرت ووینې) دغه وخت (یې سترگې خلاصې سي او په خپل جهل اوکفر ستومانه سي) وایي چې ای زما ربه ! (زماڅخه مرگ لرڅه وروسته کړه او) ما (دنیاته) بیابیرته ولیږه ددې دپاره چې کومه (دنیا) ماپاته کړه هغې ته (بیا ولاړسم) نیك کاروکړم (یعنی تصدیق اواطاعت دحق تعالی وکړم دادرخواست ور رد فرمایي چې) هیڅکله (داسې) نه ده (نه سي کیدی) دَ (دوی) یوه خبره ده چې وایي یې (اوپوره کیدونکې نه ده) او (وجه ددې دا ده چې) ددې خلگو په مخکې یو (شی) پرده (کیدونکې را روان دی (چې دهغه راتلل ضروري دی اوهغه دنیاته دبیرته راتلو څخه مانع دی مراد ددې څخه مرگ دی چې دهغه واقع کیدل هم په مقرر وخت باندې ضروري دی (وَلَنْ يُؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا) او دمرگ څخه وروسته دنیاته راتلل هم) دقیامت تر ورځې پورې (دالله ﷻ دقانون څخه خلاف دی)

معلومات اومسئلي: قُلْ رَّبِّ إِمَّا تُرِيَنِّي مَا يُوعَدُونَ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ : مطلب ددې دواړو ایتونو دا دی چې دقرآن کریم په ډیرو ایتونوکې په مشرکانو اوکفارو دعذاب دراتلو وعدې ذکر دی کومې چې عامې دي په قیامت کې ددې واقع کیدل قطعي اویقیني دي په دنیاکې یې دکیدوهم احتمال دی بیا داعذاب که په دنیاکې پردوی واقع کیږي نو په دې کې دااحتمال هم دی چې دنبی کریم ﷺ دزمانې څخه وروسته راسي او دا هم احتمال دی چې دنبی کریم ﷺ په زمانه کې راسي دده ﷺ په مخکې او په دنیاکې چې کله پریو قوم عذاب راځي نوځینې وخت ددغه عذاب اثرصرف پرظالمانونه وي بلکه پرنیکو خلگو یې هم په دنیاکې اثرکیږي ، که څه هم په آخرت کې د دوی دپاره څه عذاب نه وي بلکه په دې دنیاکې چې کوم تکلیف دوی ته رسیږي په هغه ثواب هم ورته ورکول کیږي ، دقرآن کریم ارشاددی ، وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَّا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً : یعنې دداسې عذاب څخه وبیریږې کوم چې که راغی نوصرف ترظالمانو پورې به نه وي بلکه نور خلگ به هم ددې په زد کې راسي .

په دې آیتونوکې نبی کریم ﷺ ته دا دعا ښوول سوې ده چې ، یا الله که په دې خلگو ستاعذاب زماپه مخکې زماپه وړاندې راځي نوما ددې ظالمانوسره مه گرځوی ، دنبی کریم ﷺ معصوم والی او دالله دعذاب څخه محفوظ والی که څه هم د دوی دپاره یقیني وو مگر بیایي ورته هم دا دعا ځکه وښووله چې

دوی په هرحال کی خپل رب یاد ساتی فریاد ورته کوی چی ثواب یی زیات سی (قرطبی)

وَإِنَّا عَلَىٰ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ : یعنی زمونږ په دی پوره قدرت دی چی مونږ ستا په مخکی تاته په دوی عذاب راتلونکی وښیو ځینی تفسیر لیکونکی فرمایی چی که څه هم په دی امت دحضور نبی کریم ﷺ په برکت سره دعام عذاب نه راتلو وعده دالله ﷻ دطرف څخه سوي ده ، وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ یعنی مونږ ددی خلکو په دی حالت کی هلاکوونکی نه یو چی ته په دوی کی موجود یی ، لیکن په خاص خاص خلکو په خاصو حالاتو کی په دنیا کی عذاب راتلل ددی منافی نه دی ، په دی آیت کی لکه چی فرمایلی یی دی چی مونږ په دی قادر یو چی تاته هم د دوی عذاب وښیو دغه دمکی په خلکو باندی دقحط بیا دبدر په غزاکی دمسلمانانو دتورو عذاب دده ﷺ په مخکی پردوی راغلی وو (قرطبی)

ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ: یعنی ته بدی دنیکی په ذریعه ظلم دانصاف په ذریعه اوبی رحمی درحم په ذریعه دفع کړه دا دمکارم اخلاقو تعلیم دی کوم چی نبی کریم ﷺ ته ورکړل سوي دی کوم چی دمسلمانانو په مینځ کی دمعاملو دپاره همیشه جاری دی البته دکفارو اومشرکانوسره د دوی دظلم په مقابله کی عفوه او درگزرکول پردوی لاس نه پورته کول دا حکم دجهاد په ایتونو سره منسوخ سو، مگر عین دجهاد په حالت کی ددی حسن اخلاقو ډیری نمونی باقی پاته سوي دی چی ښځی مه قتلوی بچی مه قتلوی کوم مذهبی خلگ چی دمسلمانانوپه مقابله کی په جنگ کی شریك نه وی هغه دی نه تتلیږی اوکوم چی قتل سی دهغو مثله دی نه جوړیږی چی پزه غوږ وغیره ورڅخه پریکړی او داسی نور دمکارم اخلاقو څخه په دی وجه په وروسی آیت کی نبی کریم ﷺ ته دشیطان او دده دوسوسو څخه دپناه غوښتو دعاښوول سوي ده چی عینی دجنگ په میدان کی هم ستا دطرف څخه دعدل اوانصاف اومکارم اخلاق خلاف یوشی دشیطان په غصه وروستلو سره صادرنه سی هغه دعا دا ده .

وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ : دلفظ دَهمز معنی ډیکه ورکول اولاندی کولوکی راځی او دشا څخه داواز ورکولو په معنی کی هم راځی دا دعا دخپل عام مطلب په اعتبارسره یوه جامعه دعا دشیطان دشر اومکرڅخه دمحفوظ کیدو دپاره ده، نبی کریم ﷺ ددی دعاتلقین مسلمانانوته فرمایلی دی ددی دپاره چی دداسی غصی اوغضب په حالت کی چی دانسان په خپل نفس واك نه وی او دشیطان دوسوسی دخل په کښی وی ددی څخه محفوظ پاته سی ددی څخه علاوه دشیطانانو اوپیریانو دحملو څخه محفوظ کیدو دپاره هم دا دعا مجرّبه ده ، حضرت خالد ﷺ ته په دشپی خوب نه ورتلی نونبی کریم ﷺ ورته دا دعا داکلمی تلقین وفرمایلی چی دا وایه اوبیده کیږه دوی چی دا وویلی نودا شکایت یی ختم سو، هغه دعا دا ده .

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِ اللَّهِ وَعِقَابِهِ وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ.

أَن يَحْضُرُونِ په صحیح مسلم کی دحضرت جابربن عبدالله ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی

دی چی شیطان ستاسی په هرکارکی په هرحال کی تاسی ته راځی اوپه هرکارکی دګناهونو اوغلطو کارونو وسوسه په زړه کی دراچوی (قرطبی) د ده څخه دپناه غوښتو دپاره یی دا دعا تلقین فرمایلی ده .

رَبِّ ارْجِعُوْنِ: یعنی دمرګ په وخت کی چی کله کافرانو ته دآخرت عذاب مخامخ سی نوهغه ارزوکوی چی کاشکی زه بیادنیاته واپس سوی وای چی نیک عمل وکړم او ددی عذاب څخه نجات پیدا کړم .

ابن جریر رحمه الله په روایت دابن جریج رحمه الله نقل کړي دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دمرګ په وخت کی کله مومن ته درحمت ملائکی او درحمت سامان مخامخ ښکاره سی نوملائکی پوښتنه ورڅخه کوی چی ایاته غواړی چی بیا دنیاته بیراته ولاړسی؟ نو دی به ووایی چی که زه ددغه غمونو اوتکلیفونو دنیاته واپس سم نوڅه به کوم؟ ماخو اوس الله ﷻ ته ورسوی اودکافرڅخه به پوښتنه وکړی نو هغه به وایی ، رَبِّ ارْجِعُوْنِ یعنی مادنیاته واپس کړئ .

كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿۱۰۰﴾ دَبـرزَخ: لفظی معنٰی پرده اوفاصـل دی د دوو حالتونو یادوو شیانو په مینځ کی چی کوم شی فاصـل وی هغه ته بَرْزَخ وایی ، په دی وجه دمرګ څخه وروسته ترقیامت اوحشر پوری زمانی ته برزخ وایی ځکه چی دا ددنیا دژوند او دآخرت دژوند په مینځ کی حد فاصل دی او معنٰی دآیت دا ده چی کله مړکیدونکی کافر ملائکوته دوباره دنیاته دراتلو ووایی نوداکلمه خو ده وویله ځکه چی اوس عذاب مخ ته راغلی دی مګرددی کلمی اوس هیڅ فائده ځکه نسته چی دی اوس برزخ ته رسیدلی دی چی دهغه قانون دا دی چی دبرزخ څخه واپس کیدل او دوباره دنیاته راتلل نسته او دقیامت اوبیا پورته کیدو څخه مخکی بل ژوند نه پیدا کیږی . والله تعالی اعلم

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿۱۰۱﴾ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ

نوکله چی پوکی وسی په شپیلی کی نونه به خپلولی وی په مینځ د دوی کی به دغه ورځ اونه به دیوبل څخه پوښتنه کوی ، نو دچاچی دروندسو تول دده .

فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۱۰۲﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ الَّذِينَ

نو ددغو خلقو کار وسو ، اودچاچی سپک سوتول دده نودغه خلق دی

خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿۱۰۳﴾ تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ

چی تاوان یی وکی ، په خپلو ځانونو په دوږخ کی به وی همیشه ، وروبه سوزئ مخونه اور

وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴿۱۰۴﴾ أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَى عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا

او دوی به په کی بدشکله سوی وی ، ایا تاسی ته نه اورول کیدل زمونږ ایتونه نو تاسی هغه

تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴿١٠٦﴾

درواغ جن کول ، وبه وایی ای ربه ازورکړی وو په مونږ ، زمونږ کم بختی او وو مونږ خلق بی لاری

رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ﴿١٠٧﴾ قَالَ اخْسَئُوا فِيهَا

ای زمونږ ربه! وباسی مونږ ددې څخه که مونږ بیا وکړه ، نو مونږ به گناهکار یُو ، وبه فرمایی پراته اوسی په دې

وَلَا تُكَلِّمُونِ ﴿١٠٨﴾ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا

کی زیان کاره اوزماسره خبری مه کوی ، بیشکه وه یوه فرقه زمادبندگانو څخه چی ویل به یی ای زمونږ ربه!

آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَاتَّخَذْتُمُوهُمْ

مونږ یقین وکی پس وبخښی مونږ اورحم وکړی په مونږ او ته دټولو رحم کوونکو څخه ښه یې! نو تاسی هغوی ونیول

سِخْرِيًّا حَتَّىٰ أَنسَوْكُمْ ذِكْرِي وَكُنتُم مِّنْهُمْ تَضْحَكُونَ ﴿١١٠﴾ إِنِّي

په مسخرو سره تردی چی هیر مو کی یاد زما او واست تاسی په هغوی پوری خندا کوونکی ، مانن

جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوا أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿١١١﴾ قُلْ كَمْ لَبِثْتُمْ

بدله ورکړه هغوی ته ، دهغو دصبر چی هغه دی مراد ته رسیدونکی ، وې ویل ، تاسی څومره

فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ

وخت پاته سواست په مځکه کی په شمیر دکلونو ، وبه وایی پاته سوی یو مونږ یوه ورځ او یا څه دورځی څخه کم

الْعَادِّينَ ﴿١١٣﴾ قُلْ إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا لَّوْ أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١٤﴾

نو ته پوښتنه وکړه دشمیر کوونکو څخه ، وبه وایی تاسی نه یاست پاته سوی مگر لږ که تاسی پوهیداست ،

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾

آیا ستاسی دا خیال دی چی مونږ تاسی جوړ کړی یاست عبث او تاسی به مونږ ته بیرته رانه سی

تفسیر: بیاچې کله (دقیامت ورځ سي او) شپیلۍ ووهل سي نو (په داسي بیره او هیبت کې به ګرفتاروي چې) په دوی کې چې کوم ی خپلولي وي په دغه ورځ به (هغه هم ګویا) پاته نه سي (یعني ځوك به دچا همدردي نه کوي لکه دپردو په شان به سي) او نه به ځوك دچا څخه پوښتنه کوي (چې ورور ه ستا څه حال دی مطلب دا چې نه به قرابت او خپلولي په کار راځي اونه دوستي او پیژندګلوي نو هلته به دکارشي یو ایمان وي چې دعام شناخت دپاره به په تولو ظاهرسي یوه تله به ودرول سي او په هغه به عملونه او عقیدې تلل کیږي) نو دچا تول چې (دایمان) درونده سي (یعني دی مومن وي) نو داسي خلک به کامیاب (یعني نجات پیدا کړي) سي (او دغه ذکرسوې دبیرې او دهیبت حال چې نه به په کښې قرابت په کار راځي نه دوستي اونه به په کښې ځوك دچا څخه پوښتنه کوي چې ستاڅه حال دی دا به دی مومنانو ته نه ورپېښیږي لکه چې الله ﷻ فرمایي لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ الخ) او دکوم سړي تول (دایمان) چې سپك سي (یعني دی کافروي) نو دغه به هغه خلګ وي کوم چې خپل نقصان وکي او په جهنم کې به همیشه همیشه اوسیږي ، د دوی مخونه به (دجهنم) اور وسوزي او په دغه (جهنم) کې به د دوی مخونه وران سوي وي (او دوی ته به الله ﷻ په واسطه یابې واسطې ارشاد وفرمایي چې) ولی ایازما ایتونه (په دنیاکې) تاسي ته نه ویل کیدل او تاسي هغه درواغ کړي وه (دا دهغه سزا درکول کیږي) هغوی به ووایي ای زمونږ ربه ! (واقعي) زمونږ بدبختي مونږ (زمونږ ترخپل لاس) ګیر کړي وو او (بیشکه) مونږ ګمراهان خلګ وو (یعني مونږ دجرم اقرار او په دې ستوماني اوعذر پیش کوو درخواست کوو چې) ای زمونږ ربه! مونږ ددې (جهنم) څخه (اوس) وباسې (او دوباره مو دنیاته واستوی لکه چې دا قول دالله ﷻ دی په آلمٓ السجدة کې ، فَارْجِعْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا) بیاکه مونږ دوباره (داسې) وکړل نو مونږ به بیشکه پوره قصور واریو (بیاهغه وخت مونږ ته پوره سزا راکړه او اوس مونږ پرېږده) ارشادبه وسي چې په دې (جهنم) کې شړل سوي پراته اوسې اوزما سره خبرې مه کوي (یعني مونږ اوس ستاسي عذر نه منو ولې تاسي ته یادنه دي چې) زما په بندګانو کې یوه ډله (دایماندارو) وه کومو (بې چاره وو) چې به (مونږ ته) عرض کوي چې ای زمونږ پروردګاره! مونږ ایمان راوړی دی پس مونږ وبخښه او پر مونږ رحمت وکړه او ته دټولو رحم کوونکو څخه زیات رحم کوونکی یې پس تاسي (محض دا خبره چې په هرڅه دقدر قابله وه) د دوی مذاق مقرر کړی وه او تردې (په کښې مشغول سوا ست) چې دې شغل ستاسي څخه زما یاد هم هیر کړل او تاسي به په هغوی پورې خنداګانې کولې (نو په دې دهغو هیڅ وران نه سوه دیوځو ورځو تکلیف وو چې صبر یې پروکی اونتیجه یې دا ورته حاصله سوه چې) مونږ هغوی ته نن دهغو دصبر دا بدله ورکړه چې دوی کامیاب سول (او تاسي په دې ناکامۍ کې اخته سوا ست مطلب دجواب داسو چې ستاسي قصور ددی قابل نه دی چې دسزا په وخت کې په اقرار کولو سره معاف سي څکه چې تاسي داسي معامله کړي ده چې زمونږ حقوق هم ضائع په سوي دي او حقوق العباد هم او دبندګانو هم دا داسي چې زمونږ مقبول او محبوب

کوموچی زمونږ سره خاص خصوصیت درلودی ځکه چی په دوی پوری مسخری کول او دوی ته تکلیف
رسول د دوی دحقوقو ضائع کول دی او دحق درواغ کول کومه چی منشاء ددی مسخره وه دالله ﷻ حق
ضائع کول دی دواړه لازم سولنو ددی دسزا دپاره همیشوالی او دوام اوتمام مناسب دی اومومنان د
دوی په مخکی دجنت په نعمتونو سره کامیابول دا هم یوه سزاده ، دکفارو دپاره ځکه چی ددښمن په
کامیابی سره روحانی تکلیف رسیږی دا خو جواب سو د دوی د درخواستونو مخ ته خبرداری دی د دوی
دعقیدی پرباطلوالی او د دوی پرطریقه ددی دپاره چی په ذلت سربیره اوپرافسوس سربیره افسوس
زیات سی په عذاب کی یی سختی راسی په دی وجه) ارشادبه وسی چی (ښه داوښیاست) تاسی
دکلونو په شمیر څومره موده په مځکه کی پاته سوی واست؟ (چونکی دهغه ځای دبیری اوهیبت په وجه
به د دوی عقل هوش اوحواس ورك سوی وی او ددغه ورځی اوږدوالی به هم پیش نظروی) ځکوی به
جواب ورکی چی (کلونه څه دی که ډیر پاته سوی یونو) یوه ورځ یادیوی ورځی څخه هم کم پاته سوی یو
(اوربښتیا خو دا ده چی مونږ ته یادنه دی) پس دشمیر کوونکو څخه (یعنی ملائکو څخه چی عملونه
اوعمرونه یی تول حسابول) پوښتنه وکی ارشادبه وسی چی (ورځ اوځینی دورځ خوغلطه ده مکر دومره
خوستاسی په اقرارسره کومه چی صحیح هم ده ثابته سوه چی) تاسی (په دنیاکی) لږموده پاته سواست
(لیکن) څه به ښه وای که تاسی (داخبره هغه وخت) معلومه کړی وای (چی ددنیا بقا داعتبار قابله نه ده او
ددی څـ ـه علاوه بل دارالقرار سته مکر هلته خوتاسی بقاصرف ددنیا ګڼله او ددی عالم څخه موانکار
کوی ، وَقَالُوٓا اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ، اواوس چی غلطی ظاهره سوه اوصحیح یی ګڼی دا
بی کاره دی او دعقیدی دغلطی په خبردارولو څخه وروسته مخ ته بیاپه دی عقیده زورنه ده کومه چی
دمضمون دخلاصون په طور دجرم ثابتیدو قرار دا ددی چی) البته نوایا تاسی داخیال کړی وو چی مونږ
تاسی هم دغسی عبث (دڅه حکمت څخه خالی) پیدا کړی یاست او (دا خیال موکړی وو) چی تاسی به
مونږ ته رانه وستل سی (مطلب دا دی چی کله مونږ په ایتونوکی چی ربښتینوالی یی په صحیح دلیلونو
سره ثابت دی دقیامت او په دی کی دعملونو دبدلی خبردرکړی وو نومعلومه سوی وه چی کوم خلګ به
عملونو کولو مکلف دی د دوی دپیدا کولو په حکمتونو کی یوحکمت دا هم دی چی ددی څخه منکر
کیدل څومره لوی ناکاره کاردی)

معلومات اومسئلې: فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ : دقیامت په ورځ به شپیلۍ دوه واره ووهل سی د
اولی شپیلی به دا اثر وی چی تول عالم مځکه اوآسمانونه اوڅه چی د دوی په مینځ کی دی فنابه سی د
په دوهمه شپیلی به بیاتول مړی ژوندی سی او راپورته به سی دقرآن په آیت ، ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ
قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ : کی ددی توضیح موجود دی ، په دی آیت کی اوله شپیلی مراد ده که دوهمه؟ په دی کی
اختلاف دی ، دحضرت ابن عباس ؓ څخه په روایت دابن جبیر نقل دی چی په دی آیت کی م اد اوله

شپیلی ده او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی او په روایت د حضرت عطاء د اخبره د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه هم نقل ده چې مراد د وهمه شپیلی ده، په تفسیر مظهری کی یی دا صحیح مقرر کړي ده ، د حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه قول دا دی چې د قیامت په ورځ به یو یو بنده سړی او ښځه د قیامت میدان ته راوستل سی او د ټولو اولینو او اخرینو په دې ډك میدان کی به د ټولو په مخکی ودرول سی بیا به د الله ﷻ یو اواز کوونکی دا اواز وکی چې دا سړی فلانی زوی د فلانی دی که د چا څه حق پرده باندی وی نو مخ ته دی راسی او دده څخه دی خپل حق وصول کی دا به هغه وخت وی چې زوی به په دې خوشحاله وی چې زما څه حق د پلار پر ذمه راووزی او که د پلار څه حق د زوی په ذمه راووزی نو دی به خوشحاله سی چې دده څخه به یی وصول کړم د غه ډول ښځه خاوند خور وروړ پر چاچې د چا څه حق وی دا او از به واوری او د هغه څخه به وصولولو ته تیار سی او خوشحاله به سی، دا هغه وخت دی د کوم متعلق چې په دې آیت کی راغلی دی فَلَآ أَنسَابَ بَيْنَهُمْ یعنی د غه وخت به خپلولی او قرابت په کار رانه سی څوك به په چا څه رحم نه کوی د هر سړی سر به د خپل ځان فکر وی، دا مضمون د دې آیت دی يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ : یعنی هغه ورځ په کومه کی چې به هر یو انسان د خپل وروړ څخه مور او پلار څخه ښځی او اولاد څخه لیری تښتی .

(په محشر کي د مومنانو او کفارو په حالاتو کي فرق)

مګر دا حال د کافرانو ذکر سوی دی لکه چې لوړ د دې ذکر موجود دی د مومنانو به دا حال نه وی ځکه چې د مومنانو حا ل په خپله قرآن دا ذکر کړي دی أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ : یعنی د مومنانو صالحانو اولاد به هم الله ﷻ (په دې شرط که مومنان وی) د خپلو صالحانو پلارانو سره یو ځای کړی او په حدیث کی دی چې نبی کریم ﷺ فرمایی چې د قیامت په ورځ څه وخت به په محشر کی ټول تږی سی نو د مسلمانانو بچی کوم چې په نابالغه حالات کی مړه وه هغوی به د جنت د اوبو سره رانښکاره سی ، خلګ به د غه اوبه ورڅخه غواړی نو دوی به ورته وایی چې مونږ خو خپل مور او پلار تلاش کوو دا اوبه د هغو د پاره دی (روایت یی کړي دی ابن ابی الدنیاد عبد الله ابن عمر رضی الله عنه او د ابی ذر رضی الله عنه څخه مظهری)

د غه شان په یو حدیث کی کوم چې ابن عساکر په صحیح سند سره د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه نقل کړي دی دا دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چې د قیامت په ورځ هر نسبی تعلق او د خاوند او ښځی والی په تعلق سره چې کومی رشتی پیدا وی د غه به ټولی قطع سی (څوك به د چا څه په کار ورنه سی) بغیر زما د نسب او زما د خاوندوالی د رشتی څخه علماء فرمایی چې په دې نسب نبوی کی د ټول امت مسلمانان هم دا خل دی ځکه چې نبی کریم ﷺ د ټول امت پلار او د دوی پاکی بیبیانی د امت میندی دی ، لنډه دا چې رشته او د دوستی تعلق په هیڅ کار نه راتلل دا حال به په محشر کی د کافرانو وی مومنان به د یو او بل شفاعت او مدد کوی او د دوی تعلقات به د یو بل په کار ورځی ، وَلَا يَتَسَاءَلُونَ : یعنی د یو بل څخه به د څه خبری پوښتنه نه کوی او په بل آیت کی چې کوم دا ذکر دی ، وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ : یعنی په

محشر کی به خلک دیوبل څخه پوښتنه کوی او حالات به پوښتی ، په دی باره کی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی په محشر کی به مختلف موقفونه وی ، دهر موقف حال به مختلف وی یو وخت به داسی هم راځی چی څوك به دچا څخه څه پوښتنه نه سی کولی بیابه چی په یو موقف کی دغه بیره او هیبت کم سی نو دیوبل څخه به دحال پوښتنه کوی (مظهری)

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ! وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِيْنُهٗ فَاُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فِيْ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ.

یعنی دمیزان په تله دعمل کی چی دچا دنیکیو تول دروند سو هغوی کامیاب دی ، او دچا تول دنیکیو چی سپك سو نو دا هغه خلک دی کومو چی په دنیا کی دخپله لاسه خپل نقصان وکی او اوس به هغوی همیشه په جهنم کی وی ، په دی آیت کی مقابله صرف دکاملینو مومنانو اوکافرانو ده او د دوی دعملونو دتول او په دوی کی دهریو دانجام ذکر دی چی دکاملو مومنانو دنیکیو تول به درونده وی ته به فلاح نصیب سی دکفارو تول به سپك وی دوی به همیشه په جهنم کی پاته سی .

او دقرآن کریم دنورو وضاحتونو څخه ثابته ده چی دلته دکاملو مومنانو دتول د درنیدو مطلب دا دی چی بل طرف ته دگناهونو اوبدیو په تول کی به یی هیڅ وزن نه وی هغه به خالی په نظر راځی او دکفارو دتول سپکیدو مطلب دا دی چی دنیکیو په تول کی به یی څه وزن نه وی بالکل خالی به وی لکه چی په قرآن کریم کی ارشاد دی ، فَلَا نُقِيْمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا یعنی مونږ به دکفارو او د دوی دعملونو دپاره په قیامت کی وزن قائم نه کړی .

دا حال خو دکاملو مومنانو سو او دکومو څخه چی گناه سوی نه وی یا په توبه وغیره سره معاف سوی وی دعملونو دتول په وخت کی به دگناهونو په تول کی دده په نوم هیڅ نه وی بل طرف ته کفار دی دکومو چی نیك عملونه په دی وجه چی ایمان په کښی نه وی ، موجود نه وی ، نو په دی سبب به دعدل میزان کی بی وزنه وی ، باقی پاته سوه معامله دگناهگارو مومنانو دکومو چی به دنیکیو په تول کی هم عملونه وی او دبدیو په تول کی هم عملونه وی ددی ذکر په دی آیت کی په توضیح سره سوی نه دی بلکه په عام طورسره په قرآن کریم کی دگناهگارو مسلمانانو دسزا اوجزا څخه سکوت اختیار سوی دی ، ددی وجه شاید دا وی چی دقرآن دنزول په زمانه کی چی څومره مومنان صحابه کرام رضی الله عنهم وه هغوی تول عادلان وه یعنی عموماً دکبیره گناهونو څخه پاك وه او که دچا څخه به څه گناه وسوه هم نو توبه به یی وکړه او په توبه به معاف سوه (مظهری)

په قرآن کریم کی یو آیت ، خَلَطُوْا عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا : دی په دی کی دداسی خلکو ذکر دی دکومو چی نیك او بد عملونه گډوډ وی د دوی متعلق حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمایی چی دقیامت په ورځ به دداسی خلکو دعملونو حساب داسی وی چی دکوم سری نیکی دده دگناهونو څخه زیاته سی برابره خبره ده که دیوی نیکی په مقدار سره وی دی به جنت ته ځی او دکوم سری گناهونه چی دنیکیو څخه زیات سی برابره

خبره ده که ديوى گناه په مقدار سره زيات سى دوزخ ته به ځى مگر ددى مومن گناهگار داخله به دوزخ ته د ده دپاکولو دپاره وى لکه اوسپنه زر وغيره چى اورته واچول سى او دخيرى اوزنگ څخه پاک سى دده جهنم ته تلل به هم داسى وى څه وخت چى دجهنم په اورسره دده دگناهونو زنگ ليرى سى نو جنت ته به داخليدو قابل سى اوجنت ته به وليږل سى اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمايى چى دقيامت په ورځ دعملونو تله به داسى صحيح تول کوونکى وى چى که دسپلنى ددانى برابر هم کمى زياتى راسى نوتله به کښته سى ياپورته سى او دکوم سړى نيکى اوبدى چى برابرسى نودغه به په اصحاب اعراف کى داخل سى اوتريو وخته پورى به دجنت او دوزخ په مينځ کى تردوهم حکم پورى منتظروى اواخردوى ته به هم په جنت کى داخله ورکول وسى (ابن ابى حاتم مظهرى)

دحضرت ابن عباس ﷺ په دى قول کى دکافرانوذکرنسته صرف دمومنانو گناهگارانو ذکر دى .

(دعملونو دتول کيفيت)

دحديثو دځينو روايتونو څخه معلوميږى چى په خپله انسان مومن اوکافر به دعدل په تله کى ايښوول کيږى اوتول کيږى به دکافر به هيڅ وزن نه وى برابره خبره ده که هرڅومره غټ اوچاغ وى (بخارى اومسلم دابو هريره ﷺ څخه)

او دحديثو دځينو روايتونو څخه معلوميږى چى د دوى عملنامى به تلل کيږى ترمذى ابن ماجه ابن حبان اوحاکم دامضمون دحضرت ابن عمر ﷺ څخه روايت کړي دى او دځينو روايتونو څخه دا معلوميږى چى دهر انسان عملونه کوم چى په دنياکى بى وزنه بى جسمه اعراض وى ، په محشرکى به دوى لره جسم ورکړل سى په ميزان دعمل کى به کښيښوول سى اوهغه به تول سى ، طبرانى وغيره دا په روايت دحضرت ابن عباس ﷺ سره دنبى کريم ﷺ څخه نقل کړي دى ، دحديثو ددى ټولو روايتونو الفاظ اومتن په تفسير مظهرى کى مکمل موجود دى هلته يى ليدى سى ، ددى اخرى قول په تائيد کى يوحديث عبدالرزاق په فضل العلم کى دابراهيم نخعى څخه نقل کړي دى چى دقيامت په ورځ به ديو سړى عملونه دوزن کولو دپاره راوړل سى او دتلى په پله کى به کښيښوول سى نو دا پله به سپکه سى بيابه يوشى داسى راوړل سى کوم چى به دوريځى په شان وى هغه به هم دده دنيکيو په پله کى کښيښوول سى نو دا پله به درنه سى دغه وخت به دى سړى ته وويل سى چى ته پوهيږى چى دا څه شى دى؟ (کوم چى ستادنيکيو پله درنه کړه) هغه به ووايى چى ماته هيڅ نه دى معلوم نوورته به وښوول سى چى دا ستا علم دى کوم چى به دى خلگوته ښوولى .

اوذهبى په فضل العلم کى دحضرت عمران بن حصين ﷺ څخه روايت کړي دى چى نبى کريم ﷺ فرمايلى دى چى دقيامت په ورځ به دشهيدانو وينه او دعالمانو سياهى (په کومى سره چى دوى دعلم دين کتابونه ليکلى وه) ديوبل سره وتلل سى نو دعالمانو سياهى به دشهيدانو دوينى څخه زياته درنه سى (مظهرى)

دعملونو دوزن دکیفیت متعلق د دری سره قسمو روایتونو نقل کولو څخه وروسته په تفسیر مظهری کی فرمایي چی په دی کی هیڅ لیری والی نسته چی په خپله انسان او دده عملونه به په جسماني شکل کی تلل کیږي یابه دده عملنامه دده سره کښیښوول سی او تول کیږي به ، په دی وجه په دی دری سره روایتونو کی څه تعارض او اختلاف نسته.

وَهُمْ فِيهَا كَالِحُوْنَ : کَالِحْ ، په لغت کی هغه سړی ته ویل کیږي دکوم چی دواړه شونډی دده غاښونه نه پټوی یوه لوړه وی او بله لاندی غاښونه یی راوتلی ښکاریږي کوم چی ډیربد صورت دی په جهنم کی به دجهنمی لوړه شونډه لوړه ختلی وی او دالاندی شونډه به یی کښته زوړنده سوی وی اوغاښونه به یی راوتلی ښکاریږي

وَلَاتُكَلِّمُوْنِ : حضرت حسن بصری رحمه الله فرمایي چی دجهنمیانو به دا اخری خبره وی دکومی په جواب کی چی به حکم وسی چی زمونږ سره خبری مه کوی بیابه دوی دهیچاسره خبری ونه کړل سی دخاروو په شان به یو بل ته برړیږي او بیهقی وغیره دمحمدبن کعب څخه نقل کړي دی چی په قرآن کریم کی دجهنمیانو پنځه درخواستونه نقل سوی دی ، په دی کی دڅلورو جواب ورکول سوي دی او دپنځم په جواب کی حکم وسو ، لَاتُكَلِّمُوْنِ بس دا به د دوی اخری کلام وی ددی څخه وروسته به څه ونه ویلی سی (مظهری)

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ﴿۱۱۶﴾

نو ډیر لوی دی الله بادشاه حق دی ، نسته معبود دهغه څخه ماسوا مالك دی ، دعزتمند تخت.

وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

او څوک چی بللی دالله سره بل معبود دلیل یی ورسره نه وی ، نو دده حساب دی

عِنْدَ رَبِّهٖ ۗ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ

دده درب په نزد ، بیشکه فلاح نه سی پیداکولی منکران ، ته ووایه ای ربه ! معافی وکړی اورحم

وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۱۸﴾ ع

وکړی او ته یی غوره دټولو رحم کوونکو څخه.

لنډتفسیر: (او دا ټول مضامین چی کله معلوم سول نو (ددی څخه دا په کامل طور سره ثابته سوه چی) الله ډیر عالیشان دی کوم چی بادشاه (دی اوبادشاه هم) حقیقی دی دده څخه ماسوا څوك هم لائق دعبادت نسته (اوهغه) دعرش عظیم مالك دی اوکوم سړي چی (په دی کار ددلیلونو قائمیدو څخه وروسته) د الله سره دیوبل معبود هم عبادت کوی په کوم چی (دمعبود کیدو) د دوی سره هیڅ هم دلیل نسته پس دده

حساب به دده درب په نزدوی (چی لازمی نتیجه یی دا ده چی) یقیناً کافران فلاح نه سی پیدا کولی (بلکه دهمیشه دپاره به په عذاب کی وی) او (کله چی د الله ﷺ دا شان دی نو) ته (اونور خلک په درجه اولی داسی وایاست چی ای زماربه! (زماخطاگانی) معاف کړه او (په هرحالت کی په ما) رحم وکړه (په معاش کی هم او دعبادت په توفیق کی هم په نجات دآخرت کی هم په راکولو دجنت کی هم) اوته دټولو رحم کوونکو څخه زیات رحم کوونکی یی.

معلومات اومسئلي: دا دسورة مومنون اخری ایتونه دَ، أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ: څخه تراخر پوری دسورة خاص فضیلت لری، بغوی اوثعلبی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی چی په یو داسی بیمار باندی راغلی چی په سختو مرضونوکی اخته وو، حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دده په غوږکی دسورة مومنون داایتونه دَ أَفَحَسِبْتُمْ: څخه تراخره پوری وویل نو هغه په دغه وخت ښه سو، نبی کریم ﷺ دده څخه پوښتنه وکړه چی تادده په غوږکی څه وویل؟ حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ عرض وکی چی دا ایتونه می ویلی دی، نبی کریم ﷺ وفرمایل چی قسم دی په هغه ذات دچا په قبضه کی چی زما روح دی که څوك یقین لرونکی سړی وی او دا ایتونه په غر ووایی نو غر به دځپل ځای څخه ونښوروی (قرطبی ومظهری)

رَبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ: دلته، دَ، اغْفِرْ وَارْحَمْ: دواړه مفعول ذکر سوی نه دی چی څه شی معاف کړه او په چا رحم وکړه، ددی څخه اشاره دعموم طرف ته ده چی دعا اومغفرت شامل دی دهرتکلیف ورکوونکی اومضرشی دلیری کولو دپاره، اودعادرحمت شامله ده دهرمراد اوخوښ شی دحاصلولو دپاره، ځکه چی دضرر دفع اودنفع حاصلول کوم چی دانسانی ژوند او دده دمقصدونوخلاصه دی دواړه په دی کی شامل سول، (مظهری)

اونبی کریم ﷺ ته دمغفرت او رحمت ددعا تلقین کول سره ددی چی دوی معصوم اومرحوم دی، په اصل کی امت ته دښوولو دپاره دی چی تاسی ته ددی دعا ډیره اهتمام کول په کار دی (قرطبی)

إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ: دسورة مومنون شروع دَقَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ: څخه سوی وه اوانتهایی په لَایُفْلِحُ الْکٰفِرُوْنَ: باندی وسوه ددی څخه معلومه سوه چی کامله فلاح دمومنانو حصه ده کافران ورڅخه محرومه دی.

تمت سورة المؤمنون فی ثمانية ايام من اول المحرم سـ ۱۳۹۱ ـسنة هـ وذلك فی يوم عاشوراء يوم الاثنين ولله الحمد اوله و آخره واياه اسـال التوفيق لاتمام الباقی كما يُحِبُّ ويرضاه وان يتقبّل منی ويجعله ذُخرًا لاخرٰی وَهُوَ المستعان.

﴿سورة نور﴾

سُوْرَةُ النُّوْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّ تِسْعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة نور په مدينه كي نازل سو او په دي كي څلور شپيته (۶۴) آيتونه اونه (۹) ركوع گاني دي.

شروع كوم دالله ﷻ په نوم سره چي بي حده مهربانه نهايت رحم والا دي.

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ

دا يو سورة دي چي مونږ نازل كړي دي او په ذمه مولازم كړي دي او مونږ نازل كړي دي په دي كي خبري صفا چي تاسي

تَذَكَّرُوْنَ ۝١ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ

يي يادي كړي ، بدكاري كوونكي ښځه او سړي پس ووهئ هريو په دواړو كي سل (۱۰۰)

جَلْدَةٍ ۖ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَاْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ

سل دري او نه دي راځي تاسي ته په دوي باندي ترس دالله په حكم چلولو كي كه تاسي

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۚ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ

يقين لري په الله باندي او په ورځ دآخرت او حاضر دي سي وهلو د دوي ته څه خلق

الْمُؤْمِنِيْنَ ۝٢

دمسلمانانو څخه .

(سورة نور خصوصيات)

په دي سورة كي زيات احكام دپاك دامني دحفاظت او دستر او په دي متعلق دي او ددي دتكميل دپاره دزنا دحد بيان راغي ، په تير سورة يعني سورة مومنون كي دمسلمانانو ددنيا اواخرت فلاح چي په كومو صفتونو باندي موقوفه ايښي وه په هغه كي يو مهم صفت دشرمگاهونو دحفاظت وو كوم چي خلاصه ده دپاكدامني دټولو اړخونو، په دي سورة كي دپاك دامني داهتمام دپاره متعلقه حكمونه ذكر سوي دي په دي وجه ښځوته ددي سورة دازده كولو دپاره خصوصي هدايات راغلي دي.

حضرت فاروق اعظم ؓ دكوفي دخلگو په نوم په خپل يو فرمان كي وليكل ، عَلِّمُوْا نِسَآءَكُمْ سُوْرَةَ النُّوْرِ

یعنی خپلو ښځوته سورة نور ورازده کوی .

په خپله ددی سورة شروع چی په کوموالفاظوسره سوي ده چی ، سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا : دا هم ددی سورة دخاص اهتمام طرف ته اشاره ده اوس لندتفسیر واوری .

لنډتفسیر: دایو سورة دی چی ددی (الفاظ هم خاص) مونږ نازل کړی دی او ددی (معانی یعنی احکام هم خاص) مونږ مقررکړي دی (برابره خبره ده که فرض او واجب وی اوکه مستحب اومندوب) اومونږ (په دی احکامو ددلالت کولو دپاره) په دی (سورة) کی صفا صفا ایتونه نازل کړی دی ددی دپاره چی تاسی پوه سی (اوعمل وکی) زنا کوونکی ښځه اوزنا کوونکی سړی (د دواړوحکم دا دی چی) په دوی کی هر یو سل سل دری ووهی اوتاسی خلګو ته دالله ﷻ په معامله کی په دی دواړو یوه ذره رحم را تلل نه دی په کار (چی ګویا رحم پر وکی اوپری ایږ دی یی اویایی په سزاکی کمی وکی) که تاسی په الله ﷻ اودقیامت په ورځ ایمان لری او ددواړو دسزا په وخت کی دی دمسلمانانو یوه ډله حاضره سی (چی د دوی رسوایی وسی اولیدونکو او اوریدونکو ته عبرت حاصل سی)

معلومات اومسئلې: ددی سورة اولنی آیت خو په طور دابتدائیی دی چی په دی سره ددی احکامو خاص اهتمام بیانول مقصود دی اوپه احکاموکی دټولوځخه اول دزنا دسزا ذکر دی کوم چی مقصود دسورة دی ، پاکدامنی او ددی دپاره دنظرونو دحفاظت بغیراجازت ځخه دچاکورته دتللو اودنظرکولودممانعت احکام مخ ته راتلونکی دی ، دزنا کول ددی ټولواحتیاطونو ماتول دپاکدامنی خلاف انتهایی حدته رسیدل دی او دالله ﷻ دحکمونو ځخه ښکاره بغاوت دی په دی وجه په اسلام کی په انسانی جرمونو چی کومی سزاګانی (حدونه) په قرآن کریم کی متعینی سوي دی دزنا سزا هم ددی ټولو جرمونو دسزا ځخه ډیره سخته اوزیاته ده ، زناپه خپله دیولوی جرموالی ځخه علاوه دځان سره په سوونو جرمونه راوړی او ددی نتیجه دټول انسانیت تباهی ده په دنیاکی چی ځومره دقتلونو اولوټ مار واقعات پیښیږی چی تحقیق وسی نو په دی کی د ډیرو سبب یوه ښځه او ددی سره حرام تعلق وی په دی وجه دسورة په شروع کی یی ددی انتهایی جرم اوبی حیایی بیخ ایستلو دپاره ددی شرعی حد وښووی .

(زناپه خپله یوعظیم جرم اودډیروجرمونومجموعه ده په دی وجه په اسلام کې ددی سزاهم دټولوځخه لویه ګڼيښول سوه)

قرآن کریم اومتواترو احادیثو دځلورو جرمونو سزا اودهغه طریقه په خپله متعین کړي ده دیوقاضی او امیر رایی ته یی نه ده حواله کړی متعینوسزاګانو ته دشرعی په اصطلاح کی حدود ویل کیږی ددی ځخه علاوه دباقی جرمونو سزایی داسی نه ده متعین کړی بلکی امیر یاقاضی دی دمجرم په حالت دجرم په حیثیت اوپه ماحول وغیره ټولوباندی نظر واچوی ځومره سزا ورکول چی دجرمونو دبندیدلو دپاره مناسب ګڼی هغه سزا ورکولی سی ، داسی سزاګانوته دشریعت په اصطلاح کی تعزیرات وایی ، شرعی حدونه ځلور دی (۱) غلا (۲) په پاکدامنی ښځی تهمت لګول (۳) شراب ځښل (۴) زنا کول ، په دی کی هم

جرم په خپل ځای ډیر سخت او ددنیا دامن اوامان بربادونکی او د ډیرو خرابیو مجموعه ده ، لیکن په دی تولوکی دزنا بد انجامونه اوبدی نتیجی چی څنګه ددنیا دنظام اوانسانیت تباه اوبربادونکی دی دغه شاید چی په څه بل جرم کی نسته.

(۱) دیو سړی په لورخور ښځه لاس اچول دهغه هلاکول دی شریف انسان ته ټول مال اوجائیداد اوخپل سر څه قربانول دومره مشکل نه دی څومره چی ورته په خپل حرم دبل لاس اچول ګران دی ، دا وجه ده چی په دنیا کی روزانه دا واقعات پیښیږي ، دکومو خلکو په حرم چی لاس وغورول سی هغه دخپل ځان دپروا کولو څخه بغیر دزناکار په قتلولو اوفنا کولو پسې سی او دا دبدل اخستو جوش بیا ترنسلونو پوری چلیږی او خاندانونه تباه او بربادکی .

(۲) په کوم قوم کی چی زناعامه سی هلته دچانسب محفوظ نه پاته کیږی مور لور خور وغیره دکوموسره چی نکاح حرامه ده کله چی دا قرابتونه ورك سی نوخپله لور خور هم په نکاح کی راځی کوم چی دزنا څخه هم سخت جرم دی .

(۳) چی فکر وسی نو په دنیاکی چی کوم ځای بدامنی فتنه اوفساد وی دهغه ډیر سبب ښځه او دهغه څخه کم مال وی ، کوم قانون چی دښځی او د دولت حفاظت په صحیح انداز کی وکړل سی او دوی دخپلو حدونو څخه دباندی وتلوته پری نه ږدی نو هغه قانون ددنیا دامن ضامن کیدی سی ، دلته دزنا دټولو مفاسدو اوخرابیو جمع کولو اوپه تفصیل سره دبیانولوځای نه دی ، دانسانی معاشری دپاره ددی تباه کاری معلومولو دپاره دومره هم کافی ده ، په دی وجه اسلام دزنا سزا دنورو ټولو جرمونو دسزاګانو څخه سخته ګڼلی ده هغه سزا په ذکر سوی آیت کی داسی بیان سوي ده ، الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ : په دی کی دزناکاری ښځی ذکر مخکی او د زنا کار سړی وروسته راوړل سوي دی سزا د دواړو یوه ده ، عام قیاس د احکامو دبیان دا دی چی اکثره خو صرف سړی مخاطب کوی اوحکم ورکول کیږی ښځی هم په دی کی ضمناً شاملی وی د دوی دځان ته ذکر کولو ضرورت نه ګڼل کیږي ، په ټول قرآن کریم کی ، په يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا : صیغه دمذکر سره چی کوم احکام بیان سوي دی ښځی هم په هغه کی بغیر دذکر څخه شاملی کرځول سوي دی ، شاید حکمت په دی کی دا دی چی لکه څنګه الله ﷻ ښځو ته دپټو اوسیدوحکم ورکړي دی ، دغه ډول د دوی ذکر یی هم دسړو دذکر په ضمن کی پټ کړی بیان کړی دی او چونکی په دی طرز سره دا احتمال وو چی چاته دا شبهه وسی چی دا ټول احکام دسړیو دپاره دی ښځی ددی څخه ازادی دی په دی وجه په خاصو خاصو ایتونوکی یی مستقل د دوی یعنی دښځو ذکر هم کړي دی اَقِمْنَ الصَّلٰوةَ وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ : اوکوم ځای چی دسړی اوښځی دواړو ذکر کول وی نوطبعی ترتیب دا وی چی دسړی ذکر مخکی او دښځی دا وروسته وی دغلاپه سزاکی ددی عرفی قاعدی مطابق ، السَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا : یی فرمایلی دی په دی کی یی غل سړی مخکی اوغله ښځه وروسته بیان کړی دا

مګر دزنا په سزا کی خو یی اول دښځی په ضمنی ذکر راتللو بسوالی ونه کی بلکه په توضیح سره ذکر کول یی مناسب وګڼل دوهم دښځی ذکر یی دسړی څخه مخکی بیان کی ، په دی کی ډیر حکمتونه دی اول خو دا چی ښځه پیدائشی طور سره کمزوری او په طبعی طور قابل رحم ګڼل کیږی که ددی صراحةً ذکر نه وای نو دچابه دا شبهه کیده چی شاید ښځه ددی سزا څخه مستثنٰی ده او دښځی ذکر یی مخکی څکه وکی چی دزنا کار یو داسی بی حیایی ده چی دا دښځی دطرف څخه کیدل یی انتهایی په بی باکی اوبی پرواهی سره کیدی سی څکه چی قدرت ددی په مزاج کی په فطری طور یوه حیاء اودخپلی پاکدامنی دحفاظت قوی جذبه پیدا کړي ده او ددی دحفاظت دپاره یی لوی اسباب جمع کړي دی ، ددی دطرف څخه ددی کار کیدل په نسبت دسړی زیات سخت دی په خلاف دغلا څخه چی سړی ته الله ﷻ دکسب اوګټی قوت ورکړی دی او دخپلو ضرورتونو په خپل عمل سره دحاصلولو موقع یی ده ته ورکړی ده ، دی چی دغه پریږدی اوغلاته تیاریږی نو دا دسړی دپاره لوی شرم او عیب دی دښځی چونکه داحالات نسته که ددی څخه دغلا کار وسی نو دسړی په نسبت سپکه او دکمی درجه ده .

فَاجْلِدُوْا جَلْد دذرّی وهلو په معنٰی کی راځی دغه دجلد څخه مشتق دی څکه چی دُرّه په عام طورسره دچمړی څخه جوړیږي ځینی مفسرین حضرات فرمایی چی دلفظ دَجلد څخه په تعبیرکولوکی دی طرف ته اشاره ده چی دا دچمړو یادرّو وهل ترهغه وخته پوری جاری پاته کول په کار دی چی اثر یی د انسان څرمنی ته ورسیږی غوښی ته ونه رسیږي ، په خپله نبی کریم ﷺ ددرّو لګولو په سزا کی ددی توسط او اعتدال تلقین عملاً فرمایلی دی چی دُرّه به ډیره سخته نه وی چی غوښه راپورته کړی اونه ډیره نرمه چی هیڅ تکلیف په ونه رسیږي، دلته اکثرو تفسیرلیکونکوحضراتو دا روایتونه دسند اوالفاظو سره لیکلی دی .

(دسلو(۱۰۰) دُرّو ذکر سوی سزا صرف دغیر واده سوی سړی اوښځي دپاره ده دواده سوو سزا سنګسار ده)

دا خبره دیادولو قابله ده چی دزنا دسزا حکمونه په درجه درجه راغلی دی او دسپکو څخه دسختو طرف ته زیات سوی دی ، لکه دشرابو په حرامیدوکی چی هم دغسی درجه په درجه حکمونه په قرآن کی ذکر دی چی تفصیل یی مخکی تیر سوي دی دزنا دسزا دټولو څخه اولنی حکم خو هغه ووکوم چی دسورة نسآء په آیت ۱۵ ۱۶ کی ذکر دی هغه دا دی .

وَاللّٰتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَإِنْ شَهِدُوا فَأَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتّٰى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ أَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيلًا (۱۵) وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنْكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا إِنَّ اللّٰهَ كَانَ تَوَّابًا رَحِيمًا (۱۶)

اوخوک چی بدکار وکی ستاسی دښځو څخه نوشاهدان ودروی په هغو باندی څلور سړی بیاکه هغوی شاهدی وکی نو بندی کړی دغه ښځی په کورونوکی تردی چی پورته کړی دوی لره مرګ یامقرر کړی الله ددوی دپاره څه لاره اوکوم دوه سړی چی وکړی ستاسی څخه دغه بدکاری نو دوی ته سزا ورکوی بیاکه

دوی توبه وکړی اوخپله اصلاح وکړی نو دوی پرېږدی بیشکه الله ﷻ توبه قبلوونکی مهربانه دی.

ددی دواړو ایتونو مکمل تفسیر اوضروری بیان په سورة نساء کی تیر سوی دی ، دلته ددی دپاره دوباره ولیکل سول چی دزنا اولنی دور مخ ته راسی په دی ایتونوکی یوځو دزنا دثبوت خاص طریقه دڅلور سړیو دشاهدی بیان سوې ده ، دوهمه دزناسزا دښځی دپاره په کور کی قید ساتل او دواړو ته تکلیف رسول ذکر دی او ددی سره په دی کی دا هم بیان سوی دی چی دزنا دسزا دا حکم اخری نه دی ایندہ بل حکم راتلونکی دی ، دَ اَوۡ یَجۡعَلَ اللّٰہُ لَهُنَّ سَبِیۡلًا : دا مطلب دی.

په ذکر سوی سزا کی دښځو په کورکی قید ساتل هغه وخت کافی مقرر سوی وو او دواړوته تکلیف رسول کافی ګرځول سوی وه ، مګر ددی ازار اوتکلیف رسولو یی څه خاص صورت خاص مقدار اوحد وو بیان کړی بلکه دقرآن دالفاظو څخه معلومیږی چی دزنا اولنی سزا صرف تعزیری وه چی مقدار یی په شریعت ګرسره نه وو متعین سوی ، بلکه دقاضی یا امیر په رایه موقوفه وه ، په دی وجه دازار ورکولو مبهم لفظ یی اختیار وفرمایی ، مګر ددی سره یی ، اَوۡ یَجۡعَلَ اللّٰہُ لَهُنَّ سَبِیۡلًا : وفرمایل اودی طرف ته یی اشاره وکړه چی دا کیدی سی چی داینده دپاره ددی مجرمانو دپاره دسزا یوه بله طریقه جاری سی ، کله چی دسورة نور ذکر سوی آیت نازل سو ، نوحضرت عبدالله بن عباس ؓ وفرمایل چی په سورة نساء کی چی کومه وعده سوی وه اَوۡ یَجۡعَلَ اللّٰہُ لَهُنَّ سَبِیۡلًا : یعنی دا چی یاالله ﷻ د دوی دپاره یوه بله لار وښیی نو دسورة نور دی آیت هغه لاره وښووله یعنی دسلو دُرّو سزا دښځی اوسړی دواړو دپاره متعینه سوه. ددی سره حضرت ابن عباس ؓ دسلو دُرّو سزا دغیر واده سوی سړی اوښځی دپاره مخصوصه کړه او وی فرمایل ، یَعۡنِی الرَّجۡمُ لِلثَّیِّبِ وَالۡجَلۡدُ لِلۡبِکۡرِ (بخاری کتاب التفسیر ص ۶۵) یعنی هغه لار او دزنا دسزا تعین دا دی چی که دواده سوی سړی او ښځی څخه داکاروسی نودهغو سنګسارول اوختمول دی اودغیر واده سوو سل دُرّی سزا ده.

ظاهره ده چی دسورة نور په ذکر سوی آیت کی خو بغیر دڅه تفصیل څخه دزنا سزا سل دُرّی وهل ذکر دی ، ددی حکم دغیر واده سوی سړی او ښځی سره مخصوص کول او دواده سوو دپاره درجم یعنی سنګسار سزا کیدل به ده ته په یو بل دلیل دحدیث سره معلوم سوی وی اودغه حدیث په صحیح مسلم مسنداحمد سنن نسایی ابوداود ترمذی ابن ماجه کی دحضرت عباده ابن صامت ؓ په روایت سره داسی راغلی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی.

خُذُوۡاعَنِّیۡ خُذُوۡاعَنِّیۡ، قَدۡجَعَلَ اللّٰہُ لَهُنَّ سَبِیۡلًا ،اَلۡبِکۡرُبِالۡبِکۡرِجَلۡدُمِائَةٍ وَنَفۡیُ سَنَةٍ،وَالثَّیِّبُ بِالثَّیِّبِ جَلۡدُمِائَةٍ وَالرَّجۡمُ : زما څخه علم حاصل کی زما څخه علم حاصل کړی الله ﷻ دزناکارسړی اوښځی دپاره هغه لارد کومی وعده چی دسورة نساء په آیت کی سوی وه اوس په سورة نورکی یی وفرمایله هغه داده چی دغیرواده سوی سړی اوښځی دپاره سل دوری اویوکال جلاوطن کول دی اودواده سوی سړی اوښځی دپاره سل دُرّی اوسنګسارول دی

دغیر واده سوی سړی او ښځی سل دُرّی سزا کومه چی په آیت کی ذکر ده په دی حدیث کی ددی سره دیوی زیاتی سزا ذکر دی چی سړی به دیوکال دپاره جلاوطنیږی هم ، په دی کی دفقهاؤ اختلاف دی چی دا دیوه کال دجلا وطنی سزا دزناکار سړی دپاره د دُرّو دسزا په شان لازمی ده اوکه دقاضی په رایه باندی موقوفه ده چی که هغه ضرورت گنی نو دیوکال دپاره دی جلاوطن هم کی دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد دا اخری صورت صحیح دی یعنی دحاکم په رایه موقوفه ده ، دوهمه خبره په دی حدیث کی دا ده چی دواده سوی سړی اوښځی دپاره دسنگسار څخه مخکی دسلو دُرّو سزا هم ده مگردحدیث دنورو روایتونو اودنبی کریم ﷺ اوداکثرو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دعمل څخه ثابته دا ده چی دا دواړی سزاگانی نه دی جمع سوی ، په واده سوی باندی صرف دسنگساری سزاجاری کیږی ، په دی حدیث کی په خاص طورسره دا خبره دغور قابله ده چی نبی کریم ﷺ په دی کی ، دَ اَوْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا: تفسیر فرمایلی دی اوپه تفسیرکی چی کومه خبره دسورة نور په آیت کی ذکر ده یعنی سل دُرّی لگول ، په دی دخه زیاتی شیانو اضافه ده ، اول دسلو دُرّو سزا دغیر واده سوی سړی اوښځی دپاره مخصوص کیدل بیا دوهم دیوکال دپاره جلاوطن کول دریم دواده سوی سړی اوښځی دپاره درجم اوسنگساری حکم ، ظاهره ده چی په دی کی دسورة نور په آیت باندی چی دکوموشیانو زیاتی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی هغه هم په وحی الهی اوحکم ربانی سره وو، اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى او دپیغمبر ﷺ او دده څخه دبی له واسطی اوریدونکو په حق کی دغه وحی کومه چی په صورت دقرآن کی تلاوت کیږی اوهغه وحی کومه چی نه تلاوت کیږی دواړه برابر دی ، په خپله نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم دعامی مجموعی په مخکی په دی عمل وفرمایی په ماعز اوغامدی یی دا درجم او سنگساری سزا جاری کړه کومه چی داحادیثوپه ټولوکتابونوکی په صحیح سندونو سره ذکرده او دحضرت ابوهریره رضی الله عنه اوزیدبن خالد جهنی رضی الله عنه روایت په صحیحینوکی دی چی یو غیر واده سوی سړی کوم چی دیوی واده سوی ښځی سره نوکر وو اودهغه سره یی زنا وکړه ، دزناکار هلك پلاردی دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر کی واقعه په اقرار سره ثابته سوه نونبی کریم ﷺ وفرمایل، لَاَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللّٰهِ یعنی زه ستاسی د دواړو فیصله دکتاب الله مطابق کوم، بیایی داحکم صادرکی چی زناکار هلك کوم چی ناواده سوی وو دی دی سل دُرّی ووهل سی اوښځه چی واده سوی وه دهغه درجم اوسنگسارولو دپاره حضرت انیس رضی الله عنه ته یی حکم وفرمایی ، هغه په خپله دښځی څخه بیان واخستی هغې اقرار وکی نوپرهغې یی دنبی کریم ﷺ په حکم درجم اوسنگساری سزاجاری کړه (ابن کثیر) په دی حدیث کی نبی کریم ﷺ په یوه دسلو دُرّولگولو اوپربل دسنگسارکولوسزاجاری کړه اودواړوسزاگانو ته یی قضاء بکتاب الله وفرمایل حال دادی چی دسورة نورپه آیت کی صرف ددُرّودسزاذکردی دسنگساری سزا ذکرنه ده وجه دا ده چی نبی کریم ﷺ چی کوم ددی آیت مکمل تفسیر اوتشریح اوتفصیلی حکم په ذریعه دوحی دالله ﷻ ښوولی وو دغه ټول دکتاب الله په حکم کی دی ، که څه هم په دی کی ځینی حصه

په کتاب الله کی ذکر اوتلاوت سوی نه ده په صحیح بخاری اومسلم وغیره کتابونو داحادیثوکی
دحضرت فاروق اعظم ؓ خطبه په روایت دحضرت ابن عباس ؓ ذکر ده دصحیح مسلم الفاظ دا دی.

قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ؓ وَهُوَ جَالِسٌ عَلَى مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ، وَأَنْزَلَ عَلَيْهِ الْكِتَابَ فَكَانَ مِمَّا أَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْهِ آيَةَ الرَّجْمِ، قَرَأْنَاهَا وَوَعَيْنَاهَا وَعَقَلْنَاهَا، فَرَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ، فَأَخْشَى إِنْ طَالَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ أَنْ يَقُوْلَ قَائِلٌ: مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللّٰهِ تعالى، فَيَضِلُّوْا بِتَرْكِ فَرِيْضَةٍ أَنْزَلَهَا اللّٰهُ، وَإِنَّ الرَّجْمَ فِي كِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلَى مَنْ زَنَى إِذَا أَحْصَنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ إِذَا قَامَتِ الْبَيِّنَةُ أَوْ كَانَ الْحَبَلُ أَوِ الْاِعْتِرَافُ (صحیح مسلم ص ۶۵ ج ۲).

حضرت عمربن خطاب ؓ وفرمایل کله چی هغه دنبی کریم ﷺ په منبر تشریف فرماؤ چی الله ﷻ محمد ﷺ په حقه سره رالیږلی وو اوپه ده یی کتاب نازل کړي دی ، نوڅه چی په کتاب الله کی نازل سول په هغوکی آیت درجم هم دی کوم چی مونږ وایو یادموکړی او پوه سو په بیانبی کریم ﷺ هم رجم وکی اومونږ هم دهغه څخه وروسته رجم وکی اوس زما سره داخطره ده چی په زمانه تیریدو سره څوك داسی ونه وایی چی مونږ درجم حکم په کتاب الله کی نه کی پیدا نو دوی به په یو دینی فرض پرینښولو گمراه سی چی درجم حکم په کتاب الله کی حق دی په هغه چاڅوك چی دسړیو اوښځو څخه واده سوی وی کله چی دده په زنا شرعی شهادت قائم سی یا حمل اویا اقرار وسی .

دا روایت په صحیح بخاری کی هم زیات په تفصیل سره ذکر دی (بخاری ص ۱۰۰۹ ج ۲) او په نسایی کی ددی روایت ځینی الفاظ دا دی.

إِنَّا لَا نَجِدُ مِنَ الرَّجْمِ بُدًّا فَإِنَّهُ حَدٌّ مِنْ حُدُوْدِ اللّٰهِ أَلَا وَإِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رَجَمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ وَلَوْ لَا أَنْ يَقُوْلَ قَائِلُوْنَ أَنَّ عُمَرَ زَادَ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ مَا لَيْسَ فِيْهِ لَكَتَبْتُهُ فِيْ نَاحِيَةِ الْمُصْحَفِ وَشَهِدَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ وَفُلَانٌ وَفُلَانٌ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهُ الْحَدِيْث .

د زناپه سزا کی مونږ په شرعی حیثیت سره په رجم کولو مجبور یوځکه چی دغه د الله ﷻ دحدونوڅخه یو حد دی ښه پوه سی چی نبی کریم ﷺ په خپله رجم کړی دی اومونږ دهغه څخه وروسته هم رجم وکی اوکه دا خطره نه وای چی یو ویونکی به ووایی چی عمر دالله ﷻ په کتاب کی دخپل طرف څخه څه زیات کړی دی نومابه دقرآن په یوګونج کی داهم لیکله اوعمر بن خطاب شاهددی اوعبد الرحمن بن عوف شاهد دی اوفلانی اوفلانی اصحاب شاهددی چی نبی کریم ﷺ رجم وکی اودهغه څخه وروسته مونږرجم وکی دحضرت عمربن خطاب ؓ ددی خطبی څخه دا معلومیږی چی درجم دحکم یو مستقل آیت دی کوم چی دسورة نور ددی ذکر سوی آیت څخه علاوه دی مگرحضرت فاروق اعظم ؓ ددغه آیت الفاظ ونه ښودل چی څه وه اونه یی داوفرمایل چی که هغه ددی سورة نور دآیت څخه علاوه بل آیت دی نو په قرآن کریم کی ولی نسته اوتلاوت یی ولی نه کیږي ، صرف دومره یی وفرمایل چی که زما دابیره نه وای چی خلگ

به په ما په کتاب الله کې دزیاتوب کولو الزام ولګوی نو ما به دقرآن په حاشیه کې لیکلی وای (لکه دا روایت نسایی کړی دی)

په دې روایت کې دا خبره دفکر قابله ده چې که دغه واقعي دقرآن آیت دی او دنورو ایتونو په شان یې تلاوت واجب دی نو حضرت فاروق اعظم ﷺ دخلګو دبدګویي په بیره سره دا څنګه پرې ایښی وو کله چې دده سختوالی دالله ﷻ په حکم کې مشهور اومعروف دی او دا خبره هم دغور قابله ده چې په خپله حضرت فاروق اعظم ﷺ دا ونه فرمایل چې مابه دا دقرآن په حاشیه کې لیکلی وای .

دا ټولی خبری ددی قرینی دی چې حضرت فاروق اعظم ﷺ دسورة نور د ذکر سوی آیت چې کوم تفسیر دنبی کریم ﷺ څخه واوریدی چې په هغه کې یې دسلو دُرُو لګولو حکم دغیر واده سوی سړی اوښځی دپاره مخصوص وفرمایی او دواده سوی دپاره یې درجم حکم ورکی، دا ټول مجموعی تفسیر اوبیاپه دی دنبی کریم عمل یې په کتاب الله اوپه آیت دکتاب الله په الفاظو سره تعبیر وفرمایی په دی معنٰی کی چې دحضور ﷺ دا تفسیر اوتفصیل په حکم دکتاب الله کی دی ، دغه څه مستقل آیت نه دی کنه نوحضرت فاروق اعظم ﷺ یو طاقت هم ددی څخه نه سوای منع کولی چې دقرآن کوم آیت پاته سوي دی اوهغه په خپل ځای ولیکی ، په حاشیه یې دلیکلو چې کومه اراده ده ظاهره وفرمایله هغه هم ددی دلیل دی چې په حقیقت کې دغه څه مستقل آیت نه دی بلکه دسورة نور دآیت په تشریح کې څه تفصیلات دی ، او په ځینو روایتونو کې چې دلته دیو مستقل آیت الفاظ ذکر دی هغه داسناد اوثبوت په اعتبار سره په هغه درجه کې نه دی چې دهغه په بنا باندی په قرآن کریم دهغو اضافه وسی ، اوفقهاؤ چې کوم دغه منسوخ التلاوت دغیر منسوخ الحکم په مثال کې پیش کړي دی دغه دمثال په حیثیت کې دی په دغه سره په حقیقت کې ددغه آیت قرآن والی نه ثابتیږي .

خلاصه دخبری دا ده چې دسورة نور په ذکر سوی آیت کې چې کوم دزناکار سړی او زناکاری ښځی سزا سل دُرّی لګول ذکر دی دا دنبی کریم ﷺ په مکمله تشریح اووضاحت سره دغیر واده سوو خلګو دپاره خاص ده او دواده سوو سزا رجم دی ، دا تفصیل که څه هم دآیت په الفاظوکې ذکر نه دی مګر په کوم ذات اقدس ﷺ چې دا آیت نازل سو په خپله دهغه دطرف څخه په ناقابل التباس توضیح سره دا تفصیل ذکر دی او صرف زبانی تعلیم او ارشاد نه دی بلکه ډیر واره ورڅخه په دی تفصیل عمل هم دصحابه کرامو ﷺ دمجمعی په مخکی ثابت دی او دا ثبوت مونږ ته دتواتر په ذریعه رارسیدلی دی ، په دی وجه په واده سوی سړی او ښځی درجم دسزا حکم په حقیقت کې دکتاب الله حکم او دده دطرف څخه یقینی اوقطعی دی ، دی ته داسی هم ویلی سی چې درجم سزا دکتاب الله حکم دی او داسی هم ویلی سی چې درجم سزا په سنت متواتره سره قطعی الثبوت ده لکه چې دحضرت علی ﷺ څخه دا الفاظ نقل دی چې درجم حکم په سنت سره ثابت دی او حاصل د دواړو یو دی .

(يوضروري خبرداري)

په دي مقام چي كوم كوم ځاى دواده سوى اوناواده سوى الفاظ احقر ليكلي دي دا ديو اسان تعبير په حيثيت سره ليكل سوي دي اصل الفاظ دمحصن اوغيرمحصن يادثيب اوبكر په حديث كي راغلي دي، او دمحصن شرعي تعريف په اصل كي دا دي چي كوم سړى په صحيح نكاح سره دخپلي بي بي سره كوروالي كړي وي اوهغه عاقل هم وي په احكاموكي مراد هرځاى دمحصن شخه دا دي خودتعبير داساني دپاره دواده سوى لفظ ليكل كيږي.

(دزناپه سزاكي دري درجي)

دلوړو ذكر سوو روايتونو دحديث او دقرآن په ايتونوكي دغوركولو څخه معلوميږي چي اول دزنا سزا سپكه مقرره سوه چي قاضي يا امير دي په خپله رايه سره دي جرم كوونكي سړي اوښځي ته تكليف اوازار ورسوي اوښځه په كوركي قيده وساتي لكه چي په سورۃِ نسآء كي ددي حكم راغلي دي ، دوهمه درجه هغه ده دكومي حكم چي دسورةِ نور په دي آيت كي راغلي دي چي دواړه سل سل دُرّي ووهي دريمه درجه هغه ده كومه چي نبي كريم ﷺ د ذكرسوى آيت دنازليدو څخه وروسته ارشاد وفرمايله چي دسلو دُرّو سزا هغوته وركوى كوم چي واده سوى نه وي او چي واده سوى وي نو دهغو دپاره سزا رجم اوسنگسارول دي.

(په اسلامي قانون كي چي دكوم جرم سزا سخته ده دهغه دثبوت دپاره شرطونه هم سخت ايښوول سوى دي)

لكه چي لوړ بيان سوى دي چي دزنا سزا په اسلام كي دټولو جرمونو دسزاگانو څخه زياته سخته ده، ددي سره په اسلامي قانون كي ددي دثبوت دپاره شرطونه هم ډيرسخت ايښوول سوي دي كه په دي كي يوه ذره كمي راسي ياشبهه پيداسي نو دزنا انتهايي سزا كومي ته چي حدويل كيږي هغه به معاف سي صرف تعزيري سزا په قدر دجرم به باقي پاته سي په ټولومعاملوكي د دوو سړو يايوه سړي او د دوو ښځو شهادت دثبوت دپاره كافي كيږي مگر دزنا دحدجاري كولو دپاره دڅلورو سړو عيني شهادت چي هيڅ التباس په كښي نه وي ضروري شرط دي لكه چي دسورة نسآء په آيت كي تير سوي دي ، دوهم احتياط اوسختي په دي شهادت كي دا ده چي كه دزنا دشهادت په يو شرط مفقود كيدو شهادت رد سو نو بيا دشهادت وركوونكو خير نسته په هغوي به حد دقذف يعني دزنا د درواغو دشهادت اوتهمت جرم قائم سي ، حد دقذف اتيا دري وهل به په جاري سي په دي وجه دلږڅه شبهي په صورت كي يو سړي ددي شهادت په وركولو اقدام نه سي كولي ، البته په كوم صورت كي چي دصريح زنا ثبوت نه وي مگر په شهادت سره د دوو تنو سړي اوښځي په غير مشروع حالت كي ليدل ثابت سي نو قاضي د دوي دجرم دحيثيت مطابق تعزيري سزا ددُرّو لگولو وغيره جاري كولي سي دزنا دسزا او ددي شرطونو وغيرا تفصيلي حكمونه دفقهي په كتابونوكي ذكردي هلته يي كتلي سي.

(دیو سړی یاحیوان سره دقبیح فعل حکم)

دا مسئله چې سړی دسړی سره یاحیوان سره دا قبیح کاروکی نوداپه زناکی دا خل دی اوکه نه او ددی سزا هم دزنا سزا ده اوکه بله ، ددی تفصیل دسورة نساء په تفسیرکی تیرسوی دی چې که څه هم په لغت او اصطلاح کی دی کار ته زنا نه سی ویل کیدی اوپه دی دزنا دحد اطلاق نه کیږي ، مګر ددی سزا هم دزنا دسزا څخه په سختئ کی کمه نه ده صحابه کرامو ؓ داسی سړی ته دژوندی سوزولو سزا ورکړې ده .

وَّلَا تَاۡخُذۡكُمۡ بِهِمَا رَاۡفَةٌ فِىۡ دِيۡنِ اللّٰهِ دزنا سزا چونکی ډیره سخته ده او ددی احتمال دی چې دسزا جاری کوونکوپه دوی څه رحم راسی اوسزا پریږدی یاکمه یی کړی ، په دی وجه یی ددی سره داحکم هم ورکی چې ددین په دی اهمو فرضو ادا کولوکی په مجرمانو رحم اوترس کول جائز نه دی ، نرمی او رحمت او عفوه کرم هرځای دیرښه دی ، مګر پرمجرمانو درحم کولو نتیجه دخدای دټول مخلوق سره بی رحمی کول دی په دی وجه منع اوناجائز ده .

وَلۡيَشۡهَدۡ عَذَابَهُمَا طَآئِفَةٌ مِّنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ : یعنی دزنا دسزا جاری کولو په وخت کی دمسلمانانو یو جماعت حاضرېدل په کار دی ، په اسلام کی دټولو سزاګانو اوخصوصاً دحدونو په ډاګه دجاری کولو طریقه رواج ده چې لیدونکی عبرت ورڅخه واخلی مګر دیوجماعت دزنا دی سزا ته دحاضریدو حکم په خصوصیت سره دی .

(په اسلام کې اول دجرم دپرده پوشي حکم دی لیکن کله چې معامله په شهادت سره ثابته سي نو بیا دمجرمانو پوره رسوايي هم عین حکمت ګرځول سوی دی)

دنواحشو اوبی حیایو دبندولو دپاره اسلامی شریعت ترلیری لیری پوری پهری کښینولی دی ، په ښځو بی پرده لازمه کړه سړوته یی دنظر کښته ساتلو حکم ورکی دکالو اواز یادښځو دسندرو اواز یی منع وګرځوی چې دا دبی حیایی دپاره راپارونکی دی ددی سره چې کوم سړی په دی معاملوکی په کوتاهی کولو سره ولیدل سی ده ته په پټه دپوهولو حکم دی ، مګر دده درسوا کولوحکم نسته لیکن کوم سړی چې دا ټول شرعی احتیاطونه مات کی او دی درجی ته ورسیږی چې دده جرم په شرعی شهادت سره ثابت سی نو اوس دده پرده پټول دنورو خلګو جرأت زیاتول دی ، په دی وجه تراوسه پوری چې څومره اهتمام دپرده پوشی شریعت کړی وو اوس دهغه هومره فضیحت او رسوایی دده کول کیږي ، په دی وجه دزنا دسزایی صرف په ډاګه پرجاری کولو باندی کفایت ونه کی بلکه دمسلمانانو دیوجماعت حاضری اودشریکیدو حکم یی ورکی .

اَلزَّانِىۡ لَا يَنۡكِحُ اِلَّا زَانِيَةً اَوۡ مُشۡرِكَةً وَّالزَّانِيَةُ

بدکار سړی په نکاح نه کوی مګر دبد کاری ښځی سره یا دمشرکی سره اودبد کاری ښحی سره

لَا يَنْكِحُهَا إِلَّا زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ ③

نکاح نه سی کولی، مگر بدکارسړی یا مشرك، او دا حرام سوي دي په مؤمنانو باندې.

لنډتفسیر: (زناداسی ګنده شی ده چی په دی سره دانسان دطبیعت مزاج خراب سی او دبدو شیانوطرف ته د ده رغبت پیداسی دداسی سړی طرف ته رغبت هم دیوچا داسی خبیث النفس کیدی سی چی اخلاقی مزاج یی خراب سوی وي چنانچی) زناکار (دخپلی زناکاری اوزناطرف ته درغبت په وجه سره) نکاح هم دچاسره نه سی کولی بغیر دزناکاری اومشرکی ښځی ځخه او (دغه شان) دزناکاری سره هم (ددی دزناکاری اوزنا طرف ته درغبت په وجه سره) بل څوك نکاح نه سی کولی بغیر دزناکار سړی اومشرك ځخه او دا (داسی نکاح کوم چی دزناکاری دزناکارۍ په حیثیت سره وي چی نتیجه یی اننده هم ددی په زناکی اخته کیدل دي یادمشرکی ښځی سره وي) په مسلمانانو حرام (اوموجب دګناه) ګرځول سوي دي (که څه هم په صحت اوعدم صحت په دواړو کی فرق وي چی زناکاره که په حیثیت دزناکاری سره څوك ورسره نکاح وکی نو دګناه والی باوجود نکاح منعقد کیږي او صحیح کیږي اوکه دمشرکی سره یی نکاح وکړه نو دناجائز اوګناه والی ځخه علاوه دغه نکاح ګرسره کیږي نه اوباطله به وي)

معلومات اومسئلي

(دزنا متعلق دوهم حکم)

اولنی حکم دسزا دزنا وو کوم چی ددی ځخه په مخکی آیت کی بیان سو دا دوهم حکم دزناکار اوزناکاری سره دنکاح کولو متعلق دی، ددی سره دمشرکی ښځی اومشرك سړی سره دنکاح هم ذکر سوی دی، ددی آیت په تفسیر کی د امامانو دتفسیر اقوال مختلف دي، په دی ټولوکی اسان اومنل سوی تفسیر هغه معلومیږي کوم چی په لنډتفسیرکی دقوسو په مینځ کی دوضاحتونو په ذریعه بیان سوی دی خلاصه یی دا ده چی دآیت دشروع حصه څه شرعی حکم نه دی بلکه دیوی عامی مشاهدی اوتجربی بیان دی چی په دی کی دزنا دکارخبیث والی او ددی داثراتو اولیری رسیدونکو ضررونو ذکر دی، دایت مطلب دا دی چی زنا یواخلاقی زهر دی ځکه چی ددی په زهرناکو اثراتو سره دانسان اخلاق اومزاج خراب سی، دښه اوبد تمیز په کښی پاته نه سی بلکه بدی اوخباثت یی خوښ سی، دحلال او حرام فرق نه کوي اوکومه ښځه چی دده خوښیږي دده اصل مقصود دهغه سره زنا کول اوهغه په زناکاری باندی راضی کول وي که دزناپه اراده کی ناکامه سی نو په مجبوری سره په نکاح راضی سی مګر په زړه سره نکاح نه خوښوي ځکه چی دنکاح کوم مقصدونه دي چی سړی دی پاکدامن وسیږي او صالح اولاد دی پیداکی او ددی دپاره دښځی دحقوقو نفقی وغیره دهمیشه دپاره پابند سی، دا داسی سړی ته وبال معلومیږي اوچونکی دداسی سړی دنکاح سره څه غرض نه وي په دی وجه دده رغبت صرف دمسلمانو

ښځونه نه بلکه دمشرکو ښځو طرف ته هم وی او مشرکه ښځه که دخپل مذهب په وجه یادبرادری درسم په وجه سره دنکاح شرط ولګوی نومجبوراً هغه ددی سره نکاح ته هم تیاریږي ، په دی دده څه کارهم نه وی چی دانکاح به حلاله اوصحیح وی اوکه شرعًابه باطله ګرځی ، په دی وجه په ده دا خبره رښتینی سوه چی دده دکومی ښځی طرف ته اصلی رغبت وسی که هغه مسلمانه وی نو دزناکاری طرف ته به یی رغبت وی برابره خبره ده که داول څخه زناکاره وی یادده سره زنا وکی او زناکاره سی یابه یی بیا دمشرکی ښځی طرف ته رغبت وی دکومی سره چی یی نکاح هم دزنا په حکم کی ده ، دا معنٰی سوه دآیت د اولی جملی یعنی ، الزَّانِي لاَ يَنكِحُ إِلاَّ زَانِيَةً أَوْ مُشْرِكَةً : دغه ډول کومه ښځه چی دزنا سره عادت سی اوتوبه نه ورځخه کوی نو دربنتینی مومن مسلمان دچاچی اصلی مقصود نکاح اودنکاح شرعی فائدی اومقصدونه وی دداسی ښځی څخه ددی توقع نه وی ، په دی وجه ده ته دداسی ښځی طرف ته اصلی رغبت نه سی کیدی بیا کله چی دا هم معلومه وی چی دا ښځه دنکاح څخه وروسته هم دخپل بدعادت زنا څخه نه راګرځی البته دداسی ښځی طرف ته رغبت یاخو دزناکار سړی کیدی سی دچاچی اصلی مقصد خپل خواهش پوره کول وی نکاح یی مقصود نه وی ، په دی کی که دغه زنا کاره دخپل دنیوی مصلحت په وجه دده سره دیوځای کیدو دپاره دنکاح شرط ولګوی نو دی په نازره سره نکاح کول هم خوښوی یابیادداسی ښځی په نکاح باندی هغه سړی راضی کیږی کوم چی مشرك وی اوچونکی دمشرك سره نکاح هم شرعًا زناده ، په دی وجه په دی کی دوه شیان جمع سول چی مشرك هم دی او زانی هم ، دا معنٰی دآیت د دوهمی جملی ده یعنی ، وَالزَّانِيَةُ لاَ يَنكِحُهَا إِلاَّ زَانٍ أَوْ مُشْرِكٌ .

ددی ذکرسوی تفسیر څخه دا خبره واضحه سوه چی په دی آیت کی دزناکار اوزناکاری څخه مراد هغه دی کوم چی دزنا څخه توبه ونه باسی اوپه خپل دی بدعادت باندی قائم پاته سی اوکه په دوی کی یو سړی دخانه داری یا داولاد په مصلحت سره دیوی پاکدامنی شریفی ښځی سره نکاح وکی یاد داسی ښځی سره یونیك سړی نکاح وکی نوپه دی آیت سره ددی نکاح نفی نه لازمیږی دانکاح به شرعًا درسته سی ، دامت دجمهورو فقهاء دامام اعظم ابوحنیفه مالك شافعی دامذهب دی، او دصحابه کرامو ؓ څخه دداسی نکاح کولو واقعات ثابت دی ، په تفسیر ابن کثیرکی دحضرت ابن عباس ؓ څخه دا فتوٰی نقل سوي ده .

اوس پاته سوه دآیت اخری جمله ، وَحُرِّمَ ذَٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ : په دی کی څینو مفسرینو حضراتو خود ذٰلِكَ اشاره دزنا طرف ته راګرځولی ده نو دجملی معنٰی دا سوه چی کله زنا داسی خبیث کار دی نو زنا په مومنانو حرامه سوي ده ، ددی تفسیر په معنٰی کی خو هیڅ اشکال نه پاته کیږي ، لیکن دَ ذٰلِكَ څخه دا مراد اخستل دآیت دسیاق څخه څه قدر لیری ضروردی ، په دی وجه څینی مفسیرین دَذٰلِكَ اشاره دزناکار او زناکاری اومشرك اومشرکی نکاح ته راګرځوی ، په دی صورت کی دمشرکی سره دمسلمان سړی دنکاح او دمشرك سره دمسلمانی ښځی دنکاح حراموالی خوپه نورو نصونو دقرآن سره هم ثابت دی او

دا دټول امت په نزد اجماعي مسئله ده او دزنا كار سړي سره دپاكدامنې ښځې نكاح ياد زناكارې ښځې سره دپاكدامن سړي نكاح حراميدل كوم چې ددې جملې څخه معلوميږي هغه په دې صورت سره مخصوصه ده چې پاكدامن سړي دزناكارې ښځې سره نكاح وكړي او دا دزنا څخه منع نه كړي بلكه دنكاح څخه وروسته هم ددې په زناكارۍ راضي وي څكه چې په دې صورت كې به دې دیُوث (دوُوس) وي كوم چې شرعًا حرام دى ، دغه ډول يوه شريفه پاكدامنه ښځه چې دزنا دعادتمن سړي سره نكاح وكړي اودنكاح څخه وروسته هم د ده په زناكارۍ راضي وي دا هم حرام دى يعنې ددې خلكو داكار حرام اوكبيره گناه ده ، ليكن په دې سره دا نه لازميږي چې د دوى په مينځ كې به نكاح درسته نه وي باطله به وي لفظ دحرام په شريعت كې په دوو معانيو استعماليږي يو دا چې دغه كار گناه ده اوكوونكى يې په آخرت كې دسزا مستحق دى او په دنياكې هم دغه عمل بالكل باطل كالعدم دى ، په ده څه شرعي فائده ددنياوي احكاموهم نه مرتب كيږي لكه چې ديوى مشركې ښځې سره يادكومو ښځو سره چې دهميشه دپاره نكاح حرامه ده په هغوى كې يې دچاسره نكاح وكړه نو دا عظيمه گناه هم ده او داسې نكاح شرعًا كالعدم ده ، په زنا كې اوپه دې كې هيڅ فرق نسته ، دوهم دا چې حرام كار دى يعنې گناه موجب دسزا ده ، مگر په دنياكې ددې كارڅه ثمرات پاته كيږي او معامله صحيح كيږي لكه چاچې يوې ښځې ته دوكه وركړه يايې اغوا كړه بو يې تله اوبيايې ورسره دشرعي قاعدې مطابق د دوو شاهدانو په مخكې ددې درضا مطابق نكاح وكړه نو دا كار خوناجائز اوحرام وو مگر نكاح صحيح سوه او د اولاد نسب به يې ثابت وي ، دغه ډول دزناكارې ښځې اوزناكار سړي نكاح كله چې د دوى اصلي مقصود زناوى نكاح محض په څه دنيوي مصلحت سره كوي او دزنا څخه توبه نه كوي داسې نكاح حرامه ده مگر په دنيوي احكامو كې باطل كالعدم نه ده ، دنكاح شرعي ثمرات نفقه مهر ثبوت دنسب او ميراث ټول به جاري كيږي ، دغه ډول لفظ دحرم په دې آيت كې دمشركې په حق كې داولې معنٰى په اعتبار سره او دزناكار سړي او زناكارې ښځې په حق كې د دوهمې معنٰى په اعتبار سره صحيح او درست سو ، ددې تفسير په بنا سره آيت ته دمنسوخ ويلو ضرورت پاته نه سو لكه چې څينو مفسرينو حضراتو فرمايلې دى ، والله سبحانه وتعالى اعلم

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

كوم خلق چې عيب لگوي په پاكدامنو نكاح كې راغلو ښځو بيا پيش نه كړي څلور سړي شاهدان

فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا

نو وهئ دوى اتيا (۸۰) درې او مه منئ د دوى شاهدي هيڅكله

وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْفَٰسِقُونَ ۝٤ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ

او دغه خلق دی نافرمانه ، مگر چاچی توبه وکړه ددې څخه وروسته

وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٥

او خپله اصلاح یې وکړه نو الله بخښنې والا مهربان دی.

لنډتفسیر: اوکوم خلک چې (دزنا) تهمت ولګوي په پاکو ښځو (دکومې چې زناکاره کیدل په څه دلیل یاشرعي قرینه سره ثابته نه وي) اوبیاڅلورشاهدان (په خپله دعوی) پیش نه سي نو داسي خلک اتیادری وهی او د دوی هیڅ شاهدي هیڅکله مه قبلوی (دا هم دتهمت لګولو دسزاجزء دی چې دوی دهمیشه دپاره مردود الشهادت سول دا خو ددنیا دسزا ذکر وو) او دا خلک (په آخرت کی هم دسزا مستحق دی څکه چې) فاسقان دي لیکن کوم خلک چې ددې څخه وروسته (خدای ته) توبه وباسی (څکه چې په تهمت لګولوکې دوی دالله ﷻ نافرمانی وکړه او دالله ﷻ حق يې ضائع کی) او (په چاچې يې تهمت لګولی وو دهغه څخه یې معافی هم وغوښتله) خپله اصلاح یې وکړه (څکه چې دهغه حق یې ضائع کړی وو) نو الله ﷻ خامخابخښنه کوونکی رحمت کوونکی دی (یعنی په رښتینی توبه کولو سره به یې دآخرت عذاب معاف سی که څه هم شهادت نه قبلیدل کومه چې دنیوی سزا وه دغه به باقي وی څکه چې دغه دشرعي حد جزء دی او دجرم دثبوت څخه وروسته په توبه کولو سره شرعي حد نه ساقطیږی)

معلومات اومسئلي

(دزنا متعلق دریم حکم د دروازغو دتهمت جرموالي او دهغه شرعي حد)

لکه چې مخکې بیان سوی دی چې زناچونکه دټولو جرمونو څخه زیاته په معاشره کی دوراني اوفساد ذریعه ده ، په دی وجه ددی سزا اسلامی شریعت دنورو ټولو جرمونو څخه زیاته ایښی ده ، په دی وجه دعدل اوانصاف تقاضاوه چې ددی معاملې ثبوت ته ډیر اهمیت ورکړل سی ، بغیردشرعي ثبوت څخه څوک په یو سړی یاښځه دزنا الزام یادتهمت لګولو زړه ورتیا ونه کړل سی ، په دی وجه اسلامی شریعت بغیر دشرعي ثبوت څخه چې نصاب یې څلور سړی شاهدان اوعادلان دی که څوک په چا څه دصریح زنا تهمت ولګوی نو دا تهمت لګول یې هم سخت جرم مقرر کی اوپه دی جرم یې هم شرعي حداتیا دُرّې مقرري کړی چې ددی لازمی اثر به دا وی چې په یو سړی دزنا دالزام لګولو به څوک ترهغه وخته زړه ورتیانه سی کولی ترڅو چې دده دغه خبیث کار په خپله په سترګو هم وویني او دده سره دری کسانو نورو هم لیدلی وی او هغوی شاهدی ورکوی څکه چې که نورشاهدان نه وی یادڅلورو څخه کم وی یادهغوی په شاهدی کی شبهه وی نو یوازی دا سړی به په شاهدی ورکولو او دزنا دتهمت دسزا ځان

مستحق کول هیڅکله خوښ نه کړی.

(یوه شبهه او دهغه جواب)

پاته سوه دا معامله چی کله دزنا دشهادت دپاره داسی سخت شرطونه ولګول سول نو دا خو مجرمانو رخصتی سوه نه به څوك دشهادت زړه ورتیاکولی سی اونه به شرعی ثبوت پیداسی اونه به داسی مجرم هیڅکله سزا پیداکی مګر دا خیال څکه غلط دی چی دزنا شرعی حد یعنی سل دُرّی یادرجم اوسنګساری سزا ورکولو دپاره خو دا شرطونه دی ، لیکن دوه غیرمحرم سړی اوښځه یوځای په قابل اعتراض حالت کی یا دبی حیایی په خبروکولوکی په لیدلو او ددی په شاهدی ورکولوخو څه پابندی نسته ، اوداسی ټول کارونه کوم چی دزنا مقدمات وی دا هم شرعًا دسزا قابل اوجرمونه دی لیکن دشرعی حدسزانه ده او تعزیری سزا ده ، دقاضی یاحاکم درایی مطابق به دُرّی په لګول کیږي ، په دی وجه چی کوم سړی دوه تنه سړی اوښځه په زناکی اخته اولیدل مګر نور شاهدان نسته ، نو دصریح زناپه الفاظوسره خوشهادت نه سی ورکولی مګر دبی پردی اختلاط شاهدی ورکولی سی اوحاکم اوقاضی به په دغو دواړو تعزیری سزا وروسته تر ثبوت دجرم څخه جاری کولی سی.

محصنت څوک دی؟ دالفظ دَاِحْصَانْ څخه مشتق دی په اصطلاح دشرع کی داحصان دوه قسمه دی یوهغه چی دزناپه حدکی معتبر سوی دی هغه دا چی په چا دزنا ثبوت وسی هغه عاقل بالغ ازاد مسلمان وی او دیوی ښځی سره یی صحیح نکاح سوی وی او ددی سره یی کوروالی هم کړی وی نو په ده درجم اوسنګساری سزاجاری کیږي ، دوهم قسم هغه دی چی په حد دقذف یعنی دزناپه تهمت کی معتبر سوی دی هغه دا دی چی په چایی دزنا الزام لګولی دی هغه عاقل بالغ ازاد مسلمان وی اوپاك وی یعنی مخکی په ده هیڅکله دزنا ثبوت نه وی سوی ، په دی آیت کی دمحصنت دا معنٰی ده (جصاص)

مسئله: دقرآن په آیت کی دعام معروف عادت مطابق یادهغه واقعی په وجه سره کومه چی ددی آیت دشانِ نزول ده دزنادتهمت او ددی دسزا ذکر داسی سوی دی چی تهمت لګوونکی سړی وی اوپه چا چی تهمت لګولی وی هغه پاکه ښځه وی مګر شرعی حکم دعلت دشریکوالی په وجه سره عام دی که ښځه پربله ښځه یاپه یو سړی یاسړی په بل سړی دزنا تهمت ولګوی اوشرعی ثبوت موجودنه وی نودا ټول به هم ددی شرعی سزا مستحق وی (جصاص وهدایه)

مسئله: داشرعی حدکوم چی دزنا دتهمت دپاره ذکر سوی دی صرف ددی تهمت سره مخصوص دی دبل جرم تهمت که په چاباندی ولګول سی ، نو دا شرعی حد په هغه نه سی جاری کیدی ، البته تعزیری سزا دحاکم درایی مطابق دهر جرم په تهمت ورکول کیږي ، دقرآن په الفاظوکی که څه هم صراحةً دزنا ددی حد دتهمت سره مخصوص کیدل ذکر نه دی مګر دڅلورو شاهدانو ذکر ددی خصوصیت دلیل دی ، څکه چی دڅلورو شاهدانو شرط صرف دزنا دثبوت دپاره مخصوص دی (جصاص وهدایه)

مسئله: دقذف په حد کی چونکی دبنده حق یعنی په چاچی تهمت لګول سوي دی دهغه حق هم شامل دی په دی وجه داحد هغه وخت جاری کیدی سی چی کله هغه سړی په چاچی تهمت لګول سوی وی مطالبه هم وکی ، کنه نوحد به ساقط سی (هدایه) په خلاف دزنا دحد څخه چی هغه خالص د الله ﷻ دی ، په دی وجه که څوك مطالبه کوی اوکه یی نه کوی ، حد دزنا دجرم په ثابتیدو باندی به جاری کیدی سی .

وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا: یعنی په کوم سړی چی دزنا دتهمت په دروا‌غو لګولو جرم ثابت سی اودتهمت لګول سوی په مطالبه په ده دقذف حدجاری سی نو ده ته خویوه سزافوری ورکول سوه چی اتیا دُرّی ووهل سو دوهمه سزا به دهمیشه دپاره جاری وی هغه دا چی دده شهادت به په یوه معامله کی هم نه سی نبلیدی تر څو پوری چی دا سړی الله ﷻ ته په ندامت سره توبه ونه کړی اوپه چا چی یی تهمت لګولی وی دهغه څخه معافی وغواړی او خپله توبه مکمله نه کړی تردغه وخته پوری خوپه اجماع دامت دده شهادت په یوه معامله کی مقبول نه دی اوچی توبه وکی بیاهم داحنافوپه نزدبه دده شهادت قبول نه وی البته ګناه به یی معاف سی لکه چی داسی په لنډ تفسیرکی تیر سوی دی .

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ : یعنی هغه خلګ په کوموچی دزنا دتهمت حدجاری سوی دی که دوی توبه وکی اوخپل حالت برابرکړی چی ائنده دداسی کارکولو خطره دده څخه پاته نه سی اوپه چاچی یی تهمت لګولی وی دهغه څخه معافی هم وغواړی نوالله ﷻ مغفرت کوونکی اورحمت کوونکی دی .

دا استثناء، دَ اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا : دامام اعظم ابوحنیفه او ځینو نوروامامانو په نزد دتیر آیت صرف اخری جملی ته راجع ده یعنی وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ نو مطلب ددی استثناء دا دی چی په چادقذف حدجاری سوی دی هغه فاسق دی لیکن که دی دزړه په صدق سره توبه وباسی اوپه چاچی یی تهمت لګولی وی دهغه څخه معافی وغواړی اودخپل حالت اصلاح وکی نو دی بیافاسق نه دی اودآخرت سزا به دده څخه معاف سی ، ددی نتیجه دا ده چی په دنیاکی کوم پرده د دوو سزاګانو ذکر ددی آیت په شروع کی دی یعنی اتیادُرّی لګول او مردود الشهادت کول یوه لویه سزا چی دُرّی لګول دی هغه خو جاری سوي ده دوهمه سزا هم چونکی ددغی شرعی حد جزء دی او دا خو دټولو په نزد منل سوی خبره ده چی په توبه سره شرعی حد نه معاف کیږی ، که څه هم دآخرت ګناه او عذاب په معاف کیږی ، نو کله چی دمردود الشهادت کیدل هم دشرعی حد جزء دی ، نو دغه په توبه سره نه معاف کیږي ، امام شافعی رحمه الله او ځینو نورو امامانو ذکر سوی استثناء دتیر آیت دټولو جملو طرف ته راجع مقرر کړي ده ، مطلب به یی دا وی چی په توبه کولو سره لکه څنګه چی دغه فاسق پاته نه سوپه دی وجه مردود الشهادت نه پاته کیږي ، په جصاص اومظهری کی د دواړو طرفونو دلیلونه اوجوابونه په تفصیل سره ذکر سوی دی عالمان یی هلته کتلی سی ، والله تعالی اعلم

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّآ اَنْفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمْ اَرْبَعُ

اوکوم خلق چی عیب ولګوی په خپلو ښځو او شاهدان نه وی دوی سره ماسوا دخپل ځان ځخه نو دداسی سړی

شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝۶ وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ

دشاهدی صورت دادی چی څلور واره په الله قسم وکی شاهدی ورکړی ،بیشکه دی رښتونی دی او پنځم وار دا چی

اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝۷ وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ

دالله ﷻ لعنت دی وی په ده باندی که دی درواغجن وی ، او دښځی څخه عذاب دوهلو لیری کیږی

اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝۸

چی دا څلور واره شاهدی ورکړی په الله ﷻ قسم وخوری ، چی خامخا دغه سړی درواغجن دی

وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝۹

او پنځم دا چی دالله ﷻ غضب دی وی په دی ښځی که دا سړی رښتونی وی او که نه وی

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ۝۱۰

دالله ﷻ فضل په تاسی او دهغه رحمت ، اودا چی الله معاف کوونکی دحکمتو پیژندونکی دی (ایا هیڅ به نه وو؟

تفسیر: اوکوم خلق چی په خپلو بیبیانو (دزنا) تهمت ولګوی او دده سره بغیر دخپلی (دعوی څخه بل

څوك شاهدنه وی (کوم چی په شمیرکی څلور تنه ضروری دی) نو دده شاهدی (چی دافعه دحدقذف

یاحبس وی) دا ده چی څلور واره په الله قسم واخلی دا ووایی چی بیشکه زه رښتینی یم او په پنځم وار

داووایی چی په مادی دخدای لعنت وی که زه درواغجن یم او (ددی څخه وروسته) ددغی ښځی څخه سز

(یعنی حبس یاحد دزنا) په دی ډول سره منع کیدی سی چی دا څلور واره قسم واخلی ووایی چی بیشکه

داسړی درواغ جن دی او په پنځم وار دا ووایی چی په مادی دخدای غضب وی که دا سړی رښتینی وی

(په دی سره دواړه ښځه اوخاوند ددنیوی سزاڅخه محفوظ کیدی سی البته دغه ښځه به په دی سړی

حرامه سی) اوکه دا خبر نه وای چی په تاسی دالله ﷻ فضل اوکرم دی (چی داسی داسی احکام یی

مقررکړل چی په دی کی دانسان دفطری جذباتو پوره رعایت سوی دی) او دا چی الله ﷻ توبه قبلوونکی

حکمت والا دی نو تاسی به په لویو تکلیفونوکی راغلی واست (چی بیان یی مخ ته راځی)

معلومات اومسئلي

(د زنا متعلق څلورم حکم دلعان دی)

دلعان اوملاعنت معنیٰ یوبل ته دالله ﷻ دلعنت اوغضب ښراوی کول دی ، دشرع په اصطلاح کی ښځه اوخاوند دواړوته څه خاص قسمونو ورکولو ته لعان وایی ددی صورت دا دی چی کله یوخاوند په خپلی ښځی دزناتهمت ولګوی یاخپل بچی ته ووایی چی دا زما دنطفی څخه نه دی او دا ښځه په چاچی الزام لګیدلی دی ده ته درواغ ووایی او ددی مطالبه وکی چی په مایی په درواغو تهمت لګولی دی په دی وجه په خاوند به دزنا دتهمت اتیادُرّی لګیږی ، نو دغه وخت به دخاوند څخه مطالبه وسی چی دزنا په الزام څلور شاهدان پیش کړه که ده شاهدان پیش کړل نوپه ښځه به دزنا حد ولګول سی ، اوکه ده څلور شاهدان پیش نه کړل نو د دواړو په مینځ کی به لعان وسی یعنی اول به سړی ته وویل سی چی دی څلور واره په هغو الفاظو سره کوم چی په قرآن کریم کی ذکر دی دا شهادت ورکړی چی زه په دی الزام کی رښتینی یم اوپه پنځم وار به دا ووایی چی که زه درواغ وایم نو په مادی دالله ﷻ لعنت وی .

که خاوند ددی الفاظو ویلو څخه منع سو نوقید به سی ، چی یادخپل درواغ کیدو اقرار وکی یاپه ذکر سوو الفاظو سره پنځه واره دا قسمونه واخلی ، او ترڅو پوری چی په دی دواړو کی یوکار ده نه وی کړی تید به ساتل کیږی ، اوکه ده دخپل درواغ کیدو اقرار وکی ، نو په ده به حدقذف یعنی دزنا دتهمت شرعی سزا جاری سی اوکه په ذکر سوو الفاظو سره یی پنځه واره قسمونه وخوړل ، نو بیابه ددی څخه وروسته دښځی څخه په هغو الفاظو سره پنځه قسمونه واخیستل سی کوم چی په قرآن کی دښځی دپاره ذکر دی که هغی دقسم اخستو څخه انکار وکی نو ترهغه وخته پوری به قیدساتل کیږی ترڅوچی داخاوند رښتینی کړی او دخپل جرم زنا اقرار وکی نو په دی به دزنا حدجاری سی او یاپه ذکر سوو الفاظو سره پنځه قسمونه واخلی که دا د ذکر سوو الفاظو په قسم اخستو راضی سوه اوقسمونه یی واخسته ، نو اوس لعان پوره سوچی ددی په نتیجه کی ددنیا دسزا څخه دواړه محفوظ سول او داخرت معامله یی الله ﷻ ته معلومه ده چی په دوی کی کوم درواغ دی هغه ته به په آخرت کی سزا ورکول کیږی ، لیکن په دنیاکی هم چی دښځی اوخاوند په مینځ کی دلعان معامله وسی نو دوی په یوبل دهمیشه دپاره حرام سی خاوندته په کار دی چی دی ته طلاق ورکی او ازاده یی کړی که دی طلاق نه ورکوی نو حاکم به د دواړو په مینځ کی جدا والی راولی کوم چی به په حکم دطلاق کی وی په هرحال اوس د دواړو په مینځ کی دوباره نکاح هیڅکله نه سی کیدی ، دلعان دمعاملی دا تفصیل په کتابونو دفقهه کی ذکر دی .

دلعان قانون په اسلامی شریعت کی دخاوند دجذباتو او دنفسیاتو درعایت په بنا باندی نافذ سوی دی ، څکه چی په یو سړی باندی دزنا دالزام لګولو قانون کوم چی په اول آیت کی تیرسوی دی ددی په وجه سره دا ضروری ده چی دزنا الزام لګوونکی به څلور عینی شاهدان پیش کوی اوچی دا ونه کړی نوچیه به

په ده دزنا دتهمت حدجاري کيږي ، دعام سړي دپاره خو دا ممکنه ده چي کله څلور شاهدان نه وي نو
دزنا دالزام لګولو څخه به خاموش پاته سي چي دزنا دتهمت دسزا څخه محفوظ سي ، ليکن دخاوند
دپاره دا معامله ډيره سنګينه ده ، کله چي ده په خپلو سترګو سره وليدل اوشاهد موجود نه وي ، نو که
دی څه وايي دزنا دتهمت سزا به پيدا کی او که نه وايي نو ټول عمر به زړه خوری او دده ژوند به وبال سي.
په دی وجه دخاوند معامله يی دعام قانون څخه جلا کړه او جلا قانون يی ورته جوړ کی ، ددی څخه دا هم
معلومه سوه چي لعان صرف دښځی اوخاوند په معامله کی کيدی سی ، دنورو حکم هغه دی کوم چي په
مخکی ايتونوکی تيرسوی دی ، دحديثو په کتابونو کی دلته دوی واقعی ذکر سوی دی په دغو کی
دلعان دآيت شان نزول مکرره واقعه ده په دی کی دتفسير داامامانو اقوال مختلف دی قرطبي دايت نزول
مکرر منلی دی او دواړه يی شان نزول مقرر کړي دی ، حافظ ابن حجر رحمه الله شارح دبخاري اونووي
رحمه الله شارح دمسلم په دواړو کی تطبيق کړی دی اوپه يو نزول يی د دواړو شان نزول آيت دلعان
مقررکړی دی ، ددی زياته صفا توجيه هغه ده کومه چي مخ ته راځي .

يوه واقعه دهلال بن اميه او دده دښځی ده کومه چي په صحيح بخاري کی په روايت دابن عباس رضی الله عنهما ذکر
ده او ددی واقعی اولنی حصه دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په روايت سره په مسند احمد کی داسی راغلی ده.
حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمايي چي کله په قرآن کريم کی دحد قذف داحکامو آيت نازل سو يعنی ، وَالَّذِينَ
يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً : چي په دی کی يی په يوی ښځی دزنا
الزام لګوونکی سړی باندی لازمه سوی وه چي يابه په دی الزام څلور شاهدان پيش کوی چي يو به په
کښی دی په خپله وی اوڅوک چي داسی ونه کړی ، نوهغه به درواغ مقررسی په ده به داتيا دُرّو سزا حد
دقذف ولګيږی ، اوده‌ميشه دپاره به مردود الشهادت سی چي داآيت يی واوريدی نو دمدينی دانصارو
سردار حضرت سعدبن عباده رضی الله عنه نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته عرض وکی يارسول الله صلی الله عليه وسلم ايادا ايتونه هم دغسی نازل
سوی دی؟ نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته دسعد بن عباده رضی الله عنه دخولی څخه په داسی خبره اوريدو ډير تعجب وسو
نودوی صلی الله عليه وسلم انصارو حضراتو ته خطاب وفرمايي چي تاسی اوری چي ستاسی سردارڅه خبره کوی؟ خلکو
عرض وکی يارسول الله صلی الله عليه وسلم! تاسی دوی مه ملامتوی دده ددی خبری وجه دده دغيرت سختوالی دی :
بياسعدبن معاذ رضی الله عنه په خپله عرض وکی يارسول الله صلی الله عليه وسلم! زما پلار اومور په تاسی قربان ، زه ښه پوهيږم
چي داايتونه حق دی اودالله جل جلاله دطرف څخه نازل سوی دی ، ليکن زما په دی خبره تعجب دی چي که زه
بی حيا ښځه په داسی حال کی ووينم چي بل سړی په دی ختلی دی ، نوايا زما دپاره به داجائزنه وی چي
زه په هغه ځای ددی سره پوه سم او دهغه ځای څخه يی ورکه کړم ، بلکه زمادپاره به داضروری وی چي زه
څلورسړی راولم دا حالت ورته وښيم اوشاهدان يی کړم ورباندی اوترڅو پوری چي زه شاهدان جمع کوم
هغو به خپل کار کړی وی تښتيدلی به وی (دحضرت سعد رضی الله عنه الفاظ دلته مختلف نقل دی چي خلاصه

دېولو يو دول ده قرطبي)

دحد قذف دا ايتونو په نازليدو او دسعد بن معاذ په دي خبرو لږ وخت تير سو چي هلال بن اميه ﷺ ته دا واقعه پېښه سوه چي دي د ماخستن په وخت کي دخپلي مځکي څخه واپس سو نو دخپلي ښځي سره يي يو سړی په خپلو سترګو وليدی او خبري يي ورسره په خپلو غوږونو واوريدي مګر هيڅ يي ونه کړل تر دي چي سهار سو نو د نبي کريم ﷺ په خدمت کي يي دا واقعه عرض کړه نبي کريم ﷺ چي دا واقعه واوريده نو زړه يي ډير خفه سو او ډيره درنه يي محسوسه کړه ، اخوا ته انصار حضرات جمع سول او په خپل مينځ کي يي خبري شروع کړي چي کومه خبره زمونږ سردار سعد بن عباد ﷺ کړي وه مونږ په هغه کي اخته سو اوس دشرعي قانون مطابق به نبي کريم ﷺ په هلال بن اميه به اتيا دُرّي حد دقذف لګوی او په خلګو کي به دي دهميشه دپاره مردود الشهادت وګرځوی ، مګر هلال بن اميه وويل چي په خدای قسم دي زما پوره اميد دی چي الله ﷻ به ما د دي مصيبت څخه خلاص کړي او دصحيح بخاري په روايت کي دا هم دي چي نبي کريم ﷺ د هلال ﷺ معامله واوريده ، دقراني حکم مطابق يي هلال ﷺ ته هم وفرمايل چي يا په خپله دي دعوٰی خلور شاهدان را وله کنه نو ستا په شا به حد دقذف جاري کيږي ، هلال ﷺ نبي کريم ﷺ ته عرض وکي چي قسم دي په هغه ذات چاچي ته په حقه سره رالېږلی يي ، زه په خپله خبره کي رښتينی يم او خامخا به الله يو داسي حکم نازل کي کوم چي به زما شا دقذف دحد دسزا څخه بری کړي ، دا خبري جاري وي چي جبرائيل امين دا ايتونه په کوموکي چي دلعان قانون دي راوړل نازل سوه ، وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ أَزْوَاجَهُمْ، الاية .

ابو يعلي دا روايت دحضرت انس ﷺ څخه هم نقل کړي دي په دي کي دا هم دي چي کله دلعان ايتونه نازل سول ، نو نبي کريم ﷺ هلا بن اميه ﷺ ته خوشخبري ورکړه چي الله ﷻ ستا د مشکل حل نازل کی ، هلال ﷺ عرض وکي چي ما د الله ﷻ څخه اميد درلودی ، اوس نبي کريم ﷺ دهلال ﷺ ښځه هم راوغوښتله او کله چي دواړه ښځه او خاوند جمع سول نو دښځي څخه يي دمعاملي متعلق پوښتنه وکړه هغه وويل چي زما خاوند هلال ﷺ په ما د درواغو الزام لګوی نبي کريم ﷺ وفرمايل چي الله ﷻ پوهيږي چي په تاسي کي کوم يو دروا غجن دی ، ايا په تاسي کي څوك داسي سته کوم چي (دالله ﷻ دعذاب څخه بيريږي) توبه وکي او رښتيني خبره ظاهره کړي؟ په دي هلال بن اميه ﷺ عرض وکي زما مور او پلار په تاقربان سه ما بالکل رښتيا خبره کړي ده او څه چي مي ويلي دي حق مي ويلي دی ، نو نبي کريم ﷺ حکم وکي اول يي حضرت هلال ﷺ ته وويل چي ته څلور واره په دي الفاظو سره شهادت وکړه کوم چي په قرآن کريم کي ذکر دي يعني زه الله ﷻ حاضر ناظر ګنم او وايم چي زه په دي خپل الزام کي رښتينی يم هلال ﷺ ددي مطابق څلور واره شهادت ورکی ، کله چي د پنځم شهادت نمبر راغی چي الفاظ يي په قرآن کريم کي دا دي که زه دروا غ وايم نو په ما دي دالله ﷻ لعنت وي ، دغه وخت نبي کريم ﷺ په تاکيدی طور سره هلال ﷺ ته وفرمايل چي ګوره هلاله ﷺ ا دخدای څخه وبيريږه ځکه چي ددنيا سزا داخرت دعذاب څخه سپکه ده او

د الله ﷻ عذاب دخلگو دورکړی سزا څخه ډیرسخت دی او دا پنځم شهادت اخری شهادت دی په دی فیصله کیدل دی ، مګر هلال ؓ عرض وکی چی زه قسم اخلم اووایم چی الله ﷻ به په دی شهادت ماته داخرت عذاب رانه کړی (ځکه چی بالکل رښتینی شهات دی) لکه چی څنګه په دنیاکی د الله ﷻ رسول ﷺ به ماته دحد قذف سزا را نه کړی اوبیا ددی پنځم شهادت الفاظ یی ادا کړل .

ددی څخه وروسته دوی ﷺ دهلال ؓ دښځی څخه هم دغه ډول څلور قسمونه یاڅلور شهادتونه واخستل ، هغه هم په هروار دقرانی الفاظومطابق داشهادت وکی چی زماخاوند درواغجن دی ، کله چی دپنځم شهادت نمبرراغی نونبی کریم ﷺ وفرمایل لږ ودریږه بیایی دی ښځی ته وفرمایل چی دخدای څخه وبیریږه دا پنځم شهادت اخری خبره ده او دخدای عذاب دخلګو دعذاب یعنی دزنا دشرعی حد څخه زیات سخت دی چی دا یی واوریدل نو هغه په قسم اخستوکی وارخطا سوه اوترڅه وخته داسی په دی حالت وه مګر بیا یی په اخر کی وویل چی قسم په خدای زه خپل خاندان نه سم رسوا کولی اوپنځم شهادت یی هم په دی لفظونو سره ادا کی چی که زما خاوند رښتینی وی ، نو په مادی دخدای ﷻ غضب وی دا دلعان کار وایی مکمله سوه نونبی کریم ﷺ د دواړو ښځه اوخاوند په مینځ کی جلاوالی را وستی یعنی د دوی نکاح یی ماته کړه او دا فیصله یی وفرمایله چی ددی حمل څخه کوم بچی پیداسی هغه ته به ددی ښځی زوی ویل کیږي ، دپلار طرف ته به یی نسبت نه سی کیدی ، مګر بچی به مطعون کیږی هم نه ، انتهٰی (تفسیر مظهری بحواله مسند احمد عن ابن عباس ؓ)

دوهمه واقعه : هم په صحیح مسلم اوبخاری کی ذکر ده او دواقعی تفصیل امام بغوی په روایت دابن عباس ؓ داسی نقل کړی دی چی دزنا په تهمت لګولو چی دحد قذف جاری کولو احکامو په کومو ایتونوکی نازل سوه یعنی وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الاية نونبی کریم ﷺ په منبر ودریدی داایتونه یی خلګوته وویل په مجمع کی عاصم بن عدی ؓ انصاری هم موجود وو دی ودریدی اوعرض یی وکی یارسول الله ﷺ زما روح په تا قربان سه که په موږ کی یو سړی خپله ښځه دبل سړی سره ووینی نوکه هغه خپله لیدلی واقعه بیانوی نواتیا دُرّی به په لګیږی اودهمیشه دپاره به مردود الشهادت سی اومسلمانان به ده ته فاسق وایی په داسی حالت کی به موږ شاهدان دکومه راولو اوکه موږ دشاهدانو په تلاش کی ووزو نو دشاهدانو تر راتلو پوری به هغوخپل کار کړی وی اوتښتیدلی به وی، دا هغه سوال وو کوم چی په اوله واقعه کی سعدبن معاذ ؓ کړی وو ، په دی دوهمه واقعه کی عدی بن عاصم ؓ کړی دی.

دا سوال دیوی جمعی په ورځ سوی وو ددی څخه وروسته دا واقعه پیښه سوه چی دعاصم بن عدی ؓ د اکا زوی عویمر ؓ وو چی نکاح یی هم دعاصم بن عدی داکا دلور خو له سره سوی وه عویمر ؓ یوه ورځ ولیدل چی دده ښځه خو له دشریك بن سمحاء سره اخته ده او دا شریك بن سمحاء هم دعاصم بن عدی داکا زوی وو، عویمر راغی او دا واقعه یی عاصم بن عدی ته بیان کړه عاصم ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ

وويل او دراتلونكى جمعى په ورځ يى دنبى كريم ﷺ په خدمت كى دا عرض وكى چى يارسول الله ﷺ په تيره جمعه چى ما ستاسى څخه كوم سوال كړى وو ، افسوس دى چى زه په خپله په هغه كى اخته سوم ځكه چى زماپه اهل بيتوكى يوه داسى واقعه پيښه سوه ، بغوى ددى دواړو دحاضرولو اوبيا دلعان كولو واقعه‌په ډير تفصيل سره بيان كړي ده (مظهرى)

او په صحيحينو كى ددى واقعى خلاصه دحضرت سهل ﷺ بن سعد ساعدى په روايت سره داسى ذكرده چى عويمر عجلانى ﷺ نبى كريم ﷺ ته عرض وكى چى يارسول الله ﷺ كه يوسړى دخپلى ښځى سره غير سړى وويني نو ايادى به هغه قتلوى چى په نتيجه كى به يى بيا خلګ دى قتل كړى اوكه به هغه څه كوى؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل چى الله ستا اوستا دښځى په معامله كى حكم نازل كړى دى ولاړسه خپله ښځه راوله ، دحديث راوى حضرت سهل ﷺ بن سعد فرمايى چى دا دواړه يى را وغوښتل ، نبى كريم ﷺ په مسجدكى دننه لعان پروكى (چى صورت يى په تيره واقعه كى بيان سوي دى) هركله چى دپنځم شهادت څخه وروسته د دواړو لعان ختم سو نو عويمر عجلانى ﷺ وويل يارسول الله! ﷺ كه زه اوس دا ښځه كوم نوګويا چى ما په دى د درواغو الزام لګولى دى ، په دى وجه زه دى ته درى درى طلاقه وركوم (مظهرى بحواله صحيحين)

په دى دواړو واقعوكى په هره يوه كى دا ذكر دى چى دلعان ايتونه ددى په باره كى نازل سوى دى ، حافظ ابن حجر ﷺ اوشيخ الاسلام نووى ﷺ په دواړوكى تطبيق دا بيان كړى دى ، داسى معلوميږى چى اوله واقعه دهلال بن اميه ﷺ وه اوايتونه دلعان دهغه واقعى په باره كى نازل سوه ، ددى څخه وروسته عويمر ﷺ ته داسى واقعه ورپيښه سوه او دوى نبى كريم ﷺ ته عرض وكى ده ته به دهلال بن اميه تيره واقعه معلومه نه وه نونبى كريم ﷺ ده ته وفرمايل چى ستاسى دمعاملى فيصله دا ده اوقرينه ددى دا ده چى دهلال بن اميه ﷺ په واقعه كى خو دحديث الفاظ دا دى فَنَزَلَ جِبْرَئِيل او دعويمر ﷺ په واقعه كى الفاظ دا دى قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيكَ چى مطلب يى دا كيدى سى چى الله ﷻ ستا ددى واقعى په شان په يوه واقعه كى ددى حكم نازل كړى دى . والله اعلم (مظهرى)

مسئله : هركله چى دښځى اوخاوند په مينځ كى دحاكم په مخكى لعان وسى نودا ښځه په دى سړى دهميشه دپاره حرامه سى ، لكه درضاعت حراموالى چى ابدى وى ، په حديث كى دنبى كريم ﷺ ارشاد دى ، اَلْمُتَلَاعِنَانِ لَايَجْتَمِعَانِ اَبَدًا : حرمت خو په لعان كيدو سره ثابتيږى ، ليكن دښځى دبل سړى سره وروسته ترعدت نكاح كول دامام اعظم ﷺ په نزد هلته جائز كيږى ، كله چى سړى طلاق وركى ياپه ژبه سره ووايى چى مادا پريښوولېه اوكه سړى داسى ونه كړل ، نوحاكم قاضى به ددى دواړو په مينځ كى دجدايى حكم وكى دغه به هم په حكم دطلاق كى سى ، بيا دعدى دطلاق ددرو حيضونو پوره كيدو څخه وروسته به ښځه ازاده سى او دبل سړى سره به نكاح كولى سى (مظهرى وغيره)

مسئله: هر کله چې لعان وسي نو ددې ښځه وروسته چې کوم بچې ددغه حمل ښځه وسي ، دهغه نسبت به دخاوند طرف ته نه سي کيدې ، بلکه نسبت به يې مور ته کيږي نبی کريم ﷺ دهلال بن اميه ؓ او عويمر عجلانی ؓ دواړو په معاملو کی دا فيصله فرمايلې ده.

مسئله: دلعان ښځه وروسته که څه هم په دوی کی يو درواغجن وی ، دهغه د اخرت عذاب داول ځخه زيات سو ، مگر ددنيا سزا ورځخه ساقطه سوه دارنگه په دنيا کی دغه ښځی ته زنا کاره او بچی ته ولد زنا ويل هم دچا دپاره جائز نه دی دهلال بن اميه ؓ په معامله کی نبی کريم ﷺ په فيصله کی دا حکم هم صادر فرمايلی دی ، يعنی ، وَقَضٰی بِاَنْ لَّا تُرْمٰی وَلَا وَلَدُهَا .

اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ؕ لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ

اوکوم خلقو چی راتله وکړل په دی ناکاره درواغوسره ستاسی ځخه يوه ډله ده ، تاسی مه گڼئ دا بد په خپل حق کی

بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ۚ

بلکه دا غوره ده ستاسی په حق کی ، هرسړی دپاره هغه برخه ده خومره چی ده گناه وګټله ،

وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهٗ مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۱﴾ لَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ

اوچاچی پورته کړی دی ددې لوی بار دهغه دپاره لوی عذاب دی ، داسی ولی نه وه کله چی داورسئل

ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بِاَنْفُسِهِمْ خَيْرًا ۙ وَّقَالُوْا هٰذَآ

تاسی دا چی خيال کړی وی مؤمنانو سړو اومؤمنانو ښځو په خپلو خلقو نيک خيال ، او ويلی مو وی چی دا

اِفْكٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۲﴾ لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ۚ فَاِذْ لَمْ يَاْتُوْا

ښکاره دروغ دی ، ولی را نه وستل هغوی په دی باندی څلور شاهدان پس چی رانه وستل

بِالشُّهَدَآءِ فَاُولٰٓئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۳﴾ وَلَوْلَا فَضْلُ

شاهدان نو پس دغه خلق دالله ﷻ په نزد هم دغه درواغجنان دی ، او که نه وی

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِیْ مَآ

دالله ﷻ فضل په تاسی باندی او دهغه رحمت په دنيا او په آخرت کی نو په تاسی به لويدلی وای

اَفَضۡتُمۡ فِيۡهِ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۴﴾ اِذۡ تَلَقَّوۡنَهٗ بِاَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُوۡلُوۡنَ

په دی چرچه کولو باندی څه آفت لوی ، هرکله چی اخیستی تاسی په خپلوژبو او ویله مو په

بِاَفۡوَاهِكُمۡ مَّا لَيۡسَ لَكُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ وَّتَحۡسَبُوۡنَهٗ هَيِّنًا ‌ۖ وَّهُوَ عِنۡدَ

خولو سره هغه خبره چی تاسی ته علم نه وو په ، او تاسی گڼله دا سپکه خبره او دا د الله ﷻ په

اللّٰهِ عَظِيۡمٌ ﴿۱۵﴾ وَلَوۡلَاۤ اِذۡ سَمِعۡتُمُوۡهُ قُلۡتُمۡ مَّا يَكُوۡنُ لَنَاۤ اَنۡ

نزد ډیره لویه ده ، او ولی نه کله چی تاسی دا اوریدلی وه چی ویل مو چی مونږ لره نه دی لائق چی

نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ سُبۡحٰنَكَ هٰذَا بُهۡتَانٌ عَظِيۡمٌ ﴿۱۶﴾ يَعِظُكُمُ اللّٰهُ

په خوله راولو دا خبره الله ته پاك يی دا خو ډیر لوی دروغ دی ، الله تاسی پوهوی

اَنۡ تَعُوۡدُوۡا لِمِثۡلِهٖۤ اَبَدًا اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِيۡنَ ۚ ﴿۱۷﴾ وَيُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ

چی بیا ونه کړی داسی کارکله ، که تاسی ایماندار یاست او بیانوی الله تاسی ته

الۡاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۱۸﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ يُحِبُّوۡنَ اَنۡ تَشِيۡعَ

ډیرهی خبری او الله په هرڅه پوهه حکمت والادی ، کوم خلق چی غواړی چرچه کیدل دبدکاری

الۡفَاحِشَةُ فِى الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَهُمۡ عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ۙ فِى الدُّنۡيَا وَالۡاٰخِرَةِ ؕ

په ایماندارو کی ، دهغوی دپاره عذاب دی دردناك په دنيا او په اخرت کی

وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ وَاَنۡتُمۡ لَا تَعۡلَمُوۡنَ ﴿۱۹﴾ وَلَوۡلَا فَضۡلُ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ

او الله ﷻ پوهه دی او تاسی نه پوهیږي ، او که نه وی فضل د الله ﷻ په تاسی

وَرَحۡمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوۡفٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۲۰﴾ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

او دهغه رحمت او دا چی الله نرمی کوونکی دی او مهربان نو څه به نه وو سوی ، ای ایماندارو

لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ

مه ځی په قدمونو دشيطان ، او څوک چی ولاړی په قدمونو دشيطان

فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

پس هغه خو دبی حيايی او دبدی خبری ښوونه کوی ، او که نه وای دالله ﷻ فضل په تاسی باندی

وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ

اورحمت دهغه نو نه وای پاك سوی په تاسی کی يو تن هم کله ، او ليکن الله پاکوی هغه څوك چی

يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ

وغواړی ، او الله هرڅه اوری پيژنی ، او قسم دی نه اخلی لوی درجی والا په تاسی کی

وَالسَّعَةِ اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِى الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ

اوفراخی والا ددی خبره چی ورکی خپلوانو ته اومحتاجانو ته اووطن پرېښوونکو ته

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۪ۖ وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ؕ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ؕ

دالله ﷻ په لاره کی ، او په کار دی چی معافی کوی او درگزر کوی ، ايا تاسی نه غواړی چی الله تاسی معاف

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

کړی ، اوالله ﷻ بخښنی والادی مهربان ، کوم خلق چی عيب لگوی په نکاح سوو پاکدامنو ناخبرو ايماندارو ښځو

لُعِنُوْا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾ ۙ يَّوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ

په دوی لعنت دی په دنيا او په آخرت کی ، او د دوی دپاره لوی عذاب دی ، په کومه ورځ چی شاهدی وکی په دوی

اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ يَوْمَئِذٍ يُّوَفِّيْهِمُ

ژبی د دوی اولاسونه د دوی اوپښی د دوی په هغه چی دوی کول ، په دغه ورځ به پوره ورکړی

اللّٰهُ دِيْنَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ ﴿۲۵﴾

دوی ته الله د دوی هغه سزا چی په کار وی اوپوره به سی چی الله هغه دی رښتونی ښکاره کوونکی ،

اَلْخَبِيْثٰتُ لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ

گنده ښځی دی دگنده سړو دپاره اوگنده سړی دگنده ښځو دپاره دی اوپاکی دی دپاکو دپاره

وَالطَّيِّبُوْنَ لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا يَقُوْلُوْنَ ؕ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

اوپاکان دی دپاکوښځو دپاره ،دغه خلق بی تعلقه دی دهغوخبروڅخه کومی چی دوی وایی ، دوی دپاره بخښنه

وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾

ده اورزق دعزت دی .

دایتونو ترون: لیکن چی اول بیان سوي دی چی دسورة نور اکثره حصه دهغو احکامو سره متعلق ده کوم چی دپاکی اوپاکدامنی دحفاظت دپاره جاری سوی دی ، د دوی په مقابله کی دپاکئ او پاکدامنئ دحدونو دماتولو او دست اندازی او خلاف ورزی یی کولو دنیوی سزاګانی او په دی داخرت دعظیم وبال ذکر وسو، په دی سلسله کی اول حد دزنا بیا حد دقذف بیا دلعان بیان راغلی دی ، دحد قذف په ضمن کی په یو پاکه ښځه ترڅو چی دڅلورو شاهدانو شهادت نه وی دزنا اِلزام لګول عظیمه ګناه ګرځول سوي ده ، او ذداسی کوونکی دپاره یی شرعی حد اتیا (۸۰) دُرّی جاری کول فرمایلی دی ، دا مسئله دعامو مسلمانانو پاکو ښځو سره متعلق وه اوچونکه په سنه (۲) هجری کی ځینو منافقانو دمومنانو په مور حضرت عائشه صدیقه ﷺ باندی داسی یو تهمت پوری کړی وو او د دوی په تقلید کی ځینو مسلمانانو بیا هم دغه خبری شروع کړی وی ، دا معامله دعامو مسلمانانو پاکو ښځو دمعاملی څخه څه زیاته سخته وه ، په دی وجه قرآن کریم دلته دحضرت عائشه صدیقه ﷺ دپاکی په باره کی دغه ذکر سوی لس ایتونه نازل وفرمایل په دی کی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ ددی معاملی څخه دبی تعلقی اوپاکی اعلان او په دی معامله کی چی کومو خلګو په بهتان اوتهمت لګولو کی څومره حصه اخستی وه ، هغوی ته خبرداری اوپه دنیا اواخرت کی د دوی دعذاب بیان دی ، دا دبهتانِ جوړولو واقعه په قرآن او احادیثو کی په واقعه دافِك په نوم سره مشهوره ده ، اِفك وایی بد ترین قسم دروغو اوبهتان ته ، ددی ایتونو په تفسیر دپوهیدو دپاره اول دافِك په قصه پوهیدل په کار دی ، په دی وجه مناسب ده چی اول دافِك قصه په لنډه بیان سی .

(قصه دإفک او بهتان)

په صحیحینو اونورو کتابونو دحدیثونو کی داواقعه غیر معمولی اوږده اوپه تفصیل سره ذکر سوې ده ددی لنډ بیان دا دی چی کله نبی کریم ﷺ دبنی المصطلق غزوه ته کومی ته چی دمریسیع غزوه هم ویل کیږی ، په سنه ۶ هجری کی تشریف یو وړی نو دمومنانو په میندو کی حضرت عائشه صدیقه ﷺ ورسره وه ، دحضرت عائشه ﷺ اوښ په کوم چی ددی دپاره دپردی کجاوه وه اوچونکه دغه وخت دپردی احکام نازل سوی وه ، نو عادت دا وو ، چی حضرت عآئشه ﷺ به په خپله کجاوه کی کښینسته بیابه خلکو دغه کجاوه پورته کړه اوپر اوښ به یی کښیښوولهـ.

دغزا څخه په فارغ کیدو اومدینی منوری ته په واپسی کی یوه ورځ داسی قصه پیښه سوه چی په یو منزل باندی قافله کښینسته دشپی په اخرکی دکوچ څخه مخکی اعلان وسوچی قافله روانیدونکی ده ، ددی دپاره چی خلک دخپلو خپلو ضرورتونو څخه فارغه سی ، ځانو نه تیارکی ، حضرت عائشه صدیقه ﷺ ته دقضاء حاجت ضرورت وو دځنګل طرف ته ولاړه هلته اتفاقًا ددی هار وشکیدی ارتاؤ وسو ددی په تلاش کولو کی ددی وخت تیرسو ، چی بیرته خپل ځای ته راغله ، نو ګوری چی قافله تللی ده او ددی داوښ خو داسی قصه وسوه چی کله کوچ روانیدی نو دعادت مطابق خلګو دا وګڼله چی حضرت عائشه ﷺ په خپله کجاوه کی ده نوکجاوه یی پراوښ کښیښووله او دکجاوی پورته کولو په وخت کی دپورته کوونکو شک ځکه ونه سو چی دغه وخت دحضرت عائشه صدیقه ﷺ عمرکم وو اوبدن یی کمزوری وو ، نو چاته څه اندازه ونه لګیده چی کجاوه خالی ده اواوښ یی روان کی ، حضرت عائشه ﷺ چی خپل ځای ته بیرته راغله ، نو قافله نه وه نو په لویه هوښیارتیا وقار اواستقلال یی داسی کار وکی چی په قافله پسی دمنډی وهلو یا اخوا دیخوا دتلاش کولو په ځای یی په خپل ځان څادر په ځان راواچوی اوکښینسته، اوکله چی نبی کریم ﷺ اوملګرو ته دا معلومه سوه چی زه په کجاوه کی نه یم ، نو زمادتلاش کولو دپاره به دلته راځی که زه اخوا دیخوا یوځای ولاړه سم نودوی ته به بیا زماپه لټون کی مشکلات پیښ سی، په دی وجه پرخپل ځای په څادرکی ځان نغښتی کښینسته ، دشپی اخری وخت وو دخوب غلبه وه اوهم هلته یی سترګی سره ورغلی.

بل طرف ته قدرت دا انتظام وکی چی حضرت صفوان بن معطل صحابی کوم چی نبی کریم ﷺ ددی خدمت دپاره مقرر کړی وو ، چی په قافله پسی دی وروسته راځی او دقافلی دروانیدو څخه وروسته که یوشی پاته سوی وی ، نو هغه دی را اخلی اومحفوظ کوی دي ، دی دسهار په وخت کی دغه ځای ته راورسیدی ، لاپوره رڼا سوی نه وه دومره یی ولیدل چی یوسړی پروت دی بیده دی چی نژدی راغی نوحضرت عائشه ﷺ یی وپیژنده ځکه چی دپردی نازلیدو څخه مخکی ده لیدلی وه ، دپیژندو څخه

وروسته په ډیر افسوس سره دده دخولی څخه ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ : ووتل دا کلمه چی دحضرت عائشه ﷺ په غوږونو ولګیده نو سترګی یی وغړولی اومخ یی پټ کی ، حضرت صفوان خپل اوښ نږدی راوستی اووی څملوی اوحضرت صدیقه ﷺ په سپره سوه او ده په خپله د اوښ مهارونیوی اوپیاده روان سو تر دی چی قافلی ته ورسیدل .

عبدالله ابن أبیّ لوی خبیث منافق دنبی کریم ﷺ دښمن وو ، ده ته یوه خبره په لاس ورغله اوکم بخت ډیر راهی تباهی چتیاتی خبری شروع کړی اوځینو ساده اوناپوه مسلمانانو هم دده څخه داوریدلو خبرو تذکره او تکرار شروع کی ، لکه حضرت حسّان اوحضرت مِسطح په سرو کی اوحضرت حَمنَه په ښځو کی ، په تفسیر درمنثورکی په حواله دابن مردویه دحضرت ابن عباس ﷺ دا قول نقل دی چی اَعَانَهُ ای عبد الله ابن أبیّ ومسطح وحمنه .

هرکله چی ددی منافق ددی بهتان اوازه خپره سوه نوپه خپله نبی کریم ﷺ ته ددی څخه سخته صدمه ورسیده اوحضرت عائشه ﷺ ته خوانتهایی صدمه رسیدل ظاهره خبره ده ، عام مسلمانان هم په دی ډیر غمجن سول تر یوی میاشت دا قصه چلیده اخر الله ﷻ دحضرت عائشه ﷺ دبرائت پاکدامنئ اوپه دی دبهتان ترونکو یا په دی کی دشریك کیدونکو په بدو ویلو کی ذکر سوی آیتونه نازل کړل چی تفسیر یی مخ ته راځی ، دقرآن دقاعدی مطابق چی ذکر یی اوس په حد دقذف کی راغلی دی ، دتهمت لګوونکو څخه دشهادت مطالبه وسوه ، دا خو بالکل یوه بی بنیاده خبره وه شاهدان به دکوم ځای څخه راتلل ، نتیجه دا سوه چی نبی کریم ﷺ په تهمت لګوونکو دشرعی قاعدی مطابق حدقذف جاری کی او په هریوه یی اتیا اتیا دُرّی ولګولی ، بزار او ابن مردویه دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت کړی دی چی دغه وخت نبی کریم ﷺ په درو مسلمانانو حد دقذف جاری کی ، مسطح حمنه حسّان اوطبرانی دحضرت عمر ﷺ څخه روایت کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ په دغه موقع په عبدالله ابن اُبیّ منافق کوم چی په اصل کی تهمت جوړکړی وو ، په ده یی دوچنده حدجاری کی ، بیا مومنانو توبه ویستل او منافقان په خپل حال پاته سول (بیان القرآن)

لنډتفسیر: (ای مسلمانانو! تاسی چی کوم دحضرت عائشه صدیقه ﷺ متعلق د درواغو په تهمت سره غمجن سوی یاست ، په دی غمجن کیدوکی په خپله حضرت عائشه صدیقه ﷺ هم دا خله ده ، نوتاسی زیات غم مه کوی ، ځکه چی) کوموخلګو دا طوفان (دحضرت عائشه ﷺ په نسبت) پورته کړي دی هغه ستاسی څخه یوه (کوچنی) ډله ده (ځکه چی تهمت لګوونکی ټول څلور وه ، په خپله د درواغو تهمت جوړونکی یعنی عبدالله بن ابی منافق او دری په واسطه سره کوم چی دده دخبری څخه متاثره سوی وه ، یعنی حسان مسطح او حمنه کوم چی مخلص مومنان وه ، دا ټول قرآن کریم په مِنکم کی داخل کړل ،

يعنى (دمسلمانانو ښځه) حال دا دى چى عبدالله بن ابى منافق وو ، دهغه وجه دده ظاهرى دعوى دإسلام وه ، مطلب دايت تسلى وركول دى ، چى زيات غم مه کوه ، اول خو خبر دروغجن دى ، بيا نقل کوونکى هم څلورتنه دى اوزيات خلګ خو ددى مخالف دى ، نو عرفًا هم په دى دومره زيات غم کول نه دى په کار ، مخته په يوه بله طريقه تسلى ده چى) تاسى دا (درواغ جوړول) په خپل حق کى بدمه ګڼى (که څه هم په ظاهرکى دغم خبره ده مګر په واقع کى په دى کى ستاسى هيڅ ضرر نسته) بلکه دا (په اعتبار دانجام) ستاسى په حق کى ښه ده (ځکه چى په دى غم سره تاسى ته دصبر ثواب درکول سو ، او درجى مولوړى سوى اوبيا خاص په چاچه تهمت لګيدلى وو دهغو حضراتو پاکى په نص قطعى سره راغله اوانند هم دمسلمانانو په حق کى خير دى ، چى داسى مصيبت په چا راسى ، نو په دى واقعى سره به تسلى حاصلوى ، نو ستاسى هيڅ ضررونه سوالبته کوموخلګو چى ددى اوازه کوله دهغوى ضرر وسوچى) په دوى کى کوم سړى څومره څه کړى وه ، هغومره ګناه يى وسوه (مثلاً په ژبه سره دبيان کوونکو زياته ګناه وسوه اوچاچى واوريده خاموش پاته سول ياکوم چى په زړه بدګمانى وکړه نو ددى موافق ګناه يى وسوه) او په دوى کى چه چاپه دى (بهتان) کى لويه حصه اخستى ده (چى دا دروغ يى جوړکړى دى مراد ددى څخه عبدالله بن أبىّ منافق دى) ده ته به (دټولو څخه) سخته سزاوى (مراد ددى څخه جهنم دى چى ددى څخه مخکى يى هم دى په وجه دکفر اونفاق او دښمنى درسول ﷺ مستحق وو اوس دنورى زياتى سزا مستحق سو ، دا خو دغم څپلوتسلى وه ، چى ستاسى هيڅ نقصان ونه سو او دبهتان جوړونکو ضرر ثابتول وو ، مخ ته چى په دوى کى کوم مومنان وه هغوى ته په طور دنصيحت ملامتيا ده چى) کله تاسى دا خبره اوريدلى وه نومسلمانانو سړو (چى حسان اومسطح هم په کى را غلل) اومسلمانانو ښځو (چى حَمنَه هم په کښى راغله) په خپل مينځ کى په خپلو خلګو (يعنى حضرت عائشه صديقه ﷺ او دغه صحابى ﷺ بانذى په زړه سره) نيك ګمان ولى نه کوى او (په ژبه سره) داسى موولى نه ويل چى دا صريح درواغ دى (لکه چى په درمنثورکى دابو ايوب او دده دبى بى دا قول ذکر دى ، په دى کى دبهتان جوړوونکو سره هغه هم شامل دى کوموچى واوريدل اوخاموش پاته سول ياپه شك کى پريوتل په دى ټولو ملامتيا ده چى عام مومنان سړى اوښځى هم په کښى دا خل سول ، مخته ددى تهمت دردولو او دنيك ګمان کولو دوجوب وجه ارشاد ده چى) دا (بهتان لګوونکى) خلګ په دى (خپله وينا) څلور شاهدان ولى نه پيش کوى (کوم چى شرط دى دزنا ثابتولو دپاره) نوپه کوم حالت کى چى دا خلګ شاهدان (دقاعدى موافق) رانه ولى ، نو بس دالله ﷻ په نزد (چى کوم قانون) دى په دى اعتبار سره دوى درواغجن دى (مخ ته به بهتان لګوونکو کى چى کوم مومنان وه په هغوى هم درحمت ذکر دى) اوکه چيرى اى حسان مسطح اوحمني) په تاسى دالله ﷻ فضل اوکرم نه واى په دنياکى (هم چى دتوبى مهلت يى درکى) او په اخرت کى (هم چى دتوبى توفيق يى درکى او دغه توبه يى قبوله هم کړه که دا نه واى) نو په کوم شغل کى چى تاسى

پریوتلی واست په دی کی به په تاسی سخت عذاب واقع سوی وای (لکه چی عبدالله بن أبیّ چی به دنه توبی په وجه وی که څه هم دا وخت مهلت په دنیاکی هغه ته هم ورکول سو ، مګر په مجموعه دارینوکی رحمت نه دی او ددی څخه معلومه سوه چی صحابه مقبول التوبه اوپاك سول په اخرت کی مرحوم دی اوپه عَلَيْكُم کی خطاب مومنانو ته دکیدو قرینه لوړه په آیت کی دا ذکرده ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ اوثانیه فی الاخرة فرمایل چی منافقان خو په اخرت کی دجهنم دلاندی طبقی مستحق دی هغوی یقینًا مَرْحُوْمْ فِي الاخرة نه سی کیدی ، دریم مخ ته په ، يَعِظُكم لَوْلَا فَضْلُ اللهِ : کی طبرانی دابن عباس ﷺ قول نقل کړی دی چی يُرِيْدُ مسطحًا وَحَمْنَةَ وَحسَّانًا لکه په دُرِّ منثور کی دی ، یعنی د، لَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْكم : مخاطب صرف دری مومنان دی ، یعنی مسطح حمنه حسان مخ ته ددی بیان دی چی په مومنانوکه دالله ﷻ خاص فضل نه وای چی دوی ته یی دتوبی توفیق ورکی اوتوبه یی وکړه ، نو کوم کار چی دوی کړی وو هغه په خپل ذات کی دعظیم عذاب موجب وفرمایی) کله چی تاسی دا (دروغ خبره) په خپلو ژبوسره یوبل ته نقل کوله او په خپلو خلو مو داسی خبره کوله دکوم چی تاسی ته (په څه دلیل سره) مطلق خبرنه وو (اوداسی خبره چی دنقل کوونکی دروغجن والی په ، فَأُولٰئِكَ عِنْدَ اللهِ هُمُ الْكَاذِبُوْنَ : کی بیان سوی دی) اوتاسی دا سپکه خبره ګڼله حال دا دی چی دغه دالله ﷻ په نزد ډیره درنه خبره (یعنی دلوی عذاب موجبه) وه (اول خو په پاکی ښځی دزنا تهمت لګول په خپله یوه عظیمه ګناه ده اوبیا هغه څوك هم دپاکو بیبیانو څخه چی په هغه تهمت لګول جناب رسول مقبول ﷺ ته دازار رسولو سبب جوړسو ، پس په دی کی ډیراسباب دګناه اومعصیت جمع وه) اوتاسی کله چی دا (خبره اوّل) واوریده نو داسی موولی ونه ویل چی مونږ ته نه دی لائق چی داسی خبره دخلی څخه وباسو پناه غواړوپه خدای سره دالوی بهتان دی (لکه ځینی اصحابو ﷺ داسی ویلی وه لکه چی دسعدبن معاذ ﷺ زیدبن حارث ﷺ اوابی ایوب ﷺ څخه داسی خبره نقل ده او دزیاتونفی هم نسته ممکنه ده ، چی نورودیرو ویلی وی مطلب دا چی قاذفینو اوچپ پاته کیدونکو ټولولره داسی ویل په کار وه ، تردی ځایه خو پر تیره باندی ملامتیاوه اوس دائنده دپاره نصیحت دی کوم چی اصل مقصود دی دملامیتا څخه وروسته ارشاد دی چی) الله ﷻ تاسی ته نصیحت کوی چی بیاداسی حرکت مه کوی که تاسی ایماندار یاست اوالله ﷻ تاته صفا صفا احکام بیانوی (چی په دی کی حدقذف اوقبول دتوبی کوم چی لوړ ذکر سوی دی ټول دا خل دی) اوالله ﷻ لوی پوهیدونکی اوحکمت والادی (ستاسی دزړه دستومانه کیدوحال هم هغه ته معلوم دی په دی وجه یی توبه قبوله کړه او دسیاست احکام هم ښه پیژنی، په دی وجه یی سیاستًا تاسی ته په دنیاکی سزا درکړه داتفسیر یی ابن عباس ﷺ بیان کړي دی ، لکه چی په درکی دی تردی ځایه پوری دبرائت نازلیدو څخه مخکی دتهمت د ذکر کوونکو ذکر وو ، مخته ددی ذکردی چی څوك په قرآن کی دبراء ت نازلیدو څخه وروسته هم نه منع کیږی ، او ظاهره ده چی دا سړی بی ایمانه دی پس ارشاد دی) کوم خلق چی (وروسته دنازلیدو ددی

ایتونو څخه هم) غواړي (یعني عملي کوشش یې کوي) چې دبې حیایي دخبرې په مسلمانانو کې آوازه
خپره سي (یعني دا خبر خپور سي چې په دې مسلمانانو کې دبې حیایي خبره ده لنډ مطلب دا دی چې کوم
خلګ ددې پاکو حضراتو طرف ته دزنانسبت کوي) د دوی دپاره په دنیا او اخرت کې دردناکه سزا (مقرر)
ده او (په دې کار پرسزا تعجب مه کوي ځکه چې) الله ﷻ پوهیږي (چې کومه ګناه دکومې درجې ده)
اوتاسي (ددې په حقیقت پوره) نه پوهیږئ (دا روایت دابن عباس ﷺ څخه دی په دُر کې دی ، مخته هغو
خلګوته خطاب دی کوموچې توبه وکړه اوپه دې سره د اخرت دعظیم عذاب څخه محفوظ سوي) او (ای
توبه کوونکو) که دا خبره نه وای چې په تاسي دالله ﷻ فضل اوکرم دی (کوم چې تاسي ته یې توفیق
دتوبې درکی) او دا چې الله ﷻ لوی مشفق اولوی رحیم دی (کوم چې ستاسي توبه قبوله کړه) نو تاسي به
هم (ددې عذاب دوعدې څخه) نه وای محفوظ سوي (مخکې مسلمانانوته په خپل رحمت سره بې
دتخصیص ددې ذکر سوی ګناه څخه دټولو ګناهونو څخه دځان ساتلو اَمرْ او په توبې سره دپاکیدو
توضیح دې کوم چې داهتمام دپاره په مختلفو عنواناتو سره مکرر سوی دی ، ارشاد فرمایي چې) ای
ایماندارو! تاسي دشیطان په قدمونو پسې په قدمونو ایښوولو مه ځئ (یعني دده په لمس اوګمراه کولو
عمل مه کوئ) اوکوم سړی چې دشیطان په قدمونو قدم ږدي اوځي نودغه (شیطان همیشه هرسړي ته)
دبې حیایي اوبې عقلي دکار کولو وایي (لکه چې په دې واقعه دافك کې تاسي ولیدل) او (دشیطان په
قدمونو دتللو اوګناه کتلو څخه وروسته ددې دوبال اوضرر څخه کوم چې ثابت سوی وو نجات درکول دا
هم زمونږ فضل وو کنه نو) که په تاسي دالله ﷻ فضل اوکرم نه وای نو په تاسي کې به هیڅوك هیڅکله هم
(په توبه کولو) پاك سوی نه وای (یابه ورته دتوبې توفیق نه وای ورکول سوی ، لکه چې منافقانوته ونه
سو او یابه یې توبه نه وای قبوله سوې ځکه چې په مونږ یوشي واجب خونه دی) لیکن الله ﷻ چاته چې
وغواړي (دتوبې توفیق ورکې) پاك صاف کوي یې (او وروسته دتوبې څخه یې په خپل فضل سره وعده
دقبولیت هم فرمایلې ده) اوالله ﷻ هرڅه اورې په هرڅه پوهیږي (نو ستاسي توبه یې واوریده اوستاسي
په پښیماني باندې پوه سو په دې وجه یې فضل وفرمایي مخ ته ددې بیان دی چې وروسته دنزول
دایتونو دبرائت څخه ځینو اصحابو ﷺ (چې په دوی کې ابوبکر صدیق ﷺ هم دی رواه البخاري اونور
اصحاب هم دي ، کذا فی الدر المنثور عن ابن عباس ﷺ دَډیرې غصې څخه قسم واخستی چې کوم
کومو ددې خبرې چرچه کړې ده چې په دوی کې حاجتمند هم وه دوی ته به اوس هیڅ قسم مالي امداد
ورنه کړو، الله ﷻ د دوی دعفو تقصیر او امداد جاري کولو دپاره ارشاد وفرمایي) اوکوم چې په تاسي
کې (دیني) بزرګي او (دنیوي) فراخي والا دي دوی دې خپلوانو ته اومسکینانو ته اودالله ﷻ په لاره کې
هجرت کوونکو ته دورکولو څخه قسم نه کوي (یعني په داسې قسم دې قائم نه پاته کیږي ، بلکه مات دې
کړي دامطلب دی کنه نوقسم خو سوی وو ، یعني ددې صفتونو مقتضٰی ده امداد کول خاصکر چې په دې

کی څه سبب دا مداد کولو وی لکه حضرت مسطح ﷺ چی دی د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ نژدی قریب هم دی او مسکین او مهاجر هم دی مخ ته د ترغیب د پاره فرمایی چی) او په کار دی چی دوی معافی وکی او درگزر وکی ایا تاسی دا خبره نه غواړی چی الله ﷻ ستاسی قصور معاف کی (نو تاسی هم خپل قصور داره معاف کی) بیشکه الله ﷻ غفور او رحیم دی (پس تاسی ته هم په کاردی چی د الله ﷻ خو یو نه په ځان کی پیدا کی ، مخ ته د منافقانو دعذاب دوعدی تفصیل دی دکوم چی پورته په ، اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ الخ کی اجمالاً ذکرورو یعنی) کوم خلگ چی (پس د نزول دا یتونو ښځه دبدکاری) تهمت لگوی په هغو ښځو کومی چی پاکی دی (او) ددا سی خبرو (دکولو او ارادو) ښځه (هم محض) بی خبره دی (او) ایمانداری دی (او دکومو پاکوالی چی د قرآن په نص سره ثابت سوی دی او جمع یی ځکه راوړه چی تولو پاکو بیبیانو ته شامل سی چی په الطیبات سره د تولو پاکی ثابته ده او ظاهره ده چی کوم خلگ په داسی پاکو بیبیانو تهمت لگوی کافران او منافقان کیدی سی) په دوی په دنیا او په اخرت کی لعنت کول کیږی (یعنی د الله ﷻ د خاص رحمت ښځه په دواړه جهانه کی به لیری وی) او دوی ته به (په اخرت کی) لوی عذاب وی په کومه ورځ چی د دوی خلاف د دوی ژبی شاهدی ورکوی او د دوی لاسونه او د دوی پښی هم (شاهدی ورکوی) د هغو کارونو کوم چی دغو خلگو کول (مثلاً ژبه به یی ووایی چی ده زما په ذریعه فلانی فلانی دکفر خبره کړي ده او لاس او پښی به یی ووایی چی ده دکفریاتو درواج کولو د پاره داسی منډی تړی وهلی دی) په دغه ورځ به الله ﷻ دوی ته د دوی واجبی بدله پوره پوره ورکی او (په دغه ورځ به صحیح صحیح) دوی ته معلومه سی چی الله ﷻ سمه فیصله کوونکی (اود) خبری (دحقیقت) ښکاره کوونکی دی (یعنی او س خو دکفر په وجه ددی خبری اعتقاد دوی ته کم احقه نسته مگر دقیامت په ورځ به معلوم سی او چی دا ورته معلومه سی نو د نجات ښځه به بالکل مایوسه سی ځکه چی د دغه مناسبه فیصله ابدی عذاب دی دا ایتونه دهغو په باره کی دی چی توبه یی نه ده کړی او دبراء ت دایتونو دنازلیدو ښځه وروسته هم دعقیدی دتهمت ښځه منع نه سوه او توبه کوونکی یی په فَضْلُ اللّٰهِ وَرَحْمَتُهٗ کی مرحوم د دواړو جهانو وفرمایل او غیر توبه کوونکی یی په ، لُعِنُوْا د دواړو جهانو لعنتیان وفرمایل او توبه کوونکی یی په ، لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ : کی دعذاب ښځه محفوظ وښوول او غیر توبه کوونکی یی په ، لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ کی او دارنگه ددی ښځه مخکی په ، وَالَّذِيْ تَوَلّٰى كِبْرَهٗ ، کی مبتلا دعذاب وښوول توبه کوونکو ته یی په ، اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : کی خوشخبری دعفو او بخښنی او دگناه پټولو وفرمایله ، او غیر توبه کوونکو ته یی په ، لَتَشْهَدُ او يُوَفِّيْهِمْ کی وعده دعدم عفو او رسوا کولو وفرمایله توبه کوونکو یی په مَازَكٰى مِنْكُمْ الخ کی پاک ښوولی وه ، غیر توبه کوونکی یی په راتلونکی آیت کی خبیث وفرمایل چی په دی کی یی پر مضمون دبراء ت باندی استدلال وکی او قصه یی ختم وفرمایله یعنی

دا قاعده کلیه ده چی) گنده ښځی دگنده سړو لائقی وی او گنده سړی دگنده ښځو لایق وی او پاکی ښځی

دپاکو سرو لایقی وی اوپاك سری دپاکو ښځو لایق وی (یوه مقدمه خوداسوه او دوهمه مقدمه ضروریاتو څخه ده چې جناب رسول کریم ﷺ ته هرشی د دوی لایق اومناسب ورکول سوی دی اودهغه سُتُره شیان دی نو خامخا ددی مقدمی ضروریه په اعتبار سره د دوی ﷺ بی بی ﷺ هم سُتُره ده او ددی په سُتُره کیدو سره ددی خالص تهمت څخه دحضرت صفوان ﷺ پاکوالی هم لازم سو په دی وجه مخ ته فرمایی چې) دوی ددی خبری څخه پاك دی کوم چې دغه (منافقان) چتیات کوی د دوی (حضراتو) دپاره (په اخرت کی) مغفرت او دعزت رزق (یعنی جنت) دی.

معلومات اومسئلي

(دحضرت عائشه صديقه ﷺ خاص فضيلتونه كمالات او دافك دقصي څخه باقي پاته حصه)

دنبی کریم ﷺ دښمنانو د دوی خلاف خپل ټول تدبیرونه وکړل او دوی ته دازار رسولوکوم کوم صورتونه چې دچاپه ذهن کی راتلی سول ټول جمع سول دکفارو دطرف څخه چې تکلیفونه دوی ته رسیدلی دی په هغوکی شاید دا اخری سخت اوروحانی تکلیف وو چې پرپاکو بیبیانو باندی او ددی سره دحضرت صفوان بن معطل ﷺ په شان پاك صحابی باندی عبدالله بن أبیّ منافق تهمت پوری کی اومنافقانو ورته رنګ ورکی او خپور یی کی ، په دی کی دټولوڅخه زیاته غمجنه داخبره وسوه چې یوڅو ساده مسلمانان هم ددی جوړښت څخه متاثره سول اودتهمت خبری یی شروع کړی ، ددی بی اصله اوبی دلیله هوایی تهمت خوپه خپله په څو ورځوکی حقیقت ښکاره کیدی سو ، مګر دمومنانو مورته اوپه خپله نبی کریم ﷺ ته چې په دی تهمت سره کوم روحانی تکلیف رسیدلی وو ، الله ﷻ دهغه دلیری کولو اودحضرت عائشه صدیقه ﷺ دپاکی دپاره دوحی الهی په یواشاره کولو باندی بسوالی ونه فرمایی بلکه دقرآن کریم تقریبًا دوی رکوع ګانی یی ددی په پاکی کی نازلی کړی اوکوموخلګوچې دا تهمت جوړکړی وو یاکوم چې ددی په ذکر کولو کی حصه اخستی وه په دغو ټولو یی ددنیا اواخرت دعذاب داسی وعدی بیان کړی چې شاید په بله یوه موقع داسی وعدی دعذاب نه دی راغلی.

په حقیقت کی دافك دی واقعی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ دپاکی اودپاکی سره ددی داعلی عقل اوپوهی کمالونه هم په ډاګه کړل په دی وجه په دی واقعه کی چې کوم آیتونه لوړذکرسول ددی په اولنی آیت کی حق تعالی فرمایی چې داواقعه دځان دپاره شرمه ګنی بلکه داستاسی دپاره خیر دی ددی څخه لوی خبر به څه وی چې الله ﷻ په لسو ایتونو کی ددی دپاکی اوپاکدامنی شهادت ورکی کوم چې ترقیامته پوری تلاوت کیږي په خپله حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمایی چې زماخوپه خپل ځای دا یقین وو چې الله ﷻ به په ذریعه دوحی په نبی کریم ﷺ زماصفایی اوپاکی ظاهره کړی مګرماخپل ځان ددی قابل نه ګنی چې زما په معامله کی به دقرآن ایتونه نازل سی کوم چې به همیشه ویل کیږي ، دلته دواقعی په زیات تفصیل باندی ځان پوهول په ایتونو دپوهیدو دپاره مددګار کیدی سی ، په دی وجه په لنډه طریقه لیکل کیږي

ددی سفر دواپسی څخه وروسته حضرت عائشه صدیقه ﷺ دخپل کور په کارونو کی مشغوله سوه دا هیڅ خبره نه وه چی منافقانو ددی په باره کی څه خبرونه خپاره کړی دی ، دصحیح بخاری په روایت کی په خپله دحضرت عائشه صدیقه ﷺ بیان دی چی دسفر دواپسی څخه وروسته زما طبعیت څه خراب غوندی سو اولویه وجه زما دطبیعت خرابیدو دا وسوه چی ما دنبی کریم ﷺ هغه لطف وکرم په خپل ځان نه لیدی کوم یی چی دهمیشه څخه عادت وو بلکه په دی زمانه کی دحضور ﷺ معمول داسی جوړ سو ، چی کورته به یی تشریف راوړی اوسلام به یی وکی ، بیابه یی پوښتنه وکړه چی څه حال دی او بیرته به بی تشریف یو وړی ، زه چونکی ددی څخه هیڅ خبره نه وم چی زماپه باره کی څه خبر مشهوریږي ، په دی وجه دنبی کریم ﷺ ددی کار راز ماته نه ښکاره کیدی ، زه په دی غم کی ویلی کیدم ، یوه ورځ دخپلی کمزوری په وجه ما دمسطح صحابی مور اُمّ مسطح دځان سره کړه دقضاء حاجت دپاره دباندی دوتلو اراده می وکړه ځکه چی هغه وخت په کورونوکی دپاخانو جوړولو رواج نه وو ، کله چی زه دقضاء حاجت څخه فارغه سوم اودکور طرف ته راتلم نو داُمّ مسطح پښه ددی په غټ ځادرکی ومښتله اورا غوځاره سوله ، دغه وخت ددی په ژبه دا کلمه راغله ، تَعِسَ مِسطَح دا یوه داسی کلمه ده چی عرب یی دښراؤ دپاره استعمالوی ، نو دمور دخلی څخه دزوی دپاره دښراؤ په کلمه وتلو سره حضرت عائشه صدیقه ﷺ په تعجب کی سوه ، دی ته یی وفرمایل چی دا خو ډیره بده خبره ده چی ته یو نیك سړی ته ښراوی کوی ، کوم چی دبدر په غزاکی شریك سوی وو یعنی ددی زوی مِسطَح ، په دی باندی اُمّ مِسطَح په تعجب سره وویل چی ای لوری! ایاته خبره نه یی؟ چی زما زوی مِسطَح څه وایی؟ ماپوښتنه وکړه چی هغه څه وایی؟ نواُمّ مِسطَح ماته دافِك ټوله واقعه او دخپور سوی تهمت اودمِسطَح په دی کی شریکیدل بیان کړل ، صدیقه ﷺ فرمایی چی دامی واوریدل نو زما مرض دوچنده سو ، کله چی زه کورته بیرته راغلم او دمعمول مطابق نبی کریم ﷺ تشریف راوړی سلام یی وکی او مزاج پرسی یی وفرمایله نوصدیقه ﷺ اجازت وغوښتی چی زه دخپل مور اوپلار کورته ځم ، حضور ﷺ ورته اجازت ورکی ، منشاء دا وه چی دخپل مور اوپلار څخه به ددی معاملی تحقیق وکړم ، زه چی ولاړم نو دمور څخه می پوښتنه وکړه ، هغی را ته تسلی راکړه چی ستا په شان دښځو دښمنان ډیروی او داسی خبری مشهور وی ته ددی غم مه کوه په خپله به معامله صفاسی ، ما وویل سُبْحَانَ اللهُ په خلگوکی ددی آوازه سوي ده ، نو زه څنګه په صبر سم ، ټوله شپه ما وژړل نه زما اوښکی ودریدی او نه می سترگی سره ورغلی ، بلی خواته نبی کریم ﷺ کوم چی ددی خبر په خپریدو سره سخت غمجن وو او په دی موده کی ددی معاملی متعلق هیڅ وحی هم په دوی ﷺ رانه غله ، په دی وجه حضرت علی کرم الله وجهه اواسامه بن زید ﷺ کوم چی دواړه دکور سړی وه د دوی سره مشوره وکړه چی په داسی حالت کی مونږ ته څه کول په کاردی ؟ اسامه بن زید

ﷺ خو په ډاګه عرض وکی چی تر څو پوری زما علم دی زمونږ خود عائشی ﷺ په باره کی څه بدګمانۍ نسته ، په دی کی خو هیڅ داسی څه خبره نسته چی دهغه څخه بدګمانی پیدا سی ، ته ددی افواه ګانو هیڅ پرواه مه کوه ، حضرت علی کرم الله وجهه (د دوی دغم اوپریشانی دلیری کولو دپاره) دا مشوره ورکړه چی الله ﷻ پرتاسی هیڅ تنګی نه ده فرمایلی که دافواه ګانو په بناء دی دعائشی ﷺ دطرف څخه ستا طبیعت دروند سوی وی نوښځی نوری ډیری دی اوستاسی دطبیعت خروالی خوپه دی ډول سره هم زیات کیدی سی چی بریره ﷺ کومه چی دعائشی صدیقی ﷺ مینځه ده دهغه څخه ددی دحالاتو تحقیق وکی. نبی کریم ﷺ دحضرت بریره ﷺ څخه پوښتنه وفرمایله هغی عرض وکی چی بله څه خبره دعیب خو په دی کی ماته په نظر نه راځی بغیر ددی څخه چی کوچنۍ انجلۍ ده څینی وخت وړه اغږی اوکښیږدی په خپله بیده سی بزه راسی او وړه وخوری (ددی څخه وروسته په حدیث کی دنبی کریم ﷺ خطبه ورکول او په منبر سربیره دتهمت لګوونکو اوافواه خپرونکو څخه شکایت کول او اوږده قصه ذکر ده مخ ته بیا په لنډو ټکو باندی قصه داسی ده چی) حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمایی چی ما دا توله ورځ او بیا بله شپه هم په ژړا تیره کړه ، زما مور او پلار هم ماته ناست وه چی په ژړا یی زړه ونه چوی ، زما مور او پلار زما سره ناست وه چی نبی کریم ﷺ تشریف راوړی او زما سره کښینستی او دکله څخه چی دا قصه شروع سوی وه نبی کریم ﷺ زماسره نه وو کښینستلی بیا ده ﷺ یوه لنډه خطبه دشهادت وویله او وي فرمایل چی ای عائشی! ماته ستا په باره کی دا خبری راسیدلی دی ، که ته بری یی نو خامخا به الله ﷻ تا بری کړی (یعنی ستا بری کیدل به په ذریعه دوحی وفرمایی او که ستا څخه څه خطا سوی وی ، نو الله ﷻ ته توبه او استغفار کوه ، ځکه چی بنده کله دخپلی ګناه اعتراف وکی او توبه وباسی نو الله ﷻ یی توبه قبلوی، کله چی نبی کریم ﷺ خپله خبره پوره کړه نو زما اوښکی بالکل وچی سوی او زما په سترګو کی د اوښکو یوه قطره هم پاته نه سوه، ما خپل پلار ابوبکر صدیق ﷺ ته وویل چی ته دنبی کریم ﷺ دخبری جواب ورکړه ابوبکر ﷺ عذر وکی چی زه څه ویلی سم بیا ما خپلی مور ته وویل چی ته جواب ورکړه هغې هم عذر وکی چی زه څه ویلی سم؟ اوس دمجبوری څخه ماته دخبرو کولو ضرورت سو، زه یوه کم عمره انجلۍ وم قرآن می هم زیات نه وو ویلی، دغه وخت ددی درمره غم او صدمی په حالت کی کله چی په داسی وخت کی لوی لوی عاقلان هم خبره نه سی کولی حضرت عائشه صدیقه ﷺ چی څه وفرمایل دغه یو عجیبه او نا اشنا عاقلانه او فاضلانه کلام دی ، بعینه دهغی محترمی ﷺ په الفاظو کی لیکل کیږی

وَاللّٰهِ لَقَدْ عَرَفْتُ لَقَدْ سَمِعْتُمْ هٰذَا الْحَدِيثَ حَتّٰى اسْتَقَرَّ فِي أَنْفُسِكُمْ وَصَدَّقْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ قُلْتُ لَكُمْ إِنِّي بَرِيئَةٌ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَنِّي بَرِيئَةٌ لَا تُصَدِّقُونِي بِذٰلِكَ وَلَئِنْ اعْتَرَفْتُ لَكُمْ بِأَمْرٍ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ أَنِّي مِنْهُ بَرِيئَةٌ لَتُصَدِّقُنِّي وَاللّٰهِ مَا أَجِدُ لِي وَلَكُمْ مَثَلًا إِلَّا قَوْلَ أَبِي يُوسُفَ: فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُونَ (صحیح البخاری حدیث الافک حدیث نمبر - ۲۸۲۲)

په خدای ﷻ قسم ماته معلومه سوي ده چې تاسې دا خبره اوریدلې ده او اوریئ تر دې چې ستاسې زړه ته پریوتله او تاسې ددې (عملاً) تصدیق وکی اوس که زه دا وایم چې زه ددې څخه بری یم لکه چې الله ﷻ ته معلومه ده چې په واقع کې زه بری یم نو تاسې زما تصدیق نه کوی او که زه دداسې کار اقرار وکړم دکوم څخه چې زما بری کیدل الله ﷻ ته معلوم دی نو تاسې به زما خبره ومنی په خدای ﷻ قسم دی اوس زه دخپلې او ستاسې دمعاملې هیڅ مثال بغیر ددې څخه بل نه وینم چې دیوسف ﷺ پلار یعقوب ﷺ دخپلو زامنو غلطه خبره واوریده اوفرمایلې یې وو چې زه صبر جمیل اختیاروم او دالله ﷻ څخه په دې معامله کې مدد غواړم کومه چې تاسې بیانوی.

حضرت عائشه صدیقه ؓ فرمایي چې دغومره خبره مې وکړه ولاړم او په خپله بستره پریوتم، اوفرمایي چې زما یقین وو چې لکه څنګه چې زه په واقع کې بری یم دغه ډول به الله ﷻ زما دبری کیدو اظهار په ذریعه دوحی وفرمایي لیکن دا وهم اوخیال مې هم نه وو چې زما په معامله کې به دقرآن ایتونه نازل سی چې همیشه به تلاوت کیدی سی، ځکه چې ماخپل مقام ددې څخه ډیرکم ګڼی البته دا خیال وو چې غالبًا په خوب کې به ده ﷺ ته زما برائت ظاهر سی حضرت عائشه صدیقه ؓ فرمایي چې نبی کریم ﷺ دخپل دی مجلس څخه لانه وو پورته سوی او په کوروالاؤ کې هم لاڅوك نه وو پورته سوی چې په ده ﷺ دوحی نازلیدو هغه کیفیت راغی کوم چې به دوحی نازلیدو په وخت کې کیدی چې په سخت یخ کې به هم ده ﷺ په تندی مبارك خوله راڅڅیده کله چې داکیفیت ختم سو نونبی کریم ﷺ په خندا راولاړسو او دټولو څخه اول چې یې کومه کلمه وفرمایله هغه دا وه، اَبْشِرِیْ یَا عَائِشَةُ اَمَّا اللهُ فَقَدْ اَبْرَكِ : یعنی ای عائشې ؓ! خوشخبری واوره الله ﷻ ته بری کړې، زما پلار وویل چې پاڅه او درسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره سه! ما وویل چې نه زه په دې باره کې دالله ﷻ څخه ماسوا دچا احسان منم او نه ولاړیږم زه دخپل رب شکر ګزاره یم چې زه یې بری کړم.

(دحضرت صدیقه ؓ یوخو ځانګړتیاوي)

امام بغوی رحمه الله ددې ایتونو په تفسیر کې فرمایي چې دحضرت صدیقه عائشه ؓ یوخو ځانګړتیاوی داسې دی کوم چې ددې څخه علاوه بلې ښځې ته نه دی نصیب سوی او حضرت صدیقه ؓ به هم (په طور دتحدیث بالنعمة) داشیان په فخر سره بیانول.

اول دا چې دنبی کریم ﷺ په نکاح کې دراتلو څخه مخکې جبرائیل امین په یوه ریشمی کپړه کې زما تصویر راوړی نبی کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وفرمایل چې دا ستا بی بی ده (ترمذی عن عائشة ؓ) او په ځینو روایتونو کې دی چې جبرائیل امین په خپل ورغوی کې دا تصویر راوړی وو.

دوهم دا چې نبی کریم ﷺ ددې څخه ماسوا دبلې پیغلې انجلۍ سره نکاح نه ده کړې.

دریم دا چې دنبي کریم ﷺ وفات ددې په غیږ کې وسو .

څلورم دا چې دحضرت عائشه ﷺ په کورکې دې ﷺ دفن سو ،

پنځم دا چې په ده ﷺ به هغه وخت هم وحي نازليده چې دحضرت عائشې ﷺ سره به په یوه بړستن کې ور

بلې یوې بي بي ته دا خصوصیت نه دی حاصل سوی .

شپږم دا چې دآسمان څخه ددې برائت نازل سو .

اووم دا چې دا دنبي کریم ﷺ دخلیفه ﷺ لور ده او صدیقه ده او دهغو څخه ده دکومو سره چې په دنیا کې

دمغفرت او رزق کریم الله ﷻ وعده فرمایلې ده (مظهری)

دحضرت صدیقه ﷺ دفقیهانه اوعالمانه تحقیقات اوفاضلانه تقریر په لیدو باندې حضرت موسیٰ بن

طلحه ﷺ فرمایي چې ما دحضرت عائشې ﷺ څخه زیاته فصیحه او بلیغه نه ده لیدلې (رواه الترمذي)

په تفسیر قرطبي کې نقل دي چې په حضرت یوسف ﷺ تهمت ولګول سو ، نو الله ﷻ یو کوچنی بچی

ګویا کی او دهغه په شهادت سره یې دده برائت ظاهرکی ، اوپه حضرت مریم ﷺ باندې تهمت ولګول سو

نو الله ﷻ ددې دزوی حضرت عیسیٰ ﷺ په شهادت سره دابرې کړه اوپه حضرت صدیقه ﷺ باندې تهمت

ولګول سو ، نو الله په قرآن کریم کې لس ایتونه نازل کړل ، او ددې دبرائت اعلان یې وکی کوم چې ددې

فضل او عزت نور زیات کی .

دذکر سوو ایتونو اجمالي تفسیر خوپه لنډ تفسیرکې راغلی دی، اوس دایتونو دخاصو خاصو جملو

متعلق څه بحثونه دې هغه وګورئ .

إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ دَاِفْك : اصلي لغوي معنیٰ پاسترکول اوبدلول دی ، بدترین قسم دروغ

کوم چې حق په باطل سره اوباطل په حق سره بدل کړي ، دپاکباز متقي څخه فاسق اودفاسق څخه پاکباز

متقي جوړ کړي دې دروغو ته هم اِفك وايي .

د، عُصْبَة : معنیٰ جماعت دی کوم چې دلسو څخه تر څلويښتو پورې وي ، ددې څخه دکومو یا زیاتو

دپاره هم استعمالیدې سي ، دمِنكُم څخه مراد مومنان دي ددې تهمت اصل جوړونکی که څه هم مسلمان

نه دی بلکه منافق عبدالله بن اُبَيّ وو کوم چې په مومنانوکې دا خل نه وو ، مګرمنافقانو کوموچې دا سلام

دعوی کوله په دوی هم ظاهري احکام دمومنانو جاري کیدل په دې وجه دمِنكُم په لفظ کې یې دې هم

شامل کی ، په مسلمانانو کې دوه سړي اویوه ښځه په دې کې مبتلا سوي وه پرکومو چې نبي کریم ﷺ

دایتونو نازلیدو څخه وروسته دقذف حدجاري کې لکه چې مخکې تیرسوې دی مګر مومنان تول توبه

ګارسول اوالله ﷻ د دوی توبه قبوله کړه ، په دوی کې حضرت حسان ﷺ اوحضرت مسطح ﷺ دواړه دبدر

دشریکانو څخه دي دکومو دپاره چې الله ﷻ په قرآن کریم کې دمغفرت اعلان فرمایلی دی ، په دې ډول

که چاپه دحضرت صدیقه ﷺ په مخکې دحضرت حسان ﷺ بدویل نو دی به نه خوښول که څه هم دی هم په دغه دوو سړوکې شامل وو په کوموچې حد دقذف لګول سوی وو اوحضرت صدیقه ﷺ به فرمایل چې حضرت حسان ﷺ دنبی کریم ﷺ دطرف څخه دکفارو شاعرانه مقابله ډیره ښه کړي ده په دی وجه ده ته بد ویل نه دی په کار او دی چې به کله دحضرت عائشه ﷺ خواته حاضریدی نوښه په تعظیم اوعزت سره به یې کښینوی (مظهری وغیره)

لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُم : دا خطاب نبی کریم ﷺ عائشه صدیقه ﷺ صفوان ﷺ اوټولو مومنانوته دی کوموته چې ددی افواه په خپریدو سره صدمه ورسیده اومعنٰی دا ده چې دا واقعه تاسی بده مه ګڼی ، ځکه چې الله ﷻ په قرآن کې برائت نازل کی او ددی عزت یې نور زیات کی اوکوموخلګوچې داحرکتونه کړی وه په هغوی یې دعذاب سختی وعدی نازلی کړی ، کوم چې ترقیامته پوری په محرابونوکی ویل کیږي .

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُم مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ : یعنی کوموخلګوچې په دی بهتان کی څومره حصه واخسته په دغومره مقدارسره دده ګناه لیکل سوي ده اوپه دغه تناسب سره به دده عذاب وی ، چاچې دا خبر جوړکړی او خپورکړی دی دکوم ذکر چې مخ ته راغی هغه دټولو څخه زیات دعذاب مستحق دی چاچې خبر واوریدی اوتائید یې وکی هغه دده څخه کم او چاچې واوریدی اوسکوت یې اختیار کی هغه دده څخه کم .

وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ : لفظ دکِبر په کسری دکاف سره په معنٰی دلوی دی ، مراد دا دی چا چې په دی تهمت لګولوکی لوی کار وکی یعنی دا یې جوړ کی اوبیایی وچلوی دده دپاره عظیم عذاب دی مراد ددی څخه عبدالله بن اُبیّ منافق دی (بغوی وغیره)

لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ مُّبِينٌ : یعنی داسی ولی ونه سوه چې تاسی کله ددی تهمت خبر اوریدلی وای نو مسلمانانو سړو اومسلمانانو ښځو په خپله باره کی یعنی دخپلو مسلمانانو وروڼو خوندو په باره کی نیک ګمان کړی وای ، او ویلی یې وای چې دابنکاره درواغ دی ، په دی آیت کی ځوشیان دفکر قابل دی اول دا چې دَ بِأَنفُسِهِمْ په لفظ سره قرآن کریم دا اشاره وکړه چې کوم مسلمان بل مسلمان بد نام او رسوا کوی هغه په حقیقت کی خپل ځان رسوا کوی ، ځکه چې داسلام قرابت دوی ټول یو جوړکړی دی ، قرآن کریم په داسی ټولو موقعو کی دا اشاره استعمال فرمایلی ده ، لکه چې یوځای فرمایی ، لَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ : یعنی عیب مه لګوی په خپلو ځانونو ، مراد ددی څخه دا دی چې په یو مسلمان ورور یابنځه باندی ، بل ځای فرمایی ، لَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ : خپل ځانونه مه قتلوی مراد ددی څخه هم دغه دی چې مسلمان ورور مه قتلوی ، په دریم ځای کی فرمایی ، وَلَا تُخْرِجُوا أَنفُسَكُم مِّن دِيَارِكُمْ : یعنی مه باسی خپل ځانونه دخپلو کورونو څخه ، دلته هم دیو مسلمان ورور دهغه دکور څخه ایستل مراد دی ، په څلورم ځای کی فرمایی وَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ : یعنی خپلو ځانونوته

سلام کوی مرادورځخه دغه مسلمان وروړته سلام کول دی ، دا ټول ایتونه دقرآن داضمنی هدایتونه
ورکوی چی یومسلمان کوم چی په بل مسلمان عیب لګوی یاورته تکلیف رسوی دحقیقت په اعتبار سره
په خپله خپل ځان عیبدار کوی اوخپل ځان ته تکلیف اونقصان رسوی ، ځکه چی ددی انجام د ټول قوم
رسوایی اوبدنامی وی په قول دسعدی ،

چو از قومی یکی بی دانشی کرد — نه کهه را منزلت ماند نه مهه را

یعنی په قوم کی چی یو سړی یو دبی عقلی کار وکی نو کمتر اواعلی ټول په بدنام سی .

دقرآن ددی تعلیم اثررو چی کله به مسلمان لوړ سو نو ټول قوم به لوړسو او ددی هرفرد به لوړ وو او ددغه
قرانی تعلیم دپاته کولو نتیجه نن په سترګو لیدل کیږی چی ټول ولویدل اوهریو فردیی لویدلی دی .

دوهمه خبره په دی آیت کی دا دفکر قابله ده چی دمقام تقاضا دا وه چی ، لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوْهُ ظَنَنْتُمْ
بِأَنْفُسِكُمْ خَيْرًا : یی په صیغه دمخاطب ویلی وای لکه چی په شروع کی سَمِعْتُمُوْهُ په صیغه دمخاطب راغلی
دی ، مګر قرآن کریم دالنده جمله پریښوولی ، دلته یی طرز بدل کی اودصیغی دمخاطب ظَنَنْتُمْ په ځای
یی ظَنَّ الْمُؤْمِنُوْنَ : وفرمایل ، په دی کی سپکه اشاره دی طرف ته ده چی داکارچی دکومو خلکو څخه
وسو هغوی ددی کار ترحده پوری دمومن ویلو مستحق نه دی ، ځکه چی دایمان تقاضا دا وه چی یو
مسلمان په بل مسلمان نیک ګمان قائم وساتی .

دریمه خبره دا دنظر قابله ده چی ددی آیت په اخری جمله ، وَقَالُوْا هٰذَا إِفْكٌ مُّبِيْنٌ : کی دا تعلیم ورکول سوی
دی ، چی دایمان تقاضا دا وه چی مسلمانانو ددی خبر په اوریدو سره داسی ویلی وای ، چی دا بنکاره
درواغ دی ، ددی څخه ثابته سوه چی دیومسلمان په باره کی تر څو چی دځه ګناه یاعیب علم په شرعی
دلیل سره ونه سی ، ترهغه په ده نیک ګمان ساتل اوبی دځه دلیل ځخه دعیب اوګناه خبره ده ته منسوب
کولوته درواغ ویل عین تقاضا دایمان ده .

مسئله: ددی ځخه ثابته سوه چی په هر مسلمان سړی اوښځه باندی نیک ګمان ساتل واجب دی ، ترڅو چی
په شرعی دلیل سره دده خلاف څه ثابت نه سی ، اوکوم سړی چی بغیر دشرعی دلیل ځخه په ده الزام
لګوی دهغه خبره ردول او درواغ یی ګرځول هم واجب دی ، ځکه چی دغه محض یوغیبت اومسلمان یی
دځه وجهی ځخه رسوا کول دی (مظهری)

لَوْلَا جَاءُوْا عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوْا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولٰئِكَ عِنْدَ اللّٰهِ هُمُ الْكَاذِبُوْنَ : ددی آیت په اوله جمله کی
خو ددی تلقین دی چی دداسی خبر دمشهورکوونکو په باره کی مسلمانانو ته په کار وه ، چی د دوی
دخبری دچلولو په ځای یی د دوی ځخه دشرعی دلیل مطالبه کړی وی ، او چونکه دزنا دتهمت په معامله
کی شرعی دلیل دځلورو شاهدانو ځخه بغیر نه سی قائم کیدی ، په دی وجه د دوی ځخه مطالبه داسی
کول په کار وه چی داتاسی چی څه وایاست په دی ځلور شاهدان پیش کی یاژبه بنده کی ، په دوهمه جمله

کی فرمایی چی کله دغه خلک شاهدان نه سی را وستلی نو دغه خلک درواغ جنان دی.
دلته دا خبره دغور طلب ده چی داسی کیدل خوځه بعیدنه دی چی یوسړی په خپلو سترګو یوه واقعه وويني مګر په دی نور شاهدان ده ته پیدانه سی ، نوکه دا سړی خپله چشم دید واقعه بیانوی نوده ته درواغجن ځنګه ویل کیدی سی ، اوبیاخاص دالله ﷻ په نزد خو ده ته درواغ ویل په هیڅ دول په خیال کی نه راځی ، ځکه چی الله ﷻ ته خو دټولو واقعاتو حقیقتونه معلوم دی ، او داسی واقعه خو په وجودکی راتلل هم معلوم دی ، نو دغه دالله ﷻ په نزد درواغ ویونکی ځنګه ګڼل کیږي؟ ددی دوه جوابونه دی ، اول دا چی دلته دعندالله ځخه مراد حکم الله اوقانون الهی دی ، یعنی داسړی دقانون الهی او دحکم خداوندی په رو سره درواغجن مقرریږی اوپه ده دقذف حدجاری کیږی ، ځکه چی حکم ربانی دا وو چی کله څلور شاهدان نه وی نو دواقعی دلیدو باوجود دامه بیانوه اوځوك چی یی بغیر دڅلورو شاهدانو ځخه بیان کړی دغه به قانوناً اوحکما درواغجن مقرر سی اوسزا به پیدا کی.
دوهم جواب یی دا دی چی دمسلمان شان دا دی چی هیڅ فضول کار به نه کوی ، ځکه چی دهغه هیڅ فائده اونتیجه نه وی خصوصاً داسی کار په کوم کی چی په بل مسلمان یو الزام راځی ، نو یومسلمان دبل مسلمان خلاف دځه عیب اوګناه شهادت صرف په دی نیت سره کولی سی ، چی دجرم اوګناه بندول یی مقصود وی ځوك رسوا کول او ورته تکلیف رسول مقصود نه وی ، نو کوم سړی چی دڅلورو شاهدانو ځخه بغیر داسی قسم شهادت دڑبی ځخه ویستی ګویا دده دعوه دا ده چی زه دا خبره دخلګو داصلاح اومعاشره دبدیوځخه دمحفوظ کولو او دجرمونو بندولو په نیت سره کوم، مګر کله چی دشریعت قانون ده ته معلوم دی چی بغیر دڅلورو شاهدانو ځخه په داسی شهادت ورکولو سره نه په ده څه حد اوسزا جاری کیدی سی اونه ثبوت پیدا کیدی سی ، بلکه برعکس به ددرواغو دسزا زه مستحق سم، نودغه وخت داسړی دالله ﷻ په نزد دخپل دی نیت په دعوٰی کی درواغجن دی چی زه دخلګو داصلاح او دجرمونو بندولو په نیت سره داشهادت ورکوم ځکه چی دشرعی قاعدی مطابق دشهادت نه پیدا کیدوپه صورت کی دا نیت دسره نه سی کیدی (مظهری)

(یو مهم اوضروری خبرداری)

په ذکرسوو دواړو ایتونو کی یی هر مسلمان ته په بل مسلمان دنیك ګمان کولو ښودنه او دده خلاف دبی دلیله خبرو ردکول واجب ګرځولی دی ، په دی چاته دا شبهه کول نه دی په کار چی بیانبی کریم ﷺ داول ځخه ددی خبر په غلطیدو باندی یقین ولی نه کوی ، او ددی خبر رد یی ونه فرمایی اوتر یوی میاشتی پوری دتردد په حالت کی ولی پاته سو تردی چی حضرت عائشه صدیقه ﷺ ته یی وفرمایل چی که ستاځخه څه خطا سوی وی نوتاته توبه کول په کار دی (کما رواه البخاری)
وجه دا ده چی دلته یومسلمان ته په بل مسلمان دنیك ګمان ساتلوچی کوم حکم دی هغه ددی تردد منافی

نه دی کوم چی نبی کریم ﷺ ته ورپیښ سو، ځکه چی دوی نه ددی خبر تصدیق وفرمایی اونه یی ددی په
مقتضٰی باندی څه عمل وفرمایی اونه یی ددی چرچه کول خوښ کړل بلکه دصحابه کرامو ﷺ په معیه
کی یی دا وفرمایل چی ، مَا عَلِمْتُ عَلٰی اَهْلِیْ اِلاَّ خَیْرًا : رواه البخاری یعنی زه دخپلی بی بی په باره کی
دښو اونیکی څخه علاوه نور هیڅ نه پیژنم ، دا ټول ددی ذکر سوی ایتونو په مقتضا عمل او دنیك گمان
ساتلو شاهد دی ، البته قطعی اویقینی علم په کوم سره چی طبعی تردد هم رفع سی دا هغه وخت وسو کله
چی دبرائت ایتونه نازل سول ، لنډه دا چی په زړه کی څه شك اوتردد پیدا کیدل اواحتیاطی تدبیر
استعمالول لکه چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی په مومنانو دنیك گمان ساتلو منافی نه دی کله چی ددی په
مقتضا څه عمل نه وی سوی پرکومو مسلمانانوچی په دی معامله کی دقذف دحد سزا جاری سوه او په
دی دوو ایتونو کی په دوی عتاب نازل سو دوی ددی خبر په مقتضٰی عمل کړی وو، چی ددی چرچه یی
وکړه اوخپور یی کی ، دا دایتونو دنزول څخه مخکی هم ناجائز او دسزا موجب وه .

وَلَوْلَا فَضْلُ اللهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِي مَا أَفَضْتُمْ فِيهِ عَذَابٌ عَظِيمٌ : دا ایت دهغو مومنانو
په باره کی نازل سوی دی کومو چی په غلطی سره په دی تهمت کی یو قسم شرکت کړی وو، اوبیایی توبه
وکړه اوپه ځینو باندی سزا هم جاری سوه ، دی ټولوته یی په دی آیت کی دا هم وښوله چی کوم جرم
ستاسی څخه سوی وو هغه ډیر لوی جرم وو په هغه باندی په دنیاکی هم عذاب راتلی سوای لکه چی
دتیرو قومونو په مجرمانو باندی راغلی دی ، او په اخرت کی به هم په دی سخت عذاب وی ، مگر دالله
ﷻ معامله ستاسی مومنانو سره دفضل اورحمت ده په دنیاکی هم اوپه اخرت کی هم په دی وجه دا عذاب
ستاسی څخه واپس سو، په دنیاکی دالله ﷻ دفضل اورحمت اظهار خودا وسو چی اول یی دا سلام او
ایمان توفیق درکی ، بیایی دنبی کریم ﷺ دصحبت شرف درکی کوم چی دعذاب دنزول څخه مانع دی
اوبیاچی کومه گناه سوی وه دهغه څخه یی درښتینی توبی توفیق درکی بیایی دغه توبه قبوله وفرمایله
او په اخرت کی د الله ﷻ دفضل اورحمت اثر دا دی چی ستاسی سره یی دعفو او درگز وعده وفرمایله .

اِذْتَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ دَتَلَقّٰی : مطلب دا دی چی یو دبل څخه دخبری پوښتنه وکی او نقل یی کی ، دلته دا خبره
اوریدل بی دلیله اوبی تحقیقه یی مخ ته چلول مراد دی .

وَتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا وَهُوَعِنْدَاللهِ عَظِيْمٌ : یعنی تاسی خودا معمولی خبره گڼی چی مونږ څنگه اوریدلی وه هغسی مو
نوروته نقل کړه مگرهغه دالله ﷻ په نزد ډیره لویه گناه وه چی بی دلیله اوبی تحقیقه موداسی خبره وچلوله
په کوم سره چی نورو مسلمانانوته سخت ازار ورسیدی دهغوی رسوایی وسوه اوژوندیی بی خونده سو

وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهٰذَا سُبْحَانَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ :یعنی داسی ولی ونه سوه چی
کله تاسی دا افواه اوریدلی وه نو داسی مو ویلی وای چی زمونږ دپاره داسی خبره په ژبه باندی راوستل
جائز نه دی ، پاك دی الله دا خو ډیرلوی بهتان دی ، په دی آیت کی مکرر هغه هدایت دی کوم چی ددی

څخه مخکې په یوایت کې راغلې دي په دې کې دازیاتي توضیح دي چې مسلمانانو ته دداسې خبرې داوریدو په وخت کې څه کول په کار دي؟ هغه دا چې صفا ووایي چې داسې خبره بې دڅه دلیل څخه په ژبه باندې را وستل هم زمونږ دپاره جائز نه دي دا خو عظیم بهتان دي .

(یوه شبهه او دهغه جواب)

که دچا داشك راسي چې لکه څنګه چې دیوې واقعې رښتنوالي بغیر ددلیل څخه نه معلومیږي ، په دې وجه دهغه په ژبه بیانول اوچرچه یې کول ناجائز سول ، دغه ډول دیوې خبرې درواغجن والې خو هم بغیر ددلیل څخه ثابتیدې نه سي ، چې دې ته بهتان عظیم وویل سي ، جواب دا دي چې هرمسلمان دګناهونو څخه پاك صفا ګڼل اصل شرعي دي کوم چې په دلیل سره ثابت دي ، ددې خلاف چې کومه خبره بغیر ددلیل څخه وسي ددې د درواغو ګڼلو دپاره دڅه دلیل ضرورت نسته ، صرف دومره کافي ده چې په یو مومن مسلمان بغیر دڅه شرعي دلیل څخه الزام لګول سوي دي لهذا دابهتان دي .

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ : په دې آیت کې بیا دهغو خلګو بدوالې اوپه دوې ددنیا اوداخرت دعذاب وعدې دي کوموچې په دې تهمت کې په یوډول سره حصه اخستې وه ، په دې آیت کې دا خبره زیاته ده چې کوم خلګ داسې خبرونه مشهوروې ګویا دوې غواړي چې په مسلمانانو کې بدکارې اوفحش کارونه خپاره سي .

(دفواحشو دبندولو قرآني نظام او یو مهم تدبیر او ددې دپام څخه دلیرې کولو په وجه نن دفواحشو کثرت دي)

قرآن کریم دفواحشو دبندولو داخاص نظام جوړکړي دي چې اول خوددې قسم خبرونه خپاره نه سي اوکه شهرت یې کیږي ، نوچې په شرعي ثبوت سره وي چې ددې شهرت سره دزنا شرعي حد په ده جاري کړي او دغه شهرت سبب دبندیدو جوړسي اوکوم ځاې چې شرعي ثبوت نه وي هلته ددې دبې حیایي خبرونه چلول اوشهرت ورکول کله چې ددې سره څه سزانه وي نو په طبعي طور سره دخلګو دزړونو څخه دبې حیایو اوفواحشو څخه نفرت کول کم وي ، او دجرمونو کولو او ددې دخپرولو سبب جوړیږي ، چې نن صبا په اخباراتو کې روزانه لیدل کیږي ، چې داسې خبرونه روزانه په اخبارونوکې نشر کیږي ، ځوانان سړي اوښځې یې ویني روزانه دداسې خبرونو مخ ته په راتلو اوپه دې دسزا نه کیدو لازمي اوطبعي اثر داکیږي چې دغه خبیث کار کرار کرار دخلګو په نظرونو کې سپك په نظر راتلل شروع سي ، اوبیا په نفس کې دې ته دراپورته کیدو سبب سي ، په دې وجه قرآن حکیم دداسې خبرونو دمشهورولو اجازت صرف په هغه صورت ورکړې دي کله چې دشرعي ثبوت سره وي ، اوپه نتیجه کې دخبر سره ددې هغه هیبتناکه سزاهم خلګ واورې او ووینې اوکوم ځاې چې ثبوت اوسزا نه وي ، نو دداسې خبرونو خپرول قران په مسلمانانو کې دفواحشو خپرولو ذریعه مقرر کړې ده ، کاشکې! چې مسلمانان په دې غور وکي .

په دې آیت کې دداسې خبرونو په بې ثبوته مشهورولو باندې ددنیا او اخرت دواړو دردناك عذاب پیدا

کیدو ذکر دی ، د اخرت عذاب خو ظاهره ده چې دقیامت څخه وروسته به وي دلته نه سي ليدل کيدی مگر ددنيا عذاب خوليدل کيږي ، نو په کومو خلکو چې حد دقذف (دتهمت سزا) جاري سوه په دوی خو ددنيا عذاب راغی اوکه څوك دحد دشرطونو دنه پوره کيدو په وجه دقذف دحد څخه محفوظ سو نو په دنيا کې خو هم في الجملة مستحق دعذاب خو سو دا يت دمصداق دپاره دا هم کافي ده .

وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُم وَالسَّعَةِ أَن يُؤْتُوا أُولِي الْقُرْبَى وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُم وَاللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ .

﴿ صحابه کرامو ﷺ ته داعلي اخلاقو تعليم ﴾

وَلَا يَأْتَلِ ائتلا : معنی قسم اخستل دی په حضرت صديقه ﷺ باندی دتهمت په واقعه کې دمسلمانانو څخه مسطح ﷺ اوحسان ﷺ مبتلا سوي وو پرکومو چې نبي کريم ﷺ دبراء ت دايتونو دنازليدو څخه وروسته دقذف حد جاري کی ، مسطح ﷺ اوحسان ﷺ دواړه جليل القدر اصحاب دبدر په شريکانوکې دي مگر يوه خطا ورڅخه وسوه دکوم څخه چې رښتينی توبه يې نصيب سوه اوالله ﷻ لکه څنګه چې دحضرت صديقه ﷺ براء ت نازل کی دغه ډول ددی مومنانو دتوبې قبلولو او معاف کولو يې هم اعلان وفرمايي مسطح ﷺ دحضرت صديق اکبر ﷺ خپل هم وو اوغريب هم وو ، حضرت ابوبکر صديق ﷺ به دده مالي مدد کوی ، هرکله چې دافك په واقعه کې دده هم يوقسم شرکت ثابت سو نو دصديقه ﷺ پلار خپلې لورته ددومره لويې صدمې رسولو په وجه په طبعي طورسره دمسطح ﷺ څخه خفه سو اوقسم يې واخستی چې ائنده به د ده مالي مدد ونه کې دا خو ظاهره خبره ده چې ديوخاص فقير مالي مددکول پريو خاص مسلمان باندی علی التعين واجب نه دی ، او دچا مالي مدد چې څوك کوی که هغه دغه بندکړی نوځه گناه هم نه ده ، مگر دصحابه ﷺ جماعت حق تعالی ددنيا دپاره يوه مثالي معاشره جوړول غوښتل ، په دی وجه يوطرف ته دکوموخلکوڅخه چې خطا وسوه ، نو هغوی يې په رښتينی توبه اودخپل حالت داصلاح په نعمت سره ولمانځل ، بل طرف ته چې کومو بزرگانو دطبعي خفگان اورنج په وجه داسی غريبانو فقيرانو دمدد پريښوولو قسم وکی هغوی ته يې داعلی اخلاقو تعليم په دی آيت کې ورکی چې دوی ته دا قسم ماتول او کفاره يې ادا کول په کار دی ، دهغوی دمالي امداد څخه لاس اخستل د دوی دا لوړ مقام سره مناسب نه دی لکه څنګه چې الله ﷻ دوی معاف کړل دغسی دوی ته هم دعفوی درگزر څخه کار اخستل په کار دی .

چونکه دحضرت مسطح ﷺ مالي مددکول په حضرت صديق اکبر ﷺ څه شرعي واجبه ذمه واری نه وه ، په دی وجه قرآن کريم عنوان داسی اختيارکی چې اهل علم اوفضل کومو ته چې الله ﷻ ديني کمالات ورکړی دی او دکومو سره چې دالله ﷻ په لاره کې دخرڅ کولو فراخي اوگنجائش هم سته هغوی ته داسی قسم کول نه دی په کار په آيت کې دوه لفظونه ، اولوا الفضل : او ، والسعة : ددی معنی دپاره راغلی دی

ددې آيت په اخرې جمله کې چې کوم ارشاد وسو چې ، اَلَاتُحِبُّونَ اَنْ يَّغْفِرَ اللهُ لَكُم : يعنې ايا تاسې دانه خوښوې چې الله ﷻ ستاسې ګناهونه معاف کې نوصديق اکبر ﷺ فوراً وويل ، وَاللهِ اِنِّيْ اُحِبُّ اَنْ يَّغْفِرَ اللهُ لِيْ (رواه الشيخان) يعنې په خداى قسم دى زه خامخا غواړم چې الله ﷻ زما مغفرت وفرمايې اوفوراً دحضرت مسطح ﷺ مالي امداد يې جاري کړې اودا يې هم وفرمايل چې اوس به هيڅکله دا امداد بند نه سي ، (بخاري اومسلم)

داهغه مکارم اخلاق دي په کوموسره چې دصحابه کرامو ﷺ تربيت وسو په صحيح بخاري کې دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ څخه روايت دى چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ، لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِيْ وَلٰكِنَّ الْوَاصِلُ الَّذِيْ اِذَاقُطِعَتْ رَحِمَهٗ وَصَلَهَا: يعنې صله رحمي کوونکې هغه نه دى کوم چې درشته دارانوصرف داحسان بدله ور کوي بلکه اصل رحمي کوونکې هغه دى چې درشته دارانو دقطع تعلق کولو باوجوددي تعلق قائم ساتي

اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ : په دې آيت کې په ظاهره هغه مضمون مکرر بيان سوى دى کوم چې ددې څخه مخکې دقذف په ايتونوکې راغلى دى:

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوْهُمْ ثَمَانِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا وَّاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ (٤) اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا فَاِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ (٥) ليکن په حقيقت کې په دې دواړوکې يو لوى فرق دى ، ځکه چې دحد قذف دايتونوپه اخرکې دتوبه کوونکو استثناء او د دوى دپاره دمغفرت وعده ده ، په دې آيت کې داسې نه ده بلکه ددنيا اواخرت دلعنت او دعذاب عظيم بې داستثناء څخه ذکر دى ، ددې څخه معلوميږي چې ددې آيت تعلق دهغو خلګو سره دى کوموچې په حضرت عائشه صديقه ﷺ باندې تهمت ولګوى اوبيايې توبه ونه کړله تردې چې په قرآن کې ددې دبرائت نازليدو څخه وروسته هم دوى په خپلو دغه درواغو قائم او دتهمت په چرچه کولوکې مشغول پاته سول ظاهره ده چې داکار ديو مسلمان څخه ممکن نه دى اوکوم مسلمان چې دقرآن دنصوصو څخه داسې خلاف وکې هغه مسلمان نه سي پاته کيدى ، په دې وجه دا مضمون دهغو منافقانوپه باره کې راغلى دى کوم چې دحضرت صديقه ﷺ دبراء ت دايتونو دنازليدو څخه وروسته هم دا دتهمت مشغله پرې نښوده ، ددغو په کافر او منافق کيدوکې هيڅ شك اوشبهه نسته ، دتوبه کوونکو دپاره الله ﷻ فَضْلُ اللهِ وَرَحْمَتُهٗ وفرمايل اوپه دواړه جهانه يې مرحومين وګرځول اوکوموچې توبه ونه کړه هغوته يې په دې آيت کې ملعونان ددنيا اواخرت وفرمايل، توبه کوونکوته يې دعذاب څخه دنجات خوشخبري ورکړه اوغيرتوبه کوونکو نه يې دعذاب عظيم وعده وفرمايله ، توبه کوونکوته يې ، اِنَّ اللهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ وفرمايل اودبخښنې زيرى يې ورکې اوغيرتوبه کوونکوته يې په راتلونکى آيت کې په يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ سره دمعافۍ نه کيدو وعده وفرمايل (کذا ذکره سيدي في بيان القرآن)

(یو مهم خبرداری)

په حضرت صدیقه ﷺ باندی دتهمت په قضیه کی چی کوم څینی مسلمانان شریك سوی وه داقضیه دهغه وخت وه چی ترڅو پوری دبراء ت ایتونه په قرآن کی نه وه نازل سوی دبراء ت دایتونو دنازلیدو څخه وروسته چی کوم سری په حضرت صدیقه ﷺ تهمت ولګوی ، هغه بیشکه چی کافر منکر دقرآن دی لکه دشیعه ګانو څینی فرقی اوځینی خلګ چی په دی کی اخته پیدا کیدی سی ، د دوی په کافر کیدو دهیڅ شك اوشبهی کولو هم څه ګنجائش نسته دغه په اجماع دامت کافر دی .

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ : یعنی په هغه ورځ کله چی د دوی خلاف په خپله د دوی ژبی اولاس اوپښی خبری کوی او د دوی دجرمونو شهادت ورکی ، لکه چی په روایتونو دحدیث کی دی چی دقیامت په ورځ کوم ګناهګار په خپلو ګناهونو اقرار وکی نوالله ﷻ به دوی معاف کړی او دمحشر دعاموخلګو دنظرونو څخه به د دوی ګناهونه پټ کړی اوکوم چی هلته هم انکار وکی چی ماخو دا کارنه دی کړی نګرانو ملائکو زماعملنامه غلطه لیکلی ده نودغه وخت به دده خوله بنده سی او دلاسو اوپښوڅخه به یی شاهدی واخستل سی ، هغوی به وایی اوشاهدی به ورکی په ، اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ : کی ددی بیان دی ، په دی آیت کی دافرمایی چی د دوی پر خلو به مهر ولګول سی مګر په ذکرسوی آیت کی دا دی چی په خپله به د دوی ژبی شاهدی ورکی ، په دی دواړوکی څه تعارض څکه نسته چی هغه به په خپل اختیار سره نه سی استعمالولی چی هغه وخت څه غواړی درواغ یارښتیا هغه وایی لکه چی په دنیاکی د دوی اختیاروی بلکه د دوی ژبی به د دوی دارادی اوقصد څخه خلاف دحقی خبری اقرار وکی او دا هم ممکنه ده چی په یو وخت کی خلی اوژبی بالکل بندی سی اوبیا ژبی ته هم حکم وسی چی رښتیا خبره وکی ، والله اعلم .

الْخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِينَ وَالْخَبِيثُونَ لِلْخَبِيثَاتِ وَالطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِينَ وَالطَّيِّبُونَ لِلطَّيِّبَاتِ أُولَئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ : یعنی ګنده ښځی دګنده سړولایقی وی اوګنده سړی دګنده ښځولایق وی اوپاکی صافی ښځی دپاکو صافو سړولایقی وی اوپاك صفا سړی دپاکو صافو ښځو لایق وی .

په دی اخری آیت کی اول خوعامه قاعده داوښوول سوه چی الله ﷻ په طبعی طورسره په طبیعتونوکی جوړښت ایښی دی ، ګنده اوبدکاری ښځی دبدکارو سړوطرف ته اوګنده او بدکاره سړی دبدکارو ښځوطرف ته مینه کوی ، دغه ډول دپاکو صافو ښځو مینه دپاکو صافو سړو طرف ته وی او دپاکو صافو سړو مینه دپاکو صافو ښځو طرف ته وی اوهر یو دخپل خپل خواهش مطابق خپله جوړه تلاش کوی او قدرتًا هغه ته هم هغه ورکول کیږي .

په دی عامه عادتی کلیه اوقاعدی سره واضحه سوه چی انبیاء علیهم السلام کوم چی په دنیاکی دپاکی اوصفایی ظاهری اوباطنی مثالی شخصیتونه وی په دی وجه الله ﷻ دوی ته بیبیانی هم د دوی مناسبی

ورکوی ، ددی څخه معلومه سوه چی نبی کریم ﷺ کوم چی دټولو انبیاؤ سرداردی دوی ته ازواج مطهرات هم الله ﷻ پاکی صافی په ظاهری او اخلاقی برتری کی بی مثله د دوی دشان مطابق ورکړی وی اوحضرت عائشه صدیقه ﷺ په دی ټولوکی ممتازه ده ، ددی په باره کی خوبه شك اوشبهه هغه څوك کولی سی کوم چی په خپله په نبی کریم ﷺ ایمان نه لری او دحضرت نوح اوحضرت لوط علیهما السلام دبیبیانوپه باره کی چی په قرآن کی د دوی کافروالی ذکر دی ، نو د دوی متعلق هم دا ثابته ده چی دکافروالی باوجود په فسق اوفجورکی مبتلا نه وی ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمایی مَابَغَتْ اَمْرَأَةُ نَبِیِّ قَطُّ : یعنی دیونبی ښځی هیڅکله زنا نه ده کړی (ذکره فی الدر المنثور)

ددی څخه معلومه سوه چی دیونبی ښځه کافره کیدی سی ددی امکان سته مگر بدکاره او فاحشه کیدل بی ممکن نه دی ځکه چی بدکاری په طبعی طورسره دعوامو دنفرت موجب ده کفر دطبعی نفرت موجب نه دی (بیان القرآن)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ

ای ایماندارو ! مه داخلیږی دیوچاکورته بغیر دخپلو کورونو څخه

حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ

ترڅوپوری چی اجازه حاصله نه کړی او سلام کوی په دغو کورو والاؤ دا ښه ده ستاسی په حق چی

تَذَكَّرُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فِيْهَآ اَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوْهَا حَتّٰى يُؤْذَنَ

یاده وساتی ،پس که پیدا نه کی په دی کی څوك پس دغه ته مه داخلیږی ترهغه چی تاسی ته اجازه وسی

لَكُمْ ۚ وَاِنْ قِيْلَ لَكُمُ ارْجِعُوْا فَارْجِعُوْا هُوَ اَزْكٰى لَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا

اوکه تاسی ته وویل سی چی بیرته ولاړ سی پس بیرته ولاړی سی دا ډیر پاکوالی دی ستاسی دپاره او

تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ

الله ﷻ څه چی تاسی کوی هغه پیژنی ، نسته گناه په تاسی په دی کی چی داخل سی هغو کورونوته کوم خای چی

مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾

څوك نه اوسیږی په دی کی ستاسی څه سامان وی ، او الله ﷻ ته معلوم دی څه چی تاسی ظاهروی اوڅه چی پټوی

لنډتفسير

(پنځم حکم داجازت غوښتلواوديوبل سره دملاقات اداب دچاكورته دداخليدوځخه مخكي اجازه ترلاسه كول)

دسورة نور دشروع ځخه دفواحشو اودبې حيايو بندولو دپاره ددغو سره دمتعلقه جرمونو دسزاګانو ذکر اوبې ددليل ځخه په چا دتهمت لګولو دبدوالي بيان وو ، مخته ددغو فواحشو دبندولو اودپاکۍ او دپاكدامنى دتحفظ دپاره داسې احكام وركول سوي دي ، په كوموسره چې داسې حالات نه سي پيدا كيدي ، دكوموځخه چې دبې حيايي لار پيداسي ، په دي احكاموكي داجازت اخستو مسئلې اواحكام دي چې دچا كورته بغير دهغه داجازت ځخه داخليدل ياپه دروازه وغيره كي دننه كتل منع سوي په كوموكي چي يو حكمت دا هم دي چې په غير محرمو ښځو باندي نظر ونه لګيږي ، په ذکر سوو ايتونوكي دمختلف قسم كورونو مختلف احكام بيان سوي دي .

كورونه په څلور قسمه دي ، يوخاص دځپل اوسيدو كور په كوم كي چې دبل دراتلو هيڅ احتمال نه وي، دوهم هغه كور په كوم كي چې بل هم اوسي برابره خبره ده كه هغه ځپل محرمان ولي نه وي يادبل دراتلو احتمال په كښي وي ، دريم قسم هغه كور په كوم كي چې دچا دبالفعل اوسيدو يانه اوسيدو دواړو احتمال وي ، څلورم قسم هغه كوركوم چې ديو خاص سړي داوسيدو دپاره مخصوص نه وي ، لكه مسجد مدرسه خانقاه وغيره دعامو خلكو دنفعي او دتلو راتلو ځايونه په دي كي داول قسم حكم خو ظاهر وو چې دي ته دننوتو دپاره دچا ځخه داجازت اخستو ضرورت نسته ، په دي وجه ددغو ذكر يې په آيت كي صراحةً نه دي كړي ، دباقي دري قسمه كورونو حكمونه په مخكي ايتونوكي بيانوي چې اي ايماندارو! تاسي دځپلو (اوسيدو خاصو) كورونو ځخه ماسواپه نورو كورونوكي (په كوموكي چې نور خلك اوسيږي برابره خبره ده كه هغه دهغو ملكيتي وي اوكه په سوال ياكرايه يې د اوسيدو دپاره اخستي وي) مه داخليږئ تر څو چې اجازت حاصل نه كي (او داجازت اخستو ځخه مخكي) دهغو اوسيدونكوته سلام ونه كي (يعني اول ددباندي ځخه سلام وكي بيا دهغوي ځخه پوښتنه وكي چې ايا مونږ ته دننه دراتلو اجازت سته اوبغير داجازت ځخه دغسي مه ورننوزي اوكه څه هم خلك داجازت اخستل دځپل شان ځخه خلاف ګڼي ليكن په واقع كي) داستاسي دپاره ښه ده (چې اجازت واخلئ او ولاړسي او دا خبره يې تاسي ته ځكه وښوولي) چې تاسي خيال ساتئ (اوپه دي عمل وكي چې په دي كي لوي حكمتونه دي داحكم سو دكورونو د دوهم قسم) بيا كه په دي كورونوكي تاسي ته يو انسان معلوم نه سي (برابره خبره ده كه په واقع كي هلته څوك وي اوكه نه وي) خو (هم) دغو كورونوته مه ورځئ تر څو چې تاسي ته اجازت درنه كړل سي (ځكه چې اول خو دا احتمال دي چې په هغه كي يو سړي موجود وي كه څه هم تاسي ته معلوم نه وي اوكه په واقع كي څوك موجود نه وي نو دبل چاخالي كورته بې اجازته ورننوتل دبل په ملك كي دهغه داجازت ځخه بغير تصرف كول دي كوم چې ناجائز دي داحكم سو ددريم قسم

اوکه چیري (داجازت طلب کولو په وخت کي) تاسي ته دا وویل سي (چي داوخت) بیرته ولاړ سي نو تاسي بیرته ولاړ سي دا خبره ستاسي دپاره ښه ده (ددي خبري څخه چي هلته ورته کلك سي ودریږي چي یو وخت به راووزي څکه چي په دي کي خپل ذلت اوبل ته بلاوجهي په دباؤ غورځولو تکلیف رسول دی او بو مسلمان ته تکلیف ورکول حرام دي) او الله ﷻ ستاسي دټولو عملونو څخه خبر دی (که دحکم څخه خلاف وکي نو سزا به پیداکي او داحکم په هغه صورت کي دی چي کوروالاوو که څه هم دواپس کیدو ویلي نه وي ، مگرڅه خبري یا ږغ یي هم نه وي کړی په داسي حالت کي دري واره اجازت به په دي احتیاط سره کول کیږي ، چي شاید چا اوریدلي نه وي ترددري واره پوري چي کله څوك جواب ورنه کي نو واپس کیدل په کار دي لکه چي په حدیث کي ددي توضیح موجود دی) او تاسي ته داسي کورونو ته بغیر دڅه خاص اجازت څخه) په تللوکي گناه نسته په کوموکي چي (دکورپه طور) څوك نه اوسیږي (او) په دي کي ستاسي دضرورت څه وي (یعني ددغو کورونو داستعمالولو تاسي ته حق وي داحکم دي دڅلورم قسم کورونو کوم چي دعامي فائدي کورونه مکانونه وي او په کوموپوري چي دعامو خلگو فائدي متعلقي وي ، نو هلته دتللو عادتًا عام اجازت وي) اوتاسي چي څه په ښکاره کوی یاپټ کوی الله ﷻ ته هرڅه معلوم دي (په دي وجه په هرحال کي دخدای بیره اوتقوٰی لازم ده)

معلومات اومسئلي

(دمعاشري دقرآني ادابو یو مهم باب دچا ملاقات ته چي ورسي نو اول اجازت اخلي بغیر داجازت څخه دچا کور ته مه دا خليږي)

افسوس دي چي اسلامي شریعت ددي معاملي څومره اهتمام فرمایلي دی چي په قرآن کریم کي ددي مفصل احکام نازل سوه اونبي کریم ﷺ په خپل قول اوعمل سره ددي لوی تاکید وفرمایی هغومره نن صبا مسلمانان ددي څخه غافله سول ، تعلیم یافته نیکان خلگ هم داڅه گناه نه گڼي او نه په دي دعمل کولو فکر کوي ، ددنیانورو مهذبو قومونو دا اختیار کړل اوخپله معاشره یي برابره کړه مگرمسلمانان په دي کي دټولوڅخه وروسته لیدل کیږي ، په اسلامي حکمونو کي دټولو څخه اول سستي په دي حکم کي شروع سوه ، په هرحال استیذان یعني اجازت غوښتل دقرآن کریم هغه واجب العمل حکم دی چي په دي کي لږڅه سستي اوبدلون هم حضرت ابن عباس ﷺ دقرآن دایت څخه دانکار په سختو الفاظو سره تعبیرکړي ده او اوس خو خلگو واقعي چي داحکمونه داسي نظر انداز کړی دي چي گویا د دوی په نزد دا دقرآن احکام گرسره دي نه ، اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ .

(داستیذان حکمتونه اومهم مصلحتونه)

الله ﷻ هرانسان ته چي کوم دده داوسیدو ځای ورکړی دي برابره خبره ده که مالکانه وي یاپه کرایه وغیره په هرحال دده کور دده داوسیدو ځای دي او دمَسکن اصلي غرض سکون اوراحت دی ، قرآن کریم

چی کوم خاي دخپل دی نعمت ذکر فرمایلی دی په دی کی دی طرف ته هم اشاره فرمایی ، جَعَلَ لَکُم مِّن
بُیُوتِکُم سَکَنًا یعنی الله ﷻ تاسی ته په کورونو سره ستاسی دسکون اوراحت سامان درکی او داسکون
اوراحت هلته باقی پاته کیدی سی چی انسان دبل چا دمداخلت څخه بغیر په خپل کورکی دخپل ضرورت
مطابق په ازادی سره کار او ارام وکړل سی ، په دی ازادی کی خلل غورځول دکور اصل مصلحت نوټ
کول دی کوم چی لوی ازار اوتکلیف دی اسلام چاته ناحق تکلیف رسول حرام کړی ، داجازت غوښتلو په
احکاموکی یو لوی مصلحت دخلګو په ازادی کی دخلل غورځولو اودوی ته دازار رسولوڅخه محفوظ
کیدل دی کوم چی دشریف انسان عقلی فرض هم دی، دوهم مصلحت په کی په خپله ددغه سړی دی کوم
چی دچا دملاقات دپاره دهغه خواته ورغلی دی چی کله دی په اجازه سره دشریف انسان په شان ورسی
نومخاطب به هم دده خبره په قدر اوعزت سره واوری اوکه دده څه حاجت وی نو دهغه پوره کولو ته به هم
دهغه زړه میلان وکی ، په خلاف ددی چی په وحشیانه طرزسره بغیر داجازت څخه په چا مسلط سی نو
مخاطب به دی یوه ناګهانی بلاوګڼی دوخت دفع کولوڅخه به کارواخلی دخیرخواهی څه جذبه که یی په
زړه کی وی هم هغه به خو مړاوی سی او دده به دیو مسلمان دازار ګناه هم وسی .

دریم مصلحت په کی دفواحشواوبی حیایوڅخه منع کول دی چی بی اجازته دچاپه کورکی په داخلیدو سره
داهم احتمال دی چی په غیرمحرموښځونظرلویږي اوشیطان یی په زړه کی څه مرض پیداکی اوددی مصلحت
په وجه داجازت غوښتلو احکام قران حکیم دحدّ زنا اوحدّ قذف وغیره احکامو پسی متصل راوړل.

څلورم مصلحت دا دی چی انسان ځینی وخت دخپل کور په تنهایی کی څه داسی کار کوی په کوم چی
نور خبریدل مناسب نه ګڼی که یوسړی بی داجازته دچا کورته راسی ، نو هغه چی کوم شی دخلګوڅخه
پټ ساتل غوښتی په هغه به خبرسی، دچاپټ رازپه زورمعلومولوګناه اونوروته دازار رسولوسبب دی.

داجازت غوښتلوڅه مسئلی خو په خپله په ذکر سوو ایتونوکی راغلی دی اول دهغو تفصیل اوتشریح
وګوری باقی متفرقی مسئلی به وروسته ولیکل سی .

مسئله: په دی آیتونوکی په یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا : سره خطاب وسوکوم چی دسړو دپاره استعمالیږی مګر ښځی
هم په دی حکم کی داخلی دی لکه چی عام احکام دقرآن دغه ډول سړی مخاطب کوی خوښځی هم په دی
کی شاملی وی ، بغیر دمخصوصو مسئلوڅخه دکوموچی خصوصیت دسړو سره بیانیږی چنانچی دزمانه
صحابیو هم دا معمول چی دچاکره به تلی نو اول به یی اجازت غوښتی، حضرت ام ایاس ﷺ فرمایی چی
مونږ څلور ښځی به اکثره دحضرت عائشه ﷺ خواته تلو اوکورته ددننه کیدو څخه مخکی به مونږ دهغی
څخه اجازت غوښتی ، کله چی به هغې اجازت راکی نو دننه به ورغلو (ابن کثیر په حواله دابن ابی حاتم)

مسئله: ددی آیت دعموم څخه معلومه سوه چی دبل سړی کورته دتللوڅخه مخکی داجازت غوښتلو حکم
عام دی سړی ښځی محرم غیر محرم ټول په کی شامل دی ، که ښځه دښځی خواته ورځی یاسړی دسړی

خوانه ورځي تولوته اجازت غوښتل واجب دي ، دغه ډول يو سړي كه دخپلي مور خور يانورو محرمو ښځو خوانه ورځي نو هم به اجازت غواړي ، امام مالك رحمه الله په موطاء كي مرسلاً دعطاء بن يسار ﷺ څخه روايت كوي چي يو سړي دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چي ايازه به دخپلي مور خواته دتلو په وخت كي هم اجازت غواړم؟ حضور ﷺ ورته وفرمايل چي هو! اجازت غواړه ، دغه سړي وويل يارسول الله! زه خو دخپلي مور سره په كوركي اوسيږم ، حضور ﷺ وفرمايل بيابه هم داجازت څخه بغير كورته نه ځي بيايي عرض وكړ يارسول الله! زه خوهروخت دهغي په خدمت كي اوسيږم حضور ﷺ وفرمايل بياهم دهغې څخه داجازت اخستو څخه بغير كورته مه ځه ، اياته دا خبره خوښوي چي خپله مور لغړه ووينې هغه وويل چي نه، حضور ﷺ وفرمايل چي هم په دي وجه اجازت اخستل په كار دي ، ځكه چي دا احتمال دي چي هغې په كور كي په يو ضرورت سره ستر خلاص كړي وي (مظهري)

ددې حديث څخه دا هم ثابته سوه چي دقرآن په آيت كي چي كوم ،غَيْرَ بُيُوتِكُم ، راغلي دي په دي كي دَ: بُيُوتِكُم ، څخه مرادهغه كورونه دي په كوموكي چي بنده يوازي اوسيږي مور پلار خور ورور وغيره په كښي ورسره نه وي.

مسئله: په كوم كوركي چي صرف خپله بي بي اوسيږي ، په دي كي دداخليدو دپاره كه څه هم اجازت غوښتل واجب نه دي مگر مستحب اوسنت طريقه دا ده چي هلته هم ناڅاپه بغير دخه اطلاع څخه دننه نه ځي بلكه دداخليدو څخه اول دي څه كښ اوكړي ياخبري وغيره وكي چي هغه خبره سي بيا دي دننه ورځي ، دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ بي بي محترمه ﷺ فرمايي چي عبدالله به چي كله ددباندي څخه كورته راننوتي نو په دروازه كي به يي اول څه تكار وكي هلته به دننه كورته راتلي چي دي ماپه يو داسي حالت كي ونه ويني چي دده خوښ نه وي (ابن كثير په حواله دابن جرير وقال اسناده صحيح) او په دي صورت كي داجازت نه واجبيدل ددي څخه معلوميږي ، ځكه چي ابن جريج دعطاء څخه پوښتنه وكړه چي ايا داسي سړي ته دخپلي بي بي كورته دتلو په وخت كي اجازت غوښتل ضروري دي؟ هغوي وفرمايل چي نه، ابن كثير رحمه الله ددي روايت نقل كولو څخه وروسته فرمايي چي ددي څخه مراد دا دي چي واجب نه دي ، ليكن مستحب اوښه دلته هم دي.

(داستيذان مسنونه طريقه)

په آيت كي چي كومه طريقه ښوول سوي ده هغه دا ده ، حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا عَلٰٓى اَهْلِهَا: يعني دچا كورته ترهغه وخته پوري مه دا خليږي ترڅوچي دوه كاره ونه كړي اول اِسْتِيْنَاس چي ددي لفظي معنٰى دجمهورو په نزد استيذان يعني اجازت طلب كول دي ، داستيذان په لفظ دَ استيناس ذكر كولوكي اشاره دي طرف ته ده چي دداخليدو څخه مخكي په اجازت حاصلولوكي مخاطب مانوس سي يعني پوه سي چي فلاني دي اوبيره يي وركه سي، دوهم كار دا دي چي كوروالاؤ ته سلام كوي ، ددي مطلب ځينو

مفسرینو حضراتو خودا اخستی دی چی اول اجازت حاصلوی او کله چی کورته ننوزی نوسلام کوی قرطبی
دا اختیار کړي ده چی ددی مطلب په اعتبار سره په آیت کی څه تقدیم او تاخیر نسته ، اول دی اجازت
وغوښتل سی بیا چی کله اجازت ورکول سی ، اوکورته ننوزی ، نو سلام دی وکی او دایی دحضرت
ابو ایوب انصاری ؓ دحدیث مقتضیٰ مقرر کړي ده ، اوماوردی رحمه الله په دی کی دا تفصیل کړی دی چی
که داجازت اخستوڅخه مخکی دکور په یوسړی نظر پریوزی نو اول دی سلام وکی اوبیادی اجازت
وغواړی کنی اول دی اجازت اخلی او کله چی کورته ورننوزی نوسلام دی وکی ، مګر دعامر روایتونو
داحادیثو څخه چی کوم مسنونه طریقه معلومیږی هغه دا ده چی اول دی ددباندی څخه سلام وکی.
اَلسَّلَامُ عَلَیْکُم : ددی څخه وروسته دی خپل نوم واخلی او ودی وایی چی فلانی سړی اجازه ددرتلو غواړی
امام بخاری په الادب المفرد کی دحضرت ابوهریره ؓ څخه روایت کړی دی چی دوی فرمایی کوم سړی چی
دسلام څخه اول اجازت وغواړی ده ته اجازت مه ورکوی (څکه چی ده مسنونه طریقه پرېښوولـه (روح المعانی)
او دابو داود په حدیث کی دی چی دبنی عامر یو سړی دنبی کریم ﷺ څخه داسی اجازت وغوښتی چی
ددباندی څخه یی وویل أَأَلِجُ ایازه دننه درسم؟ نوحضور ﷺ خپل خادم ته وویل چی دا سړی دننه راتلو
داجازت طریقه نه پیژنی دباندی ولاړ سه ده ته طریقه وښیه چی داسی ووایه : اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ أَأَدْخُلُ یعنی
ایازه دننه راتلی سم دا خادم لا دباندی نه ووتللی چی هغه په خپله دنبی کریم ﷺ کلمی واوریدی ، اودغه
دول یی وویل : اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ أَأَدْخُلُ : نو دوی ورته ددننه راتلو اجازت ورکی (ابن کثیر)
او بیهقی په شعب الایمان کی دحضرت جابر ؓ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی ، لَا
تَأْذَنُوا لِمَنْ لَمْ يَبْدَءْ بِالسَّلَامِ یعنی کوم سړی چی اول سلام ونه کړی ده ته ددننه راتلو اجازه مه ورکی
(مظهری) په دی واقعه کی نبی کریم ﷺ دوی اصلاح ګانی وفرمایلی یوه دا چی اول سلام کول په کار دی
، دوهمه دا چی هغه دَادْخُلُ په ځای دَأَلِجُ : لفظ استعمال کی دا منصب نه وو ، څکه چی أَلِجُ د: وُلُوجٌ څخه
مشتق دی ، معنیٰ یی ده په تنګ ځای کی کی دورننوتو دا دتهذیب دالفاظو څخه خلاف وو ، به هرحال
ددی روایتونوڅخه دا معلومه سوه چی دقرآن په ایتونوکی چی کوم دسلام کولوارشاددی داسلام
داستیذان دی کوم چی داجازت حاصلولو دپاره ددباندی څخه کول کیږی ، چی دننه کوم سړی دی هغه
ده ته متوجه سی او کوم الفاظ چی داجازت غوښتلو دپاره یی وایی هغه واوری اوکورته دداخلیدو به
وخت کی به دمعمول مطابق دوباره سلام کوی .

مسئله: اول سلام اوبیا دداخلیدو دپاره داجازت اخستوچی کوم بیان لوړ په احادیثو سره ثابت سو ، په
دی کی ښه دا ده چی اجازت اخستونکی په خپله خپل نوم واخلی اجازت وغواړی لکه چی دحضرت
فاروق اعظم ؓ کار دا وو چی دوی به دنبی کریم ﷺ دروازی ته راغلل او دا الفاظ به یی ویل ، اَلسَّلَامُ
عَلَی رَسُوْلِ اللّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَیْکُم اَیَدْخُلُ عُمَرُ : یعنی دسلام څخه وروسته یی وویل چی عمر داخلیدی سی؟

(رواه قاسم بن اصبغ وابن عبد البر فی التمهید عن ابن عباس ﷺ عن عمر ﷺ ابن کثیر)

او په صحیح مسلم کی دی چی حضرت ابو موسیٰ اشعری ﷺ دحضرت عمر ﷺ خواته ولاړی داجازه غوښتلو دپاره یی دا الفاظ وویل ، اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم هٰذَا اَبُوْ مُوْسٰی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُم هٰذَا اْلاَشْعَرِیُّ، (قرطبی) په دی کی یی هم اول خپل نوم ابو موسیٰ وښووی ، بیایی دزیات توضیح دپاره اشعری ذکر کی او دا ځکه چی ترڅو پوری بنده اجازت غوښتونکی ونه پیژنی نوپه جواب ورکولوکی ورته پریشانی وی ، ددی پریشانی ځخه یی هم مخاطب محفوظ کی.

مسئله: اوپه دی معامله کی دټولو ځخه ناکاره طریقه هغه ده کومه چی ځینی خلګ کوی چی ددباندی ځخه ددننه راتلو اجازت غواړی اوخپل نوم نه ښیی خو چی ددننه ځخه مخاطب پوښتنه وکی ځوك یی؟ نو دی په جواب کی ووایی چی زه یم ځکه چی دا دپوښتنی کوونکی دخبری جواب نه دی چاچی دی ته اول اواز سره ونه پیژندی هغه به یی دَ زه یم په لفظ سره څه وپیژنی.

خطیب بغدادی په خپل جامع کی دعلی بن عاصم واسطی ځخه نقل کړی دی چی دی بصری ته ولاړی نو دحضرت مغیره ابن شعبه ﷺ په خدمت کی دملاقات دپاره حاضر سو په دروازه کی یی اواز وکی حضرت مغیره ﷺ ددننه ځخه پوښتنه وکړه چی ځوك یی؟ نوجواب یی ورکی چی زه یم نوحضرت مغیره ﷺ وفرمایل چی زماپه دوستانوکی خو یو هم داسی نسته چی دهغه نوم آنا (یعنی زه یم) وی اوبیا دباندی راغی حدیث یی ورته واوروی چی یوه ورځ حضرت جابربن عبدالله ﷺ دنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضر سو او داجازت اخستو دپاره یی په دروازه کی اواز وکی ، نبی کریم ﷺ ددننه ځخه پوښتنه وکړه چی ځوك صاحب دی؟ نو جابر ﷺ دالفظ ووایه چی آنا یعنی زه یم حضور ﷺ ورته په طور دزورنی اوخبردارولو وفرمایل، آنا آنا یعنی دآنا آنا ویلو څه مطلب دی؟ په دی سره خو ځوك پیژندل کیږی نه ؟

مسئله: ددی ځخه زیاته ناکاره طریقه دا ده کومه چی نن صبا ډیر تعلیمافته طبقه هم کوی چی دی په دروازه کی اواز وکی او ددننه ځخه اواز راسی چی ځوك یی؟ دی خاموش ودریږی هیڅ جواب نه ورکوی ، په دی سره دکور خاوند زیات په تشویش کی سی او تکلیف ورته رسیږی ، دا ډیره ناکاره طریقه ده په کوم سره چی داستیذان مطلب فوت کیږي.

مسئله: د ذکر سوو روایتونو ځخه داثابته سوه چی داجازت غوښتلو داطریقه هم جائزه ده چی په دروازه کی اواز وسی (یادروازه وټکوی) په دی شرط چی خپل نوم ورسره ظاهرکی چی فلانی راتلل غواړی.

مسئله: لیکن که دروازه ټکوی نو په دومره زورسره دی نه ټکوی چی اوریدونکو وبیریږی بلکه په درمیانه انداز سره دی وټکوی چی اواز یوځه قدر ددننه ولاړسی کوموخلګو چی به دنبی کریم ﷺ دروازه ټکوله نو دهغوعادت دا وو چی په نوکونو سره به یی ټکوله چی حضور ﷺ ته تکلیف ونه رسیږي (رواه الخطیب فی الجامع قرطبی)

کوم سړی چی داجازت اخستو په مقصد باندی پوه سی چی اصل ددی دکور دخاوند دځان سره مانوسه کول دی چی اجازت ورڅخه وغواړی هغه به په خپله ددی ټولو خبرو رعایت ضروری ګڼی په کومو شیانو چی دکور خاوندته تکلیف وی دهغه څخه به ځان ساتی خپل نوم به ښکاره کوی او دروازه به ټکوی په درمیانه انداز سره دا ټول شیان په دی کی شامل دی .

یو ضروری خبرداری : نن صبا خو دټولو داستیذان طرف ته ګرسره توجه نه ده پاته سوی کومه چی صریح ګناه ده (دواجبو دپریښوولو) اوکوم خلګ چی په سنت طریقه سره استیذان کول غواړی دبهرڅخه سلام کوی بیا خپل نوم ښیی اواجازت غواړی ، دهغوی دپاره په دی زمانه کی مشکلات داسی پیښیږی ، چی په عام طور سره دچا څخه چی اجازت غوښتل غواړی هغه د دروازی څخه لیری وی دسلام الفاظ اودخپل نوم اواجازت غوښتو اواز نه ورته رسیږي ، په دی وجه په دی پوهیدل لازمی دی چی اصل واجب داخبره ده چی بغیر داجازته کورته داخل نه سی ، داجازت غوښتلو طریقه په هره زمانه اوهرملک کی مختلف کیدی سی ، په دی کی یوه طریقه د دروازی ټکولو خوپه خپله په حدیث کی ذکر ده ، دغه ډول کوم خلګ چی په خپلو دروازو باندی رنګ لګوی دهغه رنګ وهل هم دواجب استیذان دپاره کافی دی په دی شرط چی درنګ وهلو څخه وروسته خپل نوم هم په داسی اوازسره ظاهر کړی چی دکور خاوند یی واوری ، ددی څخه علاوه بله یوطریقه چی کوم ځای رائج وی دهغه استعمالول هم جائز دی ، نن صبا چی کوم دشناختی کارډ رواج دیورپ څخه شروع سوی دی دارسم که څه هم یورپ والاؤ جوړ کړی دی مګر داستیذان مقصدپه دی کی په ښه طریقه سره پوره کیدی سی چی اجازت ورکوونکی ته داجازت غوښتونکی پوره نوم اوپته په خپل ځای ناست معلوم سی په دی وجه ددی په اختیارولو کی هیڅ باك نسته .

مسئله: که یو سړی دچا څخه اجازت وغوښتی اوهغه وویل چی دا وخت ملاقات نه سی کیدی بیرته ولاړ سه ، نو دا بدګڼل نه دی په کارځکه چی دهرسړی حالات اوضرورتونه مختلف وی ، ځینی وخت هغه مجبوره وی دباندی نه سی راتلی اونه دی دننه بللی سی ، نو په داسی حالت کی دده عذرقبلول په کار دی په ذکر سوی آیت کی دا هدایت دی ، وَاِنْ قِيلَ لَكم ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ اَزْكٰى لَكم : یعنی کله چی تاسی ته وویل سی چی دا وخت ولاړ سی نو تاسی ته په خوشحالی سره تلل په کار دی دا بدګڼل یاهلته کلك کیدل اوکښینستل نه دی په کار ، دځینو تیرو مشرانو څخه نقل دی چی دوی به فرمایل چی زه ټول عمر به دی خواهش کی یم چی یوځای دچاملاقات ته ولاړم اجازت می وغوښتی اوهغه داجواب راکی چی ولاړسه او ماپه دی قرانی حکم عمل وکی او ثواب می حاصل کی ، مګر عجیبه اتفاق دی چی ماته هیڅکله هم دا نعمت نصیب نه سو .

مسئله: اسلامی شریعت دښه ادابو دمعاشرت زده کولو اوټول دتکلیف څخه دمحفوظ کولو دواړه طرف ته معتدل نظام قائم کړی دی په دی آیت کی چی څنګه ملاقات کوونکو ته هدایتونه ورکول سوي دی چی

که په اجازت غوښتلو سره تاسی ته اجازت درکول نه سی او درته وويل سی چی دا وخت بيرته ولاړسه نو ريونکی معذوره ګڼی او په خوشحالی سره واپس کيږی بد يی مه ګڼی، دغه ډول په يو حديث کی ددی بل رخ داسی راغلی دی ، چی نبی کريم ﷺ فرمايی اِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا : مسلمانانو کوم سړی چی په تاپسی دملاقات دپاره راغلی دهغه هم په تاباندی حق دی يعنی دهغه داحق دی چی ځانته يی راوغواړی پادباندی ورسی دهغه سره يوځای سی عزت يی وکی خبره يی واوری بی دڅه سختی مجبوری او عذر څخه دملاقات څخه انکار مه کوه .

مسئله: که دچا دروازی ته ولاړی استيذان دی وکی اوددنه څخه جواب را نه غی نو سنت دا دی چی دوباره بيا استيذان وکی او که بياهم جواب رانه غی نو په دريم وار ، که په دريم وارهم جواب رانه سی ، نو حکم يی بيادغه دَ اِرْجِعُوْا دی ، يعنی واپس کيدل په کار دی ، څکه چی په دری سره ويلو سره تقريباً دا خو متعينه سوه چی اواز يی اوريدلی دی ، مګر يا خو دغه سړی په داسی حالت کی دی چی جواب نه سی ورکولی ، مثلاً په لمونځ ولاړ دی يا په بيت الخلاء کی دی يا غسل کوی ياهسی دا وخت دده سره ليدل نه غواړی ، نو په دواړو حالتونو کی پاته کيدل او پرمخ بياهم ورتکول يانور هم موجب دازار رسولو دی چی ددی څخه ځان ساتل واجب دی او داستيذان اصل مقصد دازار څخه محفوظ کيدل دی .

دحضرت ابوموسیٰ اشعری ؓ څخه روايت دی چی يو وار نبی کريم ﷺ فرمايلی وه ، اِذَا اسْتَاْذَنَ اَحَدُکُم ثَلَاثًا فَلَمْ يُؤْذَنْ لَهٗ فَلْيَرْجِــعْ : يعنی کله چی يو سړی دری واره اجازه وغواړی او څه جواب ورته ورنه کړل سی نو ده ته واپس کيدل په کار دی (ابن کثير بحواله بخاری)

او په مسند احمد کی دحضرت انس ؓ څخه روايت دی چی يو وار نبی کريم ﷺ دحضرت سعدبن عباده ؓ کورته تشريف ورووړی او دسنت مطابق يی دباندی داستيذان (يعنی اجازت غوښتلو) دپاره سلام وکی السلام عليکم حضرت سعدبن عباده ؓ دسلام جواب خو ورکی مګر په کرار سره چی حضور ﷺ يی وانه وری ده ﷺ دوباره اوبيا په دريم وار يی سلام وکی حضرت سعد ؓ به اوريدی او په کرار به يی جواب ورکوی دری واره دداسی کولو څخه وروسته نبی کريم ﷺ بيرته وګرځيدی کله چی سعد پوه سو چی اوس اوازنه راځی نو دکوره راووتی او منډی يی کړی ورپسی او دا عذر يی پيش کی چی يارسول الله! ﷺ ماهر وار ستاسی اواز اوريدی او جواب می هم درکوی مګر کرار به می درکوی چی ستاسی دژبی مبارکی څخه زيات دسلام الفاظ زما په باره کی وويل سی دا به زما دپاره موجب دبرکت وی (حضور ﷺ ورته سنت طريقه وښووله چی په دريم وار جواب را نه سی نو واپس کيدل په کار دی) ددی څخه وروسته حضرت سعد ؓ نبی کريم ﷺ دځان سره خپل کورته راوستی او څه ميلمستيا يی ورته وکړه چی هغوی قبوله کړه .

دحضرت سعد ؓ دا کار دمينی دغلبی په وجه سره وو چی هغه وخت يی ذهن دی طرف ته نه ولاړی چی د

دوارو جهانو سردار په دروازه باندی تشریف فرمادی اوماته فوراً تلل او د دوی قدمونه ښکلول په کار
دی ، بلکه ذهن یی دی طرف ته متوجه سوچی د دوی دژبی مبارکی څخه لفظ دَ السَّلَامُ عَلَیکُم څرګند
واره زیات ووزی زما دپاره به زیاته فائده وی په هرحال ددی څخه دا مسئله ثابته سوه چی دری واره
داجازت غوښتلو څخه وروسته چی جواب رانه سی ، نو سنت دا دی چی ولاړسی هلته تینګ کیدل او
کښینستل دسنتو څخه خلاف دی اودکوروالادپاره موجب دازاردی چی خامخایی په راوتلومجبوره کوی
مسئله: داحکم هغه وخت دی کله چی دسلام یا دروازه ټکولووغیره په ذریعه یی داجازت حاصلولو
کوشش دری واره کړی وی اواوس هلته کلك کیدل اوکښینستل موجب دازاردی ، لیکن که څوك دیر
عالم یا بزرګ په دروازه بغیر داجازت غوښتلو اوهغه ته داطلاع ورکولوپه انتظارکی کښینی چی کله
دخپل فرصت مطابق دباندی تشریف راوړی نو ملاقات به ورسره وکړم نو دا په دی کی داخل نه دی بلکه
عین ادب دی ، په خپله قرآن کریم خلګو ته دا هدایت ورکړی دی چی نبی کریم ﷺ کله په کورکی وی نو
ورته اواز کول او رابلل یی دادب خلاف دی بلکه خلګوته په کار دی چی انتظار کوی څه وخت چی دوی
ﷺ دخپل ضرورت مطابق دباندی تشریف راوړی هغه وخت دی ورسره ملاقات کوی ، آیت دا دی ، وَلَوْ
اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰی تَخْرُجَ اِلَیْهِمْ لَكَانَ خَیْرًا لَّهُمْ : اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی مابه څینی وخت دیو
انصاری صحابی په دروازه باندی ترغرمی پوری انتظار کوی چی کله دی دباندی تشریف راوړی او زه
دیو حدیث تحقیق ورڅخه وکړم اوکه ما دده سره دلیدو اجازت غوښتلی ، نو هغه به خامخا مانه اجازت
راکولی مګر ما داخلاف ادب ګڼله په دی وجه به می دانتظار تکلیف تیروی (بخاری)
لَیْسَ عَلَیْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُیُوْتًا غَیْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِیْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ : دلفظ د: مَتَاعَ لغوی معنی دیو شی
داستعمالولو اودفائدی اخستلو ده اودکوم شی څخه چی فائده اخستل کیږی ، هغه ته هم متاع ویل
کیږی ، په دی آیت کی دمتاع لغوی معنی مراد ده ، چی ترجمه یی داستعمال سره سوي ده ، یعنی
داستعمال استحقاق ، دحضرت صدیق اکبر ﷺ څخه روایت دی چی کله داستیذان دا ذکر سوی آیتونه
نازل سول چی په دی کی بغیر داجازت څخه یوکور ته دداخلیدو ممانعت دی نوصدیق اکبر ﷺ نبی کریم
ﷺ ته عرض وکی چی یارسول الله! ددی ممانعت څخه وروسته به دقریشو تجارت پیشه خلګ څه کوی
څکه چی دمکی او مدینی څخه دشام ملك ته د دوی دتجارت سفرونه وی اوپه دی لاره څای په څای
دوی مسافرخانی جوړی سوی دی دسفر په دوران کی خلګ په دغوکی اوسیږي ، په دغوکی یو څوك
مستقل اوسیدونکی نه وی نو هلته به داستیذان څه صورت وی اواجازت به دچا څخه حاصلوی؟ په دی
باندی دا ذکر سوی آیت نازل سو ، (رواه ابن ابی حاتم مظهری)
ددی شان نزول دواقعی څخه معلومه سوه چی په آیت کی دَبُیُوْت غیرمسکونه څخه مراد هغه مقامات
اومکانونه دی کوم چی دیوخاص سړی یاخاص قوم دپاره په خاص طور سره داوسیدو دپاره نه وی

بلکه دقوم هر سړی ته هلته دتلو اوپاته کیدو اجازت وی ، لکه مسافرخانی کوم چې په ښارونو اوځنګلونوکی ددی غرض دپاره جوړی سوی وی اوعام جماتونه خانقاهونه (یعنی دربارونه) دینی مدرسی هسپتالونه ډاکخانی دریل ګاډی ستیشن هوایی اډی او دقومی تفریحاتو ځایونه غرض دعامی فائدی ټولی اداری په دی حکم کی دی دغه ځایونو ته هرسړی بی داجازت څخه تلی سی .

مسئله: دعامی فائدی دادارو مالکانو یاساتونکو چې په کوموځایونو دداخلی دپاره څه شرطونه لګولی وی اویاڅه پابندی لګولی وی دهغوپابندی شرعًا واجب ده مثلاًدګاډی ستیشن ته بغیر دپلیټ فارم ټکټ څخه داخله ممنوع ده نو دپلیټ فارم ټکټ حاصلول ضروری دی بغیر ددی څخه تلل جائزنه دی دهوایی اډی کومی حصی ته چې دمحکمی دطرف څخه دتللو اجازت نه وی نو هلته بغیر داجازت څخه تلل شرعًا جائز نه دی .

مسئله: دغه ډول په جماتونو مدرسو زیارتونو هسپتالونو وغیره کی چې کومی کمری ددغه ځای دانتظام کوونکو یانورو خلګو داوسیدودپاره مخصوصی وی لکه په جماتونو مدرسو وغیره کی خاصی کمری یا دریلوی ستیشن هوایی اډی هسپتالونو دفترونه او مخصوصی کمری کومی چې دمریضانو یانورو خلګو داوسیدو دپاره وی هغه دبُيُوْتٍ غَيْرَ مَسْكُوْنَة په حکم کی نه دی بلکه دمسکونه په حکم کی دی دغو ته بغیر داجازت څخه تلل شرعًا منع اوګناه ده .

(داستیذان متعلق نوری مسئلې)

کله چې دامعلومه سوه چې داستیذان دشرعی احکامو اصل مقصد دخلګو دتکلیف رسیدو څخه محفوظ کیدل اودحسن معاشرت اداب ښوول دی نودعلت په اشتراك سره ددی لاندی مسئلوحکم هم معلوم سو .

(دټیلیفون متعلق ځینی مسئلې)

مسئله: یوسړی ته داسی وخت ټیلیفون کول کوم چې عادتًادهغه دبیده کیدویاپه نورو ضرورتونوکی یاپه لمونځ کی دمشغولیدو وخت وی بی دسخت ضرورت څخه جائزنه دی ځکه چې په دی کی هم هغه تکلیف رسول دی کوم چې دچاکورته بغیر داجازته په داخلیدوکی اووده په ازادی کی په خلال اچولو سره کیږي .

مسئله: دکوم سړی سره چې اکثره په ټیلیفون خبری کول وی نومناسب دا ده چې دهغه څخه معلومه سی چې ستا سره په ټیلیفون دخبروکولو سهولت څه وخت وی ، اوبیا دهغه پابندی کوی .

مسئله: که په ټیلیفون کی اوږده خبره کول وی نواول دی دمخاطب څخه وخت واخلی چې که تاته فرصت وی ، نو چې زه خپله خبره عرض کرم ځکه چې اکثره داسی کیږي چې دټیلیفون په زنګ راتلو سره بنده طبعًا مجبوره وی چې فورًا معلومه کړی چې څوك دی اوڅه وایی؟ اوپه دی ضرورت سره که هغه په هرځومره ضروری کارکی یاپه هرحال کی وی خو هغه پرېږدی اوټیلیفون لوره وی اوکه بی رحمه سړی دغه وخت اوږده خبره شروع کړی ، نو هغه ته بیا سخت تکلیف وی .

مسئله: ځینی خلک د ټیلیفون ږنګ ږغیږي او دوی هیڅ پرواه نه کوي او نه پوښتنه کوي چی څوک دی اوڅه ویل غواړي دا داسلامی اخلاقو خلاف او دخبری کوونکی حق وهل دی ، لکه چی په حدیث کی راغلی دی اِنَّ لِزَوْرِكَ عَلَيْكَ حَقًّا یعنی کوم سړی چی ستا ملاقات ته راغی دهغه په تا حق دی چی دهغه سره خبری وکی او بی ضرورته د ملاقات څخه انکار مه کوه ، دغه ډول چی کوم سړی ستا سره په ټیلیفون خبری کول غواړي نو دهغه حق دی چی ته ورته جواب ورکړې .

مسئله: دچا کور ته چی د ملاقات دپاره ولاړ سی او داجازت دحاصلولو دپاره ولاړ یاست نو کورته دننه مه ګوره ځکه چی داستیذان مصلحت خو دا دی چی کوم سړی یو شی ستا څخه پټ ساتل غواړي ته په هغه خبر نه سی که ته دمخکی څخه کورته دننه وګوري او هرڅه ووینی نو دا مصلحت خو به فوت سی په حدیث کی ددی سخت ممانعت راغلی دی (رواه البخاری ومسلم عن سهل بن سعد الساعدی) دنبی کریم ﷺ عادت شریف دا وو چی دچا ځای ته به ورلی او داجازت حاصلولو دپاره به ودریدی نو دروازی ته دمخامخ دریدو په ځای به راسته یاچپه طرف ته ودریدی او اجازت به یی غوښتی ، دروازی ته دمخامخ دریدو څخه به یی ځکه ځان ساتی چی اول خو په هغه زمانه کی پردروازو باندی پردی کمی وی او که پرده وه هم خو په هوا دلیری کیدو احتمال خو په هرحال باندی دی (مظهری)

مسئله: کوم کورونو ته چی دا خلیدل په ذکر سوو ایتونو کی بغیر داجازت څخه ممنوع ګرځول سوی دی دا په عامو حالاتو کی دی که اتفاقًا د اور لګیدو یا کور نړیدو څه حادثه پیښه سی ، نو داجازت اخستو څخه بغیر ورتلی سی ، او دامداد کولو دپاره ورتلل په کار دی (مظهری)

مسئله: کوم سړی چی چا راغوښتی وی که هغه دهغه قاصد سره راغلی نو اوس ده ته داجازت غوښتلو ضرورت نسته دقاصد راتلل اجازت دی البته که هغه وخت را نه غی څه وخت وروسته راغی نو اجازت ورته اخستل ضروری دی نبی کریم ﷺ فرمایی . اِذَا دُعِیَ اَحَدُکُم فَجَآءَ مَعَ الرَّسُوْلِ فَاِنَّ ذٰلِكَ لَهٗ اِذْنٌ یعنی کوم سړی چی راوغوښتل سی او دی دقاصد سره راسی ، نو دا دده دپاره اجازت دی (رواه ابوداود ومظهری)

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ

ووایه مؤمنانو ته چی کښته ساتی خپلی سترګی او حفاظت کوی دخپل ستر په دی کی

اَزْكٰى لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ

ښه پاکی ده د دوی دپاره ، بیشکه الله ﷻ خبر دی په هغه چی دوی کوی او ووایه مؤمنانو ښځو ته چی کښته ساتی

مِنْ اَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا

خپلی سترګی او حفاظت دی کوی دخپل ستر او نه دی ښکاره کوی خپل سنګار مګر کوم

ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۠ وَلَا يُبْدِيْنَ

چې ښکاره دي ددې څخه او غورځوي دې خپل څادر په خپلو سینو باندې ، او نه دې ښکاره کوي خپل

زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ اَوْ اٰبَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اَبْنَآئِهِنَّ

سنګار مګر دخپل خاوند په مخکې یادخپل پلار ، یادخپل خاوند دپلار په مخکې یادخپلو

اَوْ اَبْنَآءِ بُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اِخْوَانِهِنَّ اَوْ بَنِيْٓ اَخَوٰتِهِنَّ

زامنو یا دزامنو دخاوند یادخپلو ورونو یا دخپلو وریرو یادخپلو خوریانو

اَوْ نِسَآئِهِنَّ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ اَوِ التّٰبِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ

یادخپلو ښځو یادخپلو لاسونو دمال (مینځو مریو نو) یادخدمت ګارانو هغه سړو چې څه غرض

مِنَ الرِّجَالِ اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۠

نه لري (یعنی دښځوخیال یې نه وي) یا هغه هلکانو چې د ښځو په رازونو باندې لا نه پوهیږي

وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا

اوپه زوره دې نه وهي خپلې پښې په مځکه چې معلوم سي هغه چې دوی یې پټوي ، دخپل سنګار څخه ، اوتوبه

اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۱﴾

کوی الله ﷻ ته ټول په جمع سره ای ایماندارو ! ددې دپاره چې تاسی فلاح پیدا کی .

لنډتفسير

(شپږم حکم دښځو دپرده احکام)

ته مسلمانانو سړوته ووایه چې خپل نظرونه لاندې ساتي (یعنی دکوم اندام طرف ته چې مطلق کتل ناجائز دي هغه ته بالکل مه ګوري اوکوم ته چې فی نفسه کتل جائز دي مګر په شهوت سره جائز نه دي هغه ته په شهوت سره مه ګوري) اودخپلو شرمګاؤ حفاظت کوي (یعنی په ناجائزځای کی شهوت مه پوره کوي چې زنا اولواطت ټول په کښې دا خل دي) دا د دوی زیاته دصفایئ خبره ده (اوددې په خلاف کی

گندګی ده یعنی په زنا یاپه مقدمه دزناکی) بیشکه الله ﷻ ته خبر دی دټولو هغه څه چی خلک یې کړی
(نو خلاف کوونکی به دسزا مستحق وی) او (دغه ډول) مسلمانانو ښځوته ووایه چی (دوی هم خپل
نظرونه لاندی ساتی (یعنی دکوم اندام طرف ته چی مطلق کتل ناجائز دی هغه ته دی بالکل نه ګوری
او کوم ته چی فی نفسه کتل جائز دی مګر په شهوت سره جائز نه دی هغه ته دی په شهوت سره نه ګوری
او دخپلو شرمګاهونو حفاظت دی کوی (یعنی په ناجائزځای کی دی شهوت نه پوره کی چی زنا او سحاق
ټول په کی دا خل دی) او خپل زینت (یعنی ځایونه) دی نه ښکاره کوی (دزینت څخه مراد کالی کړی بنګړی
پای زیبونه بازوبند (بنګړی) امیلونه جُومَر (دتندی دپاره دسرو زرو ستوری) پټی والی وغیره او ددی
دځایونو څخه مراد لاس پندی لیچی مری څټ سر سینه غوږونه یعنی دا ټول ځایونه دټولو څخه پټ ساتی
په لحاظ دهغو دوو استثناګانو سره کومی چی مخ ته راځی او کله چی ددی ځایونو دپردو څخه پټ ساتل
واجب دی دکوموچی دمحرمانو مخامخ یې ښکاره کول جائز دی ، لکه چی مخ ته راځی نونور ځایونه
او اندامونه کوم چی پاته سول لکه شا نس وغیره چی ښکاره کول یې دمحرمانو په مخکی هم جائز نه دی
د دوی پټ ساتل په دلالة النص سره واجب سوه حاصل د اسو چی دسر څخه تر پښو پوری ټول بدن پټ
ساتی دوی استثناوی دکومو ذکر چی لوړ راغلی دی په دی کی اوله استثناء دځایونو دضرورت په
لحاظ سره ده چی روزانه په کار او روزګار کی چی دکومو اندامونو دښکاره کولو ضرورت وی هغه یې
ورڅخه مستثناء ګرځولی دی دهغه تفصیل دا دی) مګر کوم چی په دی (ځایونو دزینت) کی ښکاره وی
(چی په پټولو کی یې هروخت حرج وی مراد ددی زینت دځایونو څخه مخ دلاسو ورغوی او دصحیح قول
مطابق دواړه قدمونه هم دی ځکه چی مخ خو په قدرتی طور سره دټول ښائست ځای دی او ځینی زنانه
په مخ کی قصداً هم کول کیږی مثلاً درنجو سُرخیو پوډرو وغیره ځای دی او ورغوی او ګوتی دګوتمیو
نکریزو وغیره ځایونه ددی ضرورت په وجه مستثناء سول چی ددی دښکاره کولو څخه بغیر کار او
روزګار نه سی کیدی او د مَا ظَهَرَ تفسیر په مخ او ورغیو سره په حدیث کی راغلی دی او قدمونه ئې هم
پردی قیاس کړی او شامل کړی یې دی) او (خاص کر دسر او سینی دپټولو ډیر اهتمام دی کوی او) خپلی
لوپټی مو (کومی چی دسرپټولو دپاره دی) پرخپلو سینو راغورځوی (که څه هم سینه خو په قمیص پټه
وی لیکن په قمیص کی اکثره ګریوان خلاص وی او دسینی هیئت دقمیص باوجود ښکاره کیږی په دی
وجه دا اهتمام ضرورت سو ، مخ ته دوهمه استثناء بیانیږی چی په دی کی یې محرمان سړی وغیره دپردی
دذکر سوی حکم څخه مستثناء کړی دی) او خپل دزینت (ځایونه دهیچا په مخکی) مه ظاهروی مګر
دخپلو خاوندانو (خپلو محرمانو یعنی) خپل پلار یا دخپل خاوند پلار یا خپلو زامنو یا دخپل خاوند
دزامنو یا دخپلو (حقیقی یا یوازی پلار راوړی یا یوازی مور راوړی) وروڼو (نه دا چی داکا دزامنو یا ماما
وغیره دزامنو په مخکی) یا دخپلو (دی ذکر سوو) وروڼو دزامنو یا دخپلو (حقیقی یا یوازی پلار راوړو یا

يوازې مور راوړو) خويندو دزامنو په مخكې (نه دا چې داكا ياعمه دلونو دزامنو په مخكې) ياد خپلو
يعنې دين شريكو) ښځوپه مخكې (مطلب دا دى چې د مسلمانانو ښځوپه مخكې ښكه چې د كافرو
ښځوحكم په مثل د پردي سړي دى دا روايت په دُرّكې د طاوس مجاهد عطا سعيد بن المسيب او ابراهيم
ښځه نقل دى) يا دخپلو مينځو په مخ كې (مطلقًا كه څه هم كافرې وي ،ځكه چې د غلام سړي حكم په شان
دپردي سړي دى دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد او پرده كول ورڅخه واجب دى دا روايت په دُرّكې دى
دطاوس مجاهد عطاء سعيدبن المسيب اوابراهيم څخه) يا دهغو سړو په مخكې كوم چې (دخوراك
څښاك دپاره په طور د) دتابعينو وي او د دوى (په وجه دحواسو دخرابيدو دښځو طرف ته) يوه ذره توجه
نه وي (دتابعينو تخصيص ځكه دى چې په هغه وخت كې داسې خلك موجود وه لكه چې په دُرّكې دابن
عباس رضي الله عنه څخه نقل دى او په دې حكم كې دې هريو هغه چې عقل يې بې كاره وي نو مدار دحكم دعقل
پربې كاره كيدو دى نه دا چې پرتابع اوطفيلي والي باندې مگر دغه وخت دغه تابعان داسې وه په دې
وجه دتابع ذكريې وكې په وجه دقول دابن عباس رضي الله عنه په دُرّكې ، مُغَفَّلٌ فِيْ عَقْلِهِ اَحْمَقُ لاَ يَكْتَـرِثُ لِلنِّسَآءِ :
اوكوم چې عقل لري هغه په هرحال اجنبي سړي دى كه څه هم بوډا ياخصي يامجبوب ولې نه وي دده څخه
پرده واجب ده) يا دداسې هلكانوپه مخكې كوم چې دښځو دپردې په خبرو باندې پوه نه وي (مراد ورڅخه
هغه كوچنيان دي چې لابلوغ ته نه وي نژدې سوي او دشهوت څخه خبرنه وي ، پس ددې تولو په مخكې
دوراغوو اوقدمونو څخه علاوه دبناست دغه ذكرسوي ځايونه ظاهرول هم جائز دي يعنې سر اوسينه
اودخاوند په مخكې ديوځاى هم پټول واجب نه دي ، كه څه هم دغه خاص اندام ته كتل خلاف اولى دى ،
قَالَتْ سَيِّدَتُنَا اُمُّ الْمُؤْمِنِيْنَ عَآئِشَةَ رضي الله عنها مَا مُحَصَّلَهُ لَمْ اَرَ مِنْهُ وَلَمْ يَرَ مِنِّىْ ذٰلِكَ الْمَوْضِعَ اَوْرَدَهُ فِى الْمِـشْكوٰةِ وَرَوَى
بَقِى ابْنُ مخلد وَابْنِ عَدِىٍّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَرْفُوْعًا اِذَا جَامَعَ اَحَدُكُم زَوْجَتَهُ اَوْجَارِيَتَهُ فَلاَ يَنْظُرُ اِلىٰ فَرْجِهَا فَاِنَّ ذٰلِـكَ
يُوْرِثُ الْعَمْىَ قَالَ ابْنُ صَلاَحٍ جَيِّدُ الْاِسْنَادِ كَذَا فِى الْجَامِعِ الصَّغِيْرِ : او (دپردې ترډې پورې اهتمام كوي چې په
تلوكې) خپلې پښې په زوره مه وهي چې پټ كالي معلوم سي (يعنې دكالو اواز دغير محرمو غوږونو ته
ونه رسيږي) اومسلمانانو (ستاسې څخه چې كومه كوتاهي په دې احكاموكې سوې وي نو) تاسې ټول
دالله ﷻ په مخكې توبه وكړئ چې تاسې فلاح پيدا كئ (كه نو نافرماني دكاملې فلاح دپاره مانعه كيږي)

معلومات او[redacted]

(دفواحشو بندولو او دپاكې دحفاظت يو مهم باب دښځو پرده)

دښځو دپردې اولنۍ ايتونه هغه دي كوم چې په سورة احزاب كې دام المومنين حضرت زينب بنت جحش
رضي الله عنها دنبي كريم ﷺ په نكاح كې دراتلو په وخت نازل سو چې تاريخ يې ځينې حضرات سنه ۳ هجري اوسنه ۵
هجري وايي ، په تفسير ابن كثير اونيل الاوطاركې يې ترجيح سنه ۵ هجري ته وركړې ده اوپه روح
المعانى كې دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت نقل كړى دى چې په ذي القعده سنه ۵ هجري كې دانكاح سوي

ده اوپر دی دټولو اتفاق دی چی دپردی اولنی ایتونه په دی موقع نازل سوه او دسورة نور دا ایتونه دافک
دقصی سره نازل سوی دی کومه چی دغزا دبنی المصطلق یا مریسیع څخه په واپسی کی پیښه سوه ، دا
غزا په سنه ۶ هجری کی سوی ده ، ددی څخه معلومه سوه چی دسورة نور ایتونه دپردی دنزول په اعتبار
سره وروسته راغلی دی دسورةِ احزاب څلور آیتونه دپردی متعلق دنزول په اعتبار سره مخکی دی او
دشرعی پردی احکام دهغه وخت څخه شروع سول کله چی دسورةِ احزاب ایتونه نازل سول ، په دی وجه
دحجاب اوپردی پوره بحث خو به ان شآء الله تعالی په سورة احزاب کی راسی دلته صرف ددی ایتونو
تفسیر لیکل کیږی کوم چی په سورة نورکی را غلی دی .

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ذٰلِكَ اَزْكٰى لَهُمْ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا يَصْنَعُوْنَ يَغُضُّوْا د: غَضٌّ څخه
مشتق دی چی معنی یی کمول اوکښته کول دی «راغب» ترنظر لاندی اوکښته لرلوڅخه مراد نظر دهغو
شیانو څخه راګرځول دی دکوموطرف ته چی شرعًا کتل ممنوع اوناجائز دی (ابن کثیر) ابن حبان یی دا
تفسیر فرمایلی دی ، په دی کی غیر محرمی ښځی ته په بدنیت سره کتل تحریمًا اوبغیر دځه نیت څخه
کتل کراهتً دا خل دی او دچا ښځی یاسړی شرعی سترته کتل هم په دی کی دا خل دی (دضرورت ځایونه
لکه دعلاج معالجی وغیره ددی څخه مستثنا دی) دچا دراز معلومولو دپاره دچا کورته دننه په دروازه یا
تنبه وغیره کی کتل اوټول هغه کارونه په کوموکی چی نظر استعمالول شریعت ممنوع ګرځولی دی په
دی کی دا خل دی .

وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ : دشرمګاهونو دحفاظت څخه مراد دا دی چی دنفس دخواهشونو پوره کولو څومرا
ناجائزی طریقی اوصورتونه چی دی هغه ټول په دی کی دا خل دی چی ددغو ټولو څخه خپل شرمګاهونه
محفوظ وساتی ، په دی کی زنا لواطت او د دوو ښځو دیو بل سره سِحاق چی شهوت په پوره سی په
لاس سره شهوت پوره کول دا ټول په ناجائزو اوحرامو شیانو کی دا خل دی ، مراد ددی ایت ناجائز
اوحرام شهوت پوره کول او ددی ټول مقدمات ممنوع کول دی چی په هغوکی یی دابتداء اوانتهاء په
توضیح سره بیان وکی باقی درمیانی ټولی مقدمی په دی کی دا خلی سوی دشهوت دفتنی دټولوڅخه
اولنی سبب اومقدمه نظر کول اوکتل دی اواخری نتیجه یی زناده ددی دواړو ذکر یی په توضیح سرا
وکی اوحرام یی کړل او د دوی په مینځ کی حرامی مقدمی مثلاً خبری کول لاسونه وروړل وغیره دا ټول
په کښی ضمنًا را غلل .

ابن کثیر دحضرت عبیده رحمه الله څخه نقل کړی دی چی : كُلُّ مَا عَصَى اللّٰهَ بِهٖ فَهُوَ كَبِيْرَةٌ وَقَدْ ذَكَرَ الطَّرَفَيْنِ
یعنی په کوم شی چی دالله ﷻ دحکم مخالفت کیږی دغه ټول کبیره ګناهونه دی لیکن په آیت کی یی
دهغو د دوو طرفونو دابتداء اوانتهاء ذکر وکی ، ابتداء نظر ورته کول اوکتل اوانتهاء یی زناده
طبرانی دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی دی ، چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی

اَلنَّظَرُ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيْسَ مَسْمُوْمٌ مَنْ تَرَكَهُ مَخَافَتِي أَبْدَلْتُهُ إِيْمَانًا يَجِدُ حَلَاوَتَهُ فِي قَلْبِهِ (ابن کثیر)
نظر یوزهری غشی دی دشیطان دغشو څخه کوم سړی چی سره دزړه دتقاضا څخه خپل نظر واپس کی نو زه به هغه ته په بدله کی داسی پوخ ایمان ورکړم چی خوندبه یی دی په زړه کی محسوس کی.
او په صحیح مسلم کی دحضرت جریربن عبدالله بجلی ﷺ څخه روایت دی چی دوی دنبی کریم ﷺ څخه روایت کړی دی چی که په غیر ارادی طور سره دچانظر په غیر محرم ښځی باندی لویږی، نوڅه کول په کار دی؟ نبی کریم ﷺ حکم وکی چی خپل نظر دغه وخت واپس کی (ابن کثیر)
دحضرت علی کرم الله وجهه په حدیث کی چی کوم دا راغلی دی چی اول نظر خو معاف دی دوهم گناه ده دهغه مطلب هم دا دی چی اولنی نظرکوم چی بی دارادی څخه ناڅاپه پریوزی دغه دغیرِ اختیاری کیدو په سبب معاف دی، کنه نو په قصد سره اولنی نظر هم معاف نه دی.

(بی ږیری هلکانو ته دقصدًا نظر کولو هم دا حکم دی)

ابن کثیر رحمه الله لیکلی دی چی ډیرو مشرانو دامت به دبی ږیری هلك طرف ته دکتلوڅخه ډیره په سختی سره منع کوله اوډیرو عالمانو دی ته حرام ویلی دی (غالبًا دا په هغه صورت کی دی کله چی په بدنیت او دنفس په خواهش سره نظر وکړل سی، والله اعلم

(غیر محرم ته کتل حرام دی ددی تفصیل)

وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ: الاية ددی اوږ دایت په شروع حصه کی خو هغه حکم دی کوم چی ددی څخه په مخکی آیت کی سړو ته سوی وو چی خپل نظرونه کښته ساتی، یعنی واپس کوی یی دسړو په حکم کی خوښځی هم دا خلی وی، مگر د دوی ذکر یی جلا دتاکید دپاره کړی دی، ددی څخه معلومه سوه چی ښځو ته ماسوا دخپلو محرمانو څخه بل سړی ته کتل حرام دی، دډیرو عالمانو قول دا دی چی غیر محرم سړی ته کتل دښځی دپاره قطعًا حرام دی، برابره خبره ده که په شهوت اوبد نیت سره گوری اوکه بغیر دڅه نیت او دشهوت څخه په دواړو صورتونوکی حرام دی او په دی باندی یی دحضرت ام سلمه ﷺ دحدیث څخه دلیل نیولی دی په کوم کی چی ذکر دی چی یوه ورځ ام سلمه ﷺ اومیمونه ﷺ دواړی دنبی کریم ﷺ سره وی چی ناڅاپه عبدالله ابن ام المکتوم ﷺ ړوند صحابی ﷺ راغی او دا واقعه دپردی داحکامو دنازلیدو څخه وروسته پیښه سوی وه، نونبی کریم ﷺ مونږ دواړوته حکم وکی چی دده څخه پرده وکی ام سلمه ﷺ عرض وکی چی یارسول الله! دی خو ړوند دی نه مونږ لیدی سی اونه موپیژندی سی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی تاسی خو ړندی نه یاست، تاسی خو هغه لیدی سی (رواه ابوداود والترمذی وقال الترمذی حدیث حسن صحیح)
اونورو خینو فقهاوُ ویلی دی چی بغیر دشهوت څخه پردی سړی ته په کتلوکی دښځی دپاره باك نسته، دوی دحضرت عائشه صدیقه ﷺ په هغه حدیث سره دلیل نیولی دی په کوم کی چی ذکر دی چی دمسجد

نبوی په اخاطه کی ځینی حبشیانو ځوانانو داختر په ورځ خپله دسپاهی ګیری لوبه کوله ، نبی کریم ﷺ
یی تماشه کوله اوعائشه صدیقه ﷺ هم دده ﷺ شاته ولاړه وه لوبه یی کتله اوتر هغه وخته پوری یی کتله
ترڅو چی په خپله ورڅخه ستړی سوه، نبی کریم ﷺ دا نه وه منع کړی ، اوپردی دټولو اتفاق دی چی نظر
دشهوت حرام دی اوبی دشهوت ښځه نظر کول هم خلاف اولی دی ، او دیوی ښځی دبلی ښځی دستر
ځای ته کتل بغیر دخاصو ضرورتونو دا هم ددی آیت په الفاظو سره حرام دی ، ځکه چی لکه څنګه چی
لوړ بیان سوی دی چی دستر ځایونه یعنی دسړو دنامه څخه تر زنګنو پوری او دښځو ټول بدن بغیر دمخ
اوورغوو څخه دا ځایونه دستر دی ددی پټول دټولو څخه فرض دی (۱) نه یو سړی دبل سړی سترته کتلی
سی اونه یوه ښځه دبلی ښځی سترته کتلی سی اوچی سړی دیوښځی یاښځه دیو سړی سترته ګوری دا
خو په درجه اولی سره حرام دی او دذکر سوی آیت دغضِ بَصَر دحکم څخه خلاف ده ، ځکه چی دایت
مطلب کوم چی لوړ بیان سوی دی په دی کی دهر داسی شی څخه نظرکښته کول اواړول مراد دی دکوم
طرف ته کتل چی شریعت منع کړي دی په دی کی ښځی ته دښځی ستر ته کتل هم دا خل دی .

وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ الاية زينت
دلغوی معنی په اعتبار سره هغه شی ته ویل کیږی په کوم سره چی انسان خپل ځان ښائسته کوی هغه
شایسته کیږی هم کیدی سی کالی هم دا شیان چی کله دښځی پر بدن باندی نه وی بلکه ورڅخه جلا وی
، نو په اتفاق دامت سره دهغو لیدل دسړو دپاره حلال دی ، لکه په بازارکی دښځو خرڅیدونکی کپړی
اوکالی چی دغو ته په کتلوکی هیڅ باك نسته ، په دی وجه جمهور مفسرین په دی آیت کی دزینت څخه
مراد محل دزینت یعنی هغه اندامونه کوموته چی دزینت داشیان کالی وغیره اغوستل کیږی هغه
مراداخیستی دی او معنی دایت دا ده چی ښځوته واجب دی چی هغه خپل زینت یعنی دزینت ځایونه نه
ښکاره کوی (کذا فی الروح)
په دی آیت کی چی یی دښځو پاره کوم دزینت دځایونو ښکاره کول حرام کړی دی ، مخ ته ددی حکم
څخه دوی استثناګانی بیان فرمایی یوه دمنظور یعنی چاته چی کتل کیږی دهغه په اعتبار سره اوبله
دناظر یعنی دکتونکو په اعتبار سره .

(دپردی داحکامو څخه استثناء)

اوله استثناء دَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا . ده یعنی دښځی دپاره دخپل زینت څه شی دسړو په مخکی ظاهرول جائزنه
دی بغیر دهغو شیانو څخه کوم چی خود بخوده ظاهرېږی یعنی دکار روزګار اوګرځیدو راګرځیدو په
وخت کی چی کوم شیان عادتًا ښکاره کیږی اوپټول یی عادتًا مشکل وی هغه مستثنی دی دهغو په
ښکاره کیدوکی ګناه نسته (ابن کثیر)

---

(۱) یعنی دټولو غیرِ محرمو څخه دمحرم بیان مخ ته را روان دی، محمد تقی عثمانی ۱۴۱۹ هـ

مراد ددغو څخه څه دی؟ په دی کی دحضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ اوحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ تفسیرونه مختلف دی ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ فرمایی چی په مَا ظَهَرَ مِنۡهَا کی یی چی کوم شی مستثنی کړی دی هغه په سربیره کپړی لکه برقع یاغټ څادر کوم چی دبرقعی په ځای وی داکپړی دزینت دکپړودپټولو دپاره استعمالیږی ، نو مراد دایت به داسی چی دزینت یو شی ظاهرول جائز نه دی، بغیر دهغو سربیرنو کپړو څخه دکومو پټول چی دباندی دوتلو په ضرورت سره ممکن نه دی لکه برقع وغیره اوحضرت ابن عباس ﷺ فرمایی چی ددی څخه مراد مخ اوورغوی دی ، ځکه چی ښځه کله په یوضرورت سره په دباندی وتلو مجبوره وی ، نو دګرځیدو راګرځیدو او دورکړی راکړی په وخت کی دمخ او ورغوو پټول مشکل وی ، په دی وجه دحضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ دتفسیر مطابق خو دغیر محرمو سرو په مخکی ښځی ته مخ اولاس ښکاره کول هم جائز نه دی صرف سربیره کپړی برقع وغیره په ضرورت سره مستثنی دی او دحضرت ابن عباس ﷺ دتفسیر مطابق مخ او دلاسو ورغوی هم دغیر محرمو په مخکی ښکاره کول جائز دی ، په دی وجه دامت فقهاؤ هم په دی مسئله کی اختلاف کړی دی چی مخ او ورغوی دپردی څخه مستثنی او دغیر محرموپه مخکی یی ښکاره کول جائز دی اوکه نه دی مګر پر دی دټولو اتفاق دی چی که په مخ اوورغوو دنظر اچولو څخه دفتنی بیره وی ، نو هغو ته کتل هم جائز نه دی او ښځو ته ددی ښکاره کول هم جائز نه دی ، دغه ډول پردی هم دټولو اتفاق دی چی ستر دعورت کوم چی په لمونځ کی اجماعًا اوخارج دلمونځ څخه په صحیح روایت سره فرض دی ددی څخه مخ او ورغوی مستثنی دی که دابښکاره وی اولمونځ کوی نوپه اتفاق سره صحیح او درست به سی .

قاضی بیضاوی اوخازن ددی آیت په تفسیرکی فرمایی چی مقتضا دایت دا معلومیږی چی دښځی دپاره اصل حکم دا دی چی دا دخپل زینت څه شی هم ظاهرنه کی بغیر دهغه څخه کوم چی په ګرځیدو راګرځیدو او کار او روزګار کی عادتًا ښکاره کیږی په دی کی برقع اوڅادر هم دا خل دی اومخ او ورغوی هم چی کله ښځه په څه مجبوری اوضرورت سره دباندی وزی نو دبرقعی اوڅادر ښکاره کیدل خومتعین دی او دورکړی راکړی په ضرورت کی ځینی وخت مخ او ورغوی هم ښکاره کیږی ، نو دغه هم معاف دی ګناه په کښی نسته ، لیکن ددی آیت څخه دا هیڅکله ثابته نه ده چی سرو ته مخ او ورغوو ته کتل بی ضرورته جائز دی بلکه سرو ته خو دا حکم دی چی نظر کښته ساتی که ښځه چیری دمخ او لاسونوپه ښکاره کولو مجبوره سی نوسرو ته لازم دی چی بی دشرعی عذر څخه أوبی دضرورت څخه دی ته نه ګوری ، په دی توجیه کی دواړه روایتونه اوتفسیرونه یوځای کیدی سی ، دامام مالك مشهور مذهب هم دا دی چی دغیرِ محرمی ښځی مخ او ورغووته کتل بغیر دمباح ضرورت څخه جائز نه دی او په زواجرکی ابن حجر مکی شافعی دامام شافعی هم دامذهب نقل کړی دی چی که څه هم دښځی مخ او ورغوی په فرض ستر دعورت کی دا خل نه دی خو ددی په ښکاره کولو هم لمونځ کیږی مګر غیرِ

محرومو سړو ته دي ته کتل بې دشرعي ضرورت څخه جائز نه دي .
اودالوړ معلومه سوي ده چې کومو فقهاؤ مخ او ورغوی لیدل جائز ګڼلي دي هغوی هم په دي متفق دي
چي که دفتنې بيره وي نومخ وغيره ته کتل هم جائز نه دي او دا ظاهره ده چي دحسن اوزينت ټول مرکز
دانسان مخ دي او زمانه دفتنې اوفساد اوغلبې دهوا هوس او غفلت ده ، په دي وجه بغير دمخصوص
ضرورتونو څخه مثلاً علاج معالجه ياڅه سخته خطره وغيره ښځي ته دغير محرمو په مخکې قصداً مخ
ښکاره کول هم منع دي اوسړو ته هم دوی ته قصداً نظر کول هم بغير دشرعي ضرورت څخه جائز نه دي .
په ذکر سوي آيت کي دظاهري زينت داستثناء څخه وروسته ارشاددي ، وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ
يعني لوپټه دي په خپله سينه باندي اچولي ساتي .
خُمُر دخِمَار جمع ده هغه کپړي ته وايي کومه چي ښځي په سر باندي استعمالوی اوغاړه اوسينه يې په
پټه سي ، جُيُوب دجيب جمع ده معنٰی يی ده ګريوان چونکه دپخواني زماني څخه دګريوان په سينه
باندي دجوړولو عادت دي په دي وجه دګريوانونو دپټولو څخه مراد دسيني پټول دي .
دايت په شروع کي دزينت دښکاره کولو ممانعت وو په دي جمله کي دزينت دپټولو تاکيد او ددي ديو
صورت بيان دي چي اصل وجه يي دجاهليت ديو رسم ماتول دي ، دجاهليت په زمانه کي به ښځو لوپټه
په سر واچوله او دواړه سرونه به يي شاته ايله کړه چي ګريوان سينه غاړه اوغوږونه به يي ښکاره وه ، په
دي وجه مسلمانانو ښځوته حکم وسو چي دوی دي داسي نه کوي بلکه دلوپټي دواړه سرونه دي پريوبل
راواړوي چي دا ټول اندامونه په پټ سي (رواه ابن ابی حاتم عن ابن جرير روح)
مخته بله استثناء دهغو سړو بيان سوي ده دکومو څخه چي شرعًا پرده نسته ددي دوی وجهي دي اول
خوکوم سړي چي يي مستثنٰی کړي دي د دوی څخه دفتنې خطره نسته دغه محارم دي دکومو چي
طبيعتونه حق تعالی داسي پيدائشي جوړ کړي چي هغوی ددي ښځو دپاکي محافظ وي د دوی څخه په
خپله دڅه فتنې احتمال نسته ، دوهم هر وخت په يوځای د اوسيدو ضرورت هم داساني پيدا کولو
مقتضي دي ، دا هم يادساتل ضروري دي چي دخاوند څخه علاوه نورمحارم کوم چي يي مستثنٰی کړي
دي هغه دپردي اوحجاب داحکامو څخه استثناء ده دستر دعورت څخه استثناء نه ده دښځي چي کوم
بدن په ستر کي داخل دي او دکوم ښکاره کول چي په لمانځه کي جائزنه دي هغه ته کتل دمحرم دپاره هم
جائزنه دي (۲) په دي آيت کي داته قسمونو محرمو سړو اوځلورو نورو قسمونو دپردي څخه استثناء
سوي ده او دسورة احزاب په آيت کي کوم چي په نزول کي ددي څخه مخکي دي په هغه کي صرف داوو
قسمونو ذکر دي دپنځو اضافه دسورة نور په آيت کي سوي ده کوم چي دهغه څخه وروسته نازل سوي دي

(۲) دلته په مسئله کي لږ تفصيل دي چي دبيانولو څخه پاته سوی دی هغه تفصيل دادی چي دښځي دستر هغه حصه چي دنامه اودګوډو ترمينځ ده اوګېډه اوملا دمحرم دپاره هم کتل جائز نه دي البته ددي څخه

علاوه دبدن نوري حصې، مثلاً سر مروند پنډۍ وغیره دمحرم په مخکی ښکاره کولی سی البته چونکی زمانه دفتنی ده په دی وجه بغیردضرورت ښځه دښکاره کولوعادت جوړول مناسب نه دی شاید په دی وجه حضرت مصنف دلمونځ ستر دمحرم ستر مقرر کړی دی ، والله اعلم (محمد تقی عثمانی سنه ۱۴۱۹ھ)

خبرداری: یاد ساتل په کار دی چی دلته لفظ دمحرم په عامه معنٰی کی استعمال سوی دی په کوم کی چی خاوند هم شامل دی دفقهاؤ په اصطلاح کی دمحرم چی کوم خاص تفسیر دی چی دچاسره هیڅکله هم نکاح جائز نه وی هغه دلته مراد نه دی ، تفصیل ددی دولسو مستثنٰی سوو کوم چی دسورۂ نور په دی آیت کی دی دا دی .

دټولو ښځه اول خاوند دی دکوم ښځه چی دښځی دیو اندام پرده نسته که څه هم خاص اندامونو ته بی ضرورته کتل خلاف اولی دی حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایی مَا رَاَی مِنِّیْ وَلاَ رَاَیْتُ مِنْهُ یعنی نه زما ده ﷺ خاص اندام لیدلی دی او نه ما دده .

دوهم خپل پلار دی په کوم کی چی نیکه ورنیکه ټول دا خل دی .

دریم دخاوند پلار دی په دی کی هم نیکه ورنیکه ټول دا خل دی .

څلورم خپل زامن دی چی ددی ښځه پیدا وی .

پنځم دخاوند زامن کوم چی دبلی ښځی ښځه وی .

شپږم خپل وروڼه په دی کی حقیقی هم دا خل دی او یوازی په پلار شریك یعنی علاتی او یوازی په مور شریك یعنی اخیافی هم، لیکن دماما اکا عمه زامن کوموته چی په عرف کی وروڼه ویل کیږی دوی په کښی دا خل نه دی دغه غیر محرم دی .

اووم دوروڼو زامن دلته هم صرف دحقیقی یاعلاتی یا اخیافی وروڼو زامن مراد دی ، نور دعرفی وروڼو زامن په کی شمار نه دی .

اتم دخوندو زامن په دی کی هم دحقیقی علاتی اخیافی خوندو زامن مراد دی ، داکا ماما عمه دلونو زامن مراد نه دی دا اته قسمونه خو دمحارمو دی .

نهم قسم، اَوْنِسَآئِهِنَّ یعنی خپلی ښځی دکومو ښځه چی مرادمسلمانی ښځی دی چی د دوی په مخکی هم هغه ټول ځایونه ښکاره کول جائز دی کوم چی دپلار اوزامنوپه مخکی ښکاره کولی سی او دا لوړ لیکل سوی دی چی دا استثناء دپردی دحکمونو ده دستر دحکمونو ښځه نه ، په دی وجه کوم اندامونه چی یوه ښځه دخپل محرم سړی په مخکی نه سی ښکاره کولی دهغه ښکاره کول دیوی مسلمانی ښځی په مخکی هم جائز نه دی دعلاج معالجی وغیره ضرورتونه ورځخه مستثنٰی دی .

نِسَآئِهِنَّ: دمسلمانانو ښځو دقید ځخه دا معلومه سوه چی دکافرو مشرکو ښځو ځخه پرده واجب ده ، دغه دغیر محرم سړو په حکم کی دی ابن کثیر دحضرت مجاهد ځخه ددی آیت په تفسیر کی نقل کړی دی چی

ددې څخه معلومه سوه چې مسلماني ښځې ته جائز نه دي چې دکافرې ښځې په مخکې خپل اندامونه ښکاره کړي لیکن په صحیح احادیثوکې داسې روایتونه موجود دي ، چې په هغه کې دکافرو ښځو دازواج مطهراتو خوا ته تلل ثابت دي ، په دې وجه په دې مسئله کې دمجتهدینو امامانو اختلاف دی ځینو کافرې ښځې په مثل دغیر محرمو سړو مقررې کړې دي ، ځینو په دې معامله کې دمسلمانانو او کافرو دواړه قسمه ښځو حکم یو ګڼلی دی چې دهغو څخه پرده نسته ، امام رازي رحمه الله فرمایي چې اصل خبره دا ده چې په لفظ دَ نِسَآئِهِنَّ کې ټولې مسلمانې اوکافرانې ښځې دا خلې دي او دتېرو مشرانو څخه چې کوم دکافرو ښځو څخه دپردې کولو روایتونه نقل دي هغه په مستحب والي باندې مبني دي ، په روح المعاني کې مفتي بغداد علامه آلوسي رحمه الله دا قول اختیار کړی دی فرمایي ، وَهٰذَا الْقَوْلُ اَرْفَقُ بِالنَّاسِ الْيَوْمَ فَإِنَّهُ لَا يَكَادُ يُمْكِنُ احْتِجَابُ الْمُسْلِمَاتِ عَنِ الذِّمِّيَّاتِ : دا قول نن صبا دخلګو دحال مناسب دی ځکه چې په دې زمانه کې دمسلمانانو ښځو دکافرو ښځو څخه پرده کول تقریباً ناممکن سوې دی.

لسم قسم ، اَوْمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ : دی یعنې هغه کوم چې ددې ښځو غلامان وي ، ددې الفاظو په عموم کې خوغلامان اومینځې دواړې داخلې دي ، لیکن داکثرو فقهاؤ امامانو په نزد ددې څخه مراد صرف مینځې دي غلامان سړي په دې کې دا خل نه دي ، د دوی څخه دعامو محارمو په شان پرده واجب ده حضرت سعیدبن مسیب رضي الله عنه په خپل اخري قول کې فرمایي ، لَا يَغُرَّنَّكُمْ اٰيَةُ النُّوْرِ فَإِنَّهُ فِي الْاِنَاثِ دُوْنَ الذُّكُوْرِ: یعنې تاسې خلګ دسورة نور په دې آیت په غلطۍ کې رانه سي چې ، دَ اَوْمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ الفاظ عام دي مراد یې غلامانو ته هم شامل دي لیکن واقعه داسې نه ده ، دا ایت صرف دښځو یعنې دمینځو په حق کې دي سړي غلامان په دې کې دا خل نه دي حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه حسن بصري رحمه الله ابن سیرین رحمه الله فرمایي چې غلام سړي ته دخپلې مالکې ښځې وریښته لیدل جائز نه دي (روح المعاني)

پاته سو دا سوال چې کله دلفظ دَ اَوْمَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُنَّ : څخه صرف مینځې ښځې مراد دي ، نو دا خو ددې څخه په مخکې لفظ نِسَآئِهِنَّ کې دا خلې دي د دوی دجدا بیانولو ضرورت څه وو؟ ددې جواب جصاص رحمه الله دا ورکړی دی چې لفظ دَ نِسَآئِهِنَّ په خپل ظاهري اعتبارسره صرف دمسلمانانو ښځو دپاره دی اومملوکې مینځې که کافرې وي نو دهغو دمستثنٰی کولو دپاره دالفظ جدا راوړل سوی دی.

یولسم قسم ، اَوِ التَّابِعِيْنَ غَيْرِ اُولِي الْاِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ : حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمایي چې ددې څخه مراد هغه غافله اوبد حواسه قسم خلګ دي دکوموچې دښځوطرف ته څه رغبت او دلچسپي نه وي (ابن کثیر) او دا مضمون ابن جریر دابو عبدالله ابن جُبیر ابن عطیه وغیره څخه نقل کړی دی په دې وجه ددې څخه مراد هغه سړي دي کوم چې دښځو طرف ته نه څه رغبت اوشهوت لري نه د دوی دښائست اوحسن اوحالاتو سره څه دلچسپي لري چې نورو خلګو ته یې بیان کې په خلاف دمخنث قسم خلګو څخه کوم چې دښځو دخاص اوصافو سره تعلق لري د دوی څخه هم پرده واجب ده لکه چې دحضرت عائشه رضي الله عنها په

بوحدیث کی دی چی یو مخنّث به دازواج مطهراتو خواته راتلی او امهات المومنین به دی ، غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ
مِنَ الرِّجَالِ : کښی کوم چی په دی آیت کی ذکر دی ، نو دده څخه به یی سترنه کوی نبی کریم ﷺ چی کله دی
ولیدی او دده خبری یی واوریدی ، نو کورونو ته یی دداخلیدو څخه دی منع کړی (روح المعانی)
په دی وجه ابن حجرمکی رحمه الله په شرح منهاج کی فرمایلی دی چی سړی که نامرد وی اوکه اندام
پریکړی وی یا ډیر بوډا وی خو په دی غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ کی داخل نه دی ، ددی تولو څخه پرده واجب ده ، په
دی کی دَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ : دلفظ سره چی کوم ،ذَالتَّابِعِينَ : لفظ ذکر دی ، ددی څخه مراد دا دی چی داسی
غافله بدحواسه خلق کوم چی نابللی میلمانه جوړیږی دخلګو کورونوته دخوراك څښاك دپاره ننوزی
دغه مستثنی دی ددی ذکر یی صرف ددی دپاره وکی چی دغه وخت څه داسی خلګ وه چی نابللی به
دخلګو کورنو ته ننوتل اصل مدار دحکم په داسی غافلو بدحواسو خلګو باندی دی هسی پرنابللو باندی
نه دی والله اعلم .
دولسم قسم : أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ : دی ، ددی څخه مراد هغه نابالغ بچیان دی کوم چی اوس لابلوغ ته نه دی
نژدی سوی اودښځو دخاصو حالاتو اوصفتونو اوحرکتونو څخه ناخبره دی اوکوم هلك چی په دی
کارونوکی دلچسپی اخلی نو هغه مراهق یعنی بلوغ ته نژدی دی دده څخه پرده واجب ده (ابن کثیر)
امام جصاص رحمه الله فرمایی چی دلته دطفل څخه مراد هغه کوچنی دی کوم چی په مخصوصو معاملوکی
دښځو اوسړو څه فرق نه کوی (ذکره عن المجاهد) دپردی دمستثناء ګانو بیان ختم سو .
وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ : یعنی په ښځو لازم دی چی خپلی پښی دومره په زورنه ږدی
چی کالی یی اواز وکی او د دوی پټ زینت سړو ته ښکاره سی .

(دکالي اواز غیر محرموته اورول جائز نه دی)

دایت په شروع کی یی ښځی ددی څخه منع کړی دی چی خپل زینت غیر سړوته ښکاره کی ، په اخرکی
ددی زیات تاکید دی چی ځایونه دزینت سر او سینه وغیره پټول خو وا جب دی ، دخپل پټ زینت ظاهرول
برابره خبره ده که په هره ذریعه چی وی دغه هم جائز نه دی ، که په کالیوکی دننه څه داسی شی واچوی
چی هغه بیا اوازکوی (شرنګیږی) یایوکالی دبل سره لګیږی اوازکوی یاپښه داسی په مځکی ایږدی چی
دکالی څخه اواز وزی اوغیرمحرم سړی یی اوری داشیان ددی آیت په روسره ناجائزدی او په دی وجه ډیر
فقهاء فرمایی چی کله دکالی اواز غیر محرم ته اورول په دی آیت سره ناجائز ثابت سول نو په خپله دښځی
اواز اورول خو به ددی څخه زیات سخت ناجائز وی ، په دی وجه دښځی اوازهم دی حضراتو په سترکی دا
خل کړی دی او په دی بنا په نوازل کی فرمایی چی ښځوته تر څو پوری چی ممکنه وی دقران تعلیم هم
دښځو څخه زده کول په کار دی دسړو څخه تعلیم په درجه دمجبوری جائز دی .
دصحیح بخاری او مسلم په حدیث کی دی چی په لمونځ کی که څوك دچاپه مخکی تیریږی نوسړی ته په

کار دی چی سبحان الله ووایی تیریدونکی خبر کړی لیکن ښځه به اوازنه باسی بلکه دخپل پولادی ورغوی به دبل لاس دورغوی پرشا ټکوی او دغه تیریدونکی به خبرکی.

(دښځي داواز مسئله)

ایادښځی اواز فی نفسه په سترکی دا خل دی اوغیر محرم ته یی اواز اورول جائز دی؟ په دی معامله کی دامامانو حضراتو اختلاف دی ، دامام شافعی په کتابونوکی یی دښځی اوازپه سترکی نه دی دا خل کړی ، داحنافو په نزد هم مختلف اقوال دی ، ابن همام رحمه الله دنوازل دروایت په بناسره په سترکی دا خل کړی دی په دی وجه داحنافو په نزد دښځی اذان مکروه دی ، لیکن دحدیث څخه ثابته ده چی ازواج مطهراتوبه دپردی دنزول څخه وروسته هم دپردی څخه اخوا دغیر محرمو سره خبری کولی ، ددی تولوڅخه راجح اوصحیح خبره دا معلومیږی چی په کومه موقع اومحل کی دښځی داواز څخه دفتنی پیدا کیدو خطره وی هلته منع دی اوکوم ځای چی دا نه وی جائز دی (جصاص) اواحتیاط په دی کی دی چی بی دضرورت څخه ښځی دی دپردی څخه اخواته هم دغیر محرمو سره خبری نه کوی . والله اعلم

(خوشبو لګول او دباندی وتل)

په دی حکم کی دا هم دا خله ده چی ښځه کله په یوضرورت سره دکوره دباندی وزی نو دخوشبو لګولو سره دی نه وزی ځکه چی دغه هم ددی پټ زینت دی چی غیر محرم ته دا خوشبو ورسیږی ، نو ناجائز دی ، په ترمذی کی دحضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنه په روایت حدیث دی چی په هغه کی یی پرخوشبو لګوونکو او دباندی وتونکو ښځو باندی بدویلی دی .

(ګل کړی برقع اغوستل او دباندی وتل هم ناجائزدی)

امام جصاص رحمه الله فرمایی چی کله دکالی اواز قرآن کریم دزینت په اظهارکی دا خل کړی دی اومنع کړی یی دی نو رنګداری ګلداری برقع اغوتسل او دباندی وتل خو په درجه اولی سره منع دی ، او ددی څخه داهم معلومه سوه چی دښځی مخ که څه هم په سترکی داخل نه دی مګردغه دزینت دټولوڅخه لوی مرکز دی ، په دی وجه مخ هم دغیر محرمو څخه پټول واجب دی مګر په ضرورت سره بیا خیر دی (جصاص)

وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ : یعنی توبه کوی الله جل جلاله ته تاسی ټول په جمع ای مومنانو! په دی آیت کی یی اول سړو ته دنظر کښته کولو حکم بیا ښځوته داسی حکم بیابښځوته دغیر محرمو څخه دپردی کولو جلاجلا حکم کولو څخه وروسته په دی جمله کی یی ټول سړی اوښځی هم شاملی کړی اوهدایت یی وکی چی دنفسانی شهوتونو معامله ډیره باریکه ده نور په دی باندی خبر یدل مشکل دی مګرالله جل جلاله ته هرپټ اوښکاره یوشان ظاهر دی په دی وجه که دچا څخه په دی ذکر سوو احکامو کی څه وخت کوتاهی سوی وی نو پرده لازم دی چی ددی څخه توبه وکی په تیر باندی دپښیمانه کیدوسره دالله جل جلاله څخه مغفرت وغواړی او داینده دپاره هغه ته دنه نژدی کیدو پخه اراده وکی .

وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ ۚ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ

او نکاح کوی دکوموچی نکاح نه وی ستاسی څخه اوکوم چی نیک وی ستاسی د غلامانو څخه او مینځو څخه که دغه

يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلْيَسْتَعْفِفِ

وی نو الله فقیران نو الله ﷻ به یی غنیان کړی د فضل خپل څخه او الله ﷻ فراخی کوونکی دی په هرڅه پوه دی، او

الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۗ

خپل ځان دی ساتلی ساتی چاته چی نه رسیږی سامان دنکاح تر هغه چی طاقت ورکړی ده لره الله ﷻ د خپل فضل څخه

تفسیر: (په ازادو کی) چی کوم بی نکاح وی (برابره خبره ده که سړی وی او که ښځی او بی نکاح والی هم عام دی برابره خبره ده که تراوسه پوری یی نکاح دسره نه وی سوی او یا سوی وی خو ښځه یی مړه وی یا د طلاق په وجه بی نکاح سوی وی) تاسی دهغوی نکاح کوی او (دغه شان) ستاسی په غلامانو او مینځو کی چی کوم ددی (نکاح) لائق وی (یعنی دنکاح حقونه اداکولی سی) دهغوی هم (نکاح کوی محض په خپل مصلحت سره دهغوی دنکاح دخواهش مصلحت مه فوت کوی او دازادو دنکاح دپیغام ورکوونکو په فقیریٔ اوغریبی باندی نظرمه کوی چی په دی وجه ورته انکار وکی کله چی په دوی کی دکسب کولو دمعاش صلاحیت موجود وی ، ځکه چی) که دغه خلک مفلسان وی نو الله ﷻ (که وغواړی) هغوی به په خپل فضل سره غنیان کی (لنډه دا چی مه خو دنه مالداری په وجه سره دنکاح څخه انکار کوی او مه دا خیال کوی چی وسوه نو خرخ به زیات سی کوم چی په موجوده حالت کی غنی او مالداره دی دی به هم په نکاح کولو غریب او محتاج سی ځکه چی مدار درزق په اصل کی دالله ﷻ په رضا سره دی هغه څوک مالدار بغیر دنکاح کولو څخه هم غریب او محتاج کولی سی او څوک غریب نکاح والا سره دنکاح څخه هم دغریبی او حاجتمندی څخه ایستلی سی) او الله ﷻ فراخی والا دی (څوک چی غواړی مالدار کوی یی او دټولو په حال) ښه پوهیدونکی دی (دچاچی غنی کول دحکمت او مصلحت تقاضاوی هغه غنی کوی او دچاچی په فقیر او محتاج اوسیدو کی مصلحت وی هغه فقیر ساتی) او (که چاته دخپلی غریبی او فقیری په وجه دنکاح سامان حاصل نه وی نو) داسی خلګو لره چی دنکاح طاقت یی وی هغوی ته په کار دی چی (خپل نفس) په واک کی ساتی تردی چی الله ﷻ (که وغواړی نو) دی به په خپل فضل سره غنی کی (هغه وخت دی نکاح وکی)

معلومات او مسئلی

(دنکاح ځینی حکمونه)

اول بیان سوی دی چی په سورة نور کی زیات تره هغه حکمونه دی دکوموتعلق چی دپاکی او پاکی

دحفاظت او دفواحشو اوبی حیایو دبندولو سره دی ، په دی سلسله کی دزنا اودهغه دمتعلقاتو دسخت
سزاگانو ذکر وسو بیا داستیذان بیا دښځو دپردی ، اسلامی شریعت چونکی یومعتدل شریعت دی ددی
احکام ټول په اعتدال او دانسانی فطری جذباتو او دخواهشاتو درعایت سره دزیاتی او دحد څخه د
دممانعت پراصولو باندی دائردی ، په دی وجه کله چی یوطرف ته انسان دناجائزو شهوتونو پوره کولو
څخه په سختی سره منع سو نو ضروری وه چی دفطری جذباتو اوخواهشاتو په رعایت سره ددی څه جائز
اوصحیح طریقه هم وښوول سی ددی څخه علاوه دنسل باقی پاته کیدو عقلی اوشرعی تقاضا هم دا
چی په څه حدودو کی دننه دسړی اوښځی داختلاط یو صورت منتخب سی ، ددی نوم دقرآن اوسنت په
اصطلاح کی نکاح ده ، په ذکر سوی آیت کی ددی متعلق دازادو ښځو اولیاؤ او دمینځو اوغلامانو
مالکانوته حکم سوی دی چی د دوی نکاح کوی ، وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنكُم الاية .
ایامٰی دایم جمع ده ، کوم چی دهرهغه سړی اوښځی دپاره استعمالیږی دچاچی نکاح نه وی برابره خبره
ده که دسره یی نکاح نه وی کړی یاپه ښځه اوخاوند کی یومړ وی یاپه طلاق سره یی نکاح ختم سوی وی
دداسی سړو اوښځو دنکاح دپاره د دوی اولیاؤ ته حکم سوی دی چی د دوی دنکاح بندوبست وکی .
دذکر سوی آیت دخطاب دطرز څخه دومره خبره خو دفقهاؤ امامانو په اتفاق سره ثابته ده چی دنکاح
سنت او ښه طریقه دا ده چی په خپله دخپل نکاح دپاره یوسړی یاښځه دبلا واسطی اقدام کولو پرځای
دخپلو اولیاؤ په واسطه سره داکار وکی په دی کی ددین او ددنیا ډیرمصلحتونه اوفاندی دی ، خاص کر
دجینکیو په معامله کی چی جینکی دخپل نکاح معامله په خپله وکی دا یو قسم بی حیایی هم ده او په
دی کی دفواحشو دلارو خلاصیدو خطره هم ده ، په دی وجه په ځینو روایتونو دحدیث کی ښځی په خپله
دخپل نکاح کولو څخه بی دواسطی دولی څخه منع سوی دی ، دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه اوځینو نورو
امامانو په نزد دا حکم دیوخاص سنت اوشرعی هدایت په حیثیت کی دی که یوه بالغه انجلی بغیر
داجازت دولی څخه خپله نکاح په خپل کفر کی وکی نو نکاح به صحیح سی که څه هم دسنتو څخه په
خلاف کولو سره به موجب دملامتیا وی کله چی دی په څه مجبوری سره دی دا اقدام نه وی کړی .
دامام شافعی رحمة الله علیه اوځینو نورو امامانو په نزد به ددی دانکاح باطله کالعدم وی تر څو چی دولی په
واسطه سره نه وی ، دا ځای داختلافی مسئلو او د دواړو جانبو ددلیلونو بیانولو نه دی ، لیکن دومره
خبره ظاهره ده چی دذکر سوی آیت څخه دزیاتو څخه زیاته داثابتیږی چی په نکاح کی داولیاؤ واسطه په
کار ده ، باقی دا صورت چی څوک بی دواسطی داولیاؤ څخه نکاح وکی څه حکم به یی وی؟ دا آیت
دقرآن ددی څخه خاموش دی خصوصاً په دی وجه هم چی په لفظ دَ اَیَامٰی کی بالغان سړی اوښځی دواړه
دا خل دی او دبالغو هلکانو نکاح بغیر دواسطی دولیانو څخه دټولو په نزد صحیح ده دی نه هیڅوک
باطل نه وایی ، دغه ډول ظاهره ده چی بالغه انجلی که خپله نکاح پخپله وکی نو دغه هم صحیح اونافذ

کیږي البته دسنتو څخه خلاف په کار کولو به دواړه ملامتیږي .

(نکاح واجب ده یا سنت یا په مختلفو حالاتو کي یي حکم مختلف دی؟)

پردی مجتهدین امامان تقریباً ټول متفق دي چي دکوم سړي په نکاح نه کولو کی غالب گمان دا وی چی بوی به دشریعت پرحدونو قائم پاته نه سی اوپه گناه کی به اخته سی اوپه نکاح کولوباندی دده قدرت هم وی چی وسائل یي موجود وي نو پر داسی سړی نکاح کول فرض یاواجب دی تر څو پوری چی نکاح نه کوی گناهگار به وی البته که دنکاح وسائل موجود نه وی چی مناسبه ښځه نه کی پیدا یادهغه دپاره دمهر معجل وغیره ترحده پوری ضروری خرځ دده سره نه وی نو ددی حکم په ورپسی آیت کی دا راغلی دی چی ده ته په کار دی چی دوسائلو پیدا کولو کوشش کوی اوترڅوچی دغه نه وی پیداسوی دځپل نفس په واك کی دساتلو اوصبر کولو کوشش کوی، نبی کریم ﷺ دداسی سړی دپاره ارشاد فرمایلی دی چی دی دی مسلسل روژی نیسی چی په دی سره دشهوت غلبه سکون پیدا کی .

په مسند احمدکی روایت دی چی دحضرت عکاف ؓ څخه نبی کریم ﷺ پوښتنه وکړه ایا ستابی بی سته؟ هغه عرض وکی چی نسته بیایی ورڅخه پوښتنه وکړه چی ستا څه شرعی مینځه سته؟ وي ویل چی نسته بیا ورڅخه دوی پوښتنه وکړه چی ایا ستا طاقت دمالداری سته اوکه نه؟ دوی عرض وکی چی طاقت دمالداری می سته ، مراد یی دا وو چی ایاته دنکاح دپاره دضروری نفقو انتظام کولی سی چی په جواب کی هغه وویل هو! کولی یی سم، نو په دی باندی نبی کریم ﷺ وفرمایل چی بیا خوته دشیطان ورور یی! او وي فرمایل چی زمونږ سنت نکاح کول دی په تاسی کی بدترین سړی هغه دی کوم چی بی نکاح وی اوستاسی په مړو کی دټولوڅخه رذیل هغه دی کوم چی بی نکاح مرسی (مظهری)

داروایت هم جمهورو فقهاؤ په هغه حالت محمول کړی دی کله چی دنکاح نه کولوپه صورت کی دگناه خطره غالبه وی دحضرت عکاف ؓ حال به نبی کریم ﷺ ته معلوم ووچی دی صبرنه سی کولی دغه ډول په مسند احمدکی دحضرت انس ؓ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ دنکاح کولو حکم وکی اودتبتل یعنی بی نکاح پاته کیدوڅخه یی په سختی سره منع وفرمایله (مظهری) دغه ډول نورروایتونه هم داحادیثودی ددی ټولو محمل دجمهورو فقهاؤ په نزد هغه صورت دی چی په نکاح نه کولوکی دگناه اخته کیدوخطره غالبه وی .

دغه شان پردی هم تقریباً دټولوفقهاؤ اتفاق دی چی کوم سړی ته په غالب گمان دا معلومه وی چی دی به دنکاح کولو په وجه په گناه کی اخته سی مثلاً دښځی دخاوندوالی دحقونو پرادا کولو یی قدرت نه وی په هغه به ظلم کوونکی سی یابه پرده دنکاح کولو په صورت کی څه بله گناه په یقینی طور سره لازمه راسی نو داسی سړی ته نکاح کول حرام یامکروه دی .

اوس دهغه سړی حکم باقی پاته سوکوم چی په حالت داعتدال کی دی چی نه دنکاح دنه کولو دگناه خطره قوی ده او نه دنکاح په صورت کی دڅه گناه بیره غالبه ده ، دداسی سړی په باره کی دفقهاؤ اقوال

مختلف دی چی ده ته نکاح کول ښه دی او که نکاح نه کول او په نفلی عباداتو کی ورته مشغولیدل ښه دی ، دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد په نفلی عبادتونو کی مشغولیدل ښه دی ، وجه ددی اختلاف په اصل کی دا ده چی نکاح دخپل ذات په اعتبار سره خو یو مباح دی لکه خوړل څښل بیده کیدل وغیره دژوند ټول ضرورتونه مباح دی په دی کی دعبادتونو اړخ په دی نیت سره راځی چی ددی په ذریعه بنده ځان دګناه څخه محفوظ کړی او صالح اولاد یی پیدا سی نو ددی به ورته هم ثواب ورکول سی او په داسی نیک نیت سره چی کوم مباح کار بنده کوی هغه دده دپاره بالواسطه عبادت جوړیږی خوړل څښل او خوب کول هم په دی نیت سره عبادت سی او په عبادتونو کی مشغولیدل په خپل ذات کی عبادت دی ، په دی وجه امام شافعی رحمه الله دعبادت دپاره خلوت نشینی دنکاح څخه ښه ګڼی او دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په نزد په نکاح کی دعبادت اړخ په نسبت دنورو مباحاتو څخه غالبه ده ، په صحیح احادیثو کی یی دی ته دپیغمبرانو او خپل سنت ویلی دی او ډیر تاکیدونه یی راغلی دی ، داحادیثو ددی روایتونو څخه په مجموعی طور سره دومره په واضح ډول ثابتیږی چی نکاح دعامو مباحاتو په شان مباح نه دی بلکه سنت دانبیاؤ علیهم السلام دی چی تاکیدونه یی هم په احادیثو کی راغلی دی ، صرف دنیت په وجه دعبادت حیثیت په دی کی نه دی بلکه دانبیاؤ علیهم السلام دسنتو په حیثیت سره هم دی ، که یو سړی ووایی چی دغه ډول خوړل څښل بیده کیدل هم سنت دانبیاؤ علیهم السلام دی چی ټولو داسی کړی دی مګر جواب واضح دی چی سره ددی چی دا ټول دانبیاؤ علیهم السلام عمل وو خو دا هیچانه دی ویلی او نه په یو حدیث کی راغلی دی چی خوړل څښل او بیده کیدل سنت دانبیاؤ علیهم السلام دی بلکه دا یی دعام انسانی عادت تابع دانبیاؤ علیهم السلام عمل مقرر کړی دی په خلاف دنکاح څخه چی دی ته یی په توضیح سره دانبیاؤ علیهم السلام سنت فرمایلی دی .

په تفسیرِ مظهری کی په دی موقع یوه معتدله خبره یی دا کړي ده چی کوم سړی په حالت داعتدال کی وی چی نه دشهوت دغلبی څخه مجبوره او مغلوبه وی او نه په نکاح کولو سره په څه ګناه کی داخله کیدو بیره لری داسړی که داسی محسوس کوی چی دنکاح کولو باوجود نکاح او داهل اوعیال مشغولیت زما دپاره د الله ﷻ دډیر ذکر کولو او والله ﷻ ته دتوجه کولو څخه نه سی مانع کیدی نو ددی دپاره نکاح ښه ده او دانبیاء علیهم السلام او دامت دصالحانو عام حال دا وو ، او که دده اندازه داسی وی چی دنکاح اواهل اوعیال مشاغل دی ددینی ترقی اوډیر ذکر وغیره څخه منع کوی نو په حالت داعتدال کی دده دپاره خلوت نشینی اونکاح نه کول ښه دی ، دقرآن کریم ډیر ایتونه پردی تطبیق باندی شاهد دی په هغو کی یو دا دی ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُم أَمْوَالُكم وَلَا أَوْلَادُكم عَنْ ذِكْرِ اللهِ : په دی کی دا هدایت دی چی دانسان مال او اولاد دده دپاره دالله ﷻ د ذکر څخه دغافله کولو سبب نه دی جوړیدل په کار ، والله سبحانه وتعالی اعلم

وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ : يعني په خپلو غلامانو او مينځو كي چي كوم صالحان وي دهغو نكاح كوي داخطاب د دوی آقاگانو او مالكانو ته دی ، دلته دصالحين لفظ په خپله لغوی معنٰی كی راغلی دی يعنی په دوی كی چي كوم سړی دنكاح صلاحيت او استطاعت لری دهغه دنكاح كولو حكم د دوی مالكانو ته وركول سوی دی مراد ددی صلاحيت څخه هغه دی چي دښځی دخاوند والی حقوق او دنفقی او مهر معجل ادا كولو قابل وی اوكه صالحين دنيكو خلكو په معنٰی كی واخستل سی نو بيابه ددی تخصيص په ذكرسره په دی وجه وی چي دنكاح اصل مقصد دحرامو څخه دبچ كيدو دغه په صالحينو كی كيدی سی .
په هرحال په خپلو غلامانو او مينځو كی چي كوم دنكاح صلاحيت لرونكی وی دهغوی دنكاح حكم دهغوی مالكانو ته وركول سوی دی اومراد ددی څخه دا دی چي كه هغوی دخپلی نكاح ضرورت ظاهركی او خواهش وكی چي د دوی نكاح دی وسی نو دځينی فقهاؤ په نزد پرمالكانو واجب دی چي د دوی نكاح وكی او دجمهورو فقهاؤ په نزد پر دوی لازم دی چي دهغوی په نكاح كی بنديز نه غورځوی بلكه اجازت وركی ، څكه چي دمملوك غلامانو او مينځو نكاح بغير دمالكانو داجازت څخه نه سی كيدی نو دا حكم داسی دی لكه چي دقرآن كريم په يوايت كی دی ، فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ، يعنی دښځو پرولپانو لازم دی چي دخپل ولايت لاندی ښځی دنكاح څخه نه منع كوی اولكه چي نبی كريم ﷺ فرمايلی دی چي كله تاسی ته څوك داسی سړی دكوزدی دپاره راسی او اخلاق يی ستاسی خوښ وی نو ضرور نكاح وركوی كه داسی ونه كی نو په مځكه كی به ډيره لويه فتنه اوفساد پيدا سی (رواه الترمذی)
لنډه دا چي داحكم مالكانو ته څكه وركول سو چي دوی دنكاح په اجازت وركولو كی كوتاهی ونه كړی په خپله نكاح يی كول د دوی په ذمه واجب كيدل دا ضروری نه دی . والله اعلم
اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ : په دی كی دهغو غريبو فقيرانو مسلمانانو دپاره خوشخبری ده كوم چي دخپل دين دحفاظت دپاره نكاح كول غواړی مگرمالی وسائل د دوی سره نه وی چي كله هغوی دخپل دين دحفاظت اودنبی كريم ﷺ په سنتو دعمل كولو دپاره په نيك نيت سره نكاح كوی نو الله ﷻ به دوی ته مالی غنا هم وركی اوپه دی كی هغو خلگو ته هم هدايت دی دكوموڅخه چي داسی غريب خلگ كوزدی وغواړی چي دوی محض دهغو ددی فی الحال غريبی په وجه سره دقرابت څخه انكار ونه كی مال تلونكی راتلونكی شی دی اصل شی صلاحيت دعمل دی كه هغه په دوی كی موجود وی نو دنكاح څخه دی انكارنه كوی .
حضرت ابن عباس ؓ فرمايی چي په دی آيت كی الله ﷻ ټولو مسلمانانو ته دنكاح ترغيب وركړی دی ، په دی كی يی ازاد اوغلام ټول دا خل كړی دی ، او په نكاح كولو يی د دوی سره دغنی كولو وعده فرمايلی ده (ابن كثير)
او ابن ابی حاتم دحضرت صديق اكبر ؓ څخه نقل كړی دی چي دوی مسلمانانو ته خطاب وكی وي

فرمایل چی تاسی په نکاح کولو کی د الله ﷻ حکم ومنی نو الله ﷻ چی کومه وعده دغنی فرمایلی ده هغه
به پوره کی بیایی دا ایت وروایه : إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ : او حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایی چی
که تاسی غنی کیدل غواړی نو نکاح کوی ، ځکه چی الله ﷻ فرمایلی دی ، إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ (روا
ابن جریر وذکر البغوی عن عمر نحوه ابن کثیر)

خبرداری: په تفسیر مظهری کی دی مگر دا یاد ساتی چی دنکاح کوونکی سره دغنی اومال ورکولو
وعده د الله ﷻ دطرف ځخه په دی حال کی ده چی کله دنکاح کوونکی نیت دخپلی پاکدامنی حفاظت او
په سنتو عمل کول وی او بیایی پر الله ﷻ توکل او اعتمادوی ددی دلیل په مخکی آیت کی دا الفاظ دی .

وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّى يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ : یعنی کوم خلک چی دمال اسباب په لحاظ سره په
نکاح قدرت نه لری او په نکاح کی دا خطره وی چی دښځی دحقونو دنه ادا کولو په وجه به گناهگارسی
هغوی ته په کار دی چی په پاکدامنی او صبر سره ددی انتظار کوی چی الله ﷻ په خپل فضل سره دی غنی
کړی او ددی صبر دپاره یو تدبیر هم په حدیث کی دا ښوول سوی دی چی ډیری روژی دی نیسی ، که دی
داسی وکړی ، نو الله ﷻ به په خپل فضل سره ده ته دومره مال ورکړی چی پر نکاح کولو به قادرسی

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ

او کوم خلق چی غواړی لیکلی دازادی په مال درکولو دوی ځخه چی کوم ستاسی دلاس مال دی نو دوی ته لیکلی
ورکړی که پیدا کی په دوی کی ځه .

خَيْرًا ۖ وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُمْ ۚ وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ

نیکی او ورکی دوی ته دمال دالله ځخه کوم چی هغه تاسی ته درکړی دی او زبردستی مه کوی په مینځو خپلو باندی

عَلَى الْبِغَاءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا ۚ

د بدکاری دپاره که هغوی غواړی پاکدامنی چی تاسی گټل غواړی دمال ددنیا دژوند

وَمَنْ يُكْرِهْهُنَّ فَإِنَّ اللَّهَ مِنْ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٣٣﴾

او څوک چی په دوی زبردستی وکړی نو الله ﷻ وروسته د دوی دبی وسی ځخه بخښنی والا مهربان دی

لنډتفسیر: او ستاسی په مملوکانو کی (چی غلامان یا مینځی وی) کوم چی مکاتب کیدل غواړی نو ښه
ده چی) دوی مکاتب کړی که په دوی کی (نښانی د) ښه والی پیدا کړی او دالله ﷻ (د درکړی) دهغه مال

څخه دوی ته هم ورکړی کوم چی الله ﷻ تاسی ته درکړی دی (چی ژر ازادی حاصله کړی) اوخپلی (مملوکه) مینځی په زنا کولومه مجبوره کوی (خاصکر) هرکله چی هغوی پاکدامنی اوسیدل غواړی (اوستاسی دا ذلیل حرکت) محضی ددی دپاره چی ددنیا دژوند څه فائده (یعنی مال) تاسی ته حاصل سی اوکوم سړی چی دوی مجبوری کړی (اودوی ځان ساتل غواړی) نوالله ﷻ د دوی دمجبوره کیدو څخه وروسته (د دوی دپاره) بخښنی والا مهربان دی.

معلومات اومسئلې: په تیر آیت کی دا ذکر سوی وه چی که مملوك غلامان اومینځی نکاح کول غواړی، نو مالکانو ته یی هدایت سوی وو چی دوی ته دنکاح اجازه ورکول په کار دی دخپل مصلحت دپاره د دوی طبعی مصلحتونه دی نه وروسته کوی دا د دوی دپاره ښه اوبهتره ده، خلاصه ددی هدایت دخپل مملوکو غلامانو اومینځوسره ښه معامله او دوی دتکلیف څخه محفوظ کول دی، په دی مناسبت سره په دی ذکر سوی آیت کی یو بل هدایت د دوی مالکانو ته دا ورکول سو چی که دا مملوك غلامان یامینځی دمالکانو سره معامله دمکاتبت کول غواړی، نو د دوی داخواهش پوره کول هم دمالکانو دپاره ښه اومستحب موجب دثواب دی، صاحب دهدایی اوعاموفقهاؤ داحکم مستحب حکم مقررکړی دی یعنی دمالك په ذمه واجب خو نه دی چی خپل مملوك مکاتب جوړ کړی لیکن مستحب اوښه دی اودمکاتبت دمعاملی صورت دا دی چی یو مملوك خپل مالك ته ووایی چی په ما څه رقم مقررکړه چی هغه رقم زه په خپل محنت اوکسب سره حاصل کړم تاته یی ادا کړم او زه ازادسم اومالك دا قبول کړی یامعامله برعکس وی چی مالك وغواړی چی دده غلام څه مقرر رقم ده ته ورکړی، نو ازادبه سی اوغلام یی قبول کړی، که دمالك اومملوك په مینځ کی دامعامله په ایجاب اوقبول سره طی سی نوهغه شرعًا لازمه سی مالك ته بیا ددی دفسخ کولو اختیارنه وی څه وخت چی غلام مقرر رقم وګټی او ده ته ورکړی نوخود بخوده به ازادسی.

دا رقم کوم ته چی دکتابت بدل وایی شریعت ددی څه حدنه دی مقررکړی برابره خبره ده که دغلام دقیمت برابر وی یا ترکم یاتر زیات وی په کوم سره چی دفریقینو په مینځ کی معامله طی سی دغه به بدل دکتابت مقرر سی، خپل مملوك غلام یامینځه دمکاتب جوړولو هدایت او دامستحب اوښه مقررول داسلامی شریعت دهغو احکامو څخه دی دکوموڅخه چی معلومیږی چی داسلامی شریعت مقتضا دا ده چی کوم خلك په شرعی حیثیت سره غلامان دی دهغوی دازادولو دزیاتو څخه زیاتی لاری خلاصی سی په تولو کفارو کی یی د دوی دآزادولو احکام ورکړی دی هسی هم دغلام په ازادلوکی دډیرلوی ثواب وعده ده، دمکاتبت معامله هم ددی یوه لارده، په دی وجه ددی ترغیب ورکول سو، البته ددی سره یی دا شرط ولګوی چی، اِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا: یعنی مکاتبت جوړول هلته صحیح کیږی چی تاسی په دوی کی دګټی اثار وینی، حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ او اکثرو امامانو حضراتو ددی بهتری څخه

مراد دکسب قوت ښوولی دی یعنی په کوم سری کی چی تاسی دا ووینی چی که دی مکاتب جوړسی نو مقرر رقم به جمع کی وګټی نو دی مکاتب جوړکړی ، کنه نوځوك چی ددی قابل نه وی دهغه په مکاتب جوړولوسره به دغلام محنت هم ضائع سی او دمالك به هم نقصان وسی ، اوصاحب دهدایی فرمایی چی دخیر اوبهتری څخه مراد دلته دا دی چی دده په ازادیدو سره مسلمانانو ته دڅه نقصان رسیدو خطره نه وی مثلاً دا چی هغه کافر وی او دخپلو کافرو ورونو مدد کوی اوصحیح خبره دا ده چی لفظ دخیر دلته په دی دواړو شیانو باندی حاوی دی چی په غلام کی قوت دکسب هم وی او دده په ازادیدو سره مسلمانانو ته څه خطره هم نه وی ، (مظهری)

وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي آتَاكُم : یعنی وربخښی دوی ته دهغه مال څخه کوم چی الله ﷻ تاسی ته درکړی دی دا خطاب مسلمانانو ته عمومًا اومالکانوته خصوصًا سوی دی چی کله ددی غلام ازادی پریو مقرر مال باندی بادارته پرورکولو موقوفه ده نو مسلمانانو ته په کار دی چی په دی کی دده سره مدد وکی دزکوة مال هم دوی ته ورکول سی اومالکانوته ددی ترغیب دی چی په خپله هم ددوی مالی امدادوکی یا دبدلِ کتابت څخه څه کم کړی په دی وجه دصحابه کرامو ﷺ به دا عادت وو چی په بدل کتابت کی به کوم رقم په ده ولګول سودهغه څخه به یی دریمه څلورمه حصه یاددی څخه کمه دطاقت مطابق کموله (مظهری)

(دمعاشیاتو دفن یو اهمه مسئله اوپه دی کي قرآني فیصله)

نن په دنیاکی دماده پرستی دور او دوره ده ، تولی دنیا اخرت او دوباره پیدا کیدل هیرکړی دی ، صرف دمعاش په جال کی نښتی دی د دوی دعلمی تحقیقاتو او غور اوفکر دائره صرف ترمعاشیاتو پوری محدوده پاته سوي ده اوپه دی کی دبحث اوتحقیق زور یوه یوه معمولی مسئله یو مستقل فن جوړ کړی دی ، په دی فنونوکی دټولو څخه لوی فن دمعاشیاتو دی .

په دی معامله کی نن صبا ددنیا دهوښیارانو دوی نظریې زیاتی معروفی اومشهوری دی او دواړی دیوی بلی سره ټکر خوری ، دی ټکر ته ددنیا په قومونوکی دټکر اوجنګ جګړو داسی دروازی خلاصی کړی دی چی توله دنیا دامن اواطمینان څخه محرومه سوي ده ، یو نظام سرمایه دارانه نظام دی چی په اصطلاح کی ورته (کیپټل ازم) وایی ، دوهم نظام داشتراکیت دی کوم ته چی کمیو نزام یاسوشلزم وایی دومره خبره خو دلیدو ده دکوم چی د دواړو نظامونو څخه یو هم انکارنه سی کولی ، چی په دی دنیاکی انسان په خپل محنت اوکوشش سره چی څه ګټی اوپیدا کوی ددغو تولو اصل بنیاد قدرتی وسائل دمځکی پیداوار اوبه او دکانونو څخه پیدا کیدونکی په قدرتی شیانو دی ، انسان په خپل غور اوفکر دمحنت اومشقت په ذریعه دپیداوا رپه دی وسائلوکی دجوړ اوتحلیل اوترکیب په ذریعه دخپل ضرورت په لکونو شیانو پیدا کوی اوجوړ وی دعقل تقاضا خو دا وه چی دی دواړو نظامونو اول دا سوچ کولی چی داقدرتی وسائل خوپه خپله نه دی پیدا سوی د دوی یوځوك پیدا کوونکی سته او دا هم

ظاهره ده چې د دوی اصلي مالك به هم هغه وي كوم چې د دوی پيدا كوونكي دي مونږ پردي وسائلو په قبضه كولو او ددې په مالك جوړيدو يا استعمالولوكي ازادنه يو، بلكه اصل مالك اوخالق كه څه هدايتونه كړي وي نودهغه تابع چليدل زمونږ فرض دي ، مګر دماده پرستي جنون دا ټول داصل خالق اومالك دتصور څخه غافله كړل د دوی په نزد صرف بحث اوس دا پاته سوچې دوسائلو پرپيداوار قبضه كوونكي د دوی څخه دژوند ضروريات پيدا كوونكي ددې ټولو شيانو خودبخوده ازادمالك اومختار كيږي يا دا ټول شيان عام وقف اومشترك دي هر يو ته ددې څخه دنفع اخستو يوشان حق حاصل دي .

اوله نظريه دسرمايه دارانه نظام ده كومه چې انسان ته په دې شيانو دازاد ملكيت حق وركوي چې څنګه غواړي حاصلوي دي اوڅنګه چې غواړي خرڅ كوي دي ، په دې كې پر ده هيڅ زور مور نه سې برداشت كيدې ، دا نظريه دپخواني زماني دمشركانو اوكافرانو وه كومو چې په حضرت شعيب ﷺ باندې دا اعتراض كړي وو چې داما ل زمونږ دي اومونږ ددې مالكان يو ستاڅه حق دې چې پرمونږ پابندي لګوې چې په فلاني كاركي يې خرڅ كول جائز او په فلاني كې حرام دي ، دقران دآيت ، اَوْ اَنْ نَّفْعَلَ فِيْٓ اَمْوَالِنَا مَانَشٰٓؤُا دا مطلب دي ، او دوهمه نظريه داشتراكيت ده كومه چې چاته په هيڅ شي دملكيت حق نه وركوي بلكه هرشي دټولو انسانانو مشترك اوټولوته ورڅخه دفائدې اخستو يوډول حق وركوي او داشتراكيت داصل نظريي بنياد دا دي ، مګر بياچې كله وليدل سوه چې دانا قابل عمل تصور دي او په دې هيڅ نظام نه سي چلول كيدې ، نو بيا يې ځينې شيان دملكيت دپاره مستثنٰى كړي هم دي .

قرآن كريم په دې دواړو بې هوده نظريو ردوكړ اواصول يې دا جوړكړل چې دكائناتو هرشي په اصل كې دهغه ملكيت دي كوم چې ددې خالق دي بياهغه په خپل فضل اوكرم سره انسان ته ديوخاص قانون لاندې ملكيت وركړى دى دكوموشيانوچې ددې قانون په روسره هغه مالك جوړسوى دى په دې كې دنورو تصرف بغير دده داجازت څخه حرام سوى دى مګر دمالك كيدو څخه وروسته يې هم ده ته ازاد ملكيت نه دى وركړى چې څنګه غواړي ګټه يې اوڅنګه چې غواړي خرڅ كوه بلكه دواړه طرف ته يې يوعادلانه اوحكيمانه قانون جوړكړى دى چې په فلاني طريقه يې ګټل حرام دي په فلاني حلال اوپه فلاني ځاى كې يې خرڅ كول حلال دي اوپه فلاني كې حرام او دا چې كوم شي يې دده په ملكيت كې وركړى دى په هغه كې يې څه حقونه دنورو خلګو هم لګولي دي دكومو ادا كول چې دده ذمه واري ده .

ذكر سوى آيت كه څه هم ديوبل مضمون دپاره راغلى دى ، مګر ددې په ضمن كې ددې مهمې معاشي مسئلې يوځو اصول هم راغلي دي، دايت په الفاظو باندې نظر وكې ، وَآتُوهُمْ مِنْ مَالِ اللّٰهِ الَّذِي آتَاكُمْ : يعنې وركوى دې حاجتمندو خلګوته دالله ﷻ دهغه مال څخه كوم چې يې تاسې ته دركړى دى ، په دې كې درې خبرې ثابتې سوې ، اول دا چې دمال او دهرشي اصل مالك الله ﷻ دى ، دوهم دا چې هغه په خپل فضل سره ددې ديوې حصې تاسې مالكان كړي ياست ، دريم دا چې دكوم شي يې تاسې مالكان

جورکړی یاست په دی څه پابندی هم هغه لګولی ده په ځینو شیانوکی یی خرڅ کول منع کړځولی دی، او په ځینوشیانوکی یی خرڅ کول لازم اوواجب اوپه ځینوکی مستحب اوبنه مقررکړی دی، والله تعالی اعلم دوهم حکم په دی آیت کی دجاهلیت دیو رسم ختمولو او دزنا اوفواحشو دبندولو دپاره دا ورکړی دی.

وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ : یعنی خپلی مینځی په دی مه مجبوروی چی هغوی دزنا کاری په ذریعه مال ګټی اوتاسی ته یی درکوی ، په جاهلیت کی به ډیرو خلګو مینځی ددی کار دپاره استعمالولی اسلام چی کله په زناسختی سزاګانی جاری کړی، ازاد اوغلام ټول یی ددی پابند کړل ، نو ضروری وه چی دجاهلیت ددارسم دختمولو دپاره خاص احکام ورکړی.

اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا : یعنی هرکله چی دغه مینځی دزناڅخه دبچ کیدو اودپاکدامنه اوسیدو اراده وکی نو ستاسی دوی مجبوره کول ډیره دبی حیایی اوبی غیرتی خبره ده، دا الفاظ که څه هم په صورت دشرط راغلی دی مګرپه اجماع دامت په حقیقت کی مراد ددی څخه شرط نه دی چی که مینځی دزنا څخه بچ کیدل غواړی نو په زنادی نه سی مجبوره کولی کنه نومجبوره کول یی جائز دی بلکه دا ښوول دی چی دعام عرف اوعاذت په اعتبار سره په منیځوکی حیا اوپاکی په زمانه دجاهلیت کی نه وه، داسلام داحکامو څخه وروسته هغوی توبه وکړه دهغوی مالکانو مجبوره کول وغوښتل نوپه دی باندی داحکمونه راغلل چی کله هغوی دزنا څخه بچ کیدل غواړی نوتاسی مه مجبوره کوی ، په دی کی د دوی مالکانوته زورنه ورکول خبرداروُل اوبد ویل دی چی ډیره دبی غیرتی اوبی حیایی خبره ده چی مینځی دپاکو اوسیدو اراده وکی اوتاسی دوی په زنا مجبوره کوی .

فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ : ددی جملی مطلب دا دی چی مینځه په زنا مجبوره کول حرام دی که چا داسی وکړل اوهغوی دمالك دزبردستی اوزور په وجه په زناکی اخته سوی نو الله ﷻ به دهغوی ګناه معاف کړی او دهغوی ټوله ګناه به په مجبور کوونکو باندی وی ، والله اعلم (مظهری)

وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ

او مونږ نازل کړی دی تاسی ته ایتونه واضح اوڅه حال دهغو چی تیرسوی دی تاسی څخه مخکی

وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٤﴾ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ

او نصیحت دپاره دبیریدونکو ، الله ﷻ رڼا ده داسمانونو اودمځکی ، مثال درڼا دهغه

كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ اَلْمِصْبَاحُ فِىْ زُجَاجَةٍ ؕ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا

لکه یو تاخ چی په هغه کی وی یو څراغ په شیشه کی وی ، هغه شیشه داسی دی

كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا

لکه بربنید ونکی ستوری چی بلیږي په دی کی دیوی مبارکی درختی دتیلو څخه چی دزیتون وی نه وی مشرق ته

غَرْبِيَّةٍ ۙ يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ؕ نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ

اونه وی مغرب ته ، نژدی ده چی تیل دهغه رڼا وکړی که څه هم نه وی رسیدلی دی ته اور، رڼا ده په رڼا باندی

يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ

الله ﷻ لاربنیی خپلی رڼاته چالره چی وغواړی اوبیانوی الله ﷻ مثالونه دخلقو دپاره

وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾ فِىْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ

او الله ﷻ په هرشی باندی پوه دی ، په هغو کورونوکی چی الله ﷻ حکم کړی دی دهغو دلوړولو

فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴿۳۶﴾ رِجَالٌ ۙ لَّا تُلْهِيْهِمْ

او هلته دهغه دنوم ویلو ، یادوی هغه هلته سهار او مابنام ، سړی دی چی نه غافله کیږي

تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَاِقَامِ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ

په سوداگری او نه خرخولو دیادو دخدای څخه او دلمانځه قائمولو څخه او دورکولو دزکوٰة څخه

يَخَافُوْنَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيْهِ الْقُلُوْبُ وَالْاَبْصَارُ ﴿۳۷﴾ لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ

بیریږي دهغه ورځي څخه چی چپه کیږي په کی زړونه او سترگی ، چی بدله ورکړی دوی ته الله ﷻ

اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ مَنْ

د دوی دښه څخه دښه کارونو اوزیات ورکړی دوی ته دخپل فضل څخه ، او الله رزق ورکوی هغه چا ته

يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيْعَةٍ

چی وغواړی بی حسابه ، او هغه خلق چی منکر دی د دوی عملونه داسی دی لکه شگی په بیابان کی

يَحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً حَتّٰىٓ اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ

چی گمان پر کوی تږی داوبو تردی چی کله ورته ورسیږی نو هیڅ شی به بیانه کی پیدا او الله پیدا کی په خپله

فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾ اَوْ كَظُلُمٰتٍ فِىْ بَحْرٍ لُّجِّىٍّ

خوا کی پس پوره به ورکړی ده ته حساب دده ، او الله ډیر ژرحساب اخیستونکی دی ، یا (عمل دده) په شان دتیارو

يَّغْشٰىهُ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ سَحَابٌ ؕ ظُلُمٰتٌۢ

دی په ژوردریاب کی چی پټوی هغه یوڅپه سربیره پر بلی څپی او سربیره پر وریځ وی ، تیاری وی

بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ

یوه پر بلی سربیره ، هرکله چی را وباسی لاس نو نژدی نه وی چی هغه ووینی اوچانه چی

اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ﴿۴۰﴾

الله ورنه کړی رڼا دهغه دپاره هیڅکله رڼا نه وی .

لنډتفسير: اومونږ (ستاسی دهدایت دپاره په دی سورة کی یاپه قرآن کی دنبی کریم ﷺ په ذریعه سره) تاسی ته ښکاره ښکاره احکام (علمی اوعلمی) درلیږلی دی اوکوم خلګ چی ستاسی څخه مخکی تیر سوی دی دهغوی (یادهغوی په شان دخلګو) ځینی قصی او (دخدای څخه) دبیریدونکو دپاره دنصیحت خبری (درلیږلی دی) الله ﷻ نور (دهدایت) ورکوونکی دی (په) اسمانونو (کی اوسیدونکو) ته او (په) مځکی (کی اوسیدونکو) ته (یعنی داسمانونو اومځکی اوسیدونکو ته چی کوم هدایت سوی دی دی تولوته الله ﷻ هدایت ورکړی دی او مراد داسمانونو اومځکی څخه ټول عالم دی نوکوم مخلوقات چی داسمانونو اومځکی څخه دباندی دی هغه هم په کی دا خل دی لکه حاملان دعرش) دهغه دنور (دهدایت) عجیبه حالت داسی دی لکه (فرض کړه) یوتاخ دی (او) په هغه کی یوڅراغ (ایښی) دی (او) هغه څراغ په خپله په یوتاخ کی نه دی بلکه) په یوقندیل کی دی (اوقندیل په تاخ کی ایښوول سوی دی او) هغه قندیل داسی (صاف شفاف) دی لکه چی یو بریښیدونکی ستوری وی (او) هغه څراغ دیوی ډیری مفیدی درختی (دتیلو) څخه بله سوی وی کومه چی دزیتون (درخته) ده کومه چی (په یوه طرف کی) نه مشرق ته ده اونه (په یوه طرف کی) مغرب ته ده (یعنی نه ددی څخه مشرق طرف ته دڅه درختی یاغر پناهی سته چی دورځی په شروع کی ورڅخه لمر پناه کوی اونه مغرب طرف ته ورڅخه څه پناهی یاغرسته چی دورځی په

اخرکی ورځخه لمر پناه کړي بلکه په يو داګ ميدان کی دی چی توله ورځ لمر په لګيږي ، دداسی درختی تيل ديرصاف شفاف اوروښانه وی او) دهغه تيل (دومره صاف او روښانه دی چی) که دی ته اورهم نه رسيږی خوبياهم داسی معلوميږي چی دځانه به بل سی (اوکله چی اور ور ورسيږي هم بياخو) نورٌعلی نور ده (يعنی يو خو په کی په خپله قابليت دنورپه اعلی درجه باندی وو بيا سربيره ورباندی بل کارکوونکی اور هم ورسره جمع سو او بيا دا يوځای کيدل يی هم په داسی کيفياتوسره چی څراغ په قنديل کی ابينوول سوی وی چی په هغه سره هسی هم رڼا زياتيږي اوبياهغه په داسی تاخ کی ابينوول سوی وی چی ديوطرف څخه بندوی په داسی موقع شغلی يوطرف ته جمع سی او رڼا ډيره تيزه سی اوبيا تيل هم دزيتون چی په صفا رڼا او ددود په کموالی کی مشهور دی نو دومره تيزه رڼاوی لکه چی ډيری رڼاګانی جمع سوی وی دی ته يی نُورٌ عَلٰی نُورٍ وفرمايل ، دلته مثال ختم سو، نو دغه ډول دمومن په زړه کی چی الله ﷻ کله نوردهدايت وغورځوی نوورځ په ورځ دده زړه دحق دقبول دپاره خلاصول کيږي ، اوهروخت دعمل کولو دپاره تياريږي که څه هم بالفعل دځينو احکامو علم ورته حاصل سوی هم نه وی ، ځکه چی علم لږ لږ په وار وار حاصليږی، لکه دغه دزيتون تيل چی مخکی درڼا کولو دپاره تيار وو ، مومن هم په احکامو دعلم راتلوڅخه مخکی په دوی دعمل کولو دپاره تيار وی اوکله چی ده ته علم حاصليږي ، نو رڼا دعمل يعنی دعمل دپخی ارادی سره نور دعلم ورته هم حاصليږي چی په دی سره يی فوراً قبلوی ، پس عمل اوعلم جمع سی نُورٌ عَلٰی نُورٌ په صادق سی او داسی نه کيږي چی په احکامو دعلم راتلوڅخه وروسته ورته څه تردد وی چی ګويا دنفس موافق يی پيدا کی نو قبلوی يی اوکه داسی نه نو ردکوی يی ، دسينی دا خلاصول اونور اچول يی په بل آيت کی داسی بيان فرمايلی دی ، اَفَمَنْ شَرَحَ اللهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰی نُورٍ مِنْ رَبِّهٖ : يعنی دکوم سړی سينه چی الله ﷻ داسلام دپاره خلاصه کړه ، نودی دخپل رب دطرف څخه په نور باندی وی اويوبل ځای فرمايي ، فَمَنْ يُرِدِ اللهُ اَنْ يَهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ : مطلب دا چی داالله ﷻ دهدايت دنور دا مثال دی او) اوالله ﷻ خپل (دا) نور (دهدايت) ته چاته چی رغواړی لار ورکوی (او ورته يی رسوی) او (دهدايت چی کوم دامثال بيان سو دغه ډول په قرآن کی ډير مثالونه بيان سوی دی ، نو په دی سره هم خلګو ته هدايت مقصود دی ، په دی وجه) الله ﷻ دخلګو (دهدايت) دپاره (دا) مثالونه بيانوی (چی عقلی مضامين دمحسوسو شيانوپه شان پوه کيدوته نژدی سی) اوالله ﷻ دهر شی ښه پيژندونکی دی (په دی وجه کوم مثال چی دمقصود دفائده کولو دپاره کافی وی اوپه کوموکی چی دغرضونو دمثال پوره رعايت وی هغوی اختيار وی مطلب دا دی چی الله ﷻ مثالونه بيانوی اوهغه مثال نهايت مناسب وی چی هدايت ښه په وسی مخ ته د اهل هدايت حال بيانوی چی) هغه په داسی کورونوکی دی (يعنی چی عبادت په کی کوی) دکوموپه نسبت چی الله ﷻ حکم کړی دی چی دهغو ادب دی وسی اوپه هغوکی دی داالله ﷻ نوم واخيستل سی (مراد دهغو کورونو څخه

جماتونه دی اودهغو ادب دا چی جنب اوحائضه دی نه ورته داخلیږی ، اوپلیت شی دی نه وردننه کیږی
او شور اوغالمغال دی هلته نه کول کیږی ، ددنیا دکارونو اوخبرو کولو دپاره دی هلته نه کښینی چی
بدبویه شی وخوری هلته دی نه ځی او داسی نور غرض دا چی) په هغو (جماتونو) کی داسی خلک سهار
ماښام د الله ﷻ پاکی (په لمونځونوکی) بیانوی کوموته چی دالله ﷻ په یادو (یعنی دحکمونو په ځای
کولو) سره (دکم وخت متعلق چی کوم حکم وی) او (خاصکر) په لمونځ کولوسره او په زکوٰة ورکولو سره
(چی دا په فرعی احکاموکی دټولو څخه مهم دی) نه یی اخستل په غفلت کی غورځوی او نه خرڅول
(اوسره دعبادت اواطاعت څخه د دوی دبیری دا حال دی چی) هغوی دداسی ورځی (دعذاب) څخه
بیریږی په کومه کی چی ډیر زړونه او سترګی چپه کیږی (لکه چی په بل آیت کی دی ، يُؤْتُونَ مَا آتَوا
وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ : یعنی دا خلق دالله ﷻ په لاره کی خرڅ کوی او ددی باوجود د دوی
زړه دقیامت دباز پرسی څخه بیریږی اومقصود ددی څخه داهل نور دهدایت صفتونه اودعملونو بیان
فرمایل دی اومخ ته د دوی دانجام ذکر دی چی) انجام (ددی خلګو) به دا وی چی الله ﷻ به دوی ته د دوی
دعملونو ډیره ښه بدله ورکړی (یعنی جنت) او (علاوه دجزا څخه) دوی ته به دخپل فضل څخه نوره هم
زیاته بدله ورکی (جزا به هغه وی چی وعده یی په تفصیل سره ذکر ده اوزیاتی هغه چی مفصله وعده یی
نسته که څه هم په مجملو عنوانونو سره سوي ده) اوالله ﷻ چاته چی غواړی بی شمیره (یعنی ډیر په
کثرت سره) ورکوی (نو هغو خلګو ته به دغه ډول په جنت کی بی شمیره نعمتونه ورکړی تردی ځای پوری
خو دهدایت اواهل هدایت بیان وو مخ ته دګمراهی او دګمراهانو ذکر دی یعنی) اوکوم خلک چی کافران
(اوګمراهان اودنور دهدایت څخه لیری) دی د دوی عملونه (په وجه دکافرانو د دوه قسمه کیدو د دوه
مثالونو مشابه دی ، څکه چی یو قسم خو هغه کفاردی کوم چی داخرت اوقیامت قائل دی اوپه
خپلوځینو عملونو یعنی کوم چی د دوی دګمان مطابق کار دثواب اونیکیو دی داخرت دجزاء امید په
لری او دوهم قسم هغه کفاردی کوم چی داخرت اوقیامت څخه منکر دی داول قسم کفاروعملونه خو
داسی دی لکه په یوخالی میدان کی بربښیدونکی شګه چی تږی (سړی) په هغه (دلیری څخه) داوبو ګمان
کوی (اوهغه ته منډی وهی) تردی چی کله هغه ته راسی نو هغه (چی یی کوم ګمان وو) هیڅ پیدانه کی (او
دډیری تندی څخه بیاپه نهایتی نا امیدی کی کومه چی بدنی اوروحانی صدمه ورته رسیدلی وی اودهغه
څخه وبیریږی مرسی ، نو داسی ویل په کار دی چی په ځای داوبو) دالله ﷻ حکم یعنی مرګ پیداکی ، نو
الله ﷻ دده (دعمر) حساب ده ته برابر وشکوی (اوبی باقه یی کی یعنی دعمر خاتمه یی ورته وکړه) اوالله
ﷻ (دکوم شی میعاد چی راسی دهغه) په یودم کی حساب (ختم) کړی (هغه ته څه وخت ورکول په دی کی
نه وی چی وخت په کی واخلی یا دمیعاد څخه څه توقف وسی پس دامضمون داسی دی لکه بل ځای چی
ارشاددی ، إِنَّ أَجَلَ اللَّهِ إِذَا جَاءَ لَا يُؤَخَّرُ او دااول لَنْ يُؤَخِّرَ اللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَاءَ أَجَلُهَا : مطلب ددی مثال داسی چی

لکه څنګه چې تږی په شګه دظاهری چمك په وجه داوبو ګمان کوی دغه ډول داکافران دخپلو عملونو په ظاهری صورت سره داخرت دپاره دمقبول اوفائده مند ګمان کوی اولکه څنګه چې هغه اوبه نه دی دغه ډول داعملونه دشرط دقبول یعنی دایمان دنستوالی په سبب مقبول اوفائده مندنه دی اولکه چې هلته ورلاړسی نو دغه تږی ته حقیقت معلوم سی دغه ډول به ده ته اخرت ته په رسیدو حقیقت معلوم سی اولکه څنګه چې داتږی دخپل ګمان دغلطیدو په حسرت اوافسوس کی ناکامه اومرسی، دغه ډول به داکافرهم دخپل ګمان په غلطیدو دغه وخت په حسرت اوهلاکت ابدی یعنی په عذاب دجهنم کی اخته سی ، دیو قسم مثال خو دا سو، مخته د دوهم قسم کافرانو دعملونو بیان دی یعنی) یاهغه (عملونه په اعتبار دخصوصیت دمنکرانو دقیامت) داسی دی لکه په ژور سمندرکی دننه تیاری (چې یوسبب یې ددریاب ژوروالی دی اوبیادا) چې هغه (دسمندر اصلی سطح) یوی لویې څپی پټه کړی وی (بیادغه څپه هم یوازی نه وی بلکه) په هغه (څپی) سربیره بله څپه (وی بیا) په هغه سربیره وریځ (وی چې دهغه په وجه دستورو وغیره رڼا هم نه ورته رسیږی ، غرض دا چې) په یوبل سربیره ډیری تیاری (پرتیارو) وی چې که چیری (په داسی حالت کی یو سړی ددریاب په بیخ کی) خپل لاس را وباسی (اولیدل یی وغواړی) نو (لیدل خو پریږده) دلیدو احتمال هم نسته (ددی مثال مطلب دا دی چې داسی کافرکوم چې داخرت اوقیامت څخه منکر وی اوجزا اوسزا هم نه منی د دوی سره وهمی نور هم نسته لکه د اول قسم کافرانو سره چې یو وهمی اوخیالی نوروو څکه چې دوی ځینی نیك عملونه دخپل اخرت سامان ګڼلی وو مګر هغه دایمان دشرط دنیستوالی په سبب حقیقی نور نه وو یو وهمی نوروو ، دا خلګ کوم چې داخرت څخه منکر دی دوی دخپلی عقیدی اوخیال مطابق هم څه کار داخرت دپاره کړی نه دی دکوم دنور چې د دوی وهم اوخیال وی مطلب داچې د دوی سره تیاره په تیاره ده دنورو وهم اوخیال نه سی کیدی لکه چې ددریاب په بیخ کی ده اودنظر په نه راتلوکی دلاس تخصیص شاید په دی وجه دی چې دانسان په اندامونوکی لاس زیات نژدی دی اوبیاچې دی خومره نژدی کول غواړی نونژدی کیږی اوکله چې لاس په نظر رانه غی نونور اندامونه خوظاهره خبره ده چې نه سی لیدل کیدی) او (مخ ته ددی کفارو په تیاری کی دکیدو وجه دابیان فرمایې چې) چاته چې الله ﷻ نور (دهدایت) ورنه کی هغه ته (دهیڅ شی هم) نورنه وی (نه سی حاصلیدی)

معلومات اومسئلې: ذکر سوی آیت ته عالمان ایت نور لیکی څکه چې په دی کی د نور ایمان او تیاری دکفر لوی تفصیلی مثال ښوول سوی دی.

(دنور تعریف یعنی پیژندګلوی)

امام غزالی دا فرمایې ، اَلظَّاهِرُ بِنَفْسِهٖ وَالْمُظْهِرُ لِغَيْرِهٖ : یعنی په خپل ذات کی ظاهر او روښانه وی او دنورو شیانو روښانه اوظاهرونکی دی اوپه تفسیر مظهری کی دی چې نور په اصل کی دهغه کیفیت نوم دی دکوم چې دانسان دلیدو قوت یې اول ادراك کوی اوبیا ددی په ذریعه دهغو ټولو شیانو ادراك کوی کوم

چي په سترگو سره ليدل کيږي لکه دلمر اوسپوږمي شغلې ددې په مقابل کثيفه جسمونو باندې پريوزي
اول دغه شي روښانه کړي بيادهغه ځخه شغلې واپس سي ، نورشيان روښانه کړي ، ددې ځخه معلومه
سوه چي دنور لفظ دخپلي لغوي اوعرفي معنٰی په اعتبار سره دحق تعالی ﷻ په ذات اطلاق نه سي
کيدي ، ځکه چي هغه دجسم اوجسمانياتو ځخه برې اووراء الورٰی دی ، په دې وجه په ذکر سوې آيت کي
کوم چي دحق تعالی دپاره دنور دلفظ اطلاق سوی دی ددې معنٰی داامامانو دتفسير مطابق مُنَوِّر (يعني
روښانه کوونکی دی بيا دمبالغې دصيغې په شان صاحب نور يې په نور سره تعبير کی لکه صاحب کرم ته
کرم او صاحب عدل ته عدل ويل کيږي او دايت معنٰی هغه ده کومه چي په لنډ تفسير کي تاسې ويلې ده
چي الله ﷻ نور ورکوونکی دی اسمان اومځکي ته او په دې کي اوسيدونکي ټول مخلوق ته اومراد ددې
نور ځخه نور دهدايت دی .

ابن کثير دحضرت ابن عباس ﷜ ځخه ددې په تفسير کي نقل کړي دی ، اَللّٰهُ هَادِیُ اَهْلِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ.

دمومن نور: مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ دالله ﷻ دهدايت نور کوم چي دمومن زړه ته راځي دا دهغه يوعجيبه مثال
دی لکه چي ابن جرير دحضرت ابی بن کعب ﷜ ځخه ددې په تفسير کي نقل کړي دی ، هُوَ الْمُؤْمِنُ الَّذِیْ
جَعَلَ اللّٰهُ الْاِيْمَانَ وَالْقُرْاٰنَ فِیْ صَدْرِهٖ فَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلَهٗ فَقَالَ ، اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ فَبَدَاَ بِنُوْرِ نَفْسِهٖ ثُمَّ ذَكَرَ
نُوْرَ الْمُؤْمِنِ فَقَالَ: مَثَلُ نُوْرِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ فَكَانَ اُبَیُّ بْنُ كَعْبٍ ﷜ يَقْرَءُ هَا مَثَلُ نُوْرِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ (ابن کثير)
يعنی دا مثال دهغه مومن دی دکوم په زړه کي چي الله ﷻ دايمان او دقرآن دهدايت نور اچولی دی ، په
دې آيت کي خواول الله ﷻ په خپله دخپل نور ذکر وفرمايی اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : بيايې دمومن دزړه
دنور ذکر وفرمايی مَثَلُ نُوْرِهٖ او ددې آيت قرآئت هم ابی بن کعب ﷜ دمَثَلُ نُوْرِهٖ په ځای مَثَلُ نُوْرِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ
کړی دی اوسعيد ابن جبير ﷜ داقرآئت او دآيت دا مطلب دحضرت ابن عباس ﷜ ځخه هم روايت کړی دی
ابن کثير رحمه الله ددې روايت نقل کولو ځخه ورروسته فرمايي دَ مَثَلُ نُوْرِهٖ دضمير متعلق دتفسير
داامامانو دوه قولونه دي يو دا چي دا ضمير دالله ﷻ طرف ته راجع دی اومعنٰی دايت دا ده چي دالله ﷻ
دهدايت نور کوم چي دمومن په زړه کي فطرتًا ايښوول سوی دی دهغه مثال دا دی كَمِشْكٰوةٍ الخ : دا قول
دحضرت ابن عباس ﷜ دی دوهم قول دا دی چي دا ضمير دمومن طرف ته راجع وي چي په دې سياق
دکلام دلالت کوي ، په دې وجه مطلب ددې مثال دا دی چي دمومن سينه ديو تاخ په مثال ده په دې کي
دده زړه ديو قنديل په مثال دی ، په دې کي ډيرصاف شفاف تيل دزيتون دفطري نور دهدايت په مثال دی
کوم چي دمومن په فطرت کي ايښوول سوی دی چي ددې خاصيت په خپله هم دقبلولو دحق دی بيا چي
لکه څنگه چي دزيتون تيل داور په شغله سره روښانه سي اونورو روښانه کوي ، دغه ډول فطري نور
دهدايت کوم چي په زړه دمومن کي ايښوول سوی دی کله چي دوحي الهی اوعلم الهی سره دغه يوځای

سی نو روښانه سی دنیا روښانه کوی او اصحابو حضراتو اوتابعینو چی کوم دا مثال دمومن دزړه سره مخصوص فرمایلی دی دغه هم غالبًا په دی وجه دی چی فائده ددی نورڅخه صرف مومن اخستی سی، کنه نو دغه فطری نور دهدایت کوم چی په ابتداء دپیدائش کی دانسان په زړه کی ایښوول کیږی، هغه دمومن سره مخصوص نه دی بلکه دهرانسان په فطرت اوجبلت کی هغه نور دهدایت ایښوول کیږی دهغه دا اثر ددنیاپه هرقوم هرملك هرمذهب او دهری طریقی په خلګو کی لیدل کیږی چی دوی دخدای وجود او دهغه عظیم قدرت فطرتًامنی دهغه طرف ته رجوع کوی دهغه په تصور اوتعبیرکی برابره خبره ده که هرڅومره غلطیانی چی کوی مګر دالله ﷻ دنفس وجود هرانسان فطرتًا قائل وی بغیر دیوڅو ماده پرستو افرادو څخه دکوموفطرت چی مسخ سوی دی او کوم چی دخدای دوجود څخه منکر دی.

په یوصحیح حدیث سره ددی عاموالی تائید کیږی په کوم کی چی دا ارشاددی كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ یعنی هر پیدا کیدونکی بچی په فطرت باندی پیدا کیږی بیادده مور اوپلاردی دفطرت دتقاضاوو څخه اړوی اوپه غلطو لارویی روانوی، ددی فطرت څخه مراد هدایت دایمان دی دادایمان هدایت او ددی نور دهرانسان دپیدائش په وخت کی په ده کی ایښوول کیږی او دهدایت ددی نور په وجه په ده کی دحق دقبلولو صلاحیت وی، کله چی دانبیاؤ او د دوی دنائبانو په ذریعه دوحی الهی علم ده ته ورسیږی، نو هغه دی په اسانی سره قبلوی بغیر دهغه مسخ سوو دفطرت دخلګو څخه کوموچی دغه فطری نور په خپلو حرکتونو سره خراب کړی اوختم کړی دی.

شاید هم داوجه ده چی ددی آیت په شروع کی یی دنورعام ورکړه بیان کړي ده کوم چی ټولو اسمانونو او مځکی والاؤ ته شامله ده، دمومن اوکافرهم په دی کی څه تخصیص نسته اودایت په اخرکی داسی فرمایی يَهْدِى اللهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ: یعنی الله ﷻ دخپل نور طرف ته چاته چی وغواړی هدایت ورته کوی، دلته دالله ﷻ درضا قید دهغه فطرتی نور دپاره نه دی کوم چی په هرانسان کی ایښوول سوی دی بلکه دقرآن دنور دپاره دی کوم چی هر سړی ته نه حاصلیږی بغیر دهغه خوش نصیب څخه کوم ته چی دالله ﷻ دطرف څخه توفیق نصیب سی کنه نو دانسان کوشش بی دالله ﷻ دتوفیق څخه بی کاره بلکه ځینی وخت مضرهم سی.

اِذَا لَمْ يَكُنْ عَوْنٌ مِّنَ اللهِ لِلْفَتٰى فَاَوَّلُ مَا يَجْنِىْ عَلَيْهِ اجْتِهَادُهٗ

یعنی که دالله ﷻ دطرف څخه دبنده مدد نه وی، نو دده کوشش ده ته چپه نقصان رسوی.

(دنبي کریم ﷺ نور)

اوامام بغوی یو روایت نقل کړی دی چی حضرت ابن عباس ؓ دکعب احبار ؓ څخه پوښتنه وکړه چی ددی آیت په تفسیرکی ته څه وایی، مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ الخ: کعب احبار ؓ کوم چی دتورات اوانجیل لوی مسلمان عالم وو دوی وفرمایل چی دامثال دنبی کریم ﷺ دزړه مبارك بیان سوی دی مشکوٰة د دوی

سینه او زجاجة (قندیل) د دوی زړه مبارك او مصباح (څراغ) نبوت دی او دنبوت ددی نور خاصه دا ده چی دنبوت داظهار واعلان څخه مخکی په دی کی دخلګو دپاره دړنا اسباب دی ، بیادوحی الهی او ددی داعلان ددی سره پیوستون کیږی ، نو دا داسی نورسی چی توله دنیا روښانه کوی .

دنبی کریم ﷺ دنبوت داظهار اوبعثت بلکه د دوی دپیدائش څخه هم مخکی چی کوم ډیرعجیبه اوړنا اشنا واقعات په عالم کی داسی پیښ سول کوم چی د دوی دنبوت خوشخبری ورکوونکی وه کوموته چی دمحدثینو په اصطلاح کی ارهاصات ویل کیږی ، څکه چی دمعجزاتو لفظ خو ددی قسم دهغو واقعاتو دپاره مخصوص دی کوم چی دنبوت ددعوی دتصدیق دپاره دالله ﷻ دطرف څخه دیو پیغمبر په لاس جاری کیږی اودنبوت ددعوی څخه مخکی چی کوم دا قسم واقعات په دنیاکی ظاهریږی هغوته ارهاصات ویل کیږی داسی ډیر عجیبه واقعات په صحیح روایتونو سره ثابت دی کوم چی شیخ جلال الدین سیوطی رحمه الله په خصائص کبرٰی کی او ابو نعیم په دلائل النبوة کی اونورو عالمانو هم په مستقلو کتابونو کی جمع کړی دی دکوموچی کافی حصه دلته په تفسیر مظهری کی هم نقل سوي ده .

(دزیتون دتیلو برکتونه)

شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ : ددی څخه دزیتون ددرختی اوتیلو برکتونه اونفع مند اوفائده مند کیدل ثابتیږی علماء فرمایی چی الله ﷻ په دی کی بی شمیره نفع اوفائدی ایښی دی ، دا په څراغ کی دړنا دپاره هم استعمالیږی او ددی رڼا دتولو تیلو څخه زیاته شفافه اوصفا وی ، دا د دوډی سره دسالن په ځای هم استعمالیږی او دانی یی په طور دمیوی خوړل کیږی هم او دا داسی تیل دی چی ددی دایستلو دپاره دڅه ماشین چرخی وغیره ضرورت نه وی خودبخوده ددانو څخه راوزی ، نبی کریم ﷺ فرمایی چی دزیتون تیل خوری هم او دبدن مالش هم په کوی څکه چی داشجره مبارکه ده (رواه البغوی والترمذی عن عمر رضی الله عنه مرفوعًا مظهری)

فِیْ بُیُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَیُذْكَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ یُسَبِّحُ لَهٗ فِیْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ : په تیر ایت کی حق تعالی دمومن په زړه کی دخپل نور دهدایت اچولو یوخاص مثال بیان کړی وو اوپه اخر کی یی دا فرمایلی وه چی ددی نور څخه فائده هغه خلګ اخلی کوموته چی الله ﷻ وغواړی اوتوفیق ورکوی ، په دی آیت کی دداسی مومنانو ځای اومحل یی بیان کړی دی چی دداسی مومنانو اصل مقام او دقرار ځای کوم ځای چی ددی په اکثرو وختونوکی خاص کر دپنځو لمونځونو په وختونوکی لیدی سی ، هغه مکانونه یعنی کورونه دی دکومو دپاره چی دالله ﷻ حکم دی چی هغه لوړ اوپورته وساتل سی او په هغوکی دی دالله ﷻ ذکر کول کیږي او دهغو کورونو اومکانونو شان دا دی چی په هغوکی دالله ﷻ دنوم تسبیح اوپاکی سهار اوماښام یعنی په تولو وختونوکی داسی خلګ کوی دکومو چی دخاصو صفتونو بیان مخ ته راځی .

ددی تقریر بنا په دی ده چی په نحوی ترکیب دَ فِیْ بُیُوْتٍ تعلق دایت دجملی یَهْدِ اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ سره وی (کما

يستفاد من ابن كثير وغيره من المفسرين) څينى حضراتو ددى تعلق دلفظ ديُسَبِّحُ محذوف سره كړى دى چې په دى باندى راتلونكى لفظ دَ يُسَبِّحُ دلالت كوى، مگر اولنى احتمال دنسق دكلام په اعتبار سره ښه معلوميږى اومطلب دايت به دا وى چې په تير مثال كى دالله ﷻ دكوم نور دهدايت ذكرسوى دى ددى دوركول كيدو ځاى هغه كورونه اومكانات دى كوم ځاى چې سهار اومابنام دالله ﷻ نوم اخستل كيږى دجمهورو مفسرينو په نزد ددى كورونو څخه مراد مسجدونه دى.

(مسجدونه دالله ﷻ كورونه دى ددى تعظيم واجب دى)

قرطبي دى ته ترجيح وركړې ده اوپه دليل كى يى دحضرت انس ﷺ داحديث پيش كړى دى چې نبى كريم ﷺ فرمايلي دى، مَنْ اَحَبَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ فَلْيُحِبَّنِيْ وَمَنْ اَحَبَّنِيْ فَلْيُحِبَّ اَصْحَابِي وَمَنْ اَحَبَّ اَصْحَابِي فَلْيُحِبَّ الْقُرْآنَ وَمَنْ اَحَبَّ الْقُرْآنَ فَلْيُحِبَّ الْمَسَاجِدَ فَاِنَّهَا اَفْنِيَةُ اللهِ اَذِنَ اللهُ فِي رَفْعِهَا وَبَارَكَ فِيْهَا مَيْمُوْنَةٌ مَيْمُوْنٌ اَهْلُهَا مَحْفُوْظَةٌ مَحْفُوْظٌ اَهْلُهَا هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ وَاللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِي حَوَائِجِهِمْ هُمْ فِي مَسَاجِدِهِمْ وَاللهُ مِنْ وَّرَائِهِمْ : يعنى كوم سړى چې دالله ﷻ سره محبت ساتل غواړى هغه ته په كار دى چې زما سره محبت وكى اوڅوك چې زماسره محبت ساتل غواړى هغه ته په كار دى چې زما داصحابو سره محبت وكى اوڅوك چې زما داصحابو سره محبت ساتل غواړى هغه ته په كار دى چې دقرآن سره محبت وكى اوڅوك چې دقرآن سره محبت ساتل غواړى هغه ته په كار دى چې دمسجدونو سره محبت وكى ځكه چې دادالله ﷻ كورونه دى الله ﷻ ددى دتعظيم حكم كړى دى اوبركت يى په كښى ايښى دى دغه هم بابركته دى او ددغو اوسيدونكى هم بابركته دى دغه هم دالله ﷻ په حفاظت كى دى او ددغو اوسيدونكى هم په حفاظت كى دى دغه خلگ په خپلو لمونځونوكى مشغول وى اوالله ﷻ د دوى كارونه جوړوى اوحاجتونه يى پوره كوى دوى په جماتونوكى وى نوالله ﷻ تردوى وروسته د دوى دشيانو حفاظت كوى (قرطبي)

(دمسجدونو دپورته كولو معني)

اَذِنَ اللهُ اَنْ تُرْفَعَ اَذِنَ دااَذَنٌ : څخه مشتق دى چې معنى يى ده اجازت وركول او تُرْفَعَ دَرَفَعَ څخه مشتق دى معنى يى ده پورته كول لوړول اوتعظيم وركول، معنى دايت دا ده چې الله ﷻ اجازت وركړى دى د جماتونو دلوړولو داجازت وركولو څخه مراددغه حكم كول دى او دلوړولو څخه مراديى تعظيم كول دى. حضرت ابن عباس ﷺ فرمايى چې دلوړولو په حكم كى الله ﷻ په جماتونوكى لغوه كار كول اولغوه خبرى كول منع كړى دى (ابن كثير)

عكرمه رحمه الله اومجاهد فرمايى چې درفع څخه مراددجمات جوړول دى لكه دبناء دكعبى متعلق په قران كى راغلى دى، وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرَاهِيْمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ، په دى كى دَ رَفْعِ قَوَاعِدِ څخه مراد دبنيادونو جوړول دى اوحضرت حسن بصرى رحمه الله فرمايى چې دَ رَفْعِ مَسْجِدِ څخه مراد دجماتونو تعظيم اواحترام دى اوهغه دپليتو اوگنده شيانو څخه پاك ساتل دى لكه چې په حديث كى راغلى دى چې جمات ته كله څه

پلیتی راوړل سی نو جمات دهغه څخه داسی راتولیږی لکه دانسان څرمن چی په اورسره راتوله سی.
حضرت ابو سعید خدری ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دمسجد څخه څه پلیت
اوگنده اوضررناك شی ویستل الله ﷻ به ده ته په جنت کی کور جوړ کړی (رواه ابن ماجه) او حضرت عائشه
ﷺ فرمایی چی نبی کریم ﷺ مونږ ته حکم کړی دی چی مونږ په خپلو کورونوکی (هم) مسجدونه (یعنی
دلمونځ کولو مخصوص ځایونه) جوړ کړو او دهغو دپاك صفا ساتلو اهتمام وکړو (قرطبی)
اواصل خبره دا ده چی په لفظ دَ تُرْفَعَ کی دمسجدونو جوړول هم دا خل دی او د دوی تعظیم اوعزت
اوپاك صفا ساتل هم په پاك صفا ساتلوکی دا هم دا خل دی چی دهری پلیتی او گندگی څخه یی پاك
صفا ساتی او دا هم په کی دا خل دی چی دا دهر بدبویه شی څخه پاك ساتی ، په دی وجه نبی کریم ﷺ
ددی څخه منع فرمایلی ده چی پیاز یا اوږه وخوری او بغیر دخلی صفا کولو څخه مسجد ته ځی کوم چی
دحدیثو په عامو کتابونو کی دی سگریټ چلم پان تمباکو خوړل اوجمات ته تلل هم په دی حکم کی دا خل
دی په جمات کی دخاورو تیل بلول چی بدبویی په کی وی هم په دی حکم کی دا خل دی .
په صحیح مسلم کی دحضرت فاروق اعظم ﷺ څخه روایت دی فرمایی چی مالیدلی دی چی رسول الله ﷺ
به دکوم سړی دخلی څخه داوږی یا پیاز بدبویی محسوس فرمایله هغه به یی دجمات څخه ایستی اوبقیع
ته به یی لیږی اوفرمایل به یی چی څوك پیاز یا اوږه خوری نوښه دی پخوی اوخوری دی چی په دی سره
ددی بدبویی ورکیږي ، فقهاؤ حضراتو په دی حدیث سره دلیل نیولی دی اوفرمایی چی په کوم سړی یو
داسی بیماری وی چی دده سره په دریدو نورو خلگو ته تکلیف رسیږی ، نو دی هم دمسجد څخه لیری
کیږی او په خپله هم ده ته په کار دی چی تر څو پوری داسی بیماری پروی لمونځ دی کور کوی .
دَ ، رفع مساجد : مطلب دجمهورو اصحابو ﷺ اوتابعینو په نزد دا دی چی مسجدونه دی جوړوی او دا
دی دهرگنده اوپلیت شی څخه پاك ساتل کیږی ، څینی حضراتو په دی کی دجماتونو ظاهری شان
اوشوکت او دابادی لوړوالی هم دا خل کړی دی او دلیل یی نیولی دی چی حضرت عثمان غنی ﷺ
دمسجد نبوی ابادی دسال دلرگی څخه شاندار جوړ کړی وو اوحضرت عمربن عبد العزیز ﷫ په
مسجد نبوی کی دنقش اونگار اوښائسته کولو کافی اهتمام فرمایلی وو او دا زمانه دلویو لویو صحابه
کرامو ﷺ وه هیچا په دی کار باندی انکار نه وو کړی او وروستنیو بادشاهانو خو دمسجدونو په
ابادولو باندی ډیر مالونه خرڅ کړی دی ولیدبن عبدالملك دخپل خلافت په زمانه کی ددمشق دجامع
مسجد په ابادولو اوښائسته کولو دشام دټول ملك دسالانه امدنی څخه دری چنده زیات مال خرڅ کړی
وو دهغه داجوړ سړی مسجد ترننه پوری قائم دی دامام اعظم ابوحنیفه ﷫ په نزد که دنوم نمائش
اوشهرت دپاره نه وی بلکه د الله ﷻ دنوم او دالله ﷻ دکور دتعظیم په نیت سره که څوك دمسجد ابادی
په شانداره اولوړه محکمه اوخو بصورته طریقه سره جوړوی ، نو هیڅ منع یی نسته بلکه دثواب امیددی

(دمسجدونو ځینې فضیلتونه)

ابوداؤد دحضرت امامه ﷺ څخه روایت کړی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم سړی دځپل کور څخه او دس وکی او دفرض لمانځه دپاره مسجد ته وزی ، نو دده ثواب دهغه سړی هومره دی کوم چی احرام وتړی اودکورڅخه دحج دپاره وتلی وی اوکوم سړی چی داشراق دلمانځه دپاره دکوره اودس وکی اومسجدته روان سی نو دده ثواب دعمره کوونکی هومره دی اودیوه لمانځه څخه تریل لمانځه پوری په دی شرط چی د دواړو په مینځ کی یی خبره یاکار نه وی کړی په علیین کی لیکل کیږی او دحضرت بریده ﷺ څخه روایت دی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی کوم خلګ په تیاره کی مسجدونوته ځی دوی ته دقیامت په ورځ دمکمل نور خوشخبری واوروی (رواه مسلم)

اوپه صحیح مسلم کی دحضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی دسړی دجماعت سره لمونځ اداکول په کور یادکان کی دلمونځ کولوپه نسبت په شل درجی زیات ښه دی او داځکه چی کله یو سړی او دس وکی او په ښه شان (دسنت مطابق) او دس وکی بیامسجد ته دلمانځه په نیت سره روان سی اوبل څه غرض یی نه وی ، نو په هر یو قدم دده یوه درجه لوړیږی اویوه ګناه یی معاف کیږی ، تردی چی دی مسجدته ورسیږي ، بیاچی ترڅوپوری دجماعت په انتظار کی ناست وی ، نو ده ته دلمونځ ثواب ورکول کیږی ، اوملائکی دده دپاره دا دعا کوی چی یا الله؛ په ده رحمت نازل کړی او دده او دس نه وی مات سوی او دحضرت حکم بن عمیر ﷺ څخه روایت دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په دنیا کی دمیلمنو په شان اوسیږی اومسجدونه خپل کورونه جوړکی او دځپلو زړونو دنرمیدو عادت په ځانونوکی پیدا کړی (یعنی نرم زړی جوړ سی) او (دالله ﷻ په نعمتونوکی) ډیرفکر اوغوروکی او (دالله ﷻ (دبیری څخه) ډیر ژاړی هسی نه چی دخواهشاتو دنیا تاسی ددی حال څخه بدل کړی چی تاسی دکورونو په فضولو ابادولو کی ولګیږی په کوموکی چی اوسیدل هم نه وی اودضرورت څخه دزیات مال جمع کولو په فکرکی شروع سی او دراتلونکی وخت دپاره په داسی فضولو ارزوګانوکی اخته سی چی پوره یی نه کړل سی .

اوحضرت ابودرداء ﷺ خپل زوی ته نصیحت فرمایی چی ستا کور مسجد په کار دی ، ځکه چی مادنبی کریم ﷺ څخه اوریدلی دی چی مسجدونه دمتقیانوخلګو کورونه دی کوم سړی چی مسجدونه خپل کور جوړ کړی (دډیر ذکر په ذریعه) نو الله ﷻ دده دپاره دراحت اوسکون اوپرپل صراط باندی په اسانی سره دتیرولو ضامن سو اوابو صادق ازدی شعیب بن الحجاب ته خط ولیکی چی مسجدونه لازم ونیسی ، ځکه چی ماته دا روایت رسیدلی دی چی مسجدونه دانبیاؤ علیهم السلام دمجلسونو ځایونه وه .

او په یوحدیث کی دی چی نبی کریم ﷺ فرمایلی دی چی په اخره زمانه کی به داسی خلق وی کوم چی به مسجدونوته راسی ځای په ځای به حلقی جوړی کړی کښینی به اوهلته به ددنیا او ددی دمحبت خبری

کوی تاسی به دداسی خلقوسره نه کبنینی، ځکه چی دالله ﷻ داسی مسجد ته راتلونکوته ضرورت نسته
اوحضرت سعیدبن المسیب رحمه الله فرمایی چی کوم سړی په مسجدکی کبنینی نو لکه چی دخدای ﷻ په
مجلس کی ناست وی ، په دی وجه دده ذمه واری ده چی دخپلی ژبی څخه ماسوا دخیر دکلمی څخه بله
کلمه ونه باسی (قرطبی)

(دمسجدونو پنځلس اداب)

علماؤ دمسجدونو په ادابو کی دپنځلسو ۱۵ شیانو ذکرکړی دی ، اول دا چی مسجد ته ورسیږی او څه
خلک ناست وويني نو دوی ته دی سلام وکی اوکه څوك نه وی نو: اَلسَّلَامُ عَلَیْنَا وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰہِ الصّٰلِحِیْنَ
دی ووایی (لیکن دا په هغه صورت کی دی کله چی دمسجد حاضرین په نفلی لمونځونو یاتلاوت تسبیح
وغیره کی مشغول نه وی ، کنه نو دوی ته سلام اچول صحیح نه دی ، ش)
دوهم دا چی مسجد ته دا خل سی نو دکبنینستو څخه مخکی دی دوه رکعته تحیة المسجد وکی (دا هم
هلته چی مکروه وخت نه وی مثلاً عین دلمر ختو یاعین دلمر لویدو وخت یاچی لمر دنیمی ورځی پر
ځای ودریږی دا وختونه نه وی ، ش)
دریم دا چی په مسجد کی دی اخستل او خرڅول نه کوی .
څلورم دا چی په مسجد کی دی غشی توره چاړه وغیره نه راباسی .
پنځم دا چی په مسجد کی دی دورك سوی شی دتلاش کولو اعلان نه کوی .
شپږم دا چی په مسجد کی دی اواز نه لوړ وی .
اووم دا چی هلته دی ددنیا خبری نه کوی .
اتم دا چی په مسجد کی دی دچا سره دکبنینستو په ځای جګړه نه کوی .
نهم داچی کوم ځای په صف کی ددریدوځای نه وی هلته دی په زورنه ورننوزی چی په خلکو تنګی راولی
دا چی دلمونځ کوونکی په مخکی دی نه تیریږي (یعنی په مخکی دی نه اوړی)
یولسم دا چی په مسجد کی دی توکانی اوپوزه نه غورځوی .
دولسم دا چی په مسجد کی دی دګوتو څخه ټکاری نه باسی .
دیارلسم دا چی دخپل بدن دڅه حصی سره دی لوبی نه کوی .
څوارلسم دا چی دپلیتیو څخه پاك صفا وی او کوچنی بچی یالیونی دځان سره مسجد ته نه بیایی .
پنځلسم دا چی هلته دیر دالله ﷻ په ذکرکی مشغول وی .
قرطبی ددی پنځلسو ادابو لیکلو څخه وروسته فرمایی چی چا داکارونه وکړل نوده دمسجد حق اداکی
او مسجد دده دپاره دحفاظت اوامان ځای جوړسو .
احقر دمسجدونو دادابو اوحکمونو یوه مستقله رساله په نوم د (اداب المساجد) لیکلی ده چانه چی

ضرورت وی دهغه مطالعه دی وکی.

(کوم ځایونه چې دالله ﷻ دذکر دقرآن دتعلیم او ددین دتعلیم دپاره خاص وی هغه هم دمسجدونو په حکم کې دی)

په تفسیر بحرمحیط کی ابوحیان فرمایی چې دفِی بُیُوتٍ لفظ په قرآن کی عام دی ځکه چې جماتونه په دی کی دا خل دی دغه ډول هغه مکانونه کوم چې خاص دقرآن دتعلیم اوددین دتعلیم دپاره یادوعظ اونصیحت یاذکر اوشغل دپاره جوړ سوی وی لکه مدرسی اوخانقاهګانی (یعنی دفقیرانو دذکر اوشغل ځایونه) دغه هم په دی حکم کی دا خل دی ددغو ادب اواحترام هم لازم دی.

(په: اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ: کی دلفظ اَذِنَ خاص حکمت)

دتفسیر دعالمانو اتفاق دی چې دلته اَذِنَ په معنیٰ دامر او دحکم دی، مګرسوال داپیداکیږی چې بیا دلته داذن دلفظ په راوړلوکی څه مصلحت دی؟ په روح المعانی کی یی ددی یولطیف مصلحت دابیان کړی چې په دی کی مومنانوصالحانوته ددی ادب تعلیم اوترغیب ورکول دی چې دوی ته دالله ﷻ درضا حاصلونکی هرکار دپاره داسی مستعد اوتیار اوسیدل په کار دی چې دحکم کولو ضرورت ورته نه پیښیږی، صرف ددی په انتظارکی وی چې کله به مونږ ته ددی کار اجازت راکول سی چې مونږ دا خوشبختی حاصله کړو.

یُذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ: دلته دالله ﷻ په نوم ذکر کولوکی هرقسم ذکر شامل دی تسبیح تحمید وغیره هم نفلی لمونځ هم تلاوت دقرآن وعظ نصیحت دعلم دین تعلیم او دعلم دین تول شغلونه په دی کی داخل دی.

رِجَالٌ لَّا تُلْهِیْهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَیْعٌ عَنْ ذِکْرِ اللّٰهِ. په دی کی دهغو مومنانو خاص صفتونه بیان سوی دی کوم چې دالله ﷻ دنورهدایت خاص مورد اودجماتونوابادوونکی دی په دی کی دلفظ درجال په تعبیرکی دی طرف ته اشاره ده چې جماتونوته حاضری په اصل کی دسړودپاره ده دښځو لمونځ د دوی په کوروکی ښه دی په مسند احمداوبیهقی کی دحضرت ام سلمه ﷺ حدیث دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلی دی، خَیْرُ مَسَاجِدِ النِّسَاءِ قَعْرُ بُیُوْتِهِنَّ: یعنی دښځو ښه جماتونه د دوی دکورونو تنګ اوتیاره کورونه دی، په دی آیت کی دمومنانو صالحانو داصفت بیان سوی دی چې دوی دتجارت اوبیعی مشغله دالله ﷻ دیادونو څخه غافله کوی، په لفظ دتجارت کی چونکه بیعه هم دا خله ده، په دی وجه ځینو مفسرینو دمقابلی په وجه سره دلته دتجارت څخه مراد اخستل او دبیع څخه مراد خرڅول اخستی دی اوځینو تجارت په خپل عام مطلب کی اخستی دی یعنی لین او دین داخستلو اوخرڅولو معاملی، بیادبیعی دجدا بیانولو حکمت یی دابښولی دی چې دتجارت معاملی خو یو لوی مفهوم دی چې فائدی اونفعی یی کله کله ترمودو وروسته حاصلیږی اودیو شی خرڅول اوقیمت یی دنفعی سره دنقد وصولولو فائده فوری اولاس په لاس وی دایی په خصوصیت سره ځکه ذکر کړه چې د الله ﷻ د ذکر اولمونځ په مقابله کی دوی ترټولو دلویی دنیوی فائدی هم خیال نه کوی.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمايي چي دا ايت دبازار والاؤ په باره کی نازل سوی دی او د دوی صاحبزاده حضرت سالم ﷺ فرمايي چي يوه ورځ حضرت ابن عمر ﷺ په بازار تير سو نودلمونځ وخت سوی وو خلکو ته يی کتل چي دکانونه بندوی اومسجدته ته روان دی نو وي فرمايل چي ددی خلکو په باره کی دقرآن دا ارشاددی ، رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ : اوپه زمانه درسالت کی دوه اصحاب وه يوه به تجارت کوی اوبل به دلوهاری (پښن) کار کوی توری به يی جوړولی اوخرڅولی به يی دتجارت دکسب صحابی حال دا وو چي که دسودا خرڅولوپه وخت کی به يی تول کوی او داذان اواز به يی په غوږ سو نو تله به يی په هغه ځای وغورځوله او دلمونځ دپاره به پاڅيدی او دلوهار صحابی کار داوو چي که په سره کړی اوسپنه پسی به يی چټك دګذار دپاره لوړکړی وو اواوږی ته به يی رسولی وو او داذان اواز به يی واوريدی نو په اوسپنی باندی دټکولو په ځای به يی داوږی څخه شاته ارتاؤکی اولمانځه ته به ولاړ سو د دوی په صفت کی دا ايت نازل سو (قرطبی)

(صحابه کرام ﷺ اکثره دتجارت کاسبان وه)

ددی آيت څخه دا هم معلومه سوه چي دصحابه کرامو ﷺ دزيات ترو تجارت پيشه وه ياصنعت کاره کوم کارچي دبازارونو سره تعلق لری ځکه چي تجارت اوبيع دخدای ديادونی څخه مانع کيدونکی دداسی خلکو وصف کيدی سی دکوموشغل چي تجارت اوبيعه وی کنه نو بيا خوبه داوينا فضول وی (طبرانی عن ابن عباس ﷺ روح)

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ: داموِمنان دکوموذکرچي په لوړ آيت کی راغلی دی دا يی اخری وصف دی په دی کی يی ښوولی ده چي داحضرات هروخت دالله ﷻ په ذکر اوعبادتونوکی دمشغوليدو باوجود بی فکره اوبی بيری هم نه وی بلکه دقيامت دحساب بيره په دوی مسلطه وی او دا دهدايت دهغه نورکمال دی کوم چي دالله ﷻ دطرف څخه دوی ته ورکول سوی دی چي ذکريی په لوړ آيت : يَهْدِ اللهُ لِنُورِهِ مَنْ يَشَاءُ : کی فرمايي ، په اخرکی دداسی حضراتو دجزاء ذکر دی چي الله ﷻ به دوی ته د دوی دعمل ښه جزاء ورکړی اوبيا فرمايي ، وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ ، يعنی صرف دعمل په جزاورکولو به بسوالی نه وی بلکه دخپل طرف څخه به زيات انعامات هم دوی ته ورکول کيږی وَاللهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ : يعني الله ﷻ نه ديو قانون پابند دی او نه دده په خزانه کی څه کمی راځی هغه چاته چي غواړی بی حسابه رزق ورکوی تردی پوری دصالحانو مومنانو دکوموسينی چي دهدايت دنور تاخونه وی ، اوکوم چي دهدايت نور په خاص طور سره قبلوی دهغوی ذکر وو مخ ته دهغو کافرانو ذکر دی دکوموپه فطرت کی چي الله ﷻ دهدايت دنور ماده اينبی وه مګر کله چي داماده روښانه کونکی وحی الهی دوی ته ورسيده نو روګردانی اوانکار يی ورڅخه وکی او دنور څخه محرومه سول اوتياره په تياره کی پاته سول ، او په دوی کی چونکی کافران اومنکران دوه قسمه وه په دی وجه يی ددغو دوو مثالونه بيان کړل چي

تفصیل بی په لنډ تفسیر کی تیر سوی دی ، د دوارو مثالونو دبیانولو څخه وروسته ارشاد فرمایی ، وَمَنْ لَّمْ یَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ دا جمله دکفارو په باره کی داسی ده لکه دمومنانو په باره کی چی دا ارشاد سوی وه ، یَهْدِ اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ یَّشَآءُ : دکفارو دپاره په دی جمله کی دهدایت دنور څخه دمحرومی ذکر دی چی دوی دالله ﷻ داحکامو څخه مخ واړاوی اوخپل فطری نور یی هم فناکی اوس چی کله دالله ﷻ دهدایت دنور څخه محرومه سول نو نور دکومه راسی .

ددی آیت څخه داهم معلومه سوه چی یوسړی محض دعلم اوبصیرت په اسبابو یوځای کیدو سره عالم اومبصرنه سی کیدی بلکه دا صرف دالله ﷻ ورکړه ده ، دا وجه ده چی ډیرخلک کوم چی ددنیاپه کارونو کی بالکل ناپوه اوبی خبره ګڼل کیږی د اخرت په معامله کی هغوی ډیر مبصر اوعقلمند ثابتیږي ، دغه ډول ددی په عکس ډیرخلګ کوم چی ددنیاپه کارونوکی ډیر ماهران محقق منل کیږی مګر داخرت په معامله کی لوی بی عقله او جاهلان ثابتیږي (مظهری)

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّیْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَ

آیا ته نه ګوری چی دالله ﷻ تسبیح کوی څوک چی دی په اسمانونواومځکی کی اوالوتونکی خلاص وزرونه هریو

تَسْبِیْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِمَا یَفْعَلُوْنَ ﴿۴۱﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

پوه دی دخپل شان په بندګی اوتسبیح کولو اوالله ﷻ ته معلوم دی څه چی کوی اودالله حکومت دی په اسمانونو او

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِیْرُ ﴿۴۲﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یُزْجِیْ سَحَابًا ثُمَّ یُؤَلِّفُ بَیْنَهٗ

مځکه کی او الله ته واپسی ده ، ته نه ګوری چی الله را شړی وریځه بیایی یوځای کوی ،

ثُمَّ یَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ یَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ وَیُنَزِّلُ مِنَ

بیاهغه قط په قط کوی بیا ته وینی باران چی راوزی ددې دمینځ څخه او نازلوی د

السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِیْهَا مِنْۢ بَرَدٍ فَیُصِیْبُ بِهٖ مَنْ یَّشَآءُ وَیَصْرِفُهٗ

اسمان څخه کوم چی په دی کی غرونه دی دږلی بیا هغه غورځوی په چا چی وغواړی ، اوبچ کوی

عَنْ مَّنْ یَّشَآءُ ؕ یَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ یَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ یُقَلِّبُ اللّٰهُ

ورڅخه څوک چی وغواړی ، نژدی ده چی دبجلۍ بریښ یوسی نظر دسترګو الله ﷻ بدلوی

اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿٤٤﴾ وَاللَّهُ خَلَقَ

شپې او ورځې ، په دې کې عبرت خاوندانو دنظر دپاره ، او الله ﷻ جوړ کړی دی

كُلَّ دَابَّةٍ مِّن مَّاءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ بَطْنِهِ وَمِنْهُم مَّن

هر ګرځېدونکی ديو اوبو څخه ، پس ځيني هغه دي چې روان وي پر خېټه او ځيني هغه دي چې

يَمْشِي عَلَىٰ رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ أَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ اللَّهُ

روان وي په دوو پښو او ځيني هغه دي چې روان وي په څلورو پښو ، پيداکوي الله ﷻ

مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٥﴾

هغه چې وغواړي ، بيشکه الله ﷻ په هرڅه او په هرشي باندې قادر دی

لنډتفسير: (اې مخاطبه) اياتاته (په دليلو اومشاهدوسره) معلومه نه سوه چې دالله ﷻ پاکي بيانوي ټول
څه چې په اسمانونو اوپه ځمکه کې (مخلوقات) دي (برابره خبره ده که په قال سره وي لکه چې په ځيني
مخلوقاتوکې ليدل کيږي اوبرابره خبره ده که په حال سره وي لکه چې په ټول مخلوقاتوکې په دلالت
دعقل سره معلومه ده) او (په خصوصيت سره) الوتونکي (هم) کوم چې وزرونه يې خپاره کړي دي (په
هواکې الوزي چې د دوی دلالت په وجود دصانع باندې نور هم عجيبه دي چې سره ددې دومره درنو
جسمونوپه هواکې ټينګ سوي دي او) ټولو (الوتونکو) ته دخپلې خپلې دعا (او دالله ﷻ څخه التجاء
اوخپلې تسبيح (اوپاکۍ طريقه په الهام سره) معلومه ده او (سره ددې دليلونو بياهم ځيني توحيد نه مني
نو) الله ﷻ ته ددې ټولو خلګو دټولو کارونو پوره علم دی (په دې انکار اومخ اړولوبه دوی ته سزا ورکي)
او دالله ﷻ حکمت دی په اسمانونو او په ځمکه کې (اوس هم) او (په اخرکې به) د الله ﷻ طرف ته (دټولو)
واپس کيدل وي (هغه وخت به هم حاکمانه تصرف دده وي چنانچې دحکومت يواثر بيانيږي هغه دا چې
اې مخاطبه) ايا تاته دا خبره نه ده معلومه چې الله ﷻ (يوه) وريځه (دبلې وريځې طرف ته) روانوي (او)
بيا دغه وريځې (تولې) ديوبل سره يوځای کوي بيادا قط په قط کوي بياته باران وينې چې ددغه
(وريځې) دمينځ څخه راوزي را اوريږي او ددې وريځې يعنې ددې دلويو لويو حصو څخه (يلې اوروي
بيادغه چې په چا (يعنې په ځان يې ياپه مال يې) غواړي راغورځوي (چې دهغه نقصان په وسي) او دچا
څخه چې غواړي دغه بچ کوي (او دهغه ځان اومال بچ کوي او) ددغه وريځې (څخه بجلي هم پيدا کيږي او
داسې بريښيدونکې وي چې ددغه وريځې) دبجلي دبريښ داسې حالت معلوميږي چې ګويا اوس يې نظر

وتېنتوی (داهم دالله ﷻ دکارونوڅخه دی او) الله ﷻ شپې اوورځی بدلوی رابدلوی (دا هم منجمله دالله ﷻ دکارونو څخه دی) په دی (مجموعه ټولو) کی دعقل دخاوندانو دپاره (موقع د) دلیل نیولو ده (چی په دی سره په مضمون دتوحید اوپه مضمون دلهٔ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ باندی دلیل نیول کیږی) اوالله ﷻ (دا تصرف یی هم دی چی هغه) هرتلونکی ځناور (دوچی وی اوکه ددریاب) د اوبو څخه پیدا کړی دی بیاپه دغو (ځناورو) کی ځینی هغه (ځناور) دی کوم چی په دوو پښوروان وی (لکه انسان اومرغان الوتونکی چی په هوانه وی په مځکه ځی) او ځینی په دغو کی هغه دی چی په څلورو (پښو) روان وی (لکه حیوانان اوځینی په زیاتو پښو هم ځی اصل خبره دا ده چی) الله ﷻ څه چی غواړی جوړوی پی شکه الله ﷻ په هرڅه پوره قادر دی (هغه ته هیڅ گرانه نه ده)

معلومات اومسئلې: كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ : دایت په شروع کی یی داسی فرمایلی دی چی دمځکی اواسمان او ددی په مینځ کی هر مخلوق اوهر شی دالله ﷻ په تسبیح او پاکی بیانولوکی مشغول دی ، ددی تسبیح مطلب حضرت سفیان دابیان کړی دی چی الله ﷻ ددنیا هرشی آسمان مځکه لمر سپوږمی ټولی سیاری اوستوری او دمځکی عناصر اور اوبه خاوره هوا ټول یی دخاصو خاصو کارونو دپاره پیدا کړی دی دهغه دسر دوربېنته هومره خلاف نه کوی ، دی اطاعت او فرمانبرداری ته یی ددی شیانو تسبیح فرمایلی دی مطلب دا دی چی د دوی تسبیح حالی دی قالی نه دی دوی په زبان حال سره وایی چی دوی الله ﷻ پاك اولوی گڼی او دهغه په اطاعت کی لگیدلی دی .

زمخشری اونور مفسرین فرمایی چی په دی کی هم څه بعدنسته چی الله ﷻ په هر یو شی کی دومره پوهه اوشعور ایښی وی په کوم سره چی دی خپل خالق اومالك وپیژنی اوپه دی کی هم څه بعد نسته چی دوی ته یی څه خاص قسم گویایی ورکړی وی اوخاص قسم تسبیح اوعبادت یی دوی ته ښوولی وی چی دوی په کښی مشغول اوسیږی په اخری جمله كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ کی ددی مضمون طرف ته اشاره موندل کیږي ، چی دالله ﷻ په تسبیح اولمونځ کی ټول مخلوق لگیدلی دی ، مگر دهر یو دلمونځ اوتسبیح طریقه او صورت مختلف دی ، دملائکو ځان ته طریقه دانسان جلا او بوټی او درختی یوبل ډول عبادت لمونځ اوتسبیح کوی جمادات په یوه بله طریقه سره ، دقرآن کریم دیوبل آیت څخه هم ددی مضمون تائید کیږی په کوم کی چی ارشاد دی ، اَعْطٰى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى : یعنی الله ﷻ هرشی پیداکی بیایی ورته هدایت وکی هغه هدایت دا دی چی دی هروخت دالله ﷻ په اطاعت کی لگیدلی خپله سپارل سوی وظیفه پوره کوی ، ددی څخه علاوه یی دوی ته دخپل ژوند دضرورتونو متعلق داسی هدایتونه ورکړی دی چی دلویو لویو عاقلانو عقل ورته حیرانیږی دخپل اوسیدو دپاره ښگه ښگه جالی اوغارونه جوړوی او دخپل خوراك وغیره حاصلولو دپاره ښگه ښگه تدبیرونه کوی : مِنَ السَّمَاءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا : دلته دسماء څخه مراد وریځ ده او دجبال څخه مراد غټی غټی وریځی دی اوبَرَد ږلی ته وایی .

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ۗ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٤٦﴾ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا

مونږ نازل کړي دي ايتونه واضح بيان کوونکی او الله ﷻ هدايت کوي چاته چي وغواړي دلاري برابري، او خلق وائي

بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ

مونږ منلی دی الله او رسول ، او تابعداري کوو مونږ بيا واپس کيږي يوه فرقه د دوی څخه ددې څخه وروسته

وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ

او دغه خلق نه دي منونکی ، او هر کله چي دوی را وبلل سی الله او رسول طرف ته

بَيْنَهُمْ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَاِنْ يَّكُنْ لَّهُمُ الْحَقُّ يَاْتُوْٓا

چي فيصله وکړي په مينځ د دوی کی بيا هم يوه فرقه د دوی څخه مخ اړوی ، او که دوی ته څه رسيږي نو راځي

اِلَيْهِ مُذْعِنِيْنَ ﴿٤٩﴾ اَفِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَمِ ارْتَابُوْٓا اَمْ يَخَافُوْنَ

ورته قبلوونکی ، ايا د دوی په زړونو کی مرض دی يا په دوکه کی پريوتی دی يا بيريږي

اَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ۭ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٥٠﴾ اِنَّمَا

چي بی انصافي به وکړي په دوی الله ﷻ او دهغه رسول ، داسي نه ده بلکه دغه خلق بی انصافه دی ، دايماندارو

كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ

خبره دا ده چي کله را وغوښتل سی الله او دهغه درسول طرف ته دفيصلي کولو دپاره په دوی کی

اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ۭ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٥١﴾ وَمَنْ يُّطِعِ

چي وايي مونږ واوريدل او حکم منو او دغه خلق دی چي دوی له خيردی ، او څوک چي حکم مني

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَاۗىِٕزُوْنَ ﴿٥٢﴾

دالله او دهغه درسول او بيريږي دالله ﷻ څخه او ځان ورڅخه ساتی پس دغه مراد ته رسيدونکی دی

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ قُلْ

او قسمونه خوري په الله پاخه قسمونه خپل که ته ورته حکم وکړې نو هرخه به پرېږدي وبه وزي ته وو ايه

لَّا تُقْسِمُوْا طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۳﴾ قُلْ

قسمونه مه اخلئ حکم منل په کار دي د دستور مطابق ، بيشکه الله خبر دي په هغه څه چې تاسې يې کوئ ،ته

اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ

روايه ! حکم مني د الله او حکم مني د رسول پس که تاسې مخ واړوئ نو په هغه دي بار د هغه چې

وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ وَاِنْ تُطِيْعُوْهُ تَهْتَدُوْا وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا

په هغه ايښې دی او په تاسې دي بار د هغه چې په تاسې دي او که د هغه خبره ومنئ نو لاربه پيدا کئ او نشته په

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۵۴﴾

رسول ذمه واري ، مګر د ښکاره رسولو .

تفسير: مونږ (په حق) پوه کوونکي دليلونه (د عام هدايت د پاره) نازل فرمايلي دي او (د دې عامو څخه) چاته چې الله ﷻ وغواړي د نيکۍ لارې طرف ته (خاص) هدايت ورته فرمايي (چې بيا هغوی علمي حقونه د الوهيت يعني صحيح عقيدې او علمي حقونه يعني فرمانبرداري په ځای راوړي کنه نو ډېر محرومه پاته کيږي) او د منافقان خلګ (په ژبه سره) دعوی خو کوي چې مونږ په الله او په رسول ايمان راوړی دی او (د خدای او د رسول) حکم (په زړه سره) منلی دی بيا د دې څخه وروسته (کله چې د عمل کولو او خپلې دعوی ثابتولو وخت راغی نو) د دوی څخه يوه ډله (کومه چې زياته شرارتي ده د خدای او د رسول د حکم څخه) مخ اړوي (د دې وخت څخه هغه صورت مراد دی چې کله د دوی په ذمه د چا حق غوښتونکی وی او د حق مالك دې منافق ته درخواست وکړي چې راځه مقدمه د نبي کريم ﷺ مخ ته ورو په دې موقع دی مخ اړوی ځکه چې دی پوه وي چې د دوی په مخکې کله حق ثابت سي نو بيا به د هغه موافق دوی ﷺ فيصله کوي لکه چې ډېر ژر په آيت وَاِذَا دُعُوْا کې د دې موقع د بيان راروان دی او تخصيص د يوې فرقې (سره د دې چې ټول منافقان داسې وه) ځکه دی چې د غريبانو سره د دې چې په زړه سره به يې بد ، ګڼله خو د صفا انکار کولو همت به يې نه سو کولی د اکار هغه خلګ کوي کوم ته چې څه مرتبه او قوت حاصل وي) او دا خلګ بالکل ايمان نه لري (يعني په زړه کې خو ديوه منافق هم ايمان نشته مګر د دوی خودغه ظاهري

وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ
بنانسته سوی ایمان هم پاته نه سو لکه چی په دی آیت کی دی ،
: اوپه دی آیت کی دی ، قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُم: اوبیان ددی نافرمانی کولو دادی چی) داخلق کله چی دالله
اودهغه درسول طرف ته په دی غرض سره راوبلل سی چی رسول (ﷺ) د دوی (او د دوی دمقابل خصم) په
مینځ کی فیصله وکی نو په دوی کی یوه ډله (هلته دحاضریدو څخه) منع کوی (اوخبره شاته غورځوی او
دابلنه که څه هم درسول طرف ته ده مګر چونکه دده ﷺ فیصله دالله ﷻ دحکم په بنا باندی وی په دی وجه
دالله ﷻ طرف ته یی هم نسبت وسو مطلب دا چی کله چی د دوی په ذمه دچاحق غوښتونکی وی نوبیادده
داحالت وی) اوکه چیری (اتفاقًا) د دوی حق (دبل چا په ذمه وی) نوسر دتسلیم یی کښته کړی وی (بی
تکلفه ستا په بلنه باندی) ستا خواته راځی (ځکه چی مطمئن وی چی هلته فیصله په حقه وی په دی کی
زمافائده ده مخ ته ددی خلګو دمخ اړولو اونه حاضریدو وجه اواسباب په طور دځو احتمالاتو سره
بیانوی او دنورو تولو احتمالاتو نفی او دیو احتمال اثبات دی) ایا (ددی مخ اړولو سبب دا دی چی) د
دوی په زړونوکی (دیقینی کفر) مرض دی (یعنی د دوی دا یقین دی چی ته دالله رسول نه یی) یادوی
(دنبوت دطرف څخه) په شك کی پراته دی (چی درسول نه کیدو یقین خو یی نسته مګر درسول کیدو
یقین یی هم نسته) یا د دوی سره دا بیره ده چی الله ﷻ او دهغه رسول (ﷺ) به په دوی ظلم وکی (او د دوی
په ذمه چی کوم حق دی دهغه څخه به زیات ورځخه واخلی نو واقعه دا ده چی په دی اسبابوکی یوسبب
هم) نه (دی) بلکه (اصل سبب دا دی چی) داخلګ (په دی مقدموکی) په زیاتی باندی دی (په دی وجه دنبی
کریم ﷺ حضورته مقدمه راوړل نه خوښوی چی مونږ به بیلاد وکړو اوباقی تیر تول اسباب نه دی
دمسلمانانو (شان او د دوی) خبره خوکله چی دوی (په یوه مقدمه وغیره کی) دالله ﷻ او دهغه درسول
طرف ته راوبلل سی دا ده چی هغه یی (په خوشحالئ خوشحالئ) ویلی چی مونږ (ستاخبره) واوریده او
(دامو) ومنله (اوبیا فوراً راتللی) دا ده نښانه ددی چی دداسی خلګو امَنّا اواطعنا ویل په دنیاکی هم
رښتینی دی) او داسی خلګ به (په اخرت کی) فلاح پیداکی او (زمونږ په نزد خوقاعده کلیه دا ده چی
کوم سړی دالله ﷻ اودهغه درسول خبره ومنی او دالله ﷻ څخه بیره وکی اودهغه دمخالفت څخه ځان
وساتی نو داسی خلګ به مرادپیدا کوونکی وی او (دارنګه ددی منافقانو دا حال دی چی) هغه خلګ (بیر
زور دار قسمونه اخلی چی په خدای قسم (مونږ داسی فرمانبردار یوچی) که ته دوی ته (یعنی مونږ ته
حکم وکی (چی کوروغیره هرڅه پریږدی) نو هغه (یعنی مونږ) به اوس (هرڅه پریږدو) اوځو ته (دوی ته
ووایه چی بس قسمونه مه اخلی (ستاسی دَ) فرمانبرداری حقیقت معلوم دی (ځکه چی) الله ﷻ ستاسی
دعملونو پوره خبرلری (اوهغه ماته ښوولی دی لکه بل ځای ارشاددی ، قُلْ لَا تَعْتَذِرُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا
اللهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ او) ته (دوی ته) ووایه چی (په خبرو جوړولو کارنه کیږی کاروکی یعنی) دالله ﷻ
فرمانبرداری وکړی او درسول (ﷺ) فرمانبرداری وکی (مخ ته الله ﷻ دمضمون دشان په اهتمام سره به

خپله دی خلګوته خطاب فرمایی چی درسول (ﷺ) ددی وینا اوتبلیغ څخه وروسته) بیا که تاسی خلګ (دفرمانبرداری څخه) مخ اړوی نو پوره سی چی (درسول هیڅ ضرر نسته څکه چی) درسول په ذمه خو دغه (کارد) تبلیغ دی دکوم چی په ده بار اینبوول سوی دی (کوم چی هغه وکی اوغاړه یی ازاده سوه) اوستاسی په ذمه دغه (دفرمانبرداری) کار دی دکوم چی په تاسی بار اینبوول سوی دی (کوم چی تاسی پوره نه کی نو ستاسی به ضرروی) اوکه چیری (روی ګردانی ونه کړی بلکه) تاسی دده فرمانبرداری وکړه (کومه چی عین فرمانبرداری دالله ﷻ ده) نولار به پیداکی او (په هرحال درسول په ذمه صرف په صاف طور سره رسول دی (مخ ته پوښتنه به ستاسی څخه کیږی چی قبول موکی اوکه نه)

معلومات اومسئلې: دا ایتونه په یوه خاصه واقعه کی نازل سوی دی ، طبری وغیره دا واقعه داسی بیان کړی ده چی په منافقانوکی بِشْر نومی یو سړی وو، دهغه او دیو یهودی په مینځ کی دمځکی متعلق جګړه اوفیصله وه ، یهودی ده ته وویل چی درځه ستاسی په پیغمبر فیصله کوو، مګر بِشْر منافق پرناحقه وو ، دی پوهیدی چی که نبی کریم ﷺ ته فیصله ولاړه نو هغه به دا فیصله دحق موافق وکړی اوزه به یی وبایلم په دی وجه یی انکار وکی او دنبی کریم ﷺ په ځای یی کعب بن اشرف یهودی ته دفیصلی دورلو وویل، په دی باندی دا ایتونه نازل سول او په آیت اَفِیْ قُلُوْبِهِمْ مَرَضٌ الاية کی چی کوم د دوی په زړونوکی دیقینی کفر دمرض یاپه نبوت کی دشك نفی سوي ده ، ددی څخه مراد دا دی چی دا یقینی کفر یاشك د دوی دربار نبوی ته دمقدمی دراوړلو څخه دمنع کولو سبب نه دی که څه هم کفر اوشك کیدل په منافقانوکی ثابت او واضح دی مګر دمقدمی نه راوړل په اصل کی په دی سبب سره دی چی دوی پوهیږی چی فیصله به په حقه وسی اوموږ به یی وبایلو.

(دفلاح اوکامیابي دپاره څلور شرطونه)

وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللهَ وَيَتَّقْهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ : په دی آیت کی څلور شیان بیان سوی دی فرمایی چی څوك ددی څلورو شیانو پابند سی هغه بامراده او په دین او دنیا کی کامیاب دی.

یوه عجیبه واقعه: په تفسیر قرطبی کی دلته دحضرت فاروق اعظم ﷛ یوه واقعه نقل سوي ده په کوم سره چی ددی څلور شیانو دمطلب فرق اووضاحت کیږی واقعه دا ده چی حضرت فاروق اعظم ﷛ یوه ورځ په مسجد نبوی کی ولاړ وو چی ناڅاپه یورومی دهقان سړی ددوی ﷛ په خواکی برابر ودریدی اووي ویل ، اَنَا اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ : حضرت فاروق اعظم ﷛ پوښتنه وکړه څه خبره ده؟ نو هغه وویل چی دالله ﷻ دپاره مسلمان سوی یم ، حضرت فاروق اعظم ﷛ پوښتنه ورڅخه وکړه چی ددی سبب څه دی؟ هغه وویل چی خبره دا ده چی ما تورات انجیل زبور او دتیرو پیغمبرانو ډیر کتابونه ویلی دی مګر اوس په دی وخت کی یومسلمان قیدی دقرآن دا ایت وویلی هغه می واوریدی نومعلومه سوه چی دی کوچنی آیت ټول پخوانی کتابونه په خپل ځان کی ځای کړی دی نو زما یقین وسو چی دا

دالله ﷺ دطرف څخه دی حضرت فاروق اعظم ﷺ پوښتنه وکړه هغه کوم آیت دی؟ نورومی دهقان دا
ذکرسوی آیت تلاوت کی او ددی سره یی ددی عجیبه اونا اشنا تفسیر هم وښووی او داسی یی بیان کی
چی ، مَنْ يُطِعِ اللهَ: دالله ﷺ دفرضو متعلق دی وَرَسُولَهُ دسنت نبوی متعلق دی وَيَخْشَ اللهَ دتیرعمر متعلق
دی وَيَتَّقْهِ دانده پاته عمر متعلق دی کله چی انسان په دی څلوروشیانو عمل کوونکی سی نو دده دپاره د
اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ : خوشخبری ده اوفائز هغه سړی دی کوم چی دجهنم څخه نجات پیداکی او په جنت
کی ورته تیکانه ورکول سی ، حضرت فاروق اعظم ﷺ چی دا واوریدل ، نووي فرمایل چی (د) نبی کریم
ﷺ (په کلام کی ددی تصدیق موجود دی هغوی) فرمایی اُوْتِیْتُ جَوَامِعَ الْکَلِمِ یعنی الله ماته داسی جامع
کلمی راکړي دی دی چی دهغه الفاظ لنډ اومعانی یی ډیری وسیع دی (قرطبی)

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

وعده کړی ده الله دهغو خلقو سره چی ایمان یی راوړی دی ستاسی څخه او کړی دی دوی نیک کارونه

لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چی حاکمان به کړی دوی په مځکه کی وروسته دهغو څخه لکه چی حاکمان کړی یی وو د دوی څخه مخکې

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِيْنَهُمُ الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ

اومضبوط به کړی دوی لره دین د دوی کوم چی غوره سوی دی د دوی دپاره او وربه کړی دوی ته

بَعْدِ خَوْفِهِمْ اَمْنًا ؕ يَعْبُدُوْنَنِيْ لَا يُشْرِكُوْنَ بِيْ شَيْـًٔا ؕ وَمَنْ كَفَرَ

د دوی دبیری په بدله کی امن ، زما بندگی به کوی اوشریك به نه جوړ وی زماسره هیڅوك اوڅوك چی ناشکری

بَعْدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

وکړی ددي څخه وروسته نو دغه خلق دی نافرمانه ، اوقائم ساتی لمونځ او ورکوی زکوٰة

وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او حکم منی درسول ﷺ چی په تاسی رحم وسی ، خیال مه کوه چی دا کافران به

مُعۡجِزِیۡنَ فِی الۡاَرۡضِ ۚ وَ مَاۡوٰىهُمُ النَّارُ ؕ وَ لَبِئۡسَ الۡمَصِیۡرُ ﴿۵۷﴾

رتښتي او بچ به سي په مځکه کي او د دوی ځای اور دی او ډیر بدځای ورتلو دی.

تفسیر: (ای مجموعی امته) په تاسی کي چي کوم خلګ ایمان راوړی اونیك عمل وکی (یعنی د الله ﷻ دراليږل سوی نور دهدايت كامله تابعداري وكي) دهغوی سره الله ﷻ وعده فرمایي چي هغوی ته به (ددی تابعداری په برکت سره) په مځکه کی حکومت ورکړی لکه چي دهغوی څخه مخکي (اهل هدایت) خلګو ته یی حکومت ورکړی وو (لکه چي بنی اسرائيل یی په فرعون او دده قوم قبطیانوباندی غالب کړل بیایی په شام کی دعمالقه په شان په بهادرقوم باندی دوی ته غلبه ورکړه اودمصر اودشام دحکومت یی دوی وارثان جوړ کړل) او (مقصود ددی حکومت ورکولوڅخه به دا وی چي) کوم دین (الله ﷻ) د دوی دپاره ښه کړی دی (یعنی اسلام لکه چي په بل آیت کی دی ، رَضِیۡتُ لَکُمُ الۡاِسۡلَامَ دِیۡنًا) هغه ته به دهغوی د (نفع داخرت د) پاره قوت ورکړی او (دوی ته به کومه چي ددښمنانوڅخه طبعی بیره ده) دهغوی ددی بیری څخه وروسته به هغوی ته هغه په امن سره بدله کړی په دی شرط چي زما عبادت کوی (او) زما سره هیڅ قسمه شرك ونه کی (نه ښکاره نه پټ کوم ته چي ریاء ویل کیږی یعنی دا وعده د الله ﷻ مشروطه ده په دین باندی په پوره ثابت قدم اوسیدو پوری او داوعده په دنیاکی ده او په اخرت کی په ایمان اونیك عمل چي کومه دعظیمی جزا اوهمیشه راحت وعده ده هغه ددی څخه علاوه ده) اوکوم سړی چي وروسته (دظهور) ددی (وعدی) څخه ناشکری وکی (یعنی د دین څخه خلاف لار اختیار کی) نو (دداسی سړی دپاره دا وعده نه ده بلکه) دا خلګ نافرمانه دی (اووعده وه دفرمانبردارو دپاره په دی وجه په دنیاکی هم د دوی سره وعده دحکومت ورکولو نسته او داخرت عذاب ددی څخه علاوه دی) او (ای مسلمانانو! کله چي دایمان اونیك عمل دنیوی اودینی فائدی تاسی واوریدی نو تاسی ته په کاردی چي) دلمانځه (ښه پابندی ساتی اوزکوٰة ورکوی او (په باقی حکمونوکی هم) درسول (ﷺ) فرمانبرداری کوی ، ددی دپاره چي په تاسی (کامل) رحم وسی (مخ ته دکفر اونافرمانی انجام ذکرسوی دی چي ای مخاطبه!) دکافرانو په نسبت داخیال مه کوه چي په (یوه حصه د) مځکه کی (به وتښتی اوموږ به) عاجزه کی (اوزموږ دقهرڅخه به محفوظ سی داسی نه ده بلکه دوی به په خپله عاجزه سی اومقهور اومغلوب به سی دا خو نتیجه په دنیا کی ده) او (په اخرت کی) دهغوی ځای دوږخ دی اوډیر ناکاره ځای دی.

معلومات اومسئلې: شان نزول: قرطبی دابوالعالیه څخه نقل کړی دی چي نبی کریم ﷺ دوحی دنزول او دنبوت داعلان وروسته لس کاله په مکه مکرمه کی پاته سوی وو نوهر وخت به دکفارو اومشرکانوڅخه په بیره کی وو بیامدینی منوری ته دهجرت حکم وسو نو دلته هم هروخت دمشرکانو دحملوڅخه په خطره کی وو یو سړی نبی کریم ﷺ ته عرض وکی یارسول الله! یو وخت به په موږ داسی وخت هم راسی چي

مونږ به وسله را وباسو اوپه امن اواطمينان سره به اوسيږو؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل چې ډير ژر داسې وخت راتلونكى دى په دې باندې دا ايت نازل سو (قرطبي وبحر)

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي چې په دې ايتونوكى دالله ﷻ وعده ده كومه چې يې ددې امت په وجود كې دراتلو څخه مخكې په تورات اوانجيل كې كړې وه (بحر محيط)

الله ﷻ دنبي كريم ﷺ سره د درې شيانو وعده وفرمايل چې ستا امت به دمځكې خليفه ګان اوحكم رانان جوړ سي او دالله ﷻ خوښ كړى دين داسلام به غالب سي اومسلمانانو ته به دومره قوت اوشوكت وركول سي چې ددښمنانو هيڅ بيره به يې پاته نه سي ، الله ﷻ خپله دا وعده داسې پوره كړه چې په خپله دنبي كريم ﷺ په مباركه زمانه كې مكه خيبر بحرين اوټول جزيرة العرب او ديمن ټول ملك دنبي كريم ﷺ په ذريعه فتح سو اودهجر دمجرسيانو اودشام دملك دځينواطرافو څخه دوى جزيه وصوله كړه او درروم بادشاه هرقل اودمصر اواسكندريې بادشاه مقوقس اودعمان بادشاهانو اودحبشې نجاشي وغيره نبي كريم ﷺ ته ډالۍ راوليږلې او د دوى تعظيم اوتكريم يې وكى ، بيا د دوى ﷺ دوفات څخه وروسته حضرت صديق اكبر رضي الله عنه خليفه سو نو دوفات څخه وروسته څه فتنې پيدا سوې وى هغه يې ختمې كړې او دشام مصر فارس ښارونوته يې لښكرې وليږلې اوبُصرىٰ اودمشق د دوى په زمانه كې فتح سول او دنورو ملكونو هم ځينې حصې فتح سوې .

چې دحضرت صديق اكبر رضي الله عنه دوفات وخت راغى نو الله ﷻ د دوى په زړه كې دځان څخه وروسته دحضرت عمربن خطاب رضي الله عنه خليفه جوړولو الهام وفرمايي ، حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه چې خليفه سو نو دوى دخلافت انتظام داسې سنبال كې چې اسمان دانبياء عليهم السلام څخه وروسته داسې نظام نه وروليدلى د دوى په زمانه كې شام ټول فتح سو، دغه ډول ټول ملك دمصر اودفارس اكثره حصه ، د دوى په زمانه كې دقيصراوكسرىٰ دقيصرى اوكسروى خاتمه وسوه دى څخه وروسته دخلافت عثماني رضي الله عنه وخت راغى نو داسلامي فتوحاتو دائره په مشرق اقصىٰ كې ترچين پورې اوعراق خراسان اهوازټول د دوى په زمانه كې فتح سول اوپه صحيح حديث كې چې كوم نبي كريم ﷺ فرمايلي وه چې ماته دټولې مځكې مشرق اومغرب وښوول سو اوزما دامت حكومت به هغو ټولو علاقوته رسيږي كوم چې ماته وښوول سوى ، الله ﷻ دا وعده دخلافت عثمانيه په دوركې پوره كړه (دا ټول مضمون دتفسير ابن كثير څخه را اخستل سوى دى) اوپه يوحديث كې چې داراغلي دي چې خلافت به زماڅخه وروسته ديرش كاله وي ددې څخه مراد خلافت راشده دى كوم چې بالكل دنبي كريم ﷺ په نقش قدم باندې وو اوتر حضرت علي مرتضىٰ رضي الله عنه پورې وچليدى ځكه چې دا دديرشو كالو موده ترحضرت علي كرم الله وجهه پورې پوره سوه .

ابن كثير رحمه الله دلته دصحيح مسلم دا حديث هم نقل كړى دى چې حضرت جابربن سمره رضي الله عنه فرمايي چې مادنبي كريم ﷺ څخه اوريدلي دي دوى فرمايل چې زما دامت كار به چليږي ترڅوچې دولس خليفه ګان

وی ، ابن کثیر رحمه الله ددی حیث نقل کولو څخه وروسته فرمایی چی دا حدیث په دی امت کی د دوولسو عادله خلیفه ګانو خبر ورکوی چی ددی واقع کیدل ضروری دی ، لیکن دا ضروری نه ده چی دغه ټول دی پرله پسی اومتصل وی بلکه کیدی سی چی دڅه وقفوڅخه وروسته وی په دوی کی څلور خو په یو بل پسی تیرسوی دی کوم چی خلفاء راشدین وه بیاڅه وقفه وروسته حضرت عمربن عبد العزیز رحمه الله راغی دده څخه وروسته هم په مختلفو زمانوکی داسی خلیفه ګان تیرسوی دی اوتر قیامته پوری به وی او اخری خلیفه به حضرت مهدی وی .

روافضوچی کوم دولس خلفاء متعین کړی دی دهغوی هیڅ دلیل په حدیث کی نسته بلکه په هغوی کی ځینی خو هغه دی دکومو چی دخلافت سره هیڅ تعلق نه دی پاته سوی او دا هم ضروری نه ده چی ددی ټولو درجی دی برابری وی او دټولو په زمانه کی دی امن اوسکون دنیاته یوډول حاصل وی بلکه ددی وعدی مدار پرایمان اونیك عمل داستقامت اوپه مکمله تابعداری باندی دی ، ددی درجو په اختلاف سره دحکومت په نوعیت اوقوت کی هم فرق اواختلاف لازمی دی داسلام څوارلس سوه کاله تاریخ په دی شاهددی چی په مختلفوزمانو اومختلفو ملکونوکی کله اوکوم ځای چی دمسلمانانو عادل اوصالح بادشاه تیر سوی دی هغه ته دخپل عمل اواصلاح په پیمانه باندی ددی الهٰی وعدی حصه ورکول سوي ده لکه چی په قرآن کریم کی بل ځای فرمایی ، اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ : یعنی دالله ﷻ جماعت غالب وی .

(په ذکر سوی آیت کي دخلفاءِ راشدینو دخلافت او د الله ﷻ په نزد دمقبولیت ثبوت)

دا ایت دنبی کریم ﷺ په رسالت اونبوت دلیل هم دی ځکه چی کومه پیش ګویی په دی آیت کی فرمایل سوی وه هغه بالکل هم هغه ډول پوره سوه ، دغه ډول دا ایت دخلفاءِ راشدینو دخلافت په حقوالی صحیح والی او دالله ﷻ په نزد دمقبول والی هم دلیل دی ځکه چی په دی آیت کی الله ﷻ کومه وعده دخپل رسول ﷺ او دهغه دامت سره فرمایلی وه دهغه پوره پوره ظهور ددغو حضراتوپه زمانه کی وسو که ددغو حضراتو خلافت حق اوصحیح ونه منل سی لکه چی دروافضو خیال دی نو بیا خو دقرآن دا وعده هیڅکله پوره نه سوه او دروافضو دا خبره چی دا وعده به دحضرت مهدی په زمانه کی پوره کیږی یوه دخندا خبره ده، ددی مطلب خو دا سو چی څوارلس سوه کاله به ټول امت په ذلت اوخواری کی وی اوقیامت ته نژدی به دیوڅوورځو دپاره دوی ته حکومت ورکول سی ، دغه حکومت ددی وعدی څخه مراد دی ، معاذ الله

حقیقت دا دی چی دا وعده الله ﷻ په کوموشرطونو دایمان اونیك عمل باندی کړی وه هغه شرطونه هم په دی حضراتوکی دټولو څخه زیات کامل اومکمل وه او دالله ﷻ وعده هم کامله مکمله د دوی په زمانه کی پوره سوه د دوی څخه وروسته نه دایمان اوعمل هغه درجه قائمه پاته سوه او نه دخلافت اوحکومت هغه وقار یوځای قائم سو.

وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُوْنَ : دکفر لغوی معنٰی ناشکری او اصطلاحی معنٰی دایمان ضد دی، دلته لفظی معنٰی هم مراد کیدی سی او اصطلاحی هم معنٰی دایت دا ده چی څه وخت الله ﷻ دمسلمانانو سره خپله دا وعده پوره کړی اومسلمانانو ته حکومت قوت امن اطمینان او دِین ته استحکام حاصل سی ددی څخه وروسته هم که څوك کفر وکی یعنی داسلام څخه واپس سی یا ناشکری وکی چی ددی اسلامی حکومت دفرمانبرداری څخه منع وکی نو داسی خلګ دحد څخه وتونکی دی، په اول صورت کی دایمان څخه ووتل او په دوهم صورت کی داطاعت څخه ووتل ، کفر اوناشکری په هروخت اوهرحال کی عظیمه ګناه ده ، مګر داسلام اومسلمانانو دقوت اوشوکت اوحکومت قائمیدو څخه وروسته داشیان دوچنده جرمونه سی په دی وجه یی په بَعْدَ ذٰلِكَ سره موکد وفرمایی.

امام بغوی رحمه الله فرمایی چی دتفسیر عالمانو ویلی دی چی دقرآن ددی جملی دتولوڅخه اول مصداق هغه خلګ سول کوم چی خلیفهٔ وخت عثمان رضی الله عنه قتل کی اوکله چی هغوی دا عظیم جرم وکی نو داالله ﷻ په ذکر سوو انعامونوکی هم کمی راغله ، په خپل مینځ کی په قتلونو جنګونو بیرو ترهو باندی اخته سول او وروسته ددی څخه چی تول په خپل مینځ کی ورونه ورونه وه دیوبل په قتلولو شروع سول.

بغوی په خپل سندسره دحضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه داخطبه نقل کړي ده کومه چی دوی دحضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت دهنګامی په وخت کی ورکړی وه دخطبی الفاظ دا دی.

داالله ﷻ ملائکی ستاسی دښار څخه چاپیره دحفاظت دپاره ترهغه وخته پوری مشغولی وی تر څو پوری چی نبی کریم ﷺ په مدینه منوره کی تشریف فرماوو او ترننه پوری دا سلسله جاری وه په خدای قسم دی که تاسی عثمان رضی الله عنه قتل کی نو دا ملائکی به بیرته ولاړی سی اوبیابه هیڅکله دوباره رانه سی په خدای قسم دی په تاسی کی چی کوم سړی دی قتل کړی هغه به داالله ﷻ په مخکی لاس پریکړی حاضریږی دهغه به لاس نه وی او پوه سی چی الله ﷻ توره تراوسه پوره په تیکی کی وه په خدای قسم دی که دغه توره دتیکی څخه راووتله نوبیابه هیڅکله تیکی ته واپس نه سی ځکه چی کله یونبی قتل سی نو دهغه په بدله کی اویا زره وژل کیږی او کله چی یوخلیفه قتل سی نوپنځه دیرش زره انسانان وژل کیږی (مظهری)

چنانچی دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه دقتل څخه چی کومه دمسلمانانوپه مینځ کی دخونریزی سلسله شروع سوی وه هم هغسی په امت کی چلیږی اولکه څنګه چی داالله ﷻ دخلافت دنعمت او ددین داستحکام مخالفت اوناشکری دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه قاتلانو کړی وه دهغه څخه وروسته روافضو اوخوارجو دخلفاءِ راشدینوپه مخالفت کی دله بازی اوګروه بندی جوړی کړی په دی سلسله کی دحضرت حسین بن علی رضی الله عنه دشهادت عظیمه حادثه پیښه سوه (الله ﷻ دی مونږ ته هدایت او دخپل نعمت شکرنصیب کړی)

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ

اى ايماندارو! اجازه دى اخلى دراتلو ستاسى څخه كوم چى ستاسى دلاس مال دى اوكوم چى نه وى

يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۭ مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ

رسيدلى په تاسى كى دعقل حد ته درى وارى ، مخكې دلمونځ دسهار څخه

وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ

او كله چى وباسى تاسى خپلى كپړى په غرمه كى او وروسته دلمانځه

الْعِشَاۗءِ ۣ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۭ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ

دماخستن څخه ٭دا درى وختونه دپردى دى ستاسى٭، هيڅ تنگى نسته په تاسى او نه په هغو

بَعْدَهُنَّ ۭ طَوّٰفُوْنَ عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۭ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ

ددې وختونو څخه وروسته چى ځى راځى ديو بل خوا ته داسى بيانوى

اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۸﴾ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ

الله ﷻ تاسى ته خبرى اوالله ﷻ په هرڅه پوه حكمت والادى ، او هركله چى ورسيږي هلكان په تاسى كى

الْحُلُمَ فَلْيَسْتَاْذِنُوْا كَمَا اسْتَاْذَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ كَذٰلِكَ

دعقل حدته نو دوى لره هم دغه شان اجازه اخسل په كاردى ، لكه چى اجازه اخستى دى د دوى څخه مخكې خلقو

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ ۭ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۹﴾ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَاۗءِ

دارنگه بيانوى الله ﷻ تاسى ته خپلى خبرى ، او الله ﷻ هرڅه پيژنى حكمت والادى ، اوهغه چى ناستى وى په

الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ

كورونو كى ستاسى دهغو ښځو څخه اميدىى نه وى پاته سوى دنكاح په دوى گناه نسته چى وباسى خپلى كپړى

غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ ؕ وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ؕ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ

داسي نه چي ښکاره کوونکي وي دخپل سنګار ، اوكه ددې څخه هم ځان وساتي نوښه ده د دوی دپاره ، اوالله ﷻ

عَلِيْمٌ ﴿۶۰﴾

تولی خبری اوری پيژني.

تفسير: اى ايماندارو! (تاسي ته دراتلو دپاره) ستاسي مملوك غلامان اوكوم چي په تاسي كي حد دبلوغ ته نه وي رسيدلي دوی ته په درو وختونوكي اجازت اخستل په كار دي (يوخو) دسهار دلمونځ څخه مخكي او(بل) كله چي دغرمي (دخوب اوپريوتو دپاره) خپلي (زياتي) كپړي وباسي او (دريم) دماخستن دلمونځ څخه وروسته دا دري وختونه ستاسي دپردي دي (يعني داوختونه چونكي دعام عادت مطابق ديوازي كيدو او دارام دي په كوموكي چي بنده په بي تكلفي سره پاته كيدل غواړي او په يوازي كيدوكي څيني وخت پټ اندامونه هم ښكاره كيږي ياپه يوضرورت سره ښكاره كول كيږي په دي وجه خپل مملوك غلامان مينځي اوخپل نابالغ بچي پوهوي چي بي دخبر اواجازت څخه په دي وختونو كي ستاسي خواته نه راځي او) ددي وختونو څخه علاوه نه (خو بي اجازته په راتلو اومنع نه كولوكي) په تاسي څه الزام سته او نه (په بي اجازته راتلوكي) په هغو څه الزام سته (ځكه چي) دغه ډير ستاسي خواته ځي راځي دچاخواته اوځوك دچا (نو هروخت په اجازت اخستوكي تكليف دي اوچونكي دا وخت دپردي نه دي په دي وجه په دي كي خپل دستر اندامونه پټ ساتل څه ګران نه دي) دغه ډول الله ﷻ تاسي ته خپل حكمونه صفا صفا بيانوی اوالله ﷻ پوه اوحكمت والادی اوڅه وخت چي په تاسي كي (يعني په ازادوكي) هغه هلكان (دكوم وچي لوړ حكم راغلي دي) حد دبلوغ ته ورسيږي (يعني بالغ سي يابالغيدو ته نژدي سي) نو هغوته هم دغه ډول اجازت اخستل په كار دي لكه چي د دوی څخه مخكنيو (يعني د دوی څخه دلوی عمر) خلګو اجازت اخستي دغه ډول الله ﷻ تاسي ته خپل احكام صفا صفا بيانوی اوالله ﷻ پوه حكمت والادی او (يو په دي خبره ځان پوهول په كار دي چي دپردي په احكاموكي سختوالي دفتني په بيره باندي مبني دي كوم ځاي چي دفتني عادتًا احتمال نه وي مثلاً) كومي زړي بوډۍ ګاني ښځي دكومرچي (دچا) په نكاح (كي دراتلو) اميدنه وي (يعني دچارغبت ورته نه كيږي دا تفسير دی دزړيدو بوډۍ كيدو) دوی ته په دي خبره كي څه ګناه نسته چي دوی خپلي (زياتي) كپړي (په كوموسره چي مخ وغيره پټ وي دغيرمحرم په مخكي هم) وباسي په دي شرط چي دزينت (دځايونو) اظهارنه كوی (دكوموظاهرول چي دغير محرم په مخكي بالكل ناجائز دي پس مراد ددي څخه مخ دواړه ورغوی او دځينو په قول دواړه قدمونه هم په خلاف دځواني ښځي څخه چي په وجه داحتمال دفتني ددي دمخ

وغیره هم پرده ضروري ده) او (که څه هم زړوبوډی ګانو ښځوته دغیر محرمو په مخکی دمخ ښکاره کولو اجازت دی لیکن) ددی څخه هم که احتیاط وکی نو د دوی دپاره زیاته ښه ده (ځکه چی اول خوبی احتیاطی ده دوهم بالکل دبی پردګی بندول مقصود دی) او الله ﷻ هرڅه اوری په هرڅه پوهیږي.

معلومات اومسئلي: دسورة په شروع کی دا بیان سوی دی چی دسورة نور زیات احکام دبی حیایی اوفواحشو دبندولو دپاره راغلی دی او ددغو په مناسبت سره ځینی احکام دمعاشرت دادابو اویو بل سره دملاقات بیان سوی دی بیادښځو دپردی احکام بیان سول.

(خپلوانو اومحرموته په خاصو وختونوکي داجازت غوښتلو حکم)

دمعاشرت دادابو اویوبل سره دملاقات اداب ددی څخه مخکی ددی سورة په آیت ۲۷، ۲۸، ۲۹، کی داستیذان داحکامو یعنی اجازت اخستلوپه عنوان سره بیان سوی دی چی دچا ملاقات ته ځی نو بغیر داجازت اخستو دهغه کورته مه داخلیږی که کور داسی وی چی ښځی په کښی اوسیږی اویا داسی وی چی سړی په کښی اوسیږی او دا راغلی او دننه کیدونکی سړی وی اوکه ښځه، دټولو دپاره دچا کورته ددننه کیدو دپاره اول اجازت اخستل واجب ګرځول سوی دی مګر داجازت غوښتلو دا احکام دپردو دپاره وه کوم چی ددباندی څخه دملاقات دپاره راغلی وی.

په دی ذکرسوو ایتونوکی دیو بل استیذان داحکامو بیان دی دکوموتعلق چی دهغو خپلوانو اومحرمو سره دی کوم چی په عام طور سره په یو کورکی اوسیږی اوهروخت ځی راځی او د دوی څخه دښځو پرده هم نه وی ددا سی خلګو دپاره هم که څه هم کورته دداخلیدو په وخت کی ددی حکم دی چی کورته د داخلیدو په وخت کی په څه کش کرپ وغیره سره اطلاع ورکوی هلته دی کورته داخلیږی او دا استیذان دداسی خپلوانو دپاره واجب نه دی بلکه مستحب دی چی پریښوول یی مکروه تنزیهی دی، په تفسیر مظهری کی دی.

فَمَنْ اَرَادَ الدُّخُوْلَ فِیْ بَیْتِ نَفْسِهٖ وَفِیْهِ مَحْرِمَاتُهٗ یَکْرَهُ لَهُ الدُّخُوْلَ فِیْهِ مِنْ غَیْرِ اسْتِیْذَانٍ تَنْزِیْهًا لِاحْتِمَالِ رُؤْیَةِ وَاحِدَةٍ مِنْهُنَّ عُرْیَانَةً وَهُوَ احْتِمَالٌ ضَعِیْفٌ وَمُقْتَضَاهُ التَّنَزُّهُ. (مظهری)

دا حکم خو کورته دداخلیدو څخه اول وو، لیکن چی کورته دا خل سی بیا دا ټول یوځای دیو بل په مخکی اوسیږی او دیو بل خواته ځی راځی، د دوی دپاره په درو خاصو وختونو کی کوم چی دانسان په خلوت کی د اوسیدو وختونه دی، دیو بل استیذان حکم یی په دی ایتونوکی ورکړی دی هغه دری وختونه دسهار دلمانځه څخه مخکی او دغرمی دارام کولو په وخت کی اودماخستن دلمونځ څخه وروسته وختونه دی، په دی کی محرمان او خپلوان تردی چی پوه نابالغه بچی اومملوك مینځی غلامان یی هم ددی استیذان پابند کړی دی چی په دی درو وختونو دخلوت کی دی هیڅوك هم دچا خلوت ګاه ته بغیر داجازت څخه نه داخلیږی، ځکه چی په دی وختونوکی هرانسان ازاد اوبی تکلفه پاته کیدل غواړی

زیاتی کیږی هم دخان څخه لیری کوی او کله خو دخپلی دبی بی سره په بی تکلفه خلط کی مشغوله وی، په دی وختونوکی هوښیار بچی یادکور څوك ښځه یادخپل اولاد څخه څوك بغیر داجازت څخه دننه راسی نو ډیر واره هغه په داسی حالت کی پیداکی چی په ظاهرولو یی انسان شرمیږی ده ته سخت تکلیف ورسیږی اوکم ازکم دده په بی تکلفی اوارام کی خوخلل خامخا راسی ، په دی وجه په ذکرسوو ایتونوکی د دوی دپاره دخاص استیذان احکام راغلی دی چی په دی دری وختونوکی دی څوك دچاخواته بغیر داجازت څخه نه ځی ، ددی احکامو څخه وروسته یی دا هم وفرمایل چی .

لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ : یعنې ددی وختونو څخه علاوه هیڅ باك نسته چی دیوبل خواته بی اجازته ځی ځکه چی دغه وختونه په عام طورسره دهرسړی دکار روزګار او د اندامونو پټو ساتلودی ، په کوموکی چی په عام طورسره څوك دخپلی ښځی سره اختلاط هم نه کوی .

دلته یوسوال داپیدا کیږی چی په دی آیت کی بالغ سړی اوبالغی ښځی ته خو داستیذان حکم ورکول ظاهر دی مګر نابالغ بچی کوم چی شرعًا دڅه حکم مکلف نه وی ، د دوی هم ددی حکم پابند کول په ظاهره داصولو څخه خلاف دی .

جواب دا دی چی ددی مخاطب په اصل کی بالغ سړی اوښځی دی چی دوی کوچنی بچی هم پوه کړی چی په داسی وختونوکی بغیر دمخکنی اجازته دننه نه راځی په حدیث کی دی چی بچی کله داوو کالوسی نولمونځ ورته زده کوی او دادا کولو حکم ورته کوی او دلسو کالو دعمر څخه وروسته دوی په سختی سره دلمونځ پابندکوی ، که نه یی منی نوپه وهلو لمونځ په کوی ، دغه ډول ددی استیذان حکم په اصل کی بالغو سړو اوښځو ته دی ، او په ذکر سوی جمله کی چی کوم دا الفاظ دی چی ددی وختونو څخه علاوه په نورو وختونوکی په تاسی څه تنګی نسته چی دوی بی اجازته پریږدی او نه پردوی څه تنګی سته چی دوی بی اجازته راځی په دی کی که څه هم لفظ دجناح راغلی دی چی په عام طور سره دګناه په معنی کی استعمالیږی مګر کله مطلق دحرج اوباك په معنی کی راځی ، دلته دلاجناح معنی دا ده چی څه باك اوتنګی نسته ، په دی سره دبچو دمکلف او دګناهګار کیدو شبهه ختمه سوه (بیان القرآن)

مسئله: په ذکر سوی آیت کی چی کوم ، دَ ٱلَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم لفظ راغلی دی چی معنی یی مملوك غلام اومینځه دواړه دی په دوی کی مملوك غلام کوم چی بالغ وی دغه خو شرعًا داجنبی غیر محرم په حکم کی دی دده مالکی ښځی ته هم دده څخه پرده کول لازم دی ، لکه چی مخکی بیان سوی دی، په دی وجه ددی لفظ څخه مراد مینځی یاهغه مملوك غلامان دی کوم چی بالغ نه وی اوهروخت کورونو نه دننلو راتلو عادت وی .

مسئله: په دی کی دعلماؤ اوفقهاؤ اختلاف دی چی داخاص استیذان دخپلوانو دپاره واجب دی یامستحب دی او دا چی دا حکم اوس هم جاری دی اوکه منسوخ سوی دی ، دجمهورو فقهاؤ په نزد دا

آیت محکم غیر منسوخ دی او حکم یی دوجوب دپاره دی دسړو دپاره هم او دښځو دپاره هم (قرطبی)
لیکن دا ظاهره ده چی ددی دوجوب علت اووجه هغه ده کومه چی لوړه بیان سوي ده چی په دی درو وختونوکی عام خلګ خلوت غواړی او په دی کی اکثره دخپلی بی بی سره هم مشغول وی اوکله پټ اندامونه هم ښکاره وی که څه خلګ ددی احتیاط کوی چی په دی وختونوکی هم خپل پټ اندامونه نه ښکاره کوی او دبی بی سره خلط هم بغیردهغه صورت څخه نه کوی چی دچا دراتلو احتمال پاته نه سی لکه چی داعادت جوړسوی دی نو په دی صورت کی پردوی دا هم واجب نه پاته کیږی چی خپل خپلوان او بچی داستیذان پابندکړی اونه په خپلوانو واجب پاته کیږی البته ددی ښه والی اومستحب والی په هرحال کی دی ، مګر په عام طور سره په دی باندی عمل کول داوړدی زمانی تیریدو په وجه پریښوول سوی غوندی دی ، په دی وجه حضرت ابن عباس ؓ په یو روایت کی خو په دی باندی ډیرسخت الفاظ استعمال کړی دی او په یو روایت کی یی دعمل نه کوونکو خلګو څه عذر بیان کړی دی .
اولنی روایت ابن کثیر رحمه الله په سند دابن ابی حاتم دا نقل کړی دی چی حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمایی چی دری ایتونه داسی دی په کوموچی خلګو عمل پری ایښی دی یودا ایت داستیذان ، يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِيَسْتَأْذِنكُمُ الَّذِينَ مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ : په دی کی خپلوانو اونابالغو کوچنیانوته هم داستیذان تعلیم دی ، دوهم آیت ، وَإِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ أُولُو الْقُرْبَىٰ : دی په دی کی دمیراث دتقسیم په وخت کی وارثانو ته ددی هدایت سوی دی چی که دوراثت دمال دتقسیمولو په وخت کی ځینی داسی قریبان هم موجود سی دکوموچی دمیراث په قاعده سره څه حصه نه وی نو هغوی ته هم څه ورکوی چی زړه یی نه بدیږي ، دریم آیت إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ : په دی کی یی ښوولی ده چی دټولو څخه زیات معزز اومکرم هغه سړی دی کوم چی دټولو څخه زیات متقی وی اونن صباخلق معززاومکرم هغه ګنی دچاسره چی پیسه ډیره وی دچاچی کور اوکوټی اوبنګله شانداره وی ، دځینو روایتونو الفاظ په دی کی دا هم دی چی حضرت ابن عباس ؓ فرمایلی دی چی د درو ایتونو په معامله کی په خلګو شیطان غالب سوی دی اوبیا فرمایی چی ماخو خپله مینځه هم ددی پابنده کړي ده چی په دی درو وختونو کی به بغیر داجازت څخه زما خواته نه راځی .
بل روایت دابن ابی حاتم رحمه الله په حواله سره دحضرت عکرمه ؓ څخه دا نقل دی چی دوه سړی دحضرت عبدالله ابن عباس ؓ څخه دخپلوانو ددی استیذان متعلق پوښتنه وکړه چی په دی خلګ عمل نه کوی ، ابن عباس ؓ وفرمایل إِنَّ اللَّهَ سِتِّيرٌ يُحِبُّ السَّتْرَ : یعنی الله ﷻ ډیرسترکوونکی دی او دستر حفاظت خوښوی خبره داده چی ددی ایتونودنزول په وخت کی معاشرت ډیر ساده وو نه دخلګو په دروازو باندی پردی وی اونه په کورونوکی دننه پردی اوپرده داړپالنګونه وه دغه وخت به کله داسی کیده چی دسړی نوکر یازوی لوربه ناڅاپه راغلل او دا سړی به دخپلی بی بی سره مشغول وو په دی وجه الله ﷻ په دی ایتونوکی په درو وختونوکی داستیذان پابندی لګولی وه اواوس چونکه پردروازو پردی او په کورونوکی پرده دار

پالنگونه شروع سول په دی وجه یی داوګڼله چی بس داپرده کافی ده اوس داستیذان ضرورت نسته (ابن کثیر رحمه الله ددی روایت نقل کولو څخه وروسته فرمایی هٰذا اسناد صحیح الی ابن عباس رضی الله عنه په هرحال دابن عباس رضی الله عنه ددی دوهم روایت څخه دومره خبره راوزی چی کله دداسی واقعاتو بیره نه وی چی سړی به دخپلی ښځی سره مشغول وی یابه یی پټ اندامونه ښکاره وی او دچا دراتلو احتمال وی په داسی حالاتوکی څه اسانی سته لیکن.

(قرآن دپاکیزه معاشرت تعلیم ورکړی دی)

چی څوك دچاپه ازادی کی خلل ونه غورځوی نو ټول په ارام اوراحت سره اوسیږي ، کوم خلک چی په دی استیذان سره دخپل کور خلک نه پابندکوی هغوی په خپله په تکلیف کی وی دخپل ضرورت اوخواهش مطابق په کارونو کولو کی ورته تنګی پیښیږي.

(دښځو دپردی داحکامو تاکیداو په دی کي يوه بله استثناء)

ددی څخه مخکی دښځو دحجاب اوپردی احکام په دوو ایتونوکی په تفصیل سره راغلی دی اوپه هغه کی دوی استثناګانی هم ذکر سوی دی یوه استثنا دنظر کوونکی په اعتبار سره ده دوهمه چاته چی کتل کیږی دهغه په اعتبارسره ده ، دنظر کوونکی په اعتبار سره خومحرم اوخپلی مملوکی مینځی اونابالغ بچی مستثنی سوی وه ، اوچاته چی کتل کیږی یعنی دکوموښځو نوچی دنظر څخه پټول مقصوددی دهغه په اعتبار سره یی ظاهری زینت مستثنی کړی دی چی ددی څخه برقع یاغټ څادر خو په اتفاق سره مراد دی او دځینو په نزد ښځی مخ او ورغوی هم په دی استثناء کی دا خل دی.

دلته په راتلونکی آیت کی یوه دریمه استثناء دښځی دشخصی حالت په اعتبار سره دا سوي ده چی کومه ښځه داسی زړه اوبوډی سی چی هغی ته دچا خواهش نه کیږی او نه هغه دنکاح قابله وی نو دهغی دپاره دپردی په احکامو کی دا اسانی ورکول سوي ده چی پردی هم دهغه په حق کی په شان دمحارمو دکومو اندامونو پټول چی دخپلو محرمانو څخه پټول ضروری نه وی دی بوډی ښځی ته دغیر محرمو څخه هم ددغوپټول ضروری نه دی ، په دی وجه فرمایی ، وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِیْ الایة : چی ددی لفظ تفسیر لوړ تیر سوی دی مګر دداسی زړی ښځی دپاره یوقید دا هم دی چی کوم اندامونه دمحرم په مخکی ښکاره کول کیږی دا ښځه یی دغیرمحرم په مخکی هم ښکاره کولی سی په دی شرط چی په دول اوسنګار سره نه وی ، دوهمه خبره په اخرکی دا فرمایی ، وَاَنْ یَّسْتَعْفِفْنَ خَیْرٌ لَّهُنَّ : یعنی دوی که دغیر محرمو په مخکی دراتلو څخه ځان وساتی دا د دوی دپاره ډیره ښه ده.

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا

نسته | په ړوند | څه تکلیف | اونه په ګوډ | څه تکلیف اونه

عَلَى الْمَرِيضِ حَرَجٌ وَلَا عَلَى أَنْفُسِكُمْ أَنْ تَأْكُلُوا مِنْ بُيُوتِكُمْ أَوْ

په مريض څه تكليف اونه په تاسي خلقو څه تكليف سته چې خوري دخپلو كورونو څخه

بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ

يادخپل پلارنيكه دكورونوڅخه، يادميندو دكورونوڅخه ،يادورونو دكورونوڅخه ، يادخوندو دكورونوڅخه ، يا

أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا

داكاگانو دكورونوڅخه ، يادعمه گانو دكورونوڅخه (دپلار خوندي) يادكورونو دماماگانو څخه ، يادكورونو دخاله گانو ، (دمور خوندي) څخه ، يادكوم.

مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا

كور دكيليانوچې تاسي مالكان ياست ، يادخپل دوست دكورڅخه ، نسته گناه په تاسي ، چې يوځاى خوري ،

أَوْ أَشْتَاتًا فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ

اوكه جلاجلا ، بيا چې داخل سي كورونو ته نوسلام كوى په خپلو خلقو نيكه دعا ده دالله ﷻ

اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾ ع

دطرف څخه بركت والا پاكه ده ، داسي بيانوي الله ﷻ تاسي ته خپلې خبرى ددې دپاره چې تاسي پوه سي

تفسير: (كله چې تاسي روند گوډ بيمار غريب ديوخپل قريب ياملاقاتي كورته بوتلي اوڅه مو په وخوړل وچښل ياپه خپله څه وخوري وچښي نوكله چې په يقيني طور دامعلومه وي چې دغه خپلوان ياملاقاتي به زمونږ په دې خوړولو او خوړلو راضي وي ده ته به څه تكليف نه وي نوپه دې صورتونوكي) نه پرروند سړي باندي څه تكليف سته او نه دگوډ دپاره اونه دبيمار دپاره څه تكليف سته اونه په خپله ستاسي دپاره په دې خبره كي (څه تكليف سته) چې تاسي (برابره خبره ده كه په خپله ياتاسي سره ددغو معذورونو تول) په خپلو كورونوكي (چې په دې كي دخپلې بي بي اوخپل اولاد كورونه هم راغلل) خوراك خوري (ياپه هغو كورونوكي دكومو ذكر چې مخ ته راځي خوراك خوري يعني نه ستاسي په خپله په خوړلوكي څه گناه سته اونه په دغو معذورانو په خوړلوكي دغه ډول چې تاسي په خوري نو دغو معذورانو ته هم په خوړلوكي څه گناه نسته اوهغه كورونه دا دي مثلاً) دخپلو پلارانو په كورنوكي (په

خپله خوری اوپه هغو خوروی) یادخپلو میندو په کورونوکی یادخپلو ورونو په کورونوکی یادخپلو خوندو په کورونو کی یادخپلو اکاگانو په کورونوکی یادخپلو عمه گانو (دپلار دخوندو) په کورونوکی یادخپلو ماماگانو په کورونوکی یادخپلو خاله گانو (دمور دخوندو) په کورونوکی یاپه هغو کورونوکی دکوموکیلیانی چی ستاسی په اختیارکی دی یادخپلو دوستانوپه کورونوکی (بیاپه دی کی هم) تول په یوځای خوری یاجلا جلا بیا (په دی هم پوه سی چی) کله چی تاسی کورونوته ننوزی نوخپلو خلکوته (یعنی هلته چی کوم مسلمانان وی هغوی ته) سلام کوی (کوم چی) په طور ددعا (دی او) دخدای دطرف څخه چی کوم مقرر دی او (په دی وجه چی ثواب په ورکول کیږی) برکت والا (اوپه وجه دمخاطب دزړه خوشحالولو) ښه شی دی دغه ډول الله ﷻ تاسی ته (خپل) احکام بیانوی چی تاسی پوه سی (اوعمل وکی)

معلومات اومسئلي:

(کورونوته دداخلیدو څخه وروسته څیني احکام او دمعاشرت ادب)

په تیرو ایتونوکی دچا کورته دداخلیدو څخه مخکی داجازت اخستلو حکم راغلی دی ، په دی آیت کی هغه حکمونه اواداب ذکر دی کوم چی په اجازت ورکول کیدو باندی کورته دداخلیدو څخه وروسته مستحب یاواجب دی ، ددی آیت په مطلب او ددی په احکامو دپوهیدوڅخه مخکی هغه حالات معلومول مناسب دی په کوموکی چی دا ایت نازل سوی دی .

په قرآن کریم او دنبی کریم ﷺ په عامو تعلیماتوکی دحقوق العباد دحفاظت اورعایت دپاره چی څومره تاکیدونه راغلی دی دهغو څخه هیڅ مسلمان بی خبره نه دی ، دبل په مال کی بغیر دهغه داجازت څخه په څه تصرف کولو دعذاب سختی وعدی راغلی دی ، بل طرف ته الله ﷻ دخپل اخری رسول ﷺ دمجلس دپاره داسی خوش نصیبه خلگ خوښ کړی چی دالله ﷻ او درسول ﷺ فرمان ته به یی هروخت غوږونه خارکړی نیولی وه او دهرحکم په پوره کولوکی به یی خپل پوره قوت صرف کوی په قرانی تعلیماتو باندی دعمل او ددی سره دنبی کریم ﷺ دکیمیا اثر مجلس په وجه الله ﷻ یو داسی جماعت تیارکړی وو چی ملائکی هم په هغوی فخرکوی دچاپه مال کی بغیر دهغه داجازت څخه ادنیٰ قدر تصرف نه کول چاته د ادنیٰ غوندی تکلیف رسولو څخه ځان ساتل او په دی کی دتقویٰ په اعلیٰ معیار باندی قائم پاته کیدل دټولو اصحابو ﷺ صفت وو ، ددی سلسلی څوواقعات درسالت په زمانه کی پیښ سول دکوموپه وجه چی دذکر سوی آیت احکام نازل سول مفسرینو حضراتو دا ټول واقعات لیکلی دی چایی یوه واقعه شان نزول ښوولی ده چایی بله واقعه ، مگر صحیح خبره دا ده چی په دی اقوالوکی هیڅ تضاد نسته ، دا ټول واقعات ددی آیت شان نزول دی واقعات دا دی .

(۱) امام بغوی دحضرت سعید بن جبیر اوضحاك داامامانو دتفسیر څخه نقل کړی دی چی ددنیا عام عرف او داکثرو خلگو دطبیعتونو حال دا دی چی دشل گوډ ړوند اوبیمار سړی سره یوځای دخوراك

کولو ښخه کرکه کوی اونه یی خوښوی په اصحابو حضراتو کی چی کوم داسی معذوروه ډ دوی دا خیال راغی چی که مونږ دچاسره یوځای خوراك ته کښینو نو شاید چی دوی ته به تکلیف وی په دی وجه دی خلګو به درواغو خلګو ښخه دخوراك په وخت کی منع کوله دغه ډول دروندو سره دا فکر سو چی کله خوکسان په خوراك کی شریك وی نو دعدل تقاضا دا ده چی هر یو شریك دبل ښخه زیات خوراك ونه کی ټولو ته برابری حصی ورسیږی او زه خو دروندوالی په وجه ددی اندازه نه سم کولی ، ممکنه ده چی زه دنورو ښخه زیاته وخورم اوپه دی کی خو به دنورو حق ووهل سی ، ګوډ خیال وکی چی دعامو روغو خلګو په شان زه نه سم کښینستلی د دوو سړو ځای نیسم چی خوراك ته دنورو سره کښینم نوممکنه ده چی په هغوی تنګی اوتکلیف راسی، د دوی ددی انتهایی احتیاط ښخه ظاهره ده چی په خپله به دوی ته تنګی اوتکلیف پیښیدی ، په دی وجه دا ایت نازل سو په کوم کی چی یی دوی ته دنورو سره دخوراك اجازت او د دومره باریك احتیاط پرېښولو تلقین وفرمایی په کوم سره چی په تنګی کی راځی.

(۲) اوبغوی په روایت دابن جریر دحضرت ابن عباس ﷺ ښخه یوه بله واقعه نقل کړي ده کومه چی دذکر سوی واقعی دوهم اړخ دی هغه دا چی په قرآن کریم کی کله دا ایت نازل سو ، وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ: یعنی مه خوری دیوبل مال په ناحق طور سره نو خلګو ته ړوند ګډو بیمارو خلګوسره یوځای په خوراك خوړلوکی دا تردد پیښ سوچی بیمار خو عادتًا کمه خوری ړوند خودخوراك په ښیانوکی دافرق نه سی کولی چی کوم شی ښه دی ګوډ سم کښینستی نه سی په دی وجه ورته په خوراك کی تکلیف وی نو ممکنه ده چی داخلګ کمه وخوری اومونږ زیاته نو د دوی حق به ووهل سی ځکه چی په شریك خوراك کی دټولو حصه برابر په کار ده ، په دی باندی دا ایت نازل سو او په دی کی یی د دومره تکلف کولو ښخه دوی ته ازادی ورکړه چی ټول یوځای خورك کوی او دمعمولی کموالی او زیاتوالی فکرمه کوی.

(۳) اوسعید بن مسیب ﷺ فرمایی چی مسلمانان به کله جهاد ته تلل نو دخپلو کورونو کیلیانی به یی دی معذورانو ته سپارلی او دا به یی ورته ویل چی په کورکی څه وی هغه تاسی خوړلی چښلی سی ، مګر دی خلګوبه ددی احتیاط په بنا د دوی دکورونو ښخه څه نه خوړل چی شاید دهغوی دمنشاء ښخه خلاف خرڅ وسی په دی دا ایت نازل سو.

(۴) په مسند بزازکی په صحیح سندسره دحضرت عائشه ﷺ ښخه هم دا مضمون نقل دی چی کله به نبی کریم ﷺ یوی غزاته تشریف وړی نودعامو اصحابو ﷺ دزړه خواهش به دا وو چی ټول د دوی په ملګرتیا کی په جهادکی شریك سی او دخپلو کورونو کیلیانی به یی دغو غریبو معذورانوته سپارلی او دوی ته به یی اجازت ورکوی چی په کورونوکی زمونږ ښخه وروسته څه وی هغه تاسی خوړلی چښلی سی مګر دی خلګو به د ډیری تقوی ښخه په دی بیره چی شاید د دوی اجازت په طیب خاطر سره نه وی پرهیزبه یی ورښخه کوی.

(۵) بغوي دحضرت ابن عباس ﷺ څخه دا هم نقل کړی دی چې په ذکر سوی آیت کې چې کوم لفظ دَ صَدِیۡقِکُمۡ راغلی دی یعني دخپل دوست دکور څخه هم په خوړلو څښلو کې څه حرج نسته ، دا دحارث بن عمروﷺ په واقعه کې نازل سوه ، دی دنبي کریم ﷺ سره په یوجهاد کې ولاړی اوخپل دوست مالك بن زید ته یې دخپل کور او دکور دخلګو نګراني وسپارله کله چې حارث بیرته راغی نو وي لیدل چې مالك بن زید ډیر کمزوری سوی دی ، دوجهې پوښتنه یې ورڅخه وکړه نو هغه وویل چې ماستا دکور څخه ستا په غیر موجودګۍ کې څه خوړل مناسب نه ګڼل (دا ټول روایتونه په تفسیر مظهري کې دی) صفا خبره دا ده چې ددې قسم ټول واقعات ددې آیت دنزول سبب سوی دی .

مسئله: لکه چې لوړ بیان سوی دی چې په کوموکورونوکې بغیر داجازت څخه خاص دخوړلوڅښلو اجازت په دې آیت کې ورکول سوی دی ددې بنا په دې باندې ده چې دعربو دعام عادت مطابق په داسې نژدې خپلوانو رشته دارانوکې څه تکلف یا ناخوښي نه وه بلکه هغوی به په دې خوشحالیدل دغه ډول په دې سره هم چې دوی یې دځان سره په یو چا بیمار معذور اومسکین باندې هم وخوری ددې ټولو یې که څه هم په ډاګه اجازت نه وی ورکړی مګر عادتًا اجازت وو ، ددې علت دجواز څخه ثابته سوه چې په کومه زمانه یا کوم مقام کې داسې رواج نه وی اودمالك اجازت مشکوك وی هلته بغیر دمالك دواضح اجازت څخه څه خوړل څښل حرام دی لکه چې نن صبا په عام طورسره په دې اجازت عمل کول جائز نه دی بغیر دهغه څخه چې ډیو دوست یاخپلوانو متعلق چاته په یقیني طور دا ثابته سی چې دی دده په خوړلو څښلو یاپه نورو یې په خوړلو څښلو باندې نه خفه کیږي بلکه خوشحالیږي نوخاص ددغه کورڅخه په خوړلو څښلوکې ددې آیت په مقتضٰی عمل کول جائز دی .

مسئله: دذکرسوی بیان څخه دا هم ثابته سوه چې دا ویل صحیح نه دی چې داحکم داسلام په ابتداء کې وو بیا منسوخ سو بلکه حکم داول څخه ترننه پوري جاري دی البته شرط په کې دمالك داجازت یقین دی کله چې دا نه وی نو دغه په مقتضٰی دایت کې دسره دا خله نه ده (مظهري)

مسئله: دغه ډول ددې څخه داهم ثابته سوه چې داحکم صرف په دغومخصوصوقریبانوکې منحصرنه دی بلکه دنوروخلګوپه باره کې هم که دایقین وی چې دهغه دطرف څخه زمادخوړلوڅښلویاپه بل چادخوړلو څښلواجازت دی هغه په دې سره خوشحالیږي اوڅه تکلیف یاخفګان ورته نه رسیږي نو دهغه هم داحکم دی (مظهري) دذکرسوواحکاموتعلق دهغوکارونوسره دی کوم چې دچاپه کورکې په اجازت سره دداخلیدوڅخه وروسته جائزیامستحب دی ، په دې کارونوکې لویه مسئله دخوراك څښاك وه هغه یې اول ذکر وفرمایله

دوهمه مسئله : په کورکې دداخلیدو دادابو دا ده چې کله کورته په اجازت سره دا خل سئ نو په کورکې چې څوك مسلمان وی هغه ته سلام کوه دآیت عَلٰٓی اَنۡفُسِکُمۡ څخه دامراد دی څکه چې مسلمانان ټول یو واحد جماعت په ډیروصحیح احادیثوکې دمسلمانانویوبل ته دسلام کولو ډیر تاکید اوفضیلت راغلی دی

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ

ایماندار هغه دی کوم چي يقين وكړي په الله او دهغه په رسول او کله چي وي دده سره د جمع

أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ

په کار کي نو نه ځي تر څو دده څخه اجازه وا نه خلي ، کوم خلق چي تا څخه اجازه اخلي

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ

نو دغه دي کوم چي مني الله او دهغه رسول ، پس اجازه غواړي ستا څخه دخپل څه کار

شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

دپاره نو اجازه ورکوه چا ته چي په دوی کی ته غواړي ، او بخښنه غواړه د دوی دپاره دالله ﷻ

غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٢﴾ لَّا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ

الله بخښني والا مهربان دی ، مه ګرځوی بلنه د رسول ﷺ په خپل مينځ کی په شان دبلنی ستاسی یو بل لره

قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ

الله ﷻ په هغو چي راوځي ستاسی څخه په پټه ، پس ودی بیریږي هغه خلق چي خلاف کوی

عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَا إِنَّ لِلَّهِ

پوه دی دده دحکم څخه چي وبه رسيږي دوی ته څه خرابي یا به ورسيږي دوی ته عذاب دردناك ، واوري الله لره دی

مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَا أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ

څه چي په اسمانونو کی او مځکه کی دی ، هغه ته معلومه ده په کوم حال چي تاسی یاست او په کومه ورځ

إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٤﴾

چي واپسی سی هغه ته وبه ښيي دوی ته څه چي دوی وکړل ، او الله ﷻ په هر شي باندی پوه دی .

تفسیر: نو مسلمانان خو هغه دي کوم چې په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان لري او کله چې درسول سره په یو داسې کارجمع کیږي دکوم دپاره چې راټول سوي وي (او اتفاقًا ورته که چیرې دهغه ځای څخه دتلو ضرورت پیښ سي) نو ترڅو پورې چې یې د دوی څخه اجازت نه وي اخستی (اودوی ﷺ ورته اجازت ورکړی نه وي دمجلس څخه) نه ځي (ای پیغمبره!) کوم خلک چې ستا څخه (پرداسې موقعو باندې) اجازت غواړي نو هغوی په الله ﷻ او دهغه په رسول ایمان لري (مخ ته داسې خلګوته داجازت ورکولو بیان دی) نوکله چې دا (ایماندار) خلک (په داسې موقعو باندې) دخپل څه کار دپاره ستا څخه (دتلو) اجازت طلب کې نو په دوی کې ته دچا دپاره چې (مناسب ګڼې اجازت ورکول) غواړې اجازت ورکوه (اوځوك چې مناسب نه ګڼې اجازت مه ورکوه ځکه چې داکیدي سي چې اجازت طلب کوونکی هغه کار ضروري ګڼي دکوم دپاره چې اجازت غواړي اوهغه په واقع کې ضروري نه وي یاضروري هم وي خودهغه په تلوسره دهغه څخه دځه لوی ضرر پیدا کیدو خطره وي په دې وجه داجازت او نه اجازت فیصله دنبی کریم ﷺ په رایه باندې پرېښوول سوه) او (چې اجازت ورکړې هم) ته د دوی دپاره دالله ﷻ څخه دمغفرت دعاکوه (ځکه چې د دوی دااجازت غوښتل که څه هم دقوي عذرپه وجه سره وي مګر په دې کې دنیاپه دین دمخکې کولوصورت خو لازمیږي چې دیوی کوتاهي شائبه په کې ده په دې وجه ستادعادمغفرت په کار ده دوهمه دا هم ممکنه ده چې اجازت غوښتونکي دکوم عذرضرورت چې قوي ګڼلی وي اجازت یې اخستی وي اوپه هغه کې دده څخه اجتهادي خطاء سوې وي چې غیرضروري یې ضروري ګڼلی وي او دا اجتهادي خطاء داسې وي چې په لږ غور اوفکر سره رفع کیدی سوه نو په داسې صورت کې دغور اوفکر کمی هم یوه کوتاهي ده په دې وجه استغفارته ضرورت سو) بیشکه الله ﷻ بخښنی والا مهربان دی (چونکي دهغه نیت نیك وو په دې وجه په داسې باریکاتو مؤاخذه نه فرمایي) تاسې خلک درسول ﷺ بلنه (کله چې هغه داسلامي ضرورت دپاره تاسې جمع کړي) داسې (معمولي بلنه) مه ګڼئ لکه چې تاسې په خپل مینځ کې یوبل رابولئ (چې که غواړي راسي کنه نو رانه سي بیاچې راسي نو هم چې تر څو پورې غواړي ناست وي کله چې غواړي نوپاځي اوبې اجازته ځي درسول ﷺ بلنه داسې نه ده بلکه دده دا حکم منل واجب دي اوبې اجازته بیرته تلل حرام دي اوکه څوك بې اجازته ولاړي نو دا خوممکنه ده چې دنبی کریم ﷺ څخه دده تلل پټ پاته سي لیکن دایادساتئ چې) الله ﷻ هغه خلک (ښه) پیژني کوم چې (دبل) په پناه کې سي اوستاسې څخه (دمجلس نبوي څخه) پټ ولاړ سي نوکوم خلک چې دالله ﷻ دحکم (کوم چې په واسطه دنبی کریم ﷺ ورته ورسیږي) مخالفت کوي دوی ته ددې څخه بیره په کار ده چې په دوی (په دنیاکې) څه افت راسي یاپه دوی (په اخرت کې) څه دردناك عذاب نازل سي (او دا هم ممکنه ده چې په دنیا اواخرت دواړو کې عذاب وي او دا هم) یادساتئ چې څه په اسمانونوکي اوپه مځکه کې دي تول دخدای دي الله ﷻ هغه حالت هم پیژني په کوم چې تاسې (اوس) یاست اوهغه ورځ هم په کومه کې چې به

تول هغه ته (دوباره ژوندی سوی) را وستل سی نو هغه به تول هغه کارونه دوی ته وښیی کوم چی دوی کړی وه (اوستاسی دموجوده حالت اوقیامت دورځی څه تخصیص نسته) الله ﷻ (خو) هرڅه پیژنی .

معلومات اومسئلي

(دنبي کريم ﷺ دمجلس خصوصًا اودعام معاشرت ځيني اداب اواحکام)

په دی ذکر سوو ایتونوکی دوه حکمونه ورکول سوی دی اول دا چی کله نبی کریم ﷺ خلک دڅه دینی جهاد وغیره دپاره جمع کړی نو دایمان مقتضاء دا ده چی تول جمع سی اوبیا د دوی دمجلس څخه بغیر د دوی داجازت څخه نه ځی که څه پیښ سی نوچی دحضور ﷺ څخه اجازت حاصلوی اوپه دی کی نبی کریم ﷺ ته دا هدایت دی چی څه خاص حرج اوضرورت نه وی نو ته اجازه ورکوه ، په دی ضمن کی دهغو منافقانو بدوالی بیان سوی دی کوم چی ددی تقاضا دایمان څخه خلاف دبدنامی څخه دمحفوظ کیدو دپاره خو به حاضر سوه مګر بیابه یی ځان په یو طریقه پناه کړی او په پته به دمجلس څخه ووتل .

دا ایت داحزاب دغزاپه موقع نازل سوی دی کله چی دعربو مشرکانو اونورو قبیلو یو محاذ جوړکی او په جمع یی په مدینه منوره حمله وکړه ، نبی کریم ﷺ داصحابو ﷡ په مشوره سره د دوی دحملی څخه دحفاظت دپاره خندق کیندلی وو په دی وجه دی جهادته غزوه خندق هم ویل کیږی دا غزا په شوال (کوچنی اختر) سنه ۵ هجری کی سوي ده (قرطبی)

دبیهقی اوابن اسحٰق په روایت کی دی چی هغه وخت نبی کریم ﷺ په خپله اوتول اصحاب ﷡ په خندق کیندلو کی مصروف وه ، مګر منافقانو خو اول په راتلوکی سستی کوله مګرچی راغلل نوبیاهم معمولی کارونه به یی بهانه کول اوپه پته سره به ورکیدل ، ددی خلاف مومنان تول په محنت سره لګیاوه کاریی کوی اوکه څه مجبوری اوضرورت به راتلی نودنبی کریم ﷺ څخه به یی اجازت اخستی اوتلل به ، په دی باندی دا ایت نازل سو (مظهری)

(يوسوال اودهغه جواب)

ددی آیت څخه معلومیږی چی دنبی کریم ﷺ دمجلس څخه بغیرددوی داجازت څخه تلل حرام دی حال دادی چی داصحابو کرامو ﷡ بی شمیره واقعات داسی دی چی دوی به دنبی کریم ﷺ په مجلس کی وه اوچی کله به یی غوښتل نوتلل به اواجازه اخستل به یی ضروری نه ګڼل جواب دادی چی دادعامو مجلسونو حکم نه دی بلکه دهغه وخت دی کله چی به نبی کریم ﷺ دوی په یو ضرورت سره جمع کړی وی لکه دخندق په واقعه کی چی سوی وه ددی تخصیص طرف ته په خپله دایت په لفظ عَلٰی اَمْرٍ جَامِعٍ کی اشاره موجوده ده دامرٍ جامعٍ څخه څه مراددی؟ په دی کی اقوال مختلف دی مګر واضحه خبره دا ده چی دامْرِ جَامِعٍ څخه مراد هغه کار دی دکوم دپاره چی نبی کریم ﷺ دخلګو جمع کول ضروری وګڼی او دیو خاص کار دپاره یی جمع کړی لکه داحزاب په غزاکی چی دخندق کیندلو کار وو (قرطبی مظهری)

داحکم دنبي کريم ﷺ دمجلس سره خاص دی او که عام دی؟ دفقهاؤ په اتفاق سره چونکی داحکم دیودینی او
اسلامی ضرورت دپاره جاری سوی دی اوداسی ضرورتونه په هره زمانه کی کیدی سی په دی وجه دنبی کریم
ﷺ دمجلس سره مخصوص نه دی بلکه دمسلمانانو دهر امام اوامیر دچاپه قبضه کی چی دحکومت
واگی وی دهغه اودهغه دداسی مجلس هم داحکم دی چی هغه ټولوته دیوځای کیدو حکم وکی نو ددی
حکم منل واجب اوواپس ورځخه تلل بغیر داجازت ځخه ناجائز دی (قرطبی مظهری بیان القرآن)
او دا ظاهره ده چی په خپله دنبی کریم ﷺ دمجلس دپاره داحکم زیات موکد او ددی مخالفت کول زیاته
بدبختی ده لکه دمنافقانو ځخه چی وسوه او داسلامی اداب معاشرت په لحاظ داحکم په خپل مینځ کی
دیوځای کیدو اوعامو مجلسونو دپاره هم کم ازکم مستحب اوښه خامخادی چی کله مسلمانان په یو
مجلس کی په یوه اجتماعی معامله کی دفکرکولو یاعمل کولو دپاره جمع سوی وی نوکله چی ځولک
ورځخه وزی دمجلس دامیر ځخه دی اجازت اخلی اوځی دی.

دوهم حکم: په اخری آیت کی دا ورکول سوی دی: لَا تَجۡعَلُوۡا دُعَآءَ الرَّسُوۡلِ بَيۡنَكُمۡ : الآیة ددی یوتفسیر خو
هغه دی کوم چی لوړ په لنډ تفسیرکی بیان سوی دی چی ددعاء درسول ځخه مراد درسول الله ﷺ دوی ته
رابلل دی (کوم چی په نحوی قاعده سره اضافت الی الفاعل دی) اومعنٰی دایت دا ده چی نبی کریم ﷺ کله
خلگ راوبلی نو دا دعامو خلگو دبلنی په شان مه گنی چی درته دراتلو او نه راتلو اختیار وی بلکه دغه
وخت راتلل فرض سی او بغیر داجازت ځخه تلل حرام سی ، دایت دسیاق اوسباق سره دا تفسیر زیات
مناسبت لری ، په دی وجه په مظهری اوبیان القران کی یی دا اختیار کړی دی.

او ددی یو بل تفسیر دحضرت عبدالله بن عباس ؓ ځخه ابن کثیر اوقرطبی وغیره دا نقل کړی دی چی د
دُعَآءَ الرَّسُوۡلِ ځخه مراد دخلگو نبی کریم ﷺ ته دځه کار دپاره بلل او اواز ورته کول دی (کوم چی په نحوی
ترکیب کی اضافت الی المفعول سو)

ددی تفسیر په بناباندی به معنٰی دایت داسی چی کله تاسی نبی کریم ﷺ په یو ضرورت سره رابلی یاورته
یو خطاب کوی نو دعامو خلگو په شان د دوی نوم اخستل یامحمد ﷺ مه وایاست ځکه چی دابی ادبی ده
بلکه دتعظیم په القابو سره یَارَسُوۡلَ الله یَانَبِیَّ الله وغیره وایاست ددی مقصد دنبی کریم ﷺ عزت اوتوقیر
په خلگو باندی واجب کول دی او دهر داسی شی ځخه محفوظ کیدل دی کوم چی دادب ځخه خلاف وی
یاپه کوم سره چی نبی کریم ﷺ ته تکلیف رسیږي ، داحکم به داسی وی لکه په سورة حجرات کی چی دغه
دول ځوحکمونه ورکول سوی دی مثلاً ، لَا تَجۡهَرُوۡا لَهٗ بِالۡقَوۡلِ كَجَهۡرِ بَعۡضِكُمۡ لِبَعۡضٍ . یعنی کله چی دنبی
کریم ﷺ سره خبره کوی نو د ادب لحاظ ساتی دضرورت ځخه زیات په لوړ اوازسره خبری مه کوی لکه
خلگ چی دیوبل سره کوی اومثلاً دا چی کله دوی په کورکی تشریف فرماوی نو ددباندی ځخه ورته
اوازکول اورابلل یی نه دی په کار بلکه انتظارکوی چی دوی په خپله دباندی تشریف راوړی په ، اِنَّ الَّذِيۡنَ

يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ : كى ددى بيان دى .

خبردارى: په دى دوهم تفسيركى يوعام ادب دبزرگانو اومشرانوهم معلوم سو چى خپل بزرگان اومشران په نوم اخستو سره بلل اواواز ورته كول بى ادبى ده دتعظيم په القابو سره يى مخاطب كول په كار دى .

سورة نور ختم سو

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

﴿سورة الفرقان﴾

سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ سَبْعٌ وَّسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الفرقان په مكه كى نازل سو اوپه دى كى اووه (۷۷) اويا ايتونه اوشپږ (۶) ركوع گانى دى .

شروع كوم دالله ﷻ په نوم چى بى حده مهربان نهايت رحم والا دى .

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۙ ﴿۱﴾

لوى بركت دى هغه لره چى نازل يى كى دفيصلى كتاب په خپل بنده چى سى دمخلوق دپاره بيروونكى ،

الَّذِيْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ

هغه دچاچى دى حكومت په اسمانونو او په مځكه كى او نه دى نيولى هغه زوى او نه دهغه شريك سته

شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ﴿۲﴾ وَاتَّخَذُوْا

په حكومت كى اوپيدا يى كى هر شى پس برابر يى كى په اندازه سره ، اونيولى دى

مِنْ دُوْنِهٖٓ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ

خلقو دهغه څخه ماسوا نور معبودان چى نه سى پيدا كولى څه شى او دوى په خپله پيدا كړل سوى دى ، اونه دى

لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ﴿۳﴾

مالكان دخپل ځان دپاره دنقصان اونه دنفعى او نه دى مالكان دمرگ اونه دژوند اونه دبيا پورته كيدو .

لنډتفسير: لوى عالى شان ذات دى چاچى دا دفيصلى كتاب (يعنى قرآن) په خپل خاص بنده (محمد ﷺ) باندى نازل كى چى هغه دټولى دنياجهان والاؤ دپاره (دايمان نه راوړلو په صورت كى دعذاب الهٰى څخه) بيرونكى وى داسى ذات دچادپاره چى داسمانونواومځكى حكومت دى اوهغه هيڅوك (خپل) اولادنه

دی مقررکړی اونه څوك دهغه شريك سته په حکومت کی اوهغه هرشی پیداکی بیایی دهرشی جلاجلا اندازجوړکی (چی دځینی شیانو خواص اواندازی اواثرونه یودول دی دځینو بل ډول) او دی مشرکانو دخدای څخه ماسوا نور داسی معبودان مقررکړی دی کوم چی (په هیڅ ډول دمعبود کیدو قابل نه دی ځکه چی هغه) دیو شی پیدا کوونکی نه دی اوبلکه هغه په خپله مخلوقات دی اودخپل ځان دپاره نه دځه نقصان (دفع کولو) اختیارلری اونه دځه نفع (حاصلولو) اونه دچادمرګ څه اختیارلری (چی دیوجاندار روح واخلی) اونه دچا دژوند (اختیار لری چی په بی روحه کی روح واچوی) او نه چاته (په قیامت کی ددوباره ژوندی کولو (اختیار لری، اوڅوك چی په دی کارونو قدرت نه لری هغه معبود کیدی نه سی)

معلومات اومسئلي (دسورة ځانګړتیاوي)

دا ټول سورة دجمهورو مفسرینو په نزد مکی دی حضرت ابن عباس ﷺ اوقتاده ددرو ایتونو متعلق بیان فرمایی چی دامکی نه دی مدنی دی باقی سورة مکی دی اوځینو حضراتو دا هم ویلی دی چی دا سورة مدنی دی ځینی ایتونه په کی مکی دی (قرطبی)

او ددی سورة دمضامینو خلاصه دقرآن کریم عظمت او دنبی کریم ﷺ دنبوت او رسالت حقوالی بیانول دی او ددښمنانو دطرف څخه چی په دی کوم اعتراضونه دی دهغه جواب دی.

تَبٰرَكَ . دبرکت څخه مشتق دی دبرکت معنی دیرخیردی ، ابن عباس ﷺ فرمایی چی معنی دایت دا ده چی هر خیر او برکت دالله ﷻ دطرف څخه دی.

فُرْقَانْ : دقرآن کریم لقب دی ، لغوی معنی ددی تمیز او فرق کول دی قرآن چونکی دخپلوواضحو ارشاداتو په ذریعه په حق اوباطل کی فرق اوتمیز ښیی اودمعجزی په ذریعه په اهل حقو او اهل باطلو کی فرق کوی په دی وجه ده ته فرقان ویل کیږي.

لِلْعٰلَمِیْنَ : ددی څخه ثابته سوه چی دنبی کریم ﷺ رسالت او نبوت دټول عالم دپاره دی ، په خلاف دنورو انبیاؤ څخه چی دهغوی نبوت اورسالت دمخصوص جماعت یامخصوص مقام دپاره وو ، دصحیح مسلم په حدیث کی نبی کریم ﷺ چی کوم خپل شپږ خصوصی فضیلتونه ذکر کړی دی په هغه کی یو دا هم دی چی د دوی بعثت دټول جهان دپاره عام دی.

فَقَدَّرَهٗ تَقْدِیْرًا: دپیدا کولوڅخه وروسته دتقدیر ذکر فرمایی ، دتخلیق معنی خو دومره ده چی بغیردځه زړی مادی څخه یو شی دعدم څخه وجود ته راوړل سی ، هغه هر ډول چی هم وی.

(په مخلوقاتوکي په هرشي کي خاص خاص حکمتونه)

اوتقدیرمطلب دا دی چی کوم یوشی چی یی پیداکی دهغه داجزاؤ ساخت اوشکل اوصورت اواثار او خواص یی په لوی حکمت سره دهغه کار مناسب پیداکړل دکوم کار دپاره چی یی دغه شی پیدا کړی دی دآسمان ساخت دهغه اجزایی ترکیبی هیئت دهغه کارمناسب دی دکوم دپاره چی الله ﷻ آسمان پیدا کړی

دی ، دسیارو اوستورو په پیدا کولوکی یی هغه شیان کښیښوول کوم چی دهغو دوجود دمنشاء مطابق دی ، دمخکی او ددی په خیته کی په پیدا کیدونکو شیانو چی نظر واچول سی دهر یو ساخت شکل اوصورت نرمی اوسختی دهغه کارمناسب جوړسوی دی دکوم کار دپاره چی قدرت داپیداکړی دی مځکه یی نه داسی نرمه داوبو په شان جوړه کړه چی څه پر کښیښوول سی نو دننه په کی ډوبیږی اونه یی دومره سخته ډډبری اواوسپنی په شان جوړه کړه چی کیندل کیږی نه ، ځکه چی ددی سره دا ضرورتونه متعلق وه چی دا وکینی اوبه هم ورڅخه راویستل سی ، په دی کی بنیادونه وکیندل سی اودنگی ابادی په جوړی سی اوبه یی نرمی بهیدونکی جوړی کړی چی په دی کی په زرګونو حکمتونه دی هوا هم نرمه بهیدونکی ده خو داوبو څخه مختلفه اوبه هرځای ته خود بخوده نه رسیږی په دی کی انسان ته څه محنت کول وی ، هوا قدرت خپل جبری انعام جوړه کړی چی بغیردڅه محنت اوکارڅخه هرځای ته رسیږی بلکه که څوك دهوا څخه ځان محفوظ کول غواړی نو ددی دپاره ده ته ډیرمحنت کول وی داځای د الله ﷻ دمخلوقاتو دحکمتو شاهکار دی ، امام غزالی رحمه الله خپل یو مستقل کتاب په دی موضع باندی لیکلی دی چی نوم یی الحکمة فی مخلوقات الله تعالی دی .

په دی ایتونوکی دشروع څخه دقرآن دعظمت اوپه کوم قدرمند ذات چی دانازل سوی دی هغه ته دَعَبْدُهٗ په خطاب سره دده دعزت اولویی عجیب اوغریب بیان دی ، ځکه چی دیومخلوق دپاره ددی څخه لوی شرافت نه سی کیدی چی خالق ده ته دا ووایی چی دا زما بنده دی .

بنده حسن بصد زبان گفت که بنده تو ام تو بزبان خود بگو بنده نواز کیستی

بنده حسن خو په خپله ژبه سل واره وویل چی زه ستابنده یم خو ته په خپله ژبه ووایه چی بنده نوازدچایی؟

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ۨ افْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ

او وایی کافران دا نور هیڅ نه دی مګر دروغ یی جوړ کړی دی او ملګرتیاکړی ده

عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۚ ۝۴ وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ

دده په دی کی نورو خلقو ، پس راتله یی وکړل په بی انصافی او دروغو ، او وایی چی نقلونه دی

الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝۵ قُلْ

دمخکې خلقو کوم چی ده لیکلی دی پس دغه ده ته ویل کیږي سهار او مابنام ، ته ووایه

أَنْزَلَهُ الَّذِي يَعْلَمُ السِّرَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۗ إِنَّهُ كَانَ

دا نازل کړی دی هغه کوم چی پوه دی په پټو رازوونو داسمانونو اودمځکی بیشکه هغه

غَفُورًا رَّحِيمًا ۝٦ وَقَالُوا مَالِ هٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ

بخښنی والا مهربان دی ، او وایی دا څنګه رسول دی چی خوری طعام

وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ ۙ لَوْلَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُ

اوګرځی په بازارونو کی ولی نه نازلیږی ده ته ملائکه چی اوسیږی دده سره

نَذِيرًا ۝٧ أَوْ يُلْقٰى إِلَيْهِ كَنْزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ

دبیرولو دپاره ، یا چی راوغورځیږی ده ته خزانه یا سی دده دپاره یو باغ چی دی ورڅخه خوري ، او وایی

الظّٰلِمُونَ إِنْ تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ۝٨ اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ

بی انصافه تاسی پیروی کوی ددې یو سړی چی جادوورباندی سوی دی ، وګوره څنګه جوړ وی په تاپوری

الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا ۝٩ ع

مثالونه پس ګمراه سول اوس نه سی پیدا کولی لاره

تفسیر: اوکافران خلک (دقرآن په باره کی) داسی وایی چی دا (قرآن) نورهیڅ نه دی صفادرواغ (او دروغ) دی کوم چی دی سړی (یعنی پیغمبر) جوړکړی دی اونورو خلکو په دی (جوړولو) کی دده مددکړی دی (مرادهغه اهل کتاب دی کوم چی مسلمانان سوی وه یابه هسی د دوی په خدمت کی حاضریدل نو (په داسی خبره ویلو سره) دا خلک دلوی ظلم او درواغو مرتکب سول (د دوی ظلم او دروغوالی به مخ نه بیان سی) او دا (کافران) خلق (دخپل دی اعتراض په تائیدکی) داسی وایی چی دا (قرآن) بی سنده خبری دی کومی چی دمخکی خلکو څخه نقل راروانی دی کوم چی دی سړی (یعنی پیغمبر په ښائسته عبارت کی په سوچ سوچ سره دخپلو اصحابو په لاسونو) لیکلی دی (ددی دپاره چی محفوظ پاته سی) بیاهغه (مضامین) ده ته سهار اوماښام ویل کیږی (چی یادپاته سی بیاهغه مضامین یادکړل سوی په مجمع کی بیانوی او دخدای طرف ته یی نسبت کوی) ته (ددی په جواب کی) ووایه چی دا (قرآن) خو هغه (پاک) ذات نازل کړی دی کوم ته چی په تولو پټو خبرو برابره خبره ده که هغه په اسمانونوکی وی یاپه مځکه کی وی

خبردی (دجواب خلاصه دا ده چی ددی کلام اعجاز دده ښکاره دلیل دی چی دکفارو دا اعتراض غلط دروغ اوظلم دی ځکه چی که قرآن کریم دتیرو خلکو قصی وای یادبل په مددسره جوړ سوی وای نوټوله دنیابه ددی دمثل راوړلو څخه ولی عاجزه وه) واقعی الله ﷻ بخښنی والامهربان دی (په دی وجه په داسی دروغو فوراً سزانه ورکوی)

او دا کافران خلګ (دنبی کریم ﷺ په نسبت) داسی وایی چی په دی رسول څه سوی دی چی هغه (زمونږ په شان) خوراك (هم) خوری او دژوند دانتظام دپاره زمونږ په شان په بازارونوکی ګرځی (مطلب دا دی چی رسول اوپیغمبر دانسان په ځای ملائکه په کار ده کوم چی دخوړلوڅښلو څخه او نورو ضرورتونو څخه بی حاجته وی اوکم ازکم دومره خوخامخا په کار دی چی رسول که په خپله ملائکه نه ده نو دده ملګری اومشیران خوملائکی په کار دی ، ځکه وایی چی) دده (رسول) سره څوك ملائکه ولی راونه لیږل سوه چی هغه دده سره اوسیږی (خلګ دالله ﷻ دعذاب څخه) بیروی (اوکه دا هم نه وی نوچی کم ازکم رسول دخپل خوراك څښناك دضرورتونو څخه خوچی بی فکره وای داسی چی) دده سره (دغیبو څخه) یوه خزانه راغلی وای یادده سره یو باغ وای چی ده خوراك (څښناك) ورڅخه کولی او (مسلمانانوته) داظالمان داسی (هم) وایی چی (کله دده سره نه څوك ملائکه سته نه خزانه نه باغ اوبیاهم دی دنبوت دعوٰی کوی نو معلومیږی چی دده په عقل کی نقصان دی په دی وجه) تاسی خلګ دیو مسلوب العقل (یعنی لیونی) سړی په لاره روان سوی یاست (ای محمد ﷺ) وګوره چی داخلګ ستاپه نسبت څنګه عجیبه عجیبه خبری بیانوی نو په دی خرافاتو سره) هغوی (بالکل) ګمراه سول پس دوی لار نه سی پیدا کوی.

معلومات اومسئلي: کفارو اومشرکانو چی کوم دنبی کریم ﷺ په نبوت اوقرآن اعتراضونه کول ددی ځای څخه د دوی اعتراضونه اوبیا دجوابونو سلسله شروع سوه او څه تر لیری پوری تللی ده.

اولنی اعتراض دا وو چی قرآن څه دالله ﷻ دطرف څخه نازل سوی کلام نه دی بلکه دا دوی دځانه په خپله دروغ جوړکړی دی یایی دتیروخلقو قصی دیهودو اونصاراؤ وغیره څخه اوریدلی دی په خپلو اصحابو ﷺ یی لیکلی دی اوچونکی په خپله امی دی نه په لیکلوپوهیږی اونه په ویلو یی په دی وجه دا لیکل سوی قصی سهارمابنام اوری چی یادی یی سی بیا خلکوته ځی داسی وایی چی دادالله ﷻ کلام دی ددی اعتراض جواب قرآن کریم دا ورکی ، قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِی یَعْلَمُ السِّرَّ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ : ددی جواب مطلب دا دی چی دا کلام په خپله په دی شاهد دی چی ددی نازلوونکی هغه پاك ذات حق تعالی دی کوم چی دآسمانونو اومځکو په ټولو پټو رازونو پوه اوخبردار دی په دی وجه قرآن کریم یی یومعجز کلام جوړکی اوټولی دنیاته یی چیلنج ورکی چی که دا تاسی دخدای کلام نه منی دیو انسان کلام یی ګڼی نو تاسی هم انسانان یاست دده په شان کلام زیات نه یو سورة بلکه یو آیت جوړکړی او وښیاست او دا چیلنج چی جواب ورکول یی دعربو دفصیحو اوبلیغو خلګو دپاره څه مشکل نه دی مګر دوی ددی څخه

دتیبنتی لار اختیار کړه دهیڅا داجرائت ونه سوچی دقرآن دیوایت په مقابله کی دده په شان ایت ولیکی راوړی ، حال دا دی چی دنبی کریم ﷺ په مخالفت کی خپل مال اسباب بلکه خپل اولاد اوخپل ځانونه خرځ کولوته تیار سوی وه ، دالنده غوندی خبره یی نه سوای کولی چی دقرآن په شان یوسورة یی پیش کړی وای داواضح دلیل ددی خبری دی چی دا دیو انسان کلام نه دی کنه نو نورو انسانانو به هم داسی کلام لیکلی سوای ، صرف دالله ﷻ علیم اوخبیرکلام دی ، دفصاحت اوبلاغت څخه علاوه دده ټولی معنی اومضامین هم په داسی علومو مشتمل دی کوم چی دهغه ذات دطرف څخه کیدی سی چی په ظاهر اوباطن باندی پوه دی ‹ددی مضمون پوره تفصیل په سورة بقره کی د، اعجاز قرآن دمکمل بحث په صورت کی بیان سوی دی هلته یی وګوری›

دوهم اعتراض دا وو چی که دی رسول وای نو دعامو انسانانو په شان به یی خوراك او څښاك نه کولی بلکه دملائکو په شان به دخوړلو څښلو دضرورتونو څخه مستثنی وای اوکه دا هم نه وای نوکم ازکم دده سره به دالله ﷻ دطرف څخه دومره خزانه یاباغونه وای چی دخپل معاش دفکر څخه به ازاد وای ، په بازارونو کی به یی ګرځیدل را ګرځیدل نه کولی ، ددی څخه علاوه مونږ دده دالله ﷻ دطرف څخه رسول کیدل څنګه ومنو چی اول خو دی ملائکه نه ده دوهم یوه ملائکه هم دده سره نه اوسیږی چی دده دخبری تصدیق یی کولی په دی وجه داسی معلومیږی چی په ده چا جادوکړي دی چی په هغه سره دده دماغ خراب سوی دی چی داسی بی سر اوپښو خبری کوی ، ددی اجمالی جواب خو په دی آیت کی دا ورکول سو ، اُنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا لَكَ الْأَمْثَالَ فَضَلُّوا فَلَا يَسْتَطِيعُونَ سَبِيلًا : یعنی وګوره چی دا خلق ستاپه شان کی څنګه عجیبه عجیبه خبری کوی چی نتیجه یی دا ده چی دا ټول ګمراه سول اوس د دوی په لاری دکیدو هیڅ صورت نه دی پاته ، تفصیلی جواب یی په راتلونکو ایتونوکی راغلی دی .

تَبٰرَكَ الَّذِىٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

لوی برکت دی هغه ذات لره کوم چی وغواړی نوکړی به تاته ښه ددی څخه باغونه چی بهیږي به لاندی دهغوی څخه

وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ﴿١٠﴾ بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ

نهرونه اوکړی به ستاد پاره محلونه ، داسی نه ده بلکه دوی درواغجن کوی قیامت او مونږ تیارکړی دی دهغه

بِالسَّاعَةِ سَعِيْرًا ﴿١١﴾ اِذَا رَاَتْهُمْ مِّنْ مَّكَانٍ بَعِيْدٍ سَمِعُوْا لَهَا تَغَيُّظًا

چا دپاره چی درواغجن کوی قیامت اور ، کله چی هغه ووینی دوی دلیری ځای څخه وابه وری دهغه قهر

وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾ وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾

اوچغې، او کله چی وغورځول سی په هغه کی په تنګ ځای کی په زینځیر کی ځوځوترل سوی را وبه بلی هلته مرګ

لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾ قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ

مه رابلی نن یو مرګ راوبلی مرګونه ډیر ، ته ووایه آیا داشی غوره دی

أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَاءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾

یا باغ دهمیشه وسیدو چی وعده یی سوی ده د پرهیزګارانو سره دغه به وی د دوی بدله او دواپسی ځای

لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَاءُونَ خَالِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَسْئُولًا ﴿١٦﴾

دهغوی دپاره هلته دی څه چی هغوی غواړی همیشه به په کی اوسیږي ، ده په رب ستا باندی وعده غوښتل سوی

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَقُولُ أَأَنْتُمْ

او په کومه ورځ چی جمع کړی دوی او هغه چی دوی یی عبادت کوی ما سوا د الله څخه پس وبه ویل سی ورته

أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ

چی آیا تاسی بی لاری کړی وو زما دابندګان یادوی په خپله بی لاری سول ؟ وبه وایی پاک یی ته

مَا كَانَ يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَتَّخِذَ مِنْ دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنْ

نه وو په کار مونږ لره چی ونیسو بغیر ستاڅخه مددګاران لیکن

مَتَّعْتَهُمْ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا الذِّكْرَ وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ

تا دوی ته نفع رسولی ده او د دوی پلارنیکه ته تردی چی هیر یی کی ستا ذکر او وه دا خلق تباه کیدونکی ، پس

كَذَّبُوكُمْ بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ وَمَنْ

دوی به دروغجن کړی تاسی ستاسی په خبره کی ، پس نه به دواپس کولو طاقت لری او نه دمدد کولو ، او څوک

يَظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾ وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ

چی په تاسی کی ګناهګاردی ، هغه ته به وڅکوومونږ عذاب لوی ، اوخومره چی لیږلی دی مونږ ستاڅخه مخکی

الْمُرْسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ ۗ

رسولان تولو به خوړل طعام او ګرځیدل به په بازارونو کی اومونږ کړی دی

وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۗ أَتَصْبِرُونَ ۚ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾

ځینی په تاسی کی دځینودپاره ازمائش ، ایاتاسی ثابت قدم پاته کیدی سی ؟ اوستارب هرڅه وینی.

تفسیر: هغه ذات ډیر لوی عالی شان دی چی که هغه وغواړی نوتاته به (دکفارود) دی (فرمائش څخه (هم) ښه شی درکړی یعنی ډیر (غیبی) باغونه چی لاندی به ورڅخه نهرونه بهیږی (ښه یی ورته څکه وویل چی هغوی خومطلق دباغ فرمائش کوی که څه هم یوهم وی او دډیرو باغونو تریوه ښه والی ظاهردی) آو (بلکه ددی باغونوسره به نورهم مناسب شیان درکړی دکوموچی دوی فرمائش هم نه دی کړی یعنی) تاته به ډیرمحلونه درکړی (کوم چی به په دی باغونوکی جوړوی یابه بهروی چی په دی سره به د دوی فرمائش نورهم دزیاتو نعمتونو سره پوره سی مطلب دا چی څه په جنت کی درکول کیږی که الله ﷻ وغواړی نوتاته به یی په دنیاکی درکړی لیکن په ځینو مصلحتونو سره نه غواړی اوفی نفسه ضروری هم نه وه ، پس شبهه محض بی هوده ده ، ددی کفارو ددی ذکر سوو شبهو سبب دا نه دی چی دوی ته دحق طلب کول اوفکر کول پیدا سوی دی اوپه دی دوران کی دتحقیق څخه مخکی داسی شبهات پیداسوی دی بلکه داعتراضونو وجه محض شرارت او دحق دطلب څخه بی فکری ده او ددی بی فکری اوشرارت سبب دا دی چی) دا خلګ قیامت درواغ ګڼی (په دی وجه ورسره دانجام فکر نسته اوڅه چی یی په زړه کی راځی کوی اوچتیات کوی) او (انجام به د دوی دا وی چی) مونږ ددا سی سړی د (سزاد) پاره کوم چی قیامت درواغ ګڼی دوږخ تیارکړی دی (څکه چی دقیامت په درواغ کولوسره دالله اورسول ﷺ درواغ ګڼل لازمیږی کوم چی اصل سبب دی دوږخ ته دتلو او ددی دوږخ به داکیفیت وی چی) هغه (دوږخ) دوی دلیری څخه ووینی نو (دلیدو سره به غضبناک سی دومره جوش به ووهی چی) هغه خلګ به (دلیری څخه) دهغه جوش خروش واوری او (بیا) کله چی هغه ددی (دوږخ) په یوتنګ ځای کی په لاسو اوپښو ترلی وغورځول سی نوهلته به مرګ ته چیغی وهی (لکه چی په مصیبت کی داعادت دی چی مرګ رابلل کیږی اوارزو یی کوی دغه وخت به دوی ته وویل سی چی) یومرګ مه راغواړی بلکه ډیر مرګونه را وغواړی (څکه چی دمرګ غوښتل علت دمصیبت دی اوستاسی مصیبتونه بی انتهادی او دهرمصیبت مقتضا